بسم الله الرحمن الرحيم

مِنَ الْمُؤْمِنِينَ رِجَالٌ صَدَقُوا مَا عَاهَدُوا اللَّهَ عَلَيْهِ فَمِنْهُم مَّن قَضَى نَحْبَهُ وَمِنْهُمْ مَنْ يَنْتَظِرُ وَمَا بَدَّلُوا تَبْدِيلًا. [الأحزاب : ۲۳]

# د سپـــين کاروان ســـــرلاري

**(د اسلامي امارت د پنځوس تنو مخکښو څېرو ژوندليکونه)**

**مرتـــب**

**قـــاري سعـــيد**

## د کتاب مشخصات


**نـــــوم:** د سپـــين کاروان ســـــرلاري

**ليکـــــنه:** د اسـلامي امـارت بيلابيل ليـــکوالان

**را ټولـــونه:** قاري سعيد زرمتی

**خپرنـــدوی:** د ا، ا، ا دفرهنگي چاروکميسيون دتاليف او ترجمې څانگه

**چاپ کال:** ۱۴۳۸ هـ ق

**چاپ شمير:** ۱۰۰۰

**چـــاپ وار:** لومـــړی


## چاپ او کمپيوټر چارې


**د فرهنگي چارو دکميسيون تخنيکي څانگه**

**ويب:** www. Shahamat. info

# لړليـــک


د کتاب په اړه د فرهنګي چارو دکمیسیون یادښت ..... ٤
د مرتب خبري ..... ٦
د مرحوم امیر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهد V ژوند لیک ..... ٩
د عالیقدر امیر المؤمنین ملامحمد عمر مجاهد V د وفات د اعلان په اړه د اسلامي امارت د رهبري شوری او دمرحوم د کورنۍ اعلامیه ..... ٢٨
د شهید امیرالمؤمنین ملا اخترمحمد (منصور) V ژوندلیک ..... ٣٢
درئیس الوزراء مرحوم ملامحمد رباني ژوند ته کتنه ..... ٥٥
د اسلامي امارت دپخواني دفاع وزیر اومرستیال شهید ملا عبیدالله آخندزوند ته کتنه ..... ٦٨
د شهید مولوي عبدالسلام ژوند ته لنډه کتنه ..... ٨١
د شهید مولوي عزت الله عارف ژوند او کارنامو ته کتنه ..... ٨٧
دشهید ملامحمد آخند جهادي ژوندته کتنه ..... ٩٤
د شهید ملا مشر اخند ژوند ته کتنه ..... ١٠٤
د شهید ملا بورجان اخند ژوند ته کتنه ..... ١١١
د شهید مولوي محمد خوشحال ملنګ ژوندته کتنه ..... ١٢١
دشهید مولوي احسان الله احسان صاحب ژوند اوکارنامو ته کتنه ..... ١٣٠
د شهید مولوي نسیم الله صدیقي ژوند ته کتنه ..... ١٤٠
د شهید ملا یارمحمد اخند ژوند او کارنامو ته کتنه ..... ١٤٧
د شهید ملامحمدنعیم نافذ ژوند ته کتنه ..... ١٥٨







د شهید مولوي محمد سرور حق پرست ژوند او کارنامو ته کتنه ..... ١٦٧
دشهید قاري احمد الله ژوند ته لنډه کتنه ..... ١٧٢
د شهید ملاسیف الرحمن منصور ژوند او کارنامو ته کتنه ..... ١٨٧
د شهید حافظ عبدالرحیم صاحب ژوند او کارنامو ته کتنه ..... ٢٠٣
د شهید سید عبدالمالک آغا ژوند ته کتنه ..... ٢١٤
د شهید ملا روزي خان عاکف ژوند او کارنامو ته کتنه ..... ٢٢٢
د شهید مولوي نور محمد حقپال ژوند او کارنامو ته کتنه ..... ٢٣٦
د شهید ملا راز محمد خنجري ژوند ته کتنه ..... ٢٤٤
د شهید مولوي محمد ولي صاحب ژوند ته کتنه ..... ٢٥٢
دشهید مولوي اخترمحمدعثماني صاحب ژوند او کارنامو ته کتنه ..... ٢٦١
د شهید مولوي عبدالحنان جهادوال ژوند او کارنامو ته کتنه ..... ٢٧٠
د شهید ملا داد الله آخند ژوند او کارنامو ته کتنه ..... ٢٨٣
د شهید مولوي محمود سیف الله ژوند او کارنامو ته کتنه ..... ٢٩١
د شهید ملا محمد حسین مستسعد ژوند او کارنامو ته کتنه ..... ٣٠٢
د شهید قاري فیض محمد سجاد ژوند ته کتنه ..... ٣١٠
د شهید ملا عبدالمنان احمد ژوند او کارنامو ته کتنه ..... ٣٢٢
د شهید مولوي دستګیر صاحب ژوند او کارنامو ته کتنه ..... ٣٢٩
د شهید ملا عبدالسلام مجروح ژوند او کارنامو ته کتنه ..... ٣٣٩
د شیخ الحدیث مولوي عبد العلي دیوبندي ژوند او کارنامو ته کتنه ..... ٣٤٨
د شهید قاري ضیاء الدین فاروق ژوند او کارنامو ته کتنه ..... ٣٥٤
د مرحوم مولوي محمدرستم حنفي صاحب ژوند اوکارنامو ته کتنه ..... ٣٦٠
د مرحوم شیخ الحدیث مولوي غلام حیدر صاحب ژوند ته لنډه کتنه ..... ٣٦٧
د شهید حافظ بدرالدین حقاني ژوند او کارنامو ته لنډه کتنه ..... ٣٧٤

دشهید شیخ دوست محمدصاحب ژوند او کارنامو ته لنډه کتنه ..... ۳۸۲
د شهید مولوي سنګین فاتح ژوندلیک ..... ۳۹۳
د شهید ډاکتر نصیرالدین حقاني ژوند ته کتنه ..... ٤۰۰
د شهید مولوي محمد جان صاحب ژوند او کارنامو ته کتنه ..... ٤۱۰
د شهید شیخ الحدیث مولوي عبدالسلام صاحب ژوند ته کتنه ..... ٤۲۱
د شهید مولوي نورقاسم حیدري ژوند او کارنامو ته کتنه ..... ٤۳۲
د شهید ډاکټر عبدالواسع عزام جهادي ژوند ته لنډه کتنه ..... ٤٤٦
د شهید ملا عبدالرحمن آخند ژوند ته کتنه ..... ٤٦۰
د مرحوم مولوي عبد الهادي اخندزاده ژوند او خدمتونو ته کتنه ..... ٤٦۷
د شهید مولوي میر احمدګل صاحب ژوند ته کتنه ..... ٤۸۰
د مرحوم مولوي سید محمد حقاني ژوند ته کتنه ..... ٤۹۲
د شهید مولوي محمد عالم کلیم ژوند او کارنامو ته کتنه ..... ۵۰۱
د شهید ملا عبدالسلام بریالي ژوند او کارنامو ته کتنه ..... ۵۰۹





## د کتاب په اړه د فرهنګي چارو دکمیسیون یادښت

حامدا و مصلیا و بعد:

درنو لوستونکو!

ستاسو په لاس کې کتاب دافغانستان د اسلامي امارت د مخکښو او مشهورو شخصیتونود هغو ژوندلیکونو ټولګه ده چې له دې وړاندې د اسلامي امارت په بیلابیلو چاپي او آنلاین نشریو کې خپاره شوي دي.

په دې مجموعه کې د پنځوس تنو امارتي مشرانو سوانح راټول شوي دي چې د ژوند له ابتدائي حالاتو، تعلیم، جهاد او په اسلامي امارت کې له خدمتونو بیا د شهادت یا وفات تر وخته د هغوی دژوند په مهمو پیښو رڼا اچوي.په دې مجموعه کې ځکه د ټولو مخکښو او مطرحو شخصیتونو سوانح ځای نه شول چې زموږ په لاس کې فی الحال همدا سوانح بشپړ او د نشر لپاره آماده و، که د نورو نامرتبو سوانحو تر ترتیب پورې مو انتظار کولای شاید د کتاب چاپ ډیر تأخیر شوی وای او ضخامت به یې هم له معمول حد څخه زیات وای.

د فرهنګي کمیسیون د تاریخ څانګه هڅه کوي چې له دې ټولګې څخه د پاتې شویو نظامي ، علمي او سیاسي څیرو ژوندلیکونه هم په همدې شکل مرتب او په راتلونکې ټولګه کې یې د نشر لپاره آماده کړي تر څو د اسلامي امارت د فداکارو او مخلصو شخصیتونو کارنامې، چې د تاریخ په یوه سخت پړاو کې یې د اسلامي نظام او مؤمن اولس د خدمت په لاره کې سترې قربانۍ ورکړې د تاریخ حافظې ته وسپارل شي او راتلونکې نسلونو یې له خدمتونو او قربانیو څخه زده کړه وکړي.

د افغانستان د اسلامي امارت د فرهنګي چارو کمیسیون تل هڅه کوي چې د مجاهدینو وروڼو او عامو لوستونکو لپاره ګټور آثار خپاره کړي. له لوستونکو مو هیله

دا ده چې کتاب د ژوند ملګری وګرځوي او همیشه د ګټورو کتابونو او مجلو په مطالعه سره خپله علمي ذخیره غني او ادبي تنده خړوبه کړي.

په پای کې د اسلامي امارت له قلمي مجاهدینو ( لیکوالانو) څخه مننه کوو چې د دې کتاب د محتویاتو په لیکلو سره یې ستر جهادي خدمت ترسره کړ، دغه راز د کتاب له مرتب او د سوانحو له راټولوونکي څخه هم مننه کوو چې دغه په بیلابیلو نشریو کې خواره واره ژوندلیکونه یې راټول او په کتابي شکل د نشر لپاره یې آماده کړل.

الله تعالی دې د دوی ټولو سعی قبوله او دغه کتاب دې د دوی لپاره جاري صدقه وګرځوي.

آمین یا رب العلمین

د فرهنګي چارو کمیسیون





## د مرتب خبري

اوسنۍ متعارفه تاریخ نګاري له هغو علومو شمیرل کیږي چې مبارک دین اسلام په بشریت پیرزو کړي دي.په اسلام کې د حوادثو ثبتول او د کارنامه سازو علمي،جهادي او سیاسي شخصیتونو سوانح ترتیبول او د تاریخ حافظې ته سپارل اوږده سابقه او ځانګړی اهمیت لري.

که موږ د اسلامي مبارزو تېر څوارلس سوه کلن بهیر وڅارو نو وینو چې د هر دور مسلمانانو دخپل مهال مهم تاریخي وقائع ثبت کړي.د خپل وخت د علماوو،فقهاوو، حفاظو،محدثینو،خلفاوو،فاتحینو او نورو تاثیر ګذاره اشخاصو تذکرې یې لیکلي او حتی د هغوی د ژوند ډیر جزئي خو مفید اړخونه یې په پوره امانتداری ثبت کړي چې اوس نه یوازې د اسلامي فرهنګي ذخیرې مهمه پانګه بلل کیږي بلکې د لوستونکو لپاره د عبرت او استفادې منابع هم دي.

د افغانستان اسلامي امارت نه یوازې د افغانستان او سیمې په تاریخ کې بلکې د اسلامي نړۍ په سطحه یوه مهمه پیښه او تاریخي سرآغاز و چې د پیل او څرنګوالي داستان به یې راتلونکو نسلونو ته ډیر جالبیت ولري. د اسلامي خلافت له سقوط کلونه وروسته په داسې چاپیریال کې چې (داسلامي نظام قیام) د ځینو علماوو په تعبیر د (الفریضة المنسیة) لقب خپل کړی و، په افغانستان کې یو شمیر د مدرسو طالبان، علماء،مجاهدین او مبارزین راپورته شول او پرته له شعارونو او اوږد مقدماتو یوازې د الله تعالی په مرسته او تکیه یې د اسلامي امارت عملي بیلګه یو ځل بیا نړۍ ته وښودله.

دا خلک چې د اسلامي حاکمیت لویدلی بیرغ پې یو ځل بیا راپورته کړ، له خاورو او غباره پې وځنډه او د آسیا په زړه کې پې ښخ او ریاند کړ، څوک وو؟ څه صفات یې درلودل؟ څنګه مبارزه پې وکړه او څرنګه یې دغه زرینه کارنامه د اسلامي تاریخ سرمشق کړه؟؟ هغه پوښتنې دي چې ځواب ته به پې د را روان نسل تاریخ لوستونکي ډیره تلوسه ولري.

په دې کتاب کې حتی الوسع کوښښ شوی چې د اسلامي امارت د مؤسس امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد V په ژوندلیک سربیره د امارت د یو شمیر هغو مشرانو سوانح راټول شي چې تراوسه وفات شوي او له دنیا پې رخصت اخیستی. په ټولګه کې دامارت له تأسیسي شخصیتونو، وزیرانو،نظامي مشرانو او علماء کرامو نیولې بیا تر هغو یو شمیر کارنامه سازو مجاهدینو پورې چې په یوه مرحله کې یې مهم کردار اداء کړی وي د پنځوس تنه پیژندل شویو څیرو د ژوند حالات را یوځای شوي دي. دا اشخاص چې له تخار نیولې تر فراه او له بادغیس نیولې تر خوسته له بیلا بیلو سیمو او اقوامو سره تړاو لري. خو د ديني اخوت او جهادي سنګر په اعتبار ټول د یوه کاروان ملګري او د اسلامي امارت د یوې کورنۍ غړي دي چې تر یوه بیرغ لاندې یې د مشترک هدف او آرمان په لاره کې له ژوند سره مخه ښه کړې ده.

په کتاب کې د راغلیو سوانحو ترتیب (تقدیم او تأخیر) د هغوی د شهادت یا وفات د نیټو په اعتبار شوی دی. یعنی کوم شخص چې مخکې وفات شوی سوانح یې هم مخکې راغلي او ورپسې د هغه تن سوانح راغلي چې ورپسې وفات شوی دی همداسې تر پایه. یوازې د اسلامي امارت د ځلورو تنو هغو مشرانو چې یا خو بالفعله زعماء وو او یا په یوه وجه د زعامت نسبت ورته کیده سوانح یې له نورو مخکې راغلي. چې په دې ډول د مرحوم امیرالمؤمنین ملامحمد عمر مجاهد، شهید امیرالمؤمنین ملا اختر محمد منصور، مرحوم رئیس الوزراء ملا محمد رباني او د اسلامي امارت د مرستیال شهید ملا عبیدالله اخند ( رحمهم الله) سوانح د کتاب په سر کې راغلي دي.





په کتاب کې به ضرور کمۍ او نیمګړتیاوې موجودې وي. د نیمګړتیا یو عامل یې شاید دا هم وي چې دغه کتاب له پیله اصلا د کتاب په شکل نه دی لیکل شوی، بلکې دغه سوانح په تیرو څو کلونو کې د میاشتنیو لیکنو په حیث ترتیبدل او د یوې لړۍ په ډول د اسلامي امارت په میاشتنیو مجلو کې نشریدل. د مجلو لپاره میاشت په میاشت د سوانحو د ترتیب دنده زما په غاړه اچول شوې وه خو د غیرحاضرۍ یا عدم رسیدګۍ له امله نورو لیکوالو ملګرو هم راسره همیشه مرسته کوله چې په دې لړ کې یوه برخه سوانح د نورو قدرمنو لیکوالانو لکه ښاغلیو شاهد غزنیوال، ملا خبیر احمد مجاهد، ملا احمد الله وثیق، بشیر همدرد، حافظ نور احمد سعید،قاري محمد یونس،نصیب ځدران او مفتي ابومحمد حقاني صاحب لخوا ترتیب شوي دي چې له الله تعالی څخه ورته اجرونه غواړم.

څرنګه چې دا لړۍ لا هم روانه ده له الله تعالی څخه توفیق غواړو چې د اسلامي امارت د هغو نورو علمي،جهادي او سیاسي څیرو د ژوند حالات هم را یوځای او مرتب کړو چې تر اوسه نه دي لیکل شوي او له دې ټولګې پاته شوي دي.

په پای کې باید یادونه وکړم چې د کتاب محتویات او معلومات مورد د اړوندو اشخاصو له نږدې ملګرو او د کورنۍ له غړو څخه په مستند شکل تر لاسه کړي او له تدقیق وروسته مو په کتاب کې ځای کړي دي چې په اکثرو ځایونو کې د پیښو د روایت کوونکو نومونه یاد شوي دي.

الله تعالی ته سوال کوو چې دا کتاب په خپل در مقبول او د لوستونکو لپاره محبوب وګرځوي ترڅو د اسلام او جهاد په ګټه ښه اثر وربانديې مرتب شي.

و ما ذالک علی الله بعزیز

قاري سعید

۱۴۳۸ هـ ق د رمضان المبارک یوولسمه

# د مرحوم امير المؤمنين
# ملا محمد عمر مجاهد V ژوند ليک

ترتيب: د فرهنګي کميسيون د تاريخ څانګه

## زوکړه او نشأت:

مرحوم ملا محمد عمر (مجاهد) د مولوي غلام نبي زوي، د مولوي محمد رسول لمسی او د مولوي باز محمد کړوسی، په کال ۱۳۳۹ هجري لمريز کې چې له ۱۹۶۰ ميلادي سره سمون خوري د افغانستان د کندهار ولايت د خاکريز ولسوالۍ د چاه همت کلي په يوه متدينه او علمي کورنۍ کې وزيږېد. د ملا محمد عمر (مجاهد) والد مرحوم مولوي غلام نبي صاحب هم په همدې خاکريز ولسوالۍ کې دنياته راغلی او د همدې سيمې په مختلفو ديني درسونو او دائرو کې خپلې ديني زدکړې ترلاسه کړې، چې بيا په ياده سيمه کې د تدريس او اسلامي دعوت په چارو کې د زيار او مصروفيت له امله د خلکو په منځ کې د يو سُبه علمي او ټولنيز شخصيت په توګه وځليد .

د ملا محمد عمر (مجاهد) له زوکړې دوه کاله وروسته د هغه والد صاحب د کندهار له خاکريز ولسوالۍ څخه د دې ولايت د ډنډ ولسوالۍ د نودې کلي ته ولاړ او هلته د خپل ژوند ترپايه د سيمې د خلکو د ديني سُونې او روزنې په چارو بوخت ؤ، نوموړی په۱۳۴۴هجري لمريزکال کې چې له ۱۹۶۵ميلادي کال سره سمون خوري په همدې سيمې کې وفات او د کندهار ښار د طالبانو په پخوانۍ مشهوره هديره کې خاورو ته وسپارل شو .

ملا محمد عمر (مجاهد) د خپل پلار له وفات وروسته د پنځه کلنۍ په عمر له خپلې کورنۍ سره د کندهار له ډنډ ولسوالۍ څخه د اروزګان ولايت د هراو د





ولسوالۍ ته ولېږديده او هلته يې د خپلو ترونو هر يو مولوي محمد انور او مولوي محمد جمعه تر سرپرستي لاندې د ژوند لومړنۍ مرحله پيل شوه .

## زدکړه اوتعليم:

مرحوم ملا محمد عمر (مجاهد) په اته کلنۍ کې د ديني علومو د ترلاسه کولو لپاره د روزګان ولايت د د هراو د ولسوالي د شهرکهنه سيمې ابتدايې دينې مدرسې ته شامل شو. د دغې مدرسې سرپرستي هم د ملامحمد عمر (مجاهد) د تره مولوي محمد جمعه لخوا ترسره کيده او ملا محمد عمر (مجاهد) هم لومړنۍ ديني زدکړې له نوموړې څخه پيل کړې .

د ملا محمد عمر (مجاهد) دواړو ترونو په تيره مولوي محمد انور د نوموړي په ديني روزنې او پالنې کې خاص رول ترسره کړ .

مرحوم ملا محمد عمر (مجاهد) د خپل شرعي تعليم لومړنۍ او متوسطه دوره په همدغه مدرسه کې په بريالۍ توګه پای ته ورسوله او اتلس ۱۸ کلنۍ ته له رسيدو سره يې په افغانستان کې د مروجه لوړو شرعي زدکړو په تحصيل پيل وکړ، خو د شرعي لوړو زدکړو د تحصيل مرحله يې په کال ۱۳۵۷ هـ ش ـ۱۹۷۸ م په افغانستان کې د کمونستانو د واک ته رسيدلو له امله نيمګړې پاته شوه.

## کورنۍ:

له قبيلوي اړخه د ملا محمد عمر (مجاهد) تعلق د پښتنې قبيلې هوتکو په تومزي قوم پورې دی .

هوتک د پښتنې قبيلې يو لوی شاخ ، او هوتکيان د معاصر افغانستان په تاريخ کې د نوميالي اسلامي شخصيت حاجي ميرويس خان هوتک په ځير اسلامپال، مدبر، ملي او جهادي اتلان لري

سترغازي حاجي ميرويس خان هوتک V چې افغانان يې احتراما د ميرويس نيکه په ويارلي لقب يادوي په کال ۱۰۸۸ هـ ۱۷۱۲ م افغانستان له صفوي ظالمانه

واکمنۍ ازاد، او د افغانانو لپاره يې په کې د يوه خپلواک مقتدر اسلامي حکومت بنسټ کيښود.

د ملا محمد عمر (مجاهد) کورنۍ له مسلکي اړخه ټول علماء او د ديني علومو مدرسين دي. هغوی خپل ټول ژوند د الله تعالی د دين خدمت، د شرعي علومو تدريس او د مسلمانانو ديني اوفکري روزنې ته وقف کړی، له همدې امله يې په خپله سيمه کې خورا زيات مقبوليت درلود او په معنوي لحاظ د ټولنې تر ټولو باوقاره او اجتماعي حيثيت لرونکي اشخاص پيژندل شوي دي.

د يوې داسې علمي او روحاني کورنۍ په ماحول کې د ملامحمد عمر(مجاهد) پيدايښت او بيا د خپلو علمي او فکري مربيينو (پالونکو) ترمستقيمې پالنې لاندې د هغه نشأت په جهادي او فکري لحاظ نوموړي ته د دې صلاحيت ور وبښه چې د افغاني ټولنې د نورو افرادو په منځ کې د يو مخلص، مجاهد، زړه سواند، با احساسه، اسلامي او ملي شخصيت په توګه راڅرګند او په خپلو جهادي او اصلاحي هڅو سره خپله ټولنه د فساد ، ظلم او بی عدالتۍ او ګران هيواد افغانستان د حتمي تجزيې له شره وژغوري .

د مرحوم ملا محمد عمر (مجاهد) جهادي کورنۍ، وروڼه او ترونه ټول مجاهدين او له ۱۳۵۷ لمريز کال راهيسې تر اوسه پوري يې په تيرو جهادي جريانونو کې د خپلې کورنۍ څلورتنه شهيدان شوي دي.

په افغانستان باندې د امريکايي يرغل په لومړۍ ورځ ۱۳۷۹/۶/۱۵ــ ۲۰۰۱/۱۰/۷ د ملا محمد عمر (مجاهد) تره ملا محمد حنفيا لومړنی شخص و چې د امريکايي يرغلګرو په بيرحمانه هوايې برید کې په شهادت ورسيد.

## جهاد او مبارزه:

مرحوم اميرالمؤمنين ملا محمد عمر (مجاهد) د خپل ژوند دريمې لسيزې ته لا نه و ور داخل شوی چې په افغانستان کې کمونستانو د پوځي کودتا له لارې واک





ترلاسه کړ. دا هغه وخت و چې نور نو د ملا محمد عمر (مجاهد) په څير د هيواد ټولو زده‌کوونکو ته د خپلو ديني زده کړو استمرار ناشونی ښکاريده؛ ځکه د ملحدو کمونستانو لومړنۍ مقابله د ټول هيواد په کچه له علماوو، طالبانو، محصلينو او مسلمانو منورينوسره وه، هماغه وچې ملا محمد عمر (مجاهد) هم اړينه وبلله چې خپلې لوړې ديني زدکړې نيمګړې پريږدي او د خپل شرعي مسؤليت د ترسره کولو لپاره له مدرسې څخه د جهادي جبهې په لوري مخه کړي.

نوموړي خپل جهادي بهير د روزګان ولايت د د هراو د په ولسوالۍ کې د حرکت انقلاب اسلامي په تنظيم کې پيل کړ. په دغې ولسوالۍ کې له څه وخت تيرولو وروسته نوموړی د روزګان ولايت په کچه د يوه پيژندل شوي زړور جهادي شخصيت په توګه مطرح او د دغه ولايت په بيلا بيلو برخو کې يې د کمونيستانو په وړاندې په متعد دو پوځي عملياتوکې فعال رول ترسره کړ چې نوموړي د دغه جهادي شهرت او په جهادي عملياتو کې د موفقانه رول له امله په مجاهدينوکي دومره مقبول او ومنل شو چې کله په هغه وخت کې د د هراو د په ولسوالۍ د مختلفو سيمو د مجاهدينو له لوري پراخ تعرضي عمليات ترسره کيدل نو ملامحمدعمرمجاهد په همدې عملياتو کې د ټولو مجاهدينو په خوښه د مختلفو جبهاتو د مجاهدينو مشر او تعرضي قومندان وټاکل شو او ښه موفق عمليات يې ترسره کړل چې په همدې عملياتو کې نوموړی په لومړي ځل زخمي هم شو ،نوموړي تر دريو کلونو زيات وخت د خپلې سيمې د مجاهدينو سره د يرغلګرو روسانو او کمونستانو خلاف په ډيرو مخامخ جګړو کې ګډون درلود.

د مرحوم ملا محمد عمر مجاهد د جبهې ملګري او مشران وايې چې ملامحمدعمراخوند په هغه وخت يعنې د جهاد په پيل کې سره له دې چې عمر يې کم و خو د هر ډول مسئوليت او کار د ترسره کولو استعداد او صلاحيت درلود او د ډير ښه صحت او قوت خاوند و.

وروسته په کال ۱۳۶۲ هـش ۱۹۸۳ میلادي کې له خپلوجهادي ملګرو سره د جهادي فعاليتونو د انسجام په غرض د کندهار ولايت ميوندولسوالۍ ته ولاړ او هلته يې د حرکت انقلاب اسلامي د تنظيم د مشهور جهادي قومندان فيض الله اخوند زاده په جبهه کې د روسي يرغلګرو او د هغوی د کمونستي تالي څټو په خلاف وسله وال جهاد ته دوام ورکړ. په کندهار ولايت کې هم په بي شميره جهادي عملياتو کې د نوموړي د موفقانه رول او په پوځي تکتيکونو کې د ښې وړتيا اوشهرت له کبله د سيمه ييزو جهادي قومندانانوپه کچه د وخت د جهادي تنظيمونو د پاموړ شخص وګرځيد او د مرحوم مولوي محمد نبي محمدي په مشرۍ د حرکت انقلاب اسلامي د تنظيم لخوا د مستقلې جهادي جبهې مسؤليت ورته وسپارل شو.

له کال ۱۳۶۲هـ ش ـ ۱۹۸۳ م تر ۱۳۷۰ــ ۱۹۹۱ پورې ملامحمد عمر (مجاهد) د کندهار ولايت د ميوند، ژړۍ، پنجوايې او ډنډ ولسوالیو په مربوطاتو کې چې د شوروي قواوو په ضد د جهاد مهم مرکزونه ول او نيږدې هره ورځ به يې مجاهدين له دښمن سره په جګړه بوخت ول همدارنګه د زابل په ولايت کې د شهرصفا او مرکز قلات مربوطو سيمو کې د کابل ــ کندهار په لويه لاره د روسي يرغلګرو په خلاف ډير موفقانه عمليات ترسره کړل چې ديرو هغو کې نوموړی شخصا په مستيقمه توګه سهيم و. د ملا محمد عمر (مجاهد) تر ټولو خوښه کړای شوې وسله د روسي جنګي شوبلو(ټانګونو) په ضد استعماليدونکې مؤثره وسله « R.P.G.۷» توغندی و چې د مجاهدينو په مينځ کې به راکټ بلل کيده او ده يې په ويشتلو کې ځانګړی مهارت درلود، د يادوني وړ ده چې کندهار په ځانګړي ډول د ميوند، ژړۍ او پنجوايې سيمي د کمونيزم خلاف جهاد کې هغه سيمي وې چې د روسانو د ماتې او شکست محوري نقطي بلل کېدې په دې سيمه کې د کندهار هرات په لويه لاره د کمونستانو دومره زيات ټانګونه او نوروسايط تخريب شوي و چې د سرک پر يوه او بله غاړه دښمن د هغو سوځول شويو ټانګونو او پوځي وسائطو ديوالو نه وهلي و څو د مجاهدينو له بريدونو څخه ځانونه پرې وساتي .





مرحوم ملا محمد عمر (مجاهد) له روسانو سره د جهادي عملياتو په مخامخ نښتو کې ځلور ځله ټپي شوی او په وروستي ځل ټپي کيدو کې يې خپله ښۍ سترګه هم له لاسه ورکړې وه .

ملا محمد عمر مجاهد د کندهار او همجوارو ولايانو په سطحه د شوروي يرغلګرو او داخلي کمونيستانو په ضد د جهاد يو وتلی او مخکښ قومندان پيژندل کيده، چې په خورا ډيرو جهادي عملياتو کې يې ټاکونکې ونډه او رول درلود، دلته به د نوموړي د روس ضد جهاد مهال د ملګرو له قوله يو څو خاطرې او يادوني د بيلګې په توګه رانقل کړو:

۱ – د کندهار په ولايت کې د دښمن يوه خورا محکمه پوسته وه چې د بدوانو پوسته يې ورته ويله د دې پوستې سره دښمن په خورا حساس او حاکم ځای کې ټانګ درولی و چې له انداخت کولو يې مجاهدين ډير په تکليف و ډيرو مجاهدينو څو ځله کوښښ ورباندې وکړ چې دا ټانګ وولي او مجاهدين يې له شره خلاص کړي خو له بيا بيا هڅو سره سره يې کوم مجاهد په ويشتلو بر يالي نشو بالاخره د سيمې مجاهدينو له سنګ حصار نه د مرستې لپاره ملا محمدعمرمجاهد راوغوښت او همدا ټانګ چې د بدوانو د پوستي په ټانګ يې شهرت موندلی و ملا محمد عمر مجاهد د خپل آر پي جي راکټ په توسط په نښه او له منځه يووړ چې دا په هغه وخت کې مجاهدينو ته خورا ستره لاسته راوړنه وه .

۲ – له روسانو سره د جهاد په دوران کي د کندهار د محله جات په سيمه کې په يوه مخا مخ جګړه کې چې د کندهار يو تن بل وتلی او غښتلی مجاهد شهيد ملا عبيد الله اخوند چې وروسته يې د اسلامي امارت د دفاع وزيراو د امريکا تر يرغل وروسته د مرحوم امير المؤمنين ملا محمد عمر مجاهد د نائب په توګه دنده ترسره کوله هم ورسره ملګری و، د دښمن دومره ټانګونه او موټر وسوځول چې په سبا ورځ له ليري نه کتونکو خلکو چې دا سوزول شوی کتار ليد نو ګمان يې کاوه چې قوه اوس هم ولاړه ده،

## د فساد په وړاندې پاڅون او د اسلامي امارت تأسيس:

د کمونيستي رژيم له سقوط وروسته د دې په ځای چې اسلامي نظام تاسيس شي او په دې توګه د مجاهد ملت د کلونو کلونو ارمان پوره شي، خپل منځي جګړې پيل شوې، واقعي مجاهدين د يوې منظمې دسيسې له مخې ضعيفه او يا هم بيخي له صحني وايستل شول، ځينو پخوانيو مجاهدينو هغه کمونيستان چې بايد محاکمه شوي واى په څنګ کې ورسره ونيول او ځينو نورو په منظمه توګه د ولس په لوټلو، ځورولو او د وطن په چور تالان پيل وکړ.

په دې توګه په درست هيواد کې د هرج ومرج يو داسې تور دوران راغی، چې شايد پخوايې افغانانو نمونه او بيلګه نه وي ليدلې، د افغانانو سر، مال او ناموس هره شيبه له ګواښ سره مخامخ و، د هيواد په لارو او سرکونو د خودسره، جاهلو او پست صفته ټوپکيانو ځنځيرونه او پاټکونه خپاره شول، چې هر يوه د خپل مزاج موافق له بې وسه خلګو نه يواځې پيسې اخيستې، بلکې د هيوادوالو په عزت او ناموس يې هم صرفه نه کوله، د هيواد د ملي شتمنيو، مادي او معنوي پانګو، د جهاد د غنائمو او حتی د هيواد د ځنګلونو او کانونو داسې بې رحمانه چور تالان پيل شو، چې پخوا يې کله هم بيلګه نه وه ليدل شوې، مؤمن اولس چې څوارلس کاله يې جهاد کړی و نه تنها دا چې د جهاد ثمره يې د ضياع له خطر سره مواجه وه، بلکې ورځنی ژوند يې هم له خطر سره مخامخ و.

د هرج ومرج د فتنې له املې ټولنيز فساد، قتل وقتال، چورتالان، ظلمونه، وحشتونه او د مسلمانانو رنځونه هره شيبه په ډيريدو و، چې دې حالت رښتيني مجاهدين کوم چې د افغان مؤمن اولس د سوکالۍ، ازادۍ او سرلوړۍ لپاره يې مبارزه کړې وه سخت ځورول.

ارواښاد ملا محمد عمر مجاهد چې دغه مهال له خپلو مجاهدو ملګروسره د کندهار په ميوند ولسوالۍ کې اوسيده، د نورو واقعي مجاهدينو غوندې د دې حالاتو ليدلو ډير زيات اندېښمن کړی و, نوموړي ليدل چې د کندهار – هرات پر لويه لاره





حال دا چې د قوې زيات موټر سوزول شوي او نور يې بېرته خپلو مرکزو ته په شا شوي و.

۳ – د روس ضد جهاد په مهال د کندهار- هرات په لويه لاره د ژړۍ ولسوالۍ د سنګ حصار په سيمه کې د روسانو ټانګونه تيريدل ملا محمد عمر مجاهد چې ملا برادر اخوند (چې بيا د اسلامي امارت نا ئب شو) هم ورسره و، د روسانو په قوه د بريد لپاره يواځې د راکټ ځلور ګولۍ (مرمۍ) ورسره وي دوی له همغو ځلورو ګولیو سره د دښمن په کتار جنګ شروع کړ چې په ترڅ کې يې په همدې ځلورو مرميو د دښمن ځلور ټانګونه وويشتل .

۴ – ملا برادر اخوند چې له مرحوم ملامحمد عمر مجاهد سره په جهادي دوره کې نيږدي پاتې شوی وايې چې ملاصاحب دومره زيات روسي ټانګونه ويشتلي چې د ډير والي له وجې يې شمير ناشونی و.

په کال ۱۳۷۱هـ ش، ۱۹۹۲ز کې د نجيب د کمونستي واکمنۍ له سقوط او په هيواد کې د تنظيمي جګړو له پيليدو سره سم ملا محمد عمر (مجاهد) هم د نورو رښتينو مجاهدينو په څير وسله له اوږې کوزه او په خپله جهادي سيمه کندهار ولايت، د ميوند ولسوالۍ د سنګ حصار د کيشاښو کلي د حاجي ابراهيم د مسجد ترڅنګ يې يوه ديني مدرسه جوړه او په همدي مدرسه کې ميشت شو او له ۱۴ ستونزمنو جهادي کلونو وروسته يې د خپلو څو تنو جهادي ملګرو په ملتيا د خپلو نيمګړيو شرعي زدکړو په پوره کولو بيا پيل وکړ.

دا هغه مهال و چې د پلازمېنې کابل په شمول ټول هيواد تنظيمي بې هدفه جګړو په سراخيستی و، د ځينو تنظيمي جګړه مارانو د شخصي غرضونو او هوسونو د ترلاسه کولو له امله د مقدس جهاد سپيڅلي آرمانونه نيمګړي او د افغان مسلمان ولس د يو نيم ميليون شهيدانو پاکې هيلې همداسې تر پښو لاندې وې.

گام په گام پاڼکونه جوړ شوي او ټوله ورځ د هيواد مظلوم مسافر، ښځې او سپين ږيري د بد اخلاقه ټوپکيانو په لاس لوټل کيږي، ځورول کيږي او وژل کيږي، بايد ووايو چې دغه مهال په کندهار کې پاڼکونه دومره زيات شوي و، چې د هيواد تجارانو چې له هرات څخه به يې د کندهار د سپين بولدک ولسوالۍ د ويش باډر ته مالونه راوړل، د دې په ځای چې په عمومي لاره خپل مالونه انتقال کړي د ډيرو پاڼکونو له املې يې له هرات څخه راوړي تجارتي اموال په ميوند کې ښکته کول او د ريګ له لارې يې په دښتو کې په ډيرو تکليفونو تر ويش پورې رسول تر څو د پاڼکوالوله شره خوندي وي .

ملا محمد عمر مجاهد V او د ده مجاهدو ملګرو ته د کندهار ښار وضعيت هم ورمعلوم و، چيرته چې خودسره ټوپکيانو ښار کوڅه په کوڅه تر خپل منځ ويشلی و، د بيت المال ملکيتونه يې مسلسل غصبول او په نغدو پيسو يې پلورل او په دولتي ځمکو يې شخصي مارکيټونه جوړول، په دې سربيره يې تر خپل منځ همېشه جګړې کولې چې ترمنځ يې اولس ځپل کيده.

همدې بې پايه ناخوالو واقعي مجاهدين اړ کړل چې د فساد د ورکولو او د مسلمانانو د سر او مال د تحفظ په خاطر خپل وس وکړي، مجاهدينو تر خپل منځ مشورې او غونډې پيل کړې، ملامحمد عمر مجاهد او ملګرو يې خپله لومړنۍ غونډه د پنجوايې ولسوالۍ د زنګاوات په سيمه کې د سيمې له مشهورو او پيژندل شويو علماء کرامو سره جوړه کړه، د روس ضد جهاد په مهال د کندهار د مجاهدينو د عمومي قاضي مولوي سيد محمد صاحب ( چې په مولوي پاسني صاحب يې شهرت موندلی و) په مشرۍ د علماء کرامو دې غونډې ملا محمد عمر مجاهد ته و ويل چې بايد د فساد په ضد قيام وکړي او دوی ټول يې ملاتړي دي، له همدې غونډې څخه ملا محمد عمر مجاهد د اسلامي تحريک اساس کيښود او د ۱۴۱۵ هـ ق کال د محرم الحرام ۱۵ نيټه د فساد او ګډوډۍ په ضد يې د مبارزې بنسټ کيښود.

د ملا محمد عمر مجاهد په مشرۍ اسلامي تحريک د فساد د مخنيوي په خاطر مبارزه پيل کړه، چې د اولس او رښتنيومجاهدينو له پراخ هرکلي سره مخامخ شوه،





لومړی يې کندهار ولايت او ورپسې يې د افغانستان زياتې سيمې له بې بنډوباره او فاسدو ټوپکيانو تصفيه کړې، هغه مهال چې د هيواد ډيرې سيمې د طالبانو تر تسلط لاندې راغلې وې د ۱۴۱۶ هق کال د ذوالقعدې مياشتې په ۱۵ مه نيټه د افغانستان د علماء کرامو يو لوی ټولي چې شمير يې تر ۱۵۰۰ زيات و، په کندهار کې يې د يوې غونډې په دائرولو سره د ملامحمد عمر مجاهد امارت تائيد او نوموړي ته يې د اميرالمؤمنين لقب ورکړ، د ۱۳۷۵ هـ ش کال د ميزان مياشتې په شپږمه نيټه د افغانستان پلازمينه کابل هم د اسلامي امارت تر تسلط لاندې راغله چې ورپسې د افغانستان د ټولو مرکزي او شمالي سيمو په شمول د هيواد په ۹۵ فيصده خاوره د اسلامي امارت حاکميت ټينګ شو .

د ملا محمد عمر مجاهد په مشرۍ د افغانستان اسلامي امارت په افغانستان کې د شريعت په اساساتو ولاړ اسلامي نظام رامنځته کړ، له اوږده ځنډ وروسته يې يوځل بيا نړۍ ته د اسلامي نظام ژوندۍ بيلګه وړاندې کړه، هيواد يې له تجزيې وژغوره او هم يې د بې مسؤليته کسانو نه د بيت المال اسلحې را ټولې کړې او يو بې مثاله امن يې راووست دا په داسې حال کې چې ټوله نړۍ د ملل متحد په شمول دغه کار ته بې وسه او وارخطا وه خو نړيوال کفري مستکبرينو دا شريعت او امارت ونه شو زغملی نو ځکه يې په وړاندې دښمنانه دريځ خپل کړ او بې ځايه بهانې يې ور ته لټولې ترڅو يې په پای کې وربانديې په ګډه پوځي برید وکړ.

## د ملا محمد عمر (مجاهد) قيادي شخصيت:

ملا محمد عمر (مجاهد) د يو قيادي شخصيت په توګه د ځانګړي طبيعت او سليقې څښتن و .

نوموړي د نړۍ د نورو چارواکو او لوړ رتبه مشرانو برعکس له ځان ښکارونې او تظاهر څخه کرکه درلوده، له اړتيا پرته يې خبرې نه کولې، خو د ضرورت په وخت کې يې خبرې بيا ډيرې پخې، سنجول شوې او معقولې وې. د بيلګې په توګه په افغانستان باندې د امريکايي يرغل په پيل کې چې د امريکا يانو له لورې د اسلامي امارت د له

منځه وړلو او په تبليغاتي لحاظ د مجاهدينو د مورال کمزوري کولو لپاره امريکايي هڅې ډيرې ګړندۍ روانې وي او ټولې غربي رسنۍ، راډيويې او ټلويزوني شبکې ورته وقف وې

ملا محمد عمر (مجاهد) د دغو ټولو شيطاني تبليغاتي هلو ځلو په وړاندې په خورا مطمئنه او ډاډه روحيه سره په خپلو عام فهمه اوساده خبرو کې خپل ملت ته د اطمنان او ډاډ ورکولو داسې معنا لرونکی پيغام ورکړ: «الله تعالی په هرڅه قادر دی په الله تعالی باندې د امريکا او د يوه ميږ (ميږتون) د قدرت هيڅ فرق نشته امريکايان او د هغوی ملګري دي دا خبره په غور سره واوري چې اسلامي امارت داسې نظام نه دی چې امير به يې لکه ظاهر شاه (د افغانستان پخواني پاچا) غوندې روم ته ولاړشي او عسکر ( افراد ) به يې تاسو ته تسليم شي، بلکې دا د جهاد منظمې جبهې دي .

که تاسو ښارونه او پايتخت لاندې او اسلامي امارت ړنګ هم کړئ زمونږ مجاهدين به وطنونه او غرونه درته ونيسي۔ بيا به تاسو څه کوئ؟ بيا به لکه د کمونستانو غوندې په هر ځای کې وژل کيږئ!

تاسي پوه شئ چې ګډوډي رامنځ ته کول اسانه ده خو بيرته د ګډوډۍ له منځه وړل او نظام جوړول خورا ګران کاردی، مرګ حق دی او هر چاته راځي نو چې د امريکا په ملګرتيا کې د بې ايمانۍ او بيغيرتۍ په حالت کې وي دا به ښه وي او که په اسلام کې له ايمانه سره د غيرت په حالت کې شهادت ؟

ښايې په هغه وخت کې د مرحوم ملا محمد عمر (مجاهد) په دغه عقيدوي وينا د ډيرو ښاغليو پوره سرنه وي خلاص شوی، خو اوس چې د دغې نا انډوله حيرانوونکې معرکې له پيل نه ١٦ کاله تيريږي او د امريکايانو په شمول د ناټو ټرون او د هغوی ټول ايتلافيان د ملا محمد عمر (مجاهد) د تش لاسو عقيدوي مجاهدينو په مقابل کې له ښکاره ماتې سره مخامخ شوي، د نوموړي د هماغې تاريخې وينا په حقيقت به يې سرخلاص شوی وي .





دغه راز نوموړي د امريکايي يرغل په پيل کې افغان ولس ته د يوې راډيويې وينا په ترڅ کې يرغلګرو او د هغوی ګوډاګيانو ته په اشاري سره و ويل:

«وسلې مرګ کولای شي، خو مرګ ګرځولی نشي » يادە شوې جمله همغه مهال ځينو ته يو بې مفهومه ترکيب ښکاريده، خو دادی په تېرو ١٦ کلونو کې د ياد مضمون عيني مصداق ډيوالو د سر په ستوګو ولید چې يرغلګرو ځواکونو د خپلې پرمختللې ټيکنالوژۍ او وسلو په زور ډير مرګونه وکړل خو له ځانه يې مرګ ونشو ګر ځولی او له خپلو ټولو پوځي پرمختللو امکاناتو سره سره په سلګونو زره پوځيان د اتلو مجاهدينو په لاس مړه او ژوبل شول او له افغانستان څخه پرشاتګ ته مجبور کړای شول.

دا هغه عيني واقعيت دی چې اوس په پرمختللو وسلو او تجهيزاتو سمبال مغرور يرغلګر ځواکونه هم په افغانستان کې د خپلو زرګونو پوځيانو د مرګ ژوبلې ښکاره اعترافونه کوي.

مرحوم ملا محمد عمر (مجاهد) له ډيرو ويلو لږ عمل غوره باله د نوموړي ژوند له تکلفي تشريفاتو ډير صفا اوپاک و، سادګي او بې تکلفه حالت يې د ژوند په ټولو اړخونو احتواکړې وه، ساده لباس، ساده خوراک، بې تکلفه خبرې، بې تکلفه ناسته ولاړه يې فطري عادت و، تکلف، متکلفين او متکلفانه کړه وړه يې هيڅ نه خوښيدل .

نوموړي قاطع والی، تدبر او اخلاص د کارونو د پرمختګ لامل باله او د ملګرو له منځه يې هغه څوک ډير خوښيده چې مدبر اخلاصمند او جدي به و.

همدارنګه نوموړي له مشکلاتو، مصيبتونو او کړاونو سره ښه ځان عادت کړی و، د هر ډول لويې حادثې او مشکل پيښيدلو په مقابل کې يې وضعيت کاملا عادي و، ويره او وارخطايي يې په زړه کې نه ورتيريده. د خوښۍ او مصيبت، کاميابۍ او ناکامۍ په مهال کې يې پرخپل ځان خورا ښه کنترول درلود او مطمئن به و .

د علماوو او مشرانو يې ډير درناوی کاوه، سنګيني، وقار، حياء، ادب، متقابل احترام ، خواخوږي، ترحم او اخلاص يې طبيعي خصلتونه و، کلک عزم او په ټولو

کارونو کې پر یوه الله توکل او د هغه پر مقدراتو ریښتونی باور یې د ژوند ځانګړي مشخصات و .

همدا لامل دی چې ملا محمد عمر (مجاهد) د خپلو لارویانو او مجاهدینو په زړه کې داسې محبوبیت پیدا کړی و چې د هغه تعلق نه په ظاهري منصب پوري و او نه په مادي امکاناتو پوري، د امریکایي یرغل په خلاف د جهاد په کلونو کې د هغه تر مشرۍ لاندې عام مجاهدین ماسوا له دي چې هغه مخامخ و وینې یواځې د هغه شفاهي او مکتوبي اوامرو ته په داسې احترام قائل و، چې د تعمیل لپاره یې آن د خپل سر قربانول هم نه دریغول.

## د نړیوالو اسلامي قضایاو په اړه یې اهتمام:

ملا محمد عمر (مجاهد) د طالبانو د اسلامي تحریك د مؤسس او د مسلمانانو د یوه مشر په حیث د اسلامي امت د قضایاوو په اړه خاص اهتمام درلود .

د مسلمانانو د لومړي قبلې مسجد اقصی او د فلسطیني مسلمانانو له برحقې داعیې او د نړۍ په لر او بر کې له داسې نورو اسلامي قضایاوو یې همیشه دفاع کوله او له غاصبو صهیونستانو څخه د مسجد اقصی ازادول یې د هرمسلمان شرعي مسؤلیت ګانه .

مرحوم ملا محمد عمر مجاهد د اسلامي امت په درد دردمند مشر، او له مسلمانانو وروڼو سره اخوت، همدردي ، ایثار او همکاري یواځي شعاري نه بلکې عملا یې هم ثابته کړې وه .

## عقیدوي او فکري انتماء:

ملا محمد عمر (مجاهد) په عقیدوي او فکري لحاظ د مسلمانانو د اهل السنة والجماعة د منهج لاروی او د حنفي مذهب مقلد و .

د خرافاتو او بدعتونو سخت مخالف و، د مسلمانانو ترمنځ یې مذهبي، فکري او تنظیمي اختلافات هیڅ نه خوښیدل. خپلو مجاهدینو او ټولو مسلمانانو ته په خپلو





منځونوکې د اسلامي وحدت او فکري همغږي په ټینګولو توصیه او ټینګارکاوه، د مسلمانانو ترمنځ عقیدوي وحدت او یو والی د وخت تر ټولو اهم ضرورت بالله او د قرآن اوحدیثو په رڼا کې یې د سلف صالحینو او ائمه مجتهدینو په نقش قدم رفتار کول د اسلامي امت د نجات اساسي وسیله ګڼله.

## شخصي ژوند:

مرحوم ملا محمد عمر (مجاهد) چې د ژوند زیاته برخه یې د دیني علومو په زدکړه او مطالعه، جهاد، دعوت او د اسلام د لارې په خدمت کې تیر کړې د افغانستان د معاصرو چارواکو په جمله کې شاید تر ټولو نیستمن او د بیت المال له شتمنیوڅخه نه استفاده کوونکی شخص وبلل شي؛ ځکه نوموړي نه د تیرجهاد په مهال له خپل جهادي نفوذ څخه په استفادې سره د خپل شخصي ژوند د برابرولو په اړه څه کړي او نه یې په افغانستان باندې د امارت د «۷» کلنې واکمنۍ په مهال کې.

مرحوم ملا محمد عمر (مجاهد) د وفات تر وخته نه کوم د اوسیدلو عادي کور په ملکیت کې درلوداو نه هم د بهرنیو هیوادونو په بانکونو کې نغدي شتمنۍ.

په کال ۱۳۷۸هش ۱۹۹۹م کې چې د ملګروملتونو د امنیت شوری له لوري په افغانستان باندې ظالمانه اقتصادي بندیزونه ولګیدل او په بهرنیو بانکونو کې د طالبانو د مشرانو د مالي حسابونو د کنګل کیدلو حکم وشو، مرحوم ملا محمد عمر (مجاهد) د افغانستان د اسلامي امارت د امیر په توګه د امارت تر ټولو لوړرتبه شخص ؤ چې نه یې د افغانستان په داخل کې او نه له افغانستان نه بهر په کوم بانک کې نه په خپل شخصي او نه هم په مستعار نوم مالي حساب درلود.

د امارت د حاکمیت په مهال چې د نوموړي استوګنځی د دښمنانو له لوري تر مرګونو بریدونو لاندې راغي او د فامیل د نږدې افرادو په شهادت سربیره د ګڼو نورو کسانو د شهادت لامل هم وګرځیده ، نو د امارت ځینو چارواکو د نوموړي د حفاظت په مقصد د کندهار ښارپه شمال لویدیځ کې د باباصاحب د غره د کوتل لاندې سیمه

کې چې نيږدې خوا و شا يې کومه ولسي ابادي نه وه د نوموړي لپاره يـو اسـتوګنځی او د اسلامي امارت د مقام دفترجوړ کړ، چې هغه هم د تصرف په لحاظ د بيت المـال لـه عمومي ملکيتونوڅخه ګڼل کيده نه د نوموړي شخصي ملکيت .

په کال ۱۳۷۵هـ هش ۱۹۹٦ م کې چې کله د هيواد د يونيم زر علماوو او مخورو لـه لوري نوموړي ته د اسلامي امارت د امير لقب ورکړل شو نوموړي د دې په ځای چـې د امارت د ورسپارلو له امله د خوښۍ احساس وکړي دومره وژړل چې خپل د اوږي لـوي څادر يې په اوښکو لوند او د غونډې په پای کې يې حاضرو علماوو ته په خپلې تـاريخې ويناکې داسې و ويل:

«اي علماوو! تاسـو د خپـل شرعـي علـم لـه مخـې د حضرـت رسـول اکـرم ص د وارثانوحيثيت لرئ، تاسـوچې نـن ماتـه دغـه درونـد مسـؤليت پـر اوږو را واچـاوه پـه حقيقت کې د هغه د استقامت او انحراف مسؤليت ټول ستاسو پر غاړه دی!

ای زمورِ استاذانو درنوعلماوو! که خدای مه کړه له مورِ څخه د مسلمانانو په دې ستر امانت کې څه تقصير او انحراف پيښيږي د هغه سمونه او اصـلاح ستاسـو شرعـي مسؤليت دی، تاسو به د خپل شرعي علم په رڼا کې مونږ ته د استقامت او په حقـه لاره د تللو حتمي لارښوونه کوئ، که چيرې له مونږ څخه د اسلامي احکامو د تنفيـذ پـه اړه کوتاهي يا انحراف رامنځته کيږي او تاسـو هغـه وينـئ او د اصـلاح پـه اړه يـې څـه نـه وايياست د هغې پړه به د الله په نزد ټوله ستاسو پرغاړه وي او زه بـه د سـوال ځـواب پـه ورځ ستاسو ګريوان ته لاس دراچوم .»

## طبيعت اوشخصي مزاج:

ملا محمد عمر (مجاهـد) د خپلـې خـاموشي ترڅنـګ يـو ډول خـاص ظرافـت او خوش طبعي هم درلوده نوموړي په هيڅا باندې که څه هم په هر لحاظ تـر ده کشرـ و ځان لوړ نه ګاڼه، له خپلو ملګرو سره يې برخورد ډير مينه ناک، صـميمانه، باشـفقته او له متقابل احترامه ډک و، په مجالسو کې يې زياتره د جهاد په اړه بيانونه کول .





## له امريکايي يرغل وروسته

له امريکايي يرغل وروسته ستونزمنو امنيتي شرائطو او د دښمن له لوري سـخت جدي تعقيب د مرحوم ملامحمدعمر(مجاهد) په معمولي وظايفو او د اسلامي امـارت د زعيم په توګه د جهادي چارو په تعقيب او تنظيم کې کوم تغير نه را ووست .

په دې وخت کې چې نوموړی په افغانستان کې پـه مخفـي شـکل اوسـيده خپلـه کاري ورځ يې د الله عز وجل په عبادت او د قرآن کريم په تلاوت پيلوله او د فرصت په مهال يې د قرآن کريم د ببلابيلو تفاسيرو او احاديثو مطالعه کوله، د يرغلګرو په خلاف د جهادي چارو مراقبت يـې ډيـر پـه جـديت سره کـاوه، د جهـادي او پـوځي امـورو د ترتيب او سمبالښت په غرض يـې پـه معينـه طريقـه جهـادي قومنـدانانو تـه اوامـر او توجيهات صادرول، د جهادي نشراتي منابعو او نړيوالو خبري رسنيو له تعقيـب څخـه يې د يرغلګرو خلاف جهادي بريـاوو او نورو موضوعاتو معلومـات ترلاسـه کـول ، او لـه همدې لارې يې د هيواد او نړۍ له ورځنيو پيښو ځان خبراوه.

## او بالآخره وفات يې

له ټول عمر جهاد، دعوت ، اصلاح ، فداکاريو او سر ښندنو وروسته له الهي قضـا او تقدير سره سم بالاخره د غه فداکاره مجاهد د اسلامي امارت نوښتګر مؤسـس امير المؤمنين ملامحمد عمر مجاهد له دې فاني نړۍ د ابديت په لوري وکوچيد.

هغه امير المؤمنين چې د واکمني هره لحظه يې له تاريخي کارنامو ډکه وه

هغه امير المؤمنين چې د اسلامي امارت په مهال يې په افغانستان کې د شريعت ځنډيدلي احکام يوځل بيا نافذ شول.

هغه امير المؤمنين چې د واکمنـۍ پـه مهـال يـې د افغانسـتان حکـومتي نظـام اسلامي شو، اقتصاد اسلامي شو، بهرنی سياست اسلامي او د حکومـت د ټولـو احکـامو يواځنۍ مرجع قرآن کريم ، نبوي احاديث او اسلامي فقه وګرځول شوو.

همدي امير المؤمنين د يرغلګرو د اشغال په مقابل کې پوره ۱۲ کاله په ډيرو ستونزمنو شرائطو کې د ټولې کفرې نړۍ په مقابل کې د يوه جهادي مقاومت حيرانوونکي قيادت وکړ، داسې قيادت چې پوځي تکتيکونواو محاربوي نزاکتونو ته يې د نړۍ د پوځي اکاډيميو ماهرين ګوته په غاښ او د امريکا او ناټو تر ټولو مغرورو قومندانانو يې نظامي وړتيا ته د تسليمي سر ټيټ کړ.

نوموړي قائد د نړيوال صليبي ايتلاف په وړاندې دغه معجزانه قيادت د خپل هيواد له سپيرو کليو او ختيځو کورونو څخه رهبري کړ، هغه په دې ټولې ۱۲کلنې جهادي دورې کې هم دعصري اليکترونيکي وسائلو له استفادې څخه بې پروا و او هم د معاصرې نړۍ د مصنوعي سپوږمکيو د تخنيک له کارولو څخه مستغني.

هغه به په خپلې ځانګړې طريقې له مجاهدينو سره په تماس کې و ، خو دښمن يې نه د هستوګنې ځای معلوم کړای شو او نه يې د مقاومت له لومړۍ کرښې سره د مداوم ارتباط څرک ولګاوه.

ريښتياهم چې ملا محمد عمر(مجاهد) په جهادي قيادت کې د کليوالي تکتيکونو په کارولو سره د غربي نړۍ د کشف او څار پرمختللې تکنالوجي وننګوله ،ځکه هغوی له خپل ټول تخنيکي تفوق سره سره نه د ده د ځای ځايګي درک ولګاوه او نه يې هم د خپلو پرمختللیو تسليحاتي وسائلوپه مټ د هغه له جهادي ګوزارونو څخه ځان خوندي کړای شو.

هوکې ! ملامحمد عمر مجاهد د۲۱ پيړۍ زاهد واکمن و، داسې واکمن چې خپله واکمني يې د الله د کلمې تر لوړ والې ځار کړه.

همدې زړور او نوښتګر قائد بالاخره له الهي قضا او پريکړې سره سم د۱۳۹۲ هـ ش کال د ثور د مياشتې په څلورمه نيټه خپله روح د هغې حقيقي مالک ته وسپارله او له فاني نړۍ څخه يې د تل لپاره سترګې پټې کړې:

انا لله وانا اليه راجعون...





**راځې دلته د دغه نوښتګر قائد په اړه د اسلامي نړۍ د علماوو, اسلامي مفکرينو او سياست پوهانو ځيني هغه تاثرات ولولو چې د نوموړي د وفات په مناسبت يې څرګند کړي:**

د اسلامي نړۍ ستر محدث او د سترو مجاهدينو استاد علامه ابو محمد المقدسي:

خداى دي پرامام ملاعمر باندې رحم وکړي، د ده امثال په اوسنۍ زمانې کې ډير کم ليدل کيږي، د الله نظام يې پر ځمکه نافذ کړ، مهاجرينو ته يې پناه ورکړه ، د نصحيت ګرو نصيحت يې و مانه او له کفارو سره ترهغو وجنګيدو تر څو يقين (مرګ) ورته راغې.

د سعودي عربستان ستر محدث او فقيه علامه شيخ علوان:

د تاريخ ټولې پاڼې مې واړولې خو له ملا عمر پرته مې داسې حاکم پيدا نه کړ چې هغه دې خپله واکمنې د الله تعالى له دين څخه قربان کړي وي الله دي پرې ورحميږي او فردوس جنت دي ځای شي.

مشهور ژورنالیست عرفان صديقي:

هغه چې کله دخپلې واکمنۍ دوروستۍ بهار کندهار له سقوط وروسته د افغانستان د مغرورو غرونو په خوا روان و نو په تندي يې له الله تعالى پرته بل چا ته د سجدې خاپ نه بښکارېدو.

دوکتور حاکم المطيري الکويتي:

د ملا محمد عمرمجاهد په وفات سره اسلامي امت يوستر مجاهد زعيم له لاسه ورکړ، داسې زعيم چې د يرغلګرې صليبي ټلوالې په خلاف يي تاريخي مقابله پيل کړه.

اي د اسلامي امت زعيمه ! ته په ريښتيا د اسلامي امت لپاره داسې امام وي چې د اسلامي امت موجود اوراتلونکي نسلونه ، د هغوي ټول جهادي او فکري نهضتونو او فقهي مدارس به په تا پسې اقتداء کوي.

اي لويه استاذه ايا ته په ريښتيا له مونږه وکوچيدي؟!

دکتورشامل:

ای د نړۍ ژبپوهانو ادیبانو!

راشئ د نړۍ د ټولو ژبو قاموسونه له سره وليکئ ، له هغو ټولو څخه د رجوليت (نارينه توب) لغت وباسئ او پرځای يې يواځې د ملاعمر نوم ورځای کړئ...

أبو حمزة الدرعاوي:

دا شرعي مسئله ده چې څوک له دښمن سره د مقابلې په سنګر کې د رباط په حال کې وفات شي هغه شهيد دی خدای تعالی دي د شهيد ملاعمر (مجاهد) شهادت قبول او فردوس جنت ځای کړي.

أبو عزام الأنصاري:

لوی سړی و په ډير لوی وجود کې امير (ساربان) يې پياده شو ( وفات شو) خو قافله مخ په وړاندې روانه ده.

پر دې سربيره د امير المؤمنين د وفات خبر د نړۍ د خبري رسنيو تر ټولو داغ خبر و او د اسلامي نړۍ يو زيات شمير علمي او جهادي شخصيتونو په دې اړه د اسلامي امارت د مشر تابه په نوم د غمشريکي او خواخوږۍ پيغامونه راوليږل. خپله د اسلامي امارت رهبري شوری هم د امير المؤمنين د وفات په مناسبت په لاندې متن افغان مجاهد ولس او اسلامي نړۍ ته د تسليت او خواخوږۍ اعلاميه خپره کړه .





## د عالیقدر امیر المؤمنین ملامحمد عمر مجاهد V د وفات د اعلان په اړه د اسلامي امارت د رهبري شوری او دمرحوم د کورنۍ اعلاميه

بسم الله الرحمن الرحيم

إن الحمد لله , نحمده، ونستعينه، ونستغفره، ونتوب إليه، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سيئات أعمالنا، من يهده الله؛ فلا مضل له، ومن يضلل؛ فلا هادي له. ونشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له، ونشهد أن محمدا عبده ورسوله، صلى الله عليه وعلى آله وأصحابه وسلم تسليماً كثيرا.

أما بعد. فقد قال الله تبارک و تعالی:

وَمَا كَانَ لِنَفْسٍ أَنْ تَمُوتَ إِلاَّ بِإِذْنِ اللهِ كِتَابًا مُّؤَجَّلاً وَمَن يُرِدْ ثَوَابَ الدُّنْيَا نُؤْتِهِ مِنْهَا وَمَن يُرِدْ ثَوَابَ الآخِرَةِ نُؤْتِهِ مِنْهَا وَسَنَجْزِي الشَّاكِرِينَ١٤٥وَكَأَيِّن مِّن نَّبِيٍّ قَاتَلَ مَعه رِبِّيُّونَ كَثِيرٌ فَمَا وَهَنُواْ لِمَا أَصَابَهُمْ فِي سَبِيلِ اللّهِ وَمَا ضَعُفُواْ وَمَا اسْتَكَانُواْ وَاللّهُ يُحِبُّ الصَّابِرِينَ١٤٦وَمَا كَانَ قَوْلَهُمْ إِلاَّ أَن قَالُواْ رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا ذُنُوبَنَا وَإِسْرَافَنَا فِي أَمْرِنَا وَثَبِّتْ أَقْدَامَنَا وانصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكَافِرِينَ ۱۴۷ آل عمران.

ترجمه : او هيڅ يو کس لره دا واک نشته چې مړ شي مګر دالله تعالی په حکم سره په ليکل شوې ټاکلې نيټه به مري،او څوک چې ددنيا اجر غواړي نو له همدې يې برخه ورکوو او څوک چې داخرت اجراو ثواب غواړي نو له هماغه يعني اخرته يې ورکوو،او زر به شاکرينو ته ښه بدله ورکړو. او ډير داسې نبيان دي چې په خوا کې يې ډير خدای پالونکي جنګيدلي دي خو دالله په لاره کې د ور رسيدلو مصيبتونو له امله نه سست شول،نه کمزوري شول او نه يې سرټيټې وکړ او الله همداسې صابرين خوښوي.او ددوی له دې پرته بله خبره نه وه چې ويل به يې: اې زمونږ ربه ګناهونه مو راوبخښه او په خپلو چارو کې زمونږ تيری راوبخښه او پښې مو ټينګې کړه او پر کافرانو نصرت او بريا راکړه .

مرگ حق دی موږ پردې ایمان لرو چې له الله تعالی پرته هر موجود د مرگ سره مخ کیږي،حتی د الله تعالی تر ټولو محبوب مخلوق د دوو جهانونو سردار حضرت رسول اکرم محمد H هم د مرگ څکه کړې او له دنیا څخه یي رحلت کړی دی.

همدې حقیقت ته په پام سره د افغانستان د اسلامي امارت مشرتابه او د ملامحمد عمر مجاهد کورنۍ اعلانوي چې د اسلامي امارت مؤسس او زعیم امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد د ورپیښې شوې ناروغۍ له امله خپل روح ملک الارواح ته وسپاره او له دې فاني جهان څخه یي رحلت وکړ. انالله وانااليه راجعون . رحمه الله تعالی رحمة واسعة

ملا محمد عمر مجاهد رحمة الله علیه د اسلامي امت یو ویاړلی او مخلص رهبر و،چې په ډیرو سختو شرائطو کې یي د اسلامي حاکمیت لویدلی بیرغ راپورته کړ، د اسلامي امارت تر نامه لاندې یي یو بشپړ منظم او د اسلامي سیاست پر اصولو برابر شرعي نظام تأسیس کړ،الله تعالی دده په توسط نه یوازې د افغانستان په سطحه مؤمنانو ته د اسلامي نظام نعمت ور ولید بلکې درست جهان ته یي د واقعي اسلامي حاکمیت نمونه وړاندې کړه.

دا څو کرښې شاید د نوموړي د ویاړمنو کارنامو د احتوا تاب ونلري،نوځکه اصلي خبرې ته ځو او هغه داچې عالیقدر امیرالمؤمنین V نور له دې دنیا رحلت کړی،په دې شرائطو کې زموږ دنده دا ده چې له نوموړي راپاتې امانت اسلامي امارت هماغسې وپالو لکه ده مرحوم چې پاللی و،هماغسې اسلامي شریعت ته التزام وکړو،هماغسې مخلص او په الله تعالی متوکل واوسو،هماغسې قربانۍ ته حاضر او د حق په لاره کې مؤمن، متعهد،متوکل،صابر،ثابت او له الله تعالی څخه ویریدونکي واوسو تر څو الله تعالی همداسې ددې ستر بار د پورته کولو او تر منزله رسولو توفیق راکړي،او همداسې مو د دنیا او اخرت په سرلوړۍ او بریا ونازوي .





مرحوم ملامحمدعمر مجاهد چې دامریکا په مشرۍ دنړیوال کفري یرغل له ټول فشار او تعقیب سره سره په هیواد کې اوسېده اوپه تیرو څوارلسو کلونو کې حتی د یوې ورځې لپاره هم له افغانستان څخه بهر پاکستان یا کوم بل هیواد ته نه دی تللی او له خپل میشت ځای څخه یي د اسلامي امارت چارې رهبرې کولې چې دنوموړي په دي ستر استقامت او له هیواده په نه وتلو کره شواهد او دلایل مو جود دي څه موده وړاندې د ورپیښې شوي ناروغۍ له املې چې دناجوړې په وروستیو دوه اونیو کې سختي زیاته شوه او په حق ورسید.

عالیقدر امیرالمؤمنین V که جسما یو شخص و مگر په معنوي لحاظ نوموړی یو خوځښت،یوه نظریه او د یوه مقدس ارمان حامل و،که څوک غواړي د هغه روح خوشاله کړي او له هغه سره د وفا ثبوت وړاندي کړي،نوباید د نوموړي له میراث اسلامي امارت سره وفا وکړي،د اسلامي نظام د اعادې لپاره په دې شرائطو کې په حیث د مسلمان دا زموږ د فرد فرد وظیفه ده چې د اسلامي امارت د قوت،وحدت ، پراختیا او بریا لپاره ټولې هڅې په کار واچوو، ددې ګډ کور بنیادونه لا پاخه کړو،ځکه زموږ د مسلمان اولس او مجاهد قشر عزت او سرلوړي یوازې د همدغه صف په قوت سره تضمیندلی شي .

مرحوم امیرالمؤمنین ملامحمد عمر مجاهد V اسلامي امارت د یوه ستر خوځښت په حیث په داسې ډول ودان کړی او روان کړی چې ترشا یي جوړ او محکم بنیادونه ، مخلص او باتدبیره ملګري او منظم تشکیلات پرې ایښي دي لهذا مجاهدین او ټول مسلمانان دي مطمئن اوسي،چې دا کاروان به د اسلامي امارت ټول مسؤلین او افراد د الله تعالی په نصرت او دمسلمانانو په ملاتړ د عالیقدر امیرالمؤمنین ملامحمد عمر مجاهد V له ارمانونو سره سم منزل مقصود ته رسوي ان شاءالله تعالی و ماذالک علی الله بعزیز

د اسلامي امارت د مشرتابه ، رهبري شوری او دعالیقدرامیرالمؤمنین V دکورنۍ له پریکړې سره سم به سر له نن یعني د ۱۴۳٦ هـ ق کال د شوال له ۱۴ څخه تر

دريو ورځو پورې په ټولو سيمو کې دعلماء کرامو ،د مساجدو د امامانو،قومي او جهادي شخصيتونو،د اسلامي امارت د مسؤلينو،مجاهدينو او عام اولس لخوا د مرحوم اميرالمؤمنين ملامحمد عمر مجاهد V روح ته د دعاء په خاطر دقران کريم د ختمونو ،فاتحو او دعاګانو مراسم ترسره کيږي،او له الله تعالی څخه به مرحوم اميرالمؤمنين ته د مغفرت او اسلامي امارت ته د استحکام او بريالیتوب دعاګانې کيږي .

په پای کې بايد يادونه وکړو چې د مرحوم اميرالمؤمنين ملامحمد عمر مجاهد مورنی ورور ملا عبد المنان اخنداو د مرحوم ملامحمد عمر مجاهد مشر زوی مولوي محمد يعقوب له ټولومسلمانانو څخه خصوصي غوښتنه کوي چې د مرحوم ملا محمدعمر مجاهد په مشری د اسلامي امارت په واکمنی کې که ددوی کوم ډول حقوق تلف شوي وي، نو ټول دې ورته عفو وکړي او په دعاګانو کې دي تل ياد ساتي،مور په دې ستر غم کې ټول مسلمان امت او په خاص ډول د افغانستان مجاهد ولس له ځان سره شريک بو لو اوټولو ته له الله تعالی څخه دتسليت او صبرجميل غوښتونکي يو . والسلام

د افغانستان د اسلامي امارت رهبري شوری
او دعاليقدر مرحوم ملامحمد عمرمجاهد کورنۍ
۱۴۳۶ هـ ق کال د شوال المکرم ۱۴مه
۱۳۹۴هـ ش کال د اسد ۸ مه
۲۰۱۵ميلادي کال د جولای ۳۰ مه





## د شهيد اميرالمؤمنين
## ملا اخترمحمد (منصور) V ژوندليک

(ترتيب: د فرهنګي کميسيون د تاريخ څانګه)

د افغانستان اسلامي امارت چې په معاصر دور کې په نړيواله کچه د کفر او استبداد پرخلاف د جهاد او مبارزې يو مستحکم سنګر بلل کيږي تأسيسي قائدين يې لله الحمد په موهوبوي شکل د رهبري او مشرتابه له فوق العاده صلاحيتونو او مهارتونو څخه برخمن وي .

خپله د افغانستان د اسلامي امارت مؤسس مرحوم ملامحمد عمر (مجاهد) V د قيادي صلاحيتونو يوه ژوندي مجموعه وه. نوموړي وکړای شول د نړيوال کفر سره د مقابلې په ډګر کې د مسلمانانو د قيادت او رهبري صلاحيتونه په عملي ډول ځينو هغو مجاهدينوته تلقين کړي چې له ده سره په دې لاره کې د الله تعالی د نظام د حاکميت لپاره ملګري ول.

د نوموړي په قيادت کې عمري جهادي مدرسې ډير داسې اشخاص تربيه اوروزلي چې هر يو يې دمسلمانانو د قيادت او د عصر په تر ټولو حساسو شرائطو کې د جهادي قيادت پوره وړتيا او صلاحيت لري.

په فکري او جهادي نهضتونو کې هسي هم تر شخصياتو زيات محوري رول د مذهبي اساساتو وي، هلته هرځه د جهادي اوفکري انګيزې له مخې تنظيم وي. قرآني ارشادات او د رسول اکرم H او خلفاء راشدينو کارنامي د نهضت د لارويانو اساسي تګلاره وي .

د دغو بابصيرته شخصيتونو او د عُمري مدرسي د متانت لرونکو شاګردانو له جملې څخه يو هم د اسلامي امارت دوهم ټاکل شوی زعيم شهيد أميرالمؤمنين ملا اختر محمد (منصور) تقبله الله و چې په عملي ډول يې د اسلامي امارت د قيادت چاري د عاليقدر امير المؤمنين په حيات کې پيل کړې او د هغه د وفات تر اعلان وروسته د اسلامي امارت د اهل الحل والعقد معتبرو اشخاصو، علماء کرامو ، جهادي مخورو او نورو ملي شخصيتونو لخوا د اسلامي امارت د نوي زعيم په حيث وټاکل شو او بيا يې د شهادت تر شيبې په پوره ايماندارۍ، متانت او ميړانه ددغه ستر کاروان د رهبرۍ درنه وظيفه ترسره کړه.

په لاندې کرښو کې د نوموړي ژوند او کارنامو ته لنډه کتنه کوو هيله ده چې راسره ويې لولئ.

## زوکړه يې

شهيد ملا اختر محمد منصورد الحاج محمدجان زوی، په ۱۳۴۷هـ ش ـ ۱۹٦۸ م کال د کندهار ولايت د ميوند ولسوالۍ په بند تيمور کلي کې زيږيدلی دی.

داچې د نوموړي کورنۍ د خپلې سيمې په کچه يوه متدينه اوعلم دوسته کورنۍ او جناب والد صاحب يې يو علم خوښوونکی شخصيت و، نو د جناب منصور صاحب د سالمې روزنې لپاره يې هغه ته لومړنی انتخاب د ديني زده کړو ترلاسه کول و.

## زده کړې يې :

شهيد منصور صاحب په اوه کلنۍ کې د خپل والد صاحب په لارښونه د خپلې سيمې ابتدايي مکتب او دخپل کلي مسجدکې دديني زدکړوشعبې ته شامل کړای شو، داچې پر نوموړي باندې له ماشومتوب څخه د پوهې، ذکاوت او بصيرت علامې ښکاره وې نو د خپل پلار ترځنګ د استادانو لخوا هم تر خاصې روزنې او پالنې لاندې ونيول شو.





ځرنګه چې د نوموړي کورنۍ د هجرت په مهال د بلوچستان اړوند په ګردي ځنګل کمپ کې اوسيده نو ديني زده کړې يې څه موده همدلته او بيا د پنج پای په سيمه کې ترسره کړې. له هغه وروسته کوټې ښار ته لاړ څه وخت په کوټه او وروسته يې د عبدالله خان کراس په سيمه کې په يوه مدرسه کې ديني کتابونه ولوستل. وروسته نوموړی د ديني علومو په تلاش پيښور ته لاړ او هلته يې په کچه ګړۍ او نورو سيمو کې دينی درسونه وويل او وړه دوره يې د پيښور د جلوزو په کمپ کې ولوسته.

هغه مهال چې نوموړی په ديني زده کړو بوخت و د افغانستان سياسي واک د کمونستانو لاس ته ولويد او افغان مجاهد ولس د هغوی پرخلاف اسلامي پاڅون وکړ.

جهاد او سياسي مبارزه يې :

په کال ۱۹۷۸م کې په افغانستان باندې د شوروي اشغالګرو تر تيري وروسته افغان مجاهد ولس د هغوی پرخلاف اسلامي مقاومت پيل کړ .جناب منصور صاحب چې هغه مهال اتلس کلن و د يوه تکړه او باشهامته ځوان په توګه ديوه غيرتي مجاهد په حيث يې په شعوري ډول له خپل دين او هيواد څخه د دفاع په غرض د يرغلګرو شورويانو او داخلي کمونستانو په خلاف د وسله وال جهاد لاره ونيوله.نوموړی به د کال په اوږدو کې کله په ديني درسونو بوخت و او چې سبقونه به خلاص شول نو به يې د جهادي جبهو پر خوا مخه کړه.

نوموړی په کال ۱۹۸۵ م کې د جهادي فعاليت لپاره د کندهار ولايت د مشهور جهادي قومندان شهيد قاري عزيزالله جبهه دخپل جهادي سنګر په حيث غوره او د پنجوايي ولسوالۍ په پاشمول سيمه کې يې د افغانستان په کچه د مشهور جهادي شخصيت الحاج ملامحمد حسن اخندځوک چې داسلامي امارت په واکمنۍ کې درياست الوزرا مرستيال و تر سرپرستي لاندې د شوروي اشغالګرو او داخلي کمونستانو پر خلاف جهادي فعاليت ته دوام ورکړ،د شهيدقاري عزيزالله جبهه دجهادي شخصيت مرحوم مولوي محمدنبي محمدي د حرکت انقلاب اسلامي په تنظيم پوري ملحق وه چې دقاري صاحب تر شهادت وروسته يې دقومندان ملا حاجي

محمد اخند په مشرۍ د جهادي شخصيت مولوي محمد يونس خالص په اسلامي حزب کې رسميت ترلاسه کړ .

محترم منصور صاحب په کندهار کې د شوروي اشغالګرو او د هغوی د داخلي ملاتړو پر خلاف په ډيرو پوځي عملياتو کې فعاله برخه لرلې اويو ځلې په کال ۱۹۸۷ م کې دکندهارولايت د ژړۍ ولسوالۍ دسنځري په سيمه کې دروسانو په يوه ستراتيژيک مرکز باندي دمخامخ عملياتو په ترڅ کې په داسي ډول زخمي شو چې بدن يې ديارلس ځايه خوړ و خو الله تعالی ورته شفاورکړه ،دوهم ځل بيا د۱۹۹۷ م کال دمی په مياشت کي داسلامي امارت په واکمني کې د مزار شريف په هوايې ډګر کې زخمي شو او په هغه زخمي حالت کې د مخالفينو لخوا اسير هم شو.

## د طالبانو په اسلامي تحريک کې يې تأسيسي رول

په کال ۱۹۹۲ م په افغانستان کې د کمونستي نظام تر سقوط او د اخلي جګړو پيليدو وروسته جناب منصور صاحب د خپلې جبهې د نورو مخلصو مجاهدينو په څير وسله پر ځمکه کيښودله او د واک پرسر دپيل کړل شوي ناروا جګړې په تداوم کې يې د هيڅا پلوي و نه کړه.

منصور صاحب چې دا مهال يو نوم وتی مجاهد او د مجاهدينو په منځ کې له ښه شهرت نه برخمن و د يادې سيمې د نورو جهادي شخصيتونو او نظامي قومندانانو لکه مرحوم ملامحمد رباني ، شهيد ملامحمد آخند،او شهيد ملا بورجان په څير د خپل عادي ژوند په غوره کولو سره له هرډول تنظيمي فعاليتونو څخه لاس په سر او په ځينو علمي او تربيوي فعاليتونو مصروف شو.

په کال ۱۴۱۵ هجري قمري کال کې چې د امير المؤمنين ملامحمد عمر مجاهد لخوا د طالبانو اسلامي تحريک تأسيس شو ملا اختر محمد منصور صاحب دغه مهال په پيښور کې د جلوزو کمپ د هجرت کلي په امينيه مدرسه کې له شيخ الحديث مولوي شهاب الدين دلاور صاحب او مشهور مدرس مرحوم سيد قريش بابا سره





سبقونه ويل او ورسره د جنوب غرب حوزې نور هم ډير طالبان ملګري همدرسه وو. کله چې دوی له راډيوګانو د طالبانو د تحريک د تأسيس خبره واوريده نو تر خپل منځ يې مشوره وکړه چې ددې نوي تحريک د حقيقت معلومولو لپاره بايد څو کسان کندهار ته وليږي. دوی خپله دوه ملګري ملا محمد قاسم اخند او ملا عبدالسلام محبور کندهار ته راوليږل. هغوی د اسلامي تحريک له مشر او چارواکو سره وليدل او له پوره اطمينان او قناعت وروسته يې خپلو د مدرسې ملګرو ته حال راووړ چې دا واقعا د طالبانو او مجاهدينو تحريک دی.له دې سره ملا اختر محمد منصور او نور ملګري يې را روان شول، په کومه شپه چې دوی بولدک ته راورسيدل طالبانو دتختې پول سيمه نيولې وه او د کندهار پر خوا روان ول.

په بولدک ملا اختر محمد منصور او ورسره ملګرو طالبانو خپل منځي غونډه وکړه تر څو خپل مشر وټاکي په دې طالبانو کې ډير داسې کسان و چې وروسته په اسلامي امارت کې يې ستر ستر خدمتونه وکړل لکه د نظامي کميسيون اوسنی مشر- صدر محمد ابراهيم،د هلمند ولايت برحال والي ملا عبدالمنان اخند،د کندهار د هوايي ډګر پخوانی مسؤل ملا محمد قاسم اخند،د شيندنډ د ميدان پخوانی مسؤل ملاعبدالسلام محبور، د هلمند پخوانی والي ملا محمد نعيم اخند، د زابل پخوانی والي مولوي مطيع الله صاحب ، شهيد مولوي احمد جان او نور ډير مجاهدين او مسؤلين. له سلا مشورو وروسته دوی د خپلو ملګرو له منځه ملا اختر محمد منصور صاحب د خپل مشر په حيث انتخاب کړ او بيا دوی ټولو د هغه تر مشرۍ لاندې په اسلامي تحريک کې شموليت وکړ او خدمت يې پيل کړ.

نوموړي د اسلامي امارت د واکمنۍ په مهال لاندې وظائف او مسؤليتونه ترسره کړل.

۱ـ دکندهار ښار له نيولو وروسته نوموړی د کندهار د هوايي ډګر د مسؤل په حيث وټاکل شو.

۲ـ د طالبانو په لاس د کندهار ولایت تر نیول کیدو وروسته په کندهار کي د هوایي ځواکونو او هوایي مدافعي مسؤلیت ورته وسپارل شو.

۳ـ په کال ۱۹۹٦م کې د پلازمینی کابل ترنیولو وروسته د هوایي چلنداوسیاحت وزیر وټاکل شو .

۴ـ له وزارت سره هم مهاله دمرحوم امیرالمومنین د ځانګړي هدایت او حکم پر اساس د دفاع وزارت مربوط د هوایي مدافعې عمومي قومنداني مسؤلیت هم ورته وسپارل شو.

د افغانستان د هوایي چلند او توریزم وزارت په ساحه کې یې یو زیات شمیر عمراني او رغنیز فعالیتونه تر سره کړي چې په مختصر ډول یې د ځینو تذکر کوو:

هغه مهال چې کابل ښار د اسلامي امارت تر ولکې لاندې راغی په دې ښارکې د هوانوردي وزارت تأسیسات او مربوط ملکیتونه د داخلي جګړو له کبله سخت متضرر شوي ول.دا هغه مهال و چې اسلامي امارت له سختو اقتصادي ستونزو او نړیوالو محدودیتونو سره مخ و خو منصور صاحب په هماغو نامناسبو اقتصادي شرائطو کې لومړی د کابل بین المللي هوایي ډګر او د هغه اړوند تأسیسات ټول له سره ورغول او بیایې د آریانا افغان نړیواله هوایي کرښه د کورنیو او بهرنیو الوتنو لپاره په نړیوال ستنډرډ برابره مجهز ه کړه.

د هغه په تعقیب د کندهار، هرات ، ننګرهار، مزار شریف او کندز ولایت هوایي ډګرونه د هرډول ملکي او پوځي الوتنو لپاره اماده او په پرمختللیو وسائلو مجهز کړل دغه راز یې دافغانستان په دننه کې د شپې او ورځې لپاره د داخلي الوتنو سهولت برابر او له کلونو ځنډ وروسته یي په لومړی ځل په زرګونو افغاني حاجیانوته د آریانا افغان هوایي کرښې له لاري حج ته د تللو زمینه مساعده کړه.

محترم ملا اختر محمد منصور چې د اسلامي امارت د ټولې واکمنۍ پرمهال د هوایي چلند وزیر و د خپل وزارت پرمهال یې دافغانستان د ملکي هوایي چلند وزارت





داحیاء او پرمخ بیولو په لاره کې ډیرې هلې ځلې وکړي چې غواړو د مشت نمونه خروار په توګه یې دلته مختصر یادښت وکړو.

جناب منصورصاحب دملکي هوایي چلند ښې رهنمایي اودنړۍ دنورو هیوادونود ترانزیټ پروازونوچي دافغانستان له فضانه به تیریدل په خاطر د(ویست دستګاه) دافغانستان په بین المللي مشهوروهوایې ډګرونو لکه کابل، کندهار، ننګرهار، مزاراوهرات کي ځا ی پر ځای کړه چي اوس یې هم لیدونکي شاهدان دي، اوهغه مهال یې په میلیونونو امریکایې ډالر دبهرنیو الوتکوله تیریدو نه دټکس په ډول دافغانستان بودیجي ته را تلل چي تر اوسه دوام لري. د هغه مهال د افغانستان د هوانوردۍ وزارت اوهوایې مدافعې د یوه راپور له مخې د منصور صاحب د وزارت پرمهال خوا و شا ۴۴ بیلابیلې ترانسپورتي الوتکې او جنګي چورلکې چې د جګړو پرمهال زیانمنې شوې او له الوتنې لویدلې وې له سره ترمیم او په ملکي هوایي چلند او هوایي ځواک کې د استفادي وړوګرځولې چې لنډ تفصیل یي په لاندې ډول دی .

ـــ هغه ۴۴ مختلف النوع الوتکې چې د منصور صاحب د وزارت پرمهال له سره ترمیم او رغول شوي عبارت دي:

**ترانسپورتي الوتکې:**

دری این ۱۲ – څلور این۳۲ – دوه این ۲٦

**جنګي الوتکې**

اته جیت میګ۲۱ – دری جیت سوM٤۲۰ – پنځه جیت سو۲۲

**هلیکوپتر:**

شپږ می ۸ – اته می۳۵ – پنځه ایل ۳۹

له دې علاوه د ملکي ترانسپورت اړوند یوه روسي ساخته ٤۱ ډوله او یوه این۲۴ او د اریانا افغان هوایي شرکت امریکایي بوینګ الوتکې هم په خپل وخت کی په بهرنیو هیوادونوکي ترمیم اود استفادې وړ وګرځیدې. دغه راز یي ۵روسي ساخته

ترانسپورتي الوتکي په ازادبازارکې خريداري او د افغانستان هوايي خدماتو ته وسپارلې.

په دې يوشميرترميم شويو اوخريداري شويوالوتکو سربيره هغه مهال افغانستان نورې هم په لسګونو روغې جنګي، ترانسپورتي الوتکې او چورلکې درلودې چې د يوه بشپړ هوايي ځواک رول يي درلود او د فعاليت ښه بيلګه يې په کندز او ځينو نورو لري پرتو سيمو کې دمجاهدينو دمحاصره ځواکونواو مختلفو لري پرتومقدموجبهو او جنګي خطونوته دوام داره اکمال او هوايې مرسته بللای شواوهم دهيواد لويو ښارونو او له هيواده بهرته په منظم ډول دمسافر وړونکو الوتکو الوتنې جاري وې. خو دامريکايانو په يرغل او دهوايي ډګرونو په بمبارولو سره دغه ملي شتمني په يومخيز ډول تباه او له منځه ولاړه .

محترم ملا اخترمحمد منصور د اسلامي امارت د واکمني په مهال د جنرال مالک د غداری له کبله په شمال کې څه باندي شپږ مياشتي بندي شو خو وروسته د الله تعالی په فضل هغه وخت بيرته ژوندی راخلاص شوچي جنرال مالک د جنرال دوستم په بيرته را څرګندیدوسره له فاريابه وتښتيده اوله بنديخانو څخه يې بنديانو ته د وتلو زمينه مساعده شوه .

## د امريکايانو د يرغل په خلاف وسله وال مقاومت

په ۲۰۰۱ م کال د اکتوبر په اوومه نيټه په افغانستان باندې د امريکا تر يرغل وروسته محترم منصور صاحب د هغوی په خلاف مسلح جهاد پيل کړ .

د امريکا په ضد د نوموړي د جهاد يو د ياد وړ مرحله د کندهار د هوايي ډګر په شاوخوا کې د امريکايي بمبار په مقابل کې مقاومت او د امريکا له ګوډاګيانو سره مخامخ جنګونه دي چې اوږده موده يې دوام وکړ.د يادونې وړ ده چې امريکايانو خپل لومړنی يرغل او بمبار هم د کندهار له هوايي ډګر څخه پيل کړ. په لومړي ځل يې د هوايي ډګر په ساحه کې د پيچور په نوم د مدافع هوايي دستګاه وويشتله وروسته يې د





مرحوم امير المؤمنين ملا محمد عمرمجاهد کور دغه راز د هوايي ډګر رادار، ځغاست ليکه او د هوايي ډګر په ساحه کې د شهيد منصور صاحب کور او په خاص ډول دده د اوسيدلو اطاق يې په نښه کړ. خو دا چې هلته څوک موجود نه ول چاته تلفات ونه رسيدل.

وروسته چې د پلازمينې کابل په شمول له ډيره ولاياتو څخه مجاهدينو عقب نشيني وکړه د کندهار په ولايت کې تر يوې مياشتې پورې بيا هم مقاومت روان و. په دې مهال د ګل اغا شيرزي په مشری د امريکا ګوډاګيانو د ارغسان د پله له خوا مسلسلې حملې کولې او دامريکايي الوتکو بمبار هم روان و منصور او ملګرو يې تر وروستی شيبې پورې مقاومت وکړ او بيا بيا يې ددښمن تعرضونه په شا وتمبول.

منصور صاحب دغه مهال چې د امريکايانو سخت بمبار روان و تر هغه وخته چې د اسلامي امارت مشرانو له کندهار ښار څخه د وتلو پريکړه کوله هميشه دميدان په شاوخوا کې اوسيده او ددښمن په خلاف يې مقاومت ته ادامه ورکوله.مولوي مطيع الله صاحب وايي دغه وخت ورته د امريکايانو او ګل اغا شيرزي لخوا يو چا خط راوړ چې منصور صاحب ته يې په کې ليکلي وچې: نور راشه تسليم شه، سر به دې په امن وي او کنه زموږ زور نلري او له شکست سره به مخامخ شې. منصور صاحب د دښمن استازي ته وويل چې ورشه ورته ووايه چې څه زور لرئ ټول وکاروئ، زما د تسليمی فکر مه کوئ او نه به هم کله تسليم شم.خپل وس کوئ او خپل وس به کوم.

مولوي مطيع الله وايي منصور صاحب د کندهار په دفاعي خط کې تر وروستی شيبې د مقاومت اراده درلوده يو وخت ورته يوه ملګري وويل چې له ميدان څخه به مهمات او درنې مرمی دريګ او ميوند خواته انتقال کړو. ده ورته وويل چې له هغه ځايه يې بيا نه شو راوړلی تر څو چې يو همدلته به يې مصرفوو.

ملا عزيز الرحمن هم د منصور صاحب اړوند د همدې وخت يوه خاطره ذکر کوي او وايي: په همدې سخت وخت کې چې د افغانستان ډيرې سيمې داسلامي امارت له واکه وتلې وې او يوازې کندهار ښار پاته و او سخت بمبار هم شروع وو يوه

ورځ ورسره له ترنک پله تر ښار پورې په موټر کې ملګری وم نو یې همدا مذاکره کوله چې: حالات ډیر سخت دي، خو باید زمونږ عزم متزلزل نه کړي،دا د الله تعالی تقدیر دی چې کله سړی پاچا وي او کله بیا ګدا شي.دا هر څه د بندګانو دازمویلو لپاره کیږي نو مونږ باید خپله عقیده او عزم ونه بایلو او له دین سره خپل تعهد وساتو.

خو کله چې د اسلامي امارت مجاهدینو له کندهار ښار څخه د وتلو پریکړه وکړه منصور صاحب هم په هماغه وروستۍ ورځ لـه کنـدهار ښـار څخـه ووت او د میونـد ولسوالۍ بند تیمور ته لاړ او د امریکایي یرغل په خلاف یې له سره د جهادي مقاومـت د تداوم هڅې پیل کړې.

د محترم منصور صاحب په جهادي ژوند کې د امریکا په ضـد د جهـاد مرحلـه د ده لپاره له سـختو آزمایښـتونو او چیلنجونـو ډکـه دوره وه .دغـه وخـت نومـوړي تـه د مرحوم امیر المؤمنین لخوا د اسلامي امارت د رهبري شـوری پـر عضـویت سربیـره د کندهار ولایت جهادي مسؤلیت هم وسپارل شو.

دا مهال د کندهار ولایت د افغانستان د نورو ولایتونو په څیر د امریکایانو خلاف جهاد کې یو تکړه ، او ماهر جهادي مسؤل ته اړتیالرله ؛ ځکه امریکایـانو د ټـول جنـوب لویدیځ زون په سطحه جنګي پلانونه له همدې ولایت څخه د مجاهدینو په خلاف طرح کول او همدا لامل و چې تر هلمند وروسته د ټول زون په کچه په کنـدهار ولایـت کـې زیات شمیر امریکایي، کاناډایي او نور بهرني یرغلګر ځای پرځای او تر بګرام وروسـته لویه مرکزي اډه یې هم د کندهار ولایت په هوایي ډګرکې فعاله کړه.

خومنصور صاحب دخپل جهادي بصیرت لـه مخـې پـه کنـدهار ولایـت کـې د ټولـو موجودو خارجي یرغلګرو پرخلاف داسې جهادي پلانونه طرح کـړل چـې د هغـوی د وخـت مشهور پوځي جنرالان او نظامي ماهرین یې له مخنیوي او مقابلې څخه عاجز ول.

په کال ۲۰۰۳ م او ۲۰۰۸ م کې د کندهار ولایت د مرکز ي محبس د مجاهدینو په لاس دوه ځلې په حیرانوونکې توګه ماتیدل چې له مخې یې په دواړه ځـلي مجموعـا تـر





یونیم زر زیات اسیر مجاهدین د دښمن له اسارت څخـه راخـلاص کـړای شـول هـم د منصور صاحب د مسؤلیت په مهال تـر سره شـول.دغه راز د کنـدهار ښـار تـه څیرمـه سیمو سربیره په جنوبي او شمالي ولسوالیو کې د جهادي قیـام پیـل او اطـرافي سـیمو ددښمن له واکه ایستل،په کندهار ښار کې د چریکي ښاري جګړې تداوم،د دښـمن پـه مراکزو د سترو استشهادي عملیاتو ترسره کیدل او ډیرې نورې جهادي کارنـامې هغـه څه دي چې د شهید منصور صاحب د مسؤلیت په مهـال یـې پـه کنـدهار ولایـت کـې صورت موندلی.

## د اسلامي امارت د مرستیال په توګه

چې کله په۲۰۰۷ م کال کې داسلامي امارت پخوانی مرستیال الحاج ملا عبیـدالله اخند د پاکستاني حکومت لخوا اسیر شونومرحوم عالیقـدرامیرالمؤمنین V ، مـلا اخـتر محمـد منصورداسـلامي امـارت لـه بـل مرسـتیال محـترم مـلا برادراخنـد سره داسلامي امارت ددوهم مرستیال په حیث وټاکه او دا هدایت یې هـم ورتـه وکـړ چـې کندهار ډیر مهم دی دهغه ولایت مشرتوب به هم نه پریږدي او دواړه دندي به پـرمخ وړي.

په کال ۲۰۱۰ میلادي کې هغه مهال چـې د اسـلامي امـارت یـو مرسـتیال الحـاج ملاعبید الله اخنـد د پاکسـتاني ځواکونـو پـه اسـارت کـې شـهید او بـل مرسـتیال یـې ملاعبدالغني برادر د امریکایي او پاکستاني مشترکو قواوو لخوا په پاکستان کې اسـیر کړای شو امیر المؤ منین ملامحمد عمر (مجاهد ) محـترم منصـور صـاحب د اسـلامي امارت د مرستیال او د امارت د ټولو چارو د عمومي مسؤل په توګه وټاکه .

دا هغه مهال و چې د اوباما لخوا افغانستان ته ۳۰۰۰۰ نوي اضافي ځواکونه را لیږل شوي او په افغانستان کې جهادي مقاومت له سترو ننګونو سره مخ و .ځکه د یرغلګرو تر یولک زیات په تر ټولو پرمخ تللیو وسلو مجهز خارجي ځواکونه د سلګونه زره داخلي پوځیانو ترڅنګ له مجاهدینو سره د هیواد په ګوټ ګوټ کې په جګړو بګیل ول.

له يوې خوا د نهايت حساسو امنيتي شرائطو له وجې د مقاومت د پوځي رهبري لپاره د اسلامي امارت امير ملامحمد عمر (مجاهد) راڅرګندېدل ناشونی کار ګڼل کيده له بلې خوا په جهادي جبهه کې د پوځي او اداري قيادت تشه هغه څه ول چې دمقاومت پله يې په بشپړه توګه د دښمن په لور درنوله.

په مجاهدينو باندې پر پوځي فشار سربيره د دښمن لخوا نور سياسي او تبليغاتي فشارونو هم ډير زيات شوي او د مقاومت په سنګرو کې يې ډير شمير جهادي چارواکي په شهادت رسيدلي ول اوګڼ شمير مشران مسئولين اسيران ول .

په دغسي يو حساس وضعيت کې د مرحوم امير المؤمنين ملامحمد عمر (مجاهد) لخوا د صليبي يرغلګرو په وړاندې د مجاهدينودسمبالښت مسؤليت د محترم منصور صاحب په غاړه ور واچول شو. محترم منصور صاحب عملا وکړای شول چې دالله تعالی په نصرت اودرهبري شوری په مرسته د مقاومت په تر ټولو حساسو شيبو کې هغه په داسې ډول رهبري کړي چې مجاهدين په هيڅ ډول د عملي قيادت تشه احساس نه کړي .

هماغه و چې ۲۰۱۰م کال په افغانستان کې د صليبي ځواکونو لپاره د هغوی په خپل اعتراف تر ټولو خونړی کال ثابت او مجاهدينو وکړای شول تر بل هروخت په همدي کال کې ډير موثر او کاري ګوزارونه پر دښمن ترسره او په ترڅ کې يې خپله د دښمن په اعتراف ۷۷۰ تنه خارجي يرغلګر و وژني.

همدا راز مجاهدينو د منصورصاحب په قيادت کې وکړای شول چې له دښمن نه ډيري پراخي سيمي فتحه او منظمه اسلامي اداره پکې رامنځ ته کړي .

## د امير المؤمنين ملامحمدعمر (مجاهد) تر وفات وروسته

د ۱۳۹۲ هجري شمسي کال د ثور د مياشتې په څلورمه نيټه چې کله امير المؤمنين ملا محمد عمر مجاهد وفات شو نو داسلامي امارت د رهبري شوری يو شمير غړيو، جيدوعلماء کرامو ، په تيرو دوولسو کلنو کې د مرحوم ملا محمدعمر





(مجاهد) د ځانګړي قاصداو د نوموړي دائمي ملګروکوم چې د وفات تر وخته له نوموړي سره يوځای اوسيدل ټولو له منصور صاحب سره بيعت وکړ او نوموړی يې د اسلامي امارت د امير په حيث تعين کړ .

دا چې ۲۰۱۳ کال د صليبي اشغالګرو او له هغو سره مقاومت کوونکو مجاهدينو ترمنځ د مقابلې او زور آزمويلو وروستی کال و نو د اسلامي امارت د رهبري شورا مهمو قيادي اعضاوو اويوشميرشيوخو علماءکرامو دا پريکړه وکړه چې اوس مهال د امريکاپه مشری د صليبي اشغال د زور ازمو يلو وروستی شيبې دي او ۲۰۱۴م برخليک ټاکونکی کال چې اشغال ګرو د خپلو ځواکونو د پرشاتګ لپاره د وروستي کال په حيث تعين کړی په مخ کې دی نو د جهادي مصلحت او علماء کرامو د موافقې له مخې به دا غوره وي چې د مرحوم اميرالمؤ منين د وفات خبره دي له همدغو محدودوکسانو پرته بل چاته نشکاره نشي .

هماغه و چې دا اساسي راز په ډير خارق العادته ډول د خاص جهادي مصلحت پر اساس د ۲۰۱۵ کال د جولای د مياشتې تر ۳۰ نيټې پوري پټ وساتل شو.

## د اسلامي امارت د منتخب امير په توګه

کله چې د ۱۴۳۶ هجري قمري کال د شوال المکرم مياشتې په ۱۴ نيټه چې د ۲۰۱۵ ميلادي کال د جولای د مياشتې له ۳۰ نيټې سره سمون خوري د اسلامي امارت د رهبري شوری له لوري د مرحوم اميرالمؤمنين ملا محمد عمر مجاهد V وفات رسما اعلان شو.

منصور صاحب د مجاهدينو د لاښه اطمنان په خاطر د رهبري شوری غړواوعلماء کرامو ته د خپل برخليک او د نوي زعيم د ټاکلوپه اړه اختيار ورکړ او داخبره يې ورته وکړه چې تاسو چې کوم شخص د زعيم په حيث غوره کوئ زما پري خوښه او موافقه ده.

هماغه و چې د افغانستان د اسلامي امارت د رهبري شوری اعضاوو، د مشائخو او مخورو علماء کرامو په ګډون يوې غونډې چې د اهل الحل و العقد له اعتبار څخه

برخمن ول د محترم منصور صاحب لـه حضـور اوموجوديـت پرتـه تـر اوږدو بحثونـو ، مصلحت سنجولو او مشورو وروسته نوموړی د اسلامي امـارت د نـوي امیـر پـه حیـث وټاکه .

د اسلامي امارت د امیر په توګه د محترم مـلا اخـتر محمـد (منصـور) لـه ټاکـل کیدو سره سم د اسلامي امارت د رهبري شورا غړیو، داسلامي امارت دټولو کمیسونونو مشرانو د قضاء او محاکمو عمومي مسـؤلینو نظـامي قومنـدانانو او د افغانسـتان د ۳۴ ولایتونو جهادي مسؤلینو، د نظامي کمیسیونونو مشرانو، د هیواد علمي،ملي ، جهـادي، سیاسي او فرهنګي شخصیتونو او د اسلامي امارت ټولـو وسـله والـو ځواکونـو او ملکـي چارواکو په یوه غږ د اسلامي امارت له نوي امیر منصور صاحب سره بیعت اعلان کـړ. دغو ټولو پوځي او ملکي لوړیو او د هیواد ملي شخصـیتونو خپـل بیعتونـه پـه صـوتي او کتابتي بڼه د افغانستان د اسلامي امـارت نشرا‌تي څـانګي تـه ولیـږل چـې وروسـته د هغوی لخوا د اسلامي امارت په مرکزي ویب پاڼې الامـاره ویـب سـایټ کـې هـم نشر‌ـ شول.

## د نوي امیر په توګه تقرر یې د شریعت له نظره

علماء کرام او اسلامي سیاست پوهان په اسلام کې د زعیم دانتخاب لپاره تر ټولو سمه او غوره لاره د شوری یا اهل الحل والعقـد لخـوا څخـه ټاکنـه بـولي د اهـل الحـل والعقد اطلاق په هغه ټولي کیږي چې په علم، تجربـې او هوښـیاری لرونکـو اشخاصـو باندې مشتمل وي او معمولا د یوې شوری اطلاق ورباندې کیدلی شي.

د خلفاء راشدینو د ټاکل کیدو له بیلابیلـو طریقـو څخـه پـه عمـومي اسـتنباط د شوری له لارې د زعیم ټاکلوته دری مرحلې معلـومې شـوي دي،چـې لـومړی دترشـیح مرحله ، دوهمه د انتخاب او دریمه د بیعت مرحله ده.

ترشیح یا د مشری لپاره نوماند کیدل به خپلـه د هغـه کـس لخـوا څخـه نـه وي څوک چې زعیم ټاکل کیږي ځکه رسول الله H فرمایي:





إنا والله لا نولي هذا العمل أحدا سأله , أو أحدا حرص عليه. (متفق عليه ) (اخرجه البخاری (۷۱۴۹ ) ومسلم ( ۱۷۳۳ )

ژباړه : په الله چې موږ به هغه څوک په دې( د مشری په کار ) ونه ټاکو کوم چې خپله یې غواړي او یا یې حرص لري.

نو ترشیح به د بل چا لخوا یا د یوه تن وي لکه عمرفـاروق I چـې د ابـوبکر صدیق I لاس ونیو او د زعامت لپاره یې وړاندې کړاو بیا صحابه کرامو د امام په حیث انتخاب کړ او یا به د ډیرو کسانو وي لکه عمرفـاروق I چـې لـه شـهادت وړاندې څو صحابه د خلافت لپاره ونومول او د هغو له منځـه حضرت عـثمان I وټاکل شو.

ملا اختر محمد منصور صاحب هیڅکلـه ځـان پـه خپلـه د مشری لپـاره نـه دی نوماند کړی، بلکې نوموړی په لومړنۍ غونډه کې هم د مشری لپاره د یوازیني کاندیـد په حیث د شورا لخوا نوماند شو او په دوهمه غونډه کې یې هم صراحتا شوری ته وویل چې زه د مشری غوښتونکی نه یم بلکې د یوه مأمور په حیث خـدمت مـې زړه غـواړي، خو شوری نوموړی د زعامت د یوازیني وړ کس په حیث نوماند کړ، وروسته لـه اوږدو بحثونو نوموړی د همدې شوری لخوا چې په علماء کرامو،شیوخو او د اسلامي امارت د رهبري شوری په غړو مشتمله وه چې ټول د علم او جهادي تجربې خاوندان دي لخوا د زعیم په حیث انتخاب او ورپسې لومړی د شوری غـړو ورسره بیعـت وکـړ او وروسـته نورو مسئولینواو عامو مجاهدینو او مؤمنینو ورسره د بیعت لړۍ پیل کړه.

په دې توګه ویلی شو چې د نوموړي انتخاب په بشپړه شرعي طریقـه تـرسره شـو چې له همدې امله د هیواد له ساره او اوږده څخه په نورو لکونوانسانانو سربیره سلګونو د قرآن او احادیثو مشائخو د نوموړي زعامت قبول کړ ، شرعي یې وباله او بیعتونه یـې ورسره وکړل.

## د شخصيت په اړه يې:

د افغانستان د اسلامي امارت دوهم زعيم اميرالمؤمنين ملا اخترمحمد (منصور) د اسلامي امارت په تأسيسي غړيو کې يو خورا مدبر، مؤثر او مسلط شخصيت ګڼل کيدو.نوموړی په موهوبوي شکل د قيادت او رهبرۍ له ځانګړو مشخصاتو څخه برخمن و .تقوی، اخلاص، جهادي بصيرت، سياسي درايت او د کارونو په عملي کولو کې اداري نظم او جرأت يې کاري مشخصات و .

شهيد ملا اخترمحمد منصور صاحب د اسلامي امارت د اړونده جهادي فعاليتونو په تعقيب او تنفيذ کې د خپل جهادي رهنما مرحوم ملامحمد عمر (مجاهد) نقش قدم روان و، د جهادي اهدافو تحقق، له خارجي اشغال څخه د هيواد خپلواکي او په هغه کې د شرعي نظام ټينګښت يې د جهاد او مبارزي اساسي هدف و، د( وامرهم شوری بينهم) په اساس په کارونو کې د ملګرو سالمې مشورې په غورسره اوريدل، اهل کار کسانوته مسؤليت سپارل او تر مسؤليت سپارلو وروسته وروسته وروانديې پوره اعتماد کول،مسؤلو کسانوته تل پر ولس باندې د ترحم او خواخوږي سپارښتنه کول د نوموړي ښکاره مشخصات و .

پردې خبره يې ډير ترکيز درلود( چې اسلامي امارت دټولو افغانانو ګډ کورده نو همداسي بايد ټول خپل ځان پکي ووينې )

د شهيدمنصور صاحب د شخصيت په اړه دده نږدې ملګري وايي چې نوموړی متواضع، مخلص او جرأتمن شخصيت و. له بيت المال سره يې احتياط کاوو. ساده ژوند يې خوښ و. د نوموړي ملګری ملا عبدالباقي اخند وايي چې د امارت د واکمنۍ په وخت چې وزير و ليدلی يې دی چې تر ولاياتو پورې به يې د لين په عادي موټرو کې سفر کاوو. نوموړی وايي په شل کلنه ملګرتيا کې يې د منصور صاحب کومه بده خبره او تر خه وينا نه په يادږي. له خپلو تحت الامر کسانو سره يې د يوه ملګري په حيث چلند کاوو.





حاجي اغاجان چې د منصور صاحب له نږدې کسانو څخه و وايي چې منصور صاحب ډير متوکل سړی و او سره له دې چې ډير خطرات ورته متوجه نوموړی به همیشه پیدا کیدلای شوای. دده په خبره د معاونيت او امارت په ټوله موده کې يوازې دوه ورځې داسې شوي چې له مجاهدينو سره د منصور صاحب رابطه پرې شوي وي او د احتياط په خاطر يې ځان غائب کړی وي. نور به هر وخت د ځانګړو استازو په توسط له ده سره د مجاهدينو رابطه کيدلای شوای او لازم هدايات يې ورکولای شوای.

حاجي اغاجان د منصور صاحب د قناعت او له دنيايي وسائلو، موټرو او هوس سره د علاقې نه درلودلو يادونه کوي او وايي: منصور صاحب کله هم د ښه موټر يا هوسا ژوند هوس نه دی کړی. همیشه يې د يوه عادي شخص په حيث ګوزاره کوله. يو وخت مې ولید چې موټر يې حتی تر عادي حده هم زوړ و، ما ورته وويل چې زه به يو نوی موټر درته رانيسم ځکه دا ډير زوړ دی. ده ځواب راکړ چې په دې عادي ګوزاره کې زما هدف د اسلامي امارت د لايحې په هغه ماده عمل کول دي چې وايي مجاهدين دې د عادي خلکو په شان ګوزاره کوي. نو که زه وروانديې عمل وکړم شايد نورو مجاهدينو کې هم په دې لائحې عمل کول دود شي او که خدای مکړه زه دا ماده هيره کړم او امتيازي ژوند اختيار کړم نو بيا به نور مجاهدين هم د امتيازي ژوندهوس کوي.

د شهيد منصور صاحب زوی ملافتح الله وايي چې منصور صاحب ورته همیشه په علم او استعداد لوړولو باندې تاکيد کاوو او ويل به يې چې د ښه خدمت لپاره لومړی ښه استعداد ضرور دی او د هر دينې خدمت لپاره د علم زده کړه شرط بلل کيږي.نوموړی وايي چې منصور صاحب له شهادت نه يوه نيمه مياشت مخکې يوه ورځ وويل چې د ژوند تر تولو ستر ارمان مې پاک او مخلصانه شهادت دی.

## فکري او مذهبي ليد لوری يې

محترم ملا اختر محمد منصور په مذهبي لحاظ د اهل سنت والجماعت پلوی او د امام اعظم ابوحنيفه V د مذهب مقلد و .د وخت او زمان د سياسي جرياناتو په نزاکت ښه بلد و.

له نوموړي سره د مخامخ کيدو پرمهال سړي د ده سنجيده گي، وقار او متانت ښه درک کولای شوای، سادگي او بي تکلفي يې د ژوند ځانگړې مشخصه وه .

د رسول اکرم H او خلفاء راشدينو د سيرت له مطالعې سره يې خاصه دلچسپي درلوده، هميشه يې له خپلو ټولو جهادي او اداري بوختياووسره سره رسنۍ په ډير دقت تعقيبولې، جهادي ليکوالانو او د امارت فرهنگي اونشراتي کارکوونکوته يې د هغوي په نشراتي فعاليتونو کې خاصې مشوري او ځانگړې توصيې ورکولې .

## د شهيد منصور صاحب يو مهم خصوصيت

شهيد منصور صاحب د اسلامي امارت د زعيم په حيث هميشه قضاياوو ته متوجه شخص و. نوموړي به هميشه مطبوعات تعقيبول تر څو د هيواد له پيښو ځان خبر کړي، دغه راز يې يوه ملگري ته دنده سپارلې وه چې د بهرنۍ نړۍ د بيلابيلو ژبو مطبوعاتو تعقيب کړي او د هغو خبرونو او تبصرو خلاصه يې له ده سره شريکه کړي چې په يوه شکل يي د افغانستان له موضوع سره تړاو پيدا کاوه.

د نوموړي يو نږدې ملگری حاجي اغاجان وايي چې منصور صاحب په هر حالت کې له جرياناتو ځان باخبره ساته، حتی يوه شپه چې ټوله ورځ او د شپې تر ناوخته د رهبري شورا په مجلس کې وه، کله چې له مجلس نه فارغ شو ددې په ځای چې خوب وکړي لومړی يې ماته امر وکړ چې يو ځل خبري ويب پاڼې راواړاوه چې څه حالت روان دی.

حاجي اغاجان وايي چې منصور صاحب به کوم خبر ترلاسه کړ نو سمدستي به يې د خپلو رابطينو په توسط د هغه حقيقت معلومول او خپل معلومات به يې بشپړول. مثلا که چيرې کومه چاودنه شوې وه او ملکي خلکو ته به په کې تلفات رسيدلي و، يا به يو ځای د مجاهدينو په اړه خلکو په رسنيو کې شکايت کړی و. يا د مجاهدينو لخوا د زورزياتي کومه ويډيو يا خبر نشر شوی و، نو سمدستي به يې د پيښې عاملين معلومول





او مسؤلينو ته يې امر کاوه چې قانوني چلند ورسره وکړي.چې په ډيرو مواردو کې دداسې پيښو عاملين خلع سلاح، بنديان او يا محکمې ته معرفي کړل شوي دي.

## له شهادت نه مخکې

له شهادت نه مخکې شهيد منصور صاحب د افغانستان د هلمند او نيمروز تر منځ په يوه کليوالي سيمه کې له خپلو څو تنو خاصو ملگرو مجاهدينو سره ژوند کاوه. ملا اغاجان چې په همدې مرحله کې څه موده له شهيد منصور صاحب سره يو ځای پاته شوی وايي چې دا مې د ژوند تر ټولو خوږه خاطره وه. ځکه د اسلامي امارت زعيم د خپل وطن په سپيرو کوډلو کې داسې ساده ژوند درلود لکه يو عام دسنگر مجاهد.

په دې سيمه کې نوموړی له ۸ کسو مجاهدينو سره اوسيده، دوی د عامو مجاهدينو په شان مسلح گرځيدل اود سيمې مجاهدينو او عامو خلکو ته يې ځانونه د يوه محلي ډلگی مشر په اندېوالانو معرفي کړي وو تر څو د اوسيدو ځای يې افشا نه شي. د اړتيا په وخت يې شاوخوا نورو سيمو ته هم سفر کاوه.

په دې مرحله کې منصور صاحب د احتياط په خاطر له مجاهدينو سره مخامخ ليده کاته نه کول. بلکې د ځانگړو استازو په توسط يې هغوی ته احکام صادرول دغه راز به کله يوې داسې سيمې ته له خپلو ملگرو سره نږدې شو چې انټرنټ به کار کاوو بيا به يې د ايميل او واټس آپ له لارې له مسؤلينو سره رابطه کوله او د وظايفو په باره کې يې ورسره سلا مشوره کوله. په دې ميشت ځای کې په جهادي او ورځنيو رسمي وظائفو سربيره نوموړي ډير وخت مطالعه کوله او يا به له ملگرو سره په موټر کې گرځيده او د جهاد او اولس حالت به يې ځان ته معلوماوو.

شهيد اميرالمؤمنين ملا اختر محمد منصور صاحب د خپل هيواد پر ځمکه او دجهادي حاکميت په ساحه کې ژوند کاوه او په دې لاره کې يې ټول خطرات په ځان منلي و خو مزدورو رسنيو بيا هم په هغه پسې تبليغات کول چې په ايران يا پاکستان کې اوسيده چې دغه اتهام يو بې ځايه او له حقيقته لرې اتهام و.نوموړی له شهادت

وړاندې کټ مټ د خپل سلف مرحوم امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد په شان د سپیرو کوډلو او سنګرونو ژوند د ځان لپاره اختیار کړی و.

## شهادت یې

بالاخره د حق د لارې دغه مخلص او فداکار مجاهد چې د اسلامي امارت د زعیم په حیث د ټاکل کیدو یې لا کال نه و پوره شوی د امریکا د بي پیلوټه الوتکې په برید کې د شهادت لوړ مقام ته ورسید چې د نوموړي د شهادت او نوي زعیم د ټاکل کیدو اعلان د اسلامي امارت لخوا په لاندې اعلامیه سره وشو.

د امیرالمؤمنین ملا اختر محمد منصور د شهادت او نوي أمیر د ټاکنې په اړه د اسلامي امارت د رهبري شوری اعلامیه

الحمد لله الذي بیده ملکوت کل شيء وإلیه ترجعون. وإذا قضى أمرا فإنما یقول له کن فیکون. وله الحمد في السموات والأرض وعشیا وحین تظهرون. یخرج الحي من المیت ویخرج المیت من الحي ویحیي الأرض بعد موتها وکذلك تخرجون. ونشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شریك له ونشهد أن سیدنا محمدا عبده ورسوله الأمین المأمون، والجوهر المکنون . اللهم فصل وسلم على سیدنا محمد وعلى آله وصحبه الذین هم فیما عند الله راغبون وبعد.

قال الله تبارک و تعالى: مَا أَصَابَ مِن مُّصِيبَةٍ إِلَّا بِإِذْنِ اللَّهِ وَمَن يُؤْمِن بِاللَّهِ يَهْدِ قَلْبَهُ اللهَ كُلِّ ۚ عَلِيم ١١ وَأَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ فَإِنْ تَوَلَّيْتُمْ فَإِنَّمَا عَلَىٰ رَسُولِنَا الْبَلَاغُ الْمُبِينُ ١٢ اللَّهُ لا إِلَهَ إِلَّا هُوَ وَعَلَى اللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُونَ ١٣ التغابن

ژباړه: هیڅ مصیبت د الله له حکم پرته نه پیښیږي او څوک چې پر الله تعالى ایمان راوړي د هغه زړه ته به هدایت وکړي او الله په هر شي پوره عالم دی. د الله اطاعت وکړئ او د پیغمبر اطاعت وکړئ خو که مخ واړوئ نو زمونږ په پیغمبر یوازې ښکاره تبلیغ کول دي. له الله تعالى پرته بل خدای نشته او مؤمنان دې پر هماغه الله توکل وکړي.





رضینا بالله ربا و بالاسلام دینا و بمحمد H نبیا ورسولا.

د افغانستان اسلامي امارت په الهي قضاء د رضا اومحکم ایمان له روحیې سره اعلانوي چې د افغانسان داسلامي امارت زعیم أمیرالمؤمنین ملا أختر محمد منصور تقبله الله د ۱۴۳۷ هجري قمري کال د شعبان المعظم د میاشتې په ۱۴ مه نیټه د شنبې په ور ځ چې د ۱۳۹۵ لمریز کال د جوزا له لومړۍ نیټې سره سمون خوري د کندهار دریګستان اود بلوچستان نوشکي ته ځیرمه په یوه سرحدي سیمه کې د امریکایي طاغوت د بي پیلوټه الوتکې په برید کې د شهادت لوړ مقام ته ورسېد. انا لله و انا الیه راجعون.

د افغانستان د اسلامي امارت رهبري شوری د اسلامي امارت ټولو منسوبینو، مجاهدینو، افغان مجاهد اولس، عام اسلامي امت او په ځانګړي ډول د شهید امیرالمؤمنین تقبله الله غمجنې کورنۍ ته د تسلیت مراتب وړاندې کوي او د الله تعالى له دربار ځخه شهید امیرالمؤمنین تقبله الله ته د شهادت د قبولیت، الهي دیدار او جنت الفردوس خواست کوي، الله تعالى دې په شهید منصور صاحب ورحمیږي او د نوموړي کورنۍ، قریبانو، مجاهدینو او اسلامي امارت ته دې په دې ستر مصیبت ، صبر جمیل، اجر عظیم او نعم البدل ورنصیب کړي. آمین یارب العلمین.

مؤمنانو وروڼو! تاریخ شاهد دی چې د اسلامي امت حقپال خوځښتونه همیشه د رهبرانو د شهادت، وفات یا دغسې نورو درنو مصائبو سره مخامخ شوي دي؛ خو دغسې درنو مصائبوهیڅکله د ایمان د خاوندانو پښې نه دي لړزولي، بلکې هغوی یې نور هم مضبوط کړي او په لوړ عزم او ټینګ ایمان سره یې تر وروستۍ مرحلې د برحقې مبارزې لار پاللې ده) وکأین من نبي قاتل معه ربیون کثیر فما وهنوا لما أصابهم في سبیل الله وما ضعفوا وما استکانوا والله یحب الصابرین (۱۴٦)

شهید أمیرالمؤمنین تقبله الله د الله تعالى بنده او د حق د لارې مجاهد و، نوموړي خپله فریضه په ډیره ښه او ویاړمنه توګه ترسره کړه، د مرګ تر ساعته په خپل ایمان او برحق عزم محکم پاتې شو، د اسلامي امارت د زعامت په لنډه موده کې یې د

عزم، ایمان او سرلوړی داسې کارنامې تاریخ ته پریښودې چې همیشه به ټول مسلمانان په خاص ډول مبارزین او مجاهدین وربانديې وویاړي.

نوموړی د زمان او مکان له ټولو سختو او امتحاني شرایطو سره سره نه خو د نړیوال طاغوت مکرو غوښتنو او ګواښونو ته تسلیم شو، نه یې د چا د تحمیلي او تزویري پروسو پیشنهادونه ومنل، نه له ګواښونو وویرید او نه یې هم داخلي او خارجي توطیو، دسیسو او فشارونو عزم متزلزل کړ.

شهید منصور صاحب دامارت د زعامت وظیفه کټ مټ د خپل سلف امیرالمؤمنین ملا محمد عمرمجاهد V په شان ترسره کړه تر دې چې له همدې ویاړمن دریځ، قوي ایمان او توکل سره د یوه جهادي سفر په جریان کې د الله تعالی دیدار ته ورغی.

څرنګه چې د امام یا امیر له شهادت یا وفات وروسته د مؤمنانو لپاره د نوي مشر نصبول د مسلمانانو په غاړه لازمي فریضه ده، د افغانستان د اسلامي امارت رهبري شوری چې د ګڼ شمیر علماء کرامو، د تفسیر او احادیثو د استادانو، متدینو سیاست پوهانو او جهادي تجربې د خاوندانو معتبره شوری ده د یوه مجلس په دائرولو سره چې د اهل الحل و العقد له شرعي اعتبار څخه برخمن و، وروسته له ژور فکر، تدبر او هر اړخیز دیني او جهادي مصلحت سنجولو یي محترم شیخ الحدیث مولوي هبت الله اخندزاده صاحب د اسلامي امارت د نوي زعیم په حیث د شوری د ټولو اعضاء په اتفاق تعین او د شرعي امیر په حیث یي ورسره بیعت وکړ، همدارنګه محترم الحاج ملا سراج الدین حقاني صاحب او دمرحوم امیرالمؤ منین ملامحمدعمر مجاهد V زوی محترم مولوي محمد یعقوب صاحب یې دمرستیالانو په حیث تعین شول .

د اسلامي امارت رهبري شوری خپل ټول مجاهدین او عام متدین ولس په دې شرایطو کې وحدت اوتوکل علی الله ته رابولي، مجاهدین دې هیڅ تشویش نه کوي، لله الحمد مورِ ناصر او پالونکي رب لرو، د اسلام او جهاد ډیوه چې دا څوارلس پیړۍ





روښانه وه ترقیامته به همداسې ځلانده وي، د لله تعالی دشکر ځای دی چې مورِ د اسلامي امارت په نوم یو جوړ او سالم نظام لرو، ددې نظام د ساتلو، پاللو او ټینګښت لپاره دا د ټولو دیني وجیبه ده چې له نوي امیرالمؤمنین محترم شیخ الحدیث مولوي هبت الله اخندزاده صاحب سره بیعت وکړي او د نوموړي تر مشرۍ لاندې خپلې برحقې مبارزې ته دوام ورکړي.همدارنګه د اسلامي امارت مشر تابه او رهبري شوری له ټولو مسلمانانو نه هیله کوي چې سر له سبا د دریو ورځو لپاره دشهید امیرالمؤ منین ملا اختر محمد منصور V د فاتحي او دهغه مبارک روح ته دثواب بښولو په نیت د قران کریم ختمونه وکړي.

دافغانستان داسلامي امارت رهبري شوری

۱۸/۸/۱۴۳۷هـ ق

۵/۳/۱۳۹۵هـ ش ـــ ۲۵/۵/۲۰۱۶م

# درئيس الوزراء مرحوم ملامحمد رباني ژوند ته کتنه

ليکنه: شاهد غزنيوال

ارواښاد رئيس الوزارء ملامحمد رباني V د الحاج ملاامیرمحمد زوي دنيک محمد لمسی په ۱۳۷۷هجری قمري کال دکندهارولايت په مرکزکي په يوه علمي اوجهادي کورنۍ کي دې فاني دنياته سترګي پرانستلي دي . دمرحوم ملامحمد رباني والد صاحب دکندهار ولايت د علماو و اومنورينوله جملې څخه ديوه فاضل اومتقي شخصيت په حيث دخلګوپه منځ کې شهرت درلود؛ نوموړي د خپلو اولادونوپه ځانګړې توګه د«ملامحمدرباني » دعلمي اوجهادي روزنې په هکله ډيراهتمام کاوو .

## زدکړه يې :

داچې ملامحمد رباني هم دخدای ورکړي سرشاره علمي استعدادله املـه دښه لياقت څښتن و،نو والدصاحب يې هم ددينـي علومـو دزده کړې اوحصـول پـه موخـه مدرسې ته شامل کړ. ارواښادملامحمدرباني ترډيره حده خپل ديني تعليمات داسلامي امارت دحاکميت دوخت سترمفتي اومتبحرعـالم شيخ الحـديث والتفسيرعبدالعلي ديوبندي V ترعلمي روزنې اوتربيې لاندې ترلاسه کړي دي . معمولاپه افغانسـتان کې ددينـي علومودحصول طريقه درسـمي اوحکـومتي مدارسـوله لارې نـه ،بلکې ددې هيواد دمشهوروعلمي استاذانواومشايخوپه وسـيله پـه خصـوصي توګـه پـه داسې ډول ترسره کيږي چې هرعـالم اوفقيـه پـه خپـل مسـجدکې يومعلـوم شـميرزده کـوونکي (طالبان) راټولوي اوبياهغوی ته دمروجه شرعي علومو تـدريس اوزده کـړه ورکـوي. پـه دغومروجه علوموکې صرف، نحو ،منطق،رياضي ،ادب ، معاني ، فقه ،اصـول الفقـه،علم التفسيراوحديث شامل وي . دغه سلسله تقريبا له کال ۲۰۲ هجري څخه په افغانسـتان





کـې داسـلامي نـړۍ دسـترو مشـاهيرو او دپخـواني خراسـان لـه اعلامـو لکـه امـام ابوداودالسجستاني ،شيخ الاسـلام محمـد بـن محمـد بـن بکرالخلمـي ،امـام ابواللیـث السمرقندي البلخي اونورو مقدمو علماء کرامو څخه په ميراث پاته ده . که څه هم چې په رسمي اوحکومتي لحاظ دغه سلسله ترډيره حده له پامه لويدلې اودچارواکولـه خـوا ورتـه ډيـره توجـه نـه ده شـوې ،خونومـوړې سلسـلې پـه علمـي اوجهـادي لحـاظ دمتدينوعواموپه مرسته تردانن ورځي پوري په افغانستان کي داسلامي علوموپه ترويج اودافغانستان په تاريخ کې دجهادي تحريکونود قيادت اودهغوی په ژونـدي ساتلوکې اساسي رول لوبولی دی . دمثال په توګه په کال ۳۷۷ هجري کي سلطان محمود غزنوي دهند لويه فتحه دهمدغوعلماوو پـه هـدايت اولارښـوونه ترلاسـه کـړه. پـه کـال ۵۵۹ هجري کې چې سلطان شهاب الدين غـوري لـه افغانسـتان څخـه دهندپـه نيمـه وچـه حکومت کاوه همدغوعلماوو دهغـه دحکومـت پـه لوړومنصـبونوکي مهـم مسـؤليتونه درلودل . همدارازکله چې دمعاصرافغانستان مؤسس اوسترواکمن احمدشاه ابدالي پـه کال ۱۱۶۰ هجري کې دهندي مسلمانانودمرستي لپاره هندته خپـل پوځونـه ورولیـږل ؛ نود همدغه اقدام په ترسره کولو کي هم ديني علماو پوره ونډه درلوده. پـه افغانسـتان باندي دانګليسي يرغلونـو،روسي تـاړاک اوامريکـايي نيـواک پـه مقابـل کـي دمقـاوت کوونکومجاهدينومشرتوب هم دهمدغو مجاهدوعالمانواومتقي اشخاصوپه غاړه و.

## جهاد اومبارزه يي :

ملا محمد رباني لادعلم اوتحصيل له بهيره پـوره نـه ؤ فـارغ شـوی چـې پـه کـال ۱۳۵۷ هجري لمريز کي کمونستانو ديوې عسکري کودتالـه لاري دافغانسـتان سـياسي قدرت ترلاسه کړ. په افغانستان کې دکمونسـتانوله واک تـه رسـيدوسره سـم پـه ټـول هيوادکې دهغوی په خلاف جهادي پاڅون پيـل شـو اوددغـه جهـادي پـاڅون دقيـادت اومشری مسؤليت بياهم دافغاني ديني علماوو په غاړه و. ملامحمدرباني چـي مخکـي ترمخکـي لادعلـم اوجهادپـه مدرسـه کـي لـه خپلواسـتادانوڅخه دجهاد،قربـانۍ اوسرښـندنې تربيـه حاصـله کـړې وه ترټولـود مخـه دجهـاد اولـه وطـن څخـه ددفـاع

سنګرونوته ولاړ . نوموړی دامهال یوویشت کلن و، خوپه جهاداوفداکاری کي دټولومجاهدینوپه منځ کي په یوډیرزړور،مدبر اوفداکار مجاهدسره مشهور و . نوموړي دقندهار ولایت دځوتنو نورو مشهورومجاهدینوسره دخپل جهادي فعالیت پیل دهیواد په جنوب لویدیځ زون کي دجهاد دمؤسس شهید ملاموسی کلیم له جهادي جبهې څخه پیل کړ، له هغه وروسته دکندهارولایت دارغستان ولسوالۍ ته راغی اودلته یې دروسانوخلاف دسیمي دمجاهدینو په انسجام اوترتیب لاس پوري کړ.د ارغستان ولسوالۍ په چغني نومي غره کي یې جهادي مرکز تأسیس اوله همدغه ځایه څخه یې دکندهار ولایت په مختلفو سیموکې جهادي فعالیت شروع کړ.دارغستان ولسوالۍ په چغني،تورتاک، شابیګ اوسنګرنومي سیموکي دروسانوپه مقابل کي مرحوم ملا محمدرباني په ډیروسختوعملیاتوکي په خپله ګډون درلود . که څه هم چې دچغني دجبهې قیادت دقومندان عبدالرازق په غاړه و، خودجګړې په مهال به دمجاهدینومشري دمرحوم ملامحمدرباني په غاړه وه .په ټولوجهادي اوپوځي عملیاتوکي دمرحوم ملامحمد رباني دهمیشني مشارکت له امله په وروسته کي د دغې جبهې دمجاهدینو دمرستیالۍ مسؤلیت ورته وروسپارل شو چې له هماغه وخته را هیسې یې دمجاهدینوپه منځ کي دحاجي معاون صاحب په نوم شهرت پیداکړ.

## په جهادي بهیرکې یې پوځي اواداري مسؤلیتونه

له روسانواودهغوي له لاسپوځوکمونستانوسره دکندهاراوجنوب لویدیځي حوزې دفاتحومجاهدینوکلک مقاومت دغي سیمې ته دافغاني مقاومت دیوه مضبوط جهادي سنګرحیثیت ور کړاو الحاج ملامحمدرباني دنورومجاهدینوترڅنګ ددغي سیمې دیو ډیرماهر، مجرب جهادي اوعسکري شخصیت په توګه پکې ښه تبارزوکړ. نوموړی دخپل همدغه جهادي اوعسکري مهارت اونبوغ له مخي دټول جنوب لویدیځ زون دمجاهدینودیوه تکړه قومندان په توګه له ۱۳٦۰ تر۱۳٦۹ هجري لمریز کال پورې دروسانوپه ضد دډیروبریالیوپوځي عملیاتوقومانده په غاړه لرله چې له امله یې روسانوته دسراومال ډیردرانه تلفات ورسیدل اوخپله ملامحمدرباني هم تردرې (۳)





ځله زیات پکې سخت ټپي شوی دی . په دغوپوځي عملیاتوکي دنوموړي فاتحانه قیادت ددې لامل شوچې هغه په ملي کچه دافغانستان دجهاد دمشهورو قومندانانوپه کتارکي شامل اودهغه وخت دجهادي تنظیمونودرهبرانودپاموړشخصیت وګرځي . داهغه وخت ؤ چې دافغانستان دجهاد د (۷)جهادي تنظیمونورهبرانو په پاکستان کي دمجاهدینوعبوري حکومت اعلان کړی وو . په دغه عبوري حکومت کي دجهادي رهبرانوترمنځ داپریکړه وشوه چې دهیواد دداخل مشهوروجهادي قومندانانوته به هم په دغه حکومت کي فعال سهم ورکول کیږي . دمجاهدینودغه عبوري حکومت په رئیس اولومړي وزیرسربیره مکمله حکومتي کابینه هم لرله چې په هغې کي مرحوم ملامحمدربانی ته دحج اواوقافودوزارت دمرستیالۍ دنده سپارل شوې وه.که څه هم چې ملامحمدرباني په دغه وخت کي په تنظیمي لحاظ دمرحوم مولوی محمدیونس (خالص)تر رهبري لاندي له اسلامي حزب سره تعلق درلود خوپه جهادي لحاظ یې دټولوجهادي رهبرانوپه زړه کي خاص ځای درلود. نوموړي له دغه لوي اداري مسؤلیت سره سره بیا هم دهیوادپه داخل کي دخپلومربوطه مجاهدینودجهادي فعالیتونواوددښمن په ضددنظامي عملیاتوقومانده شخصاپه خپله غاړه لرله چې په ډیروځایونوکي یې دوزارت دمرستیال په توګه له دښمن سره په مخامخ جګړه کې برخه اخیستې ده .

## دطالبانوداسلامي تحریک په تأسیس کې دده رول :

په ۱۳٦۹ هجري لمریزکال کي له افغانستان څخه دروسي ځواکونوله تیښتي اوبیا په ۱۳۷۱هجري لمریز کال کي دهغوی دلاسپوځي حکومت ترسقوط وروسته ملامحمدرباني دهیواد دیوه مخلص اومصلح شخصیت په توګه دتنظیمي ډلوټپلو دخپل منځي شخړوپه هوارولوکي خپلي ټولي هڅې په کارواچولې اوپه دې لار کي یې نه سترې کیدونکي هلي ځلي وکړې . جنوب لویدیځ زون چې یومهال دروسانوپه ضددجهاد اومقاومت محکم اوپیاوړی جهادي سنګربلل کیده ،له بده مرغه چې دروسانوله ماتي اود نجیب په مشرۍ دکمونستي حکومت ترړنګیدو وروسته

دتنظيمي اختلافاتو اوجګړه ماروډلودخپل منځي جګړوپه ميدان بدل شو. دغه خپل منځي اختلافات اوجګړې يوازي په جنوب لويديځ زون کي نه ،بلکي په تدريجي ډول دهيوادله مرکزنه پيل اوپه ډيرلږوخت کي دهيوادشمال ،جنوب،ختيځ اولويديځ ته وغزيدې ،چې له امله يې دمقدس ځوارلس کلن جهادپايلې اوپه هغه کي ديونيم مليون سورکفنه شهيدانوټولي هيلې اوارمانونه دنفاق اواختلاف په کوروراننوونکي اورکې وسوځيدل . دغه زړه دردوونکی حالت هيڅ مسلمان ته دتحمل اومنلووړنه و خودهغه دمخنيوي توان بيا هيڅاهم په ځان کې نه ليد . يوشميرهغوکسانوچې دخپل اسلامي جهادپه حقانيت يې ايمان اوباوردرلود؛ دالله تعالی په دغه مقدس ارشاد باندې په باور :(ان الله لايضيع اجرالمحسنين) اوله هغه ځخه په الهام اخيستلوسره داسلامي جهاد دنيمګړوآرمانونودتحقق لپاره بيا خپله مجاهده اومبارزه پيل کړه .

دغو دالله دلارې نه ستړي کيدونکومجاهدينوپه داسې حال کې چې دپخواني جهادله ستړياووواوستومانيوځخه لا نه وو هوساشوي اوهمداراز دهغه جهادپه مهال په صورت لګيدلي زخمونه يې لاپوره نه و جوړشوي ، بيايې په هغه ستړي اوستومانه حالت کې دخپل رنځيدلي ولس دآرامۍ،خپلواکۍ اوسوکالۍ په غرض دمفسدينواومنافقينوپه خلاف جهاد پيل کړ. ملامحمدرباني دخپلوتيروجهادي فعاليتونوترڅنګ دطالبانو داسلامي تحريک له مؤسسينوځخه هم ګڼل کيږي .دطالبانوداسلامي تحريک دتأسيس پرمهال به چې کله دکوم ولايت ياکومي سيمي دتصفيه کيدوموضوع رامنځته شوه نوملامحمدرباني به لومړی شخص و چې دهماغې سيمي دسوله ييزي تصفيې په ترسره کولو به يې غوركاوه .نومورې به هميشه ددې کوښښ کاوه چې ځرنګه وکولای شي هماغه سيمه په سوله ييزه توګه د طالبانو ترکنترول لاندي راشي.

کله چې په ۱۹۹۵/۱۰/۱۰ طالبان دکابل تردروازو ورورسيدل ملامحمدرباني دمخالفينومشراحمدشاه مسعودته دخبرو دعوت ورکړ هماغه و چې مسعود هم د ده په دعوت باور وکړ اوله ده سره دخبرو لپاره له کابل ځخه ميدان ښارته راغې .د





ملامحمد رباني لومړی،خبره له مسعودسره داوه چې په ګران هيوادافغانستان کې داسلامي حکومت دنافذيدولپاره يونيم مليون شهيدانو قربانۍ ورکړي دي بايد دهمدغو شهيدانو دوينو درناوی وشي اوپه افغانستان کې بې له کوم قيد اوشرط ځخه اسلامي نظام حاکم شي ،دطالبانواسلامي تحريک دافغان ولس ددې مقدس ارمان دتحقق ټينګ عزم کړی دی لهذا ته هم بايد ورسره خپله ټوله همکاري ترسره کړې چې ديوه مستحکم اسلامي حاکميت لپاره زمينه مساعده شي ،خومتأسفانه چې مسعودخپلوخبروته دعمل جامه بيخي په کموماردوکي وراغوستله هغه ترډيره حده په «ميم زورماټول يې زما»فارمول باوردرلود.له شمالي ولاياتونو ځخه پرته دافغانستان نورټول مرکزي ، جنوب لويديځ ،جنوبي اوختيځ ولايتونه دمرحوم ملامحمد رباني په صلح اميزه هلوځلو دطالبانوترکنترول لاندې راغلي دي .

## دطالبانوپه اسلامي تحريک کې دنومورې مسؤليتونه

کله چې په کال ۱۳۷۳کي طالبانود دکندهارولايت ترخپلې ولکې لاندې راوست نومرحوم ملامحمدرباني ته په دغه وخت کي دطالبانودعالي شورا مسؤليت وسپارل شو.

په ۱۳۷۴کال دحمل دمياشتې په ۱۳ــ ۱۴نيټه چې کله دهيوادديڼلس سوه (۱۵۰۰)علماووله لوري دطالبانوداسلامي تحريک مشرته دامیرالمؤمنين لقب اعطاء اواسلامي امارت بنسټ کيښودل شو بياهم دملامحمدرباني رول ځانګړی اهميت درلود اوداسلامي امارت دامیرترڅنګ يې په پور ه اخلاص اوصداقت خپلو جهادي،اصلاحي اوملي فعاليتونوته دوام ورکړ.

په ۱۹۹۵/۵/۹چې دطالبانوفتوحاتودجنوب لويديځ زون دنورولايتو هلمند،اروزګان، فراه اوهرات په لوري مخه کړه نوملامحمدرباني په دغوټولوفتوحاتوکې ديوه برميال فاتح په توګه سهم درلوداو دټول جنوب لويديځ په تصفيه کولوکي دده تکتيکي هڅې دځانګړي اهميت لرونکې وې .همداراز په۱۹۹۶/۹/۱۱ چې کله دهيواد دختيځ زون ولايتونه ننګرهارکونړاولغمان داسلامي

امارت ترولکې لاندې راغلل نوبیاهم ملامحمدرباني ته دختیځ زون دعمومي مشر-مسؤلیت وسپارل شو.په ۱۹۹۶\۹\۲۷مطابق۱۳۷۵کال دتلې دمیاشتې په شپږمه نیټه چې کله دهیوادپلازمینه کابل په بشپړه توګه داسلامي امارت ترحاکمیت لاندې راغی نوداسلامي امارت دمشرتابه له خوا په کابل کې ددولتي چارودتنظیم اوترتیب په غرض شپږ کسیزه سرپرسته شوراتأسیس اومشري یې بیاهم دملامحمدرباني په غاړه وارواچول شوه. اوکله چې سرپرسته شوراپه حکومتي تشکیل بدله اوداسلامي امارت په چوکاټ کې ریاست الوزراء تأ سیس شو نوملامحمدرباني دریاست الوزراء درئیس په حیث وټاکل شو.

## زهد او تقوای یې :

مرحوم ملامحمدرباني په عقیدوي لحاظ داهل سنت والجماعت اوسلف صالحینودسپیڅلي لاري پیروي کوله. نوموړي له خرافاتواوبدعتونوڅخه ډیره کرکه کوله اوتل به یې خلګ دقرأن اوسنت نبوي پیروي ته دعوتول. مرحوم ملامحمدرباني دخپلونوروحسنه اخلاقو اوفضایلوترڅنګ دزهد،تقوی اودینداری یوه نمونه وه، دشپې قیام اللیل اودورځي دځانښت لمونځ دده له خصوصیاتوڅخه و.

## ایثاراوخودګذري یې:

په ۱۳٦٦ هجري لمریزکال کې دکندهارولایت ته دمجاهدینودجهادي فعالیتونو دشنډولو په غرض دروسانوډیره درنه قوه راغله ،اودکندهارولایت دمحله جات په سیمه کي دملامحمدرباني په ګډون یوزیات شمیر مجاهدینومخامخ جګړه ورسره پیل کړه په دغه جګړه کي چې تقریبایوه میاشت یې دوام درلود دجګړې دواړوخواته درانه تلفات وواښتل چې خپله ملامحمدرباني هم په دغې جګړې کې سخت ټپي شو. دملاعبدالقیوم په نامه دیوه مجاهدچې په دغوعملیاتوکې یې برخه درلوده په حواله چې دحاجي معاون صاحب په شمول زمونږدجبهې څلورتنه مجاهدین زخمیان شول . کله چې نورمجاهدین دجګړې له میدان څخه دټپیانودراپورته کولوپه نیت راغلل





نولومړی حاجي معاون صاحب ته ورغلل ،خوحاجي معاون صاحب دوئ ته وویل چې زه نه یم ترماهغه درې تنه نورمجاهدین سخت زخمیان دي لومړی هغه درواخلئ .

مجاهدینوچې کله هغه راپورته کړل اوبیاحاجي معاون صاحب ته ورغلل نوهغه دومره سخت زخمي و چې بلکل دپورته کیدلواوحرکت کولونه و،خوده بیاهم دجنګ له صحنې ځخه ترڅان د مخه هغه نورمجاهدین چې زخمونه یې هم دده په نسبت ډیرکم وو پر ایستلو اصرار کاوه .

## داسلامي نړۍ په قضایاویې اهتمام:

داسلامي امت اړوندي ستونزي ملامحمدرباني مرحوم دخپل ژوند اهمي قضیې بللې اوداسلامي امارت دحاکمیت په مهال یې دفلسطین،چیچین ،کشمیراونوروااسلامي قضایاووپه هکله ځانګړي بیانیې صادرې کړي دي .

## بې تکلفه ژوند یې :

مرحوم ملامحمدرباني سره له دې چې دژوندزیاته برخه یې په لوړواداري اوپوځي مسؤلیتونوکي تیرشوی خوله دې هرڅه سره سره یې په طبیعت اومزاج کې دتکبراوغرورهیڅ نوع نښانې نه لیدل کیدې. دهغه ناسته ولاړه ،حرکات اوسکنات ټول دیوه ډیرعادي شخص کړو وړوته ورته و اود خپلونوروملګرو په مقابل کي ځان ته په هیڅ امتیاز قائل نه و. درسمي کاراو وظیفې پرمهال به هرعادي سړي له ده سره ډیرپه اساني سره لیدلای شول په خپله دروازه کې به یې مسؤل پیره داریوازي دمراجعینودنوبت دمراعاتولوپه منظوردراوه . دمجاهدینوپه عبوري حکومت کې د وزارت له مرستیالۍ نه بیاداسلامي امارت دریاست الوزراء ترمشرۍ پوري نومورې شخصي محافظین اوباډي ګارډان نه لرل . هغه څوک چې له ده سر ه په سفراوحضرکي یوځای اوسیدل اوګرځیدل هغه دده جهادي ملګري اودرسي شاګردان ول . له خپلوملګروسره یې تعامل اوبرخوردډیر بې تکلفه اوپه خوراک،څښاک،ناسته او ولاړه کې له هغوی نه هیڅ امتیازنه درلود. دریاست الوزراء دمسؤلیت په مهال کې به له

وزيراکبرخان مېنې څخه دکابل دارګ ترمانې دریاست الوزراء تردفترپورې ډیروخت دخپلو دریو- څلورواړه ملګروسره پلی روان و . له خپلوملګروسره به یې په ټولوجهادي اوسپورتي نشاطاتوکي په ډیره خوښۍ ګډون کاوه اودهغوي دسپورتي لوبوله منځه به یې دچغ په نامه محلي لوبه ډیره خوښه وله.

## دشخصي ژوند اقتصادي حالت يې:

سره له دې چې مرحوم ملامحمدرباني دخپل عالي مسؤليت او وظيفې له مخې داسلامي امارت په بوديجه کې دپراخ استعمال اختياردرلود خونومورې دعادي هيوادوالوپه څېرژوندغوره کړی و. دژوندتراخيره پورې يې په خپل هماغه پلرني عادي کوراکتفاوکړه او دبيت المال له بوديجې څخه يې ځانته شخصي- کورجوړنه کړ. کله چې په ۲۰۰۰ ميلادي کال کې دملګروملتونودامنيت شوراله خوا په افغانستان ظالمانه يوطرفه اقتصادي بنديزولګيدل اودهمدغې شوری له لوري داسلامي امارت دچارواکوبانکي حسابونه بند اعلان شول .خودامارت دنوروچارواکوپه څېرموحوم حاجي معاون صاحب هم دده عالي منصب ته په پام سره هغه څوک وچې کوم بانکي حساب يې نه درلود .

## دخلګوپه زړونوکې يې محبوبيت

مرحوم ملامحمدرباني دخپلونيکو اخلاقو له وجې دهرچا په زړه کې ځانګړی ځای درلود. په افغانستان کې ميشتوقومونواومختلفوقشرونوملامحمدرباني ته دخپل يوخواخوږي اوپوه مشرپه سترګه کتل ،په جنازه کې يې په لسهاووزره خلګوګډون کړی ووحتی تردې چې ځينوبانفوذه شخصيتونويې پرفراق په لپولپواوښکې توی کړې .

## وفات يې:

بالآخره دغه دجهاداومبارزې دلارې نه سترې کيدونکی لاروی،دتقوی اوزهد نمونه، دايثاراوفداکاری سمبول، د اخلاقو،شرافت اوفضيلت څلی دالهي تقدير اوفيصلې سره سم دسرطان داوږدې ناروغۍ له امله دپاکستان دروالپنډۍ شارپه يوه





روغتون کې د۱۴۲۲ هق کال د محرم الحرام دمياشتي په لومړۍ نيټه خپله روح خپل حقيقي مالک ته وسپاره اودتل لپاره يې له دې فاني نړۍ څخه سترګي پټې کړې. روح دې شاد اوياد دې تل وي.

## مرحوم حاجي معاون صاحب د ملګرو په يادونو کې

د حاجی معاون صاب مشر ورور هدايت الله اخندزاده صاحب وايي چې حاجي معاون صاحب زموږ په پلار خورا ډير ګران و ځکه ده ډير لوړ اخلاق لرل او شه ذهين و. دده تروش تندی زما نه دی په ياد،زما دمشرتوب او استاذي به يې ډير احترام کاوو او چی کله به يې په مجلس کې له چا سره خبری کولې نوچې په دې به پوه شو چې خبره د غيبت خواته ځي ده به دستي دا خبره ورته کوله چې غيبت به نه کوو.

دحاجي معاون صاحب بل ورورمولوي احمد رباني صاحب وايي: حاجي معاون صاحب دومره ذهين و چې کله به يې کوم کتابونه ويل هم مهاله به يې نورو طالبانو ته درسول،دعلم دومره شوقی و چی آن دریاست الوزراء په وخت کې به يې سبقونه ويل او شه کلکه مطالعه به يې کوله، په هيڅ وخت کې يې د تهجد لمونځ نه پريښود حتی ددې وروستۍ سختې مريضي په وخت کی به يې هم کاوو.

د کندهار ولايت پخوانی جهادي مسؤل ملا محمد عيسی آخند چې ډير وخت له مرحوم حاجي معاون صاحب سره ملګری پاته شوی وايي:د اسلامي امارت د واکمنۍ په وخت کې چې نوموړی د افغانستان رئيس الوزراء او د هيواد په سطحه دوهم مهم شخص بلل کيده خو له دې لوړ منصب سره سره يې بيا هم په ارګ کې عادي ګذاره کوله. د امارت په ټوله موده کې د حاجي معاون صاحب کور په کندهار کې و او نوموړی په کابل کې يوازې له څوتنو محافظينو او وظيفوي همکارانو سره اوسيدو. لومړی يې د وزيراکبر خان په اتم نمبر قصر کې د اوسيدو ځای و او د وظيفې لپاره به د ورځې ارګ ته تلو، وروسته يې د کاري ضرورت په اساس په ارګ کې يوه حويلۍ د سکونت لپاره انتخاب کړه.

حاجي معاون صاحب به چې سهار راویښ شو لمونځ به یې د ارګ په مسجد کې په جماعت اداء کاوو،وروسته یې عادي ناشته او د سهار چای صرف کاوو او ورپسې کاري دفتر ته تلو، دورځې په دوولس بجې به خپل اصلي میشت ځای ته راغی او دلته یې له خپلو همکارانو، محافظینو او حتی تر اشپز او خادم پورې له کارکوونکو سره په یوه دسترخوان ډوډۍ خوړله چې خوراک به هم بشپړ عادي و لکه لوبیا،کچالو یا سبزي.نوموړي ملګرو ته اجازه نه ورکوله چې بې ځایه مصارف وکړي یوازې د جمعې په شپه یې ملګرو ته د غوښو یا وریژو د تیارولو اجازه کړې وه.

د حاجي معاون صاحب یو ډیر بارز صفت د نوموړي عاجزانه او مؤدبانه لمونځ و، تردې چې د طالبانو په تحریک کې نوموړی په ښه لمونځ کولو سره مشهور و نوموړی به په خورا ادب، عجز او انکسار په لمانځه ولاړ و او هیڅکله یې لمونځ بې جماعته نه اداء کاوو.

ملا محمد عیسي اخند وایي چې د روسانو خلاف جهاد او بیا د امارت په دور کې یې کلونه کلونه له نوموړي سره تېر کړي خو هغه یې نه دی لیدلی چې د بل ملګري په شتون کې یې بې جماعته لمونځ کړی وي، حتی تردې چې د عمر په وروستیو کې د کینسر په رنځ اخته او د عربي اماراتو په مستشفی الراشد کې بستري و سره له دې چې ډیر ضعیف و او لمونځ یې په اشاره کاوو خو یو ملګری به همیشه ورسره و تر څو ورته امامت وکړي او لمونځ یې په جماعت شي.

قاري عزیز الله چې د اسلامي امارت د واکمنۍ په مهال د ارګ د مسجد امام و خپله خاطره داسې بیانوي:

یو وخت موږ ډیرو طالبانو له حاجي معاون صاحب سره له کابله د کندهار په خوا سفر درلود،د ژمي موسم و او سخت سوړ باد لګېده کله چې د غزني د ګیلان ولسوالۍ مربوط یوې صحرایي سیمې ته ورسیدو دلته مو یو لوی باروړونکی موټر ولید چې د سرک په غاړه ولاړ دی. حاجي معاون صاحب خپل موټر ددې لوی موټر له بغل سره ودراوو هنداره یې شکته کړه، د لوی موټر خواته یې وکتل او غږ یې وکړ. د لوی





موټر ډرایور ځواب ورکړ. له سلام او احوال پرسي وروسته یې تري وپوښتل چې ولې دې موټر درولی دی؟

ډرایور چې له یخه ریږدېده او د ځان ګرمولو لپاره یې ګازي بخارۍ ځان ته لګولې وه وویل چې موټر نه چالانیږي څوک نشته چې راسره همکاري وکړي او نه هم موټر په لویه لار پریښودلی شم.

حاجي معاون صاحب ورته وویل: موږ درسره څه همکاري وکړو ترڅو دې موټر چالان شي او سفر ته دوام ورکړي ځکه دلته د شپې تیرول به ډیر سخت وي. هغه ځواب ورکړ چې موټر نور جوړ دی یوازې لږ ټېله غواړي چې چالان شي.ددې خبرې په اوریدو حاجي معاون صاحب خپل موټر ودراوو او نورو ملګرو ته یې هم د توقف امر وکړ، کوم ملګري چې موټر یې وروسته پاته و په مخابره کې یې په هغوی غږ وکړ چې را چابک شي. کله چې ټول ملګري را یو ځای شول نو حاجي معاون صاحب ورته وویل چې دغه لوی موټر ټېله کړي ګڼو طالبانو چې شمیر یې تر لسګونو رسیده دغه موټر ته یې په یوه وار ټېله ورکړ، حاجي معاون صاحب خپله د موټر یوه ټېر ته اوږه ورکړه او په پوره اخلاص یې زور ورکړ د طالبانو په یو ځای زور کرار کرار موټر حرکت وکړ او لږ وروسته چالان شو او د غزني په خوا یې سفر ته دوام ورکړ.

قاري عزیزالله وایي د موټر له چالانولو وروسته چې حاجي معاون صاحب خپل موټر ته راغی نو ومې لیدل چې اوږه او ږیره یې د موټر ټیله کولو له املې په خټو او خاورو ککړ دي خو دغه وخت یې ملګرو ته وویل چې دغه خلک په موږ حق لري، موږ یې اولوالامر یو او هر رنګه همکاري مو چې په وس کیږي باید ورسره ویې کړو.

ملا محمد نعیم چې د حاجي معاون صاحب له انډیوالانو څخه دی هم دې ته ورته یوه کیسه په یاد لري هغه وایي: یو وخت مو په سخت ژمي له حاجي معاون صاحب سره له کندهاره د غزني په خوا سفردرلود،هوا ډیره سړه او د ځمکې مخ سپینو واورو پوښلی و د غزني ولایت قره باغ ته نږدې د ملانوح بابا په سیمه کې دوه کسان په سخت یخ کې د لارې په غاړه ولاړ وو د حاجي معاون صاحب موټر ته یې لاس ورکړ تر

څو يې ورسره واخلي او تر غزني يې ورسوي. څرنګه چې د حاجي معاون صاحب په موټر کې ځای نه و موټر يې ورته ونه دراوو.موږ چې په وروستني موټر کې و او ځای مو درلودهم مو موټر ورته ونه دراوو خو چې کله مخکې راغلو حاجي معاون صاحب په لار کې موټر درولی و، موږ ته يې وويل چې ولې مو هغه کسان راپورته نکړل؟ ورشئ بيرته وروګرځئ او را سپاره يې کړئ چې بيا موږ همداسې وکړل.

رحمه الله تعالى

❊ ❊ ❊





# د اسلامي امارت د پخواني دفاع وزير
# او مرستيال شهيد ملا عبيدالله آخند ژوند ته کتنه

ليکنه: قاري سعيد

د ۲۰۱۰ م کال دمارچ مياشتې په پنځمه نيټه داسلامي امارت پخوانی د دفاع وزير او نائب الحاج ملاعبيدالله اخند دپاکستان په کراچۍ کې په يوه زندان کې په شهادت ورسېد.

شهيد الحاج ملاعبيدالله اخند چې دطالبانو داسلامي تحريک له لومړنيو اشخاصو او مؤسسينو څخه شميرل کيده، دروس ضد جهاد دمهال تکړه او مسلکي مجاهد، دتنظيمي انارشيزم او فساد په وړاندې وتلی او متعهد مبارز او دامريکا په ضد دجهاد له بنسټ ايښودونکو او احياء کوونکو څخه شميرل کيږي .

دنوموړي شهادت بي له شکه چې دافغانستان او دنړۍ دمسلمانانو او مجاهدينو لپاره يوه لويه ضايعه وه، چې په اسانه به يې ځای ډک نه شي، خو ددې لپاره چې دحق دلارې ددې ستر مجاهد بيلګې مو راژوندۍ کړې وي، او دنوموړي ارمانونه مو درک کړي او ترسره کړي وي راځئ دنوموړي ژوندليک او کارنامې په غور ولولو او دخپلې برحقې مبارزې په لاره کې ديوې بيلګې په توګه ترې استفاده وکړو .

## زوکړه او دژوند لومړني مراحل يې

شهيدالحاج ملاعبيدالله اخند دملايارمحمد زوی اودمرحوم ملا فتح محمد چې په خپل وخت کې خورا مشهور اوپياوړی عالم وولمسی په ۱۳۸۸ هـ ق کال کې دکندهار ولايت دژړۍ ولسوالۍ دنلغام سيمې دالکوزو په کلي کې په يوه ديندار او علم پالونکې کورنۍ کې وزيږېد. لومړنۍ زده کړې يې له خپل پلار او د کلي په مسجد

کې سرته ورسولې او وروسته يې دخپلې سيمې په سطحه له بيلابيلو ديني پوهانو څخه ديني کتابونه ولوستل. کله چې دشوروي يرغلګرو په وړاندې په افغانستان کې دجهاد دتودېدو کلونه وو، الحاج ملاعبيدالله اخند هغه مهال نوی ځوان و چې په لومړي ځل يې په کندهار کې دطالبانوپه لويه جبهه ( دملامحمدصادق اخند جبهه ) کې د شوروي يرغلګرو او کمونيستانوپه خلاف جهاد پيل کړ .

الحاج ملاعبيدالله اخند له جهاد سره سره ديني زده کړې هم په مسلسله توګه تعقيبولې خو ډير مصروفيت يې جهادي و نوموړی به سراوکال په کندهار کې په خپله مربوطه جهادي جبهه کې و او په دې لاره کې يې کله هم سترېا نه احساسوله .

## دروسانو او کمونيستانو په مقابل کې جهاد

شهيدالحاج ملاعبيدالله اخند دشورويانو او دهغوی دمزدورانو ( خلقيانو او پرچميانو ) په ضد دجهاد له وتليو مجاهدينو او مشرانو څخه و نوموړي له کشرتوب نه په کندهار کې دشوروي يرغل په وړاندې وسله واخيسته او بيا يې ترهغه مهاله بې له کوم ځنډ او توقف څخه جهاد ته ادامه ورکړه، ترڅو د وروستي کمونيست واکمن ( ډاکټر نجيب ) حکومت سقوط وکړ .

الحاج ملاعبيدالله اخند خپل جهادي ژوند ديوه عادي مجاهد په توګه پيل کړ ، خو څنګه چې نوموړی دښه استعداد،جهادي حوصلې او استقامت څښتن او د بدني قوت له اړخه خورا مستعد او تيار و نو ډير ژر دکندهار په سطحه ديوه تکړه او مسلکي مجاهد په حيث وځلېد .

دنوموړي جهادي ملګري وايي: دشورويانو په ضد د جهاد په مهال د ملاعبيدالله اخند دخوښې وړ وسله ۸۲ ملي متري توپ ( هشتادودو) و چې په ډيره مسلکي توګه يې کاروله، ملاعبيدالله اخند چې وروسته په کندهار کې دملامحمد صادق اخند دجبهې دعمومي نظامي قوماندان په توګه وټاکل شو، دروسانو او کمونيستانو په خلاف





يې په خورا ډيرو جګړو کې شرکت کړی او په ډيرو مشترکو عملياتو کې يې دمشر- په حيث رول لوبولی دی .

نوموړي دکندهار دميوند، ژړی، پنجوايي ارغنداب او ښار په شمول په نورو سيمو کې هم جهادي عمليات سرته رسولي دغه راز دهلمند په کجکي، د زابل په شهر صفا او او دروزګان دمرکز ترين کوټ دبلاغ او سرخم په مناطقو کې هم دروسانو او کمونيستانو په خلاف دجهادي عملياتو برخوال پاته شوی دی .

دنوموړی يو جهادي ملګری ملا جان محمد وايي دزابل ولايت دشهرصفا په سيمه کې چې دکمونيستانو خوراسترە قوه دمجاهدينو په يوه مشترک برېد کې له منځه لاړه، ملاعبيدالله اخند هم ددې سترو عملياتو برخوال و، ملاجان محمد چې ددې عملياتو په مهال له ملاعبيدالله سره په يوه سنګر کې پاته شوی وايي: په ياد مي دي چې ملاعبيدالله اخند په دښمن باندې پرته له وقفې د هشتادودو توپ ۳۰ مسلسل ګوزارونه وکړل ، چې ددشمن ګڼ ټانګونه او زرهپوښونه په کې له منځه لاړل .

دکمونيستانو په ضد دجهاد په مهال ملاعبيدالله اخند څو ځله ټپي شوی و له دې جملې نوموړی يوځل هغه وخت سخت ټپي شو کله چې دکندهار ښار دمحله جات په سيمه کې ديولړ تاريخي جهادي عملياتو په مهال له عاليقدر اميرالمؤمنين ملامحمد عمر مجاهد سره په يوه سنګر کې ناست و، دهغه مهال دمجاهدينو په وينا په محله جات کې ددې جنګ په مهال ددښمن دومره ټانګونه اوموټر ويشتل شوي ، چې ددښمن له تيښتې وروسته په سبا ورځ له ليري نه کتونکوخلکوچي دا سوزول شوی کتار ليد نودزيات والي له وجي به يې ګمان کاوه چې قوه اوس هم ولاړه ده، ځکه شميريې خورا زيات وحال داچې دقوې زيات موټر سوزول شوي او نور يې واپس خپلو مرکزو ته په شا شوي وو.ويل کيږي چې په دې جګړه کې ددښمن تر ۱۲ زيات ټانګونه له منځه تللي وو، دهغه وخت مجاهدين وايې چې په دې جنګ کې دموټرو او ټانګونو ويشتونکې غټه وسله يوازي عاليقد امير المؤمنين اوملا عبيدالله اخند چلوله .

وروسته دنجيب دحکومت دسقوط ترمهاله ملاعبيدالله اخند په کندهار کې په وسلوال جهاد بوخت پاته شو، دپنجوايي ولسوالۍ په فتحه کې يې ګډون درلود او دارغنداب ولسوالۍ دفتحې په مهال يې دمجاهدينو مشري په غاړه وه، ترڅو په دې توګه له کندهار څخه دکمونيستانو دواک لمنه ټوله شوه .

## داسلامي تحريک تاسيس او په امارت کې يې خدمات

په کندهار کې دکمونيستي واکمنۍ له سقوط وروسته ملاعبيدالله اخند هم دخپلو ډيرو نورو ملګرو مجاهدينو او طالبانو غوندې عادي ژوند ته مخه کړه او دکندهار په ژړۍ کې په عادي ژوند بوخت شو چې په څنګ کې يې ورسره خپلې دينې زده کړې هم کولې. خو د وخت په تيريدو سره ددرست افغانستان غوندې په کندهار کې هم حالات ډير خراب شول، تنظيمونو ته منسوبو او خپلسرو ټوپکيانو او پاټکوالو په خپل منځې جګړو ، داولس په ځورولو او دهيواد په لوټ او تالان پيل وکړ، تردې چې دافغانانو سر، مال، ناموس او هرڅه دټوپکيانو لخوا له خطر سره مخ شول .

ددې حالت دپای ته رسولو په تکل دملامحمد عمر مجاهد په مشرۍ دکندهار په ژړۍ او ميوند کې يوځل بيا پخواني مجاهدين او طالبان سره راټول شول او د ټولنيز فساد او هرج ومرج دختمولو لپاره يې ديوه نوي تحريک بنسټ کيښود، په دې لړ کې ملاعبيدالله اخند هم دهغو کسانو له جملې څخه و چې داسلامي تحريک په تاسيس کې يې مهم رول درلود، چې وروسته د ژوند تر پايه ديوه رښتيني او متعهد مبارز په توګه داسلامي تحريک په خدمت کې پاته شو .

دطالبانو لخوا دکندهار ښار له نيول کيدو وروسته نوموړی دکندهار دقول اردو دقومندان په صفت وټاکل شو، چې ورسره به دهيواد په لويديځ کې جهادي ليکو ته هم تلو او کله ناکله يې دفراه په دفاعي خط کې دعمومي مسؤل دنده هم ترسره کوله، په فراه کې دمسؤليت په مهال ملاعبيدالله اخند يوځل داسماعيل خان دناڅاپي بريد په ترڅ کې چې داختر په سهار يې کړی و له خپلو څو تنو ملګرو سره ونيول شو، خو څلويښت ورځې وروسته دعمومي تبادلې په ترڅ کې واپس راخلاص شو، کله چې





داسلامي تحريک لخوا د ۱۳۷۵ لمريز کال د ميزان په ٦ مه کابل ونيول شو، الحاج ملاعبيدالله اخند داسلامي امارت دمشرتابه لخوا لومړی ددفاع وزارت دسرپرست او وروسته رسما د دفاع وزير په توګه وټاکل شو، چې بيا يې په افغانستان دامريکا دبريداوله کابل نه داسلامي امارت دمجاهدينو د شاته کيدو ترمهاله همدې وظيفې ته دوام ورکړ .

د دفاع دوزير له دريځه ځرنګه چې ملاعبيدالله اخند داسلامي امارت دټولو مسلحو قوتونو مشر او لومړنی مسؤل بلل کيده، خپله يې هم هميشه په مختلفو تعرضي او دفاعي عملياتو کې برخه اخيسته، دکابل دشمال له دفاعي خطوطو يې هميشه ليدنه کوله او په همدې استقامت تقريبا په ټولو جګړو کې يې په خپله برخه درلوده .

دکابل په شمال کې دجګړو په ترڅ کې د زابل ولايت وتلی جهادي قومندان ملاعزيزخان په شهادت ورسيد، دغه راز د روزګان ولايت يو جهادي قومندان چې په ثاني ملامشر مشهور و هم شهيد شو ، ملاعبيدالله آخند او داسلامي تحريک وتلي قومندان ملادادالله آخند له نورو مجاهدينو سره په يوه چورلکه کې د دوی فاتحې ته لاړل ، دوی لومړی زابل ته لاړل او له زابل څخه روزګان ته رهي شول، خو د روزګان د مرکز مربوط د مراباد په سيمه کې ددوی هليکوفتر دتخنيکي ستونزو له املې وغورځيد، دا پيښه که څه هم خطرناکه وه خو دالله تعالی په فضل يادو مشرانو او ددوی ملګرو ته په کې هيڅ زيان ونه رسيد.

دافغانستان په مختلفو سيمو کې دمخالفينو په وړاندې په جګړو کې ملا عبيدالله اخند ۷ ځله ټپی شوی چې وروستی ځل ټپي کيدل يې دکابل په شمال کې دکلکانو ولسوالۍ مرکز ته نږدې و، چې له امله يې نوموړی د ډيروژوروټپونوله املې تر ډيره وخته په تکليف و.

کله چې دامريکايانو دبريد په پايله کې اسلامي امارت له پلازمينې کابل او نورو ښارونو څخه عقب نشيني وکړه، شهيدالحاج ملاعبيدالله اخند دعاليقدر اميرلمؤمنين ملامحمد عمر مجاهد لخوا دامارت دمقام دنائب په توګه وټاکل شو، ددې درنې

وظيفې په مهال په داسې وخت چې دافغانستان او سيمې په سطحه شرائط سخت نامساعد و، ددښمن ديرغل او تبليغاتو توپان رالوتی و ، عامه حوصلې سختې ضعيفې شوې وې ، اسلامي امارت له مالي او تدارکاتي اړخه له سختو ستونزو سره مخ و او دنړۍ په سطحه يې له الهي فضل پرته هيڅ مرستندوی نه درلود، ملاعبيدالله اخند داسلامي امارت دنورو باعزمه مشرانو سره يوځای سخت تکاليف او مشقتونه په ځان ومنل، ترڅو يې د الله تعالی د فضل او نصرت په برکت په افغانستان کې ديرغل په وړاندې روان مقاومت ته نوې تشکل او روحيه ورکړه .

الحاج ملاعبيدالله اخند له سره داسلامي امارت دچارو دتنظيم لپاره نوي تشکيلات رامنځته کړل، چې له بيلابيلو کميسونونو څخه عبارت دي، په دې لړ کې دطالبانو لخوا دکابل له پرېښودلو ليږ وروسته شهيدملاعبيدالله اخند دعاليقدر اميرالمؤمنين په هدايت د امارت دنورو مشرانو سره يوځای په لومړي ځل دجهادي تشکيلاتو دتنظيم کار پيل کړ ، دنوموړي يو نږدې ملګری وايي ، چې په دې وخت کې يې لومړی له ملادادالله اخند اوځينونورومسئولينو سره وليدل، دغه راز دافغانستان دمختلفو زونونو له بارسوخه جهادي مشرانو سره يې ليدل کتل پيل کړل. په دې توګه په لومړي ځل ځلور کميسيونونه ( نظامي ، اقتصادي ، فرهنګي او سياسي ) رامنځته شول، دغه راز ترڅه مودې تيريدلو وروسته دافغانستان دټولو ولاياتو لپاره جهادي مسؤلين هم مقرر او لومړني تشکيلات له سره ترتيب شول، چې په دې کار سره دامريکا په ضد روان جهاد له نوي نظم او مؤثريت څخه برخمن شو .

دشهيد ملاعبيدالله اخند دنږدې همکارانو په وينا دامريکا په ضد دجهاد په لومړيو کلونو کې نوموړي دجهادي خوځښت دتقويې او سرتاسري کولو لپاره ډيرې هڅې وکړې، ډيرو زياتوسيمو ته يې سفرونه وکړل او د ډيرو هغو مجاهدينو دروازو ته ودرېد او جهاد ته يې راوبلل چې نوموړي به ترې دجهاد او مبارزې تمه درلوده ، دده او داسلامي امارت دنورو دردمنو مشرانو دهمدې هڅو په پايله کې په افغانستان کې





جهاد يوځل بيا په تدريجي توګه قوت وموند، چې اوس دادی د فتحې تر منزله رسيدونکی دی .

## شخصيت او ذاتي ځانګړنې يې

دهلمند ولايت اوسيدونکی مولوي محب الله (ګرمسيري) چې دشورويانوداشغال په وړاندې دجهاد په کلونو کې څه وخت له الحاج ملاعبيدالله اخند سره يوځای پاته شوی او وروسته يې هم له نوموړي سره نږدې تعلقات درلوده ، وايي چې دالحاج ملاعبيدالله اخند له ترټولو بارزو صفاتو څخه يو دنوموړي تقوی او قوي عزم و ، الحاج ملاعبيدالله اخند دجګړې او مقاومت په حالاتو کې خورا حوصله ناک او باعزمه و او په عامه ژوند کې يې هم ډيره تقوی درلوده ، دمولوي محب الله په خبره په کندهار کې دده يادديې چې نوموړي دخپلې جبهې ملګري ټول په نيک چلند، ديانت او دجماعت په لمانځه عادت کړي وو. او کوم څوک چې به ديني ارزښتونو ته په عمل کې ژمن نه و په خپله جبهه کې يې نه پرېښود ، دجهاد په مهال به ملاعبيدالله اخند هر سهار دسورت ياسين ختم کاوو ، چې يوه مجاهد به تلاوت کاوو او نور به ورته غوږ وو .

دمولوي محب الله په خبره الحاج ملاعبيدالله اخند په ځانګړي توګه له ديني علم سره ډير شوق درلود او دعلماء کرامويې خورا ډير احترام کاوو، کله چې نوموړی په کابل کې ددفاع وزير و، نو که يو عادي ديني عالم به يې هم ملاقات ته ورغی، په ډير ادب به يې ورسره ملاقات کاوو او پوره هڅه يې کول چې عزت اودرناوی يې وکړي .

ملا صالح محمد اخند چې د روس ضد جهاد په مهال د ملاعبيدالله اخند نږدې ملګری پاته شوی وايي: ملاعبيدالله اخند متقي سړی و، که به يې د مجاهدينو په موټر کې د موسيقي آلات وليدل سمدستی يې ماتول،دغه راز که به په کوم مجلس يا ولسي- مراسمو کې کوم ناروا عمل تر سترګو شو مجلس يې پرېښود، نوموړی له قومي تعصب نه پاک انسان و او د قوم پوښتنه سخته پرې غميدله او هيڅکله يې د قوم او قومبازی په اړه بحث نه خوښاوه.

ملا سردار محمد اخند چې کلونه کلونه يې د ملا عبيدالله اخند سره ملګرتيا کړې وايي: هيڅکله مي نه دی ليدلی چې نوموړي دې بې جماعته لمونځ کړی وي، حتی کـه به دوه کسان وو خپله مخته کيدو يا يې بل ملګری مخکې کاوو او دجماعت لمونځ يـي اداء کاوو،نوموړی ددفاع وزير و مګر ډير وخت به په جنګي خطونو کې وو اوپـه ډيـرو جګړو کې يې خپله شرکت کاوه.

ملا عبدالصمد دنوموړي د خاطرو بيانولو په ترڅ کې وايي : يو وخت له خوسـت څخه کابل ته تلو چې د طالبانو د څو موټرو کاروان وو په کاروان کې ملاعبيدالله اخنـد هم و، له يو طالب څخه په موټر باندې د يوشپانه مېړه ووهله شوه چې په څړک بانـدې روانه وه، ملاعبيدالله اخند شپون راوغوښت، لومړی يې سه اکـرام وکـړ او بيـايي تـرې وپوښـتل چـې ددې ميـړې قيمـت څـو روپـی و، کلـه چـې هغـه قيمـت ورتـه وښـود، ملاعبيدالله اخند هماغومره پيسې ورکړې .

ملا اسرائيل اخند داسمعيل خان لخوا په هرات کې دنوموړي دبندي کيدو واقعه بيانوي او زياتوي: الحاج ملاعبيدالله اخند په فراه کې ددښمن لخوا ونيـول شـو، او بيـا هرات ته انتقال شو، په هرات کـې دتـورن اسـمعيل خـان کسـانو تـرې غوښـتل چـې د تيلويزوني کمرې په مخکې دا خبرې وکړي چې طالبان له پاکسـتان سره تـړاو لـري يـا پاکستان ورته پيسي ورکوي، ترڅو دا خبرې د کابل د ټيلويزون لـه لارې نشـر شي، خـو ملاعبيدالله اخند ددښمن د هرڅومره فشار او زورزياتي سره سره دې خـبرو تـه حـاضر نه شو، ملااسرائيل وايي: کله چې طالبانو هرات فتحه کړ يوه ورځ په هرات ښار کې لـه ملاعبيدالله اخند سره روان وم چې په يوه کس يې نظر ولګيد او غـږ يـي پـرې وکـړ، دا هغه کس و چې د زندان په مهال يې له ملاعبيـدالله اخنـد څخـه پوښـتنې او اسـتنطاق کاوو، ملاعبيدالله اخند ورته وويل : تا چې له ماسره کـوم زيـاتی کـړی دی، زمـا لخـوا درته بخښنه ده، خو يوازې دا درته وايم چې موږ يوازې دالله تعالی درضاء پـه خـاطر او اسلامي نظام د قيام لپاره راپورته شوي يو او په سوګند درته وايم چې په دې لاره کې د هيڅا اجيران نه يو او نه له چاسره تړاو لرو .





الحاج ملاعبـدالغفار چـې داسـلامي امـارت دواکمنـی پـه مهـال ددفـاع وزارت دمخابراتو عمومي مسؤل و او له ملاعبيدالله اخند سره ډير وخت نږدې اوسيدلی هم د ملاعبيدالله اخند دتقوی او له بيت المال سره د ډيـر احتيـاط يادونـه کـوي ، نومـوړی وايي له ملاعبيدالله اخند سره دکندهار په ژړی کې دده کورتـه هـم ورغلـی پـه داسـې حال کې چې ملاعبيدالله اخند ددفاع وزير و ، خو دکور ګوزاره يې ديوه عادي او فقيـر سړي په شان وه .

ملاعبدالغفار اخند د دفاع وزارت داستخباراتو دمسؤل ملانورعلي له قوله وايـي، چې يوه وخت هغه مهال چې دملاعبيدالله اخند خپل کور په کابـل کـې و، ملاعبيـدالله اخند په نيمه شپه دروازه راوټکوله ، کله چې ورته راووتلم راته ويې ويـل ، چـې يـو څـه خپلې شخصي پيسې که درسره وي ، په قرض يې راکړه ، چـې زوی مـې ( محمـد ) ډېـر سخت عاجل مريض دی ، ملانورعلي وايي چې ماورته وويل ، چې ۴۰۰ بسـتريز روغتـون ته يې ورسوه ، هلته دامارت دمربوطو کسانو عـلاج مفـت کيـږي ، او يـا دبيـت المـال پيسې پرې مصرف کړه، ځکه دومره اجازه خو شته ، خو ددې خبرې له اوريدو وروسته ملاعبيدالله اخند راته وويل چې ، ته اوس ماته لارښوونې مـه کـوه، کـه شخصـي پيسـې درسره وي ، په قرض يې راکړه چې کله مې پيدا کړې واپس به يـې درکـړم ، ملانـورعلي وايي ، چې بياماورته ۲۰ زره روپې چې زما شخصي وې را ووايستې ، چې وروسته ددفاع وزير ملاعبيدالله اخند دغه پور پيسې په يوه وار را اداء نه کړې ، بلکې په پنځـه سـوه ، زر او يا يونيم زر روپيو ادا کولو سره يې په کرار کرار دغه پور راخلاص کړ .

ملاعبدالغفار اخند وايي ، دملاعبيدالله اخند دکـور پيـردار دخپلـو معلومـاتو لـه مخې هغه وخت راته ويليوو چې دملاعبيدالله اخند دکور په مصارفو کې پـه اونـی کـې يوځل يوازې ( نيمه کيلوغوښه ) شامله وه ، چې دادنوموړي لخوا له بيت المـال سره پـه بي ساري احتياط او عادي ګوزاره باندې دلالت کوي .

ملاعبدالغفار اخند وايي ، ملاعبيدالله اخند دعاجزی هم خورا ښه صفات درلودل ، په لاره دتګ په مهال له چانه نه مخکې کېده ، او که به دکيناستو ضرورت وو هيڅکله

يې داتقاضا نه کوله چې څوک ورته يوشی اوار کړي ، بلکې په سپيرو خاورو کې ډبر بې تکليفه کيناستلی شوای ، دغه راز ملاعبدالغفار اخند ددفاع دوزير په توګه دوظيفې په مهال دملاعبيدالله اخند په اړه وايي .

هغه ډير متوکل سړی وو ، او خپلو وظايفو ته هم ډير متوجه و ، په ټول افغانستان کې به ترمختلفو ولاياتو او سيمو پورې په خپل موټر کې له خپلو څو تنو ملګرو سره يوازې ګرځيده ، معمول يې دا و چې داونۍ اکثره ورځې به په نيمه شپه له کابل څخه راونيدو، دکابل په شمال کې به يې په زاړه او نوي سرک پراته دفاعي خطونه له نږدې کتل، له مسؤلينو به يې وضعيت معلوماوو ، او چې کله به د دفتري رسمياتو دپيل وخت رارسيده ، بيرته به يې ځان وظيفې ته رساوو او رسمي کار به يې پيلاوو ، ملاعبدالغفار اخند وايي داسې مې هم په ياد دي ، چې ددفاع وزير ملاعبيدالله په يوازې سر چې موټر يې په خپله چلاوو ، دشمال تردفاعي کرښو تللی او دکرښو جاج يې اخيستی وي .

ملاعبدالغفار چې ددفاع وزارت دمخابرې خصوصي مسئوليت هم ور له غاړې وو وايي ، ددفاع په وزارت کې د وظيفې په ترڅ کې داسې مې هيڅکله نه يادېږي، چې ملاعبيدالله اخند دې له مسؤلينو او مراجعينو څخه نادرکه شوی وي ، ځکه عمومي مخابره به ۲۴ ساعته خلاصه وه، چې دعمومي مخابرې مسؤلين به بيا له ملاعبيدالله اخند سره هميشه د مخابرې له لارې په رابطه که وو او چې دهرچا به څه کار په شپه او ورځ پيداکيدلای شوای تردفاع وزير به رسول کيده .

د امريکا په ضد دنوي جهاد دپيل په شيبو کې چې ډير دمايوسۍ او ازمينښت وخت وو ، شهيد ملاعبيدالله اخند به په مجالسو کې ملګرو ته هميشه دا آيت کريمه ددليل په توګه وايه ( والذين جاهدوا فينا لنهدينهم سبلنا وان الله لمع المحسنين ) ده به هميشه ويل که مورِ يوځل په رښتيا دجهاد نيت ولرو ، نو الله تعالی حتما دجهاد اسباب او امکانات راته برابروي .





دهلمند ولايت دګرشک په ولسوالۍ کې يو تن جهادي مسؤل ملاعطامحمد چې په هماغو شيبوکې له الحاج ملاعبيدالله اخند سره نږدې پاته شوی، وايي چې نومورې مورِ ته هميشه توصيه کوله ، چې له خلکو سره ښه ګوزاره کوئ ، اګر که تاسو په تکليف ياستئ ، تاسو وږي ياستئ خو له خلکو به هيڅکله په زور او برلاسی څه شی نه غواړئ ، بلکې پريږدئ چې اولس مو خپله حال ووينې او په خپله درسره مرسته او همکاري وکړي .

دامريکا ضد جهاد په هماغو پيليزو شيبو کې دشهيد ملاعبيدالله اخند دارتباط مسؤل وايي ، چې سره له دې چې حالات سخت خراب وو او امنيتي خطر هر ځای موجود و ، خو شهيد ملاعبيدالله اخند راته ويلي و ، چې ته به هيڅکله دتيلفون نمبر نه بدلوې او نه به يې بندوې ، او ده خپله هم يو نمبر هميشه فعال ساته ، چې مجاهدينو هميشه زما په واسطه پيدا کولای شوای، په دې برخه کې شهيدملاعبيدالله اخندپه دې نظر وو ، چې که مورِ ونيول شو ، يا زندان ته ولويږو دا دومره بده نه ده لکه دمجاهدينو چې يو عاجل ضرورت وي ، او مورِ ورته ځان حاضر نه کړو او يا ترې ناخبره پاته شو

داسلامي امارت نوميالي ليکوال ملا خبيراحمد مجاهد چې دامريکا ضد جهاد په لومړيو کلونو کې يې داسلامي امارت دمطبوعاتو په احياء کې اساسي رول درلود او په دې مهال يې له ملاعبيدالله اخند سره نږدې رابطه او همکاري درلوده وايي يوه ورځ داسلامي امارت نائب ملاعبيدالله اخند داسې مخاطب کړم ( فی الحاله له مونږ سره وسايل په نشت حساب دي ، خو خدای B مهربان او لوی دی ، دټولي دنيا کفار او داسلام دښمنان راته يو شوي ، ددنيا په مخ ديوې لويشتي ځای نلرو او نه هم په ټوله دنيا او ګاونډکې داسې کوم هيوا د شته چې دځه مرستي او خواخوږي ډاډ يې راکړي وي ، مطلب حامي ، مددګار او ساتونکی مو يو الله B دی پرهغه به توکل او عزم کوو، مونږ به ديته نه ګورو چې اول ښه ډير او کافي وسايل، وسلي او پيسې پيداکړو نوبيا به جهاد شروع کوو که نور هيڅ هم په لاس رانغلل دځمکي کانې ( ډبري ) خوشته

داشغالګرو په لوربه يې ورغورځو او خداى B ته به په ورځ دقيامت همداوايو چې همدومره مو په وس پوره وه چې ستا ددين دښمنان مو په ډبرو ويشتل خو ولې په ارام اوساکت کښيېناستلو او بله داچې په دې کارکې به د شهادت او بنديخانود زغملونيت خامخا کوو )

په پاکستان کې دزندان په مهال شهيدالحاج ملاعبيدالله اخند دقران کريم حفظ هم مکمل کړ او دزندان په موده کې يې هميشه په نفلي لمانځه کې دقرانکريم ختمونه سرته رسول او دزندان نورو ملګرو ته يې هم همدا لارښوونه کوله ، چې دقران کريم دعادي تلاوت په ځاى دې دقرانکريم حفظ وکړي اوپه لمانځه کې دې تلاوت کوي ، ځکه ده به ويل چې په لمانځه کې تلاوت که له يوې خوا ډير اجر لري ، له بلې خوا ډير په توجه او حضور سره کيږي ، او ډير خوند پرې اخيستل کيږي . دنوموړي دکراچۍ دزندان يو ملګرى چې له شهيدملاعبيدالله اخند سره دځنګ په اطاق کې پاته شوى وايي: چې ملاعبيدالله اخند راته وويل ( قرانکريم مې په دوو کلونو کې مکمل ياد کړ ، په پيل کې مې څلور سورتونه ( سورت يس ، سورت الملک ، سورت الدخان ، سورت حم السجدة ) ياد کړل ، او دا مې معمول جوړ کړ ، چې دجمعې په شپه به مې په څلورو رکعتونو نفلو کې همدا څلور سورتونه لوستل او وروسته مې الله تعالى ته دعا کوله او دقرانکريم دحفظ توفيق مې ترې غوښت ، چې دادى الله تعالى دقرانکريم دحفظ نعمت راته نصيب کړ)

## شهادت يې

شهيدالحاج ملاعبيدالله اخند د ۲۰۰۷ ميلادي کال دجنورۍ دمياشتې په دريمه نيټه دپاکستان بلوچستان ته دسفر په مهال په کويټه کې دپاکستاني استخباراتي چارواکو لخوا ونيول شو، له نيول کيدو وروسته ترډيره وخته دنوموړي په هکله هيڅ معلومات نه ترلاسه کيدل ، ترڅو دنوموړي کورنۍ ته دپاکستاني چارواکو له خوا احوال ورکړل شو ، چې ملاعبيدالله اخند د ۲۰۱۰ ميلادي کال د مارچ په پنځمه دجمعې





په مبارکه ورځ دپاکستان په کراچۍ کې په يوه زندان کې په حق رسيدلى او مړى يې خاورو ته سپارل شوى دى .

دشهيدالحاج ملاعبيدالله اخند دشهادت خبر دټولو نړۍ دمسلمانانو او خصوصا افغانانو او داسلامي امارت دمجاهدينو لپاره يو دردوونکى خبر و ، داسلامي امارت دمشرتابه لخوا دنوموړي دشهادت په اړه په خپره شوه اعلاميه کې وويل شول (دافغانستان اسلامي امارت دالحاج ملاعبيدالله اخند دشهادت په اړه دنوموړي درنې کورنۍ ،ټولومجاهدينو،افغان ولس اوټول اسلامي امت ته دغمرازۍ ،تعزيت او تسليت مراتب وړاندي کوي ، دغه راز څنګه چې نوموړي په جهادي ژوند او لاره کې خپل روح خپل خالق او مالک B ته سپارلى، د الله تعالى له دربار څخه نوموړي ته دشهادت دقبلېدا او دفردوس جنت غوښتنه کوي دغه راز يې قريبانوته هم له اللهي دربار څخه جميل صبر او عظيم اجر غواړي .

دافغانستان اسلامي امارت دشهيد الحاج ملا عبيدالله اخند تشه دټولي اسلامي نړۍ خصوصا دافغانستان لپاره يوه نه جبرانيدونکي ضايعه بولي اودپاکستان له چارواکوڅخه جدي غوښتنه کوي چې دالحاج ملا عبيدالله اخند ددزندان کيدو ، مريضي او وفات په اړه اسلامي امارت ته بشپړ او واقعي معلومات ورکړي ،داچې دنوموړي ترشهادت پوره دوه کاله وروسته دشهيد کورنۍ ته خبر ورسيدموږ ددي ځنډپه برخه کې دنړيوال سره صليب اداره هم پره بولو چې په پاکستان کې يې داسلامي امارت دبنديانو په اړه تر اوسه پوري هيڅ نو عه معلو مات دنوموړي شهيد او نورو بنديانو کو رنيو ته نه دي رسولي او ورنه جدي غوښتنه کوو چې په را تلو نکي کې خپله دغه نيمګړ تيا پوره کړي ځکه دا ددوى دنده ده )

شهيدالحاج ملاعبيدالله اخند څوارلس اولاده تر شا پرې ايښي ، چې د ۹ زامنو له جملې يې څوتنه حافظان او نور ددېني علومو زده کوونکي دي .

انا لله وانا اليه راجعون

# د شهيد مولوي عبدالسلام ژوند ته لنډه کتنه

ليکنه: قاري سعيد

دطالبانو داسلامي تحريک دبريالیتوب ، استقامت او ثبات يو راز دا بلل کيږي، چې دا تحريک دمعاصر پُرفتن دوران له منځه دالله تعالی دهغو صالحواو نيکو بندګانو څخه جوړ تحريک دی چې په اوس وخت کې يې خورا لږ مثالونه موندل کيدای شي. دا تحريک چې لويه برخه يې ددينې مدارسو طالب العلمان او دينې علماء دي، له همدې څخه څرګندیږي چې په دې تحريک کې دمعاصر دور ترټولو متدين، پاک نفسه او سپيڅلي خلک راجمع شوي دي، ددينې علومو دطالبانو په اړه سترمجتهد امام مالک V فرمايي ( که چيرې دقرآن او احاديثو دطالبانو په منځ کې هم اولياء الله نه وي، نو معنی يې داده چې دځمکې په مخ اولياء الله شتون نلري )

دطالبانو په اسلامي تحريک کې ډير داسې ګمنام اشخاص تير شوي او لا اوس هم شته ، چې اعمالو ته يې په پام سره بې له شکه داولياء الله حکم ورباندې کيدلای شي. هغه دخدای تعالی دوستان چې ورځ په جهاد او دالهي دين په بي ريا او بې عوضه خدمت تيروي او دشپې دخدای تعالی حضور ته په سجده پراته وي . که له يوې خوا دعلم، تقوی، ديانت او اخلاص بيلګې وي له بله اړخه دايثار، شجاعت او جرأت مثالونه وي، دالله تعالې دلارې دداسې صالحو لارويانو له جملې يو هم شهيد مولوي عبدالسلام و چې الله تعالی ورته د سيرت او صورت ښکلاوې په يورنګ ورکړې وې. راځئ څو شيبې ددې شهيد له ژوند او کردار سره پاته شو .





## پيدايښت او دژوند لومړني مراحل

مولوي عبدالسلام اخندزاده دملامحمد صادق اخند زوی دمرحوم مولوي صالح محمد لمسی په قوم پښتون - بارکزی په۱۳۴۶دسرطان پر۱۵ مه دکندهار ولايت دنښ ولسوالۍ په شاويز کلي کې په يوه ديندارە او علم دوسته کورنۍ کې زيږيدلی دی .

لومړنۍ زده کړې يې په خپل کور کې ترسره کړي دي ، او دابتدائي زده کړو په شمول يې ډيرې زده کړې له خپل پلار او ترونو مولوي عبدالخالق اخندزاده صاحب او مولوي عبداللطيف اخندزاده صاحب څخه ترسره کړي دي .

ددوی کورنۍ له ډيره وخته دعلم او دينداری کور پاته شوې او تر ۷ پيړيو يې نيکونه علماء پاته شوي دي. مولوي عبدالسلام لا دنوي ځوانۍ په مرحله کې و چې روسي يرغلګرو په افغانستان برید وکړ او دعمومي هجرت په مهال ددوی کورنۍ له خپل اصلي ټاټوبي څخه دپاکستان سرحدي ښار چمن ته کډه شول . هلته مولوي عبدالسلام صاحب خپلې زده کړې په نورالمدارس فاوقيه مدرسه کې پيل او ترسره ورسولې. نوموړي دحديثو دوره په چمن کې د شيخ الحديث مولوي محمد علي صاحب په مدرسه کې ترسره کړه او همدلته يې دحديثو سند ترلاسه کړ .

## دروس ضد جهاد کې شرکت

مولوي عبدالسلام ځوان و چې په افغانستان کې د کمونيزم په خلاف جهاد پيل شو. نوموړي چې له جهاد سره بې کچې مينه درلوده ددينې تعليم سره سره يې په جهاد کې هم شرکت کاوو ، نوموړی له پيله ترپايه په کندهار کې د ملاشيرين اخند په مشرۍ دطالبانو په لويه جبهه کې و ، دا جبهه چې دکندهار ښار په شاوخوا سيمو لکه محله جات، ارغنداب او ډنډ ولسوالیو کې يې فعاليت درلود ، مولوي عبدالسلام هم په کې ديوه مجاهد په صفت دنده اجراء کوله ، دډاکټر نجيب دحکومت په وروستيو کلونوکې نوموړي دکندهارــ کابل په لويه لاره د جبار او دوستم مليشو په ضد جګړو

کې هم شرکت درلود، مولوي عبدالسلام له ديني زده کړو سره په څنګ کې ترهغه مهال جهاد ته ادامه ورکړه ترڅو کمونيستي واکمني نسکوره شوه .

## د هرج و مرج په دور کې

دتنظيمي خپل منځي جګړو او ګډوډۍ په دور کې مولوي عبدالسلام صاحب چې دغه مهال فارغ عالم و، دکندهار ښار ته نږدې ددامان ولسوالۍ په خوشاب سيمه کې يې يوه مدرسه جوړه کړه او ددېني علومو تدريس يې پيل کړ . دغه مهال نوموړي لسګونو مشرانو طالبانو ته ديني کتابونه تدريسول، په دې سربيره څرنګه چې دغه مهال دافغانستان دنورو برخو غوندې په کندهار کې عامه فساد او هرج ومرج پيل شوی، خپلسرو قومندانانو خلک ځوړول، له خلکو يې پيسې اخيستې او يوه ستر اجتماعي فساد ته يې لاره هواره کړې وه، مولوي صاحب دخپلې سيمې خوشاب په سطحه د منکراتو دمخنيوي لپاره هڅې پيل کړې او په دې لړ کې يې په خپله سيمه کې څو ځله سرکشو او بدکاره خلکو ته دناروا اعمالو له املې سزاګانې هم ورکړې ، او دخپل توان په اندازه يې دخپلې سيمې په سطحه دښکاره منکراتو مخه ونيوله . مولوي صاحب دطالبانو داتحاد او نظم لپاره هم هڅې پيل کړې او له ډيرو مشرانو او ديني علماء کرامو سره يې ليدنې کتنې ترسره کړې، په همدې مهال دکندهار د ژړۍ دسنګ حصار په سيمه کې د ملامحمد عمر مجاهد په مشرۍ دطالبانو تحريک پيل شو، چې دپيل په ابتدايي شيبو کې مولوي عبدالسلام صاحب له خپلو ۷۰ تنه طالبانو سره له نوموړي تحريک سره مل شو .

## دطالبانو په اسلامي تحريک کې خدمات

د اسلامي تحريک دپيل په ابتدائي شيبو کې کله چې طالبانو د ميوند په ولسوالۍ ولکه ټينګه کړه، نو د مشرتابه لخوا مولوي عبدالکريم د ميوند دولسوال په حيث مقرر شو چې مولوي عبدالسلام صاحب يې دمرستيال په حيث دنده اجراء کوله.





تردې وروسته نوموړي په نورو عملياتو کې هم برخه درلوده، ترڅوچې کندهار ولايت په بشپړ ډول د طالبانو لخوا ونيول شو، دکندهار له فتحې وروسته مولوي عبدالسلام لومړی دکندهار دهوايي ډګر دمسؤل په حيث وټاکل شو او وروسته دکندهار دامنيه قومندان په حيث مقرر شو .

دغه مهال دکندهار امنيه قومنداني دټولو جهادي تشکيلاتو مرکز بلل کيده او له وظيفوي اړخه يو مهم مقام و له همدې امله خو داسلامی تحريک مشر ـ ملامحمدعمر مجاهد مولوي عبدالسلام صاحب چې دنوموړي خورا زيات اعتماد ورباندې و او خورا نږدې تعلقات او تعارف يې ورسره درلود دکندهار دامنيه قومندان په حيث وټاکه .

دغه مهال مولوي عبدالسلام صاحب دکندهار دامنيه قومندانۍ له رسمي وظائفو سربيره دامیرالمؤمنين ملامحمد عمر مجاهد ديوه نږدې مشاور او همکار په حيث هم دنده ترسره کوله. نوموړی جيد عالم، بادرکه مجاهد، مدبر مشر ـ او تروروستۍ کچې متقي او خدای ته تسليم انسان و. د ملامحمد عمر مجاهد لپاره يې د امين مشاور حيثيت درلود، دنوموړي ملګري وايي چې په دې مهال له مولوي عبدالسلام صاحب سره دملامحمدعمر مجاهد دومره همیشني تعلقات اور اشه درشه وه چې اکثره وخت به چې ملاصاحب په خپل دفتر کې نه و، نو ملګرو به يې دمولوي عبدالسلام صاحب په ځای کې پوښتنه کوله او ډير وخت همالته پيدا کيدو .

ملامحمدعمر مجاهد نوموړی دتيرجهاد له وخت څخه پيژاند، دنوموړي د علم ، ديانت ، تقوا او اجتماعي درک په اړه يې له نږدې معلومات درلودل ، نوځکه يې دشهيد مولوي صاحب منزلت پيژاند او په قدر ورته قائل و .

## دمولوی عبدلسلام صاحب شهادت

په ۱۳۷۴ هـ ش کال کې کله چې دهيواد په لويديځ کې دهرات واکمن تورن اسمعيل خان لومړی په ګرشک بريد وکړ او وروسته داسلامي تحريک مجاهدينو شکست ورکړ او دفراه ولايت ته يې په شا کړ ، دجګړو په همدې لړۍ کې په لويديځ

کې دطالبان عمومي نظامي قومندان ملامحمد اخند زخمي شو، په دې مهال مولوي عبدالسلام په خپله له يوشمير مجاهدينو سره د جګړې لومړني خط ته لاړ، چې په همدې جهادي سفر کې نوموړی دفراه ولايت د آب خرما په سيمه دخوست په دره کې له دښمن سره په جنګ کې په شهادت ورسيد .

**دشخصيت په اړه يې**

شهيد مولوي عبدالسلام صاحب داسلامي امارت په سطحه يو له هغو کسانو څخه و چې په بي ساري علمي استعداد او تقوی يې شهرت درلود. نوموړي ته الله تعالی په علمي استعداد او سياسي درايت سربيره خورا متشرع شخصيت هم ورکړی و ، دنوموړي ملګري او متعلقين اوس هم دده د تواضع ، خوش اخلاقۍ او حسن تعامل يادونه کوي، همدا وجه وه چې نوموړی يې په ډير کشر عمر کې د ډيرو زړونومحبوب ګرځولی و او دخپلې سيمې په سطحه يې بيساری محبوبيت او نفوذ درلود .

دنوموړي تره مولوي عبداللطيف اخندزاده صاحب چې مولوي عبدالسلام يې له کوچنيوالي شاګرد پاته شوی وايي ، چې مولوي صاحب دتقوا او ديانت له اړخه يوبي جوړې سړی و ،نوموړي وايي دمولوي صاحب دری صفات خورا ښکاره وو هغه داچې نهايي تقوا دار و ، شجاعت يې درلود او الله تعالی خورا ښه علم ورکړی و .

دشهيد مولوي صاحب ددیانت او قرب الی الله اثار دنوموړي له شهادت نه وروسته هم وليدل شول ، هغه داچې کله دنوموړي جسد دجنګ له ميدان څخه هديرې ته راوړل شو، نو د دفن په مهال يې دنوموړي اغوستی کوټ ترې ايسته کړ، مګر ددې کوټ داسې خوشبويي پورته کيدله چې د جنازې ټولو خلکو احساس کړه له همدې امله خو دنوموړي همدا کوټ جنازې ته حاضرو خلکو ترخپل منځ ټوټه ټوټه کړ او له ځانو سره يې يو ووړ، چې دهرې برخې يې خوشبويي پورته کيدله.

دشهيد مولوي عبدالسلام پلار ملا محمدصادق اخندزاده وايي چې دنوموړي له شهادت څخه ۹ کاله وروسته يو وخت دده قبر ته ورغلم ، ګورم چې قبر يې لويدلی





دی ، نو مې يو سهار وختي له ځان سره اراده وکړه، چې دخلکو له راتګ وړاندې يې قبر جوړ کړم په همدې نيت مې قبر راوسپړه ، خو په دې وخت کې دمولوي صاحب جسد رالوخ شو، نوموړی وايي چې دغه مهال يې وليدل چې دمولوي صاحب جسد له ۹ کاله تيريدو وروسته هم نه دی خاورې شوی او داسې سالم پروت دی لکه په همدې شيبه چې دفن شوی وي .

دملاسيف الله اخند په نوم يو طالب چې له مولوي عبدالسلام سره يې ۱۵ کاله ملګرتيا کړې وايي، چې نه يې يادیږي چې مولوي صاحب دې دجماعت لمونځ قضا ء کړی وي ، بلکې په هرډول حالاتو کې دجماعت دلمانځه سخت پابند وو ، نوموړي په ښه علم سربيره خورا ښه قرئت او حسن صوت هم درلود او په ډير زړه وړونکي ترنم به يې اذان کاوو .

دغه دالله تعالی صالح بنده په داسې مهال په شهادت ورسيد چې لا يې دځوانۍ عمر پای ته نه وو رسولی ، له نوموړي څخه يوازې يوه لور پاته ده .

انا لله وانا اليه راجعون

❊ ❊ ❊

# د شهيد مولوي عزت الله عارف ژوند او کارنامو ته کتنه

ليکنه: خبيراحمدمجاهد

په راتلونکو کرښو کې درسره د داسې چا په اړه خواله کوو چې هغه داسلام په غم غمجن اودمسلمانانوپه درد دردمند،داتفاق اواتحادپه هيله دسيدجمال الدين افغان اومولاناعبيدالله سندهي په څيرملنګ، دمسلمانانودازادۍ اوخپلواکۍ دقافلومخکښ اوپه عين وخت کې دعلمي، سياسي اوجهادي ميدانونونومیالی اتل، په نبوي اخلاقوباندې مزين، هميشه يې په خوله باندې مسکا، نوراني اودرون تندي څښتن و. های ! څومره قيمتي انسان و چې دسختوتکاليفواومصايبوپه وخت کې هم دصبراوزغم نه پرته پکې بل هيڅ نشوای ليدل کيدای .

دعلم، عمل، سياست اوجهاددافغانستان دننګرهارولايت دچهاردهي اوسيدونکی چې دخپل نوم نه زيات په خپل تخلص ( عارف صيب ) باندې مشهور و.

مرحوم مولانا حافظ محمدعزت الله ( عارف ) نورالله مرقده، دننګرهارولايت دمشهورجهادي اوعلمي شخصيت مولاناعبدالکافي صاحب زوی په ۱۳۴۶هـ ش کال پهچهاردهي کلي کې زيږيدلی، ابتدايي زدکړه يې د خپل کلي په جومات او ښونځي کې ترسره کړه، له هغه وروسته دمتوسطې دورې لپاره دبټي کوټ ولسوالی، دفارم غازي ابادپه ښونځي کې داخل شو.

شهيدعارف صاحب ته الله پاک په وړوکوالي کې داسې اوصاف وربښلي وو چې ليدونکي به يې په اسانۍ سره دا اندازه لګولی شوای چې دا ماشوم په مستقبل کې





دټولنې دخدمت او رهبرۍ جوګه دی. دفارم غازي ابادښونځي کې يې نهم صنف کې اول نومره کاميابي ترلاسه کړه اوله دې وروسته يې دجلال ابادپه مشهوره ديني مدرسه نجم المدارس کې داخله واخيسته.

په دې مدرسه کې يې ايله يوکال زدکړه پوره کړي وه چې دروسي پلوه ګوډاګي رژيم لخوادګران هيوادپه حقاني علماووظلمونه شروع شول، چې پکې دنجم المدارس دمدرسې جيد استاد او د عارف صاحب نږدې خپل ( مولوي غلام سبحاني صاحب) سره دخپلو نورومدرسينودظالم اوبې دينه حکومت لخواګرفتارشو. له بل لوري دمرحوم عارف صاحب والدګرامي چې دسيمې يومخورمشر، عالم اولوی مجاهد و په هيوادکې داوسيدو دائره پرې تنګه شوه نوګاونډي هيواد پاکستان ته سره له خپلې کورنۍ په ۱۳۵۸ کال کې په هجرت کولومجبوراو د اوسنی خيبر پښتونخوا ايالت اړوند دمټه مغل خيل په سيمه کې د خپل قوم سره يوځای کې ميشت شو.

## ديني زدکړې

شهيدمولوي عزت الله عارف صاحب چې دمرحوم مولوي عبدالکافي صاحب کشری زوی وهغه يې داسلامي علومودزدکړې لپاره په کال ۱۳۵۹ ش کې ددارالعلوم احناف اميرزو مدرسه کې داخل کړ چې د لومړۍ درجې کتابونه يې هلته ولوستل.دويمه درجه يې دتنګي په دارالعلوم اودريمه درجه کتابونه يې بيرته په دارالعلوم احناف کې ولوستل، څلورمه درجه يې دتخت اباد په دارالعلوم هدايت الاسلام کې ، پنځمه درجه يې دپيښور د باړې په دارالعلوم هاشميه کې دوخت له مشهورو علماء کرامو او ماهرو استادانو هريو سيدقريش بابا او قاضي محمدامين صاحب نه وويله. په دغه کال دخپل جهادي شوق له مخې د مدرسې دطالبانو دقومندان په حيث دهيواد د نامتو جهادي مشر مولوي جلال الدين حقاني صاحب جبهوته دجهادلپاره له لسګونوملګروسره دهغه وخت د جهادتاوده سنګر د( د پکتيا ستوکنډو) ته لاړ .

تکميليه درجه يې دطورودارالعلوم سعادت خان مدرسه کې په ښه شوق اوذوق دمولاناغلام محبوب صاحب نه ترسره کړه، رياضي اود فلسفې زدکړې يې د غزني ولايت له مشهورعالم دين مولانامحمدمستقيم صاحب نه حاصلې کړې. د ميراث علوم يې دمردان په بخشايي کې دميراثي باباڅخه ولوستل، موقوف عليه دورې لپاره بيا دارالعلوم هدايت الاسلام تخت اباد ته لاړ اوهلته يې کتابونه له شيخ الحديث مولناعنايت الله صاحب (فاضل ديوبند) اوشيخ الحديث مولانامطلع الانوارصاحب (فاضل ديوبند) څخه وويل. لويه دوره يې په کال ۱۹۸۹م کې داکوړه خټک په حقانيه دارالعلوم کې په داسې حال کې ترسره کړه چې دسوونوطالبانوله جملې نه هغه دصحيح مسلم شريف اوسنن ترمذي شريف قاري غوره شوی و. همدغه ډول يې دلويې دورې په دريوواړو امتحانوکې لوړې نمبرې اودويم نمره گي حاصله کړه چې په ډيرامتيازسره دنامتواستادانوله لوري ورته دفضليت دستار ورپه سرکړای شو.

دقران مجيدتفسيراوترجمه يې د پښتونخوا په صوابی کې له استادکل او شيخ القرآن شاه منصورباباجي V څخه وکړه، دغه ډول يې دقرانکريم حفظ له قاري سيدغني صاحب څخه وکړ، دياډونې وړ ده چې عارف صاحب ته د خپلې قوي حافظې په برکت الله تعالی د ټول قرانکريم دحفظ توفيق په ۳مياشتو ورپه برخه کړي و .

**تدريس :**

دفراغت نه وروسته په اول کال يې د پيښور د فقيرابادډه ( رشيديه ) مدرسه کې ددريمې، څلورمې اوپنځمې درجې کتابونه تدريس کړل، دهمدې کال په پای کې سعودي عربستان ته ولاړ اوالله تعالی دعمري اوحج سعادت ورنصيب کړ. دفراغت په دوهم کال دامدادالعلوم دمشهورې مدرسې داستادکل شيخ الحديث شهيدمولانا حسن جان مدني رح په درخواست اولطف په نوموړې مدرسې کې دممتازو استادانوپه جمله کې شامل کړل شواوپه زړه پورې تدريس يې وکړ، په دريم کال يې دنمک منډيې دقاري فياض صاحب په مدرسه کې داستادډه حيث په داسې حال کې چې يوزيات شميرشاګردان ورسره و ومنل شواوتدريسي کال يې سرته ورساوو .





**جهادي اوسياسي ژوند**

شهيدعارف صاحب چې داسلامي ټولنې يوبې ريا خادم اودعملي، جهادي اوسياسي فکر او عمل نه مالامال شخصيت و، کله به يې دسرو روسانوپه مقابل کې دجهادګرم سنګرته ځان رسولو، کله به يې دمسلمانانوترمنځ دوحدت اوخيرخواهې هڅې کولې اوستره هيله يې داوه چې مسلمانان بايدپه خپلو منځوکې متحدوروڼه اوديوه شعاراوهدف څښتنان وي .

کله چې خپل منځي تنظيمي جګړې په هيوادکې پيل شوې عارف صاحب دهغودخاموشولواو د سولې او روغې د راوستو په هيله يوځل اتحادعلمای افغانستان له مشرمولوي عبدالله ذاکري اوبل ځل دمولوي جلال الدين حقاني صاحب سره يوځای سفرونه کړي و او جګړه مارو تنظيمي رهبرانو ته يې د سولې د تأمين او خپل منځي نزاع د ختمونو خواستونه کړي وو.

د روس ضد جهاد په کلونو کې کله چې انقلاب اوږدشواودهجرت په کورکې دمهاجرينوپه کمپونوکې يوشميرفسادونه رامنځته شول نوهغه دخپلو استادانوپه مشوره او د ملګرو په مرسته په کمپونوکې يو دعوتي او اصلاحي منظمه جوړه کړه چې په علمای کرامو، طالبانو اومخلصومسلمانانوباندې مشتمله وه اودامربالمعروف ونهی عن المنکر دنده اوخدمت يې دکمپونوپه مساجدودجلسواودعوتي ناستوپه شکل کې سرته رساوو.

ددغواصلاحي هڅونتيجه داشوه چې دافغانستان په هرولايت کې داهل السنة والجماعة په نوم منظمې جوړې شوي اودهرولايت طالبانواوعلماءکرامودخپل ولايت په نوم دفساداومختلفو فتنوپه خلاف دعوتي اواصلاحي هلې ځلې جلسې اوعلمي غونډې وخت په وخت دايرولې، چې بالاخره الله تعالی همدغه اصلاحي ولايتي ټوليو ته چې په اخلاص سره يې د عمل ميدان ته رادانګلي و د يوه سرتاسري جهادي يون اومخلصانه حرکت ځواک اوفهم وروبانبه .

دشهیدعارف صاحب دځانګړي کردار په پایله کې دټول افغانستان په سطحه داهل السنة والجماعة اتحادیه رامنځته اونوموړي اتحادیه دمسلمانانواومجاهدینو دخپل منځي شخړو د اواري او له منځه وړلو په برخه کې ستر رول ولوباوه چې شهیدعارف صاحب ترپایه دنوموړي اتحادیې دمرکزي شورا رئیس اومشر و.

کله چې په ۱۴۱۵ هجري قمري کال په لومړیو کې په کندهارولایت کې دعالیقدرامیرالمومنین ملامحمدعمرمجاهدحفظه الله ترمشرۍ لاندې دافغانستان دطالبانواسلامي تحریک اعلان اوعملاپې دفساد او منکراتو په خلاف مبارزه اوجهادپیل کړ، نوشهیدعارف صاحب دخپلې اتحادیې مجلس دپیښورپه ( دارالقراء مدرسه) کې راوغوښت او دافیصله یې په ډیراخلاص سره وکړه چې دافغانستان دطالبانو له اسلامي تحریک سره یوځای کیږو او مرسته به یې کوو، هماغه و چې عارف صاحب خپل تدریس ته دپای ټکی کیښود او داهل السنة والجماعة دزیاتره ولایتي مشرانو په ملتیاد طالبانو د اسلامي تحریک د لیدلو لپاره کندهار ته روان شوچې هلته په رسیدو نه یوازې د تحریک له شرعي کردار څخه مطمئن شو بلکې د ټولو علماء کرامو په ګډون یې د تحریک له مشر ملامحمدعمرمجاهدسره بیعت هم ترسره اواعلان کړ.

دعارف صاحب نیږدې ملګری او د اسلامي امارت د واکمنۍ په مهال دسړي میاشتې دټولنې مشر ښاغلی مولوي عصمت الله عاصم وایي چې کله مونږ له جناب عالیقدرامیرالمومنین سره بیعت ترسره کړ زمونږ په ډله کې د مشرقي ولایتواکثره مشران ملګري لکه ( مولانابرهاني صاحب ، مولوي نورجلال صاحب،مولوي عزت الله ، مولوي نجیب الله ، مولوي رستم ، مولوي رحیم الله اومولوي رحم الدین ) شامل وو.

په دغه وخت کې مولوي عبدالباقي حقاني اومولوي عبدالقدیر صاحب د ملګرو په مشوره په پیښورکې د ملګرو د تنظیم اوتشکیلاتو برابرولو په منظورغوره اوپاتي شوي وو. عاصم صاحب وایي: مونږ ټول ډیرخوشحاله وو ، خوعارف صاحب دومره متاثره و چې ترډیره وخته به یې ویل چې افغانانو او په خاص ډول علماء کرامو او طالبانو چې د کوم امیر تلاش کاوو هغه اوس الله تعالی پرې لورولی دی.





## دژوندوروستی ورځې

ځرنګه چې الله تعالی عارف صاحب ته داستعداداواطاعت ځانګړي خزانې اوانعامات وربښلي وو په عالیقدرامیرالمومنین اومرحوم ملامحمد رباني صاحب اود امارت په نورومشرانوباندې خورا ګران اوشفقت به یې پرې کاوه ، ددعوت اوجلب کاربه یې ځینې اخیست،د سیاسي او اداري امورویه برخه کې به یې مشورې ورځخه اخیستې د ختیځوولایتونو له ولس سره دارتباط اوهلته دتحریک د ورتګ د زمینه سازۍ په باب به یې دعارف صاحب رول اواغیزته په درنه سترګه کتل .

خواالله تعالی ته مقدره اومحبوبه داګرځیدلې وه چې د بصیرت ، تقوا، عرفان اوکمال دغه ستوری نورله دې فاني دنیاڅخه ابدي دنیا ته وغواړي ، هماغه وو چې د ملاصاحب او د حاجي معاون صاحب W په مشوره عارف صاحب سره له ګډوملګرو د نیمروزولایت له فتحې وروسته نوموړی دې ولایت ته واستول شوترڅو هلته د نوموړي ولایت اداري اوجهادي امورتنظیم اوهلته یوه فعاله اداره جوړه کړي، خوچون داسلامي امارت هرملکي نظامي وي اوهرنظامي ملکي اوله هریوه تن اومسول سره دااحساس و ي چې ځنګه مصدر د خدمت اواطاعت وګرځي ، نوعارف صاحب به هم دولایت د نورو امورو د پرمخ بیولو ترڅنګ په جهادي اونظامي برخه کې هم فعاله برخه اخیسته.

هماغه و چې په نیمروزولایت دشر او فساد د لښکرو له لوري دیوه سخت تعرض او مخامخ جګړې په نتیجه کې جناب عارف صاحب د۱۹۹۵م کال دمی میاشتې په ۱۵ نیټه دلوی اخترپه ۴ ورځ دشهادت لوړمقام ته ورسید( اناالله وانالیه راجعون )

دیادونې وړده چې عارف صاحب په داسې حال کې شهید شو چې له نیمروزولایت څخه طالبانو عقب نشیني کړي وه، کله چې په دوهم ځل د نیمروز ولایت فتح شو، نوبیادعارف صاحب ددفن ځای پیدا او جسدمبارک یې ړومبی کندهارته نقل او بیا د هغه د والدګرامي په ډیراصرار خپلې پلرنۍ سیمې چهاردهي ته راوړل شو، الله تعالی دې ددغې عظیمې هستی جهاد ي اوعلمي کارنامي ، سیاسي

اواجتماعي خدمتونه په خپل دربارکې قبول وگرځوي ،لاردې له لارويوڅکه اوجنت الفردوس دې يې نصيب وگرځي آمين

په پای کې درسره د هيواد د وتلي او منلي شاعر فضل ولي ناگار صاحب هغه شعر شريکوو چې د شهيد عزت الله عارف په اړه يې ليکلی دی.

## شهيد عزت الله عارف ته!

کارنامو د ننگ او پت ته مو عنوان يې نوی نوی
رنگ دې واخيست له ايمانه ته داستان يې نوی نوی
ستا د وينو احسان مني د وطن د غرو گلونه
د هر چا زړه کې غوړيږي يو ارمان يې نوی نوی
د روضې کوترو ټولو درته غومبر اچولی
لکه لال لکه شفق يې بدخشان يې نوی نوی
کونړی دې ده هنداره د سپين غره د بوډی ټاله!
په فضا مو د رنگونو کهکشان يې نوی نوی
له جنگ سترې قام به چيرې هېر پيغام د سولې نکړي
چې جرس په چيغو چيغو د کاروان يې نوی نوی
زلمکي پکتياني څرخ خوري د ايپي فقير دوهی ته
د لالي وزير په غوږ کې يا قربان يې نوی نوی
څه تلپاتې مقام درکړ شهادت ډک له ويارونو
د تاريخ په هره پاڼه نقش افغان يې نوی نوی
د ژوندون واړه کيسې به شي زړې او تبرې هيرې
د ناگار د شعر شپيلی کې يو آذان يې نوی نوی





## دشهيد ملامحمد آخند جهادي ژوندته کتنه

ليکنه: شاهد غزنيوال

اتل شهيد ارواښاد ملامحمد V داسلامي امارت يوله هغو مهمو بنسټ ايښودونکوڅخه دی چې دده ترجهادي روزنې لاندې داسې پوځي اوجهادي شهکاران روزل شوي چې نن يې دجهاد اومقابلې په ميدان کې دنړيوال کفر ټول روزل شوي پوځي جنرالان دهغوئ له ټولو پرمختللیو وسلو اوامکاناتوسره سره په گونډوکړي دي.

ددغو جهادي اتلانو له هرې جهادي کارنامې اودهغوئ په عملياتي محاذونوکې دهرپوځي بريالیتوب په مهال دشهيد ملامحمد نوم نورهم ژوندی اوده دجهادي مدرسې شاگردان يې په نوم اخيستلو فخر کوي .

شهيد ملامحمد V دطالبانو داسلامي تحريک دمؤسسينوپه جمله کې داسې يو شخصيت و چې دپخواني شوروي اتحاد ديرغلگر سره پوځ په مقابل کې دهيواد د جنوب لويديځ زون په کچه ښه جهادي شهرت درلود اوبيا يې له همدغه جهادي شهرت نه په استفادي سره دطالبانو داسلامي تحريک دتاسيس په مهال دمفسدينو خلاف پاڅون کې بارز رول ولوبااوو. ديرغلگرو شورويانو ،دهغوئ دمزدورانو اومفسدينو په خلاف مبارزې کې دغه نه سترې کيدونکی جهادي متمايز شخصيت ددې مستحق دی چې جهادي کارنامې يې دافغاني تاريخ په پاڼوکې په زرينو تورو وليکل شي ترڅوزمونږ راتلونکی نسل تري مستفيد اوله يرغلگروسره دجهاد اومقابلې په ډگرکې تري گټه واخلي.

**پيژندنه :**

اتل شهيد ملامحمد V په ۱۳۸۲ هـجري قمري کال کې دکنـدهار ولايـت د ارغنداب ولسوالۍ دمنارکلي د مرحوم مولوي عبدالواحد په علمـي کـورنۍ کـې دغـې فاني نړۍ ته سترګې پرانستلې.

نوموړي خپله علمي زده کړه له خپل مهربان کاکا مرحوم مولوي نورمحمد څخـه پيل کړه او ويې کړای شول چې په ډيرکم وخت کې هغه تر منځنـۍ مرحلـې پـوري پـه کاميابي سره ورسوي .

**جهاداومبارزه يې:**

شهيد ملامحمد V لاهماغه مهال په ديني مدرسه کې په خپلوزدکړو لګياوو چې شوروي يرغلګرو زمونږدهيواد په سپيځلي حريم يرغل وکړ، که څه هم چې پـه دې وخت کې ملامحمدآخند دعمر له لحاظه کم سنه و خو غيرتي لوي زړه يـې دانـه منلـه چې خپلې زدکړو ته په داسې حال کې دوام ورکړي چې هيواد يـې ديرغلګـرو تراشـغال لاندې وي .

هماغه و چې زده کړې يې نيمګړې او له دغو يرغلګروسره دمقاومت اوجهاد لپاره دسيمې دمشهورجهادي قومندان شهيد لالا ملنګ V جهادي جبهې ته ولاړ .

شهيد ملامحمد آخند په ډيرکم وخت کـې دمجاهدينوپـه مـنځ کـې ديـوه مـاهر جهادي مشرحيثيت خپل کړ او نورومجاهدينوبه دخپلو جهادي پروګرامونو دپلي کولو په مهال تل دده مشورې اولارښوونې په ډيرغورسره اوريدلې .

نوموړي ديرغلګرو روسي پوځونو په خلاف خپل جهادي فعاليت دکنـدهارولايت دمحله جات ،خوشاب ،پاشمول اوچارباغ له سـيموڅخه پيـل اوپـه دغوسـيموکې يـې د دښمن دځواکونو دپـوځي فعـاليتونو دمخنيـوي پـه غـرض دعمليـاتو لـومړنۍ حلقـوي کمربند ايجادکړ .





ددښمن په مقابل کې دجګړې ددغې لومړۍ کرښې اداره اوتنظيم ټول خپلـه دده لخواترسره کيـدل اودغـه پـوځي تکتيـک ددښـمن دځواکونـو پـه محـاصرې اودهغـوئ دپوځي تحرکاتو په مخنيوي کې ډير اساسي رول درلود.

نوموړي وکـولای شـول دهمدغـه پـوځي تکتيـک پـه وسـيله دلـومړي ځـل لپـاره دکندهارولايت دبابا صاحب مشهوره ولسوالي فتح اوهالته ددښمن ټول موجود جنګـي وسايل غنيمت کړي .

دشهيد ملامحمد يوتن نيږدي اوهميشنی ملګری حاجي رحمت الله دهغه دپوځي پوهي اوزړورتيا په اړه داسې وايي :

يوځل مو دکندهارولايت ښارته نيـږدي دروسي ځواکونـو يـوې پـوځي ګزمـې تـه کمين ونيو ،دغه ګزمه د ددريو روسي زرهپوشونوپه وسـيله تـرسره کيـده، مجاهـدينو دملامحمدآخند په مشرۍ په دغه ګزمـه ناڅـاپي بريـد وکړچـې پـه تـرڅ کـې يـې دوه زرهپوشونه تخريب اويوپه تيښته بريـالی شـو نومـوړي دهمدغـه تښـديدلي زرهپـوش عسکرهم تعقيب کړل اوويې ليدل چـې هغـوئ دسرک پـه سر توقـف وکـړ اودري تنـه روسي پوځيان تري راکوز او دسرک بلې غاړې ته په يوه ګوښه کې کيناستل .

دغه دری تنه پوځيان ټـول پـه روسي وسـله کلاکـوف مسـلح ول اودری واړوسره خپلې وسلې ترڅنګ ايښې وې .

شهيد ملامحمد يوناڅاپه پرې دتکبيرپه ويلو سره فيرونه پيل کړل ، دری واړه يې ځای په ځای ووژل او کلاکوفونه يې تري غنيمت کړل .

په جنوب لويديځ زون کې دروسي يرغلګروپه خـلاف دمقاومـت مشـهوره جبهـه دشهيد لالاملنګ جبهه وه چې د زون په کچه تر ټولومشهور مجاهـدين لکـه شـهيدملا بورجـان، ملامحمدحسـن رحـماني، حـاجي لالا اوقومنـدان عبـدالرازق ددغـې جبهـې پياوړي مجاهدين ول .ددغونوميالیوپه جمله کې يوهم شـهيدملامحمد وچـې دټولوپـه منځ کې يې په ښواخلاقو ،ښه عسکري مهارت ، ښه تقوی اوجهادي زړورتيانوم وړی و.

## دطالبانوداسلامي تحريک په تأسيس کې دشهيدملامحمد رول.

په افغانستان کې دکمونيستي رژيم له نسکوريدو وروسته په ټول هيوادکې تنظيمي نارواجګړې پيل شوي، دغوخونړيوجګړو افغان مجاهد ملت ټول هغه ارمانونه خاورې کړل چې دترسره کيدولپاره يې ديونيم ميليون انسانانو پاکې وينې تويې شوې وې.

دغه ناوړه حالات دهيڅ مسلمان هيوادپالونکي افغان لپاره دمنلو وړنه وو، اوهماغه وو چې دهغه دبدلون لپاره دطالبانوداسلامي تحريک دمؤسس ملامحمد عمرمجاهد لخوا دطالبانو د اسلامي تحريک بنسټ کيښودل شو.

ددغه تحريک دلومړنيوبنسټ ايښودونکوله جملې څخه يوهم شهيد ملامحمد و چې په خپلو بيسارو قربانيو او موفقو پوځي تکتيکونو سره يې د هيوادپه جنوب لويديځو ولايتونوکې د دغه اسلامي تحريک لپاره دموفقيت لاره پرانسته .

دشهيد ملامحمد يونيژدي ملګرى حاجي لالا دتحريک په تأسيس کې دنومورې درول په اړه داسې وايي:

په کابل کې دنجيب دګوډاګي رژيم تر ړنګيدو وروسته مونږ يوه سل کسيزه ډله مجاهدين کابل ته ولاړو اوهالته مو دافغانستان دجهاد له يومشهورجهادي شخصيت ارواښادمولوي محمديونس خالص صاحب سره وليدل.

مولوي محمد يونس خالص V چې دروسي يرغل په مهال دافغانستان داسلامي حزب په نوم ديوه جهادي تنظيم مشر اوزمونږجبهه هم دنومورې دتنظيم مربوط جبهه وه زمونږلپاره يې ديوه قابل قدرعالم جهادي لارښود حيثيت درلود.

مونږله نومورې څخه دکمونيستي نظام له ړنګيدو وروسته دخپلو راتلونکو پروګرامونو په اړه مشوره وغوښتله چې نومورې داسې راته وويل:

يواځې دکمونيستي رژيم په ړنګيدلوسره دجهاد اهداف نه دې ترسره شوي اونه هم دمجاهدينو آرمانونه پوره شوي.





تاسوبه خپلې وسلې اوټول جهادي امکانيات خوندي ساتئ اودهيڅا په پلوي به هم په تنظيمي نارواجګړوکې ګډون نه کوئ !

تاسو زما دغه پيغام په جنوب لويديځ زون کې زمادتنظيم مربوط ټولو مجاهدينوته هم ورسوئ اوهغوئ ته ووايياست چې دکوم هدف لپاره چې مونږ جهادپيل کړى وو هغه نه دى ترلاسه شوى.

تاسو کوښښ وکړئ چې خپل جهادي تشکيلات اوعسکرجبهې همداسې محفوظې وساتئ اوله تنظيمي جګړو ليري اووسئ.

حاجي لالا وايي: کله چې مونږله کابل نه بيرته کندهارته راغلو او دخالص بابا مرحوم توصيې اولارښونې مو شهيد ملامحمد ته ورواورولې نومورې سمدستي خپل ټول مجاهدين راټول اوهغوئ ته يې دخپل جهادي مشر- محترم خالص بابا توصيې اوهدايات ابلاغ کړل، اوترهغه وروسته يې دجبهې ټول پوځي وسائل رايوځاى ،دهغه دساتنې اومراقبت لپاره يې ځانګړي کسان تعين کړل اوددې کارترڅنګ يې دمجاهدينو دديني اوعلمي زدکړو دتدريس لپاره دديني علومويوښه ماهر استاد هم په جبهه کې مقرر کړ اوټول مجاهدين يې ددشرعي زدکړوپه تعلم مکلف کړل، تردي چې په ډيرليږوخت کې زمونږ عسکري جبهه دديني زدکړو دتعليم په يوه ښه مدرسه بدله شوه.

دغومجاهدينوته به دشهيد ملامحمد په لارښونه شرعي اوعسکري تعليم ورکول کيده اودهغوئ دفکري روزنې خاص اهتمام به کيده.

داهغه مهال و چې ټول هيواد دخپل منځي ورانوونکوجګړو اورونوپه سراخيستى و، فساد ،غلا ،قطاع الطريقي اوبدامنى اوج ته رسيدلې وي .

دروسي اشغال په خلاف جنګيدونکي يوشميرمخلص مجاهدين ددغو زړه دردوونکو حالاتو په ليدلو ډيرځوريدل ، هرڅوک له دغو ويرجنوحالاتو څخه دنجات په تمه ناست ول ،هماغه وو چې ددغه ملي نجات لپاره دملامحمد عمرمجاهد له لوري

دطالبانو اسلامي تحريک تاسيس اودهيواد له گوټ گوټ نه ټول مخلص مجاهدين دنجات اوژغورنې له دغې قافلې سره يوځای کيدل .

شهيدملامحمدآخند چې دتحريک دمشرتابه له نيږدي مخلصو جهادي ملگروڅخه و اوله ډيره پخوا لا دفساد له منځه وړونکي اسلامي تحريک دتأسيس په انتظار و لومړنی جهادي قومندان و چې چې له تحريک سره يوځای او خپل ټول پوځي امکانات اوتربيه شوي مجاهدين يې دتحريک خدمت ته وسپارل .

دشهيد ملامحمد روزل شوي مجاهدين لومړني کسان ول چې دخپلو نيکو اخلاقو اومجربو جهادي تکتيکونوپه وسيله يې وکولای شول په ډيره کمه موده کې دهيواد دجنوب لويديځ زون ټولې سيمې دمفسدينو اوتنظيمي جگړه مارانو له شره خلاصې اوهالته دسولې او امن په فضاکې شرعي نظام پلی کړي.

هماغه و چې دطالبانو دتحريک مشرتابه شهيد ملامحمد دخپلې پوځي پوهې اوښې جهادي سابقې له مخې ددغه تحريک دعمومي نظامي قومندان په توگه تعين اودټولو عسکري سوقياتو مسؤليت يې همده ته وسپاره .

## دتحريک ترتأسيس وروسته دشهيد ملامحمد آخند پوځي کارنامې .

وروسته تردې چې په ۲۱/۸/۱۳۷۳ هجري شمسي نيټه دکندهار ښار دطالبانوترولکې لاندې راغی شهيد ملامحمدآخند دطالبانو دعمومي نظامي مسؤل په توگه دکندهار دگاونډيو ولايتونو دتصفيې لپاره يوپوځي پلان طرحه اودهغه په مټ يې وکړای شول چې په ډيرې کمې مودې کې دهلمند ،فراه او نيمروز ولايتونه يوپه بل پسې دتنظيمي جگړه مارانوله شتون نه تصفيه کړي.

نوموړي ددغو تصفيوي عملياتوپه ترڅ کې دفراه ولايت دلارام ولسوالی په سنجيلان سيمه کې ديوې درنې جگړې په ترڅ کې دمخالفينوسلگونه تنه وسله وال کسان اسيران کړل چې له ډيرمحدودوخت وروسته سمدستي يې هغوئ ټول بيرته ازاد





اوخپلو ملگروطالبانوته يې له نوموړيو اسيرانو سره دنيکې اسلامي رويې کولو مکررې توصيې کولې.

ددغو تصفيوي عملياتو په وروستيوکې دمخالفينو له خوا ديوه ځای په ځای شوي ماين په وسيله سخت زخمي اوهغه عملياتي پروگرام چې ده دهرات ولايت دتصفيه کولو په نيت پيل کړی وو همداسې نيمگړی پاتې شو.

شهيد ملامحمد لا له خپل زخمي حالت نه سم نه وو روغ شوی چې بيرته دجگړې لومړی کرښې ته ولاړ اوهلته يې دمخالفينو په خلاف د پيل کړل شوې جگړې مشری په غاړه واخيسته اودخپل ځانگړي پوځي مهارت له مخې يې وکړای شول چې دجگړې لومړی کرښه دهرات ولايت ته ورسوي .

## دشهيد ملامحمد دجهادي ژوند ځيني ځانگړتياوې.

ديني چاپيريال اوکلکه ايماني عقيده هغه څه دي چې دمسلمانانوپه منځ کې دجهاد اوسرښندنې لپاره داسې کسان تيارکړي چې هغوئ وکړای شي دخپلو فداکاريو اودالله په لاره کې دزحمتونوپه گاللو سره مستضعفين اواسکيرلي د مستکبرينو له استکبارڅخه وژغوري.

دغه جهادي اتلان دجهاد اومبارزې دقيادت لپاره په خپل ژوند کې يولړ خاص امتيازات اوځانگړنې لري چې ارواښاد شهيد ملامحمد آخند هم له دغو امتيازاتو بې برخې نه و.

مونږغواړوپه لنډه توگه دنوموړي دجهادي ژوند ځينوځانگړتياووته اشاره وکړو.

۱ــ بې کچې تقوی اوله الله تعالی ويريدنه دنوموړي يوخاص امتياز و،دغه امتيازبه هغه وخت سړي ښه محسوس کاوو چې کله به دی دشپې مهال په تياره شپه کې الله تعالی ته په رازاونيازولاړ اوياهم دقرآن کريم تلاوت کاوو .

۲ـ له دښمن سره دمخامخ کيدوپه مهال بي ساري زړورتيا او جديت اوپه خپلو مجاهدينو وروڼو دنوموړي شفقت اوخواخوږي بل هغه څه و چې هغه يې دنوروجهادي مسؤلينوپه جملې کې په يوه متمايز شخصيت مشهورکړی و.

۳ــ دعلماوو اومشرانويې ډيراحترام کاوو اوپه هرکارکې به يې له هغوئ مشوره غوښته .

۴ــ حلم ,حياء اوايثار به يې ډيرخوښيدل اوپه خپله يې هم په کور،جبهه اومدرسه کې له خپلو ټولو ملګروسره له دغو غوره اسلامي اخلاقو څخه کاراخيست .

۵ـ دژوندپه هرحالت کې به يوه حال و ، نه له ډيرو مشکلاتوسره دمخامخ کيدو په مهال له وارخطايي سره مخ کيدو اونه به دډيرې خوښۍ اوسوبې په حال کې ځان ترې ورکيدو.

٦ـ دژوند حالت يې ډير ساده وو،عيش پرستي اوهوس رانۍ يې بلکل نه خوښوله له رياوتظاهر څخه يې ډيربدراتلل ، دبيت المال له پيسو څخه يې ځان ډيرليري ساتو اودژوند تراخيرې شبيې پوري يې له بيت المال څخه دخپلوشخصي کارونو لپاره هيڅ استفاده ونه کړه.

۷ــ له معاصي ووڅخه يې ځان پاک ساته، دهيڅا غيبت يې نه کاوو اونه به يې دچامخامخ توصيف کاوو .

۸ ــ په جهادي چارويې ډيرهتمام کاوو، دوسلو اونورو عسکري وسايلو اوپوځي تکتيکونه زده کړه يې دژوند مشغله وه له پوځي وسائلوسره دنوموړي دبي ساري مينې په اړه دده يونيږدي ملګري حاجي لالا داسې وايي :

ملامحمد مرحوم له هرډول وسلې سره بي کچې مينه لرله ،خپله وسله به يې يواځې دلمانځه په مهال له اوږې ښکته کوله اونوربه يې په هرحال کې هغه له ځانه سره ګرځوله، په کال ۱۹۹۰ کې چې کله مجاهدينو دزابل ولايت په جګړه کې له کمونستانو ډيره وسله غنيمت کړه نودنورو جبهو اکثرو مجاهدينو دغنيمت هغه





وسلې چې ددوئ په سهم رسيدلې وي خرڅې کړې، خوملامحمد مرحوم بيا دهغوئ برعکس دخپل سهم په ساتلو برسيره ددي کوښښ کاوه چې دنورو سهمونه له هغوئ په قيمت واخلي اوداداسې مهال وو چې زمونږ دجبهې مجاهدين په اقتصادي لحاظ ډيرتنګ لاسي هم ول .

نوموړی وايي : شهيد ملامحمد ددغو غنيمتونوله جملې څخه دوه روسي ډي سي ډوله توپونه په ډيره لوړه بيه واخيستل اوبيا يې يو خاص پوځي صاحب منصب هم په خپله جبهه کې مقرر کړ چې مجاهدينو ته ددغو توپونو ټريننګ ورکړي.

۹ ــ ملا محمد آخند چې د طالبانو د تحريک لومړنی عمومي نظامي قومندان او په عين حال کې يې د کندهار د قول اردو د قومندانۍ مسؤليت هم درلود د هيواد په جنوب لويديځ هلمند، نيمروز او فراه کې ډيری فتوحات دده تر مشرۍ لاندې د مجاهدينو په نصيب شول. دغه راز د ميوند، پنجوايي او ډنډ له نيولو وروسته د کندهار ولايت په بولدک ولسوالي او د کندهار په ښار د طالبانو د فاتحانه هجوم په مهال هم نظامي مشري دده په غاړه وه. نوموړی يو ځيرک، تجربه کار او پرهيزګار نظامي مشر و او جهادي چارې يې په ډير ديانت او هوښياری سره پرمخ وړلې.

نوموړي چې د پاڼکيانو او تنظيمي مفسدينو په ضد د جګړو مشري يې کوله عمده هدف يې د افغانستان مظلوم اولس د تنظيمي ټوپکيانو له شره خلاصول و. نوموړي به زياتره جهادي عمليات او تعرضونه د شپې لخوا په تياره کې ترسره کول.ده به ويل مورِ دا نه غواړو چې په جګړه کې ډير خلک ووژل شي.هغوی که څه هم زمورِ مخالفين دي مګر زمورِ پرې پيرزو نه ده چې په دې جګړه کې او د فساد په صف کې ووژل شي. مورِ غواړو چې له دوی څخه وطن خلاص کړو او يوازې يې تيښتې ته اړ کړو. ځرنګه چې په شپه کې دوی ته د تيښتې فرصت ډير وي نو ځکه مورِ وربانديې په شپه کې تعرض کوو، تر څو مقاومت ونه کړي او د تيښتې لار غوره کړي.

**اوبالآخره شهادت يې.**

**لـه ډيروخـت جهـاد اوفـداکاريو وروسـته بـالاخره دغـه دالله دلاري نـه سـتړی کيدونکی مجاهد ،اتل غازی اوخواخوږي مسؤل هم خپل ارمان ته درسيدوپه لارکې لـه مخالفينو سره د يوې مخامخ نښتې په ترڅ کې په ۱۲/٦/۱۳۷۴ هجري شمسي نيټه کـې د هلمند او فراه په حدودو کې د شوراب دښـت پـه سـيمه کـې پـه شـهادت ورسـيدو اوخپله ستړې روح يې په هيوادکې ديوه شرعي نظام دحاکميت په هيله دهغې حقيقـي مالک ته وسپارله .**

**رحمه الله تعالی**

❊ ❊ ❊





## دنومیالي جهادي قومندان شهید ملا مشر اخند ژوند ته کتنه

**لیکنه: قاري سعید**

**کله چې په افغانستان کې دفساد او فتنو په مقابل کې دعلماء کرامـو پـه مشرۍ دطالبانو اسلامي تحريک راپورته شو، نو داسلامي تحريک په بيلابيلو وظـائفو کـې يـوه مهمه وظيفه دمجاهدينو دنظامي مشرتابه او په جګړه ايزو حالاتو کې دپـوځي رهـبرۍ وه .**

**ددې وظيفې دترسره کولو لپاره اسـلامي امـارت لـه پيلـه خـورا غښـتلي، زړور او فداکار جهادي مشران درلودلي دي ، چې له دې جملې يو پيژندل شـوی شخصـيت پـه ملا مشر مشهور شهيد ملاعبدالقيوم دی .**

**شهيد ملا مشر اخوند يو له هغو ځيرو څخه دی ، چې داسلامي امارت په تأسيس او پراختيا کې يې خورا ستر کردار ادا کړی. ډيـره مـوده داسـلامي تحريـک دجهـادي لښکرو مشر پاته شوی او دنوموړي په مشرۍ مجاهـدينو خـورا ډيـر فتوحـات لاسـته راوړي. ددې په ځای چې دنوموړي په جهادي کردارونو او دشخصيت په ځـانګړنو رڼـا واچوو، له هرڅه وړاندې غواړو دنوموړي لنډه پيژندنه درته وړاندې کړو .**

### پيدايښت او ابتدائي حالات يې

**دملا مشر اصلي نوم ملاعبدالقيوم دی، نوموړی چې دپښتنو له ترين قوم څخه و په ۱۹۴۵ م کال کې دروزګان ولايت دګيزاب ولسوالۍ په مرکز چونۍ بازار سيمه کـې دنيا ته راغلی .**

**دشهيد ملامشر دپلار نوم ملاعبدالشکور او دنيکه نوم يې مـلا مـؤمن وو ، ددوی کورنۍ له ډير پخوا څخه دعلماء او نيکانو کورنۍ پاته شوې . دمـلا مشرـ اخونـد پـلار**

ملاعبدالشکور دری زامن درلودل ، مشر یې ملاعبدالغني ( دروس ضد جهاد کې شهید شوی ) دوهم یې ملاعبدالقیوم ( شهید ملا مشر ) او دریم یې ملاعبدالرؤف نومېده چې هغه هم دشورویانو په ضد جهاد کې په شهادت رسیدلی .

ملامشر اخند خپلې ابتدائي زده کړې ، په خپل کور کې ترسره کړې او وروسته یې دکندهار په بولدک او دبلوچستان په پښین سیمه کې په مختلفوکلیوالو مدرسو کې خپلو دیني زده کړو ته دوام ورکړی، تردې چې خپل دزدکړو سفر یې تر سادسه درجې پورې ورساوو، چې په دې مهال په افغانستان شورویانو یرغل وکړ ، او ملامشر اخوند ددرس او تدریس په ځای دکفارو په مقابل کې جهاد ته خپل پاته ژوند وقف کړ .

## په ملامشر دنومېدو وجه

ډیر لږ کسان به داسې وي ، چې دشهیدملامشر اصلي نوم ملاعبدالقیوم بـه یـې زده وي ، ځکه نوموړي له تاندې ځوانۍ څخه بیا په ۵۰ کلنۍ کې دشهادت تروختـه د هرچا لخوا یوازې په همدې نوم ( ملامشر اخند ) سره پیژندل کیده ، او همدې نوم یې داصلي نوم ځای نیولی و .

کله چې ملامشر طالب و، نوموړي دطالبانو ترمنځ د زورآزمویلو او پهلوانۍ دلوبو په مهال همیشه په ډیر قوت او بهادرۍ مشهور و، تردې چې په خپل مهال کله هم کوم سیال په پهلوانۍ کې ماته نه وه ورکړې، لـه همـدې املـه نومـوړي دخپلـو ملګـرو ترمنځ په ملا مشر سره شهرت ومونـد، چې وروسته یې همـدې افتخـاري لقـب داصـلي نوم ځای ونیو او په ملامشر سره مشهور شو .

## دروسانو په خلاف جهاد

کله چې په افغانستان کمونیسـتي نظـام حـاکم شـو او ورپسـې دشـوروي اتحـاد یرغلګرو عسکرو په افغانستان برید وکړ ، ملامشر اخند دا مهال دپاکستان دبلوچستان دپښین په سیمه کې په یوه کلیواله مدرسه کې دینـې زده کـړې کـولې، چـې دجهـادي قیام په پیل سره یې دخپلو وروڼو غوندې ځان جهاد ته وقف کړ .





په دې مهال دافغانستان په جنوب کې یوه مشهوره جهادي جبهه دزابل په ولایت کې د آمر موسی کلیم جهادي جبهه وه چې ترډیره طالبان او علماء پـه کـې راتـول وو. ملامشر اخند هم لومړی خپل جهادي عملیات دآمر موسی کلیم ترمشرۍ لاندې دزابل ولایت په مربوطاتو کې پیل کړل .

په زابل ولایت کې له څـو کلـن جهـادي خـدمت څخـه وروسـته ملامشر اخنـد کندهار ته راغـی او دلتـه یـې دمولـوي عبدالسـتار او حـافظ عبـدالکریم پـه جهـادي جبهاتو کې څه موده جهادي خدمت وکړ او وروسته یې دقومندان رازق په جبهـه کـې جهادي خدمت پیـل کـړ . دا جبهـه چـې مرکزونـه یـې دکنـدهار دارغسـان ولسـوالۍ دچغني په غره کې وو، زیاتره عملیات یې دکابل ــ کندهار په لویه لار او دکنـدهار پـه پنجوایي ، ډنډ او ژړۍ ولسوالیو کې کـول ، دغـه راز یـې د کنـدهار پـه ښار کـې هـم چریکي ګروپونه درلودل .

دقومندان رازق جبهه هاغه مهال یوه لـه مشـهورو جهـادي جبهـو څخـه وه چـې زیاتره په کې طالبان راټول شوي وو. دملامشر اخوند په شان د اسلامي امارت څـو نـور پیژندل شوي مشران لکه مرحوم ملامحمدرباني، شهید ملایارمحمد، ملامحمـد غـوث، ملامحمدعیسی او ملا احمدالله هم هغه مهال په همدې جبهه کې پـه جهـادي خـدمت بوخت وو .

دکندهار ولایت لپاره داسلامي امارت جهادي مسؤل ملامحمد عیسی اخند چـې دروس ضد جهاد په مهال دزابل او کندهار په جبهاتوکې دملامشر اخنـد سره یوځـای پاته شوی دی وایي. چې شهید ملامشر اخند دزابل او کندهار په دواړو جبهاتو کې پـه پوره متانت سره جهادي دنده ترسره کړه ، او په ډیر لږ وخت کې دیـوه غښـتلي ، زړور او مخلص مجاهد په صفت وپیژندل شو .

دملامشر اخند همدا فداکاري او لوړ جهادي استعداد و چې دخپلو ملګرو ترمنځ یې ډیر رسوخ ومونـد او دیوه جهادي مشر په حیث راڅرګنـد شـو، سره لـه دې چـې دا

مهال دجبهې عمومي قومندانان نور وو خو ډير ځله به دجګړې په وخت مشري دملامشر اخند په غاړه وه .

د روس ضد جهاد په مهال ملامشر اخند څو ځله له سختو خطراتو سره مخامخ او ټپي شو، يو ځل دکندهار هوايي ډګر ته نږدې دخوشاب په سيمه کې له شوروي عسکرو سره په مخامخ جنګ کې ډير سخت ولګېد او ژامه يې سخته ټپي شوه .

د کمونيزم ضد جهاد په وروستيو کلونو کې ملامشر اخوند له کندهار څخه خپل اصلي ټاټوبي روزګان ولايت ته ولاړ او هلته يې دمجاهدينو ديوه ګروپ مشري په غاړه واخيسته او ترهغه وخته يې مسلح جهاد ته ادامه ورکړه ترڅو جهاد بريا ته ورسيد او کمونست رژيم له منځه لاړ .

## داسلامي امارت په صف کې خدمت

کله چې دکمونيزم په ضد جهاد بريالیتوب ته ورسيد ملا مشر اخند د ډيرو واقعي مجاهدينو غوندې خپله وسله په ځمکه کيښوده او په خپل اصلي وطن دارزګان په ګيزاب کې يې غريبانه ژوند پيل کړ. مګر نوموړي وليدل چې د يوشمير بې احساسه خلکو او ټوپکيانو لخوا دجهادپه ارمانونو لوبې روانې دي ، دقدرت لپاره دجنګ لويه فتنه رابرسيره شوه او په افغان اسلامي وطن کې دهيڅا هم سر او مال په امن نه دی ، همدې حالت شهيد ملا مشر اخند هم دنورو واقعي مجاهدينو غوندې په دې فکر کې کړ، چې بايد د روان زياتيدونکي فساد او هرج ومرج دمخنيوي او محوې لپاره يوه لاره وسنجول شي .

نوموړی له خپلو ملګرو سره په همدې فکر کې و چې په کندهار کې دملامحمد عمر مجاهد په مشرۍ دطالبانو اسلامي تحريک پيل شو. ملامشر اخند له هغو کسانو وو چې دپيل له لومړيو مراحلو له دې تحريک سره ملګری شو او په کندهار او دافغانستان په نورو برخو کې يې دتحريک په پراختيا کې خورا ستر نقش ولوباوو .





دتحريک له تاسيس وروسته کله چې دلوی کندهار حوزه دطالبانو لاس ته ولوېده، نو طالبانو دغزني، کابل او پکتيا په خوا پرمختګ پيل کړ. همدا کاروان چې وروسته غزني، وردګ، لوګر، پکتيا، پکتيکا، خوست او آن دکابل لمنو ته ورسيدو، ملا مشر اخند په کې ديوه مشر ملګري په حيث برخوال و . ملامشر- اخند وروسته په ميدان ښار کې دطالبانو ددفاعي خط مسؤل وټاکل شو، چې په پلازمينه کابل دبريدونو مسؤليت به هم دده په غاړه و .

ملا مشر اخند چې د اميرالمؤمنين ملا محمد عمر مجاهد ډير نږدې او اعتمادي ملګری و او په جهادي امورو کې يې په ده باندې ډير باور درلود، ډيرځله به دملاصاحب لخوا هغو سيمو ته ليږل کيده چې مجاهدين به له مشکلاتو سره مخامخ وو.

د ۱۹۹۵ م کال داګست مياشتې په اواخرو کې کله چې دتورن اسمعيل لخوا په هلمند ستر برید وشو او مجاهدين له ډيرو مشکلاتو سره مخامخ شول، ملامحمدعمر مجاهد ملامشر اخند چې دا وخت د ميدان ښار دخط مسؤل و کندهار ته وغوښت او ورته ويې ويل چې ګرشک ته ځان ورسوي .

د دلارام او بکوا په جګړو کې دملامشر اخند په ګډون طالبانو دتورن اسمعيل خان کسانو او د مسعود کومکي ټوپکوالو ته سخت شکست ورکړ، چې په تعقيب يې فراه او هرات ولايتونه هم دطالبانو لخوا فتحه شول .

دهرات له فتحې وروسته ملا مشر اخوند بيرته دکابل خطوطو ته راوګرځيد او په پلازمينه کابل يې له غرب، جنوب او جنوب ختيځ څخه ځوځله سخت بريدونه وکړل ، چې په وروستي ځل خو يې خورا ډير پرمختګ هم وکړ او پلازمينه دفتحې په درشل کې وه، چې دکابل په جنوب ختيځ دقلعه فتح الله په سيمه کې ملامشر- اخند خپله ددښمن دبمبار په نتيجه کې په شهادت ورسېد .الله وانا اليه را جعون

دشهيد ملامشر اخند جسد خپل پلرني وطن دروزګان ګيزاب ته انتقال شو ، او همالته په خپله هديره کې خاورو ته وسپارل شو .

دشهادت په مهال د شهيد ملامشر اخند عمر ۵۰ کاله و او تر شايي دوه اولادونه بسم الله او رحمت الله پاته شول ، چې دشهادت په وخت يې دمشر زوی عمر دری نيم کاله او دکشر زوی شپږ مياشتې و. دملامشر اخند زامن اوس لله الحمد ځلميان دي او مشر زوی ملابسم الله يې په خپله سيمه کې دامريکايي يرغلګرو په خلاف دمجاهدينو ديوه ګروپ مشري کوي .

## دشهيد ملامشر اخند دشخصيت ځانګړتيا

شهيد ملامشر اخند دنوموړي دنړدې ملګرو او متعلقينو له مشاهداتو سره سم دخورا عالي شخصيت خاوند و. که له يوې خوا داخلاص، تقوا، قوي عزم او توکل درلودونکی و له بلې خوا خورا فقير مزاجه او بې تکلفه شخصيت هم و .

دنوموړي ملګري وايي چې ملامشر اخند له ټول جديت سره سره هميشنی خوشطبعي هم درلوده او کله ناکله به يې دجهاد په ډيرو سختو حالاتو کې په خوشطبعی سره دملګرو حوصله لوړه ساتله .

ملامحمدعيسی اخند وايي د دشوروي ضد جهاد په وخت کې دزابل ولايت په تازي سيمه کې ديوه سخت جنګ په مهال يې دملامشر اخند زړورتوب او متانت په خپلو سترګو ليدلی، دده په خبره هغه وخت چې له روسي عسکرو سره سخت جنګ روان و او دمرميو باران ورېده ملامشر اخند هغه يوازينی څوک و، چې بې له کومې ويرې مخ په وړاندې روان و او په روسي عسکرو يې حملې کولې .

ملامحمدعيسی اخند وايي: په پيل کې مجاهدينو په پخوانيو غيراتومات وسلو جهاد کاوو خو کله چې په کندهار کې جبهې ته په لومړي ځل يو ميل اتومات وسله کلاشينکوف راغله، نو دجبهې مشر د ټولو مجاهدينو له منځه ملا مشر اخند ته ورکړه ځکه چې په ده يې ترټولوړپر باور درلود او دښې وسلې مستحق ورته ښکارېدو .

ملامحمدعيسی اخند وايي: دملامشر اخند بله قهرماني دکندهار ښار په ښاري چريکي عملياتو کې وليدل شوه، يوځل دکندهار ښار د شکارپور دروازې په سيمه کې





دروسانو يو ټانګ چې روسي عسکر يې په سر ناست و، ملا مشراخند مخامخ حمله پرې وکړه، روسی عسکر يې مړ کړ، وروسته ورغی دوژل شوي روسي وسله يې هم ترلاسه کړه او ټانګ ته يې اور واچاوو .

د روس ضد جهاد دمهال غوندې داسلامي تحريک په وخت کې هم په مختلفو جګړو کې دملا مشر اخند زړورتوب، متانت او لوړه حوصله په بيا بيا مشاهده شوې ده. نوموړی تل دجهادي صف ترټولو سخت ځای ته ورمخته کيده، چې له همدې املـه نوموړی څو ځله ټپي شو او بالاخره شهيد هم په داسې مهال شو چې نورو ملګرو تـه پـه نجات ورکولو بوخت و .

## دملامشر اخوند شهادت

په ۱۳۷۴ هـ کال کې طالبانو دپلازمينې کابل دفتحه کولو لپاره خورا ستر عمليات په لاره واچول. دا عمليات چې په کابل باندې له لويديځ، جنوب او جنوب ختيځ څخه په يوه وخت پيل شوي و، طالبانو دجنوب ختيځ په جبهه کې خورا ډير پرمختګ وکړ . په همدې استقامت مجاهدينو د چکړي، بندغازي او نورې ګڼې سيمې ونيولې او حتی په ختيځ کې دپل چرخي ترمحبس پورې ورسيدل . په همدې استقامت ملامشر اخند په خپله په عملياتو کې برخوال او دجګړې په لومړۍ کرښه کې يې شتون درلود. خو د مجاهدينو داعمليات هغه مهال نيمګړي پاته شول او دفتحې ترسرمنزله ونه رسيدل کله چې دقلعه فتح الله په سيمه کې دعملياتو عمومي قومندان ملا مشر اخند په شهادت ورسيد . دعيني شاهدانو په وينا دکابل په جنوب ختيځ کې دقلعه فتح الله په سيمه کې د دښمن په بمبار کې ځيني مجاهدين ترنړيدلو ودانيو لاندې شول ، ملا مشر اخند چې عمومي مسؤليت يې هم په غاړه و له نورو مجاهدينو سره يوځای هڅه کوله ، چې تر ودانيو لاندې پاته مجاهدين راوباسي چې په دې مهال دمسعود الوتکو بيا بمبار وکړ او نوموړی يې له څو تنو نورو مجاهدينو سره يوځای په شهادت ورساوو . انا لله وانا اليه راجعون

## د کابل د فاتح شهید ملا بورجان اخند ژوند ته کتنه

لیکنه: شاهد غزنیوال

شهید ملابورجان چې اصلي نوم يې ملا امین الله دی دحاجي ملامحمد صادق زوي اودملا موسی جان لمسی په ۱۳۷۹ هـق ۱۹۵۸م کې دکندهارولایت د پنجوایي ولسوالۍ دتلوکان کلي په یوه دینداره اومجاهده کورنۍ کې دې فاني نړۍ ته سترګې غړولي دي .

### زده کړه اوتعلیم يې :

داچې دنوموړي تعلق په یوه علمي کورنۍ پورې و نو دهغه والد صاحب داکوښښ کاوو چې دده زوی هم دخپلې کورنۍ داسلافو په څیر په علمي سلک کې داخل اوله هغې لاري څخه دخپل دین ، عقیدې اووطن لپاره دخدمت مصدر وګرځي.خود الهي تقدیر له مخي نوموړی دخپل ژوند په دوهمه لسیزه کې و چې والد صاحب يې وفات شو او ده خپل وروستی ژوند دهغه دشفقت اومهربانۍ له سیوري لیرې په یوازیتوب کې دخپلې مور ترسرپرستۍ لاندې دعلم طلب اوحصول ته وقف کړ.نوموړي دهغې بې ساري مینې اوشوق له مخې چې له دیني تعلیم سره یې درلود دژوند په ډیروستونزمنوشرائطوکې دسیمې په مدارسو اومساجدوکې خپل ابتدایي اومنځنۍ تعلیمات سرته ورسول.

### جهاد اومبارزه يې:

شهید ملا بورجان تازه ده خپل آرمان ( د اسلامي تعلیماتو )دحصول منځنۍ مرحلې ته داخل شوی و چې زمونږ په هیواد کې کمونستانودیوې پوځي کودتا له لارې دقدرت واګې ترلاسه کړې .دامهال شهید ملا بورجان نوی دځوانۍ په موسم ورګډشوی او په زړه کې يې ددرس اوښوونې ترڅنګ د جهاد اوجهادي سنګرونو مینه





هم په جوش راغلې وه .داهغه وخت و چې دهیواد دجنوب لویدیځ زون په شمول دافغانستان په ټولو ولایتونوکي دکمونستانوپه خلاف داسلامي جهاد اومقابلې بیرغ اوچت شوی و.کمونستانوپه ټول افغانستان کې دمدارسو ښوونکي، عالمان،استاذان اود اسلامي فکرلرونکي کسان ددولت اوکمونستي عقیدې ددښمنۍ په تور بندیانول اوبیابه يې دننني صلیبیانو اودهغوی دغلامانوپه شان همداسي له شواهدو او اسنادو پرته په ګوندي کمونستي محاکمو کې په شهادت رسول .شهید ملابورجان هم هغه وخت له درس اومدرسې سره خدای پامانی وکړه اودجهادي جبهې په لورې مخه کړه چې کمونستانو دنوموړي ددیني ښوونو ډیر استاذان په افغانستان کې دسوسیالستي ترقۍ دمخالفت په تور بندیان اوبیایي په مظلومانه توګه په شهادت ورسول.که څه هم داوخت شهید ملابورجان دعمر په لحاظ کم سن و خودغیرت ،شهامت اوسرښندني په ډګرکې بیاترټولوزړه ور،غیرتي اوسرشاره مجاهد و. جهادي خدمت يې په ۲۵ کلنۍ کې د کندهارولایت په پنجوایي ولسوالۍ کې دجنوب لویدیځې حوزې دمشهور جهادي قومندان ملا حاجی محمد اخندله جبهې څخه پیل کړ .شهید ملابورجان په ډیرلږوخت کې دخپلې بې کچې زړورتیاله مخې په دغې جبهې کې ترټولو دبهادر او غیرتي مجاهد لقب خپل کړ،چې له امله يې په ټوله سیمه کې دیو شجاع،تکتیکي اوځیرک مجاهد په نوم مشهورشو.

له ۱۹۸۰ تر۱۹۸۹پوري دهیواد جنوب لویدیځه حوزه په تیره دکندهار ولایت مرکز دمجاهدینو او روسانواودهغوی دغلامانو خلقیانواو پرچمیانو دخونړیو عملیاتو ساحه وه، دکندهار ولایت مرکز اودهغه په خواوشاسیموکې به هیڅ داسي ورځ نه تیریده چې په هغې کې دي په لسګونوروسي زغره وال وسائط او بي شمیره روسي پوځیان دمجاهدینو دمرګانیو عملیاتوپه ترڅ کې له منځه نه وي وړل شوي. دکندهارولایت دخپل سوق الجیشي حیثیت له مخې روسانواو په کابل کې دهغوی ګوډاګي رژیم ته لکه داوس په څېرامریکایانواوپه کابل کې دهغوی لاسپوڅي اداړې ته

ډير د اهميت وړ ولايت بلل کيده، همدالامل و چي د هغه دساتنې اوپه هغه کې دمجاهدينو دپوځي فعاليتونو مخنيوي ته يې ډيره پاملرنه کوله.

هغوی دکندهارښار دساتني لپاره دهغه خواوشا ډيرمستحکم امنيتي کمربندونه جوړ کړي وو اودهغوی ساتونکي روسي اوافغان پوځيان يې دوخت په ترټولو پرمختللیو پوځي وسائلو مجهزکړي وو.مجاهدينوهم کوښښ کاوه چي په دغه مهم ښاربانديد خپلې حملې زياتې اوهغه ترخپلې محاصرې لاندې وساتي .مجاهدينو ددې کار لپاره دکندهارښار چارچاپيره اوپه خاص ډول دمحله جات ،پاشمول خوشاب او . . . په سيمو کېدکندهارښار دمحاصرې اوپه هغه باندې دتر سره کوونکوعملياتولپاره پوځي کمربندونه تشکيل کړل اوپه هغوکي يې دسيمې ترټولو مجرب اوباتدبيره مجاهدين له ښوپرمختللیو وسلوسره ځای پرځای کړي وو.دغه مجاهدين چي شميريې سلګونو تنوته رسيده دوخت په بيلابيلوجهادي تنظيمونوپوري مربوط وو ،خودلته دجګړې په محاذکي دهغوی ټولومشري دشهيد ملابورجان په غاړه وه.نوموړی که څه هم چې تنظيمي وابستګي يې دمرحوم مولوي محمد يونس (خالص) په اسلامي حزب پوري وه خودخپل جهادي شهرت له امله يې دوخت دټولوجهادي رهبرانوپه زړه کي خاص ځای درلود.ټولوجهادي رهبرانود نوموړي په پوځي لياقت، زړه ورتيا اوعسکري پوهي باندي پوره باور درلود اوله همدې امله يې نوموړی دکندهارپه سطحه دکندهارښار دجنګ دلومړی کرښې دعمومي مسؤل په توګه ټاکلی ؤ.دروسي يرغل په مهال دکندهارولايت دمشهورومجاهدينوپه شاهدي شهيدملابورجان لومړنی شخص و چي په رښا ورځ يې په دغه سيمه کي دروسانو او خلقيانو (کمونستانو)په پوځي مرکزونو چريکي حملې پيل کړې.

ملابورجان شهيد دغيرت، سرښندني، تدبير اوزړه ورتيا يوه نمونه وه . دهغه به پردښمن خاص رعب پروت و،په کوموپوځي عملياتوکي چي به نوموړی شريک و ډټولومجاهدينو به په هماغوعملياتوکي دځان په بريالیتوب باندې پوره باور و. د روسي يرغل په مهال يوه شپه مجاهدينوپروګرام ترتيب کړچې دکندهارپه ښارکې دننه





دروسانوپه يوه مهم پوځي مرکز عمليات ترسره کړي ؛ ددغوعملياتوقومانده د ملابورجان په غاړه وه .

نوموړي دمجاهدينوله منځه ځوتکړه مجاهدين انتخاب کړل چي دهغوی له جملې څخه يوهم دافغانستان داسلامي امارت زعيم عاليقدرامیرالمؤمنين ملامحمد عمر مجاهد و.هماغه پوځي مرکزته له رسيدوسره يې نورمجاهدين دمرکزپه شاوخواکي ځاي پرځای اودی خپله دمرکز همجواره ديوې ودانۍ بام ته ورپورته شو هلته يې وليدل چې ګڼ شمير روسان اوساتونکي خلقيان يې دمرکزپه دننه کي دپرو (قطعو)په لوبو بوخت دي .سمدستي يې له خپلو ملګرومجاهدينوځخه هغه توغندۍ چي مخکي يې لا دتوغولو لپاره چمتوکړي وې دبام سرته ورپورته او له هغه څخه يې په غافل ګيره توګه دروسانو په هماغه بنډاري مجلس باندي ورشارټ کړې چي له امله يې په يادمرکزکي ديره روسانواودهغوی مزدورانوته مرګونی تاوان ورواړاوه ،خو خپل ځان او ورسره ټول مجاهدين يې په سالمه توګه بيرته خپل مرکزته راورسول .

همدارازکله چي په کال. (۱۹۸۸) کي دکندهار ولايت دارغنداب ولسوالۍ ته چي هغه مهال دمجاهدينو ترټولومحکم اومضبوط سنګرګڼل کيده دروسانويوه ډيره لويه پوځي قوه راغله چي دهغې مشرې په افغانستان کي دروسي قواوود مشرقومندان جنرال بوريس ګروموف په غاړه وه.دغه قوه دروسي پوځي چارواکوپه وينا دهغوی د۱۲۰۰۰۰ کسيزپوځ ترټولولويه قوه وه چي په ډير شمير روسي پوځيانو دزيات شميرالوتکو اوزغره والووسايطوپه ملتيا پکي برخه درلوده .

جنرال بوريس ګروموف په خپل کتاب (سرې لښکري په افغانستان کي )ددې لويې قوې اودهغې په مقابل کي دمجاهدينو دسخت مقاومت په اړه تفصيلي بحث ليکلی دی .دارغنداب ولسوالۍد کندهار ښار شمال لوېديځ ته په پنځه کيلومتري کي يوه ګڼ مېشته کرنيزه ولسوالي ده چي شمال ته يې شاولي کوټ، شمال لوېديځ ته يې خاکرېز ، لوېديځ ته يې ژېړۍ ولسوالي او جنوب ختيځ ته يې کندهار ښار موقعيت لري . روسانوځکه ارغنداب ته په دومره لوی شميرقوه راولېږله چي دغي ولسوالۍ

دخپل ستراتيژيک موقعيت له کبله دکندهارولايت د مرکز په ساتلو اوبايللو کي ډير مهم رول در لود.

په دغه جګړه کي روسي ځواکونو په جنوب غربي حوزه کي يوبل مشهورجهادي قومندان او دارغنداب دمجاهدينو عمومي مشر ملانقيب الله دهغه له ټولو مجاهدينوسره ۳۳ ورځي محاصره کړې ؤ. شهيد ملابورجان چي دامهال دپاشمول اومحله جات په سيمه کي دروسي ځواکونوله خوا د ور ته محاصرې ترتهديد هم لاندې و دايې و نشواى زغملاى چي په ارغنداب کي دي دده نور مجاهدين وروښه دروسانو تروژونکو بمباريو لاندې محاصره پاتي شي .

هماغه و چي له خپلو ګڼ شميرتکړه مجاهدينو سره سيمي ته ورغى د روسي ځواکونو په حلقوي کرښويې دشاله لوري ناڅاپه تکتيکي حملې وکړې چي په پايله کي يې دښمن تيت وپرک کړاومجاهدين يې دهغوى دمحاصرې څخه راخلاص کړل .دشهيد ملابورجان په مشرۍ دارغنداب له ولسوالۍ څخه دروسي ځواکونود دغه سترې حملې په شاتمبول ددې لامل شو چي نوربيا روسي ځواکونوترهغوچې په ۱۵ ـ۱ ـ ۱۹۸۹م کي له افغانستان څخه وتل ددې جرئت تر لاسه نکړ چي بيادي په کندهار ولايت کي دمجاهدينوکوم مرکز محاصره اويادي په هغه بريد وکړي .دملابورجان دغي تاريخي کارنامې دنوموړي شهرت اومحبوبيت نورهم پسې زيات کړ.دشهيد ملابورجان ټول جهادي دور دايو امتيازدرلود چي دښمن هيڅ کله په ده باندي دبريد کولو جرئت په ځان کي نشواى پيداکولاى ،برعکس زياتره وخت به دده (ملابورجان )له خوا روسي او مزدورافغان ځواکونه يې تربريد لاندې نيول کيدل.نوموړي دجهادټول وخت دجنوب لويديځي حوزې دمجاهدينوديو تکړه اومشهورپوځي قومندان په توګه له روسي ځواکونوسره په مخامخ جګړوکي تيرکړى او دوه ځلي په دغو جګړوکي سخت زخمي شوى هم دى .لومړى ځل په کال ۱۹۸٦ کي کله چي مجاهدين دکندهارښارته ځيرمه دباغ پل په سيمه کي دروسي ځواکونوله لوري محاصره شول اودى يې دخلاصون په نيت ورغى هلته دمجاهدينودمحاصرې ترماتولو وروسته ديومځکني ماين





دانفجار په وسيله ټپي شو .دوهم ځل بيا په کال۱۹۸۷ م کي دمحله جات په سيمه کي له روسي ځواکونوسره په هغه خونړۍ جګړه کي زخمي شو کومه چي روسانوپه دغه سيمه کي دمجاهدينو دلومړيو جنګي کمربندونودله منځه وړلوپه غرض پيل کړې وه اودحاجي معاون صاحب (ملا محمدرباني ) په شمول دمجاهدينو يوشيرنورمهم مشران هم پکې زخميان شول. خوپه دغو دواړو وارونوکي يې زخمي کيدل ددې لامل نشول چي دده په جهادي عزم کي دي کمزورتيا راولي ،بلکي له هغوزخمونوبه لا مکمل نه و روغ شوى چي بيا به دعملياتو محاذ ته ولاړ . په افغانستان کې دنجيب په مشرۍ دکمونستي نظام ترړنګيدو وروسته ملا بورجان هم دنورومخلصو مجاهدينوپه ځير پرکورارام کښيناست اودتنظيمي اختلافاتوپه مهال يې دهيڅ کوم حزبي جهت په ګټه دهغوى په داخلي غورځوپرځوکي ګډون ونکړ.

## دطالبانو د تحريک په تأسيس کي دشهيد ملابورجان مهم رول

په افغانستان کي دطالبانو اسلامي تحريک په داسي حالت کي رامنځته شو چي دشهيد ملابورجان په ځير زيات شمير مخلص مجاهدين دځوارلس کلن مقدس جهاددسپيڅلو ارمانونوله ترلاسه کولوڅخه مايوسه شوي وو.ټول هيواد دورور وژونکي نارواجګړې سوځوونکولمبوپه سراخيستې ؤ اوپه کابل کي ديونيم مليون ارمانجنوشهيدانودتوقع خلاف دنړيوالوکفري دسيسو په ترڅ کي منځته راغلې بيواکه اوفاسده اداره حاکمه وه.هغومجاهدينوچي په هيوادکي يې ديو سوچه اسلامي نظام دپلي کيدوپه غرض بيدريغه قربانۍ ورکړي وې ،تکليفونه يې ګاللي وو، ډيرشمير خپلوان اودسنګرخواړه ملګري يې له لاسه ورکړي وو، هغوى ته تربل هرچا دغه ناوړه حالت دزغملو وړنه و هغوى که تربل هرچا داسلامي حکومت دقائمولوپه لار کي ډيرکړاونه ليدلي هم وو، خودخپلوقوي عزائمو اوپخو ارادو له مخي د دغو ناخوالو اودهيواددنامناسبوحالاتوپه مقابل کي تسليمي اوآرام کيناستل ورته له خپلو شهيدانو وروښوسره جفا معلوميدله. ددغو راسخ العقيده، قوي عزمه اونه سترې کيدونکوجهادي لارويانوله جملې څخه يوهم شهيد ملابورجان و چي دخپل پيل کړي مزل دسرته رسولوپه غرض يې دطالبانوداسلامي تحريک

دمؤسس ملامحمدعمر مجاهد ننګه وکړه اوپه ډير اخلاص اومیړانه سره دتحریک دتأسیس له هماغه لومړي سر څخه دهغه ترڅنګ ودریدد.۱۹۹۴ م دجولای دمیاشتي له پیل نه بیا د۱۹۹٦ دسپتمبر تر۲۷ مي ، دکابل ترتصفیې پوري چي دطالبانواسلامي تحریک په پوځي اوسیاسي ډګر کي کومي لاسته راوړني درلودلې په هغوکي بي له شکه دشهید ملابورجان دمخلصانه قربانیو، ستومانیو اوصادقانه هلوځلوسترول و .په ۵ــ۱۱ــ۱۹۹۴ کي چي طالبانو دکندهارولایت مرکز ترخپلي سلطې لاندي راوست اوهلته یې دطالبانو داسلامي تحریک په نوم عالي شوری تأسیس کړه شهید ملابورجان ددغي شوراد دعضویت ترڅنګ په اسلامي تحریک کي دځینو پوځي امورو تنظیم اوترتیب هم په غاړه درلود.

هغه په لومړي سرکي دکندهار امنیه قومندان وټاکل شو ترهغه وروسته چي کله طالبانو دهیواد دنورو ولایاتو دتصفیې اقدامات وکړل نودهغه لپاره دپوځي سوقیاتوپه انسجام او ترتیب کي هم شهید ملابورجان دحاجي معاون صاحب ملا محمدرباني اودتحریک د عمومي نظامي قومندان شهیدحاجي ملامحمد اخندپه ملګرتیامخکښ رول ولوباوه.طالبانو وکولای شول چې دهغه دعسکري موفقوتکتیکونوپه مرسته په ډیر ه کمه موده کي له کندهارنه دکابل ترڅنډو چاراسیاب اومیدان ښارپوري ځان ورسوي .په ۱۴ــ ۲ ـ ۱۹۹۵ دکابل په جنوب دچار اسیاب په سیمه کي شهید ملابورجان شدید زخمي شو اودمعالجې لپاره کندهارته راغی. دلته ترلږ وخت استراحت او علاج وروسته بیرته دکابل جنوب چاراسیاب ته دجګړې دلومړیوکرښو دتنظیمولو لپاره ولاړ. د۱۹۹۵ دفبروري دمیاشتي له دوهمي نیټې بیا د۱۹۹٦ کال داګست ترمیاشتي پوري طالبانو څوځله دکابل دنیولو کوښښ وکړ خو موفق نشول .وروسته شهیدملابورجان صاحب دطالبانو دقیادت په مشوره له ختیځ لوري دکابل دنیولو په یوه بدیل عسکري پلان کار پیل کړ . هماغه ؤ چي په ۱ـ ۸ ـ ۱۹۹٦ م کال یې ددغه نوي پوځي پلان دعملي کولو نقشه د پکتیا د اریوب او سپیني شګي له استقامت څخه پیل کړه اودسپیني شګي ، حصارک ،ازري،ننګرهارولایت ،کونړ،لغمان اوسروبي له تصفیه کولو وروسته یې په یوه میاشت او۲٦ورځوکي دجګړې لومړۍ کرښه دکابل ختیځي دروازي دماهي پر سیمي ته ورسوله.





## دشهید ملابورجان پوځي عبقریت.

سره له دې چي شهید ملابورجان په تعلیمي لحاظ نه په کوم حربي ښونځي کي جنګي تعلیمات ترلاسه کړي وو اونه هم دکوم حربي پوهنتون فارغ التحصیل و خو په موهوبوي لحاظ ورته الله تعالی یوځانګړ ی حربي مهارت ورکړی و .

دجنوب لویدیځي حوزې دمجاهدینو دشاهدۍ په استناد، چي کله به دپخواني جهاد په مهال شهید ملابورجان په کندهارښاربانديي دعملیاتو پروګرام درلود په هغه ورځ به په ټول ښارکي دکمونستانو حرکت ،تګ راتګ تقریبا له بشپړ توقف سره مخامخ و ځکه هغوی په دې پوه وو، چي ملابورجان ددښمن داهدافو دله منځه وړلو اودهغوی داستهداف ډیر دقیق اوتکتیکي پروګرامونه طرحه کوي له همدې ویري به هغوی هیڅ یوه هم له خپل مرکز اوځای څخه دبهر راوتلو هڅه نشوای کولای .دطالبانو دتحریک په دور کي هم په کوم استقامت کي چي به شهید ملا بورجان شتون درلود هلته به دطالبانو پوځي پرمختګ ډیر ګړندی و او مجاهدین به له جنګي تلفاتوڅخه ډیر خوندي پاتي کیدل.هغه به دهرپوځي اقدام ترعملي کیدود مخه په هغه کي دخپل ځان دبریالیتوب اوناکامۍ په اړه یوه دقیقه وړاندوینه کوله.

دبیلګې په توګه اروابنادملابورجان به ویل چي : زما د پوځي تجربي له مخي مونږکابل دچار آسیاب اومیدان ښار له لوري نشو نیولای ، خوکه مونږ همدغه پوځي اقدامات دکابل له ختیځ استقامت نه عملي کړو نوکولای شو چي په لنډوخت کي کابل ترخپلي ولکې لاندي راولو.

ریښتیا هم کله چي دده دمشورې له مخي دکابل دنیولو لپاره له ختیځ لوري کارپیل شو هماغه و چي څومره وخت نوموړي تعین کړی و په هغومره وخت کي کابل ښارپه مکمله توګه طالبانو ترخپل کنترول لاندي رواست .

## دشهید ملابورجان ترحم اوخواخوږي.

سره له دې چي شهید ملابورجان خپل ټول عمر په پوځي چاروکي تېرکړی و اوټول سر وکار یې له جنګي امورسره ؤ، خو له اخلاقي لحاظه بیا ډیر حلیم ،نرم مزاجه

اوخوش طبيعته انسان و. دجهادي ژوندپه صحنه کي له خپلو ملګروسره دهغه تعامل دقران کريم ددې مبارک ارشاد (اشداء علی الکفار رحماء بينهم ) يوښکاره مصداق و.

هغه به دجګړې په سختوشيبوکي ددې ډيرکوښښ کاوه چي په ناحقه دچا وينه توي نه شي. دطالبانو په ټولو پوځي عملياتوکي ده دا هيله درلوده چي دطالبانو مخالفين ونه وژل شي ،هغوی ته بايد داسي زمينه مساعده شي چې ياتسليم اويا هم دطالبانوله مقابلې څخه دعقب نشيني لاره غوره کړي.په ۱۹۹۵ م ۱۰\۲\مه کله چي طالبانو دميدان ښار اولوګر ولايتونه ترخپلي ولکې لاندي راوستل دبي بي سي راډيودپښتو ټانګې خبريال له ملابورجان سره دطالبانو دپوځي پرمختګونوپه هکله مرکه درلوده .دمرکې په ترڅ کي خبريال له ملابورجان څخه په دې اړه هم وپوښتل چي تاسو ولي خپل ټول پوځي عمليات په ورځ کي ترسره کوئ اودشپې مهال هيڅ چيري ستاسوکوم پوځي تحرک نه وي؟.نوموړي په ځواب کې ورته وويل چي :«مونږنه غواړوچي په غافلګيرانه توګه خپل مخالفين تر برید لاندي ونيسو ځکه په دې طريقه دهغوی په منځ کي مرګ ژوبله زياته راځي اومونږ نه غواړوچي هغوی ووژل شي ، بلکي غواړو چي دهغوی دوژلوڅخه پرته سيمي ترخپل کنترول لاندي راولو». دتعجب خبره داده چي په وريښمين تنګي کي دده دشهيد کيدلوپه ځای چيرته چي طالبانو له هغه سره نژدې يومسجد جوړ کړی دی ، اوس هلته دکرزي اداري محافظينو يوه امنيتي پوسته جوړه کړې ده ،هغوئ دخپل ځان دحفاظت په غرض دپوستې په ديوال په لوی خط ليکلي دي :دشهيد ملابورجان امنيتي پوسته !!.

يوه ورځ شهيد ملا بور جان په چار اسياب کي دجګړې په لومړۍ کرښه کي يوشمېرطالبانوته په کومه خبره باندي په قهر شو اوخه تر خې خبري يې ورته وکړې کله چي خپل ځای ته راغی په خپل دغه کار باندي ډيرخفه ؤ، بير ته هغو مجاهدينو ته دعذرغوښتلو لپاره ورغی ،هغوی يې ټول راضي کړل ،له هر يوه څخه يې ځانته – ځانته بښنه وغوښته اوله ټولوسره دغيږي تررروغبړ( معانقې )وروسته بيرته په خوشالۍ سره خپل مرکزته راغی.





## دشهيد ملابورجان تقوی اوديانت.

ملابورجان لکه څرنګه چي په شهامت، زړه ورتوب، اوبهادرۍ مشهور و، همداسي د ديانت ،حسنه اخلاقو او پرهيزګاری يوه نمونه و.دبيت المال له پيسوڅخه يې دشخصي کارونولپاره په هيڅ ډول استفاده نه کوله نوروته به يې هم داخبره کوله چي :مجاهدين په بيت المال کي خيانت وکړي نو ستونزي يې ډيريږي يعني بشري اومالي تلفات يې ډيريږی .سره له دې چي ملابورجان ټول وخت په لويومسؤليتونوکي تېرکړی و، خو کورنۍاقتصادي وضعه يې ډيره کمزورې وه .

.په داسي حال کي چي ده خپل ټول عمر په جهادکي تېر کړی و او دخپل شخصي ژوند لپاره يې په اقتصادی لحاظ هيڅ کار نه ؤ کړی اونه يې هم له بيت المال څخه ناوړه استفاده کړې وه.نو دورځني ژوند ګذاره يې تر دې اندازې خرابه وه چي دکور د ورځنيو اساسي اړتياوو درفع کولو لپاره به يې له ملګرو څخه پيسې قرض اخيستې اوبيا به يې هغه مشکل باندي حل کاوه.

## دشهيد ملابورجان شهادت :

دجهاد اوشهادت دسنګرونودغه اسطوره يي شهکار، دغيرت،شجاعت اوفداکاری،نمونه، دتقوی، صداقت اواخلاص سمبول ،قهرمان بي ريا مجاهد محترم ملا امين الله صاحب ( شهيدملابورجان )د۱۳۷۵ هجري شمسي کال د ميزان د مياشتې په پنځمه نيټه دوريښمين تنګي په سيمه کي د مخالفينود ۸۲ ملي متري توپ د مرمۍ په پرزو دلګيدوله امله په شهادت ورسيد ،په دي سره دخدای بخښلی د( ۳۸ ) کلن اسلامي، جهادي او ملي ويارمن ژوند دعمربليدونکې ډيوه خاموشه شوه .انالله وانااليه راجعون . روح دي ښاد ،ياد دي تل وي .

هرگزنميرد آنکه دلش زنده شد بعشق
ثبت است بر جريده عالم دوام ما
حافظ شيرازي

# د شهيد مولوي محمد خوشحال ملنګ ژوندته کتنه

**ليکنه: خبير احمد مجاهد**

دافغانستان د لوګرولايت دمرکزاړوند (سپيست ) په سيمه ، دپاينده خيلوپه قوم کې دلعل محمد په کورکې پـه ۱۳۴۸ هجـري شمسي- کـال لـه الهـي لورينـوډک هلـک وزيږيد، دهغه په مبارکه بشره کې دنبوغ او خوشحالی نښې له ورايه بريښيدي، نوځکه يې هلک په محمد خوشحال ونوماوه

محمدخوشـحال، ابتـدايي زدکـړي دخپـل کـلي دجومـات لـه مـلا څخـه ترلاسـه دنورولپاره يې اوږده علمـي سـفرته ملاوټرلـه، پـه لنـډ وخـت کـې يـې ړومبنـي دينـي اومروجه کتابونه خلاص اودلوړوزدکړوپه خاطريې دافغانستان اوپاکستان دډيروجيدو علماء کراموا‌وشيوخوخځه اړوند علوم او فنون ولوستل دطالبانو او خپلوهمځولوپه منځ کې دذکاوت او ذهانت نوميالی څيـره وه ،لـه همـدې وجـې يـې دهراسـتادپه زړه کـې ځانګړی ځای درلود.

دهجرت په ديارکې يـې دپيښـورد چـراټ پـه محمديـه اسـلاميه جامعـه کـې پـه ۱۴۱۱هق کال کې دموقوف عليه ( وړه دورې) کتابونه ولوستل. په ۱۴۱۲ هق کال کې يې دحديثو لويه دوره دپاکستان خيـبر پښـتونخواپه مشـهوره مدرسـه دارالعلـوم حقانيـه اکوړه خټک مدرسه کې ترسره کړه اوپه همدې کال پـه اعلـی درجـه اوممتـازو نمـبرو فارغ او د فضيلت دستار يې په سرکړ.

**دعلم له طلب سره په مسلح جهادکې ګډون :**

مولوي محمدخوشحال ملنګ،دروسانواودهغودګوډاګيانوپه مقابل کې پـه عمـلي جهاد کې پوره ونډه اخيستله اوله فرصت نه په اسـتفادي سره بـه يـې تودوسـنګرونوته ځان رساوو چې يوځوبيلګې يې دلته را اخلو .





دتيـر جهـاد پـه مهـال دمجاهدينولـه لـوري دکمـو نسـتانو پـه ضـد د جـلال اباددځمرخيلوپه لويه اوتاريخي معرکه کې مولوي صاحب شجاعانه برخـه اخيسـتي وه. دلوګر ولايت په مرکزاوشاوخوا سيموکې به دروسانو اوکمونيستانوپرخلاف دمجاهدينو په تعرضونو اوحملوکې هرکال سهيم اوګډون وال و، تردې چې يوځل يې دولايت دمرکز دګمبزی په قرارګاه چې دګردیز- لوګر په عمومي سرک واقع وه دورځي پـه ۱۲بجـود ۹ تنو طالبانو په ملتياتعرض وکړاوترماښامه په داسې حال کې چې دښـمن ځلوروخواوتـه محاصره کړي ووسخته مقابله يې ورسره وکړه ، په نتيجه کې محاصره دالله ج په نصرت ماته شوه، ددښمن څوعرادي موټريې تخريب اودرونـد ځـاني زيـان يـې وروا‌ړاوه، اتـل مولوي صاحب په دغه جنګ کې په چپ لاس زخمي شو، له دغې پيښې يوه ورځ ورسته ددوستم ګلم جم مليشودلوګردتورغره په څوکوحمله وکړه اوهمدلته يې مهم سـنګرونه ونيول، مولوي صاحب پـه زخمـي وجـود لـه خپلـو همـدغو ۹ طالبـانو سره دورځـي پـه ۱۱بجوپـه دښـمن حملـه وکـړه، دسـختي مقـابلې پـه پـای کـې يـې لـه دښـمن څخـه دمجاهدينوسنګرونه بيرته ونيول چې ۸ نفره ملحدين اوګلم جـمان هـم پـه جګـړه کـې ووژل شول اوزياته اندازه مهمات اووسلي مجاهدينو په غنميت ونيولي

**درس او تدريس**

دعلومو‌له فراغت وروسته مولوي محمدخوشحال ملنګ، د خيبرپښتونخوا صـوبې په دارالعلوم ضياءالاسلام ورسک کې يوکال تدريس وکړ،دفراغـت پـه دوهـم کـال يـې دمانسهرې دخاکي دافغان مهاجرينوپه کمپ کـې پـه نعمانيـه مدرسـه کـې دمروجـه فنونومهم کتابونه طالبانوته تدريس کړل.

**دطالبانوداسلامي تحريک پيل**

مولوي صاحب، په نعمانيه مدرسه کې لاتدريسي- کـال نـه وخـتم کـړی چـې پـه افغانستان کې دطالبانوداسلامي حرکت وړانګي په خپريدو شوي

مولـوی صـاحب دتحریـک داعیـې تـه لبیـک ووایـه اودځوتنونـورملګروسره دلوګرولایت دعلماووطالبانوپه نمایندګي کندهارته سفروکړ،هلته یې دتحریـک لـه مشرانوسره ترکتنې ورسته دده په مشری پلاوي تـه دنـده وسپارل شـوه تـر څـو لـوګر ولایت ته ولاړ شي او دخپل ولایت داړوند طالبانو لیکې منظمې کړي .

## دجهاد په لومړیو کرښوکې ځان ځارونه

دخوست په ولایت کې دیولړ نظامي اوملکي مسولیتونوله ترسره کولووروسـته،له خپلو جهادي ملګرو اوطالبانوسره دمیـدان شـهراوکابل پـه پولـه واقـع ړومبـی جنګـي کرښـي ( د پریکـړي سـیمې) تـه ولاړاوهلتـه یـې دمیـدان ښـار دعمـومي جنګـي محاذونودقومندان ( ملامشراخند رح ) پـه هـدایت دمـدافعي سـنګر پـه ساتلوموظف شو،په داسې حال کې چې هلتـه ۲۴ساعته دفـاع اوپهـړي تـه ضرورت و، خـو مولـوي محمدخوشحال صاحب څومیاشتي په ډیرشجاعت اومیړاني هلته تیري کړي

له څه مودي وروسته دکابل ولایت دچهاراسیاب ولسوالی کې داسلامي تحریـک اولنیوکرښـوته لـه خپلـو ملګـروسره ورغـی، هلتـه یـې دریشـخوروفرقي پـه سر پرتوحساسوځوکوکې څه وخت تیر کړ، له هغه وروسته دکابل دچکـړي پـه سـیمه کـې ړومبی کرښي ته ولاړاوپه هغه لوی تعرض کې یې په ډیر شهامت برخه واخیسـته چـې دکابل دنیولوپه موخه پیل شوی و.

دنوموړي تعرض په نتیجـه کـې دچکـړي، ملنـګ کلـی اوبنـدغازي ټـولي سـیمي طالبـانو ونیـولي، دبنـدغازي پـه یـوه سـتراتیژیکه څوکـه کـې مولـوي صـاحب لـه څومحـدودوملګروسره پـه دفـاع بوخـت اودخپـل اسـتقامت پـه بنـایې ددښـمن څلورتعرضونه چې ددوی ټول قوت دمولوي صاحب دیوې پوستې پـه نیولوځرخیـده پـه مکرر ډول په شاوتمبول شول اوددښمن دسختوحملوپه وجه چې له مولوي صاحب سره څومره ملګري وو اکثره زخمیان شول،هماغه ووچې دتحریک پیل شوي بریداوفتوحات مخ په وړاندې ولاړل اوتر( پل چرخي محبس ) پوري شاوخواټولي سـیمي دطالبـانولاس ته ورغلي.





قهرمان مولوي صاحب ، له څه مودې ورسته دمشرانوپه لارښـوونه دچهاراسـیاب لیکوتـه مخـه کـړه اوهلتـه یـې پـه حساسوسـنګرونوکې واړول چـې یوځـل ددښـمن الوتکودمولوي صاحب په مورچل اوپوسـتي بمبـاري وکـړه چـې هغـه اونوروپنځـه تنـه ملګري یې شدیدټپیان اودخاورو له انبارونوځخه ژوندي راوویستل شول.

له درملنې ورسته مولوي صاحب خوشحال ملنګ خوست ولایـت تـه سـتون شـو، دخوست ولایت وضعیت په هغه مهال داسې وو چې طالبان صرف دخوست په ښـار او نیږدي سیموکې میشت وواوولسوالیوته یې دعملي سلطي اراده نه وه کړي اودخوسـت په ولسوالیوکې چې ډیره ددښمن ترکلکي قبضي اونفوذلاندې و هغه دیعقوبیوولسـوالی وه، دتحریک مشرانودهمدغې ولسـوالی د اراملواونیولـو لپـاره مولـوي صـاحب هلتـه دولسوال په توګـه ولیـږه، مولـوي صـاحب پـه خپـل بیسـاري نظـامي او ولسي- تـدبیر دیعقوبیو ولسوالی ارامه او دغه مهمـه ولسـوالی یـې دتحریـک ولکـي تـه راوسـتله ، د ولسوالی دامنیتي وضعیت لـه نورمـال کیدورسـته ،مولـوي صـاحب پـه ولسـوالی کـې محترم مولوي صاحب عبدالروف خدام دځان کفیل وټاکـه او پـه خپلـه دچهاراسـیاب کرښوته ستون شواوهلته یې له نظامي اوجهادي بوختیاسره سره دریشخورپه فرقه کـې طالبانوته ديني درسونه او دعظیم الشان قران ترجمه هم شروع کړه.

کله چې دطالبانوداسلامي تحریک فاتحانه کاروان د اتل اونومیـالي مشر- شـهید (ملابورجان V ) ترمشري لاندې دلـوګردازري ولسـوالی ددینداروخلکوپـه دعـوت اوملتیاپیل شو،محترم شهیدمولوي صاحب ملنګ دشهیدملابورجان په خـاص هـدایت دکاروان مل اوملګری وګرځید.

دازري ولسوالی فتحه شوه، خو دښمن دنوموړي ولسوالی دچوتري په کوتـل کـې په مقاومت شروع وکړه ،شهیدملابورجان پـه عمـومي سرک تعـرض پیـل کـړاو مولـوي صاحب ملنګ ته یې د غرونوپه څوکودحملي قومنده وروسـپارله، هماغـه و چـې کوتـل فتحه دښمن په تیښـته شـو، لـه هغـه وروسـته دمختلفـو محاذونولپـاره مشرانـو تعـین شول،او شهید ملنګ ته هم د ملابورجان اخند لخوا د یوه محاذ مشرـي وسـپارل شـوه.

هماغه وچې الله تعالی دفتوحاتودروازي پرانيستي اوترجلال ابادپوري سيمي طالبانو ونيولي، کله چې دجلال اباد ښار ونيول شو،ملابورجان اخند، مولوي ملنګ دتورخم دنيولولپاره وليږه،چې خدای تعالی تورخم پرته له کومي جګړي دطالبانولاس ته وروست .

دمشرقي ولايتونوله تصفيي اوفتحي ورسته ، دشهيدملابورجان په مشري دفتحي کاروان دکابل په استقامت وخوځيد، شهيدملنګ ورسره څنګ په څنګ روان و، کله چې د وريښمين تنګي په خوله کې دغيرت اوميړاني ستراتل ملابورجان اخوند شهيدشو دمولوي صاحب ملنګ هم ګڼ ملګري زخميان شول، وريښمين تنګی الله تعالی فتحه کړ اوطالبانو سروبي ته مخه کړه، له لږمقاومت ورسته سروبی هم ونيول شو، په ماهيپرتنګي کې مخالفينوکلک مقاومت کاوو اوپاخه سنګرونه يې نيولي وو، له دری ساعته جنګ وروسته طالبان لږ بې موراله شول اودشاتګ په لټه کې شول ، ليکن مولوي ملنګ او په صحنه کې حاضرو نورو جهادي مشرانو په طالبان غږ کړ چې حوصله ماته نکړي الله ج مهربانه دی ، په دې آن کې دری تنه طالبانو دغره له داسې څوکي چې هلته دانسان ختل سخت دي دماهيپرپه تونل کې په ولاړټانګ دراکټ فيروکړچې له هغې سره ددښمن په منځ کې دوارخطايي اوتيښتي لړی پيل شوه اودالله ج په خاص نصرت دفتحې دروازه خلاصه شوه، دتحريک دهغه ځای ګڼ مشران شاهدي ورکوي چې هغه دری تنه فاتحين طالبان بيانه چاوليدل او نه يې هم داځرک ولګاوه چې داځوک وو، معلومه شوه چې هغه اسماني لښکري وي چې دطالبانونصرت ته راکوزي شوي وي

کله چې کابل ښار تصفيه اوحساس مراکز اونقطي ونيول شوي، محترم ملاعبدالرزاق اخندچې دشهيدملابورجان له شهادت ورسته دکابل دنيولوقومنده له هغه سره وه، شهيدمولوي ملنګ ته دنده وسپارله چې دخيرخانې کوتل سمبال اودباګرام دهوايي ډګرپه لورحرکت وکړي ، هغه ووچې د۱۲تنونورملګروپه ګډون





دباګرام هوايي ډګر ته ننوت ،له ۲ ساعته تيريدووورسته دتحريک نورځواکونه هم باګرام ته راورسيدل اودښمن يې دپنجشيرترخولي پوري تعقيب کړ.

## دجبل السراج دولسوال په توګه

دعاليقدراميرالمؤمنين دفرمان له مخې شهيدمولوي صاحب خوشحال ملنګ، دجبل السراج ولسوالی دولسوال په توګه وګمارل شو، مولوي صاحب ترخپلې وسې ډيرې هلې ځلې وکړي ترڅوپه نوموړي ولسوالی کې عام ولس دتحريک همکاروګرځوي اودشراوفسادله منګولونجات ورکړي، خودښمن دغه ولس دځان لپاره سپراوښکارګرځولی واودهغوی دکورونو، باغونواوکروندوله لاري به يې په غلچکی ډول په طالبانوبريدونه کول ، هماغه ووچې دښمن په جبل السراج ، ګلبهار اوچاريکاروکې شديدي حملي پيل کړي ، دتحريک مشرانودولسي خلکودنجات اوځه نورومصلحتونوله مخې خپل قوتونه دکابل دشکردرې ولسوالی کې ځای په ځای اوړومبی کړښه يې هلته جوړه کړه ،شهيدمولوي صاحب محمدخوشحال ملنګ په نوي کړښه کې هم ديوه باعزمه مشر اومجاهدپه توګه تريوې مودې پوري هلته پاتي شو

## دلوګردعلمای کراموا‌وطالبانودصدرپه توګه

ددې لپاره چې دطالبانواسلامي تحريک دلوګرله جهاداوعلم خيزه ځمکي نه نوره ښه استفاده وکړي، نودلوګرجيدوعلماء کرامو، طلباوواوامارتي مشرانوله لوري په يوه اتفاق دجلال اباد په ښارکې محترم مولوي صاحب محمدخوشحال ملنګ دلوګر دعلماوو او طلباوودمشر، محترم شهيدمولوي محمدشريف سعيدي دهغه دمرستيال او محترم ملاميراحمدګل يې دنظامي مسول په صفت منتخب اوبيادغه انتخاب دعاليقد راميرالمومنين له لوري هم تائيد شو.

## دکاپيساولايت دوالي په توګه :

داسلامي تحريک دځواکونوخوښبت بيادشمال په خوادشهيدمولوي صاحب ملنګ په ملتياپيل شو، دکاپيساوپروان ولايتونه فتحه اوونيول شول ، هماغه ووچې

دعالیقدرامیرالمومنین په حکم شهیدمولوي ملنگ دکاپیسادوالي په توگه وټاکل شو، چون دولایت اداري چاري په مکمله توگه ویجاړي شوي وي اوټول دولتي اسباب ددښمن له لوري چوراوچپاول شوي وي ، محترم مولوي صاحب دخپلو نوروملگروپه هلوځلوپه ډیر لږ وخت کې په نسبي ډول اداري فعالي اوامارتي نظم نسق یې هلته برپاوگرځاوه اوددښمن دزهرجنو تبلیغاتو دشنډولو په خاطریې دکاپیساولایت په هره دره اوسیمه کې جلسي اوله ولس سره ناستې وکړي

که څه هم دښمن خپل انتهایي زور واچاووترڅوکاپیساولایت له طالبانو ونیسي- خو دمولوي صاحب مدبرانه اوباشهامته اثر او د ملگرو میړاني ترډیره وخته ددښمن ناولي موخي شنډي اوگڼ لوی تعرضونه یې بې نتیجې وگرځول

د ۱۳۷٦ هـ ش کال په جوزا کې دښمن په کاپیسادرنه حمله وکړه اودطالبانوپه اوله کرښه کې یې لږبدلون راووست، مولوي صاحب ملنگ خپله منتظره قطعه ددښمن مخې ته ولیږله اوپه لنډوخت کې یې باغیان په شاوتمبول ، ددې ترڅنگ دشر او فساد عناصرو د گلبهارپه ولسوالی بریدکړي وواو محاصره کړي یې وه،مولوي صاحب دگلبهارمحاصري دخلاصون په نیت په همدې لورحرکت وکړ، خوکرغیړن اومکاردښمن دگلبهارنه مخکي د(دیبالي ) په بازارکې خپل کسان ځای په ځای کړي وو چې بازارته دمولوي صاحب د موټر له داخیلدو سره سم څوتنوددین اوهیواد غلیمانو دمولوي صاحب موټر هدف وگرځاوو هماغه ووچې داسلام، هیواداومیړانې دغه لویه هستی یې نښه وگرځیده اودعلم ، نورانیت اوغیرت ستره بیلگه اوهستي ( مولوي محمد خوشحال ملنگ له یوتن بل زړورملگري ملاخلیل احمدسره په کال ۱۳۷٦ل دجوزاپه ۸ دسهارپه ۹ بجودشهادت جامونه نوش کړل ( اناالله واناالیه راجعون )

دیادونې وړده چې دمولوي صاحب همدغه دشهادت او له دنیانه درحلت ورځ دهجرت په دیارکې دده دواده اودنوي ژونددشروع کیدونیټه اوتاریخ هم ټاکل شوی وواوکورته یې دسرې ډولۍ په ځای داتل شهیدپه سرووینورنگین تابوت اوجنازه وروړه!





## دمولوي محمدخوشحال ملنگ ځانگړتیاوي

دخالق B اودهغه دپیغمبر H اوشریعت مطهره سره د میني اومحبت نه علاوه یې له مسلمانانوسره ځانگړی الفت درلود،په خاصه توگه دسنگراودرس ملگري پري بې حده گران وودخپلو استادانوبه یې ډیرقدرکاوو، دامیراطاعت یې په ټولوجهادي اواداري اموروکې لازمي باله اودخپلو مشرانو دحکم یې ډیر اطاعت کاوو.

شهیدمولوي صاحب ، په ملگروکې دومره اخلاص اوصمیمیت لاره چې هرملگري به یې په اړه داپوخ یقین اوباوردرلودچې له بل هرچاله ده سره زیات محبت اواخلاص لري

دمدرسې اوجومات نه علاوه به یې په سنگر کې هم د دین په تدریس اودقرانکریم په ترجمه مشغول و، تردې چې اکثره ملگري له ده څخه په سنگر کې دکتابونوپه ویلومستفیدشوي اودسلهاووطالبانومشفق استادپاتي شوی .

دبیت المال سره داحتیاط په اړه یې هروخت خپلو ملگرواوعاموطلبه ووته توصیه کوله چې دبیت المال په ساتنه کې ډیراحتیاط وکړي اود هیچادخفگان پرواونه ساتي،سره لدې چې گڼ شمیر وسایط یې په خدمت کې ولاړ وو مگردخپل شخصي- کاریاکورته دتگ په وخت کې به یې دبیت المال له وسایطوڅخه حتی الوسع استفاده نکوله .

مولوي صاحب سره لدې چې په مالي اوشخصی لحاظ ډیرغریب و،خوایثاراوشفقت یې دومره زیات وچې هیڅ یوملگری یې بې نوااوبې احسانه نه پریښود

دیادونیکواوصافواوغوره خصلتونوله وجې داسلامي امارت په مسولینواوپه خاصه په عالیقدرالمومنین زیات گران وو

دشهادت نه ورسته يې ډيرو خلکوته کرامت معلوم شوی و، مثلاددە د مدفن ترڅنګ يوکورآباد و، څښتن يې يادونه کوله چې کله شهيدمولوي صاحب په قبرکې دفن شوپه اوله شپه زه بهرراووتلم ،ناګهان مې دقرانکريم خوږتلاوت ترغوږونوشو، سوچ مې وکړچې په دې نيمه شپه اوهديره کې تلاوت چيرته اوڅوک کوي ؟؟وايي چې متوجه شوم دشهيدمولوي صاحب دقبر له لوري دتلاوت اواز راته نوورروان شوم، چې کله قبر ته نيږدي شوم تلاوت يوناڅاپه بندشو، هغه کس وايي چې کله بيرته دخپل کورخواته راتلم تلاوت بياپيل شو، هغه کس ويل زه په صدق شاهدي ورکوم چې دغه عمل څوځله تکرار او هغه واورید.

رب B دې همیشنی سعادت په نصیب اومونږ دې هم دده په قدم روان او د شهادت له سعادته برخمن کړي.

❊ ❊ ❊





## دشهيد مولوي احسان الله احسان صاحب ژوند اوکارنامو ته کتنه

ليکنه: قاري سعيد

اسلامي خوځښتونو همیشه د هر بخش لپاره ځانګړي، ورزيده او با استعداده رجال درلودلي دي. که د خوځښت ځيني برخوال د تورې او جنګ د ډګر نومیالی وي ځيني نور بيا د سياست، دعوت، خطابت او د خلکو د زړونو د فتحه کولو په چاره کې داسې مهارت او استعداد لري چې هره خبره او چلند يې د زرګونو مرميو په تناسب ستره نتيجه او فتحه په لاس راوړي.

الله تعالی خپل اشرف مخلوق انسان ته بيلابيل استعدادونه ورکړي دي چې په دې استعدادو کې يو مهم استعداد د نطق او بيان استعداد دی چې انسان له نورو مخلوقاتو څخه ممتاز ګرځوي. خو کله چې همدغه د بيان او وينا استعداد د فصاحت او بلاغت له کمال سره همغاړی شي او ورسره د اخلاص او صميميت مرسته هم وي نو بيا د ويناکوونکي وينا په نورو خلکو د سحر غوندې اغيز کوي، خبرې يې په زړونو کې لارې باسي او د افکارو په توجيه او تهذيب کې ستر نقش لوبوي.

شهيد مولوی احسان الله احسان صاحب د افغانستان په سطحه يو له همداسې خطباوو او ويناوالو څخه و چې د اغيزناکې وينا يادونه به يې تر ډيره د افغانانو په اذهانو او زړو کې خوندي وي. شهيد احسان صاحب د هيواد د تاريخ په يوه حساس پړاو کې د سياست ميدان ته راودانګل، هغه مهال چې افغانستان د حتمي تجزيې له ګواښ سره مخ و، اولس د ذات البيني جګړو او فساد په لمبو کې کبابيدو او په هر اړخيزه توګه د فساد او هرج و مرج توپان را الوتی وو. مولوی احسان الله احسان صاحب د ګڼ شمير نورو علماء کرامو او طالبانو په شمول د فساد د محوه کولو لپاره د جهاد ميدان ته راوړاندې شو،د طالبانو اسلامي تحريک او په تعقيب يې د افغانستان

اسلامي امارت تأسيس کړ، هيواد يې له فساد او ګډوډيو وژغوره او د جهاد ثمره يې د ضياع له خطر څخه خوندی کړه.

## شهيد مولوي احسان الله احسان

شهيد مولوي احسان الله احسان د مولوي اغا محمد زوی د مولوي ميرزا محمد لمسی په قوم پوپلزای چې اصلي ټاټوبی يې د کندهار ولايت د شاولي کوټ ولسوالۍ د بورې د علاقې لوی کلي دی په کال ۱۳۸۱ هجري قمري کي د محرم د مياشتې په پنځمه نيټه د زابل ولايت دميزاني ولسوالۍ د سليم په کلي کي په يوه متدينه علمي کورنۍ کې زيږيدلی دی. دشهيد مولوي احسان الله نيکه مولوي ميرزامحمد صاحب دکندهار ولايت له مشهوروجهادي اوعلمي شخصيتونو څخه بلل کيږي؛ نوموړي دافغان انګليس د دوهمي جګړې په مهال دانګريزانوخلاف په ډيرو جګړوکي فعال سهم درلود اودخپل همدغه فعال جهادي مساهمت له املې دکندهار ولايت په سرحدي ولسوالۍ سپين بولدک کي له انګليسي پوځونوسره په مخامخ مقابله کي په پښه زخمي شوی و چې له همدې املې دسيمي دخلګوپه منځ کي دګوډ ملا ميرزامحمد په نوم مشهور و.

## زدکړه اوتحصيل يې :

شهيد مولوي احسان الله احسان له وړکوالي څخه دفطری نبوغ اوسرشاره علمي ذکاوت څښتن و. نوموړی په يوه متدين علمي خاندان کې زيږيدلی و د پلار په شان يې والده شريفه هم د ديانت او زهد څښتنه وه چې ويل به يې شهيد احسان ته مې همېشه په اوداسه شيدې ورکړي دي. د شهيد احسان صاحب مور به د نوموړي د ذکاوت په اړه ويل چې له کوچنيوالي د نبوغ او ذکاوت څښتن و د پنځو کلونو و چې آيت الکرسي يې ياد کړې او ماته يې هم را ياد کړه. د شهيد احسان والد صاحب له هماغه وړکتوبه څخه دده علمي اوتربيوي روزني اوپالني ته ډيره توجه کوله .لومړی يې په خپل کورکي په هغه باندي دابتدايي ديني علومو زده کړه پيل کړه اوبيا وروسته يې دشرعي علومو دتحصيل لپاره د پاکستان لوړوشرعي مراکزواومدارسوته وليږه .شهيد





مولوي احسان الله صاحب خپل لوړشرعي تحصيلات ددارالهجرت په بيلا بيلو ديني مدارسوکي په ډيرزيار اوکوښښ سره حاصل کړل. د پاکستان د خيبر پښتونخوا له سوات علاقې نيولې بيا د بلوچستان تر مختلفو سيمو لکه، ميزی اډه،پښين، کچلاغ،لور لايي او مرکز کوټه کې يې د خپل وخت له زبده عالمانو او مدرسينو لکه مولوي سعد الدين اخندزاده،مولوي عبدالغفور صاحب،مولوي شرف الدين صاحب، مولوي عنايت الله مشهور په غبرګي اخندزاده،مولوي عبيد الله قندهاري، مولوي ابوالفضل معين الدين صاحب او نورو څخه يې ديني علوم او فنون حاصل کړل تر دې چې د احاديثو تر وړې او لويې دورې پورې ورسيد.

وړه دوره يې د کويټې په مشهوره مدرسه جامعه اشرفيه کې له شيخ الحديث مولوي عبدالباري او مولوي عبدالحی څخه ولوسته او لويه دوره يې په همدې مدرسه کې له شيخ الحديث مولوي عبدالغفور صاحب څخه پيل کړه. خو د کال په اوږدوکې شيخ الحديث مولوي عبدالغفور صاحب وفات شو، نو ځکه يې پاتې سبقونه د کويټې د شالدړې په مدرسه کې له شيخ الحديث حافظ عبدالواحد صاحب څخه تکميل کړل او له ديني علومو د فراغت سند يې ترلاسه کړ.

## د کمونيزم په خلاف جهاد

شهيد مولوي احسان الله صاحب لادخپلو ديني تعليماتو دحصول په ابتدايي مرحله کي و چې په افغانستان کي کمونستانو ديوې پوځي کودتا له لارې دقدرت واګي ترلاسه کړې چې سمدستي يې پرخلاف مؤمنو افغانانو اسلامي جهاد پيل کړ. په دغه مقدس جهاد کې دافغانستان ټول ملت په بيساري ميړاني اوشهامت سره سهم درلود، خودهغه دقيادت او درهبرۍ مسؤليت دشرعي اومذهبي مکلفيت له مخې تر ډيره دعلماوو په اوږو ورلويدلی و. شهيد مولوي احسان الله صاحب هم چې دخپلې سيمې په کچه يې په يوه علمي اوجهادي کورنۍ پورې تعلق درلود نوتربل هرچاپې دروسانواوکمونستانو خلاف جهاد خپل ديني مسؤليت باله .

نوموړي دهمدغه ديني مسؤليت له مخي لومړی دزابل ولايت دميزاني ولسوالۍ دشهيد مقيم ترمشری لاندي ديرغلګرو روسانوپه ضد جهاد پيل کړ.له هغه وروسته هلمند ولايت ته ولاړ اوهلته يې دوه کاله دهماغه ولايت په مختلفوجبهاتو کې دکمونستانوخلاف جهاد وکړ.په هلمند ولايت کې د بهلابيلو جهادي اوپوځي تکتيکونوترلاسه کولو وروسته بيرته زابل ولايت ته راغی اودلته يې دمولوي عبد الظاهر په ملګرتيا ددې ولايت دميزاني ولسوالۍ په ارغسو غره کې ديوې فعالي جهادي جبهې بنسټ کښېښود.شهيد مولوي احسان الله به دخپلې نوي تأسيس شوي جبهې مجاهدينوته دپوځي اوعسکري زده کړې ترڅنګ د دعوت په حلقوکي دفکري پوهنې اواسلامي ثقافت درسونه هم ورکول اوهغوی به يې دپوځي زده کړې ترڅنګ په علمي اوفکري لحاظ هم دالحاد اوبيدينۍ په خلاف جهاد اومبارزې ته چمتو کول .

نوموړي وروسته ډيره توجه ددينې زدکړو تکميل ته واړوله خو بيا يې هم د خپل توان او فرصت په اندازه په جهادي فريضه کې ونډه اخيسته او د جهادي داعيې يو مخکښ داعي او عملي مجاهد و.

## د طالبانو په اسلامي تحريک کې شموليت

د ۱۴۱۵ هجري قمری کال د محرم الحرام په مياشت کې چې په هيواد کې دجهادي نيمګړو آرمانونو دتحقق لپاره داسلامي امارت دمشرتابه له لوري دطالبانو اسلامي تحريک تاسيس شو نوشهيد مولوي احسان الله صاحب يوله هغو لومړنيوکسانوڅخه و چې په خورا اخلاص اوصداقت دتحريک دمؤسس ترڅنګ ودريد اوپه خپلونه ستړي کيدونکو هلوځلوپې دهغه ملاتړ وکړ.دتحريک دتأسيس په هماغو اوائلوکې چې لا د طالبانو تحريک د ميوند او ډنډ ولسوالۍ له حدودو نه و تېر شوی مولوي احسان الله صاحب نه يوازې عملا د اسلامي تحريک غړی شو بلکې دخپلې سيمې ټول جهادي قومندانان اوعام ولسي خلګ يې دې ته وهڅول چې په سوله ييزه توګه له تحريک سره يوځای اوله خپلو وسلوسره دطالبانو په ليکوکې په هيواد کې ديوه سوچه شرعي نظام دحاکميت لپاره قربانۍ ورکړي.هماغه ؤ چې دشهيد احسان





صاحب ددغو حکيمانه هلوځلو له برکته دسيمې ډېر پخواني جهادي قومندانان او عام خلګ دې ته تيارشول چې له تحريک سره يوځای شي . مولوي احسان صاحب د علماء کرامو د هغې شورا غړيتوب هم درلود چې د مرحوم شيخ مولوي عبدالعلي ديوبندي صاحب په مشرۍ يې به بولدک کې ټوپکي قومندانانو ته دعوت ورکړ تر څو له پاټکمارۍ او ظلم زياتي لاس واخلي او د طالبانو د تحريک داعيه ومني خو دا چې هغو ټوپکيانو له ډيرو دعوتونو سره سره هم خپل ناروا حاکميت ته دوام ورکاوو نو ځکه طالبانو د شهيد ملا محمد اخند په مشرۍ د هغو په ضد عمليات وکړل او د بولدک ساحه يې تر ې تصفيه کړه.

## د مولوي احسان الله صاحب ستره کارنامه

د کندهار له فتحي وروسته د ۱۳۷۳ هـ ش کال د جدي د مياشتې په ورستيو کې د طالبانو لښکر له کندهار څخه د زابل په خوا حرکت پيل کړ. مولوي احسان الله احسان صاحب هم د امارت د نورو مشرانو تر څنګ ددې لښکر برخوال و، د زابل په ولايت کې موجوده مجاهدينو او طالبانو د دوی هرکلی وکړ او واک يې په بشپړه توګه وروسپاره. له زابل وروسته همدغه لښکر غزني ولايت ته ورسيد. د غزني مرکز، ولايت، فرقه او نور مهم مراکز په غزني کې يو شمير خيرخواه قومندانانو طالبانو ته وسپارل، خو د غزني په يونټ او روضه سيمو کې د حزب اسلامي او حزب وحدت له ډلو سره جنګ وشو چې وروسته هغوی تيښتې ته اړ او سيمه مکمله د طالبانو تر واک لاندې راغله.

که څه هم د طالبانو د همدې لښکر لويه برخه د ميدان وردګو په خوا لاړل او تر ميدان ښار، لوګر او چهاراسياب پورې ورسيدل خو د همدې کال د دلوې د مياشتې په ۲۷ نيټه د طالبانو يوه لويه ډله د مولوي احسان الله احسان صاحب په مشرۍ له غزني د پکتيکا په خوا لاړه . د پکتيکا ولايت ځايي علماء او مشرانو ورته د ولايت واک په بشپړ ډول وسپاره. له همدې ځايه مولوي احسان الله احسان صاحب د لوېې پکتيا له جهادي قومندانانو او مطرحو مشرانو لکه ستر مجاهد مولوي جلال الدين حقاني،ملا

عبداللطيف منصور، مولوي فريد الدين محمود او نورو مجاهدينو سره خبرې پيل کړې تردې چې دمولوي احسان صاحب د مدبرانه تګلارې، قوي استدلال او قانع کوونکو وضاحتونو په نتيجه کې د لويې پکتيا يعني پکتيا، پکتيکا او خوست ولاياتو ټول مجاهدين د اسلامي امارت په واکمنۍ قانع او په پوره اخلاص يې خپل تشکيلات د اطالبانو د اسلامي تحريک په صفوفو کې مدغم کړل. چې په دې توګه نه يوازې دغه دری مهم ولايات په مکمل ډول د اسلامي واکمنۍ برخه وګرځيدل بلکه د ځايي مجاهدينو، طالبانو او له هغوی سره د موجودو امکاناتو او وسلو او عام اولسي ملاتړ په مټ اسلامي تحريک نور هم قوي شو چې ددغې پروسې په کاميابۍ کې ډير رول د مولوي احسان الله احسان صاحب و چې په خپل فصيح او بليغ استدلال سره يې اسلامي تحريک خلکو ته د يوه واقعي اسلامي او افغاني تحريک په حيث ورمعرفي کړ او د هغوی بشپړ قناعت او ملاتړ يې حاصل کړ.

## په اسلامي تحريک مسؤليتونه

مولوي احسان الله احسان صاحب چې د اسلامي تحريک په اوائلو کې يې د جنوب ختيځ زون په ولاياتو کې د طالبانو سرپرستي او مشري په غاړه درلوده د هرات ولايت له فتحې څه موده وروسته د عالیقدر اميرالمؤمنين V په امر د هرات ولايت د والي په حيث وټاکل شو هغه مهال چې هرات ولايت په پوځي لحاظ فتحه شوی و مګر په ذهني لحاظ لا هم ډير خلک د طالبانو په اړه شکمن و او له همدې امله ډير خطرات موجود و او هميشه به په ښار او اطرافو کې د طالبانو په خلافت مزاحمت او بريدونه کيدل. مولوي احسان الله احسان صاحب په خپلو عالمانه قانع کوونکو ويناوو او مدبرانه برخورد سره په دې وتوانيد چې ددې ولايت د خلکو باور او زړونه را خپل او په دې توګه په هرات کې د اسلامي امارت په خلاف موجود مشکلات او مخالفتونه له ريښې ختم شی.

د ۱۳۷۵ هـ ش کال د حمل په مياشت کې کله چې په کندهار کې د اسلامي امارت د تأسيس غونډه دائره او د طالبانو تحريک د افغانستان په اسلامي امارت سره





تبديل شو. د علماء کرامو په دې عظيم الشانه غونډه کې چې شاوخوا يونيم زر تنه علماء کرامو په کې ګډون کړی و مولوي احسان الله احسان صاحب په کې کليدي رول درلود د غونډې په جريان کې مولوي احسان الله صاحب دغې شوری ته د ملا محمد عمر مجاهد لپاره د اميرالمؤمنين لقب عرض کړ چې د شوری لخوا د رأيو په اتفاق سره تصويب او له کلونو وروسته يو ځل بيا دغه نوم د اسلامي سياست په قاموس کې راژوندی شو.

د همدې کال د ميزان په مياشت کې چې طالبانو د کابل د فتحې عمليات پيل کړل د افغانستان د ختيځ د فتوحاتو په سلسله کې مولوي احسان الله احسان صاحب لومړی د ننګرهار ولايت د والي په حيث وټاکل شو خو وروسته چې کابل فتحه شو نوموړی د اسلامي امارت د لومړنۍ کابينې د تعين په مهال د افغانستان بانک د لوی رئيس په حيث وټاکل شو.

د ۱۳۷۶هـ ش کال د جوزا د مياشتې په لومړيو کې چې طالبانو په شمال ولاياتو کې له جنرال مالک سره ناکامه موافقه وکړه چې په لړ کې يې د لنډو ورځو لپاره د فارياب،جوزجان سرپل او بلخ ولاياتو ته طالبان ور داخل شول مولوي احسان الله احسان صاحب د اميرالمؤمنين ملا محمد عمر مجاهد په امر له څو تنو نورو امارتي مشرانو سره مزار شريف ته لاړ تر څو هلته د وضعيت په برقرارۍ کې همکاري وکړي. خو له موافقې دوه ورځې بعد جنرال مالک اړخ بدل کړ او له حزب وحدت سره د شريکې دسيسې په پايله کې يې د طالبانو په خلاف غدارانه اقدام وکړ چې په نتيجه کې يې په زرګونو په پاک نيت ورغلي طالبان په شهادت ورسيدل چې له دې جملې د امارت څو تنه زبده مشران من جمله مولوي احسان الله احسان صاحب هم و.

## د شهيد مولوي احسان الله احسان صاحب د شهادت واقعه

دلته به د شهيد مولوي احسان الله احسان صاحب د شهادت واقعه د نوموړي د ورور مولوي عبدالغني احسان صاحب له قوله درسره شريکه کړو چې ددې پيښې عيني شاهد پاته شوی دی. نوموړی وايي: د ۱۳۷۶ هجري شمسي کال د جوزا په پيل

کې زه کابل ته د مولوي احسان الله صاحب د لیدلو لپاره لاړم. خو هلته مې دی ونه لید ځکه پاکستان ته یې سفر کړی و تر څو د مزار له سقوط وروسته پاکستان هیواد د افغانستان د اسلامي امارت په رسمیت پیژندلو ته وهڅوي چې په اسلام اباد کې د اسلامي امارت د هغه وخت د سفیر مولوي شهاب الدین دلاور صاحب په خبره پاکستان هیواد بالاخره همدې ته تیار هم شو او د د جوزا د میاشتې په څلورمه نیټه یعني د مزار له تحول سمدستي وروسته یې اسلامي امارت د افغانستان د رسمي حکومت په حیث په رسمیت وپیژاند چې په تعقیب یې سعودي عربستان او عربي متحده اماراتو هم اسلامي امارت په رسمیت وپیژاند.

مولوي عبدالغني صاحب زیاتوي: زه بیا کندهار ته راغلم او مولوي احسان صاحب هم له پاکستان څخه کندهار ته او له هغه ځایه د اسلامي امارت د بهرنیو چارو د وزیر ملا محمد غوث او څو نورو مشرانو په ملګرتیا مزار ته لاړل. زه هم ددوی په تعقیب په الوتکه کې شبرغان او له هغه ځایه مزار شریف ته لاړم، په مزار کې د ښار د امنیت لپاره د طالبانو او جنرال مالک تر منځ ګډ پلان جوړ شو چې شپږ اعضاء یې درلودل. د طالبانو لخوا د فاریاب والي سیدجانان اغا، دهرات امنیه قومندان ملا عبدالحق او زه و او د جنبش لخوا شیرعرب،جنرال مجید روزي او مولوي عثمان وو.

یوه ورځ چې تیره شوه په ښار کې جنګ شروع شو. سره له دې چې جنګ جنرال مالک شروع کړی و خو موږ ته یې ویل چې دا د حزب وحدت کسانو شروع کړی دی.مازدیګر جنګ شروع شو تر سهار پورې د سهار په وخت کې ډیر طالبان څوک د شبرغان خواته او څوک د سیلو خواته له مزار ښار نه ووتل. په همدې ورځ سهار اته بجې چې د ۱۳۷٦ لمریز کال د جوزا د میاشتې ۷ مه نیټه وه زه د روضې شریفې له مسجد سره ولاړ وم چې په جیپ موټر کې څو طالبان راغلل او راته ویې ویل چې مولوي احسان الله صاحب او نور ملګري د مخابراتو په ریاست کې دي ما په ډیر تکلیف ځان ورورساوو. هلته مولوي احسان الله صاحب،ملا محمد غوث اخندا و په کندهار کې د امارت د خارجه چارو رئیس حاجي فضل محمد موجود و بیا له دې ځایه





له نورو طالبانو سره یوځای په موټرو کې سپاره شو د سیلو سره نږدې یې د ملا محمد غوث اخند موټر وویشت بیا مو هغه په بل موټر کې سپور کړ او په مخ مو حرکت وکړ. د تنګي شادیان په نوم سیمې ته چې ورسیدوپه مخکې د چارکنت د ولسوالۍ د هزاره ګانو د مشر سید اسد نفر ولاړ وو. هغوی زموږ لاره بنده کړه او زموږ د خلع سلاح کولو لپاره یې لاس واچاوو. بالاخره همدلته له هغوی سره خبره تر جنګ ورسیده او ټکان شروع شول. دغه وخت به د ورځې تقریبا لس بجې وې همدلته په جنګ کې مولوي احسان الله صاحب ولګېد او وغورځېد موږ د غره په خوا حرکات وکړ، همدا شپه موږ غره کې شوه سهار د لوړې او تندې څخه د هلاکیدو له امله بیرته کلي ته راکوز شو هزارګانو له ټولو څخه پیسې، ساعتونه او قیمتي شیان واخیستل او موږ یې بندیان کړو. بیا یې بندیان څو ځایه سره جلا کړو زه چې د کومو بندیانو په ډله کې وم شپیته کسان و موږ یې مزار شریف ته یووړو څلورو ورځې بعد یې بیرته همدلته په تنګي شادیان کې د حزب وحدت یوې قرارګاه ته راوړو پنځه ورځې بعد یې موږ لس کسان را وایستو تر څو هغه شهیدان راباندې راټول کړي چې همدلته دوی شهیدان کړي وو.

په دې ورځ موږ پنځه څلویښت شهیدان چې تراوسه په لاره شاوخوا پراته وو او څو ورځې وروباندې تیرې شوې راټول او دفن مو کړل په دوی کې مې خپل ورور مولوي احسان الله احسان صاحب وپیژاند او له نورو شهیدانو مې جلا دفن کړ. بیا چې کله مزار شریف او ټول سمت شمال دوهم وار فتحه شو د مولوي احسان الله صاحب جسد له هماغه قبر څخه کندهار ته را انتقال او د کندهار ښار په لویه ویاله کې د طالبانو په هدیره کې دفن شو چې په دغه هدیره کې د مشرانو د قبرونو له جملې د مشرق لخوا لومړی قبر د شهید ملامحمد اخند، ورپسې شهید ملا بورجان اخند، ورپسې شهید مولوي احسان الله احسان صاحب، ورپسې شهید ملا یار محمد اخند او د سر خواته یې د رئیس الوزار مرحوم ملا محمد رباني صاحب قبر دی. رحمهم الله تعالی

باید ووایو چې د شمال په همدې ستره غمیزه کې د مولوي احسان الله احسان صاحب یو بل ورور مولوي ولی الله صاحب هم شهید شو نوموړی چې د میمنې لخوا له

طالبانو سره راغلی و د جنرال مالک کسانو د زرګونو نورو طالبانو په شان له نیولو وروسته د جوزجان د فیض اباد ولسوالۍ په دشت لیلي کې په ژورو څاګانو کې په شهادت رسولی وو. انا لله و انا الیه راجعون

❊ ❊ ❊





## د شهید مولوي نسیم الله صدیقي ژوند ته کتنه

لیکنه: قاري سعید

مرګ حق دی، له الله تعالی پرته هرشی د مرګ څکه کوي،خو لکه څنګه چې هرنفس له مرګ سره مخامخیدل یو محکم حقیقت دی همدارنګه دا هم یوه منل شوې خبره ده چې د ځینو کسانو له دنیا څخه رحلت په ظاهره مرګ بلل کیږي اما حقیقتا هغوی د تلپاتې ژوند په انعام ویاړل شوي وي.

الله تعالی د حق دلارې د شهیدانو په اړه فرمایلي دي : ژباړه: او تاسو د الله تعالی په لار کې په وژل شویو کسانو د مړو ګمان مه کوئ، بلکې هغوی ژوندي دي د الله تعالی په نزد رزق ورکول کیږي .۱٦۹سورة آل عمران

د الله تعالی په نزد هر هغه څوک شهید بلل کیږی چې دالله تعالی په لار کې ورته مرګ حاضر شي،که څه هم په مخامخ جنګ کې د دښمن په مرمۍ نه وي لګیدلی،ځکه رسول الله H فرمایي: من فصل ( أي خرج ) في سبيل الله فمات أو قتل فهو شهيد ، أو وقصه فرسه أو بعيره أو لدغته هامة ، أو مات على فراشه بأي حتف شاء الله فإنه شهيد وإن له الجنة ) أخرجه أبو داود

شهید مولوي نسیم الله صدیقي چې د حق دلارې یو مخلص مجاهد و کله چې په جهادي سفر کې زخمي شو الله تعالی ورته شفاء نصیب کړه اما په همدې سفر کې ورته داسې مرض پیښ شو چې دده د وفات سبب شو او خپل روح یې اصلي مالک ته وسپاره،څرنګه چې نوموړي ته د ددې مرض عارضېدل د جهادي خدمت په وخت کې و نوځکه نوموړي ته د شهید ویاړمن لقب ورکولای شو.

## مولوي نسيم الله

مولوي نسيم الله صديقي د مولوي حميدالله زوی د مولوي عبدالحکيم لمسی په ۱۳۴۸ هـ ش کال د افغانستان د تخار ولايت د فرخار په ولسوالۍ کې دنيا ته راغلی.

نوموړی چې په يوه علمي او دين دوسته کورنۍ کې زيږيدلی و، والدين يې له کوچنيوالي دينې تربيې ته متوجه و چې په دې لړ کې يې نوموړی د ماشومتوب په مهال د فرخار ولسوالۍ په خسده سيمه کې د مولوي حبيب الله اخندزاده په نوم له عالم سره شاګرد کړ تر څو خپلې ابتدايي دينې زده کړې ترې حاصلې کړې .

په افغانستان د شورويانو له يرغل وروسته کله چې په مليونونو افغانان د خپل هيواد پريښودلو او هجرت ته مجبور شول د مولوي نسيم الله کورنۍ هم په ۱۳۵۹ هـ ش کال له خپلې اصلي سيمې تخار څخه د پاکستان د خيبرپښتونخوا د صوابۍ سيمې ته هجرت وکړ او هلته په درګې نومې کمپ کې ځای په ځای شول.

مولوي نسيم الله چې دغه مهال ماشوم و، دينې زده کړو ته يې دوام ورکړ او دپاکستان په مختلفو مدارسو کې يې ديني کتابونه ولوستل تردې چې د فنونو کتابونه يې خلاص او وړې دورې پورې يې خپله تعلمي سلسله ورسوله .

## د طالبانو له تحريک سره پيوستون

مولوي نسيم الله صديقي په ۱۳۷۳ هـ ش کال د پاکستان په مردان کې په يوه مدرسه کې د وړې دورې کتابونه لوستل،نوموړی د يوه خواريکښ او د علم د عاشق طالب په حيث يوازې ديني تعلم ته متوجه و او ددنيا په نورو جريانانو يې کار نه درلود. همدغه مهال د افغانستان په کندهار ولايت کې د طالبانو اسلامي تحريک قيام وکړ او له بيلابيلو مدارسو څخه د طالبانو د پيوستون بهير ورسره پيل شو.

په همدې شپې ورځو کې د احاديثو او تفسير طالب مولوي نسيم الله په خوب کې رسول الله H وينې چې ورته وايي: لاړ شه او د طالبانو د تحريک ملګری شه!





مولوي نسيم الله چې له خوبه راپاڅيږي په هماغه سهار خپل کتابونه کت کوي او له څو تنو نورو ملګرو سره يوځای د کندهار په خوا روانيږي ترڅو د طالبانو له اسلامي تحريک سره ملګری شي،دغه وخت طالبانو د کندهار ښار او په جنوب کې ګڼې نورې سيمې فتح کړې وې او د کابل په خوا د پرمختګ په حال کې وو.

## په اسلامي امارت کې خدمتونه

مولوي صاحب نسيم الله چې د تخار،کندز، بغلان، سمنګان اولغمان ولايانو يو شمير طالبان ورسره وو د طالبانو د اسلامي تحريک سره ملګری شو. دزابل، غزني او ميدان وردګ له تصفيې وروسته دوی کابل ته ورسيدل او د لوګر لخوا د چهاراسياب په خط کې ځای په ځای شول. دلته د مولوي نسيم الله د مسؤليت ساحه د ريشخورو فرقې ته څيرمه وه،همدغه مهال نوموړي ته د عاليقدر اميرالمؤمنين لخوا د تخار ولايت د طالبانو د مشرۍ چاره وسپارل شوه،مولوي نسيم الله صاحب د چهاراسياب په جهادي کربنه کې خپل مسؤليت په ډيره ايمانداری ترسره کړ،همدلته يې دوه تنه تکړه او نړدې ملګري مخدوم لطيف صاحب او ملا موسی جان شهيدان شول.د چهاراسياب او محمدآغې په سيمه کې دجهادي چارو سره هم مهال نوموړي ته د شهيد مولوي احسان الله احسان صاحب لخوا چې هغه وخت د خوست والي ود خوست ښار د امنيت مسؤليت وسپارل شو،چې ددې ښار په امن کولو او د نظم په اعاده کې يې د ياد وړ نقش ولوباوو.

د کابل له فتحې څه موده وړاندې چې کله د پکتيکا په اورګون ولسوالۍ کې د خالد فاروقي او يوشمير نورو مخالفو وسلوالو لخوا تعرض پيل شو، مولوي نسيم الله صديقي له خپلو ملګرو سره اورګون ته لاړ او د شروفساد د ټوپکيانو د ټغر ټولولو په عملياتو کې يې برخه واخيسته.

مولوي نسيم الله صديقي لا په پکتيکا کې و،چې د پلازمينې کابل د فتحې لپاره د شهيد ملابورجان په مشرۍ عمليات پيل شول، دغه عمليات چې د پکتيا د سپينې شګې سيمې له نيولو سره پيل شول مولوي نسيم الله ورسره له همدې ځايه ملګری شو.

نوموړي او تر قومانده لانـدې ملګـرو يـي د دننګرهـار او لغـمان ولايـت د تصـفيې پـه عملياتو کې عملي ونډه درلوده، د لغمان په ولايت کې د عليشنګ ، عليڼګـار او دولـت شاه ولسوالیو د تصفيې او د شروفساد له عناصرو څخه د خلاصولو مسـؤليت د مولـوي نسيم الله صاحب په غاړه وه چې خپله دغه وظيفه يي په ډيره ښه توګه انجام کړه .

د پلازمينې کابل د فتحې په تعقيب چـې کلـه دپـروان ولايـت مرکـز هـم فتحـه شو،مولوي نسيم الله صديقي لـه لغـمان څخـه پـروان تـه راغـی او د اسـلامي امـارت د مشرتابه لخوا د پروان د امنيه قومندان په حيث وټاکل شو.

د مولوي نسيم الله نړدې ملګري مولوي محمد محسن هاشمي چې هغه مهال يـي له نوموړي سره د امنيه قومندانۍ د مرستيال په حيث دنده اجراء کوله وايي: مولـوي صاحب په هغو پيچيده شرايطو کې خپله دنده په ډيره ښه توګه ترسره کـړه،د نومـوړي په هڅو په شمالي کې ددښمن ډير قومندانان او افراد په سـوله ييـزه توګـه لـه جګـړې لاس په سر شول او له اسلامي امارت سره يوځای شول، زما په ياد دي چې د مخـالفينو يو مشهور قومندان چې آصف نوميده د مولوي نسيم الله صاحب د دعوت په برکت نـه يوازې د خپلو وسلوالو په ګډون له مخالفت څخه لاس په سر شو بلکې يو موټر مهمات او وسلې يي هم اسلامي امارت ته تسليم کړې .

د افغانسـتان د کـار او ټـولنيزو چـارو د لـوی رياسـت پخـوانی رئـيس مخـدوم عبدالسلام سعادت صاحب د مولوي صاحب همـدې صـفت تـه اشـاره کـوي او وايـي: مولوي نسيم الله ته الله تعالی ډير جذاب شخصيت او حسنه اخلاق ورکړي و، د عوامـو خلکو د جلب او د خلکو د زړونو د راخپلولو لپاره يو اغيزناک شخصيت و، د نوموړي په توسط ډير زيات طالبان او عام خلک د اسلامي امارت له صفوفو سره يوځای شول چـې بيا يي د اسلامی نظام او جهاد په لاره کې لوی لوی خدمتونه وکړل.

کله چې په شمال کې د طالبانو جنګي خط له ګلبهار او جبل السراج څخـه راپـر شا شو او دکابل حدودو ته راورسيد دغه وخت نوموړي د شکردرې او ګلدرې په سيمو





کې جهادي مسؤليت په غاړه واخيست او د شراو فساد عناصرو په وړاندې يې پرلپسې مقاومت ته ادامه ورکوله.

نوموړي د کابل د شمال د بيلابيلو سيمو سربيره په غوربند او بادغيس ولايت په جنګي خطوطو کې هم جهادي دنده اجراء کړې ده .

## وفات يې

مولوي نسيم الله صديقي د شکردرې په جنګي خط کې لـه دښـمن سره پـه جګـړه کې زخمي شو. د جګړې له سيمې د علاج لپاره انتقال شـو چـې الله تعـالی ورتـه شـفاء نصيب کړه،اما څه موده وروسته چې نوموړی په جهادي خدمت بوخت و ناڅاپه په يوه سخته ناروغي مبتلا شو،څرنګه چې د نوموړي علاج د هيواد په داخل کې ممکن نه و د علاج لپاره د پاکستان پيښور ته انتقال شـواو هلتـه پـه کـويټي شـفاخانه کـې بسـتر او عمليات شو. خو د مرض د سختوالي له املـه ډاکټرانـو مشـوره ورکـړه چـې دپاکسـتان کراچي ته انتقال شي،نوموړي له پيښور څخه کراچي ته د تګ په مهال په طياره کې پـه نيمه لاره خپل روح اصلي مالک ته وسپاره او د شهادت جام يي نوش جان کړ.

انا لله وانا اليه راجعون .

د مولوي صاحب جنازه کابل ته انتقال شوه د کابل په عيدګاه کـې يـي د اسـلامي امارت د لوړپوړو چـارواکو د رياسـت الـوزراء مرسـتيال مولـوی عبدالکبيرصـاحب او دفاع وزيرملا عبيدالله اخند په ګډون جنازه اداء شوه او بيا يي جسد د کابل په شهدای صالحين هديره کې خاورو ته وسپارل شو.

## رسمي وظايف

مولوی صاحب نسيم الله صديقي د اسلامي امارت په ليکو کې د خدمت په مهـال لاندې مسؤليتونه ترسره کړي:

- § د تخار ولايت د طالبانو مسؤل
- § د خوست ښار د امنيت مسؤل

§ د پروان ولايت امنيه قومندان
§ د پروان ولايت اداري رئيس
§ د شکردرې په جنګي کرښه کې د يوه محاذ مسؤل
§ د شپاړسمې فرقې قومندان
§ د ۲۲ مې لواء قومندان
§ د مولوي نسيم الله کورنۍ

د مولوي نسيم الله کورنۍ دده له والدينو او څو ورونو او خويندو جوړه وه، د مولوي صاحب مشر ورور چې قاري انعام الله نوميده او مولوی نسيم الله صديقي څخه وروسته دده ځاياستی وټاکل شو دامريکايانو ديرغل په لومړيو شپو کې د خوست ولايت په مټه چينه سيمه کې د يرغلګرو په بمبار کې په شهادت ورسيد، مولوي نسيم الله صاحب واده کړی د وفات تر وخته يي د واده دوه کاله وتلي و، له نوموړي څخه کوم اولاد نه دی پاته شوی .

## د مولوی نسيم الله صديقي د شخصيت په اړه

د افغانستان د کار او ټولنيزو چارو د لوی رياست پخوانی رئيس مخدوم عبدالسلام سعادت صاحب وايي:

زه د مولوي نسيم الله صاحب سره لومړی هغه مهال شناخته شوم چې د طالبانو خط په چهاراسياب کې و. په لومړي ملاقات کې ما درک کړه چې نوموړي ته الله تعالی په ژور علمي استعداد سربيره، د اخلاص ،تقوی او ديانت شرف هم ورپه برخه کړی دی،نوموړی ډير له خلوصه ډک او محبت کوونکی شخص و چې ټول مجاهدين ترې ډيرې ښې خاطري لري .

نوموړي د خلکو په جلب او جذب او داسلامی امارت له ليکو سره په وصل کولو کې لوی لاس درلود،نه يوازې يي جهادي تجربه او همت درلود بلکې ښه عالم او په شخصي لحاظ متقی انسان و، د نوموړي له کورنۍ او نږدې ملګرو څخه ډيرو کسانو





دفساد او وروسته دامريکايي اشغال په مقابل کې جهاد کې فعاله ونډه اخيستې ،ډيرې قربانۍ يي ورکړې دي او لا هم خدمتونه ترسره کوي.

د تخار ولايت پخوانی جهادي مسؤل او د مولوي نسيم الله صاحب نږدې ملګری مولوي محمد محسن هاشمي وايي :

مولوی نسيم الله واقعا د زهد،اخلاص،نيکواخلاقو، سخاوت او ميړانې نمونه وه،هغه د رفاقت او اخلاص يو ځانګړی خصلت درلود، هميشه به يي په شونډو موسکا خپره وه، په دې سربيره ورته الله تعالی ښه استعداد ورکړی و،او په تقرير کې يي ځانګړی تاثير پروت و.

نوموړی د خپل اخلاص له امله د اسلامي امارت د زعيم ملامحمد عمر مجاهد سره خورا نږدې تعلقات او حسنه روابط درلودل او په ده يې کامل اعتماد درلود نو ځکه يي ورته هميشه مهم مسؤليتونه سپارل، الله تعالی دې په نوموړي رحم وکړي او الله تعالی دې دده خدمتونه په خپل دربار کې قبول وګرځوي .

رحمه الله تعالی

❊ ❊ ❊

# د شهید ملا یارمحمد اخند ژوند او کارنامو ته کتنه

لیکنه: قاري سعید

شهید ملایار محمد اخند دافغانستان په جنوبي ولایاتو کې دروسانو په خلاف دجهاد دمهال له مهمو څیرو څخه شمیرل کیږي، چې وروسته یې داسلامي امارت په قیام او واکمنۍ کې هم ستر رول لوبولی دی. که په دې حوزه کې دپخواني جهاد، دطالبانود تحریک او اسلامي واکمنۍ یادونه کیږي نودملایارمحمد اخند له یادونې پرته به نیمګړي وي، ځکه نوموړی هغه شخصیت و چې دکمونیستانو په خلاف د جهاد دمرحلې غوندې یې داسلامي امارت په قیام کې هم کلیدي رول درلود.

په دې لیکنه کې هڅه کوو چې دافغانستان دجهاد ددې وتلي شخصیت او قهرمان مجاهد په ژوند او کارنامو وغږیږو .

## پیدایښت او دژوند ابتدائي مراحل

ملایارمحمد اخند دحاجي خان محمد زوی دنیازمحمد لمسی په ۲۱/۸/۱۹۵۹ میلادي نیټه چې د ۱۳۳۸ هـ ش کال د اسد میاشتې له ۲۹ سره سمون خوري دکندهار ولایت د دامان ولسوالۍ دمرغان کیچې په په سیمه کې دنیا ته راغلی. نوموړی په ختیه پښتون - پوپلزی او په سیمه کې یې له یوې دینداري او مخورې کورنۍ سره تعلق درلود .

ملایارمحمد تنکی ځوان و چې دیني زده کړو ته یې مخه کړه، ابتدایي کتابونه یې په خپله سیمه دغه راز دکندهار ښار، ارغسان او نیش ولسوالیو په مختلفو کلیوالو مدرسو کې ولوستل. هغه مهال چې نوموړی دځوانۍ په درشل پل ایښی و، په افغانستان کې کمونیستانو کودتا وکړه، چې له همدې سره نوموړي خپل پاته ژوند دکمونیزم په خلاف جهاد ته وقف کړ .





## دکمونیزم او شوروي یرغل په خلاف دجهاد پیل

دزابل ولایت اوسیدونکی پخوانی مشر۔ مجاهد او دملایارمحمد اخند نږدې ملګری ملا عبدالمنان وایي، چې دکندهار ولایت دارغسان ولسوالۍ په چغني غره کې دقومندان عبدالرازق اوحاجي ملا محمد ربا ني په مشرۍ مجاهدینو ستر جهادي مرکز درلود. په لومړي ځل ملایارمحمد چې تقریبا شل کلن و، همدې مرکز ته دځو نورو مجاهدینو سره یوځای دجهاد لپاره راغی، له همدې مهاله نوموړي دکمونیستانو په خلاف جهاد پیل کړ او ورسره یې په فارغ وخت کې ددیني کتابونو لوست ته هم ادامه ورکوله .

ملایارمحمدپه لومړي ځل دارغسان په ولسوالۍ دمجاهدینو په لوی تعرض کې برخه واخیستله او وروسته یې دکابل ـــ کندهار دلارې په اوږدو کې دکندهار او زابل مربوط په مختلفو ساحو کې جهادي عملیاتو ته ادامه ورکړه .

په دې وخت کې دهمدې سیمې دمجاهدینو زیات عملیاتي تمرکز دکندهار او کلات ترمابین په غزیدلي لاره و، او ډیر ځله به یې دهمدې لارې په امتداد کې ددښمن په کتارونو بریدونه کول .

ملاعبدالمنان وایي په دې وخت کې مجاهدینو په مختلفو سیمو کې په دښمن بریدونه کول، دلویې لارې په اوږدو کې دشهرصفا او کلات ترمابین دغشي۔ ، خاران ، خوارزانه کوټې او په نورو سیمو کې مجاهدینو دښمن ته کمینونه نیول او همیشه کمونیستانو ته سخت تلفات اوښتل تردې چې دشهرصفا مربوط یوه سیمه له دې امله د ( سویو موټرو سیمه ) باندې ونومېده، چې مجاهدینو ددښمن خورا زیات موټر په کې وسوځول .

ملایارمحمد اخند په دې ټولو عملیاتو کې دیوه مخکښ مجاهد په صفت برخوال و، نوموړی چې د ۷- RPGراکټ او توغندیو عیارولو مسلکي و، وروسته یې دطیارو

ضد ستينګر ميزايل په ويشتلو کې ډير مهارت وموند او دکمونيستانو هوايي ځواک ته يې درانه تلفات واړول .

## د دښمن په لاس بندي کيدل

ملايارمحمد اخند دډاکټر نجيب دحکومت په لومړيو کې دشهرصفا او دامان ترمابين دپوټي په کلي کې دکمونيستي عسکرو لخوا ونيول شو او دکمونيزم زندان ته ولوېد. ددې بند په مهال کمونيستانو نوموړي ته په پښو د راځړولو په شمول خورا سختې شکنجې او تعذيبونه ورکړل او تريوه کال پورې په کندهار کې دکمونيستي حکومت په زندان کې و، تردې چې د حبيب اکا په نامه دارغسان ولسوالۍ يوه سپين ږيري او مخور په خپلو هڅو راخلاص کړ او په دې توګه يې دکمونيزم له پنجو نجات وموند اويوځل بيا جهادي صف ته ستون شو .

بايد وويل شي چې ملايارمحمد اخند دطالبانو داسلامي تحريک په مهال هم يو ځل ددښمن په لاس بندي شو.کله چې د ۱۳۷۳ لمريز کال په حوت کې طالبانو دجنوب او جنوب لويديځ لخوا په کابل برید وکړ، چهلستون ته نږدې د دری اړخيز جنګ په پايله کې يوشمير مجاهدين محاصره شول، همدلته دځو نورو طالبانو سره يوځای ملايارمحمد هم داحمدشاه مسعود لاس ته ولويد ، ملايارمحمد اخند ٦ مياشتې ۴ ورځې په جبل السراج کې بندي و،تردې چې ددلارام په خط کې داسمعيل خان او مسعود له کسانو سره دتبادلې په پايله کې راخلاص شو.

## د جهادي مسؤل په توګه

کله چې ملايارمحمد اخند دکمونيستانو له زندان څخه ازاد او جهادي صف ته ستون شو، دغه مهال دارغسان د جبهې عمومي مشر ـ قومندان عبدالرازق دمختلفو سيمو لپاره جهادي ګروپونه تشکيل کړل، چې په دې لړ کې يې دکندهار ددامان ولسوالۍ دشيخزو په سيمه کې دمجاهدينو دځايي ګروپ مشر ـ ملايارمحمد اخند وټاکه، په همدې سيمه کې په جهادي فعاليت سربيره وروسته نوموړي خپل فعاليتونه





نور هم وغځول او دکندهار په هوايي ډګر چې ددښمن ډيرې قواوې په کې وې عمليات يې پيل کړل. دهمدې عملياتو په لړ کې ملايارمحمد اخند په لومړي ځل ددښمن مېګ جنګي طياره رانسکوره کړه، ملاعبدالمنان چې ددې صحنې شاهد دی وايي ، ميدان ته په نږدې سيمه کې جنګي الوتکو په مجاهدينو بمبار کاوو، مجاهدينو ددښمن دقومندې دمرکز مخابره کشف کړه، چې پيلوټانو ته يې ويل چې ډير احتياط وکړي ځکه کيدای شي دمجاهدينو لخوا وويشتل شي. خو يوه پيلوټ ځواب ورکړ چې دی له مجاهدينو نه ويريږي ، همدا طياره دبمبار لپاره په مجاهدينو راټيټه شوه او بمونه يې وغورځول، خو بيرته دپورته کيدا په مهال ملايارمحمد اخند په ستينګر ميزايل په نښه کړه او رانسکوره شوه. دعبدالاحد په نامه د طيارې پيلوټ چې مجاهدينو يې خبرې په مخابره کې اوريدلې وې، له يوبل ملګري سره ژوندی دمجاهدينو لاس ته ورغی .

تردې عملياتووروسته دکندهار مجاهدينو دربګ په سيمه کې ددښمن په پوستو باندې سرتاسري عمليات پيل کړل. ملايارمحمد اخند په دې عملياتو کې هم ديوه مخکښ مجاهد په حيث برخوال و، چې په نتيجه کې يې دربګ له سيمې ددښمن کمپله په بشپړ ډول ټوله شوه .

## د جبار او دوستم مليشو په خلاف جنګونو کې شرکت

د نجيب دحکومت په وروستيو کلونو کې د درست افغانستان غوندې په جنوبي ولاياتو کې هم جهادي عمليات دهرکله په نسبت تشديد شول او له اطرافي سيمو ددښمن کمپله ټوله شوه په دې وخت کې دزابل ولايت مرکز کلات ښار دمجاهدينو ترمحاصرې لاندې راغی او دلويې لارې پرسر دمجاهدينو عمليات دهرکله په نسبت زيات شول .

دزابل او کندهار ولايت مجاهدينو په ګډه دزابل په مرکز کلات باندې برید پيل کړ،دهمدې لارې دخلاصولو او دکلات دمحاصرې دماتولو لپاره حکومت په جنوب کې دسترې حکومتي مليشې مشر عبدالجبارقهرمان ته قومنده ورکړه چې کلات ته ځان ورسوي. دجبار مليشه چې ددوستم دګلم جمي مليشې غوندې يې په جنوبي ولاياتو

کې په سختو ظلمونو شهرت درلود او زرګونه بې جلبه مرتزقه ټوپکوال په کې راغونډ شوي وو، له کندهارڅخه يې دکلات په خوا پرمختګ پيل کړ، کله چې دجبار قوه چې سلګونه پوځي موټر او وسايط ورسره وو د شهر صفا له سيمې تېره شوه، مجاهدينو دجلدک په سيمه کې برید پرې وکړ او دوړاندې تګ مخه يې ونيوله او دکندهار دمجاهدينو يوه مشر ملامحمد رباني اخلددغه وخت دملايارمحمد په مشرۍ مجاهدينو ته وظيفه ورکړه چې د کندهار له دامان سره نږدې دشهرصفا ولسوالۍ دشيرعلي خان په سيمه کې په دښمن برید وکړي او دسيمې ولکه په لاس کې واخلي، په دې توګه مجاهدينو په دې سيمه کې په دښمن برید وکړ او د جبار مليشه يې کلات ته نارسيده د شهرصفا او کلات ترمنځ محاصره کړه .

ددې جنګ په مهال چې دزابل او کندهار ولايت ګڼو مجاهدينو او جهادي ګروپونو په کې شرکت درلود، دشهرصفا او جلدک په سيمو کې له دښمن سره سخت جنګونه وشول، چې په نتيجه کې يې دجبارمليشه يو مخ ختمه شوه او يوازې مشر يې په تيښته ځا ن خلاص کړ . له دې وروسته بيا دې حکومتي مليشې سرپورته نکړ، بلکې ټول عسکر يې د کندهار او زابل ترمنځ دمجاهدينو په سختو برېدونو کې له منځه لاړل.

په دې پراخ جنګ کې دملايارمحمد مسؤليت دشهرصفا ولسوالۍ د شيرعلي خان په سيمه کې و، چې له دښمن سره يې سخت جنګونه وکړل. ددې جنګ په مهال هم دده ملګرو ددښمن يوه جنګي چورلکه رانسکوره کړه او بله يې هغه مهال روغه ونيوله، کله چې دمجاهدينو دپرمختګ له امله پيلوټ خطا شو او دمجاهدينو په ساحه کې يې ځرخکه کينوله چې مجاهدينو ورباندې حمله کړه او له دری تنه عملې سره يوځای يې ونيوله .

ملاعبدالمنان وايي د مجاهدينو مشر قومندان عبدالرازق غوښتنه وکړه، چې نيول شوې ځرخکه دې په ارغسان کې دمجاهدينو مرکز ته راوستل شي. خو دامهال چې د دښمن ځرخکې هم ډيرې ګرځيدې او هرځای يې بمبارونه کول، ددې لپاره چې





دمرکز مجاهدين دغه ځرخکه وپيژني ملايارمحمد اخند خپله لنګوټه د نښې په توګه په ځرخکه پورې وترله ، او په دې ډول يې له شهرصفا څخه په ارغسان کې دمجاهدينو مرکز ته نقل کړه.

په همدې مني چې دجبار مليشه ختمه شوه، په ورپسې ژمي دجنرال دوستم ګلم جم مليشې په همدې لار دتيريدلو هڅه وکړه. په دې جګړه کې مجاهدينو ددوستم مليشې ته سخت تلفات واړول ، خو ځرنګه چې ديخ موسم و او دمجاهدينو شمير کم و، نوځکه دوستم وتوانيد چې يو شمير عسکر يې دمجاهدينو له برېدونو روغ ووځي، ددوستم په خلاف دجنګ په مهال ملايارمحمد اخند د شهرصفا ولسوالۍ د کوټيزو په سيمه کې ددښمن په خلاف جنګيده .

## دکندهار ښار په شاوخوا کې جهادي فعاليت

دجبار او دوستم مليشو له شکست وروسته په اکثره اطرافي سيمو دمجاهدينو ولکه راغله او ددښمن شتون يوازې دکندهار ترمرکز پورې راغونډ شو . دغه مهال ددښمن اکمالات هم ټول دهوا له لارې کيدل او دمجاهدينو په خلاف ددښمن يوازينې مؤثر عمليات هم دجنګي الوتکو او چورلکو بمبار و، نوځکه مجاهدينو په کندهار کې ددښمن دهوايي ځواک ځپلو ته توجه زيات کړه. دغه مهال مجاهدينو ددښمن دجنګي طيارو او هوايي ډګر دويشتلو لپاره يو ځانګړې ډلګۍ وټاکله چې مشرې يې دملايارمحمد اخند په غاړه وه، دوی که له يوې خوا په هوايي ډګر او ورسره نږدې (بری غونډ ) باندې تهاجمي عمليات کول له بلې خوا په دوامدار ډول هوايي ډګر دتوغندويو تربرید لاندې ساته .

ددې عملياتو په مهال به ملايارمحمد اخند دنورو ملګرو مجاهدينو په مرسته له ۱۰ تر ۲۰ ميزايل په مسلکي ډول عيارول او بيا به يې شارت ورکاوو او په دې توګه به يې په ميدان کې ناستې ځرخکې او جنګي طيارې په نښه کولې. داسې ويل کيږي چې دافغانستان په جنوب کې دکمونيست رژيم جنګي هوايي ځواک چې د کليوالو سيمو د بمبار او ولسي قتل عامونو عامل بلل کيده تر ډيره په دې طريقه له پښو ولوېد او

لسګونه جنګي طيارې او څرخکې يې په ځمکه ناستې له منځه يووړل شوې چې په دې کې د شهيد ملا يار محمد اخند رو ل تر هر چا زيا ت و .

دکندهار ښار په شاوخوا کې ملايارمحمد اخند دمحله جات په سيمه کې يوځل په اوږه باندې ولګېد، چې له معالجې وروسته يې ټپونه روغ شول .

## په کندهار کې دکمونيستانو او غدارانو مشترکه دسيسه

کله چې جهاد دبريالیتوب پړاو ته ورسيد او دنجيب کمونيست حکومت دنړيدو په درشل ولاړ و، داځل کمونيستانو يوځل بيا هڅه وکړه، چې دخپل شيطانت په کارولو اويوشمير محلي غدارانو له جفا نه په استفاده واک ته درښتيني مجاهدينو درسيدلو مخه ونيسي .

دا مهال په کندهار کې يوه ډله هغه مجاهدين وو، چې په رښتيني معنا يې قربانۍ ورکړې وې ، جهاد يې کړی و او ډير مشقات يې ګاللي وو. په دوی کې دکندهار په سطحه قومندان عبدالرازق ، ملامحمد رباني، ملا محمدعمر مجاهد، ملامحمد صادق،معلم فدامحمد،ملامحمد شيرين، شهيد ملايارمحمد، شهيد ملابورجان، شهيد ملامحمد او داسې نور ګڼ شمير د کمونيزم ضد جهاد دمهال نومیالي مجاهدين وو .

خو له دوی سره په څنګ کې د مجاهدينو دقومي شورا په نامه يوه بله ډله هم وه، چې زياتره شعاري مجاهدين او هغه کسان په کې راټول وو چې له جهاد څخه يې دقدرت او دنيوي اعتبار دلاسته راوړلو لپاره استفاده کوله. په دوی کې مطرح کسان ګل اغاشيرزی، خان محمدمجاهد، استاد عبدالحليم، اميرلالی، فضل الدين اغا، حامداغا او ځيني نور کسان وو، چې دکمونيزم په خلاف په عملي جهاد کې يې کومه دپامور ونډه نه درلوده، خو دجهاد په نامه دمرستو او وسلو په پيدا کولو ډلبازۍ او قوم پرستۍ باندې ښه غښتلي وو، چې زياتره ورسره بې جلبه ټوپکوال رايوځای شوي وو .





هغه مهال چې کندهار لا د کمونيستانو په لاس کې و، دې قومندانانو له حکومت سره پټې اړيکي درلودې او حتی داسې ويل کيدل، چې دحکومت له استخباراتو ( خاد) سره يې روزمره ليدل کتل کول او دغه مهال دوی کمونيستانو ته ددښمن په سترګه نه کتل .

کله چې کمونيستي رژيم په دې پوه شو چې نور په کندهار کې واک ته ادامه نه شي ورکولای ، نو يې دکندهار والي جنرال اکرم ته دنده ورکړه، ترڅو واک په داسې شکل پرېږدي، چې رښتيني مجاهدين هغه چې دکمونيزم ملا يې ماته کړې وه، واک ته ونه رسيږي. په دې توګه جنرال اکرم په پټه دقومي شورا له شاملو مجاهد نما قومندانانو سره خبرې اترې پيل کړې او ناڅاپه يې دکندهار ټوله اداره همدې تش په نامه جهادي قومندانانو ته وسپارله .

چې همدې يادو شويو دقومي شورا قومندانانو دکندهار ولايتي ادارې ترخپل منځ سره تقسيم کړې، چا هوايي ډګر ونيو، چا ولايت قبضه کړ اوځوک په قومندانۍ يا قول اردو ننوتل. په دې توګه دکندهار رښتيني مجاهدين او جهادي مشران ټول له ښار څخه بهر په جهادي جبهاتو کې پاته شول، ملايارمحمد اخند چې دغه مهال يې دکندهار هوايي ډګر ته ځيرمه دبرې غونډ له کمونيستانونيولی و، په همدې غونډ کې يې خپل مجاهدين ځای په ځای کړل.

له همدې ورځې دکندهار په ښار او شاوخوا کې دتاريخي بې نظمۍ او هرج ومرج دوران پيل شو. واکمنو قومندانانو چې پخوايي ځانونه مجاهدين او دقومي شورا غړي بلل، په خپل منځ کې يې جګړې پيل کړې. نه يوازې جګړې بلکې داولس په وړاندې يې هم سخت ظالمانه چلند پيل کړ . غلا ، قطاع الطريقي ، فساد او هرډول مظالمو ته يې لاس واچاوو او بې سابقې فساد يې رامنځ ته کړ ، چې بالاخره ددوی همدا فساد او د مجاهد اولس بدې ورځې دکندهار ښتيني او پاک مجاهدين په دې مجبور کړل، چې دغه بې جلبه ټوپکيان له سيمې وشړي او اولس دسولې او عزت ژوند ته ستون کړي .

## په اسلامي تحريک کې شرکت

کله چې په کندهار کې دملامحمدعمر مجاهد په مشرۍ دطالبانو اسلامي خوځښت پيل شو، دغه مهال ملايارمحمد اخند دکندهار هوايي ډګر ته څيرمه په بري غونډ سيمه کې له خپلو مجاهدينوسره و. هغه مهال چې تحريک ډنډ ولسوالۍ ته راورسيد نوموړي دوړاندينې شناخت او تعلق له مخې دتحريک له مشرانو ملامحمد عمر مجاهد او ملاعبدالغني برادر سره وليدل. په دې مجلس کې چې ملامحمدرباني او ملاعبدالمنان هم حاضر و، ملايارمحمد اخوند له خپلو ټولو مجاهدينو او امکاناتو سره يوځای له اسلامي تحريک سره وصل شو، چې تردې وروسته بيا دعمر ترپايه داسلامي تحريک په بيلابيلو نظامي او ملکي بخشونو کې په خدمت بوخت پاته شو، ترڅو يې چې په همدې لاره کې دشهادت جام هم نوش کړ .

دکندهار له فتحې وروسته ملايارمحمد اخند دطالبانو په هغه لښکر کې جهادي خدمت سرته رساوو، چې زابل ، غزني، وردګو او لوګر ولاياتو ته ورسيد. نوموړی په کابل دلومړني بريدپه مهال داحمدشاه مسعود له خوا ونيول شو او کله چې راخلاص شو بيا يې جهادي دندې ته ادامه ورکړه . کله چې دهرات ولايت دطالبانو لخوا ونيول شو، نوموړی دهرات دوالي په حيث وټاکل شو .

هغه مهال دهرات ولايت وضعيت خورا کړکيچن و. دتورن اسمعيل خان کسان چې په هرات ښار او شاوخوا کې يې پراخ نفوذ درلوده او له بلې خوا ددښمن تبليغات هم روان وو، هميشه به يې دبريد او بغاوت هڅه کوله . دشپې مهال به يې دښار په مختلفو سيمو کې ډزې پيل کړې او هڅه به يې کوله چې مجاهدين وارخطا او دهرات پريښودو ته اړ باسي. مګر ملايارمحمد اخند په ډير شجاعت او استقامت له دې حالاتو سره مقابله وکړه، ددښمن هيڅ فشار ته تسليم نه شو او نه يې په ګواښونو پروا وکړه، تردې چې وروسته دهرات وضعيت کرارکرار نورمال شو او ددښمن تحرکات ختم شول .





په هرات ولايت کې ددندې په مهال ملايارمحمد اخند خورا ډير عمراني کارونه ترسره کړل. دهرات ولايت په تاريخي جامع مسجد يې ډير کار وکړ دغه راز يې ګڼې نورې تاريخي او حکومتي ودانۍ ، جوماتونه، مدرسې او عام المنفعه ودانۍ جوړې او ترميم کړې او دولايت په مقام کې يې نوی جامع مسجد جوړ کړ .

په هرات کې له دندې وروسته نوموړی دغزني ولايت والي وټاکل شو، چې هلته يې هم د پام وړ عمراني خدمات سرته ورسول. په غزني کې دوظيفې په مهال دنوموړي ډير تعلق دغزني په شلګر کې له تاريخي مدرسې نورالمدارس فاروقيې سره و. همېشه به دې مدرسې ته ورتلو، په طالبانو به يې احوال اخيست، مرسته يې ورسره کوله او ځانګړې مينه يې ورسره درلوده .

ملايارمحمد اخند که څه هم دجهادي ژوند له املې خپلې تعليمي سلسلې تړې نيمګړې پاته شوې وه، خو دعمر ترپايه يې له ديني علم ، علماء او مدارسو سره ځانګړې مينه درلوده دزابل د شهرصفا اوسيدونکی ملاعبدالمنان اخند چې دملايار محمد اخند سره ډير وخت ملګری پاته شوی وايي، چې ملايارمحمد اخند څو بارز صفات درلودل.

جواد سړی و او په مجاهدينو او اړو کسانو يې په ډير سخاوت پيسې تقسيمولې، هيڅ قومي يا دانډيوالۍ تعصب يې نه درلود او که به يې له چاسره جنجال وکړ هم، عقده يې نه درلوده، بلکې لږ شيبه وروسته به بيرته داسې و لکه هيڅ چې نه وي پيښ. په جهاد کې غيرتي او بااستقامته و، تقودار او پاک نفسه وو، په ځان ښه حاکم و، او له بداخلاقۍ نه يې ډيره کرکه کوله .

## شهادت يې

هغه وخت چې ملايارمحمد اخند په غزني کې والي و، دغزني ښار په شمال کې دخواجه عمري په ولسوالۍ کې دحزب وحدت کسانو بريد وکړ. ملايارمحمد اخند په خپله دجګړې ډګر ته لاړ چې همدلته دخواجه عمري ولسوالۍ دقياق درې په سيمه

کې دحزب وحدت له کسانوسره دجګړې په مهال په ۱۸/۵/۱۴۱۹ هـ ق نیټه دغرمې په ۱۲ نیمې بجې د ثقیل ماشیندار په مرمۍ ولګېد اود ۳۹ کلنۍ په عمر په شهادت ورسېد.

دنومړي جنازه کندهار ته انتقال شوه او دکندهار ښار دشهیدانو په مشهوره هدیره کې خاورو ته وسپارل شو.

له ملایارمحمد اخند څخه شېږ اولادونه پاتـه دي، دنومـوړي ورونـه اوجهـادي ملګري اوس هم دنومړي په لاره روان او دنوي امریکایي یرغل په مقابل کې په جهادي خوځښت کې دپام وړ رول لري .

انا لله وانا الیه راجعون

❊ ❊ ❊





## د شهید ملامحمدنعیم نافذ ژوند ته کتنه

لیکنه: قاري سعید

### نومورکي اتلان

داسلامي مبارزوبهیر اساسا دهغو ګمنامو اتلانو دکارنامو او جانبازیو مرهون دی چې موږ یې له نومونو، ژوندلیکونو او ځیرو سره آشنا نه یو. دا یو حقیقت دی چې دتاریخ پاڼې ترډیره دمشهورو او سرکرده اشخاصو په تـذکرو راڅرخي او هغه ګمنـام اتلان یې په هر دور کې هیر کړي دي چې دانقلابونو پـه راوسـتلو، کارنـامو جوړولـو او حماسو زیږولو کې یې لومړی لاس او مباشر رول درلودلی وي .

داسلامي تاریخ دغه اتلان که څه هم په دنیایي لحاظ نومورکي او ناپیژندویه بلـل کیږي ، مګر باور دادی چې دآخرت برخـه بـه ددوی درنـه وي. ځکـه دوی دالله تعـالی حضورته دخپل سوچه عبادت او خدمت پانګه وروړې چې دهیڅ ډول شهرت ، ریـاء او ځانښودنې شائبه په کې نه شته . دغه راز رسـول الله H هـم داسـلام د لارې دغه ډول نا پیژندویه، ګمنام او بـې تقاضـا سـپاهیان د بشـارت وړ بلـلي او د هغـوی د مقام ستاینه یې کړې. په حدیث شریف کې راځي چې رسول الله H فرمایي: طوبى لعبدٍ آخذ بعنان فرسه في سـبيل الله، أشـعث رأسـه، مغـبرة قـدماه، إن كـان في الحراسة كان في الحراسة، وإن كان في الساقة كان في الساقة، إن استأذن لم يؤذن لـه، وإن شفع لم يشفع ) رواه البخاري

بشارت او خوښي ده د هغه بنده لپاره چـې د جهـاد پـه لاره کـې یـې د خپـل آس ملوني نیولې وي. ببر سر، سپیرې پښې او دا باک نه کوي چې که په پیره ودرول شي په پیره ولاړ وي او که د لښکر وروستۍ برخې ته واستول شي همالته خدمت کوي، دومره

گمنام او نا پيژندويه وي چې که اجازه وغواړي اجازه نه ورکول کيږي او که د چا سپارش وکړي سپارش يې نه قبليږي.

په افغانستان کې داسلامي امارت قيام په معاصره اسلامي نړۍ کې يوه لويه پيښه وه ، په لومړي ځل له لسيزو وروسته دالله تعالی په ځمکه په صحيح معنی ديوه سوچه اسلامي نظام دنفاذ غږ پورته شو، ددې ارمان دترسره کولو په لاره کې ډيرو متعهدو ځوانانو خپلې وينې نذرانه کړې ، هغوی چې خپل پور يې اداء کړ، دحق دمعرکې ميدان ته راغلل او لاړل ، داممکنه نه ده چې ددوی ټولو سوانح راغونډ او تدوين شي ، خو په دې بايد اعتراف ولرو ، چې همدغه دحق دسنگر ګمنام شهيدان هر يو ددې حق لري، چې امت يې يادونه په سينو کې ژوندي وساتي. ځکه همدوی دي چې خپلې وينې يې داسلام ډيوې ته ورکړي دي، خو په مقابل کې يې هيڅ دنياوي خونبها ونه غوښته .

راځئ دهمدې قافلې ديوه بل لاروي شهيدملامحمدنعيم نافذ په ژوند او ژوند پيښو سره وغږيږو .

## شهيد ملامحمدنعيم نافذ

محمد نعيم نافذ د حاجي ګل محمد زوی دمرحوم سعيدجان لمسی په قوم پښتون /ميرانې په ۱۹۷۲ ميلادي کال کې د روزګان ولايت دخاص روزګان ولسوالۍ په شيره نومي علاقه کې په يوه ديندار کورنۍ کې دنيا ته راغی.

نوموړي خپل دکوچنيتوب عمر په خپل کلي کې تير کړ، دکلي دمسجد له ملاامام څخه يې لومړنۍ الفباء ولوسته اووروسته دروزګان ولايت دمرکز ترين کوټ چرمستان سيمې ته لاړ او هلته يې په ديني مدرسه کې داخله واخيسته .

په همدې سيمه کې يې يوکال درس ووايه او وروسته دزابل ولايت د دايچوپان ولسوالۍ هزاربوز سيمې ته لاړ چې هلته يې په يوه کليواله مدرسه کې ديني زده کړو ته دوام ورکړ. په دې مهال چې په افغانستان روسي يرغلګرو برید کړی و او په مقابل





کې يې مسلح جهاد شروع و، ددوی کورنۍ له روزګان څخه دپاکستان دبلوچستان مسلم باغ سيمې ته هجرت وکړ او هلته يې دمهاجرو په يوه کيمپ کې دهجرت ژوند پيل کړ .

محمدنعيم نافذ چې دغه مهال نوی ځوان و، دپاکستان دبلوچستان په مختلفو مدارسو کې يې خپلو ديني زده کړو ته دوام ورکړ. له دې جملې په مسلم باغ، کويټه، سرخاب، ميزۍ اډه او نورو سيمو کې يې له مشهورو استادانو څخه ديني کتابونه ولوستل تردې چې دفنونو کتابونه يې خلاص کړل او د وړې دورې تردرجې پورې ورسيد .

د کمونيستانو په خلاف دجهاد په وروستيو کلونو کې نوموړي په لومړي ځل په جهادي عملياتو کې برخه واخيسته، چې دغه وخت دروزګان ولايت دمشهور جهادي قومندان ملامحمد شفيق اخند په جبهاتو کې يې جهادي خدمت ترسره کړ .

## دطالبانو په اسلامي تحريک کې شموليت او خدمت

دطالبانو داسلامي پاڅون دپيل په مهال، هغه وخت چې دطالبانو لخوا بولدک نيول شوی و، ملامحمد نعيم نافذ په اسلامي تحريک کې شامل شو. دکندهار له فتحې وروسته چې کله دنورو ولاياتو په خوا تشکيلات کيدل ملامحمدنعيم په هغه تشکيل کې و چې دروزګان ولايت په خوا وليږل شو. په روزګان ولايت کې زياتره پخوانې جهادي قومندانانو دطالبانو داعيې ته لبيک ووايه او له اسلامي تحريک سره وصل شول، خو يوازې د محمدنبي، معلم عبدالخالق او اخترمحمد په نومونودری تنو قومندانانو مقاومت وکړ. له دوی سره دروزګان دمرکز ترين کوټ په مربوطاتو کې جګړه وشوه، چې ملامحمدنعيم په کې ديوه ګروپ مشر په حيث برخه درلوده. دروزګان له فتحې وروسته ملامحمدنعيم داسلامي تحريک دمشرانو لخوا د دهراوود ولسوالۍ دامنيه قومندان په حيث وټاکل شو.

کله چې دطالبانو تحریک دغزني او کابل په خواپرمختګ وکړ ملامحمد نعیم هم ددې لښکر ملګری وو، چې دغزني، میدان وردګ او لوګر په جګړو کې یې برخه درلوده، ترڅو دکابل دچهاراسیاب ښارګوټی او دکابل ښار یو شمیر جنوبي سیمې دطالبانو لاس ته ورغلې ، نوموړي ته په دې مهال دریشخورو دفرقې مسؤلیت وسپارل شو او په همدې سیمه کې له خپلو جهادي ملګرو سره اوسیدو .

په همدې سیمه کې یوه ورځ چې له ملګرو سره په جهادي دفاعي خط باندې ګرځیده، ددښمن دهاوان مرمۍ دلګېدو له املې سخت ټپي شو، چې دعلاج لپاره دجګړې له سیمې انتقال شو .

له علاج وروسته نوموړی بیرته جهادي صف ته حاضر شو، دغه وخت طالبانو هرات نیولی و او دبادغیس په مربوطاتو کې جګړه روانه وه، نوموړی دامیرالمؤمنین ملامحمد عمر مجاهد په فرمان دبادغیس دفاعي کرښې ته ولیږل شو او د کمربند مسؤلیت وروسپارل شو .

په بادغیس کې له څه وخت تیرولو وروسته چهاراسیاب ته راغې او همدلته ترهغه وخته په جهادي صف کې پاته شو، ترڅو طالبانو کابل فتحه کړ. دکابل د فتحې په مهال چې طالبان دمیدان ښار، چهاراسیاب او پل چرخي له لورې په کابل ورننوتل، نوموړی دچهاراسیاب په دفاعي خط کې و، چې د دری طرفه جګړې په نتیجه کې ددښمن دفاعي کمربندونه مات شول او طالبان فاتحانه کابل ته ننوتل .

## د کابل په شمال کې جهادي خدمت

دملامحمد نعیم نړدې ملګری او همسنګر ملاعبدالحنان وایي چې دکابل له نیولو وروسته نوموړی د کابل دشمال شکردرې په سیمه کې مسؤل وټاکل شو. له هغه وروسته څه موده دکاپیسا ولایت ته لاړ او بیا دبګرام په دفاعي خط کې په خدمت بوخت و .





ملاعبدالحنان وایي هغه وخت چې دمسعود له خوا دکابل دبیانیولو عملیات پیل شوي وو او طالبانو د بګرام په استقامت دکاریزمیر ترسیمې پورې عقب نشیني کړې وه، بلې خواته په شکردره باندې هم سخت عملیات روان وو ، په همدې وخت کې چې حالات ډیر حساس و، دافغانستان ددفاع وزیر ملاعبیدالله اخند دجګړې کرښې ته راغی، او ملامحمد نعیم نافذ ته یې وویل چې دشکردرې خط ته لاړ شي، نوموړی له خپلو ملګرو سره دشکردرې خط ته لاړ چې هلته له څو ورځو جګړو وروسته ددښمن پرمختګ په ټپه ودرېد. له دې وروسته نوموړی په شکردره کې دقطعې مسؤل وټاکل شو او ترډیره وخته یې په همدې سیمه کې خدمت ترسره کړ، نوموړي د شمالي تقریباپه ټولو عملیاتو کې برخه درلوده .

هغه وخت چې ملامحمد نعیم په شمالي او کندز کې جهادي دنده ترسره کوله، دګردیز ددریم نمبر قول اردو دقومندان په حیث مسؤلیت یې هم درلود، خو ځرنګه چې نوموړی همیشه په جنګي کرښو کې وو په قول اردو کې یې دنده په نیابت شهید ملاعبدالمنان اوبیا شهید ملاپای محمد ترسره کوله .

## کندز ته اوښتل

د ۱۹۹۷ میلادی کال په می میاشت کې دافغانستان په شمال کې ستر تحولات رامنځته شول. په همدې میاشت کې دشمال یو مشهور قومندان جنرال مالک له طالبانو سره ملګری شو، دنوموړي سره په ګډه طالبانو دمزارشریف په ګډون شمالي ولایات ترکنترول لاندې راوستل. دغه راز دطالبانو بل لښکر د پروان څخه دسالنګ تونل په لاره بغلان ته ووت او پلخمری ښارګوټی یې ونیو، خو کله چې جنرال مالک له طالبانو سره غدر وکړ او دمزار شریف په شمول شمالي ولایات یې بیرته ونیول په پروان کې مسعود برید وکړ سالنګ ، جبل السراج او چاریکار یې ونیول چې په دې توګه دطالبانو زرګونه مجاهدین په بغلان کې کلابند پاته شول ، طالبانو د نجات دیوازینۍ لارې په توګه په کندز برید وکړ او دسیمه ایزو قومندانانو په مرسته یې

کندز ښارګوټی ونيو چې په دې توګه يې دکنـدز دهـوايي ډګـر لـه لارې لـه کابـل سره دهوايي تګ راتګ لار ومونده .

طالبان چې دکندز په مرکز کې په ډيره محدوده ساحه کې محـاصره وه ، او هـره شيبه د تخار ، بغلان او سمنګانو له اړخـه دمخـالفينو تربريـدونو لانـدې وو، پـه ډيـرو سختو شرايطو کې يې شپې ورځې تيرولې. هيڅا داتمه نه درلـوده چـې لـه دې سـختې محاصرې به روغ وځي همدا سخت حالات ددې باعث وو چې دکندز جهادي صف تـه هيڅا دتللو زړه نه کاوو. په همـدې مهـال ملامحمـدنعيم نافـذ چـې دکابـل پـه شـمال شکردره کې يې جهادي دنده تـرسره کولـه د اسـلامي امـارت د زعـيم ملامحمـد عمـر مجاهد لخوا مأمور شو، ترڅو دجهادي خدمت لپاره کندز ته لاړ شي، نوموړي پـه پـوره اطاعت دخپل امير امر ته لبيک ووايه او دغه سخت مسؤليت يې قبول کړ .

ملا عبدالحنان وايي ، شهيد ملامحمد نعيم خپل ملګري په کابل کې راغوند کړل او ورته ويي ويل چې ماته ويل شوي دي چې کندز ته واوړم، په تاسو کـې کـه هرڅـوک تيار وي او له ماسره په خوښه ځي زه ورباندې خوشاله کيږم اما زما لخـوا اجبـار نشـته چې خامخا راسره لاړ شئ، په دې مهـال يـوازې ۱۱ تنـه تيـار شـول چـې لـه ده سره دې سخت سفر ته تيار شي. ملا محمد نعـيم لـه همـدې ۱۱ تنـو ملګـرو سره د طيـارې پـه توسط کندز ته لاړ، چې وروسته کله چې دکندز دجبهاتو مشر شـهيدملادالله اخنـد کابل ته لاړ ملامحمد نعيم په کندز کې دعمومي جهادي مشر په صفت پاته شو .

دافغانستان دتعليم او تربيې پخوانی وزير ملاامير‌خان متقي چې هغه مهـال يـې په کندز کې دطالبانو په جهادي ليکو کې خدمت کاوو، وايي چې ملامحمد نعيم خورا منتظم او په حربي چارو پوهيدونکی سړی و. دکندز دمحاصرې پـه مهـال داحمدشـاه مسعود ټول کوشش دا و چې په کندز کې طالبان له منځه يوسي، ځکـه پـه کنـدز کـې دطالبانو شتون نوموړی په کابل باندې لـه سرتـاسري بريـد څخـه منعـه کـاوو او ډيـر ځواکونه يې په کندز کې بوخت وو. دهمدې لپاره مسعود او ملګري يي هردم په هڅـه کې وو چې په طالبانو دمحـاصرې کـړی تنګـه کـړي، خـو ملامحمـد نعـيم نافـذ چـې





پرلپسې يې مقاومت او تعرضونو ته دوام ورکاوو نه يوازې پـه شـا نـه شـو بلکـې اضـافه ډيرې سيمې يې فتحه کړې او همېشـه دپرمختـګ پـه حـال کـې وو چـې پـه دې توګـه دمحاصرې ساحه ازادېدله .

ملاامير‌خان متقي وايي ، ملامحمد نعيم دمخابراتي ارتبـاط خـورا ښـه او بريـالی نظام جوړ کړی و، چې همېشه فعال وو ، ملامحمد نعيم فعال او متحرک سړی و، چـې اکثره وخت يې ۱۸ تر ۲۰ ساعته پوري کار کاوو ، همېشه به په جنګي کرښو ګرځيـده ، او ددښمن دبريدونو ځواب ته اماده و .

ملا عبدالحنان چې په کنـدز کـې يـي لـه ملامحمـد نعـيم سره جهـادي ملګرتيـا درلوده، وايي چې په کندز کې دجهادي مسؤليت په مهال دملامحمد نعيم په مشرۍ دتخار اشکمش ، دبغلان بورکه او نورې ګڼې سيمې فتحـه شـوې او مجاهـدينو سـترې بريالۍ ترلاسه کړې .

## شهادت يې

په کندز کې له اوږده مسؤليت ترسره کولو وروسته نوموړي تـه پـه ۱۹۹۹ م کـال کې يوځل بيا دکابل په شمال کې جهادي مسؤليت وسپارل شو. داځـل چـې مخـالفينو دکاپيسا په مربوطاتو کې عمليات پيل کړي وو نوموړي هڅه کوله، دتګـاب او نجـراب ترمنځ سيمه کې دمخالفينو په پوستو متقابل بريـد وکـړي .مخـالفينو چـې سـيمه پـه ځمکنيو ماينونو پوښلې وه، ملامحمدنعيم له خپلو ملګرو سره يوځای هڅه کوله د لارې په تصفيې سره مخ په وړاندې دتللو لاره خلاصه کړي، په همدې مهال چې مـاين پاکـان دلارې په خلاصولو بوخت وو او دی له خپلو ملګـرو سره دسرک پـه غـاړه انتظـار وو، د دوه ميلې يو موټر په ماين وخوت چې په درانه انفجار کې ملامحمدنعيم اخند هـم پـه پرخچو سخت ولګيد او ځای په ځای په شهادت ورسيد .

انالله وانا اليه راجعون

ملامحمد نعيم نافذ چې دشهادت په مهال ۲۷ کلن وو جسد يې د روزګان ولايت دمرکز مربوط په چرمستان سيمه کې خاورو ته وسپارل شو .

ملامحمد نعيم نافذ چې ډير عمر يې په ديني تعليم او جهاد کې تير کړی و نړدې ملګري يې وايي چې په دې دواړو ډګرونو کې دښه استعداد خاوند و، چې په علمي پانګه سربيره يې ښه شجاعت او تدبير هم درلود .

ملاميرخان متقي چې شهيد ملامحمد نعيم يې له نړدې پيژاند وايي: نوموړی د حسنه اخلاقو څښتن اودمشرانوقدرپيژندونکی شخص و بهترينه خاکساري يې درلوده اوله تکبره دومره ليري و چې يوه ورځ دتخارولايت د بنګي په سيمه کې له دښمن سره سخت جنګ روان و چې په دي وخت کې شهيد ملا محمد نعيم نافذ هم دجګړې ډګرته راورسيد دده په راتلو سره په مخابرو کې ناري شوي چې نا فذ را غی ددښمن خواته هم په مخابرو کې همدا اوازه خپره شوه چې ورسره دښمن دتيښتي لاره خپله کړه او ميدان يې پري ښود شهيد نافذ چې دا هرڅه په غوږونو اوريدل او په سترګويې ليدل نو بې اختياره يې په سترګو کې او ښکې را غلي او ويې ويل چې زه څوک يم زه خو ديوه غريب سړي زوی يم ، مګر داچې دحق صف ملګری يم الله تعالی دهمدې حقانيت له برکته په دښمن داسې رعب ګډ کړ .

ملا ولي جان چې دملامحمد نعيم نافذ کشر ورور دی ، وايي چې ملامحمد نعيم له بيت المال سره خورا ډير احتياط کاوو ، او دبيت المال هيڅ پيسه يې پرته له اجازې په کور کې نه مصرف کوله.

ملا ولي جان وايي هغه مهال زموږ ژوند دغربت ژوند و، يو وخت مې ملا محمد نعيم ته د کمزوري اقتصادي حالت شکايت وکړ . ده راته وويل له ماسره دبيت المال خورا زياتي پيسې دي ، چې په شخصي ضروريـاتو يې مصرفولای شم ، خو زه له الله تعالی څخه ويريږم. که زما منې همدا دفقر ژوند ښه دی، دغه پيسې که بې له اجازې څخه په شخصي ډول مصرف کړو نو دقيامت په ورځ به زموږ لپاره سور اور وي. ملا ولي جان وايي نوموړی به چې کورته راتلو نو دامارت دمشرتابه لخوا ورته د کور





دمصارفو لپاره ځانګړې پيسې ورکول کيدلې چې ده يوازې هغه ماته راکولې او ويل به يې چې دغه د کور دمصارفو لپاره راکړل شوي دي، دبيت المال له نورو پيسو سره يې ډير احتياط کاوو .

د ملامحمد نعيم نافذ ترشهادت وروسته دنوموړي نړدې جهادي ملګری ملاعبدالرزاق دده په ځای وټاکل شو، چې وروسته هغه هم دنافذ په نامه خورا مشهور شو او سترې کارنامې يې ترسره کړې ،ملاعبدالرزاق نافذ په روزګان ولايت کې دامريکايي يرغل په وړاندې جهاد پيل کړ او په همدې لاره کې د شهادت تر منزله ورسېد خو ملګري او همسنګران يې تراوسه د امريکايي اشغال په وړاندې په برحقه مسلحانه مبارزه بوخت دي.

پای

❊ ❊ ❊

## د شهيد مولوي محمد سرور حق پرست ژوند او کارنامو ته کتنه

ليکنه: قاري سعيد

د اسلام تاريخ د حق د پيروانو له زړه وړونکو خاطراتو او يادونو څخه مالامال دی.اسلامي امت د تاريخ په هره مرحله کې داسې زلميان په خپله غيږ کې روزلي چې د خپل دين او معتقداتو لپاره له هر څه تير شوي. خپل د ځوانۍ عمر،دنيوي هيلې او اميدونه،عيشونه او عشرتونه، خپلوان او پلرنی وطن او ټول هغه څه چې په دنيا کې زړه پورې تړاو مومي دا ټول څه يې يواز ې د رب تعالی د رضا مونډلو او سپيڅلي دينې ارمان لپاره قربان کړي او په همدې لاره کې يې د د غربت او پرديسۍ په عالم کې د شهادت جامونه غړپ کړي دي.

که موږ د اسلامي نړۍ په ساره او اوږده کې،له ترکستان او کابل څخه ، بيا تر اندلس او قسطنطنيې پورې د صحابه کرامو مقابر وينو او د هغوی د هديرو شاهدان يو،نو دا حقيقت په لاس راکوي چې د اسلام لومړنيو سپاهيانو د دين او قرآن د خدمت په لاره کې خپل وطن، کورنۍ او قريبان په ډيره اسانۍ هيرولای شوای او په لړې وطنونو او ناپيژندويه ماحول کې يې ددين لپاره د غربت او ګمنامۍ مرګ د ځان لپاره افتخار باله.

په راوروسته پيړيو کې هم د اسلامي امت له منځه همداسې ځوانان راپيدا شوي چې ددين د خدمت او جهادي ارمان لپاره يې خپل هر څه هير کړي او له خپل کور څخه په لرې سيمو کې يې د ګمنامۍ شهادتونه نصيب شوي دي. د هند ستر مجاهد سيد احمد شهيد او ملګري يې ددې سلسلې هغه ويارمن مجاهدين دي چې ددين دخدمت او جهاد په نيت يې له خپل اصلي وطن د هند له بريلي څخه هجرت وکړ، د





سند، بلوچستان، کابل او پيښور په سيمو را وګرځيدل او په پای کې يې د بالاکوټ په غرونو کې له سيکانو سره دمخامخ جنګ په نتيجه کې دشهادت جامونه نوش کړل.

په افغانستان کې د روس ضد جهاد په مهال د عربي نړۍ راغلي مجاهدين چې تورخم ته نږدې د شمشاد سره يې د شهيدانو ستره هديره ده د همداسې يوې بلې بيلګې حکايت کوي. د اسلامي امارت دواکمنۍ په مهال د افغانستان زياتره ولايتونه د اسلامي امارت تر واک لاندې راغلل خو په شمال ختيځ کې د بدخشان او تخار ولايتو ډيرې برخې لا هم د مخالفينو په ولکه کې پاته وې. مګر په همدې مرحله کې د بدخشان او تخار ولاياتو مجاهدو طالبانو او ګڼ شمير علماء کرامو يو ځل بيا د اسلامي تاريخ همداسې ويارمنه کارنامه راتانده کړه. هغوی په داسې حال کې چې د اکثرو کورونه د مخالفينو تر واک لاندې سيمو کې وو. مګر دوی داسلامي نظام تر سيوري لاندې د بې کورۍ ژوند قبول کړ، په ډير اخلاص او متانت يې د اسلامي امارت په صف کې جهادي وظائف ترسره کړل تر دې چې د بدخشان او تخار له شهيد شويو طالبانو په لوګر ولايت کې هديره جوړه شوه. دغه راز په خوست ولايت کې د متمه چينې په مدرسه په بمبار کې هم د دې ولاياتو ډير طالبان دشهادت لوړمقام ته ورسيدل او د پرديسۍ له ژوند څخه د خپل متعال رب B لقاء ته ورغلل.

په لاندې کرښو کې د همداسې يوه اتل سوانح درسره شريکوو، هغه چې خپل د ځوانۍ ټول عمر يې د علم او جهاد لپاره په مسافرۍ کې تير کړ او بالاخره په همدې سفر کې د امريکايي طاغوت په بمبار کې شهادت په لوړ مقام فائز شو.

### محمد سرور حق پرست

محمد سرور حق پرست د ميزراب زوی په ۱۳۵۱ هـ ش کال کې د تخار ولايت په نمک آب ولسوالۍ کې په يوه متدينه او علم دوسته کورنۍ کې دنيا ته راغی.نوموړی لا ماشوم و چې په افغانستان کې کمونيستان واک ته ورسيدل، ورپسې شورويانو په هيواد يرغل وکړ او په مقابل کې يې د افغانستان په ټولو ولاياتو کې مسلح جهاد پيل شو.

خو د جهاد او اسلامي انقلاب په تاوجنو کلونو کې د حالاتو د سختۍ سره سره محمد سرور د ديني علوم د تعلم لار ونيوه.لومړنۍ زده کړې يې په خپل کلي کې له مدرس عالم مولوي عبدالرشيد څخه حاصلې کړې،وروسته بنګي ولسوالۍ ته لاړ او هلته يې له مولوي ضياء الرحمن مدني صاحب څخه ديني علوم ولوستل.وروسته فرخار ولسوالۍ ته لاړ او دنهرآب په سيمه کې يې له مولوي عبدالحليم څخه ځينې کتابونه ولوستل.

## د علم په لټه اوږد سفر

د هيواد شمال ختيځه حوزه له پخوا څخه د علم او فرهنګ سيمه بلل کيږي او اوسيدونکي يې د علم د حصول ځانګړې مينه لري. د روس ضد جهاد په مهال چې په دې ولایاتو کې هم سخت جنګونه روان وو د بدخشان او تخار ولایاتو طالبانو به ډير اوږده مزلونه وهل او د هندوکش له اسمانځکو غرونو څخه په اوښتو به يې ځانونه د پاکستان خيبر پښتونخوا، کراچۍ او نورو سيمو ته رسول تر څو هلته په ديني مدارسو کې ديني علوم حاصل کړي.دغه طالبان به زياتره تر هغه وخته بيا کور ته نه تلل تر څو به يې چې د فراغت پګړۍ نه وه تړلې.

مولوي محمد سرور حق پرست هم د علم په مينه د همدې مزل وهونکو طالبانو له جملې و، نوموړی په ۱۳٦۴ هجري شمسي کال کې د علم په حصول پسې پاکستان ته لاړ. لومړی د خيبر پښتونخوا په دير سيمه کې ميشت شو او هلته يې يو ځل بيا له مولوي ضياء الرحمن مدني صاحب څخه کتابونه شروع کړل. وروسته د مينګورې سيمې ته لاړ او له شيخ زکريا صاحب،شيخ عبدالشکور او مولوي عبدالخالق نه يې کتابونه ولوستل.

مولوي حق پرست صاحب تکميليه درجه په دارالعلوم سيدو شريف کې ولوسته او دوره حديث يې هم همالته مکمله کړه او د فضيلت دستار يې پرسر کړ. نوموړی يو له تکړه او با استعداده طالبانو څخه و چې له تعلم سره سره يې تدريس هم کاوو او نورو طالبانو ته يې مختلف کتابونه تدريسول.





## په اسلامي امارت کې خدمت

شهيد مولوي محمد سرور حق پرست د تخار ولايت په سطحه يو له تکړه عالمانو او د جهاد او اسلامي نهضت له مخکښانو څخه و. کله چې د طالبانو اسلامي تحريک قيام وکړ نوموړی د ډيرو نورو ملګرو سره يوځای له دې تحريک سره وصل شو او بيا يې په مختلفو برخو کې ملکي او نظامي خدمتونه سرته ورسول.

شهيد حق پرست په جهادي خطوطو کې په نظامي وظائفو سربيره د پروان او لوګر ولايت د مرستيال په حيث هم ډيره موده وظيفه ترسره کړه. کله چې مولوي ضياء الرحمن مدني صاحب د پروان والي و حق پرست صاحب ورسره د مرستيال په حيث خدمت کاوه. په دې شپږ مياشتنۍ موده کې چې په پروان ولايت کې به سخت جنګونه روان و او مخالفينو به همیشه تعرضونه کول شهيد حق پرست په ډيره ميړانه خپله وظيفه انجام کړه.

وروسته نوموړی ډيره موده د لوګر ولايت مرستيال و او ورسره يې په نظامي برخه کې هم خدمتونه سرته رسول.

## شهادت

په افغانستان د امريکايي صليبي يرغلګرو له حملې څو اونۍ وروسته چې مجاهدين له کابل او نورو ښارونو څخه دوتلو په حال کې وو،يو زيات شمير عرب او نور داخلي مجاهدين د خوست ولايت پر خوا لاړ،په دې وخت کې چې امريکايي الوتکو پرلپسې په هوا کې پروازونه کول او مجاهدين يې څارل،ګڼ شمير مجاهدين د خوست ښار لويديځ ته د متا چينې نور القرآن مدرسه د شپې تيرولو لپاره غوره کړه.

مولوي محمد سرور حق پرست هم د همدې طالبانو له جملې څخه وو، دوی چې د رمضان المبارک په لومړۍ شپه د نورالقرآن مدرسې په جامع مسجد کې د قران کريم د ختم په تراويحو ولاړ وو، ناڅاپه ورباندې امريکايي الوتکو بمبار وکړ او لسګونه رب تعالی ته په سجده مؤمنين او مجاهدين يې په شهادت ورسول.

شهیدمولوي محمد سرور حق پرست هم د همدې بختورو له جملې څخه و، چې په هغو سختو شیبوکې یې دعبادت په مهال او د رمضان المبارک په میاشت کې د امریکایي ظالم طاغوت په بمبار کې مظلومانه شهادت په برخه شو.

انا لله و انا الیه راجعون.

په دې ډول هغه نوراني زلمی چې دحق په تلاش او د اسلامي نظام د قیام په ارمان یې خپل کلی او کور پرې ایښی و د ګمنامۍ په عالم کې د شهادت له سعادت څخه برخمن او د ګڼو نورو مسافرو شهیدانو سره په یوه هدیره کې دفن کړای شو.

د شهید حق پرست د صورت او سیرت به اړه دده نږدې ملګري وایي: نومورې شهید ته الله تعالی دسیرت او صورت ښکلا ور پیرزو کړې وه،جذابه او نوراني څیره یې درلوده.ښایسته اخلاق یې له سترو امتیازاتو څخه و.له کبر، غرور، تندخویي او تندګویي څخه پاک و.

له ملګرو سره په صمیمانه چلند مشهور واو د هیچاپه وړاندې یې رکیک او نا مناسب الفاظ نه استعمالول.

رحمه الله تعالی

❊ ❊ ❊





## دشهید قاري احمد الله ژوند ته لنډه کتنه

لیکنه: شاهد غزنیوال

شهید قاري احمد الله د عبدالسلام زوي دغزني ولایت دخوګیانو ولسوالۍ دقلعه شاده په کلي کې په کال ۱۳۸۴هـق چې له ۱۹۶۴ میلادي سره سمون خوري دې فاني نړۍ ته سترګې غړولې. دشهید قاري احمدالله کورنۍ له وخت څخه له علم او دینداري سره تړاو لرونکي کورنۍ وه، نو ځکه ویلا ي شو چې نوموړی د کورنۍ لومړنی څوک نه و چې په همدي سپیڅلي خو ظاهرا له کړاوونو ډکي لار کي په ربښتیني توګه د شهادت تر بریده رسیدلی بلکي د نوموړي شهید کورنۍ له ده نه وړاندي هم شهادتونه، زخمونه او معیوبیتونه ګاللي. مولوي عبد المحمد د شهید قاري صاحب مشر ورور د خپلې سیمې د جیدو او ممتازو علماءکرامو له جملې څخه و چې د تدریس په سلسله کي به یي تل د قران عظیم الشان ترجمه او تفسیر شامل و، د کمونیستي کودتا په اوائلو کي شهید مولوي صاحب د هغو علماوو په لومړي صف کي و چې کمونستانو ته ډېر مطلوب وو او په هماغه لومړنیو وختونو کي د هغوي له لوري محبوس ، مفقود او بالاخره په شهادت ورسول شو دغه راز د قاري صاحب دمجروح په نوم بل ورور یي هم په هغه مهال په جهاد کې فلج شوی دی .

قاري صاحب چې په یوه دینداره او علمي کورنۍ کې زیږیدلی و له کوچینوالې څخه دښواخلاقو ښه سیرت اوښه صورت لرونکی او دنبوغ وذکاوت نښې وربانده ښکاره وي، همدالامل و چې پلار او کورنۍ یې دتعلیم په اړه ځانګړې توجه ورته لرله او په ډیر کم عمر یې دکلي محلي ښونځي ته شامل کړ.

**تعلیم اوزده کړه یي:** شهید قاري احمد الله لومړنۍ زده کړې اودقرآن کریم حفظ په خپلې سیمې کې ترسره کړ اوداچې دده دتعلیمي مرحلې په مهال هیواد دشوروي اشغالګرو تریرغل لاندې و، نو نوموړی هم دخپلې سیمې دنورو سلګونو طالبانو او زده کوونکو په څیر

دخپلو ديني زده کړو دتحصيل په غرض پاکستان ته مهاجر شو. نوموړي په لومړيو کې ديني ابتدائي زده کړې دپيښور په دارالعلوم هاديه کې ترسر ه او بيا يې په مختلفو مدرسو لکه دجنوبي وزيرستان ضياء المدارس مدرسه، د کوټې نورالمدارس دغه راز په شمالي وزيرستان کې د منبع العلوم په علمي او جهادي مرکز کې ترسره کړې.

منبع العلوم مدرسه دافغانستان دجهاد دمشهور جهادي مشر ـ الحاج مولوي جلال الدين (حقاني) لخوا دهغو زرګونو طالبانو دتعليم او تربيې په غرض تاسيس شوې وه کومو چې به دديني علم دحصول ترڅنګ وخت ناوخت دشوروي اشغالګرو په خلاف جهاد کې هم ګډون کاوو .

## جهادي فعاليت يې:

داچې شهيد قاري احمد الله له پيل نه له جهاد اوشهادت سره خاصه مينه لرله نو به يې دمدرسې په کلنيو رخصتيوکې هرکال له خپلو نورو ملګرو سره په مسلح جهاد کې شرکت کاوو او هلته به يې په جهادي محاذونوکې دشرعي زدکړو ترڅنګ جهادي اوپوځي زدکړي هم کولې.

نوموړی په ډير کم عمر له روسانو او دهغوی مزدورانو خلقيانو اوپرچميانو سره دجهاد سنګرونوته تللی او لومړنی جهادي سنګريې هم دجهاد دمشهور جهادي شخصيت اوجنوبي زون وتلي قومندان الحاج مولوي جلال الدين حقاني ترقيادت لاندې دجهاد په جنوبي زون کې دخوست ولايت وه، چې بيا وروسته خپلې سيمې ته راغی اوهلته يې دشوروي يرغلګرو ځواکونو تروتلو خپل وسله وال جهاد ته دوام ورکړ.

شهيد قاري احمد الله دشرعي زده کړو ترڅنګ له پوځي اوجهادي زده کړوسره هم ډيره مينه لرله ؛ځکه نوموړی په دې باور و چې دشرعي نظام حاکميت اوساتنه په جهاد سره کيږي او اعداد(جهادي زده کړې) بيا دجهادي فريضې متمم دی،لهذا نوبايد شرعي زده کړي او پوځي اعداد يوله بل سره هماهنګ ترسره شي ترڅو اسلامي نظام دشرعي احکامو مطابق حاکم او دحاکميت او دفاع لپاره يې له فی سبيل الله جهاد څخه کار واخيستل شي.





دشوروي او صليبي اشغال په خلاف مشهورجهادي قائد الحاج مولوي جلال الدين (حقاني) دپخواني جهاد په مهال دشرعي علومو طالبانوته دغه زمينه ښه مساعده کړې او ډيروطالبانو دنوموړي ترقيادت لاندې په عملې لحاظ دغه دواړې مهمې فريضې (شرعي اوجهادي زدکړې) يودبل ترڅنګ حاصلولې.

په دي لحاظ ويلای شو چې شهيد قاري احمد الله دمولوي جلال الدين (حقاني) دعلمي او جهادي مدرسې ديوه وتلې شاګرد په توګه په هيواد کې دشرعي نظام دحاکميت او له هغه څخه ددفاع په لاره کې ښه روزنه حاصله کړې اوبيايې دهغې دعملي کولو په لاره کې نه ستړې کيدونکې هلې ځلې وکړې.

دشهيد قاري احمد الله ټوله کورنۍ په خپلې سيمې کې په جهادي کورنۍ مشهوره او تقريبا دکورنۍ زياتره غړي يې هم دشوروي يرغل په مهال او هم اوس دصليبي يرغلګرو په خلاف تکړه مجاهدين دي. په افغانستان کې دکمونيستي نظام تر ړنګيدو وروسته شهيد قاري احمد الله په بشپړه توګه ځان دشرعي زدکړو تحصيل ته فارغ کړ او دهغو داکمال او تحصيل لپاره يوځل بيا مدرسې ته شامل شو .

نوموړي همالته ترموقوف عليه مرحلې پورې خپلې زدکړې پوره اوځان يې نور دنبوي احاديثود وړې او لويې دورې داتمام لپاره اماده کړ.

## دطالبانو له اسلامي تحريک سره يو ځای کيدل

شهيد قاري احمد الله لا دشرعي لوړوزدکړو په اکمال سره خپل آرمان ته نه ورسيدلی چې په هيواد کې دتنظيمي جګړه مارو لخوا کورنۍ جګړه پيل او دمجاهدينو اوشهيدانو ټول هغه سپيڅلي آرمانونه پکې ترپښو لاندې شول کوم چې افغانانو ۱۴ کاله دهغوئ دتحقق لپاره قرباني ورکړې وه .

کله چې په کال ۱۴۱۵ دمحرم دمياشتې په ۱۵ ددغې فتنې دختمولو او په هيواد کې داسلامي حاکميت دنافذولو په غرض دامير المؤمنين ملامحمد عمر مجاهد لخوا په افغانستان کې دطالبانو اسلامي تحريک تاسيس شو نوشهيد قاري احمد الله هم

دخپلو نورو طالبانو وروڼو په څير بيا خپلې زدکړې نيمګړې پريښودلې او دتحريک دتاسيس په ابتداء کې دهغه له ليکوسره يوځای شو.

شهيدقاري احمد الله دطالبانو په اسلامي تحريک کې يو له هغومهمو اومحوري څيرو څخه ګڼل کيږي چې دتحريک له تأسيس نه بيا دشهادت ترمهال پوري دتحريک دمشرتابه لخوامهم اداري او پوځي مسؤليتونه ورته سپارل شوي او ده هم هغه په پوره اخلاص ،صداقت او ايمانداري سره سرته رسولي.

## دطالبانو په اسلامي تحريک کې وظائف يې

لکه مخکې چې مو وويل قاري صاحب احمد الله دخپل علمي،اداري او پوځي لياقت او استعداد له مخې دتحريک دتأسيس له ابتداء څخه دمشر- تابه دځانګړې توجه مورد و او وخت په وخت ورته مهم وظائف سپارل کيدل،چې دلته يې په مختصر ډول دځينو وظائفو او مسؤليتونو تذکر په لاندې ډول ليکو:

په کال ۱۵/۱۱/۱۹۹۴ چې کله دزابل ولايت دطالبانو داسلامي تحريک لخوا تصفيه شو نو ددغه ولايت دامنيتي چارو دښه سمون په غرض دمشرتابه له لوري شهيد قاري احمد الله ددې ولايت دامنيه قومندان په حيث تعين کړای شو .

نوموړي دلته دخپل مسؤليت په مهال له خپلو ملګرو او نورو ټولو ولسي- خلګو سره په ډيره ښه اسلامي او اخلاقي رويه برخوردکاوه او دياد ولايت په ټولو نيږدي او ليري پرتو ولسوالیوکې دبشپړ امنيت فضا حاکمه کړه .

تردي وروسته چې کله په ۲/۹/۱۹۹۵ دهيواد په جنوب لويديځ زون کې دنيمروز ولايت دطالبانو ترولکه لاندې راغي نو بيا هم دقيادت په دستور شهيد قاري احمد الله ددې ولايت دامنيه قومندان په توګه وګمارل شو ،خوداچې هماغه ولايت له مخالفينو سره دجګړې په لومړۍ کرښه کې موقعيت درلود نو شهيد قاري احمد الله به ډير وخت همالته له دښمن سره دمقاومت په لومړي خط کې تيراوه .





هماغه و چې يومهال دمخالفينولخوا دجګړې په لومړۍ کرښه کې اسير او څه وخت يې دجنوب غرب زون دمخالفينو دمشر تورن اسماعيل په مرکزي محبس هرات ولايت کې اسارت تيرکړ خوکله چې دهرات ولايت دطالبانو داسلامي تحريک ترولکې لاندې راغی نو دی هم دنوموړي ولايت له محبس نه ازاد اوبيا دقندهارولايت دامنيه قومندان په توګه وټاکل شو.

نوموړی لادکندهار دولايت دامنيه قومندانۍ مسؤل و چې پلازمينه کابل داسلامي امارت دځواکونو لخواونيول شو .

په کال ۲۷/۹/۱۹۹٦ دکابل په نيولو سره اسلامي امارت سمدستي هالته ټول ملکي او عسکري تشکيلات برحاله او دټولو وزارتونو اودولتي دوائرو لپاره يي مسؤلين وټاکل.

شهيد قاري احمد الله چې په امنيتي چاروکې يې ښه تجربه او پخواني سابقه لرله اوله دې سره سره يې دامارت دمجاهدينو په منځ کې په يوه مدبر،حليم او باکفايته مسؤل شهرت خپل کړی وه دمشرتابه له لوري دکورنيو چارو دوزيرپه صفت مقررکړل شو .

سره له دې چې دکورنيو چارو وزارت دخپل اداري تشکيل له مخې يوډير مهم وزارت او دکارونو ساحه يي دټول هيواد په کچه ډيره پراخه ده،خو شهيد قاري احمد الله بياهم داسلامي امارت ديوه با تدبيره مجاهد په توګه دغه دروند مسؤليت په ډيره ښه توګه ترسره او په خپل کارکې يې ښې برياوې لرلې .

قاري صاحب له رسمي وظائفو سره په څنګ کې هميشه دجهاد لومړيو ليکو ته تلو او په ډيرو عملياتو کې يې برخه درلوده. دکابل له نيولو څه موده وروسته چې دشمال لخوا مخالفينو په کابل باندې ستر هجوم راووړ، قاري صاحب دکابل دشمال په دفاعي خط کې په پوره ميړانه خپل مسؤليت ترسره کړ او دخدای ورکړي جهادي جرأت او استعداد په ښودلو سره يې دپلازمينې کابل دفاع وکړه .

تردي وروسته شهيد قاري احمد الله ته دمسؤلينو دلزوم ديد لـه مخـې دامنيـت ملي چې داسلامي امارت دحاکميت په مهال داستخباراتو دلوي رياست په نوم يادیده مسؤليت ور وسپارل شو .

داچې داستخباراتو لوي رياست دخپل کاري مسؤليت له مخې داسې يو رياسـت و چې مسؤل يې حتما بايد سخت مزاجه او دخشن تعامل څښتن وي .

خوشهيدقاري احمد الله پـه هماغـه مسـؤليت کـې هـم دهرچـا ديـوه مهربـان او خواخوږي ورورپه توګه له ټولو کارکوونکو او نورو مراجعينو سره برخورد کاوو او دخپل مسؤليت تر اخيره پوري هيڅا هم ترې بده خاطره نه لرله .

په عين مهال کـې چـې قـاري احمـد الله داسـتخبارتو دعمـومي رئـيس پـه توګـه مسؤليت درلود له دې سره همزمان به يې دکابل په شمال او يا دشـمالي زون پـه نـورو ولايتونوکې ډيروخت دجګړې په لومړيو ليکو کـې تيـراوه او هالتـه بـه يـې هـم ددغـو خطونو مسؤليت په غاړه درلود.

چې دهغوله جملې څخه دبيلګې په توګه دکابل په شمال دغوربنـد پـه اسـتقامت ،دباميانو په ولايت کـې ديکاولنـګ اودهيـواد پـه شـمالي زون کـې دتخـار پـه لومړيـو کرښوکې دده فعال پوځي مساهمت او هالته دمجاهدينو نظـامي مسـؤليتونه يـادولای شو.

قاري صاحب دخپلو جهادي وظائفو په مهال نهايي هڅه کوله چـې مخـالفينو تـه داسلامي امارت داعيه ورسوي او له مخالفت څخه لاس اخيستلو ته يې تشـويق کـړي، دنوموړي په همدې هڅو دافغانستان په مرکزي سيمو کې ډيرې ستونزې بې لـه جنګـه هوارې شوې .

**دصليبي يرغل په خلاف يې جهادي فعاليت :**

په ۷/۱۰/۲۰۰۱م چې کله صليبي يرغلګرو دامريکاپه مشرۍ پـه افغانسـتان يرغـل وکړ او په نتيجه کې يې اسلامي امارت مجاهدين له ښارونو نه ووتل شهيد قاري احمد





الله سمدستي دهغوی په خلاف وسله وال مقاومت شروع ،او بې له ځنډه يې ديرغلګرو په خلاف دمجاهدينو په نظم اونسق اوپوځي سوقياتو کارپيل کړ .

شهيد قاري احمد الله دجهـادي فعاليـت لپـاره ديـوه امنيتـي تکتيـک لـه مخـې دپکتيکاولايت غوره کړ،دغه استقامت تريوې اندازې د دښمن له اسـتخباراتي تعقيـب نـه دځـان ژغورلولپـاره مناسـب و ؛ځکـه نومـوړي دامهـال دامريکـايي يرغلګـرو لخـوا ترسخت استخباراتي تعقيـب لانـدې او نـوم يـې مخکـې ترمخکـې دامريکايـانو لخـوا داسلامي امارت د هغو مهمو چارواکوپه ليست کې نيول شوی و کوم چـې دوی تـه لـه امنيتي پلوه په لومړۍ درجه مطلوب ول.

امريکايي استخباراتي چارواکي په دي معتقدول چې لـه شـهيد قـاري احمـد الله سره داسلامي امارت ډيرمهم محرم اسرارموجود دي، چې دهغو په ترلاسه کولو سره به وکولای شي داسلامي امارت دټولو مهمو چارواکوپه اړه مهم معلومات ترلاسه کړي.

دامريکايانو ديرغل په پيل کې دهغوی لومړنی ترکيز داسلامي امارت دلوړ پـوړو چارواکو تعقيب اوځارنه وه ترڅو هغوی ته دازمينه مساعده نه شي چـې ديرغلګـرو پـه خلاف جهادي ليکې دوباره منظمې کړې.

خوبيا هم دالله تعالی په فضل او نصرت سره ډير مجاهدين وتوانيدل چې ددښمن دسخت مراقبت او تعقيـب سره سره دهيـواد پـه مختلفـو سـيموکې دمقاومـت ليکـې منسجمې او په يرغلګرو صليبيانو ملاماتوونکي ګذارونه وکړي.

که څه هم چې ددغو مجاهدينو له جملې څخه يو شمير شهيدان اوځيني اسيران شول خو ډيرشميريې بيا ددښمن په وژلو ،تباه کولو او اسيرکولو هم وتوانيدل .

لِيُحِقَّ الْحَقَّ وَيُبْطِلَ الْبَاطِلَ وَلَو كَرِهَ الْمُجْرِمُون (۸) الانفال

**اوبالاخره شهادت يې :**

له کلونو مبارزې ،جهاد دعوت اوداسلامي علومولە تعليم او تعلم څخـه وروسـته دغـه د اسـلام دلارې نـه سـتړی کيـدونکی غـازي ،پـه قـرآن او عقيـدې مـين

شخصيت،دهيواد او ولس خواخوږی، اتل مجاهد،دمبارک قرآن حافظ اومجود قاري احمدالله د۱۴۲۲کال دشوال په مياشت کې چې د۲۰۰۱ کال د نومبر له مياشتې سره سمون خوري دامريکايي يرغلګرو دهوايي بريد له املې دپکتيکاولايت دنکې په ولسوالې کې په شهادت ورسيدو او په دې سره يې خپل ځان دالله تعالی ددې مبارک قول مصداق وګرځاوه چې فرمايي:

من المؤمنين رجال صدقوا ماعاهدوا الله فمنهم من قضى نحبه ومنهم من ينتظر ومابدلوا تبديلا.(الاحزاب سورت ۲۳ايت)

ژباړه: په مؤمنانوکې ځينې داسې (نران) سړي هم شته چې په کوم شي يې الله سره لوزکړی و هغه يې رښتياکړ،نوځينوخويې خپل نذرپوره کړاوځينې يې لا انتظارکوي او هيڅ بدلون يې په (خپل عهد) کې ونکړ.

شهيد قاري احمدالله چې يرغلګرو امريکايانو ته خورا مطلوب و او له دې وړاندې يې هم په پکتيکا او خوست کې دوه ځله دده دوژلو په نيت وربانديې بمبار کړی و خو الله تعالی يې ساتلی و، دپکتيکا ولايت د نکې په ولسوالۍ کې داسلامي امارت په مهال دپکتيا دوالي مولوي احمد طه قادري په کور کې وربانديې امريکايي الوتکو بمبار وکړ چې دمولوي طه دکورنۍ د ۱۲ تنو غړو په شمول قاري احمدالله هم له خپلو ٦ تنو مجاهدو ملګرو سره په شهادت ورسيد.

## د قاري احمد الله د شهادت په هکله مولوي احمد طه وايي :

قاري صاحب د پکتيا ، پکتيکا او خوست ولايت له قومي مشرانو ، جهادي شخصيتونو او دسيمې له خلکو سره په مسلسل ډول ملاقاتونه او ناستي ولاړي کولې او هغوي يې د امريکايانو په خلاف جهاد ته هڅول او په دې لار کې يې نه ستړي کيدونکي هلي ځلي تر سره کړي شپه ورځ يې په ځان باندې يوه کړي وه او دا په داسې حال کې و چې د امريکايي ځارګرو الوتکو له لورې يو ځل په پکتيکا او بيا په خوست کې بمباري وربانديې وشوې خو الله تعالی پکې وساته. بالاخره د پکتيکا نکې ،زمونږ





سيمې ته تر راتلو وروسته د مسلسلو جهادي مصروفياتو په لړ کې يې زه د څه کارونو په موخه زابل ولايت ته ولیږلم او هلته د يوه پخوانې جهادي قومندان ځای ته تر رسيدلو وروسته راته څرګنده شوه چې هغه پکتيکا ولايت ته تللی دی نو زه هم هلته پسې ورغلم او د قاري صاحب پيغام مې ورته ورسول، نومورې قومندان چې پراخ تعلقات او اړيکي يې لرلې د تر لاسه شويو معلوماتو له مخې راته وويل چې قاري صاحب ته ووايه چې امريکايان ډير تلاش کوي ترڅو دي يا ژوندي ونيسي او يادي هم له مينځه يوسي نو بايد ډير احتياط وکړي او د څه وخت لپاره ځان له کارونو څخه ګوښه کړي، له نومورې قومندان سره تر ليدلو وروسته زه بيرته د قاري صاحب خواته ور روان شوم او د لاري په اوږدو کې له ملا سيف الرحمن منصور سره هم د څه کارونو لپاره مخامخ شوم هغه هم ډاډ راکړ چې موږ هم خپلې جهادي چاري سمبال کړي دي او قاري صاحب هم ډير کار کړي دي اميد دی چې د الله تعالي په نصرت سره به ډير ژر بيرته مجاهدين خپل جهاد لا پسې چټک کړي او ډير ژر به ټول مجاهدين بيرته سره منظم شي(د يادونې وړ ده چې ملا سيف الرحمن منصور صاحب دغه مهال د نکې ولسولۍ سره پيوسته د زرمت په شاهيکوټ نومې غرنۍ سيمه کې د جهادي سنګرونو په ټينګولو بوخت و چې څه موده وروسته په دې سيمه کې د نومورې تر مشرۍ لاندې مجاهدينو له امريکايانو سره سخته جګړه وکړه) زه د اړونده کارونو له تر سره کولو وروسته د کور په لور روان شوم تر څو قاري صاحب د خپلو تر سره کړل شويو چارو له جريان څخه خبر کړم د لاري په اړدو کې مو څو تنه کليوال اوسيدل دهغوی ځای ته د احوال معلومولو لپاره ورغلم خو هلته راته و ويل شول چې په نکه کې بمباري شوې ده هغوی هلته تللي دي، زما ذهن ته دا خبره نده راغلې چې دا بمباري به زمونږ پر کور او يا هم په قاري صاحب شوي وي نو د کور په لور مې حرکت وکړ کله چې کلي ته را ورسيدم هلته مې له دوکانو سره موټر ودرول چې ګورم يو کلي وال مې په چيغو چيغو ژاړي پوښتنه مې وکړه چې څه خبره ده هغه راته وويل چې ستاسي په کور بمباري شوي ده ستا وروڼه مولوي جانان او مولوي اسمعيل د کورنۍ له دولسو تنو غړو سره يو

ځای شهیدان شوي دي ، ما ور څخه وپوښتل چي میلمانه څنګه شول ؟ په ځواب کي یي راته وویل چي هغوی هم ټول شهیدان شول.

باید یادونه وشي چي قاري صاحب د خپلو نورو شپږو تنو ملګرو سره ټول په شهادت رسیدلي وو او زمونږ د کورنۍ نور ټول غړي په شهادت رسیدلي وو یواځي په پینبه کي زما د شهید شویو وروڼو مولوي جانان زوي او مولوي اسمعیل لور چي د بمبارۍ له امله تر خاورو لاندي شوي وو د یوه بل بم په لویدلو سره بیرته د ځمکي سر ته را غورزول شوي وو او هغوي دواړه ژوندي پاتي شوي وو .

کلیوالو ټول شهیدان دفن کړي وو، نو کله چي د ماسپښین پر مهال د خلکو ګڼه ګوڼه لږ سره کمه شوه نو مي وپوښتل چي قاري صاحب مو په کوم یو قبر کي دفن کړی دی ؟ تر معلومولو وروسته مي دوه نور ملګري هم راسره کړل او د قبر په لوڅولو مو پیل وکړ ترڅو شهید قاري صیب د غزني د خوګیانو په ولسوالی کي خپل پلرني کلي ته نقل کړو، قبر مو پرانیست کله مي چي د تابوت سر پورته کړ ګورم چي د قاري صاحب په مخ باندي خولې ډنډ ولاړي دي او بریتونه یي هم په خولو لامده دي او داسي خوشبویي ورڅخه پورته کیدله چي کله مي هم په ژوند کي نه وه لیدلي. قاري صیب په نس کي لګیدلی وو او پښي یي هم له مینځه تللي وي ، تابوت مو را و ایستل او د وړلو لپاره مو موټر ورته تیار کړ او ملګري مو ورسره کړل ما ور ته وویل چي تاسي در روان شئ زه هم په بله لاره ځان در رسوم په دي وخت کي د کندز مولوي یاسین له یوه ملګري سره راورسیدل او راته ویي ویل چي د ارګون لار مخالفینو نیولي ده او هر موټر دروي او د مولوي طه پوښتنه کوي نو ته مه ځه مورږ به ور سره ولاړ شو، ما ور ته وویل چي سمه ده زه به په بله لاره ځان در ورسوم ، ما ځان د زرمت کلالګو ته ورسول ، ملګرو هم شهید قاري صاحب هلته راورسول ، په دي وخت د قاري صاحب یو ورور او نور خپلوان را رسیدلي وو ما ورته و ویل چي له پینبي څخه څوک مه خبروئ او قاري صاحب په پټه دفن کړئ، زه بیرته ور څخه راستون شوم خپل ځاي ته چې را ورسیدم په کلي کي په یو کور کي ناست وم چي نا ببره د امریکایي څرخکو غږ مو تر





غوږو شو چي بیا په چټکۍ سره یوه د کور یو خوا او بله بل پلو ته کیناستله، تر څو چي امریکایان کور ته را رسیدل زه په پټه لاره د غره په لور ووتلم ، امریکایان زمونږ د وران شوي کور په پاتي شونو ګرزیدل او وروسته یي د شهیدانو د قبرونو لور ته مخه کړه ټول قبرونه یي وڅیړل خو د قاري صیب جسد پکي تر لاسه نشو، له کلیوالو څخه یي هم پوښتني وکړي خو کوم معلومات یي ترلاسه نکړای شول .

## دشهید قاري احمد الله اخلاقي ځانګړنې:

شهید قاري احمد الله دخپلو ټولو وروڼو او ملګرو په منځ کې یو باتقوی ،با اخلاقه، صابر او حلیم شخصیت و.

دکبر ،غرور،انانیت هیڅ نښې نه وې پکې،له ټولو خلګوسره به یي په ډیره نرمي اوحسنه اخلاقو برخورد کاوو، اوهرڅوک به یې له نیکو اخلاقو ډیر متأثر کیدل .

د شهید قاري صاحب اخلاق له کوچنیوالي څخه الله تعالی داسې جوړ کړي وو چې تقوا او حسن خلق یې دفطرت برخه ګرځیدلي وو. دتخار ولایت اوسیدونکی مولوي عطاء الرحمن چې په پیښور کې دابتدائي زده کړوپه مهال دقاري صاحب استاذ پاته شوی وایي ( قاري صاحب ډیر امین او وفادار انسان و، دامانت یې دا حال و، چې هغه مهال چې قاري صاحب کشر طالب و او په پیښور کې به یې مدرسې ته وظیفه ( ډوډۍ ) راټولوله، نو که به چا کومه یوه روپۍ یا نیمه روپۍ ( اته انې ) ورکړې وه، ده به هغه هم خپل جیب ته نه اچوله بلکې مدرسې او نورو طالبانو ته به یې ورکوله ترڅو یې مصرف کړي ، یوځل مې ورته وویل چې دا پیسې خو خلک شخصا تاته درکوي او ستاکیږي ، خو ده ځواب راکړ چې نه ، ماته مې مور ویلي چې دچا حق به نه خوړې او له حرامو به ډیر ځان ساتي .

نوموړی مولوي صاحب وایې :قاري صاحب ډیر وفادار سړی وکله چې داسلامي امارت په مهال لوړ منصب ته ورسید او دکورنیو چارو او استخباراتو دعمومي ریاست

وظايف وروسپارل شول ، قاري صاحب بيا هم هميشه په ماباندې پوښتنه کوله او له ډيرو کلونو تيريدو وروسته يې هم نه وم هير کړی چې داده دوفاداری نغد ثبوت دی)

مولوي محمد امير چې له قاري صاحب سره يې په يوه اداره کې کار کړی دنومورې په اړه وايي (چې کله دافغانستان اسلامي امارت د بامیانو په ولايت واکمن شو نو دهغه ځای ټولو اوسيدونکو دقاري صاحب سره ډيره مينه اومحبت درلود د ډيرې مينې نه به يې دده لاسونه ښکلول او په ډيرادب احترام به يې دده هرکلی کولو.

اودهغه ولايت دټولوخلکوبه دده نه داغوښتنه وه چې تاسوزمونږدولايت مسئوليت اوسرپرستي په غاړه واخلئ که نه نوتاسوراته په خپله خوښه بل داسې يوڅوک را واستوئ چې ستاسوخوښ وي )

مولوي محمد اميرزياتوي (ما دمرحوم قاري صاحب سره دطالبۍ دوخت نه په کويټه بلوچ خان چوک دنورالمدارس په مدرسه کې تعارف پيداشوې وو. دډيرنزدې نه مو سره پيژندل، پرته له شکه چې قاري صاحب يو تکړه باتجربه ځوان او غښتلی مجاهدو اونورومجاهدينوته دخپل وخت يوډير ښه دعوتگر و باتجربه دښو اخلا قو دنرم خوی او لويې حوصلې خاوندو، ژور کاري فکر يې درلود او تل دهرچا په خدمت کې و د هغه شهادت زمونږ د ټولنې لپاره يوه ډيره لويه ضايعه وه.

مشهورجهادي شخصيت او وتلی داعي استاد محمد ياسر به دشهيد قاري احمد الله په اړه ويل هرڅوک که غواړي چې دصحابه کرامو داخلاقو ژوندۍ نمونه وګوري هغه دي يوکرت له قاري احمد الله سره کيني او په ورځني ژوندکې دي دهغه تعامل له نيږدي مطالعه کړي .

شهيد قاري احمد الله به دخپل مسؤليت په مهال ډير وخت دبامیانو په ولايت کې اوسيدو، ددغې سيمې په زياتره برخوکې داسلامي امارت مخالفين له امارت سره په مقابله لګياول،خو دشهيد قاري احمد الله دحسنه اواسلامي معاملې له مخې ددغو مخالفينو دحزب وحدت اکبري مهمه ډله ددغې ډلې دمشر محمد اکبري په شمول





دقاري صاحب دحسنه اخلاقو له مخې د امارت له مخالفت نه لاس واخيست او ټول له خپلو وسلو او امکاناتو سره له اسلامي امارت سره يوځای شول او دامارت دحاکميت تر وروستيو شپو ورځوپوري يې دقاريصاحب دنظامي قطعي په ليکو کې پوځي فعاليت کاوو.

داسلامي امارت دحاکميت په مهال چې کله دحزب وحدت اکبري ډله د دې ډلې دمشر محمد اکبري په شمول اسلامي امارت ته تسليم شول نو زه دڅوتنو نورو ژورنالیستانو په جمله کې دمرکې لپاره دمحمد اکبري هستوګنځې ته چې دکابل په انټرکانټيننټال هوټل کې موقعيت درلود ورغلم.

دنومورې دمطبوعاتي غونډې په مهال ماورڅخه په خپل نوبت له اسلامي امارت سره دده ديوځای کيدو لامل وپوښتو چې ده راته دنوورو وجوهاتو په سرکې د شهيد قاري احمد الله نيک برخورد اودسيمې له اوسيدونکو سره ښه رويه يادە کړه او زما دپوښتنې دځواب په تفصيل کې داسې راته وويل:

موجوديت اشخاص مجاهد ومتورع امثال قاري احمد الله وتعامل اخلاقي انها با آهالی منطقه، از ارجحيت های بود که خودم به شمول همه پيروانم تصميم گرفتم تا بامارت اسلامی يکجا ودرپهلوی آنها به ضد مخالفين امارت جبهه گيری نمايم .

له محمد اکبري نه سيوا نورهم ډير مخالفين دشهيد قاري احمد الله له نيک تعامل اوښې رويې څخه متاثر اوله همدې وجې داسلامي امارت له مخالفت څخه لاس اخيستی.

نومورې چې کوم فعاليت داسلامي امارت په ليکوکې ترسره کړی هغه يې ټول دخپلو نيکو اسلامي اخلاقو په وسيله کړی نه دپوځي او نظامي زور په وسيله، نومورې ډيرزيات مخالفين دخپلو نيکو اخلاقو په وسيله دامارت ترڅنګ درولي اواسلامي امارت ليکې يې په هغوئ قوي کړې.

په دي هکله مولوي عبد السلام مسلم وايي : زما په ياد دي چي هغه مهال د بامیانو والي مولوي محمد اسلام محمدي د اسلامي امارت رئيس الوزرا ملا محمد رباني ته د خپل ملاقات پر وخت د قاري صاحب ډيره زياته ستاينه وکړه او زياته يي کړه چي که قاري صاحب د څه مودي لپاره نور هم په بامیانو کي پاتي شي زما باور دي چي د ده د ښي رويي او معقولي تګلاري له امله به ټول مخالفين له مخالفت څخه لاس واخلي او په اخلاص به له امارت سره يوځاي شي او صادقانه ملګرتيا به ورسره وکړي .

دشهيد قاري صاحب دتوکل او وظيفه شناسي په اړه مولوي عبدالسلام مسلم زياتوي : ( قاري صاحب ډير متوکل سړی و، يوځل مورږ په بامیانو کې دده داوسيدو ځای ته ورغلو نو له ده سره يوازې يو تن ملګری و، دغه راز دتخار ولايت له نيول کيدو وروسته چې کله ده هلته عمومي مسؤليت درلود، نو دتالقانو له خلکوسره به يې عمومي مجلسونه کول هغوی ته به يې ويناوې کولې او دجامع مسجدد خطابت سربيره يې له لمانځه وروسته په مساجدو کې له خلکو سره خلاص مجالس کول او دهغوی ستونزې به يې اوريدې. ده به ويل اګر که دومره ازادانه ګرځيدل تريوه حده له خطره ډک دي خو دا يو ضرورت دی ځکه دې خلکو ته داسلامي امارت په اړه ډير منفي تبليغات شوي له دوی سره سوالونه دي چې بايد ځواب شي )

دغزني ولايت دناوې ولسوالۍ اوسيدونکی حاجي عبدالباري چې ډيره موده له قاري صاحب سره نږدې پاته شوی دی دقاري صاحب يوه خاطره داسې بيانوي ( قاري صاحب سره له دې چې لوړ منصب يې درلود او ډيرو پيسو ته يې لاس رسی و خو له دنيايي متاع سره يې قطعا د زړه تړاو نه درلود. يو وخت زه له ده سره دپروان په سياګرد ولسوالي کې وم هغه وخت چې دی دکورنيو چارو وزير او هم دشيخ علي ولسوالۍ دخط مسؤل و، په دې وخت کې احوال راغی چې قاري صاحب داستخباراتو دلوی رياست درئيس په حيث ټاکل شوی دی او بايد چې کابل ته ځان ورسوي، قاري صاحب دخط مسؤليت بل چاته ورله غاړې کړ او ماته يې وويل راځه چې کابل ته لاړ شو، ده موټر همالته ملګرو ته پريښود او له سياګرد څخه دلين په فلاينګ کوچ موټر





کې پروان ته راغلو، پروان ته چې راورسيدو، ده چې خپل جيبونه وکتل نو پيسې ورسره نه وې، له ماسره هم يوازې دومره پيسې وې چې دموټر کرايې ته بس شوې، وروسته مې ورته وويل چې ترکابله به ځنګه ځو نوموړي وويل دلته په پروان کې ملګري شته له هغو به يې واخلو، بيا مو همداسې وکړل او کله چې کابل ته په عمومي موټر کې تلو، نو قاري صاحب ماته وويل چې خپل کلاکوف ټوپک دې پټ ونيسه، ځکه دا ښه ده چې دموټر خلک مورږ عادي مسافر وبولي او داسې احساس ونه کړي چې حکومتي خلک په موټر کې ورسره دي )

شهيد قاري احمد الله V دخواخوږی ،عطوفت او مهرباني يوه نمونه وه چې تل به يې په ښکلې څيرې خنداخوره او په فطري ډول به يې هرڅوک دحسنه اخلاقو مرهون کيدل.

همدغه ډول کسان دالله تعالی غوره بندګان او دهغه له لوري دشهادت په خير په ډيرو لوړو مرتبو نازول کيږي .

رحمه الله تعالی

❊ ❊ ❊

# د شهید ملاسیف الرحمن منصور ژوند او کارنامو ته کتنه

لیکنه: قاري سعید

## زیږېدنه

ملاسیف الرحمن منصور د شهید مولوي نصرالله منصور زوی په کال ۱۳۴۸ هـ ش کې دپکتیا ولایت دزرمت ولسوالۍ دسهاکو دسیمې دهیبت خېلو په کلي کې په یوه دینداره او علمي کورنۍ کې دنیا ته سترګې وغړولې .

دسیف الرحمن منصور پلار شهید مولوي نصرالله منصور ( چې اصلي او کورنی نوم یې مولوي فضل الرحمن و اووروسته یې په مولوي نصرالله منصور شهرت وموند) له شاهي دور څخه دخپلې سیمې او افغانستان په کچه یو وتلي دیني عالم او سیاسي مبارز و، چې دغزني له نورالمدارس فاروقیه مدرسې څخه فارغ التحصیل او دخدام الفرقان په نامه ددیني علماء کرامو دیوه تنظیم له عالیرتبه مسؤلینو څخه و.

مولوي نصرالله منصور له افغانستان شموله سیاسي او دعوتي هلو ځلو سره په څنګ کې ددیني علومو تدریس هم کاوو ، او په خپل کلي ( هیبت خېلو ) کې یې ددیني علومو دتدریس حجره درلوده .

سیف الرحمن منصور دمولوي نصرالله منصور دوهم زوی و چې په یوه درانه علمي کاله کې وزېرېد، دخپل عالم او مجاهد پلار په سیوري کې یې وده وکړه ، او له کوچنیوالي څخه په ديني او جهادي روحیه وروزل شو .

## د زدکړو سلسله

ملاسیف الرحمن منصور خپلې ابتدائي زده کړې په خپل پلرني ټاټوبي کې له خپل پلار مولوی نصرالله منصور څخه پیل کړې. وړاندې وویل شول ، چې شهیدمولوي





نصرالله منصور دزرمت په هیبت خېلو کې مدرسه درلوده ،ملاسیف الرحمن منصور ابتدایي زده کړې همدلته پیل کړې. کله چې د داودخان دواکمنۍ په وخت کې په افغانستان کې په سیاسي فعالیتونو باندې بندیز ولګول شو، او په ځانګړې ډول په سیاسي مبارزو علماء کرامو باندې دژوند کړۍ تنګه شوه، مولوي نصرالله منصور هم دحالاتو دسختیدو له امله د داودخان دواکمنۍ په دوهم کال خپل کور او عیال له خپل کلي ( هیبت خېلو ) څخه دزرمت ولسوالۍ غرنۍ سیمې ( شاهیکوټ ) ته نقل کړ، او هلته یې امامت ، تدریس او سیاسي اصلاحي فعالیت پیل کړ. سیف الرحمن دلته هم ابتدایي دیني زده کړې تعقیبولې خو وروسته دحالاتو دډیرو سختیدو له امله مولوي نصرالله منصور صاحب خپل کور بیرته خپل کلي ته واستاوو او خپله یې د ډیورنډ کرښې بلې غاړې ( دشمالي وزیرستان میرانشاه ته ) هجرت وکړ، وروسته کله چې په افغانستان کې کمونیستان واک ته ورسیدل او مهاجرت لړۍ پیل شوه ، سیف الرحمن منصور هم له خپلې کورنۍ سره لومړی میرانشاه او بیا پیښور ته ولیږدیدل. ملاسیف الرحمن منصور څه موده دپښتونخوا د ډیره اسمعیل خان په کلاچي نومې سیمه کې په جامعه نجم المدارس او په ګوجرانواله کې په جامعه عربیه کې زده کړې ترسره کړې، او وروسته یې د ډیرې مودې لپاره د پیښور په بخشي پل او باړه کې په الجامعة نورالمدارس فاروقیه کې زده کړو ته دوام ورکړ .

په دې مدرسه کې یې نهم صنف ولوست ، او وروسته په جهاد کې دمصروفیت له امله دخپلو زده کړو په پوره کولو ونه توانېد. په مروجو دیني زده کړو سربیره ملاسیف الرحمن منصور د ( اسلامي سیاست او اسلامي دعوت ) په نامه هغه ځانګړې کورسونه هم ویلي و چې دشهید مولوي نصرالله منصور لخوا به د مدرسو دکلنیو رخصتیو په مهال طالبانو ته ویل کیدل. په دې سربیره ملاسیف الرحمن منصور حربي او نظامي درسونه هم په څوځو ځله لوستي و. دروس ضدجهاد په مهال دجهادي اعداد په یوه مرکز کې ملاسیف الرحمن منصور له ډیرو نورو ملګرو سره په سپکو وسلو سربیره د څو ډوله توغندیو لکه ( میلان ، SPG-۹ ، ۸۲ ملي متري توپ او RPG

راکټ ) ځانګړې مسلکي زدکړې ترسره کړې ، دغه راز دکمونیزم ضد جهاد په وروستیو کلونو کې یې په پکتیا کې دټانک ، توپچي او نظامي نقشو په برخه کې هم عملي زده کړې وکړې ، دنوموړي جهادي ملګري وایي ، ملاسیف الرحمن منصور په دې سربیره چې یو ماهر ټانکس و ، په جګړه کې په استعمالیدونکو ټولو سپکو او درنو وسلو کې یې مهارت درلود او په مؤثره توګه یې استعمالولای شوای .

## دطریقت بیعت

ملاسیف الرحمن منصور لکه څنګه چې له کفارو او دهغوی له پیروانو سره دوسلوالې مبارزې دډګر مجاهد و همدارنګه یې له نفس اماره او شیطان سره دجهاد لاره هم په پوره میړانه پاللـه. څرنګه چې دده پلار شهید مولوي نصرالله منصور دکابل دقلعه جواد له حضرت ضیاء المشائخ محمد ابراهیم مجددي V سره نړدې تعلق او بیعت درلود ، ملاسیف الرحمن منصور هم دنقشبندیه مجددیه طریقي وتلی صوفي او سالک و .

ملاسیف الرحمن منصور په پیل کې له مرحوم خلیفه صاحب فضل الدین (مشهور دارغندی په خلیفه صاحب ) سره بیعت کړی و. او دهغه له وفات وروسته یې دزرمت له خلیفه صاحب دین محمد او دوردګو دجغتو له خلیفه صاحب احمدضیاء سره همیشنی تعلق او رابطه درلوده .

دتصوف دلارې دیوه لاروي په توګه ملاسیف الرحمن منصور په شخصي توګه خورا تقوی لرونکی و، چې دجهادي مشرتوب په مهال یې په ملګرو همیشه ځینې فوق العاده معمولات مقررول ، دبیلګې په توګه دپنځه لمونځونو له جماعت وروسته پنځه سورتونه لوستل ( سهار سورت یاسین ، ماسپښین سورت الفتح ، مازدیګر سورت النباء ، ماښام سورت نوح ، ماخستن سورت الملک ) دغه راز سهار له لمانځه وروسته دخوب په ځای وظیفه یاسپورت کول او مازدیګر ( ختم خواجه ګان ) کول هم دملاسیف الرحمن منصور له معمولاتو څخه و .





ملاسیف الرحمن منصور دژوند په وروستیو کې دتصوف مروج مراحل پای ته رسولي وو، دنوموړي جهادي ملګري په بیلابیلو جهادي مراحلو کې دده د کراماتو کیسې کوي ، چې ترټولو ښکاره کرامت یې دشهادت په ورځ لیدل شوی و.

## د کمونیزم ضد جهاد او په اسلامي امارت کې یې خدمات

ملاسیف الرحمن منصور له ماشومتوبه په جهادي روحیه روزل شوی او له جهادي عشق او جذبې ډک زړه یې درلود ، دنوموړی دکشرتوب یو ملګری ( قاري اکمل ) وایي: هغه وخت چې دملاسیف الرحمن منصور عمر یوازې ۱۲ کاله و او د ډیره اسمعیل خان په کلاچي نومې سیمه کې یې درس وایه، کله به چې په مدرسه کې ختم کیده ، یا به دعا کیدله ، ده به ددعا په وخت سخت ژړل اوبې دریغه اوښکې به یې تویولې ، قاري اکمل وایي: یوه ورځ مې تري وپوښتل ، ولې داسې ژاړې ؟ ملاسیف الرحمن په ځواب کې راته وویل ( ګوره مونږ دلته په ارام په مدرسه کښې ناست یود افغانستان په غرونوکي به څومره مجاهدین نن بیاپه شهادت رسیدلي وي، الله تعالی دي ماته ځواني په نصیب کړي چې دمقدس جهادلپاره زه هم دمجاهدینوپه صفونوکښې وردننه شم دالله تعالی په لار کې وجنګیږم اودشهادت مقام مي په نصیب شي )

دهمدې جهادي فطري مینې له امله و چې ملاسیف الرحمن منصور له تاندې ځوانۍ بیا دژوند تر وروستۍ شیبې پورې ټول ژوند په جهادي هلوځلو کې تېر کړ. نوموړی ۱۶ کلن و چې په لومړي ځل یې په ننګرهار ولایت کې دروسانو او دهغوی دمزدورانو په خلاف په جهادي عملیاتو کې برخه واخیسته، چې په دې لومړي جهادي سفر کې ټپي هم شو، وروسته یې دخوست په ولایت کې هم په جهادي عملیاتوکې ګډون درلود، دغه راز یې په ۱۹۸۷ ـــ ۱۹۸۹ کلونو کې دپکتیا ولایت په زرمت ولسوالۍ کې په بیلابیلو جهادي تعرضونو کې شمولیت درلود ، چې په دې کلونو کې هم دګردیز په دفاعي پوستو دیوه تعرض په مهال ټپي شو ، په ۱۹۸۹ کال کې چې

کمونیستو ګلم جم ملیشو دزرمت په ولسوالۍ برید وکړ، په دې وخت کې ملاسیف الرحمن منصور دیوه جهادي ګروپ مشري په غاړه درلوده .

کله چې دکمونیزم ضد اسلامي جهاد بریالی شو، ملاسیف الرحمن منصور دپکتیا په ګردیز کې په خپل کور کې اوسېده ، په ۲۰/۱۱/۱۳۷۱ هـ ش نیټه کله چې مولوي نصرالله منصور په یوه ناڅوانمردانه برید کې په شهادت ورسید، سیف الرحمن منصور ته دخپل کور په چارو سربیره دخپلو جهادي ملګرو دسمبالښت اومشرتوب چارې هم ورله غاړې شوې. په دې موده کې نوموړی دپکتیا په ګردیز کې د ۱۵ مې زغره والې لواء قومندان او دشهید منصور صاحب دجهادي ملګرو له مشرانو څخه و، چې ورځنی مصروفیت یې دخپلې تروالۍ لاندې سیمې دامنیت ساتل او دجهادي ملګرو اعداد او نظامي تربیه وه. په دې موده کې نوموړی په ګردیز کې دهغه کسانو په مقابل کې په کلکه ودرید چې غوښتل یې دښار امنیت اخلال کړي ، چې له همداسې کسانو سره په یوه برخورد کې یو ورځ دچپ لاس په ورغوي ټپي هم شو ، او دری ګوتې یې له کاره ولوېدې.

کله چې دعامه فساد په مقابل کې له کندهار څخه دطالبانو او دیني علماء کرامو تحریک پیل شو، ملاسیف الرحمن منصور او دده ملګرو ( چې زیاتره یې طالبان وو) دیوه هیئت له لیږلو وروسته سمدستي تړې ملاتړ اعلان کړ. دده ځینې ملګري دیوه کاروان په شکل دطالبانو سره دپیوستون په خاطر دکندهار په خوا وخوځیدل ، دوی دښرنې او او شلګر له لارې ترمقر پورې ورسیدل ، چې دا وخت دطالبانو تحریک هم همدې سیمې ته راورسید او دوی ورسره یوځای شول او په ګډه یې دغزني دښار په لور حرکت پیل کړ، کله چې په غزني ښار برید کیده خپله ملاسیف الرحمن منصور دپکتیا له خوا له ځوټانګونو او مسلحو ملګرو سره په عملیاتو کې برخه واخیسته ، دغزني په یونټ باندې عملیات داسلامي امارت په پلوۍ دنوموړي لومړني جهادي عملیات وو. دغزني له نیول کیدو وروسته داسلامي تحریک دمشرانو لخوا ملاسیف الرحمن منصور او دده ملګرو ته د ټانکونو او نورو زرهې او توپچي وسایطو مسؤلیت





وسپارل شو ، څرنګه چې دمنصور صاحب ملګرو له وړاندې په دې برخه کې زده کړې درلودې ، دوی په غزني کې موجود ټانکونو هم سمبال کړل ، دغه راز یې له کندهار ښار څخه هم څو ټانکونه راوستل ، له دې وروسته ملاسیف الرحمن منصور په میدان ښار ، لوګر او چهاراسیاب کې داسلامي تحریک په پرمختیایي عملیاتو کې برخه واخیسته ، دکابل له فتحې څه موده وړاندې دپکتیکا په اورګون کې چې د ( پري ) په نامه دیوه جګړه مار په خلاف عملیات ترسره شول ، هم ګډون یې په کې درلود چې ددې عملیاتو وروسته یې دفتحې په هغه کاروان کې دتحریک دنورو مشرانو ترڅنګ دیوه ډلګۍ مشر په توګه سفر پیل کړ، چې له پکتیا څخه روان شو، ځاځي ، سپینه شګه ، ازره او حصارک یې تصفیه کړل ، جلال اباد یې ونیو او وروسته یې کابل فتحه او احمدشاه مسعود یې دپنجشیر تر (دالان سنګ) تنګي پورې په شا وتمباوو.

دکابل له فتحې وروسته ملاسیف الرحمن منصور دقرغې داتمې فرقې دمعاون او دټانک کنډک دمسؤل په صفت دنده پیل کړه ، نوموړی بیاپه افغانستان باندې دصلیبیانودبریدترمهاله په همدې دنده او دکابل دشمال په دفاعي خطوطو کې پاته شو، چې په دې ترڅ کې یې ډیره موده د شکردرې دلومړنۍ جنګي کرښې دمسؤل په صفت هم دنده ترسره کړه .

په شمالي کې داسلامي امارت په څو واریزو پرمختګونو کې په ټولو کې ملاسیف الرحمن شرکت درلود، چې دنوموړي دورونو له جملې ملامنصور الرحمن منصور هم په همدې استقامت په شهادت ورسید ، کله چې په ۱۹۹۷ میلادي کال کې داسلامي امارت مجاهدین دسالنګ له تونل څخه ووتل، ملاسیف الرحمن منصور او ملګري یې هم ددې کاروان برخوال وو ، ددې عملیاتو په مهال نوموړی پلخمري ته نږدې د رباتک په سیمه کې په نس کې په مرمۍ ولګېد ، او سخت ټپي شو ، چې دهلیکوفتر په واسطه دجګړې له سیمې کابل ته انتقال کړای شو .

تردې وروسته دکابل په شکردره کې دمسؤلیت په مهال دهاوان په چره دنوموړي ښی لاس سخت زخمي شو، دښي لاس دڅنګلې هډوکی ( مفصل ) یې له

منځه لاړ او لاس يې په بشپړ دول له کاره ولوېد ، تردې ټپ وروسته دنوموړي په دواړو لاسونو کې يوازې دچپ لاس دوو کوچنيو ګوتو حرکت کاوو، نوريې دبيا بيازخمونه له وجې لاسونه له کاره لويدلي وو، په شمالي باندې دوروستيو تهاجمي عملياتو په مهال کله چې ملاسيف الرحمن منصور له خپلو ملګرو سره ددښمن له خوا محاصره شو ، نو دنجات ديوازيني لوري په توګه يې دغوربند په خوا پرمختګ وکړ ، په دې توګه نوموړی له ډيرو مجاهدينو سره يوځای ددښمن له ضرر څخه په امن شول ، په دې عملياتو کې هم نوموړی په سر باندې ټپي شو ، خو دا ځل يې ټپ ډير ژور نه و.

کله چې په افغانستان امريکا برید وکړ ، ملاسيف الرحمن منصور هم داسلامي امارت دنورو مجاهدينو سره دشمال په دفاعي خطوطو کې تروروستې شيبې مقاومت وکړ ، کله چې داسلامي امارت ځواکونو له کابل څخه عقب نشيني وکړه ملاسيف الرحمن منصور هم له خپلو څوتنو ملګرو سره لوګر ته راغی ، په دې وخت کې نوموړي داسلامي امارت نورو مسؤلينو او جهادي ملګرو ته مشوره ورکړه ، چې دشمالي ټلوالې دپرمختګ دمخنيوي لپاره دې په لوګر يا دتېرې په کنړو کې دفاعي خط جوړ شي ، خو څنګه چې دامريکايانولخوا سخت بمبار روان و وروسته مصلحت دا وبلل شو ، چې دجبهه يي مقاومت په ځای دې چريکي جنګونه پيل شي ، په دې توګه ملاسيف الرحمن منصور له خپلو ملګرو سره خپلې سيمې ( دپکتيا زرمت ) ته راغی ، په همدې وخت کې سره له دچې حالات نامساعد وو نوموړي دعاليقدر اميرالمؤمنين دليدلو او هدايت ترلاسه کولو په نيت کندهار ته سفر وکړ ، ددې سفر په مهال نوموړي دعاليقدر اميرالمؤمنين په ليدلو بريالی نه شو ، خو دمخابرې له لارې يې داپيغام او هدايت ترې ترلاسه کړ، چې ( ټولو مجاهدينو ته ووايئ چې غرونو ته وخيږي ، او په هرډول چې ممکنه وي دامريکايانو په خلاف جهاد ته ادامه ورکړئ ) له کندهار څخه له راګرځيدو وروسته نوموړي بې له ځنډه دشاهيکوټ په غره کې دجهادي قرارګاه په جوړولو او چريکي جهاد په پيلولو شروع وکړه .





## دمهاجرو مجاهدينو برخليک او دشاهيکوټ جګړه

ملاسيف الرحمن منصور داسلامي امارت دواکمنۍ په مهال هم له مهاجرو مجاهدينو سره ځانګړی تعلق او خواخوږي درلوده، نوموړي به ملګري هميشه په دې مامورول چې ددې مهاجرينو سره ښه او له تبعيضه پاکه ګوزاره وکړي ده به ويل ( مورږ ته کيدای شي کله ناکله دخاورې ياقدرت سوچ راولويږي خو دې خلکو يوازې دالله تعالی ددين په خاطر خپل وطنونه پرې ايښي او مورږ ته يې پنا راوړې ) دکابل له سقوط وروسته دمهاجرو مجاهدينو په سلګونو کورنۍ هم له کابل څخه دپکتيا په خوا وکوچېدې، سره له دې چې له دوی سره لويان او نارينه هم وو ، خو زياتره يې بې سرپرسته تورسرې او ماشومان وو چې مشران يې يا پخوا شهيدان شوي وو او يا دهيواد په شمال کې بند پاته وو.

په دوی کې پيژندل شوې ځيرې قاري محمدطاهر فاروق، ابوخباب المصري ، عبدالرحمن کنيډي ،شيخ ابوعلي ، ابواللیث الليبي ، سيف العدل ، ابومصعب السوري ، زيدالخير ، ابومحمد او عبدالهادي وو، چې ورسره دعربي ، شيشاني ، ازبکي ، او ترکستاني مهاجرينو په سلګونو مجاهدين او کورنۍ وې .

ملاسيف الرحمن منصور دخپل يوه ملګري ( دجنوبي وزيرستان اوسيدونکي شهيدنيک محمد ) سره په ګډه ددغو مهاجرينو دخوندي کولو او نجات لپاره داسې ترتيب جوړ کړ، چې په پايله کې يې په زرګونو مجاهدين او مسلمانې مهاجرې تورسرې دامريکايي وحشي يرغلګرو له ضرر څخه په امن او زياتره يې خپلو اصلي هيوادونو ته ورسول شوې، دوی په لومړي قدم کې په زرمت او دپکتيا او پکتيکا په نورو سيمو کې دولسي افغانانو په منځ کې ددې مهاجرينو دخوندي کولو کوښښ وکړ ، شهيد نيک محمد په وزيرستان کې ددوی دورتګ لپاره زمينه برابره او ځايونه پيدا کړل، او له هغه ځايه يې ترخپلو هيوادونوپورې ددوی درسولو پروګرام عملي کړ. ددې مهاجرينو موټران او نور دخرڅلاو وړ وسائل په نغدو پيسو خرڅ کړای شول او دوی ته يې پيسې تسليم شوې وروسته ديوه پټ او منظم پروګرام په ترڅ کې ددې مجاهدينو تورسرې او

ماشومان وزیرستان او له هغه ځایه دکراچۍ ترساحله رسول کیدل، او له هغه ځایه دهوا یا سمندر له لارې خپلو هیوادونو ته ستنیدل ، ددې بهیر په پایله کې په سلګونو کورنۍ په ځانګړي توګه دعربو مجاهدینو په عزت سره خپلو اصلي ټاټوبیو ته ورسول شوې .

د مهاجرو مجاهدینو له خوندي کولو او لېږد سره سره ملاسیف الرحمن منصور او ملګري یې دامریکایانو په خلاف دمنظم مقاومت جاري ساتلو او لومړنیو امادګیو ته هم متوجه وو، دوی دهمدې لپاره دزرمت ولسوالۍ په جنوب ختیځ کې دشاهیکوټ په غرونو کې ( چیرته چې دروس ضد جهاد په مهال دمجاهدینو یوه قوي جبهه موجوده وه ) دیوه جهادي مرکز په جوړولو پیل وکړ ، دې مرکز ته که له یوې خوا له ګردیز اونورو سیمو څخه سپکې او درنې وسلې او مهمات انتقال شول، له بلې خوا دشاهیکوټ درې په ټولو خواوو کې دمحکمو مورچلو او سنګرونو دجوړولو او د دافع هوا په شمول دبیلابیلو وسلو نصبول هم روان وو.

مجاهدینو د ۲۰۰۱ لومړي کال له دسمبر څخه د ۲۰۰۲ کال ترمارچ پورې په خورا سختې یخنۍ او پیچلو شرایطو کې ددې مرکز دجوړولو او استحکام لپاره کارکاوو ، دا داسې وخت و چې امریکایي یرغلګر دځمکې او هوا له لارې دمجاهدینو په تلاش کې وو، او افغان مجاهد اولس په ټولیزه توګه له سخت عدم اطمنان او ناهیلۍ سره لاس او ګریوان و.

ملاسیف الرحمن منصور د ناهیلیو په دې سخت او امتحاني پړاو کې یوازې په الله تعالی باندې توکل وکړ ، دحالاتو نامساعدتیا، دوسائلو او ملګرو کموالي او یوازیتوب یې عزم متزلزل نه کړ، او نه یې دجهاد او تعقل دځینو هغو پخوانیو مدعیانو تبلیغاتو او مخالفت ته توجه وکړه، چې دامریکایانو په مقابل کې دملاسیف الرحمن منصور وسلوال مقاومت یې لیونتوب او بغاوت باله، ملاسیف الرحمن منصور په خپلو ملګرو او مخالفینو د اتمام حجت لپاره یوه ورځ خپل ټول مخالفین او موافقین دزرمت ولسوالۍ مرکز ته نږدې په یوه ختین مسجد کې راټول کړل، لومړی یې دهغوی





نظریات واوریدل ، چې د هرچا نظر جلا و، او وروسته یې په صریحوټکو ټولو حاضرینو ته وویل ( زه که پوره عالم نه یم ، خو الحمدلله دومره پوهیږم چې امریکایان متجاوز کافران دي او په مقابل کې یې جهاد فرض عین دی، له بلې خوا دخپل شرعي امیر ( عالیقدرامیرالمؤمنین ) لخوا هم ماته همداسې هدایت دی ، چې دامریکایانو په مقابل کې مسلح جهاد ته ادامه ورکړم ، زه نه غواړم تاسو ته اوږدې خبرې وکړم ، دوروستي ځل لپاره درته وایم ، که څوک غواړي له موږ سره په جهاد کې ملګرتیا وکړي ، نو له موږ سره دې ( بیعت بالشهادة ) وکړي ، موږ له جهاد پرته بله هیڅ لاره نلرو )

## په شاهیکوټ کې دامریکایانو په خلاف جګړه

دملاسیف الرحمن منصور په مشرۍ دشاهیکوټ مجاهدینو پروګرام درلود، چې په دې ستراتیژیکه سیمه کې دیوه محکم سنګر له جوړولو وروسته دهوا له تودبدو سره په هوارو سیمو کې دامریکایانو په خلاف چریکي مقاومت پیل کړي، په دوی کې دپکتیا ، پکتیکا او غزني ولایتونو دمجاهدینو سربیره یو شمیر مهاجر مجاهدین چې زیاتره یې دقاري طاهرجان ملګري وو هم وو، چې دټولو مجموعي شمیر تقریبا ۱۰۰ تنو ته رسیده ، د ۲۰۰۲ میلادی کال دمارچ په دریمه نیټه امریکایانو دمخکنیو اطلاعاتو له مخې په دې سیمه حمله وکړه ، چې ورسره مجاهدینو سخت مقاومت پیل کړ ، دې جګړې چې له امریکایي کوماندویانو سره دافغاني مجاهدینو لومړنۍ مخامخ اوږده جګړه وه څه کم دوه اونۍ دوام پیدا کړ ، چې په امریکا سربیره د ډنمارک ، استرالیا ، کاناډا ، فرانسې ، جرمني او ناروې ځانګړو ځواکونو هم په کې برخه درلوده .

ددې جګړې په مهال مجاهدینو دخورا دقیق پروګرام او طرح ریزۍ له مخې امریکایي دیسانټ ځواکونه په بیا بیا په پیچلو غرنیو سیمو کې راګیر او له منځه یووړل ، مجاهدینو چې تقریبا په ټولو حاکمو نقطو یې دافع هواوسلې نصب کړې او مورچلونه جوړ کړي و، دښمن ته یې موقع ورکوله ، چې ددوی تراور لاندې سیمو کې له چورلکو څخه ځواکونه پیاده کړي، خو کله به چې له دې پیاده شویو عسکرونه چورلکې

پورته شوې، مجاهدينو به برید پرې وکړ، او دمجاهدينو دافع هوا به ددښمن چورلکو ته ددې اجازه نه ورکوله، چې خپل په جګړه کې ښکیل عسکر له سیمې وباسي .

امریکایانو چې دې عملیاتو ته یې د اناکوندا ( ښامار ) نوم ورکړی وو وویل چې دعملیاتو په مهال یې ترلسو زرو ډیر بمونه ورولي دي، چې زهري ، کیمیاوي او اکسیجن ختموونکي بمونه هم په کې شامل وو، څرنګه چې ددې جګړې په دریمه ورځ دشاهیکوټ په غرونو درنه وواره وورېده ،او دتودوخې درجه دجګړې په سیمه کې ترصفر ښکته وه ، نوځکه ددشمن زهري وسلو مجاهدينو ته دپام وړ زیان نه رساوو.

دجګړې له پیل دوه اونۍ وروسته دمارچ په ۱۸ مه په افغانستان کې امریکایي مشر جنرال ټومي فرانکس ددې عملیاتو پای اعلان کړ، نوموړي په رسمي توګه وویل چې په دې عملیاتو کې یې ۲ چورلکې نسکورې شوې ، ۸ عسکریي وژل شوي او ۸۲ نور یې ټپیان دي ، خو هغه څه چې ددې جګړې برخوالو مجاهدينو دسر په سترګو لیدلي ، او یا وروسته ددې جګړې ګډونوالو امریکایي سرتیرو په خپلو خاطرو کې لیکلي ، دامریکا تلفات تردې څو چنده زیات ښیي .

دبیلګې په توګه یوامریکایي سرتیری (سارجنټ براون ) په شاهیکوټ کې یوازې دلومړۍ ورځې دجګړې کیسه داسي کوي ( په لومړۍ ورځ دجګړې له پیل لږ ساعت وروسته زموږ یوه له سرتیرو ډکه چورلکه وویشتل شوه او وغورځیده، چې ځینې سرتیري یې مړه او ځینې ټپیان وو. زه دژغورنې په ټیم کې وم، چې هڅه مو کوله ټپي سرتیري وژغورو، خو موږ دلویدلي چورلکې ۲۰ متری ته لانه وورسیدلي چې دتوغندیو او سپکووسلې ډزې راباندې پیل شوې، دژغورنې دډلې څلورتنه سرتیري ووژل شول ، په دې ورځ زموږ اودښمن ترمنځ جګړې ۱۴ ساعته دوام وکړ ، جګړه په دومره نږدې واټن کې وه چې زموږ بریدکوونکي الوتکه له ۵۰۰ پاویزو بمونو سره زموږ په سر تاویدله خو له دې امله ورته دبمبار اجازه نه کیده چې له دښمن سره زموږ دتلفاتو ویره هم وه ، وروسته معلومه شوه ، چې ۷ تنه امریکایي سرتیري وژل شوي دي ) ( له افغانستان تروروستي افغانه کتاب ۴ ټوک څخه په لنډیز)





په دې جګړه کې دامریکایانو ګڼې چورلکې دمجاهدينو په بریدونو کې نسکورې شوې خو داچې دجګړې سیمه پراخه وه او په بیلابیلوبرخو کې جګړه روانه وه دغه راز امریکایانو هم ټوله هڅه کوله چې تلفات پټ کړي ، دقیقا نه شي ویل کیدای چې امریکایانو ته څومره تلفات ورسیدل، خودا اټکل کیدای شي، چې دغورځولو شویو چورلکو شمیر تر۵ ډېر او دوژل شویو امریکایانو شمیر تر ۱۰۰ تنو زیات وو.

په دې جګړه کې د۴۰ په شاوخواکې مجاهدین هم په شهادت ورسیدل ، چې دشهیدانو په ډله کې دمجاهدينو مشر ملاسیف الرحمن منصور او مرستیال یې ملا فدا محمد جواد هم وو.

د شاهیکوټ جګړه یوه عادي جګړه نه وه، په دې جګړه کې په لومړي ځل دامریکایي ټیکنالوژۍ او پوځي برتری پوښلی ضعف رابرسیره او دمجاهدینو مورال ورسره خورا لوړ شو، د جګړې له پیل دوه اونۍ وروسته سره له دې چې امریکایانو خپل عملیات پای ته رسیدلي او موفق اعلان کړل، خو ددوی په وړاندې مقاومت په ټول افغانستان کې په یوه نوي روحیه جاري پاته شو.

## دملاسیف الرحمن منصور شهادت

ملاسیف الرحمن منصور دبل هرږتیني مجاهد غوندې له پیله دشهادت تمنا لرله، او په ټول زړه ورته اماده و، د شاهیکوټ دجګړې په مهال نوموړی دجګړې له پیل څخه دمخابرې له لارې له ټولو استقامتونو او مجاهدینو سره په تماس کې واو د ( ثابت) په مستعار نامه یې دجګړې وضعیت کنترولاوو ، دجګړې په مهال نوموړی په بیا بیا دامریکایانو ترسختو بریدونو او بمبار لاندې راغی ، خو الله تعالی ترې وساته ،تر څو یې دجګړې په اوومه ورځ په ۱۹/۱۲/۱۳۸۰ هـــ ش نیټه چې د ۱۰/۳/۲۰۰۲ میلادي سره سمون خوري دشهادت ارمان ترسره شو.

دنوموړي کشر ورور ملاعبدالرحمن منصور چې دهمدې جګړې برخوال و په دې اړه دسترګو لیدلی حال داسې بیانوي ( موږ ته دیوه بل مجاهدشهیدجواد صاحب

دشهادت خبر راورسید، او دهغه په خوا ور روان وو چې جسد یې ترلاسه کړو، مازدیګر مهال ودشاهیکوټ درې په جنوبي څنډه کې دمارزکو له کلي لاندې دخوړ په غاړه روان وو، چې یوډېر خوږ تورم ( بوی ) مو حس کړ ، ملګري دهمدې خواړه بوی په خوا روان شوو ، نږدې شل متره لرې ، څو شهیدجسدونه پراته وو، او شاوخوا دبمبار نښې وې ، ماچې وکتل دقومندان صاحب ( ملاسیف الرحمن ) دخړنګه ملتانۍ لونګۍ ټوټې مې وپیژندې چې په شاوخوا ونو کې بندې وې، جسدونه مو وپلټل د یوه جسد خاص خوشبویي تله، مخونه یې له منځه تللي و، خو ماچې وکوت د چپ لاس د ورغوي او دنس له پخوانیوپرهارونو مې وپیژانده ، چې همدا جسد دقومندان صاحب دی، څلور جسدونه نورهم ورسره په خواکې وو ، چې یوه د فضل محمد په نامه دزرمت ولسوالۍ داوسیدونکي یوه مجاهد و ، او دری نور مهاجر مجاهدین وو، په همدې ساعت ددې اجسادو په تجهیز او تدفین بوخت شوو، دقومندان صاحب شهید جسد مو په همدې شپه زرمت ته راکوز کړ، او د ځینورازدارو علماءکرامو په حضور کې مو له جنازې وروسته خاورته وسپاره )

د شهیدملاسیف الرحمن منصوردشهادت خبر دعامو مجاهدینو دروحیاتو دلوړساتلو لپاره په خورا رازداری پټ وساتل شو ، تردې چې امریکایي استخباراتو هم دکلونو له تیریدو سره سره دغه راز معلوم نه کړای شو، او له شهادت څوکاله وروسته یې هم په سیمه کې دده تصویرونه له فضاء څخه شیندل ، او په سریې انعام مقرراوو، چې دامسئله دامریکایي استخباراتو دضعف یو څرګند مثال بلل کیدای شي .

## دشهید ملاسیف الرحمن منصور دتقوی او دیانت ځینې خاطرې

قومندان سیف الرحمن منصور الله تعالی له کوچنیوالي څخه په ښو اخلاقو ، تقوی او دیانت باندې ښایسته کړی و. دلته که دنوموړي دبیلابیلو حسنه اخلاقو په اړه خاطرې په تفصیل را اخلو ښایي کیسه ډیره اوږده شي، نو ځکه به په څو واقعو کفایت وکړو .

**ـــ له عبادت او تهجد سره مینه:** دنوموړي یوپخوانی دمدرسې ملګری ( قاري اکمل ) دده دهغه مهال کیسه کوي چې ملاسیف الرحمن ۱۳ کلن و( یوه شپه





دګوجرانوالې په مدرسه عربیه کې داوسیدو په مهال چې ډیر دیخ موسم و، دشپې راویښ شوم ، ومې کتل ، سیف الرحمن په خپل ځای کې نشته ، اندیښنه مې شوه ، بهر ووتم هرځای مې وکوت ، خو نه و، اخر دمدرسې بام ته وختلم ، ګورم چې ملاسیف الرحمن یوازې یوکمیس اغوستی او په دې سخت یخ کې دتهجد په لمانځه ولاړ دی ، زه یې هم ترشا غلی ودریدلم ، دتهجد لمونځ یې خلاص کړاو بیا یې په دعا پیل وکړ ، په دعا کې په ژړا شو ، اوددعاالفاظ تریې په زوره شول ، الله تعالی یې په داسې الفاظو مخاطباوو لکه مخامخ چې الله تعالی ویني او زاری ورته کوي ، دژړا او دعا دې حالت یې بیخي ترډیره دوام وکړ ، اخر زه له یخ نه سخت په تنګ شوم بیرته کوټې ته راغلم ، خو له صبح صادق نه لږ مخکې پوه شوم چې ملاسیف الرحمن بیرته خپل ځای ته راغی ، ماپوښتنه تریې وکړه چیرې تللی وې ده یوازې دا راته وویل ( زړه مې لږ ډک و تش مې کړ )

دنوموړي یوبل ملګری مفتی فیض محمدصاحب او ځیني نور ملګري یې هم وایي ، چې دشپې عبادت دملاسیف الرحمن له همیشنیو عاداتو څخه وو ، چې دتعلم ، جهاد او حتی دزخمیتوب په حالت کې یې په هسپتال کې هم نه قضاء کاوو.

## ـــ تقوی او حق ګویي

شهید ملا سیف الرحمن منصوربه دخپلې شخصي تقوا ترڅنګ خپلو ملګروته هم تل دتقوا توصیه کوله او ویل به یې ګورئ دا تقوا ډیره سخته نده فقط یواځې خپل نفس ترپښو لاندې کړئ وروسته تقوا اختیارول آسانه کارده .

مفتي فیض محمد وایي: دنوي ځوانۍ په مهال یو وخت زه ملاسیف الرحمن منصور دده له والد شهیدمولوي نصرالله منصور سره دچا کره په میلمستیا لاړو ، هلته ډیر خلک راغلي وو، خو ملاسیف الرحمن منصورچې کله په دې پوه شو، چې کوربنوتردې پخوا غیرشرعي مالي کاروبار کاوو، د ډوډۍ په مهال ملاسیف الرحمن منصور له ډوډۍ نه لاس ونیو ، او له هرڅومره ټینګارسره یې څکه هم پرې ونه کړه ، زمور داګومان شو چې روژه به یې وي ، خو چې خپل ځای ته راغلو ده ډوډۍ وغوښته ،

دغه راز يې خپل پلار شهيد مولوي نصرالله منصور صاحب ته وويل ، چې ولې دداسې خلکو ميلمستيا ته ځي،چې ډوډۍ يې حلاله نه وي ، خو هغه په ځواب کې ورته وويل چې دا خلک اوس دمجاهدينو خواخوږي دي ، اوس يې ګټه پاکه ده ، نو ځکه يې ډوډۍ خوړل کوم شرعي حرج نه لري .

### ـــ له بيت المال سره احتياط

دتحريک په مهال ددوهم ځل زخمي کيدو نه وروسته، چې دلاس هډوکی يې له منځه لاړ ، ملاسيف الرحمن منصور په کندهار کې دعاليقدرامیرالمؤمنين ملامحمدعمرمجاهد ملاقات ته لاړ، ملاصاحب ورته وويل ، چې دلاس دعلاج لپاره به دې خارج ته واستاوو، خو ده په ځواب کې ورته وويل چې زه يوځل له وتلي جراح ( موسی وردګ ) سره مشوره کوم ، چې که دخارج دعلاج په واسطه زما لاس ددې جوګه کيږي ، چې وسله پرې وچلوم ، نو لاړ به شم ، کنه نو ولې هسې دبيت المال پيسې خرچ کړم ، ډاکټر موسی وردګ ده ته وويل چې که هرډول علاج وکړي ، په لاس کې به دې يوازې يوځه حرکت پيدا شي ، نور ددې وړ نه شي کيدلای چې بيا وسله پرې وکاروي ، له همدې امله نوموړی له دې معالجې او سفر څخه منصرف شو .

دغه راز دده يوه ملګری ( قاري حبيب ) وايي ملاسيف الرحمن منصور دتحريک په مهال دخپل ورور په واده کې شرکت ونه کړ ، کله مې چې پوښتنه ترې وکړه ، نو اول يې نورې بهانې کولې خو اخر يې اصلي خبره راته وکړه ، او راته ويې ويل ( ما دا فکر وکړ ، چې که ددې واده په وخت کې له خپل موټر سره کورته لاړ شم ، نو د واده په وخت کې ضرور د خپلوانو دوړلو او راوړلو لپاره دموټر ضرورت پيښيږي ، او داد بيت المال موټر ده چې زه نه غواړم په شخصي ژوند کې يې ا ستعمال کړم .

### ـــ دشريعت په تعميل ټينګاراو په دې برخه کې انډيوالي نه پالل

دامارت په مهال دزرمت ولسوال چې يومشهور مولوي اود ملاسيف الرحمن منصور له خورا نږدې او اوږدمهالو ملګرو څخه و دغه راز دهمدې سيمې دوه تنه





پيژندل شوي ، او پيسه دار خلک چې له دوی سره يې ډير کومکونه کړي وو، کله چې په يوه مسئله کې درشوت خبره پرې ثابته شوه ، ملاسيف الرحمن منصور دوی ټول دکابل په قرغه کې خپلې قرارګاه ته وروغوښتل له هغه ځايه يې ، په خپل موټر کې واچول ، او نظامي محکمې ته يې وسپارل ، چې بيا ترپايه بنديان وو، په دې کارسره نوموړي ثابته کړه، چې دشريعت او الهي قانون په تعميل کې هيڅ ډول خپلوي ، ملګرتيا او نورملحوظات ورته داهميت وړ نه دي .

### ـــ له جهاد سره مينه

قاري حبيب وايي دکمونيزم ضد جهاد په مهال دملاسيف الرحمن منصور دواده مراسم وو او دی په يوه جهادي مرکز کې په نظامي تعليم بوخت وو پلار يې احوال ورکړ ، چې د واده په شپو کې کورته راشي ، خو دی دجهاد شوق په مخه کړی وو اخر يې پلار مولوي نصرالله منصور خپله په موټر کې دتعليم ځای ته ورغی او له لاسه يې راووست، چې ترکوره يې په موټر کې هم په دې ټينګار کاوو ، چې بايد جهادي تعليم وکړم .

### ـــ له شهادت سره شوق

مولوي ذاکرالله ذاکري وايي ، دکمونيزم ضد جهاد په مهال دګردیز په دفاعي پوستو دتعرض په مهال يې په ياد دي چې ملاسيف الرحمن منصور دتعرض له پيل نه وړاندې دشهادت په هيله خپله زنه په خپله وترله ، خو په دې جګړه کې دی شهيد نه بلکې زخمي شو .

### اولادونه

شهيد ملاسيف الرحمن منصور څلور اولادونه ( چې څلور واړه زامن دي ) ترشا پرې ايښي ، چې همدا اوس په ديني زده کړو بوخت دي ، الله تعالی ته سوال کوو ، چې دشهيدقومندان صاحب برکات په دوی باندې کيږدي ، ترڅو همداسې ددين او جهاد سرلوړی اتلان ترې جوړ شي. امين يارب العلمين.

# د شهید حافظ عبدالرحیم صاحب ژوند او کارنامو ته کتنه

لیکنه: قاري سعید

په افغانستان د امریکایانو برید چې په اسلامي نړۍ د غرب د دریم یرغل (نوې استعماري جګړې) پیلامه بلل کیږي د خپل ډول یو بی ساری برید و. شاید تردې پخوا نړۍ د کوم هیواد یا اولس په خلاف د جګړه مارانو دومره ستر اتحاد یا نظامي ایتلاف نه وي لیدلی. تردې پخوا دنړۍ تر ټولو ستر ایتلاف په لومړۍ نړیواله جګړه کې د متحدینو ایتلاف و چې د شاملو هیوادونو شمیر یې تر دیرشو نه زیاتېده، خو په افغانستان د یرغل کوونکو هیوادونو شمیر تقریبا پنځوسو ته رسیده چې لسګونو نورو هیوادونو ورسره استخباراتي،مالي او سیاسي ملاتړ او هماهنګي درلوده.

د نړیوال کفر او نفاق دغه عالمګیر ایتلاف چې حتی د نړۍ او سیمې ستر ستر طاقتونه یې مرعوب کړي او اجباري ملګرتیا ته اماده کړي وو،د یاد وړ خبره دا وه چې ددې توپان په وړاندې د ولاړو رښتینو مؤمنانو په زړونو یې هیڅ اغیزنه معلومیده. دافغانستان مؤمن مجاهدین چې په الهي نصرت یې اعتماد درلود دنړیوال کفر له هرڅومره غورو او لاپو سره یې په دریځ کې هیڅ تغیر رانغی او ترپایه خپل دریځ ته وفادار پاته شول.

ددغسې مجاهدینو له جملې یو تن مبارز او مقاوم مجاهد چې هیڅکله یې عزم متزلزل نه شو، هیڅکله یې خپل ټوپک له اوږې کوز نه کړ، هیڅکله یې د ضعف او مورال بایللو احساس ونکړ ، تردې چې په یوازې ځان یې د کفري اشغال په وړاندې د مبارزې میدان تود وساته او په دې ډول یې نوي ځوانان دې لارې ته سوق کړل. دغه مجاهد شهید حافظ عبدالرحیم و، چې په لاندې کرښو کې یې یوه شیبه په یاد تم کیږو، هیله ده چې راسره ویې لولئ .





## حافظ عبدالرحیم

حافظ عبدالرحیم د نصرالدین زوی د محمدامین خان لمسی په قوم پښتون/نورزی په ۱۳۷۰ هـ ق کال د کندهار ولایت د بولدک ولسوالۍ د ماشینګزو سیمې په کمالزو کلي کې زیږیدلی دی.

حافظ عبدالرحیم چې په یوه کلیواله سیمه او متدینه کورنۍ کې زیږیدلی و،د ۸ کلونو په عمر و چې مور یې وفات شوه. د لس کلنۍ په عمر یې پلار هم وفات شو او په دې ډول د ماشومتوب په عمر د والدینو له مینې څخه بې برخې شو.

## دزدکړو سلسله

حافظ عبدالرحیم صاحب د ماشومتوب په مهال ابتدایي زده کړې د خپل کلي په مسجد کې پیل کړې د لس کلنۍ په عمر یې د کندهار ښار د هرات بازار د اخند صاحب د دهنې په سیمه کې له یوه مدرس ملا امام څخه دیني کتابونه شروع کړل. دوه کاله وروسته د پاکستان سرحدي ښارګوټي چمن ته لاړ او هلته یې د قاري ولي محمد صاحب په مدرسه کې د قرانکریم حفظ شروع کړ.څه موده وروسته د پاکستان مشهور ښار کویټې ته لاړ او هلته یې په مشهوره مدرسه مظهر العلوم چې اوس د شالدرې په مدرسه مشهوره ده د قران کریم حفظ ته دوام ورکړ.

د قران کریم له حفظ کولو وروسته حافظ صاحب کندهار ته راغی او ددیني علومو د زده کړې لپاره د کندهار ښار د لویې ویالې په سیمه کې د شهید مولوي عبدالغفور صاحب په مدرسه کې داخل شو. له یو کال تیرولو وروسته د پاکستان پیښور ته لاړ او هلته یې د کمونیستي انقلاب تر وخته په مشهوره مدرسه دارالعلوم حقانیه او نورو مختلفو مدارسو کې ددیني علم زده کړې ته دوام ورکړ. د زده کړو په سلسله کې نوموړي په ۱۹۸۴ میلادي کال کې د پاکستان د صوابۍ په سیمه کې د شیخ التفسیر مولانا عبدالهادي صاحب چې په شاه منصور باباجي صاحب مشهور و سره د قران کریم د تفسیر دوره وکړه او سند یې ترې ترلاسه کړ .

کله چې کمونيستان واک ته ورسيدل نوموړی د جلال اباد او کابل له لارې کندهار ته راغی دهيواد په يوشمير سيمو وگرځيد ترڅو دحالاتو جاج واخلي له دې سفر وروسته له جهادي صف سره يوځای شو او په لومړي ځل چې په سرحدي سيمه بادينې کې د مجاهدينو مراکز و، له همدې ځايه يې جهاد پيل کړ .

په جهادي صف کې له څه مودې تيرولو وروسته کراچۍ ته لاړ تر څو خپله نيمگړې ديني زده کړې بشپړې کړي د پاکستان دکراچۍ ښار په مشهوره مدرسه جامعة الاسلاميه بنوري ټاون کې يې داخله واخيسته او په ۱۴۰۱ هـ ق کال کې له همدې مدرسې فارغ او د فضيلت دستار يې په سر کړ.

## جبهه فاورقيه

له ديني علومو له فراغت وروسته چې حافظ عبدالرحيم صاحب جهادي صف ته ستون شودحرکت انقلاب اسلامي په تنظيم کې يې شموليت وکړ او د همدې تنظيم په تشکيلاتو کې يې د کندهار په سرحدي ولسوالۍ بولدک کې د جبهه فاروقيه په نوم جهادي جبهه تاسيس کړه. دغه جبهه چې دتاسيس او مشرتابه چارې يې خپله د حافظ صاحب په غاړه وې او ګڼ شمير مجاهدين په کې راټول وو، مرکز يې د بولدک ولسوالۍ د چهلګزي او ونکه په سيمه کې و او عمليات يې دکندهار ولايت د بولدک او تخته پل په ولسوالیو کې ترسره کول.

بولدک ولسوالي چې د ډاکټر نجيب د رژيم له ړنګيدلو دری کاله مخکې فتحه شوه حافظ صاحب په کې کليدي رول درلود چې د فتحې په جګړه کې يې په لومړني ځل د کمونيستانو مرکز ته ورننوت،د بولدک له فتحې وروسته د حافظ صاحب د جبهې مجاهدين د تخته پل او کندهار د اطرافو په جهادي سنګرو کې ځای په ځای شول او نوموړي تر هغه وخته جهاد ته ادامه ورکړه تر څو کندهار ښار سقوط وکړ او کمونيستي رژيم له منځه لاړ .





حافظ عبدالرحيم لکه څنګه چې د امريکايانو په خلاف د جهاد يو ويارلی مشر-بلل کيږي د کمونيستانو په خلاف جهاد کې يې هم د پام وړ ونډه درلوده. نوموړی د کمونيزم ضد جهادپه مهال څو ځله ټپي شوی و چې په يوه مرکه کې يې په دې اړه داسې ويلي:

يو وخت د روسانو سره د جهاد په وخت د سپين بولدک د ونکې په سيمه کې زخمي شوم،بل وار بيا له خلقيانو سره په مقابله کې په لاسي بم ولګيدم او الله تعالی بچ کړم او کامله شفاء يې راکړه او همداراز د سپين بولدک په جنګ کې چې ډير خونړی جنګ و او د کمونيستانو طيارو سخت بمبار کاوو، زخمي شوم خو الله تعالی وساتلم .

د مجاهدينو له بريا وروسته حافظ صاحب څه موده په کندهار ښار کې تيره کړه خو کله چې دتنظيمي دورې فسادونه راپورته شول نوموړی له کندهار ښاره لاړ او د کندهار ښار او بولدک تر منځ په وت سيمه کې يې د جامعة الاسلامية العربية په نوم مدرسه جوړه کړه چې دطالبانو د قيام تر وخته د همدې مدرسې د اهتمام په چارو بوخت و.

## په اسلامي امارت کې شموليت او وظائف

د تنظيمي ګډوډۍ د اوج په مهال چې کله د کندهار ولايت په ژړۍ او ميوند سيمو کې د ملامحمد عمر مجاهد تر مشرۍ لاندې پخوانيو مجاهدينو او طالبانو اصلاحي خوځښت پيل کړ،دغه مهال د کندهار په بولدک ولسوالۍ کې هم يو شمير علماء او مجاهدين سره راټول شوي وو او په سيمه کې يې دفساد د ورکولو لپاره سلامشورې کولې،چې حافظ عبدالرحيم صاحب هم په کې مخکښ نقش درلود. کله چې دوی خبر شول چې په ژړۍ،ميوند او ډنډ کې هم داسې تحرک پيل شوی دی، بيا حافظ عبدالرحيم،مولوي عبدالشکور صاحب،شهيد ملامحمدعوض او شهيد قاري عبدالسلام صاحب ډنډ ولسوالۍ ته ورغلل له ملا محمد عمر مجاهد سره يې وليدل اوله خپلو ټولو مربوطو مجاهدينو سره د طالبانو له اسلامي تحريک سره يوځای شول.

له هغه وروسته حافظ عبدالرحيم صاحب د اسلامي تحريک د يوه برجسته غړي په حيث مختلف خدمتونه سرته ورسول، د کندهار له نيولو وروسته د روزګان ولايت د مرکز ترين کوټ د نيولو په عملياتو کې حافظ عبدالرحيم صاحب د يوه مشر۔ په حيث برخوال . بيا چې د اسلامي تحريک لښکر د کندهار څخه دزابل په خوا لاړ، غزني او ميدان ښار يې ونيول تر دې چې د کابل دروازو ته ورسيد. حافظ صاحب هم ددې لښکر برخوال چې په ميدان ښار کې د توقف په مهال د خط د عمومي مسؤل شهيدملامشر اخند لخوا ورته د خط د يوې برخې مسؤليت وروسپارل شو.

په ميدان ښار کې له دندې وروسته نوموړی د روزګان ولايت دامنيه قومندان په حيث وټاکل شو چې دوه کاله يې دغه وظيفه ترسره کړه. له هغه وروسته د زابل ولايت د مرستيال په حيث تعين شو چې په افغانستان د امريکاد يرغل تر مهاله يې همدا وظيفه سرته ورسوله تر څو چې دامريکايي يرغل له امله اسلامي امارت له ښارونو څخه عقب نشيني وکړه .

## دامريکا په خلاف د جهادي عملياتو پيل

حافظ عبدالرحيم صاحب د جنوب غرب په حوزه کې دامريکا په خلاف د جهادي قيام تر ټولو مخکښ مجاهد بلل کيږي. داسلامي امارت د واکمنۍ له سقوط وروسته په مجاهدينو ډير سخت امتحاني حالت راغی.دامريکايانو زور او جبر او د هيواد او سيمې په سطحه د شرايطو خرابوالي زياتره مجاهدين دې ته مجبور کړل چې خپلې وسلې له اوږو کوزې کړي او د څه وخت لپاره ځانونه مخفي يا په نورو کارونو مصروف شي.

خو په دې امتحاني شرايطو کې داسې باعزمه مجاهدين هم ووچې د حالاتو توپان ته تسليم نه شول،د يأس او ناهيلۍ احساس يې ونه کړ او د الله تعالی په دې قول چې : لاتيأسوا من روح الله . . په ټينګ باور سره يې د نهيليو په توپان کې د اميد شمعې بلې کړې او په ډير سخت حالت کې يې خپل جهادي عزم وساته چې يو له داسې کسانو څخه حافظ عبدالرحيم صاحب و.





نوموړي په يوه مرکه کې ويلي چې دکندهار له سقوط وروسته زه خپل کور ته راغلم چې د بولدک په وت سيمه کې و، په کور کې مې دوه ورځې استراحت وکړ،خو مسلح ګرځيدم او په دريمه ورځ له کوره د جهاد په نيت په يوازې سر ووتلم. لومړی د انځرګي په سيمه کې يوه ٦٥ کلن مجاهد بارکزي اکا ته ورغلم او د جهاد خبره مې ورته وکړه، هغه راسره ومنله او بيا له هغه ځايه د نورو مجاهدينو په موندلو او دامريکا په خلاف عملي جهاد ته په اماده کولو بوخت شوو.

د حافظ صاحب نږدې ملګری ملا شيخ محمد آخند وايي:د کندهار ښار له سقوط وروسته چې د روژې په وروستيو ورځو کې و،حافظ صاحب کور ته راغی خو داچې په جهادی هڅو بوخت و، دامريکايانو ملګري کور ته ورغلل ترڅو يې ونيسي۔ خو حافظ ترې بچ شو،نوموړي خپل کور له وت سيمې بار کړ او د لوی کاريز سيمې ته لاړ. دکوچني اختر په شپږمه ورځ زه کور ته ورغلم ،حافظ صاحب راته وويل چې د امريکايانو په خلاف به جهاد کوو،که کومې وسلې يا مهمات درسره وي ماته يې راکړه .

مولوي عبدالباقي صاحب وايي: حافظ صاحب په پيل کې يوازې و، دشپې به په پټه خلکو ته ورتلو د جهاد دعوت به يې ورکاوو وروسته يې خپل داکا زوی ملا عبدالباري ورسره ملګری شو چې دواړه به په موټر سايکل مسلح ګرځيدل. ورځ به يې په غرونو يا کنډوالو کې تيروله او دشپې مهال به يې د جهاد دعوت خلکو ته ورکاوو، خلک به يې امريکايانو ته د وسلو له ورکولو او يا په پوليسو او نورو امنيتي ليکو کې له داخلولو څخه منع کول. دجهاد لپاره يې ملګري او وسلې پيدا کولې چې ترڅو مياشتو نوموړي په پټه دغه جريان روان کړی و. د حافظ صاحب زوی مولوي حمدالله وايي چې دغه مهال حافظ صاحب په مياشت کې يوځل کور ته راتلو چې په نيمه شپه به راغی او بيا به پټه له کوره ووت ،ځکه حالات ډير خراب و او امريکايان او ملګري يې نوموړي ته سخت متوجه وو.

**د هډې غره جهادي مرکز:** حافظ عبدالرحيم صاحب دامريکايانو د يرغل دلومړني ژمي او پسرلي په شپو کې جهادي دعوت چلاوه. وسلې ، مهمات او ملګري

يي پيدا کول. داوړي تر وختـه يـي څـه ملګـري پيـدا کـړل چـې تکـړه مجاهـد شـهيد عبدالغني چې په تورغني مشهور و هم په همدې مهال ورسره ملګری شـو. دغـه مهـال حافظ صاحب ديوه جهادي مرکز د جوړولو اراده وکړه. داچې له نوموړي سره پيسې يـا نور امکانات نه و،نو د مرکز د فعاله کولو لپـاره يـي پـه ۱۴۲۳ هــق کـال د شـعبان پـه مياشت کې له خپل کور څخـه بسـترې ،لوښـي او د ژونـد وسـايل يـووړل او دبولـدک مربوط د هډې غره په سيمه کې يي لومړنی مخفي جهادي مرکز ورباندې ودان کړ. په دې مرکز کې په پيل کې دحافظ صاحب په مشری يوازې پنځه کسان اوسيدل. څرنګه چې دا وچه غرنی سيمه وه مجاهدينو له هغو اوبو څخه استفاده کوله چې لـه تيرژمـي څخه دلته په يوه ډنډ کې ولاړې وې چې دځښاک وړ نه وې خو داودس او مينځلو کـار ترې اخيست کيدای شوای. د څښاک لپاره مجاهدينو يو مخلص کس په اجـوره مقـرره کړی و چې په څلورو ورځو کې به يې يوځل د ماشينګزو له کلي څخه د شپې پـه مهـال په بوده باندې اوبه ورته راوړې.

له دې مرکز څخه حافظ صاحب لومړنی مبارزه داسې پيل کړه چې په مابنام کې به له خپلو مسلحو ملګرو سره په هواره کې پرتو کليو ته روان شول،که به چا له حکومت سره همکاري کړې وه، يا به يې په عسکری کې نـوم ليکلـی و، هغـه بـه يـي راوايسـتل، بيرته به يي توبه ورباندې وايسته او له خپل کار څخه به يي پښيمانه کړل. د روژې پـه راتګ سره د شپې د تراويحو په وخت مسجدونو ته ورتلو او خلکو ته يي دجهاد په بـاره کې تقريرونه کول او ورته ويل يي چې کفارو يرغل کړی،وطن اشغال اشغال دی ،جهـاد فرض دی او دکفارو په ليکو کې خپل ځوانان مه داخلوئ. پـه دې وخـت کـې دحـافظ صاحب د ملګرو شمير تر ۲۰ تنو رسيدلی و چې د شپې مهال کـلي پـه کـلي ګرځيـدل، حکومتي خلک يي ويرول او دجهاد دعوت يي چلاوو او د شپې په وروستۍ برخـه کـې به بيرته په هډې غره کې خپل مرکز ته تلل.

**له دعوت او تحريض څخه د قتال په خوا:** د ۱۴۲۳ هـ ق کال د ذوالقعده مياشتې په ۴ مه نيټه د بولدک ولسوالۍ په سيبت سيمه کې يوه لويـه قـومي غونـډه روانـه وه.





حافظ صاحب چې خبر شودا يي دجهادي دعوت لپاره شه فرصت وباله نو له خپلـو ۲۵ کسه مسلحو ملګرو سره ورغی،هلته يـي جهـادي تقريـر وکـړ او خلـک يـي پـه ډاګـه د امريکا خلاف مبارزې ته راوبلل.

حکومتي عسکر چې کله ورباندې خبر شول،نو له بولدک څخه يي دې سـيمې تـه قوا وروسته دعسکرو په ورتګ سره حافظ صاحب او ملګرو يي ورسره جنـګ شروع کـړ چې په نتيجه کې يي ۷ حکومتي عسکر ووژل شـول،يو مجاهـد زخمـي او ۳ مجاهـدين دشمن ژوندي ونيول،دا دامريکايي يرغل او دهغوی دداخلي اجيرانو په خلاف د حـافظ صاحب دملګرو لومړنی مسلحانه جګړه وه چې وروسته دجګړو بهيـر زور واخيسـت او په درست کندهار کې دجهادي پاڅون پيلامه ثابته شوه .

لـه دې پيښـې شـل ورځـې وروسـته کلـه چـې دحـافظ صـاحب دوه ملګـري مـلا عبدالباري او حافظ عبدالغني چې دده داکازامن هم وو، د بولدک ولسـوالی د پـاييزو کاريز په سيمه کـې لـه امريکايـانو سره مخـامخ شـول چـې مـلا عبـدالباري شـهيد او عبدالغني ژوندی امريکايانو ونيو.له همدې نيول شوي بندي څخه امريکايـانو دحـافظ صاحب دستلايت ټيلفون نمبر پيدا کړل او د ستلايت له کشف کيدو سره يي دحـافظ صاحب د مخفي مرکز موقعيت هم کشـف کـړ او پـه همـدې ورځ امريکايـانو اوددوی ملګرو لويه قوه د هډې غره په خوا ور وايسته چې له دې سره دهډې جنګ پـه نامـه د شاهيکوټ له جګړې وروسته له امريکايانو سره دوهم لوی جنګ همدلته ترسره شو.

په دې جنګ کې که څه هـم امريکايـانو د دالوتکـو او څرخکـو پـه شـمول درانـه جنګي وسائل وکـارول او ډيـر زور يـي اسـتعمال کـړ خـو بيـا هـم درانـه تلفـات ورتـه ورسيدل،يوه چورلکه يي د مجاهدينو لخوا وويشتل شوه دغه راز يي عسکر هم ډير لـه منځه لاړل. د جنګ په اوږدو کې د حافظ صاحب په مشری مجاهدين د شپې له تيارې نه په استفاده له سـيمې ووتـل،خو امريکايـانوتر څـو ورځـو پـه دې غرنـی سـيمه کـې عملياتو ته دوام ورکړ. په دې جګړه کې يوځل امريکايانو پـه خپلـو عسـکرو هـم بمبـار وکړ. دجګړې په ترڅ کې د مجاهدينو له جملې يوازې يو تن ټپي شو اونـور هـيڅ زيـان

ورته ونه رسید خو دهغه مهال دبولدک ولسوال او دامریکایانو ملګري فضل الدین په دروغو دعوه وکړه چې دهډې غره په جنګ کې یې ۲۵ مجاهدین له منځه وړي په داسې حال کې چې هلته د ټولو موجودو مجاهدینو شمیر ۱۸ تنه و.

د هډې غرله جنګ وروسته حافظ عبدالرحیم صاحب یوځل بیا خپل ملګري سره راټول او دکندهار د بولدک ولسوالۍ په مربوطاتو کې یې په جهادي عملیاتو پیل وکړ د ۱۴۲۴ هـ ق کال دمحرم دمیاشتې په ۲۹ نیټه حافظ صاحب او ملګرو یې د بولدک د ملاولي نیکه په سیمه کې په داخلي ګوډاګیانو برید وکړ او تلفات یې ورته ورسول. له دې جنګ وروسته مجاهدین د تورغره په خوا لاړل چې هلته ددښمن لویه قوه پسې ورغله چې د خارجي او داخلي عسکرو د ټانګونو شمیر ۷۰ ته رسیده.

د حافظ صاحب په مشرۍ مجاهدینو دلته هم ددښمن له خواړخیز یرغل سره مقابله پیل کړه جنګ چې سهار پیل شوی و، تر مازدیګره یې دوام وکړ او ددښمن عسکرو ته په کې د پام وړ تلفات ورسیدل. د ورځې په وروستۍ برخه کې چې کله حافظ صاحب غوښتل د یوه نړدې لګیدلي عسکر څخه وسله راواخلي نو ددشمن دمرمۍ هدف وګرځېد او په سینه کې ولګېد.

ملا شیخ محمد صاحب د حافظ صاحب له قوله دغه صحنه داسې بیانوي :کله چې ولګېدم نو په ځمکه وغورځیدم او د ولاړیدو وس مې نه درلود، دغه مهال چې ددشمن لخوا د نیول کیدو له خطر سره مخامخ وم، الله تعالی ته مې دعاء وکړه چې اې الله تعالی ددښمن په لاس مې مه ورکوې،که همدلته پاته او شهیدشم نو دغه وړه ډله به مایوسه شي او داسې څوک به نه وي چې پرې راټول شي نو الله تعالی د جهاد په خاطر نجات رانصیب کړي.

په دې سره مې الله تعالی په بدن کې نوی قوت پیدا کړ له ځایه راولاړ شم او بیرته مې خپلو مجاهدینو ته ځان راورساوو، دلته چې له سخت درد څخه ځوریدم یوه مجاهد ته مې وویل چې ته مې دم کړه او دعاء راته وکړه هغه دم کړم او الله تعالی مې درد رفع کړ،څرنګه چې زما زخم ډیر ژور و او وینه مې ضایع کیدله بیا مجاهدینو په





همدې غره کې دانځر ونې راماتې کړې د هغو له ښاخو څخه یې کټ یا تسکره راته جوړه کړه او ددوړو او غبار څخه په استفاده یې د جنګ له سیمې راوایستم .

## د جهاد د پراختیا وروستۍ هڅې اوشهادت

د حافظ صاحب چې کله زخمونه معالجه او جوړ شول نو داسلامي امارت له نورو مشرانو سره د لیدنو کتنو او مشورو وروسته یې پلان جوړ کړ چې له خپلې سیمې پرته نورو سیمو ته هم جهادي خوځښت وغځوي. د همدې لپاره یې غوښتل معروف ولسوالۍ ته تشکیل وکړي خو د ۱۴۲۴ هـ ق کال د جمادی الاول په میاشت کې یې چې کله غوښتل د زابل د شملزو او اټغر ولسوالیو له اړخه معروف ته لاړ شي په لاره کې له دښمن سره مخامخ او په ډیر تکلیف ددښمن له اذیت څخه خلاص شو.

دهمدې کال د شعبان په میاشت کې د حافظ صاحب اراده وه چې د زابل ولایت دای چوپان ولسوالۍ ته لاړ شي خو په نیمه لاره یې تصمیم بدل شو او د کندهار ولایت د معروف په ولسوالۍ د برید اراده یې وکړه.د ۱۴۲۴ هـ ق کال د شعبان د میاشتې په ۱۶ نیټه یې د معروف ولسوالۍ په مرکز حمله وکړه،د ولسوالۍ حفاظتي پوستې یې له دښمن څخه ونیولې خو د ولسوالۍ مرکز ته نږدې ددښمن په مرمۍ په سینه باندې ولګېد او یوه شیبه وروسته د شهادت لوړ مقام ته ورسېد. انا لله وانا الیه راجعون

د حافظ صاحب جسد دجګړې په سیمه کې پاته شو،چې ورسره د ۳ تنو نورو شهیدو مجاهدینو جسدونه هم وو د پیښې په سبا د محلي خلکو لخوا د حافظ صاحب او نورو شهیدانو اجساد په همدې سیمه کې خاورو ته وسپارل شول. خو کله چې امریکایان او د هغوی ګوډاګیان ورباندې خبر شول، دوه ورځې بعد یې د حافظ صاحب جسد بیرته له خاورو راوایست ، کندهار ښار ته یې راوړ چې بیا یې یوه ورځ وروسته د حافظ صاحب ورثه وو ته وسپاره او د کندهار ولایت د بولدک ولسوالۍ د پاییزو سیمې د ماشینګزو په هدیره کې خاورو ته وسپارل شو .

په دې ډول د اسلامي امت د هغه اتل داستان پای تـه ورسـېد، چـې د امریکـایي طاغوت د غرور په اوج کې یي د کفر په لښکرو خوب حـرام کـړی و، د کفـر یـواړخیز یرغل یي په ډاګه مسخره کړی او ددوی په وړاندې یي یوازې په ایماني قوت د مقـابلې بیلګه وړاندې کړې وه .

حافظ صاحب شهید شو، خو لاره یې لا هم جریان لري، د شهید حافظ صاحب دوینـو څاڅکې د حالاتو په تورتم کې شپه اخیستو پرګنو ته دهدایت مشالونه شـول، چـې وروسـته په همدې پلونو نور زلمـي روان شـول تـردې چـې د امریکـایي طـاغوت پـه خـلاف جهـاد د سرتاسري قیام شکل خپل کړ او امریکایي یرغلګر یي له هیواده تښتیدو ته اړ کړل .

د حافظ صاحب د شخصیت په اړه د نوموړي ملګري وایي چې متواضع او متوکـل سړی و،په شرعي امورو کې جدي و خو له ملګرو سره یي د ظرافت او عـاطفې نـه ډکـه ملګرتیا درلوده،د شهادت داسې ارمانجن و چې نه یوازې یي په خپله همیشه د شهادت دعاګانې کولې بلکې نورو مجاهدینو ته یي هم خواست کاوو چې د شهادت دعاء ورتـه وکړي .

د جهاد په لاره کې دومره ایثارګر او قربانۍ ته چمتـو و چـې د جهـادي امکانـاتو داخستلو لپاره یي حتی دکور سامان الات او کتابونه پلورل ترڅو یي پـه پیسـو جهـادي ضروریات رفع کړي یوملګری یي وایي چې دامریکایي یرغل په لومړنیو سختو شیبو کې یي له ماغوښتنه وکړه چې د ځمکې لپاره یو خریدار راته پیـدا کـړه چـې پـه پیسـو یـي دجهاد کار وچلوو.

الله تعالی دې د حافظ صاحب دغه قربانۍ، مشقات او خدمتونه قبول کړي او په اولادونو او ملګرو دې یي دده برکات پیرزو کړي . آمین یارب العلمین

* * *





## د شهید سید عبدالمالک آغا ژوند ته کتنه

لیکنه: قاري سعید

سید عبدالمالک اغا د افغانستان په مرکزي ولایـت وردګـو کـې یـو لـه مخکښـو مجاهدینو څخه شمیرل کیږي،نومـوړی پـه دې سـیمه کـې چـې وروسـته د امریکـایي یرغلګرو لپاره په یوه خطرناکه او مورال ځپونکي سـیمه بدلـه شـوه د مسـلح جهـاد لـه لومړنیو مؤسسینو څخه دی، چې د خپلو وینو په قیمت یـي د جهـاد او مبـارزې ډیـوه روښانه کړه، ترڅو چې ملګرو او رهروانو یي همدا لار تعقیب او د افغانستان پلازمینـې ته ځیرمه دغه مهمه سیمه یي د یرغل په وړاندې د جهاد په یوه نـه ماتیـدونکي سـنګر واړوله .

راځئ دلته د وردګو ولایت د دې مخکښ غازي او شهید په ژونـد رښا واچـاوو او خاطرې یي راتاندې کړو .

**سید عبدالمالک آغا**

سید عبدالمالک اغا د میرسید اغا زوی په ۱۳۴۹ هـ ش کال کې د وردګ ولایـت د سیداباد د بهادرخیلو په سیمه کې دنیا ته راغی،نومـوړی د سیدانو له قوم څخـه دی چې په افغانستان کې په اغاصاحب،پاچاصاحب یا میرصاحب هم یادیږي.

عبدالمالک آغا لومړني درسونه پـه خپـل کـلي کـې ووېـل، لا ماشـوم و چـې پـه افغانستان کې کمونیستي کودتا وشوه او د درست افغانستان غوندې په وردګو ولایـت کې هم د کمونیستي رژیم په وړاندې ولسي قیام او جهاد پیل شـو. عبـدالمالک اغـا لا تاند ځوان و چې په خپله سیمه کې یـي پـه جهـادي چـارو پیـل وکـړ، پـه خپلـه سـیمه سیداباد کې له څه وخت جهادي خدمت وروسته د پکتیکااو وزیرستان ترمنځ په پرتـه

سيمه لواړه کې د حقاني صاحب جهادي مرکز ته لاړ،هلته يې په جهادي نظامي زده کړو پيل وکړ دغه راز يي دينې زده کړې هم تعقيبولې .

د سيدعبدالمالک اغا د هماغه وخت ملګری مولوي فضل ربي وايي چې هغه مهال زه د ميرانشاه په انوارالعلوم مدرسه کې وم، عبدالمالک اغا چې هغه مهال نوی ځوان و جهاد او ديني زده کړې دواړه يي کولې او ډير وخت به په خوست کې په جهادي جبهاتو کې و،نوموړي دخوست ولايت په ډيرو جګړو کې شرکت کړی دی او کله چې خوست ولايت د نوميالي مجاهد مولوي جلال الدين حقاني صاحب تر مشری لاندې فتحه شو عبدالمالک اغا هم د يوه مجاهد په حيث په دغه ستره فتحه کې ګډونوال و.

عبدالمالک اغا د نجيب د رژيم تر سقوط او د کابل د فتحې تر مهاله په جهاد کې شريک و. کله چې په کابل کې د کمونيستانو رژيم له منځه لاړ، نوموړي وسله له غاړې کوزه کړه او په ميرانشاه کې يې په انوارالعلوم مدرسه کې ديني زده کړې پيل کړې.

دغه مدرسه چې مشري يې د مشهور صوفي او دقلعه جواد د شهيدو حضراتو دسجاده نشين خليفه صاحب فضل الدين V چې د ارغندی په خليفه صاحب يي شهرت درلود په غاړه وه، هغه مهال په دې سيمه کې د علم او تزکيې يو د پاموړ مرکز بلل کيده. سيدعبدالمالک اغا چې په نسب سيد و او الله تعالی ورته کم ساري تقوا، ديانت او ښايسته اخلاق ورکړي و د خليفه فضل الدين صاحب سره يي نږدې علاقه درلوده او له نوموړي سره يي د تصوف د نقشبنديه مجدديه طريقې بيعت هم کړی و.

سيد عبدالمالک اغا د ميرانشاه په انوارالعلوم مدرسه کې له څه وخت درس ويلو وروسته د مولوي جلال الدين حقاني صاحب په مشهوره مدرسه منبع العلوم کې داخله واخيسته او تردوو کلونو يي په دې مدرسه کې ديني زده کړې وکړې.





## د طالبانو په اسلامي تحريک کې خدمتونه

دغه مهال چې په افغانستان کې تنظيمي جنګونه و، د هجرت د ديار په افغاني مدارسو کې د طالبانو د جمعيت طلبه په نوم سيمه ايزې اتحاديې جوړې شوې،سيدعبدالمالک اغا د وردګو ولايت د طالبانو په اتحاديه کې د يو مخکښ غړي په حيث فعال و،کله چې د طالبانو اسلامي تحريک ظهور وکړ،نوموړی د طالبانو تحريک له استازو سره له سلامشورو وروسته له ۷ تنو نورو ملګرو سره خپلې سيمې وردګو ته لاړ ترڅو دطالبانو داسلامي تحريک د راتګ لپاره زمينه سازي وکړي او دخلکو او مخورو شخصيتونو افکار تنوير کړي .

سيدعبدالمالک اغا او ملګرو يي په ميدان وردګو ولايت کې د سيمي علماء، مجاهدين او مخور اشخاص وليدل او دطالبانو دتحريک په اړه يي معلومات ورسره شريک کړل،دغه مهال چې د طالبانو اسلامي تحريک په کندهار کې و عبدالمالک اغا او ملګرو يي د سيداباد د هفت آسيا په سيمه کې مفتاح العلوم مدرسه د خپل مخفي مرکز په حيث انتخاب کړی و او دلته يي د طالبانو داسلامي تحريک لپاره ملاتړي پيدا کول. څه وخت وروسته دوی د خپلو ملګروله جملې مولوي فضل ربي او هاشمي صاحب کندهار ته واستول او هلته يي داسلامي تحريک له مشر ملامحمد عمر مجاهد، مولوي احسان الله احسان او نورو مشرانو سره وليدل،هغوی ورته وويل چې د سيمې له علماء کرامو، مجاهدينو او حتی د غزني او وردګو ترمنځ د حزب اسلامي د جنګي کرښې له جنګياليو سره ووينې او دطالبانو د سوله ايزې داعيې په اړه پيغام ورته ورسوي،چې طالبان يوازې د جګړې پای ته رسيدل اوسوله غواړي.

سيدعبدالمالک اغا او ملګري يي په همدې فعاليت بوخت و، چې طالبان غزني ته راورسيدل،د غزني له نيولو وروسته يي د سيداباد د سالارو سيمه پرته له جنګ څخه ونيوله،دلته د طالبانو نظامي مشر ملامشر اخند د محلي طالبانو په مرسته د سيداباد ولسوال ډاکټر مسلم دې ته تيار کړ چې له جګړې لاس واخلي،خو يوشمير

نورو ټوپکوالو د سیداباد په ولسوالۍ کې له طالبانو سره جګړه وکړه چې وروسته وتښتیدل.

د میدان ښار او لوګر له نیول کیدو وروسته سیدعبدالمالک اغا او ملګري یې غزني ته لاړل، په غزني کې د مولوي احسان الله احسان صاحب سره په ګډ کاروان کې په سوله ایزه توګه دپکتیکا مرکز ښرنې ته لاړل په پکتیکا کې له څه وخت خدمت وروسته نوموړی په چهاراسیاب کې جنګي کرښې ته وغوښتل شو، دغه مهال سیدعبدالمالک اغا چې پخه نظامي تجربه او سابقه یې درلوده د خپلو ملګرو مشرۍ وټاکل شو. په چهاراسیاب کې له څه مودې جهادي خدمت وروسته د میدان ښار خط ته لاړ او هلته د خط د مسؤل ملامشرآخند لخوا ورته د وردګو ولایت د طالبانو د محاذ مسؤلیت وسپارل شو.

د میدان ښار په خط کې عبدالمالک اغا او ملګرو یې ډیره موده د کوه قرغ په نامه ستراتیژیکه نقطه کې جهادي خدمت سرته ورساوو، کوه قرغ یوه لوړه غرنۍ نقطه ده چې هغه مهال د جنګي خط تر ټولو مهمه، خطرناکه او ستراتیژیکه نقطه بلل کیدله،دلته به طالبانو تر واورو لاندې په خیمه کې ګذاره کوله او حتی د څښاک لپاره یې د واورې له اوبو استفاده کوله،دغه سیمه چې طالبانو په نوبتي شکل په کې دنده اجراء کوله ،په حقیقت کې یې د میدان ښار په خواد مسعود د قواوو د پیش قدمي مخه ډب کړي وه، مسعود په دې سیمه څو ځله سختې حملې وکړې او حتی یوځل یې وهم نیوله، خو طالبان بیرته وتوانیدل چې په درنو قربانیو یې ونیسي۔ او ترپایه یې وساتي .

## د کابل له فتحې وروسته

د کابل له فتحې وروسته سیدعبدالمالک آغا په پیل کې د کابل ښار د خیرخانې د ۱۱ حوزې آمر وټاکل شو.څرنګه چې نوموړی به ډیر وخت د شمالي په جنګي کرښه کې و کارونه به یې د مرستیال لخوا اجراء کیدل،وروسته نوموړی او ملګري یې د قرغې داتم نمبر فرقې په تشکیل کې د شمالي په جنګي کرښه کې په خدمت وګمارل





شول. دغه مهال ددوی قرارګاه په قرغه کې وه خو جهادي خدمت یې دکابل د شمال په خطوطو کې کاوو،نوموړي په دې موده کې د شمالي په بیلابیلو سیمو لکه شکردره، ګلدره،پل صوفیان،کلکان، قلعه نصرو،قره باغ او نورو سیمو کې خدمت ترسره کړی دی. کله چې په۱۹۹۷ م کال کې د اسلامي امارت د مجاهدینو یو ستر لښکر د سالنګ تونل له لارې دافغانستان شمال ته واوښت عبدالمالک اغا او ملګري یې هم ددې بهیر برخوال و په کندز کې له څه مهال خدمت وروسته کابل ته راغی او د شمالي په خط کې یې خدمت ته ادامه ورکړه وروسته نوموړی بیا شمال ته لاړ او د تخار په اشکمش کې د منتظره قطعې مسؤل تعین شو چې وروسته همدا قطعه د فرخار تنګي ته انتقال شوه.

سید عبدالمالک اغا د اسلامي امارت د واکمنۍ په مهال په ډیرو فتوحاتو کې برخوال و له دې جملې د بامیان ولایت په لومړي ځل فتحه کې چې د جلریز او جلګې لخوا ورباندې عملیات وشول نوموړی د جلریز لخوا په عملیاتو کې شریک و،د بامیانو له نیولو وروسته چې څو ځله په غوربند او شیخ علي سیمو کې عملیات وشول هم نوموړي په کې شرکت درلود.

د امریکایانو د یرغل په مهال نوموړی د شمالي په دفاعي کرښو کې و،چې د امریکایانو په بمبار کې ټپي او خپلې سیمې ته ولیږدید.

## د امریکا په خلاف جهاد

ملا محمدفرید قیام او مولوي عبدالصمد وزیر چې د سیدعبدالمالک اغا له نږدې ملګرو څخه دي وایي: له امریکایي یرغل او د کابل له سقوط وروسته چې اغاصاحب خپلې سیمې سیداباد ته راغی نو لومړنی هڅه یې داوه چې مجاهدین وساتي او دې سیمې ته د شورای نظار د ټوپکیانو د راتګ مخه ونیسي، د همدې لپاره یې په سیمه ایزه کچه ډیرې هلې ځلې وکړې چې ډیرې ګټورې واقع شوې،دغه راز نوموړي د امریکا خلاف د جهاد تداوم په اړه هم هڅې پیل کړې په دې لړ کې یې څو ځله پکتیا ولایت ته سفر وکړ او له ملا سیف الرحمن منصور سره یې ولیدل چې هغه مهال په

شاهيکوټ دره کې دامريکا خلاف د مقاومت په ترتيباتو بوخت و،څرنګه چې امريکايانو سيد عبدالمالک اغا په ميدان وردګو کې د مجاهدينو د مطرح مشر ـ په حيث پيژاند او د نيولو په هڅه کې يي و نوځکه نوموړی مجبور شو چې له خپلې سيمې هجرت وکړي،خو د جهادي چارو له انسجام څخه يي لاس وانخيست .

سيد عبدالمالک اغا يوځل بيا د اسلامي امارت له مشرتابه غړو سره په رابطه کې شو او دهغوی لخوا په وردګو ولايت کې د جهادي چارو د پرمخ بيولو کار ورته وسپارل شو. نوموړی يوځل بياپه مخفي ډول خپلې سيمې تـه لاړ، خپل پخـواني ملګـري يـي راغونډ کړل او د جهادي عملياتو د پيل په اړه يي ورسره سلامشوري پيل کړې،نومـوړی په وردګو ولايت کې د جهادي عملياتو د انسجام به چارو بوخت و چې امريکايـانو يـي ستلايټ ټيلفون کشف کـړ، پـه کـور بانـدې يـي سلګونه امريکـايي عسـکر او داخـلي ګوډاګيان ورغلل او د نوموړي د نيولو هڅه يي وکړه.

خو سيد عبدالمالک اغا او مشر ورور يي اسمعيل اغـا لـه امريکايـانو سره جنـګ وکړ، چې په پايله کې يي امريکايانو ته له تلفات اړولو وروسته دواړه وروڼو د اشغالګرو سره په مخامخ جنګ کې د ۱۳۸۲ هـ ش کال د حوت مياشتې په ٦ مه نيټه په شـهادت ورسيدل . اناالله وانا اليه راجعون

امريکايانو ددوی جسدونه له ځان سره بګرام ته يووړل او هلته يې په يوه جر کې وغورځول ، کله چې د سيمې خلکـو ډيـرې غوښـتنې وکـړې ۴۲ ورځـې وروسـته ددوی جسدونه خپلې کورنۍ ته وسپارل شول،خو دغه مهال د دغو شهيدانو يو کرامت خلکـو ته څرګند شو هغه داچې له ۴۲ ورځو وروسته يي هم جسدونه سالم و او کوم تغيـر پـه کې نه و راغلی .

له سيدعبدالمالک آغا څه يوازې يو زوی پاته دی، داچې اغاصاحب د شـاهيکوت د معرکې لـه اتـل ملاسـيف الـرحمن منصـور سره لـه ډيـره وختـه ملګرتيـا درلـوده او داسلامي امارت د واکمنۍ په مهال يي هم ټولـه مـوده همسـنګر و او دواړو د جهـاداو





تصوف غوندې ګڼ مشـترکات درلودل،عبـدالمالک اغاصـاحب پـه خپـل يـوازيني زوی سيف الرحمن نوم ايښی و.

## د شهيد عبدالمالک آغا څو خاطرې

د وردګو ولايت د سيداباد ولسوالۍ د مجاهدينو په قول سيد عبدالمالک آغا پـه دې سيمه کـې د جهـاد او مبـارزې د لارې د يوبنسټګر او قـدوې حيثيـت لـري چـې دامريکايانو په خلاف يي په لومړي ځل جهادي تحرکات پيل کړل.

همدا اوس چې په دې ولسوالۍ کې کوم مخکښ مجاهدين او ډلګۍ مشران دي لکـه ملامحمـد فريـد قيـام، مـلا عبـدالله ، مولـوي حبيـب الـرحمن او نـور ټـول دسيدعبدالمالک آغا د لاس تربيه شوي او دنوموړي په سـيوري کـې پـه جهـادي فکـر رالوی شوي کسان دي،په سيداباد کې د سيدعبدالمالک آغـا لخـوا د جهـادي مبـارزې بنياد کيښودل شو،چې له امله يـي نومـوړی دامريکايـانو لخـوا ډيـر زر پـه نښـه او پـه شهادت ورسول شو، خو وروسته د نوموړي نړدې ملګـري او مرسـتيال شـهيد مولـوی عبـدالباقي صـاحب دنومـوړي لار تعقيـب کـړه تـردې چـې دغـه ولسـوالي وروسـته دامريکايانو په قتل ګاه او دامريکايي کتارونو په هديره بدله شـوه چـې تراوسـه تريـنه اشغالګر په ارامه عبور نشي کولای .

ملا محمد فريدقيام چې اوس د نوموړي د ډلګۍ مسؤليت لري او ډيره موده لـه شهيد اغاصاحب سره په ملګرتيا کې پاته شوی دی د نوموړي دشخصيت پـه اړه وايـي: شهيد اغاصـاحب بيسـاری تقوادار،حيانـاک، مينـه نـاک او مخلـص شـخص و. دومـره حياناک و چې ما په څو کلنه ملګرتيا کې ترې بدالفاظ، ښکنځلې يا پوچې خبرې نه دي اوريدلي،هيڅا ته يي بدالفاظ په خوله نه راوړل، حتی مخالفينو او هغه دښمنان چې په جګړه ورسره بوخت و په بدو الفاظو يي نـه يـادول او نـه يـي ورتـه ښـکنځل کـول، اغـا صاحب هر سهار د سورة يس او مابنام د سورة الملک وظيفه کولـه او دايـي پـه سـختو شرايطو کې هم نه قضاء کوله .

مولوي عبدالصمد وزير داغاصاحب د مرستيال شهيد مولوي عبدالباقي له قوله وايي: يو وخت چې په کندز کې د بالاحصار سره نږدې د برج برق په سيمه کې اوسيدلو يوه شپه چې ملګري ويده شول خو زه ويښ وم ، اغاصاحب له ځايه راپورته شو، غوږ يي ونيو او يوه خوا بله خوا يي وکتل کله چې پوه شو چې ټول ملګري ويده دي، نو له ځايه ولاړ او بهر ووت.

مولوي عبدالباقي وايي له ځنډ تيرولو وروسته مې ورته سودا شوه چې اغاصاحب چيرته لاړ، نو زه هم پسې ورووتم، بهر مې ټول ځايونه پسې وکتل خو پيدا مې نکړ، انديښنه مې لا ډيره شوه، او نيت مې و چې ملګري راويښ کړم ترڅو د اغاصاحب درک ولګوو، وروسته مې هسې يوې اضافه کوټې ته چې لرګي په کې پراته و وروکتل، ګورم چې اغاصاحب همدلته د لرګيو په کوټه کې د تهجد په لمانځه ولاړ دی،ما چې بتې ورته ړنا کړه ، نو ومې ليد چې پټکی يې په غاړه کې ول ول پروت دی، او له سترګو يې اوښکې بهيږي او په عبادت کې غرق دی .

مولوي وزير زياتوي: د اغاصاحب بل صفت د ملګرو خدمت او خاکساري وه. سره له دې چې نوموړی له پيله تر پايه زمونږ مشر و، خو د اطاق خدمت لکه ديګ پخول، مينځل او نور خدمت به يې په خپله کاوو او په دې کار کې هيڅوک ترې وړاندې کيدای نه شوای. نوموړي وايي په جهادي جريان کې به چې کله مونږ د شپې د پيره داري تقسيم اوقات جوړاوو او هر ملګري ته به مو يو ساعت پيره ليکله، اغا صاحب ته مو هميشه ۳ ساعته پيره ليکله ځکه نوموړي په ډيره خوښي دغه جهادي دنده سرته رسوله .

ملا محمد فريد قيام وايي: شهيد اغاصاحب سره له دې چې مشر و، خو هيڅکله يي متفاوت چلند او ګوزاره نه کوله، ځان يي تر هيچا لوړ نه باله نه يي کوم د برتری خواهشات لرل بلکې هميشه يي دملګرو سره برابره عادي ګوزاره کوله .

رحمه الله تعالی





## د شهيد ملا روزي خان عاکف ژوند او کارنامو ته کتنه

ليکنه : ملا احمدالله وثيق

### زوکړه او زده کړې يې :

شهيد ملا روزي خان عاکف په کال ( ۱۳۵۴ هـ ش) کې د زابل ولايت دنوبهار ولسوالۍ دمشيزو په کلي کې دحاجي صالح محمد په ديندارہ او جهادی کورنۍ کې دې فاني نړۍ ته سترګي پرانيستې، لومړنۍ زده کړې يې په خپله سيمه کې دکلي پر ملا امام پيل کړې وروسته د زابل دشاه جوی ولسوالي دموسی زو او ګاګرۍ په سيمو کې په زده کړو بوخت شو، دنورو زده کړو لپاره يې د پاکستان دبلوچستان ايالت دکوټې ښار ته سفر وکړ هلته يې په مختلفو ديني مدرسو کې له جيدو علماء کرامو څخه زده کړې ترلاسه کړې.

په ۱۹۹۴ ميلادي کال کې چې دشراو فساد په ضد دطالبانو اسلامي تحريک پيل شو،ملا روزي خان چې لا له وړکتوبه يې له جهاد سره مينه درلوده، له طالبانو سره ملګری شو له همدې امله يې زده کړې نيمګړې پاته شوې، نوموړی دشهادت تر وخته په جهادي فعاليتونو کې مصروف پاته شو او تر اخره يې فرصت ونه موند چې خپلې ناتمامې زده کړې تمامې کړي.

### دطالبانو په اسلامي تحريک کې شموليت او مبارزه يې :

په ۱۹۹۴ ميلادي کال کې هغه مهال چې په افغانستان کې د ټولنيز هرج و مرج او فساد د ورکولو په موخه دطالبانو اسلامي تحريک قيام وکړ، شهيدملا رزوي خان عاکف دغه مهال تازه ځوانۍ ته رسيدلی و، چې له جهاد او خدمت سره دزياتې مينې له امله دطالبانو له يوه ګروپ سره ملګری شو، لومړی دکندهار مرکز ته لاړ اوله هغه ځايه دطالبانو په تشکيل کې دشاوليکوټ ولسوالۍ ته ولاړ او هلته يې دملا

عبدالرحمن تر مشرۍ لاندې په وسلوال جهاد پیل وکړ،دکندهار ولایت دبشپړې فتحې وروسته نوموړي په مختلفو وختونو کې له مجاهدینو سره یوځای دگرشک،دلارام ،فراه رود او همداسې د فراه ولایت د آب خورما سیمې په سختو جګړو کې برخه واخیسته، نوموړی په یادو جګړو کې دخپل شهامت او ددښمن په وړاندې دمیړانې او دلاوۍ په ښودلو سره دمجاهدینو ترمنځ د یوه زړور او مدبر مجاهد په حیث مطرح شو او دهغه مهال دجنګ دلومړیو کرښود قومندانانو شهید ملا محمد اخند،شهید ملا رحمت الله اخند او نورو د اعتماد او توجه وړ وګرځېد.

دجنوب لویدځو ولایاتو په استقامت کې دجنګ په لومړیو کرښو کې له خدمت ترسره کولو بعد نوموړی له اوږدې مسافرۍ وروسته په زابل ولایت کې خپل کور ته راستون شو له خپلو قریبانو سره دلږ وخت تیرولو وروسته نوموړی دخپلې ولسوالۍ (نوبهار) له مجاهدینو سره یوځای په تشکیل کې دمیدان ښار پر لوردجنګ لومړیو لیکوته ولاړ .

هغه مهال چې طالبان دمیدان وردګ ولایت په مرکز میدان ښار کې دشر او فساد له ټوپکیانو سره په جګړه بوخت وو دجګړې په لومړۍ دفاعي کرښه کې ترټولو ستراتیژیکه نقطه او مهمه امنیتي پوسته د(کوه قرغ)سنګر و چې ساتل یې ډیرمشکل او خطرناک و،د کوه قرغ پوسته به همیشه ددښمن ترسختو ګذارونو او مخامخ تعرضونو لاندې وه،شهید ملا روزي خان دخپلو ملګرو په شمول ددې مهم سنګر په ساتلو کې ډیر دپام وړ رول درلود، دکوه قرغ پوسته په داسې یوه موقعیت کې قرار درلود چې کله به مجاهدینو دې پوستې ته اکمالات کول دښمن په ډیره اسانۍ سره په رسا توګه ویشتلای شوای، له همدې امله دورځې ډیر کم له دې لارې دموادو انتقال ترسره کیده،خو ملا روزي خان به په جرأت او میړانه په رڼا ورځ یادې پوستې ته دبایپور(ډاټسن) موټر په مټ اکمالات کول. نوموړي دمیدان ښار په کوه قرغ،جلریز او ارغندۍسیموپه سختو جګړو کې برخه واخیسته،او کله چې په ۱۳۷۵هـ ش کال په مني کې دکابل دنیولو لپاره له دوو استقامتونو(جلال اباد او میدان ښار) څخه عملیات





پیل شول شهید ملا روزي خان عاکف دهغو مجاهدینو په تشکیل کې و چې دارغندۍ له لارې دکابل ښار ته ننوتل.

دکابل له سترې فتحې وروسته مجاهدین دپروان ولایت په لور وخوځیدل،شهید عاکف چې څو میاشتې مسلسل یې د جهاد په لومړنیو کرښو کې تېرې وې، دځه وخت استراحت کولو لپاره خپل کور ته دتلو اراده وکړه ،دشهید عاکف نژدې ملګرۍ ملا عبدالاحد جهانګیر وال وایي ،شهید عاکف له کابله لومړۍ کندهار ته راغی،په دې وخت کې په پروان کې دمخالفینو له لوري شدید تعرضونه پیل شول طالبانو له پروان نه عقب نشیني وکړه او دکابل ښار حدودو ته جګړه راورسیده. شهید عاکف چې کله په کندهار کې له دې وضعیت څخه خبر شو د مسؤلیت داحساس له مخې یې کور ته تګ پریښود،په کندهار کې له یوې شپې تیرولو وروسته یې بیرته دکابل په لور حرکت وکړ او دجنګ لومړۍ کرښې ته ولاړ.

دکابل له فتحې څه موده وروسته نوموړي دقرغې داتمې فرقې په تشکیلاتو کې چې قومنداني یې د ملا امیرخان حقاني په غاړه وه جهادي خدمت پیل کړ چې ډیر وخت به په شمالي کې دبګرام په استقامت دجنګ دلومړۍ کرښې دمهمو نقطو دساتلو او نیولو په عملیاتو کې بوخت و.

په ۱۹۹۷ میلادي کال چې کله د طالبانو یو ستر لښکر د سالنګ په تونل د شمال خواته ووت، بغلان او کندز یې ونیول، ملاروزي خان عاکف په همدې عملیاتو کې هم برخوال و، وروسته چې کله همدغه مجاهدین په پلخمري اوکندز کې محاصره شول نوموړي په ډیر متانت له خپلو نورو ملګرو سره یوځای ددښمن په وړاندې مقاومت وکړ، په دې وخت کې ۱۷ ځله یو په بل پسې ددښمن له لوري قوي تعرضونه وشول چې د ټولو په دفاع کې ملا روزي خان له نورو مجاهدینو سره یوځای برخه درلوده او مهم رول یې لوباوه. د نوموړي یو نږدې ملګرۍ ملا سلیمان اغا بهیر کیسه کوي، دپلخمري د رباتک په سیمه کې دښمن قوي تعرض وکړ، یوشمیر مجاهدین ددښمن په منځ کې محاصره پاته شول،ملا روزي خان چې دا حالت ولید،د مرمیو په باران کې یې خپل

خو په هماغو امتحاني شيبو کې د هيواد په ګوټ ګوټ کې يو شمير باعزمه زلميو د حوادثو له سيلاب سره مقابله وکړه، عزم يي متزلزل نه شو او د خپل جهادي مسير دتعقيب او بيا سمبالتيا لپاره لاس په کار شول، په دې زلميو کې په زابل ولايت کې ملا روزي خان عاکف هم و، چې دامريکايي يرغل په وړاندې له مقدمو جهادي مخکښانو څخه شميرل کيږي.

ملا سليمان اغا بهير چې د اشغال په وړاندې د وسلوالې مبارزې په پيل کې له ملا روزي خان سره ملګری و وايي: دامريکايانو لخوا دافغانستان داشغال په لومړيو کې يوه ورځ حاجي ملا رزوي خان يو شمير مخور او بانفوذه کسان راغونډ کړل او له خپلې جهادي ارادې يې خبر کړل وروسته يې له مجلس نه وغوښتل چې په دې اړه ستاسو څه نظر دي،دمجلس له يوه سر نه نظرونه پيل شول او تر پايه ورسيدل اکثريت په دې نظر وو چې اوس دستي دوسلوال جهاد لپاره زمينه نه ده مساعده دمجلس د وروستي کس دنظر تر اوريدلو وروسته ملا روزي خان ماته مخ را واړاوه چې ستا څه نظر دی ، زه چې دمجلس دبرخوالو مايوس کن نظرونو زړه نازړه کړی وم چندان مثبت جواب می ورنکړ، ملاروزی خان کرار وخندل او راته يې وويل: پوښتنه کوم ، چې نور هيڅ څوک نه وي راسره او زه په يوازي تن راولاړشم زمور وطن ته دراغلو غاصبو کفارو په مقابل کې دا خپل سر قرباني کړم شهيد بلل کيږم ؟ زما مرګ خو به نه خرابيږي ؟ ما ورته وويل نه هيڅ کله نه. نوموړي سم دستي خپل ټوپک اوږې ته کړ له مجلس نه يې اجازه راواخيسته او ماته يې ويل راځه، په موټر سايکل سپاره شولو تر ښه ډيره مو هيڅ ږغ نه و وروسته نوموړي دراتلونکو پلانونو په اړه بحث پيل کړ.

ملا روزي خان عاکف ترټولو لومړی وسلوال بريد د۲۰۰۳ م کال په اوايلو کې دزابل ولايت دنوبهار ولسوالۍ په مرکز ترسره کړ، ولسوالي يي په بشپړه توګه فتح کړه ګڼ شمير وسايل يې په غنيمت ونيول. له دې کامياب بريد وروسته دښمن غوښتل چې دنوبهار ولسوالي بيرته ونيسي په سهار يې دزابل له مرکز کلات او کندهار ولايت نه ستره قوه دنوبهار ولسوالۍ په لور راغله، مجاهدينو دسپيره سنګ په سيمه کې ورته





بايفور موټر مخامخ ددښمن په عسکروورځغلاوه او ددښمن په منځ کې يې جګړه پيل کړه،محاصره ماته شوه دجګړې په ميدان ددښمن د۱۸ تنو جسدونه پاته شول او وسلې يې غنيمت شوې.

د شمال له فتحې وروسته نوموړي په بلخ کې د يوې ۸۰۰ کسيزې ضربتي قطعې د مشر په حيث دنده اجراء کوله چې د مخالفينو دغلچکي بريدونه مخنيوی يې کاوه،ملا اسدالله واسر وايي: مخالفينو د بلخ او سمنګانو له جنوبي غرنيو سيمو غلچکي بريدونه کول، خو مجاهدينو به په ډير سرعت سره دفع کول،د همدې ساحې په شولګره، دره صوف،آق کوپرک او نورو سيمو په په دفاعي جګړو کې د امريکايي يرغل او بمبارونو دپيل ترمهاله ملاروزي خان اخند د يوه فعال مسؤل په حيث برخه درلوده .

## د امريکايانو يرغل او په وړاندې يې مسلح جهاد

د ۲۰۰۱ ميلادي کال د روژې په مياشت کې د اسلامي امارت دمجاهدينوترعقب نشينۍ وروسته چې له اکثرو سيمو مجاهدين ووتل ملا روزي خان عاکف هغه مهال هم په خپله سيمه کې فعال پاته شو له خپلو مسلحو مجاهدينو سره يوځاي په جهادي فعاليتونو اودخپلو اسلحو او پوځي وسايطو په خوندي کولو او ساتلو بوخت و. هغه مهال مي شهيد ملا روزي خان عاکف وليددخپلو وسايلو په اړه يې راته داسي وويل: ((په دې وروستيو کې مي لوي ملاصاحب (اميرالمومنين ملا محمدعمرمجاهد)وليد هدايت يې راته وکړ چې وس دي کيږي يو ټوپک لا هم چاته ورنکړې نور ته پوه شه او کار دي)دملا صاحب دامر مطابق مې الحمدالله ټول پوځي وسايل اووسايط خوندي کړي او دوخت انتظار کوم)).راقم الحروف

۲۰۰۲م کال په افغانستان د امريکايي يرغل لومړنی کال و، دا کال د سختو مايوسيو،خپګانونو او مصائبو کال و، امريکايي يرغل په اوج او موج کې و،په ځمکې آن تر کليواو اطرافي سيمو پورې ديرغلګرو ازادانه ګزمې ګرځيدې او د اسمان مخ د امريکايي الوتکو ګشت و ګزار نيولی و، کفري ايتلاف خپل ټول پوځي زور نمايش ته وړاندې کړی و،او اولس د سختې مايوسۍ او حيرانتيا سره مخامخ و.

کمین ونیو،ټوله قوه یې بیرته په شاه کړه او دولسوالۍ مرکز ته ونه رسیدل.دا په زابل او ګاونډیو ولایتونو کې ترټول لومړی وسلوال بریـد او بریـا وه چې مجاهـدینو ترلاسه کړه.دوهم برید دسپیرسنګ په سیمه کې دګوډاګۍ اداري په عسکرو ترسره شو، څو ورځې وروسته دسرخکان دلودینو په سیمه کې د زابل دامنیـه قومنـدانۍ پـر عسـکرو وسلوال برید ترسره شو چې په نتیجه کې یې یو عسکروژل شو دعبدالخالق په نوم یـو قومندان ژوندی ونیول شو.دې بریدونو په خپل وخت کې دحـالاتو نامساعدتیا تـه پـه کتو خورا ډیر اهمیت درلود،ځکه په دې سره په سیمه کې دمجاهدینو موجودیت ثابت شواو ددښمن غرور یې ختم کړ هغه ډار او دهشت چې پـه سـیمه خپـور و دخلګـو لـه زړونو ووت.دې غیرمتوقعه پېښو ددښمن پښې ولړزولې، هغو سیمو ته چې بـه عسـکر په ډیر اطمنان تلل مخه یې ونیول شوه.

په ۲۰۰۳ میلادي کال کې دکابل کندهار په لویه لار دتـازي پـه سـیمه دګوډاګیـو عسکرو په قوي پوسته دشپې له مخې پراخ وسلوال برید ترسره شو، پـه دې حملـه کـې دشهید ملا روزي خان ترځنګ دزابل یوشمیر جهادي قومندانو (شـهید مـلا محمـدګل بشیر،شهید ملا نذیراخنـداو مـلا احمـدالله منصـور)هم برخـه درلـوده دبریـد عمـومي قومنده دشهید ملا روزي خان په غاړه وه .اسدالله واسر چې په دې حملـه کـې لـه مـلا روزي خان سره ملګری وو وایي، هغه شپه حاجي صاحب (ملاروزي خان) مجاهدین پـه دریو برخو تشکیل کړل یوه ډله مجاهدین په کمـین کـې وو دوهمـه ډلـه د وسـائطو او شاته دوتلو دلارې دحفاظت لپاره وګمارل شوه دریمه ډلـه پـر پوسـته بانـدي دتعـرض لپاره تعین شوه چې ددې وروستي ډلې مشري د ملا روزی خان په غاړه وه، لومړی څـو ملګري پوستې ته ډیر نژدې ورغلل او د بي ایم یک مرمۍ یې پوستي تـه نصـب او فیـر کړه مرمۍ په خپل هدف رسا ولګیده ، له دي سره سم مجاهدینو پر پوسته تعرض پیل کړ، کله چې مورچل پوستې ته ورسیدو ملا روزي خان عاکف تـر مـورچل مخکـې پوسـتې تـه رسیدلی و وروسته دکمین ملګري پوستې ته پر راروانو کومکي عسکرو هم بریـد وکـړ





په دې کامیابو عملیاتو کې ۱۴ عسکر ووژل شول،۷ تنه ژونـدي ونیـول شـول،دوه مـوټر تخریب شول یو مو غنیمت کړ.

دا عملیات دکابل کندهار په لویه لار دسړک پر سر ترسره شول نـو ځکـه یـې لـه جزیاتو عام خلګ هم خبر شول او دې پېښې هغه مهال ډیر مطبوعاتي انعکاس درلود.

د ۲۰۰۳ میلادي کال په وروستیو کې د زابل د شـاه جـوی ولسـوالۍ پـه مرکـز او امنیه قومندانۍ پراخ وسلوال او پروګرامي حمله ترسره شوه ،دشاه جـوی ولسـوالۍ پـه ولایت کې ترټولو مهمه او ستراتیژیکه ولسوالۍ ده چې دکابل کندهار په لویه لار پرتـه ده، دښمن یې همیشه د ساتلو ډیر زیات کوشش کوي .په ولسوالي له دوو لوریـو بریـد ترسره شو،دحسن کاریز له خوا قومنده دملا روزي خان په غاړه وه او دارغنـداب سرک له لوري قومنده دمولوي محمدعالم مسولیت و.په دې حمله کې ددښـمن ګـڼ شـمیر عسکر ووژل شول دمحمدجمعه په نوم یو قومندان ژوندی ونیول شو.

په ۲۰۰۴ میلادی کال کې دکابل کندهار په لویه لار کلات ته څیرمه دکابل اداري د زابل د والي خیال محمد حسیني په موټریز کاروان مخـامخ بریـد تـرسره شـوچې لـه امله یې ګڼ شمیر امنیتي پولیس مړه او ژوبل شول او یو شمیر یې ژوندي ونیـول شـول خپله والي له بریده روغ ووت. له دي برید وروسـته دښـمن سـخت تعقیـب پیـل کـړ امریکایي ځواکونو دملا روزي خان او ملګرو دنیولو لپاره سختي چاپې پیل کړي .

شهید ملا روزي خـان د ۲۰۰۲ نـه بیـا تـر ۲۰۰۴ م کـال پـوري دجهـاد پـه هماغـو لومړنیو امتحاني شیبوکې د خپلو حیرانوونکو کارنامو او کامیابو جګړو لـه املـه دیـوه پیاوړي، منلي او بانفوذه طالب قومندان په حیث شهرت وموند. د زابل ولایت په ګڼـو ولسوالیو او دورځیرمه ولایتونو غزني او کندهار پـه یـو شـمیر ولسـوالیو کـې یـې ډیـر زیات نفوذ پیدا کړ. نوموړي وخت ناوخت په زابل سربیـره دغـزني پـه نـاوه، مقـر، او جنډه ولسوالیو کې هم عملیات ترسره کول .

ديادو کلونو په موده کې دجهاد ساحې پراخې شوې او دجنوب په زياترو ولايتونو کې داشغال په ضد جهاد او مقاومت گرم شو. د زابل ،کندهار،ارزگان او غزني مجاهدينو په همغږۍ او له يو بل سره په همکارۍ خپل جهادي فعاليتونه مخ ته وړل،ددې جهادي فضاء په رامنځته کيدو او سيمو په ازادۍ کې د ملاروزي خان اخند اساسي نقش و چې په لومړنيو سختو حالاتو کې يې جهادي مقاومت جاري وساته او دجهاد ولوله يې سړېدا ته پرېنښوده .

## دشهادت واقعه يې

شهيد ملا روزي خان په زابل او ورځيرمه جنوبي ولاياتو کې داشغال په وړاندې دوسلوال جهاد له مخکښانو بلل کيده، دنوموړي په نوښت او جهادي فعاليتونو په يادو سيمو کې دجهاد ساحې پراخې شوې.له هغه پيله لا نوموړی ددښمن دسترگو اغزی ودهغه دله منځه وړلو،شهادت او يا ژوندي نيولو لپاره يې ډير زيات کوششونه او هڅې کولې،دنوموړي دکشف لپاره يې زيات شمير جاسوسان گمارلی و ترڅو دقيق موقعيت يې معلوم کړي.

کله چې په ۲۰۰۴ م ميلادی کال کې دسيوري ولسوالۍ په مربوطاتو کې دامريکايي ځواکونوپه قطار چاودنه وشوه په دې چاودنه کې دنورو پوځيانو ترڅنگ يو لوړ پوړي امريکايي افسر- چې ( ډان) نومېده هم ووژل شو، له پېښې وروسته له مطبوعاتو سره په خبرو کې ملا روزي خان ديادې حملې مسوليت ومانه،ملا سليمان اغا بهير وايي چې له دې پېښې وروسته حاجي روزي خان ته امريکايي ځواکونه ډير زيات متوجه شول اودهغه دله منځه وړلو لپاره يې مسلسلې چاپې ووهلې، له څلورو سختو يرغليزو چاپو نوموړی ژوندي ووت.ملگرو مشوره ورکړه چې د څه وخت لپاره سيمه بدله کړي او لږ ځان گوښه کړي.

دخدای دلارې د سپېڅلي او پاک زړي مجاهد ملا روزي خان چې دجهاد په لار کې شهادت يې دژوند ترټولو ستر ارمان ووبالاخره د ۲۰۰۴ م کال داگست په ۲۹ نيټه غرمه مهال دشاه جوي ولسوالۍ مربوط د(خړ دوزي )په نوم کلي کې په يوه کور کې له





يوه بل ملگري سره ناست و، امريکايي ځواکونو يو ناڅاپه دهوايي او زمينې ځواک په مټ پرې چاپه ووهله او نوموړی يې محاصره کړ. دخړدوزي دکلي يو کليوال دخپلو سترگو ليدلی حال داسي بيانوي: کله چې دالوتکو ږغ شواو په لرې فاصله کې يې دورې وهلې، ملا روزی خان په خپل کله کوف ماشين غوټه کړه او چانټه يې وترله،ملگري ته يې وويل ته ټوپک وغورځوه په کلي کې چيرته ځان پت کړه ما په خپله مخه پرېږده،ملا روزي خان کلي ته نژدې غره ته مخه کړه، دکلی په منځ کې کليوالو را ايسار کړ او مشوره يې ورکړه چې د اوبو دکاريز څاه ته دې کوز شي، ملا روزي خان وويل چې زه امريکايانو ته ځان ژوندی په لاس نه ورکوم تاسو ځانونه خوندي کړي ما او کار سره پرېږدئ.دغره خواته په ختلې نرۍ لار باندی رهي شو او ډير په اطمنان روان و، امريکايي الوتکو زيات شور جوړ کړی و او په نوموړي يې دگازي گرنيټونو گزارونه کول، کله چې نوموړی دغونډۍ سره ته پورته شو هلته يې ددو لويو ډبرو په منځ کې سنگر ونيو، دده لور ته په څلور ټيره موټر سايکلونو کې په ور روانو امريکايي عسکرو يې ډزې کولې دې متقابلو ډزو تر ډيره پوري دوام وکړ د نوموړي په ډزو باندی يوشمير امريکايی عسکر ولگيدل چې نورو عسکرو دکلی په سر کې يوې کنډوالې ته په ځولۍ کې راوړل . وروسته د محاصرې کړۍ ورو ورو پرې راتنگيدله يو شمير عسکر دشاطرف ته ورسره راوگرځيدل، په ملا روزي خان يې ډزې وکړې او په شهادت يې ورساوه. انا لله وانا اليه راجعون.

وروسته امريکايی عسکرو دنوموړي جسد له غره نه را کښته کړاو په هليکوپتر الوتکه کې يې له ځانه سره انتقال کړ.دنوموړي جسد ترشلو ورځو پوري امريکايی ځواکونو په باگرام هوايي آډه کې ساتلی و له شلو ورځو بعد يې دسيمې دخلگو ددېر اصرار له امله سپين ږيرو ته وسپاره او دغه د صليبي تاړاک پر ضد مبارزې مخکښ اتل د نوبهار ولسوالۍ ته ځيرمه دمشيزو په کلي کې خاورته وسپارل شو.

**د شهيد ملا روزي خان د شخصيت په اړه:** د افغانستان د اطلاعات او کلتور او معارف پخوانی وزير ملا اميرخان متقي چې په ۱۹۹۷ م کال کې دسالنگ له لاري

شمال ته د اوښتو طالبانو سره يوځای او دکندز د محاصرې عينی شاهد و،د ملا روزي خان جهادي فعاليتونه او له جهاد سره شوق يې له نيږدې په خپلو سترګو ليدلی او ځارلی،ددښمن په وړاندې دهغه مهال په تعرضونو کې دنوموړي،دپوره ميړانې،پوځي نبوغ او هوښياری يادونه کوي، همدا راز د امريکايي اشغال په وړاندي دجهاد په شروع کولوکې دشهيد ملا روزی خان عمده رول د قدر وړ بولي،نوموړی دشهيد عاکف دشخصيت په اړه خپل نظر په لنډو ټکو کې داسي څرګندوي:

په پلخمري اوکندز کې دمحاصري او مقاومت شپې ورځې واقعا دتکليف ،سترې او فشار له اړخه کم ساري وې چې هرچاپې دبرداشتولو توان نه درلود، ملاروزي خان اخند چې په هغه وخت کې په عمر هم کشر و خو ثبات او لوړ مورال يې ديوه ډيرپاخه او تجربه کاره شخصيت په ډول و. نوموړي له دې سختو حالاتو سره خورا په وريـن تندي برخورد کاوه هغه داتکاليف اصلا تکليفونه نه بلل زما يې دا وړتياډيره خوښيده چې په کوم طرف به سختي وه ،ددښمن فشاربه واو په ده به مو ژغ وکړ خورا په چټکي او خوښۍ به فورا هغه لوري ته روان شو اودخطرپروايې نه کوله بل داچې دالله دلاري ديوه مجاهد ترټولو ممتازه خاصه بايد ښه اخلاق وي شهيد ملا روزي خان له دې امله هم الله تعالی په لوړ انعام نازولی و.

تکړه ليکوال او شنونکی مولوي عبدالرحيم ثاقب چې له ملا روزي خان سره يې ډيرځله ليده کاته شوي، د نوموړي په اند شهيد ملا روزي خان دامريکا يی اشغال په ضد دجهاد او مقاومت مشهوره او تاريخ سازه څهره ده نوموړی زياتوي: شهيد ملاروزی خان يوځوان نوښتګر شخصيت وه چې په ښکلې جهادي څيره کې يې تربل هرځه زيات دپوځي نبوغ او زکاوت نښې څرګندوې ، ماچې به کله هم نوموړی شهيد ليدو، د ده په ليدو به مي په زړه کې جهادي عزم او همت را تازه کيدو ، هغه مهال چې د غربي ميډيا د تبليغاتو په مټ صليبي ځواکونه د نړۍ بي سياله فاتحين بلل کيدل او د دوی په مقابل کې دريدل يواځې له خپل ژوند سره دلوبو کولو په معنی و شهيد ملاروزي خان په خپل جهادي همت او شجاعت سره عملاوکړای شول چې افغان





ولس ته د يرغلګرو په مقابل کې دبريمنې مقابلې روحيه ورکړي . د صليبي يرغلګرو په خلاف د جهاد ابتدايي مراحل ډير تاريخ جوړوونکې حساسې شيبې وي چې اساس يې د شهيد عاکف په ځير د غيرتي سرښندونکو غازيانوپه فداکاريو او قربانيو ښودل شوی دی.

## د اسلامي امارت ویاند ښاغلی ذبیح الله مجاهد وایي :

دشهيد ملا روزې خان له نامه سره هغه مهال آشنا شوم چې دطالبانو داسلامی تحريک ځواکونه په ميدان ښار کې دشر او فسادله مليشو سره په جګړه بوخت و، د کوه قرغ په استقامت به اکثره وخت دې ته اړتيا پيداکيدله چې مجاهدين د دښمن په مرکزونو او پوستو تعرضي بريدونه وکړي ، ددغو بريدونو په جريان کې به د ميدان ښار د خط ټولو مجاهدينو خپله ونډه اداکوله په دغو جګړوکې به ځينې مجاهدين چې خورا زړور ، باتور او ميړنې معلوميدل له يوبل سره اوږه په اوږه دتعرض په هيله روان و ، تور او نوي ثقيلان ( پيکا ماشينګن) به ورسره وو او دبريد په لور به يې قدم واهه، په دغو کسانو کې زما په ياد پاته ملګري يو هم دزابل ولايت مشهور قومندان ملا روزي خان ، ورسره بل مشهور دلګی مشر ملابسم الله سحر او دپکتيا ولايت دزرمت اوسيدونکی (جګ) ملا نذير اخند و، دغو دريو ملګرو به په خپل منځ کې خورا مينه او صميميت لاره، له ملا روزي خان سره دلږ اوږدې زماني لپاره هغه زمانه شناخته پاتې شوم چې دکندز په ولايت کې دلومړي ځل لپاره طالبان محاصره شوي وو. په دې مهال شهيد ملار وزې خان اخند دکندز په بالاحصار او ورنه لاندې نيږدې مرکزونوکې له خپلو ګڼ شمير طالب ملګرو سره اوسيده او وخت په وخت به يې د محاصرې به زمانه کې کله يو خوا او کله هم بله خوا ددښمن دتعرضونو مخنيوې ته دانګل او په ډير اخلاص يي جهادي خدمت کاوو. کله چې خبره امريکايي يرغل ته ورسيده نو د دوهم ځلي جهاد په پيل کې مې بيا دملاروزي خان اخند نوم د زابل په ولايت کې واوريده چې دميړانې ملايې تړلې او له يرغلګرو سره په جګړه بوخت ده، نورهغه صفات چې دده د لاډير متانت او لا قهرمانۍ په اړه اوريدل شوي بيخي زيات دي کوم شی چې زه

زيات متاثر کړم هغه دا و چې يوه مخلص ملګري راته دشهيد ملا رزوی خان کيسه کوله، چې يو چاترينه پوښتنه وکړه چې ډيره ښه ځواني دې ده نو که جهادکوي شهيد نشي ؟ وايي ده ورته په ځواب کې وويل چې( زما هم دا خوښه ده چې خداي راکړي ښه ځواني بيرته دالله په لاره کې قرباني کړم ) .

له پورته ويناڅخه دده نيت ، خلوص او له الله تعالي سره مينه څرګندېږي .

شاعر او ليکوال ملا راز محمد ساقيار چې شهيد عاکف يې له نړدې پيژاند، په سنګر او يو شمير سفرونو کې ورسره ملګری شوی، دنومورې په اړه وايي، ملا روزي خان دجنګ په ميدان کې دقهرمانۍ او فداکاري ترڅنګ دنورو ګڼو عالي صفاتو درلودونکی و،دښايسته صورت او سيرت،لوړو اخلاقو او متواضع طبيعت د درلودلو له امله يې دخلګو په زړونو کې ځای پيدا کړی و،دمختلفو قومونو او مختلفو ژبو مجاهدين(عرب،ترک، او ازبک) ورسره ملګري وو چې ترخپله وسه يې کوشش کاوه چې له ټولو سره په شناخت او علاقه کې مساوي ګوزاره وکړي. په وروستي ځل چې بيا په هغه موده کې پسې شهيد هم شو ترشپږ مياشتې زيات وخت مسلسل له مجاهدينو سره په سنګر کې پاته واو دشهادت په شوق يې وخت تيراوه.نومورې دجهاد په کارونو کې خورا زيات جدي سړي وو.

ملا عبدالاحد جهانګير وال، داسلامي امارت دحکومت په مهال دامیرالمؤمنين کاتب او سکرتردشهيد عاکف په اړه خپل نظر داسي څرګندوي:

شهيد ملا روزي خان له ښايسته ځواني او نيکو صفتونو سره سره يو استثنايي شخصيت، دلوړ فکر او عالي تدبير څښتن و، ټول فعاليتونه او تحرکات يې د اسلام، وطن او د اولس دخلګو په ګټه و داسلامي نظام برپا کيدل او دهيواد ازادي يې تر ټولو غټ ارمان وو، او په دي لار کې شهادت يې ارزو وه،دده له شهادت وروسته رامنځ ته شوې خلا تراوسه پوري مورِ ډکه نکړای شوه.





د يادوړ ده چې د نوموړي جهادي مرتبت له دې هم اټکلولای شو، چې امريکايانو يې دشهادت خبر ډير مطبوعاتي کړ،د نوموړي دشهادت په پينښه يې مستند فلم جوړ او نشر کړ،او د نوموړي جسد يې د دريو اونيو لپاره د بګرام په اډه کې ساتلی و، په هر حال شهيد ملاروزي خان اخند د سختيو او ناهيليو په تورتم کې هغه ځلنده ستوری و چې د ځوان جهادي نسل اميدونه يې تاند ساتل، په پای کې دا ستوری د شهاب غوندې د وخت په شيطان راپريوت او دخپل تن په بيه يې د وخت فرعون ته عبرتناک ګوزار ورکړ.

## ددښمن اعترافات

کله چې د زابل په ليرو پرتو ولسوالیوکې داشغالګرو او کابل اداري فعاليتونه محدود شول،مجاهدينو ډيره توجه دکابل کندهار لويې لارې ته واړوله په دغه لاره د اشغالګرو ځواکونو په پوځي او اکمالاتي کاروانونو يې حملو ته زور وکړ په عمومي سړک يې پوره کنترول او واک پيدا کړ ډير وخت به دکابل کندهار عمومي لار دساعتونو لپاره دمجاهدينو دعملياتو له امله بند وه.دې حالت دکابل اداري چارواکي سخت په تنګ کړل له مجاهدينو سره ده څه تيرې بيري دخبرو کولو کوششونه يې پيل کړل. په دې موده کې يوځل علی احمد جلالي چې هغه مهال دکابل رژيم دکورنيوچارو وزير و، له ملا روزي خان سره يې ټليفوني اړيکه ونيوه او داسي يې ورته وويل، ته يو زړور افغان يې او ددې خاوري غيرت من بچی يې زه ستاسو په ميړانه ويار کوم،ته دافغانستان يوه هستي يې په دې بې ځايه مقاومت کې خپل ژوند له لاسه مه ورکوه،که تاسو غواړئ چې له مقاومت نه لاس واخلئ ستاسو هرډول شرايط به ومنل شي او هرڅه امتياز به درکړل شي.

ملاروزی خان په ځواب کې ورته وويل: زه ستاسو ددې حسن نظر چې زما په اړه يې لری ستاينه کوم،بايد ووايم افغانستان اشغال شوی دی، وطن ته مو کفري لښکرې راغلې،اوس وخت په مورِ او تاسو ټولو جهاد فرض دی،دخپل ځان په اړه به درته ووايم

ترڅو چې يو اشغالګر خارجي عسکر په افغانستان کې موجود وي زه به لـه جهـاده لاس وانخلم.

د کابل کندهار په لويه لار نژدې هره ورځ ددښمن اکمالاتي ټيلر اوټانکر تر بريـد لاندي راتلل او درومند مالي زيان ور اوښت، ملا دادګل مسلم وايي، يوځل دکابـل اداري دغزني والي اسدالله خالد ملا روزي خان ته ټليفون راوکړ او ورته يې وويل، په اکمالاتي ټانکروو او لاريو بريدونه پريږدئ هره مياشت به يې په مقابل کې تاسو ته يو لـک ډالـر درکوو.خو حاجي ملا روزي خان ورسره ونه منله.

رحمه الله تعالى

❊ ❊ ❊





## د شهيد مولوي نور محمد حقپال ژوند او کارنامو ته کتنه

ليکنه: مفتي ابومحمد حقاني

دختيځ نابغه او د اسلامي امت د وحدت ستر دعـوتګر علامـه سـيدجمال الـدين افغان V څه ښه ويلي : ( په شرق کې ميړونه او نوميالي چې ژونـدي وي، نـو مـړه دي، خو چې کله بيا مړه شي ،نو بيا ژونـدي شي))، دا رښـتيا خـبره ده، چـې زمـونږ پـه ټولنو کې دژوندیو علمي ،جهادي اويا ټولنيزو شخصيتونو قدرنه وي او نه يې دسـتاينې او درناوې پاڼه څوک اړوي ،دوی دخلکو په منځ کې ورک وي او کـه کـوم علمـي اثريـا حماسي شهکاري يې ډګر ته راونه وځي، نـو څـوک يـې نـه پيـژني او نـه يـې څـوک پـه استعداد او وړتيا باندې ويارې، خو چې ومري او ددوئ له سترګو پناه شي، نو بيا پـرې نمانځغونډې جوړيږي ،مرثيي او شعرونه پرې ويل کيږي ،ژوندليکونه او آندليکونه يـې په يادليکل کيږي او دامهال خلکو ته ټولمنلې اجتماعي ستړه شي .

خبره مې د شهيد مولوي نورمحمد حقپال دميړانې او قهرمانۍ په اړه کوله، چـې دا فقيد شخصيت هم ددې عجيبو او غريبو صفاتو خاوند و،چې زمـونږ غونـدې ډيـر نور ترې بې برخې دي ،دده دشخصيت دځانګړتياوو په باب زما معلومات ځکه بايد وي ،چې زه هغه مهال په (۱۹۹۱او ۱۹۹۲ميلادي)کلونوکې دپښور دسپين جومات دجامعـه اسلاميه نعمانيه دپنځمې درجې طالب وم او نوموړی شهيد راسره په ځينوکتابونو کې يوځای و.

هغه وخت چې دروسانو ديرغل پر خلاف دجهادکلونه وو،نو شهيد حقپال صاحب دمرحوم مولوي محمديونس خالص رح ترقيادت لانـدې اسـلامي حـزب کـې د شـهيد انجنير محمود په اړوندو جبهاتوکې د يوه تاند او هڅاند مجاهدپه توګه پيژندل کيـده

او داړتياوو په وخت کې به ترهر چا وړاندې دجهاد په مورچلونو کې ولاړ و،له پخوانه يې جهادي رزم او حماسي خوښيدې او له مورچلونو سره يې ليونی مېنه وه.

**زوکړه :**

شهيد مولوي نورمحمدحقپال دننګرهارولايت د خوګيانو ولسوالۍ دوزيرو دسيمې د(پيره خيلو)کلې کې د محترم الحاج خيرمحمد کره په (۱۹۷۰ز)کال کې وزيږيداو دژوند دسترګياوو خاپوړې يې پيل کړي، کوچنی و ستر شو،بلوغ ته ورسيد،دجهاد اوعلم له کرشمو نه يې خپله بهره واخسته او بالاخره په همدې سپيڅلې لاره کې يې خپله پاکه وينه څښتن تعالی ته نذرانه کړه .

**زده کړه او فراغت :**

شهيد الحاج حقپال د خپل ځيږ او اغزن چاپيريال او هم د هجرت د ستونزمنو شيبو له زغملو سربيره له پيله خپلو اسلامي زده کړو ته ادامه ورکړه او لکه د هيواد دنورو علماوو په شان يې خپل ابتدايي درسونه دهجرت په ديار کې دپيښورپه مختلفو مدرسو کې ولوستل او له نيکه مرغه چې دوره حديث يې په وتلي علمي درسګاه( جامعه دارالعلوم حقانيه اکوړه خټک )کې په (۱۹۹۳ ميلادي)کال بشپړ او هماغلته يې همدا کال دپګړۍ ترلو مراسم ترسره او بری ليک ترلاسه کړ. تردې وروسته نوموړې هيواد کې د(۱۳۷۰او۱۳۷۵ش)کلونو ترمينځ دخپل کلي په يو مسجد کې دامامتۍ سپيڅلې دنده ترسره او ورسره په يو ه ځايي مدرسه کې د مدرس په حيث پاتي شواو خپل ځان يې لکه دنورو علماوو غوندې په داخلي جنګونوکې له تلويث او ککړتيا نه وژغوره ،ترڅو چې په ميوند کې دطالبانو داسلامي تحريک سپين بيرغ رپانده او دا نومورې شهيد ددې ژغورنده کاروان دسرلښکرفقيد لارښود ملامحمدعمر مجاهد V تر مشرۍ لاندې روان شو .

**دطالبانو اسلامي تحريک سره ملګرتيا:** هاغه وخت چې هيواد دداخلي ټوپکسالارنو،او مغرضوکړيولخوا دتجزيي او عدم ثبات له خطر سره مخامخ شواو





ناچاره دهيواد طالبانواو علماوودخپل ايماني او اخلاقي مسؤليت پر اساس دشروفساد پر ضد پاڅون ته چمتو شول، له نيکه مرغه داميرالمؤمنين ملامحمد عمر مجاهد رح په قيادت دطالبانواسلامي تحريک دکندهارپه افق کې ظهور وکړاو ترخوست ولايت پورې راورسيد،نو هماغه وو،چې نوموړی قهرمان شهيدمولوي نورمحمد حقپال هم دخپل استاذمولوي محمد ظاهر نصرت په مشرۍ ديوې لويې ډلې مجاهدينو په شمول ددې تحريک سره په (۱۹۹۶ز)کال کې عملاًيوځای اوله مشرتابه سره يې بيعت وکړ،دتحريک دمشرانوحکم ته يې لبيک ووايه ،تردې چې دطالبانودقهرمان قوماند شهيد ملا بورجان V په لاس ننګرهارفتحه اوفاتحې لښکرې دکابل تر ماهيپره پورې ورسيدې .

**دندې او مسؤليتونه :**

کله چې دننګرهار ولايت دطالبانو داسلامي تحريک له خوا فتحه شو، مولوي محمدظاهر نصرت چې يو نظامي پياوړی تجربه کار مجاهد و، دتورخم او سرحدي نظامي مرکزونو اوقطعاتو لپاره دعمومي مشر په توګه وټاکل شو. نو داوخت مولوي نورمحمد حقپال دنوموړې سره دهمکار او اعتمادي ملګري په توګه وظيفه ترسره کوله، دځه مودې وروسته چې کله مولوي محمد ظاهر نصرت په شهادت ورسيد، دننګرهارولايت دمسؤلينولخوا يې پر ځای مولوي محمدالله( وحدت) دعمومي نظامي مشر په توګه اومولوي نورمحمد حقپال د معاون په توګه وټاکل شول، شهيد مولوي محمدالله وحدت به زيات وخت دهيواد په شمال کې دمخالفينو سره دمجاهدينو قوماندە په غاړه لرله، نو ځکه به مولوي نورمحمدشهيد دلته دمعاون او سرپرست وظيفه ترسره کوله،دوخت په تيريدلو سره مولوي محمدالله وحدت دکابل سره نږدې د ګلدرې په سيمه کې په شهادت ورسيد، اوپر ځای يې شهيد مولوي نورمحمد حقپال وټاکل شو، نوموړی ددې سربيره شمالي جنګي کرښو ته دتشکيلاتو پر وخت څوځو ځله په مختلفو ځايونو کې دمسئول په توګه ټاکل شوی،همدارنګه دننګرهار ترټولو مهمه او ستراتيژيکه ولسوالي ( دره نور) لپاره دولسوال په توګه توظيف شو، چې له

هغې وروسته دننګرهار دهسکې مينې ده بالا ولسوال وټاکل شو، ددې سربيره دننګرهار دولايت دمشرتابه لخوا وخت ناوخت دنظامي قطعاتو او غونډونو سرپرستي هم ترسره کړي. د(تورخم دشمشاد،د اقصی لوا دقوماندان په توګه،د ډکې دغونډاو لنډي خيبر) اونورو سرحدي قطعاتو دمسؤل په حيث يې هم مسؤليتونه ترسره کړي دي.

دامريکايانو لخوا پراسلامي امارت له يرغل وروسته دننګرهار دنظامي چارود مسئول په توګه تعيين اوپه هغو حالاتوکې يې دنوي انقلاب او صليبي اشغال پرخلاف دننګرهار په سيمه کې دجهاد دسپيڅلې مبارزې لپاره ځوانان وهڅول.

## يوه نه هيريدونکې تاريخي حماسه :

د شهيد حقپال پر نورو حماسي اوجهادي ويارنوسربيره يې يوه لويه ويارنه او حماسه داده، چې مولوي نورمحمد شهيد په هماغوسختو شرائطو کې چې دامريکا صليبي مزدورانو په پوره زور سره دهر ډول مډرنو وسلو او جنګي الوتکوپه را الوځولو سره تاريخي (توره بوړه) خپل هدف وګرځوله ،لکه څنګه چې ګومان کيده، چې شهيد شيخ اسامه بن لادن V په (توره بوړه ) کې له خپلو ټولو عربو مجاهدينو سره محاصره دی او دښمن يوه لحظه هم دبمبار او توپونو څخه پرته نه پريښودله، مګر په هماغو سختو حالاتو کې مولوي نورمحمدحقپال دخپلو مجاهدينو سره دمرستې په موخه (تورې بورې ) محاذته ورغی او دخارجي مجاهدينو دخوندي ايستلو لپاره يې لارې چارې برابرې کړي او دلوی خدای په فضل سره په خپل پلان کې بريالی او زيات مجاهدين او مشران يې لدې محاصرې روغ رمټ را ووتل ، تردې وروسته يې هم ديرغلګرو پرخلاف په نظامي ميدان کې په تدريجي ډول دافرادو اومجاهدينو په جلب اوجذب کې بې ساري خدمات انجام کړل او ډير فوائد پرې مرتب شول .

**يو زوی او دوه شهيدان وروڼه :** د اسلامي امارت دسپين بيرغ تر قيادت لاندې شهيد مولوي نورمحمد حقپال V خپل دوه وروڼه او يو تنکی زوی دالله تعالی ددين لپاره نذرانه کړل. يو ورور يې (شهيد ملک عنبرګل ) وتلی نظامي تجربه کار او





دده له شهادت وروسته يې دسيمې دمجاهدينو مشرې په غاړه لرله،دامريکايانو په هوايي برید کې په شهادت ورسيد. دويم ورور يې چې د زړ ورتيا او جرأت يوه نمونه وه شهيد قوماندان (ملا احمد حنيف) نوميده ،نوموړی په نظامي ميدان کې ديو ښه ملګري په ځای ولاړ و، د صليبيانو او هغوئ دمزدورانو د چاپې پر مهال شهيد شو.او په دې وروستيو کې يې اته لس کلن مشر زوی ( طالب الحق) د داعشيانو سره په مخامخ جګړه کې په شهادت ورسيد،شک نشته چې دشهيد مولوي نورمحمد حقپال کورنۍ جهادپاله او داسلام لپاره دقربانيو زياتې بيلګې لري .

## ځانګړتياوې:

په شهيد مولوي نورمحمد کې ديوه شريف او سنګين انسان ټول خصوصيتونه موجودو. په کوموصفاتو چې يو بشر د کمال پر پوړيو خيژي، څښتن تعالی هماغه ځانګړنې ددې شهيد په برخه کړي وي. نوموړی څومره چې ماپيژاند يومتواضع ،تقوی دار او فقيرمزاجه انسان و. دهرطالب ،مجاهداو ملګري مخکې به يې ښه چلند او تواضع ويارې باله ،تل به په خړو پړو جامو او ساده لباس کې ګرځيده ،دخپل ځان په باب يې داسې فکرنه کاوه، چې زه بايدهروخت ترنورو لوړ واوسم ،دجهاد سره مينه يې بله مهمه ځانګړنه وه ،دسبقونو تر څنګ به دجهاد په مورچلونو کې تل حاضر و . اجتماعيت او غوره اخلاق يې بله ځانګړنه وه ،الله تعالی ورته کريمه اخلاق ورکړي و او د خپلو ښو اخلاقو په وجه پر خپلو ملګرو ډير ګران و،نو په ټولېز ډول به ووايو چې ټول هغه صفات پکې څښتن تعالی ايښې و،کوم چې ديوه نيک انسان دتکامل لپاره اړين عناصر وي .

## شهادت :

مولوي نورمحمدحقپال چې دجهاد په لاره کې دهيڅا له دښمنۍ نه ډاريده او نه يې دڅا د عداوت پرواکوله، له هغې وروسته چې ننګرهار او خوګيانوکې يې جهادي بريدونه کول، نو ډاريدلي دښمن نور دده ژوند دخپل ځان مړينه بلله، نو هماغه و،چې نوموړی يې دهجرت ديار دپيښور دلطيف آبادپه سيمه کې په( ۲۰۰۴زکال

دسپتمبرمیاشتې په لومړۍ نیټه )په یوه ناځوانمردانه ظالمانه غلچکې بریدکې په شهادت ورساوه (اناالله وانا الیه راجعون)

**خاطرې اوآندونه:**

حافظ مولوي عصمت الله (عاصم) دمولوي نورمحمد حقپال دمیړانې، اطاعت او نورو صفاتوپه مورد کې داسې وایې : محترم مولوي نورمحمدحقپال روان جهاد کې زمونږ په لومړنیو ملګرو کې دی او له پیله یې دجهاد وسله راخستې او ترشهادته پورې یې بیا کښینښوده ،عاصم صیب وایې : چې شهید نورمحمد حقپال ډیر وفاداراو مطیع مجاهد واو په ورسپارل شویو دندو کې یې له پوره صداقت نه کار اخست،حقپال صاحب دشهادت ډیر هیله من وو، ،دنوموړې سره دملګرو او مجاهدینوداتفاق ډیره مینه وه او ددې زیات لیوال و،چې اتفاق مینځ ته راشي ،دهیواد آبادۍ سره یې علاقه ډیره وه ،غوښتل یې چې وطن یې سمسور شي ، اطاعت او دمشرانو خبرې منل یې یوه ځانګړنه وه، ددې نه په غیر نور داسې صفات پکې و، چې هغه دده د شخصیت د محبوب جوړیدنې سبب ګرځیدلې و.

دافغانستان د نامتو علمي او جهادي شخصیت محترم مولوي محمد یونس خالص بابا زوی او دده ځا ی ناستی محترم( مولوي انوارالحق مجاهدصیب)چې دشهید مولوي نورمحمد حقپال سره یې ملګرتوب درلود،دنوموړې شهید په باب خپله خاطره داسې بیانوي: دامریکا په مشرۍ دکفارو له یرغل او اشغال څخه وروسته چې کله بیا ننګرهارکې دمجاهدینو نظم جوړیده، نو داسې یومتفق علیه شخصیت ته اړتیا وه، چې دننګرهار ټول طالبان او مجاهدین پرې راټول شي ،هماغه و،چې مشرانو زمونږ څخه مشوره وغوښته ،نو زمونږ په پیشنهاد او داکثریت په اتفاق د ننګرهار دجهادي دانسجام او تنظیم لپاره لومړنی مسؤل (شهید مولوي نورمحمد حقپال )دامارت دمشرتابه لخوا مجاهدینو ته تعین شو.

دشهید مولوي نورمحمد حقپال په اخلاص او قربانۍ دننګرهارټول مجاهدین قانع وو،نوځکه یې پر مشرۍ او مسؤلیت هم کوم مجاهد اعتراض نه درلود. یوه بله





خاطره یې داده، چې کله ننګرهارکې امارت سقوط وکړ او په (توره بوړه) کې په عرب مجاهدینو سخته جګړه روانه وه ،نورمحمدشهید هم لکه دننګرهار دنورو مجاهدینو په شان ددغه میلمنو پالنه او ساتنه خپل اخلاقي اودیني مسؤلیت باله او ددوئ ضیاع یې دافغانانو اوبیا ننګرهاریانو لپاره تاریخي شرم ګانه، نو ځکه ځمکې ځای نه ورکاوه او په سیمه کې موجود و،ترڅو ددغه میلمنوپه خدمت کې فعاله برخه واخلي ،هماغه و،چې په لویه کچه دخدمت موقع په لاس ورغله ،او دغه ارمان یې پوره شو او دهغوئ دحفاظت اوساتنې په لاره کې یې داسې خدمات ترسره کړل، چې دنوموړې اولاده او کورنۍ باید پرې فخر وکړي .

**مولوي نورمحمد حقپال زما ډیرخوږ ملګری و.**

ملانیك محمد(رهبر)دشهیدمولوي نورمحمد حقپال کشر- ورور ،ځای ناستی او اوس مهال په ننګرهارکې دپوځي قطعاتو عمومي قوماند دی، نوموړی دخپل شهید ورور په باب داسې وایې : هغه شپه به مې هیڅکله هیره نشي- ،چې دننګرهار دخوګیانوپیره خیلوکلي کې زمونږ په کور باندې توره شپه کې امریکایي اشغالګرو اوددوی غلامو عسکرو پداسې حال کې چاپه ووهله ،چې ددوی شمیر سلګونه او هوایي جنګي الوتکواو زغروالو شوبلو یې بدرګه کوله. ما کتل چې شهید مولوي نورمحمدحقپال او بل ورور شهید ملک عنبرګل په ډیره میړانه پر اشغالګرو حملې کولې ،مجاهده مور مې همداسخته شیبه دنورمحمد شهید سره څنګ کې ولاړه وه او ورته به یې نه یوازې داویل چې روحیات مه بایله، زه درسره تر آخرې سلګۍ پورې ولاړه یم او حتی مرمۍ یې هم ورته رسولې.همداشپه مې دریم ورور(ملااحمد حنیف) دکورپه حجره کې و، دجګړې په پیل کې ولګیداو ژوبل شو،مولوي نورمحمد شهید غوښتل چې له دروازې نه یې کورته را دننه کړي ، خو هغه ورته ویل :چې زه خو هسې هم تللی یم (شهید کیږم)ته مه راځه! کله چې مو له جګړې نه چې وروسته رادننه کړ،ګوروچې ملا احمد حنیف دشهادت جام څښلی و،ګرده شپه مو اشغالګرو سره له خپل کوره جګړه وکړه، ترڅو چې دسیمې نور مجاهدین مو مرستې ته راورسیدل ،دامهال ګورو،چې ملااحمد حنیف په سرو وینو کې

پروت دی ،خپل روح يې خپل لايزال څښتن تـه سـپارلی دی، پـه معجزانـه ډول مـوددې شهيد نه پرته دکور ټول غړې روغ رمټ او ژوندي پاتي شول .

د (ملنګ کاکا) په نامه دشهيد حقپال يوبل مخکينی ملګری، دنوموړې شهيد پـه اړه وايي : چې کله مولوي نورمحمد حقپـال شـهيد پـه (۱۹۹۸ز)کـال کـې دشـمالي پـه خطونوکې مسؤليت درلود،نو بل وروريې ملا احمد حنيف ژوبـل شـو، نومـوړی حقپـال چې پخپله هم په مټ زخمي شوی و،نه يې غوښتل چې له خپل ټپ نه خپل زخمي ورور او نور ټپي شوي مجاهدين خبرکړي ،نوځان يې په ځادر وتاړه او کابل کـې روغتـون تـه دزخميانو پوښتنې ته ورغی ،دامهال چې په لوړه روحيه پخپله هم زخمي او دزخميـانو پوښتنه کوي ،دننګرهار دهغه وخت دامنيه قوماندان مولوي احمد طـه هـم ورغلـی و، ورته يې وويل چې زمونږ پـه ژونـد کـې دې تاخـدای الله تعـالی لـه مـوږ نـه کموي،نـو نوموړې شهيد ورغبرګه کړه: چې که زه شهيد شوم، نـو دانـور زمـري ورونـه لـرم چـې دظالمانو خلاف به زما په پل پل ږدي ،ملنګ کاکا زياتوي چې همداسې شـول د مولـوي صاحب ورونو هم د جهاد لاره وپالـــله .

ابوبلال انوري دشهيد په باب وايي : مولوي نورمحمد حقپال V داستاذانواو مشرانو په خدمت کې له ډير اخلاصه کار اخيست او هڅه به يي کوله، چې دمشرانو او استاذانو خدمت وکړي ، ترڅو يې دجهاد له سنګره راستون نه کړي.

**پاتي ورځه:**

شهيد الحاج نورمحمدحقپال V ټول اوه ورونه درلودل چې دوه تري مشرانِ او څلور تري کشران وو، دنورمحمدحقپال رح په شمول تري دري ورونه شهيدان او يـو ورويې په سعودي کې وفات شوی، چې فعـلا يـې دري ورونـه ژونـدي دي ،د نومـوړي شهيد يوولس اولاده دي چې مشر زوی يې هم د شهادت په مرتبه فائز شوی دی.

رحمه الله تعالی





## د شهيد ملا راز محمد خنجري ژوند ته کتنه

ليکنه: قاري سعيد

افغانستان د جهاد او خپلواکۍ بښونکو مبارزو هيواد دی ددې هيواد د تاريخ تـر نيمايي ډيره برخه له جهادي مبارزو جوړه ده. همدلته د نـړۍ ډيـر کـبرجن طواغيـت وهل شوي او له پښو غورځيدلي دي،په افغانستان کې د ناټو او امريکـايي يرغلګـرو لـه شکست سره په نړيواله سطحه دې هيواد ته د امپراطوريو قبرستان لقب ورکـړل شـوی دی.

په افغانستان کې چې د هر عصر کبرجن فراعنه له شکست سره مخ شـوي او دې خطې او اولس ته يې تاريخي ويارونه وربښلې نو دا ټول څه هسې مفـت نـه دي ترلاسـه شوي، بلکې ددې هيواد مؤمنو اوسيدونکو سترې قربانۍ په ځان مـنلي دي، د ايثـار او استشهاد سترې بيلګې يې ننداړې ته وړاندې کړي دي ترڅـو يـې پـه پـای کـې کفـري طواغيت له پښو غورځولي او اسلامي امت ته يې نجات بښلی دی .

د افغان اولس د حماسو،شـهادتونو، قربـانيو او ويـارونو کيسـې دومـره ډيـرې او پراخې دي چې په ټولو احاطه شايد د کوم ليکوال د وس کار نه وي. دلته هرې کورنۍ شهيد ورکړی،هر کور غازي درلودلی ،هره غونډۍ سنګر پاته شوې،په هره ټره د شهيد وينې څڅيدلې او له هر ګړنګه مستکبر يرغلګر را رغړيدلي دي. ددې لپـاره چـې ددې په ايمان سمبال اولس د قربانيو او رشادتونو حق مو ادا کړی وي،کله ناکله به د هيـواد له لراوبر څخـه د مشـت نمونـه خـروار پـه حيـث د يـوه اتـل او شـهيد سـوانح درسره شريکوو،تر څو ددې مظلوم خو ويارلي اولس د ميړانې کيسه د تاريخ له حـافظې هيـره پاته نه شي.

دا دی دا ځل د هیواد یوې بلې ګوښې ته سر ورښکاره کوو، د هیواد په جنوب ختیځ کې پکتیکا ته ځو، هلته د یوه ګمنام اتل شهید ملا راز محمد خنجري یادونه راسپړو او د ددوو ښکیلاکونو په وړاندې د جهاد له کیسې یې ځان خبروو.

## ملا رازمحمد خنجري

ملا راز محمد خنجري د حاجي خان محمد زوی د مرحوم لعل ګل لمسی په قوم پښتون- سلیمان خېل په ۱۳۳۵ هـ ش کال کې د پکتیکا ولایت د ډیلې ولسوالۍ په دشت لوړګي سیمه کې په یوه دینداره کورنۍ کې دې فاني دنیا ته سترګې رڼې کړې وې.

نوموړي په لس کلنۍ کې دیني زده کړې پیل کړې وې او تر ۲۲ کلنۍ عمر پورې یعني تر هغه وخته چې کمونیستانو کودتا وکړه په دیني زده کړو بوخت و. نوموړي د غزني ولایت د مقر او ناوې په ولسوالیو کې د بادیني په سرحدي سیمه او نورو مختلفو سیمو کې په کلیوالو مدارسو کې دیني زده کړې ترلاسه کړې،کله چې د ۱۳۵۷ هـ ش کال په ثور میاشت کې په افغانستان کې کمونیستانو کودتا وکړه او په وړاندې یې په درست افغانستان کې مسلح جهاد پیل شو، ملا راز محمد خنجري چې دغه مهال تازه ځوان و، خپلې زده کړې یې وځنډولې او د کمونیزم په خلاف یې په وسلوال جهادپیل وکړ .

## د کمونیستانو په خلاف جهاد

ملا راز محمد خنجري په لومړي ځل جهاد دپکتیکا ولایت د یوه جهادي قومندان سیدامیر تر مشرۍ لاندې پیل کړ. ویل کیږي چې ملارازمحمد په تانده ځوانۍ کې د جهاد لپاره د ټوپک پیداکولو وس نه درلود نوځکه یې یو خنجر اخیستی و چې تل به یې له ځان سره ګرځاوو د هماغه خنجر له امله نوموړي د خنجري لقب د ځان کړ، نوموړي په لومړي ځل په هغو عملیاتو کې شرکت وکړ چې د زابل د شملزو ولسوالۍ مربوط د درخت یحیا په سیمه کې د کمونیستی رژیم په یوه مرکز ترسره





شول. تردې وروسته نوموړي د زابل او پکتیکا په سرحدي سیمو کې په ډیرو عملیاتو کې برخه واخیسته او د خپل جرأت، بهادرۍ او جهادي مهارت له امله د خپلې سیمې په سطحه د یوه وتلي مجاهد په حیث مشهور شو .

د کمونیستانو په خلاف د پیل شوي جهاد دری یا څلور کاله به پوره شوي و، چې نوموړی د مرحوم مولوي محمد نبي محمدي په تنظیم حرکت انقلاب اسلامي کې د یوه مستقل قومندان په حیث وټاکل شو، چې بیا د کمونیستی رژیم د سقوط تر وخته نوموړی په خپله سیمه کې دیوه برجسته قومندان په حیث فعال و، په سلهاوو مجاهدین یې تر قومنده لاندې وو او په ګڼ تعدادکې عملیات یې ترسره کول .

د شوروي یرغل خلاف د جهاد په مهال د ملارازمحمد خنجري تر قومنده لاندې د مجاهدینو مرکز د پکتیکا ولایت د شینکي غره په زرګلانه سیمه کې و له همدې سیمې دوی ټولو شاوخوا سیمو ته عملیات سوق کول چې د کټواز مربوط زیاتره ولسوالۍ یې د تر عملیاتي پوښښ لاندې راتلې. خو ددوی ډیر عملیاتي تمرکز د ګواشټې او پتنۍ غره په سیمو و چې په همدې سیمو له کټواز او د غزني له ناوې ولسوالۍ څخه د وازیخوا په لورې ددښمن اکمالاتي لارې راتیرې وې او شورویانو به غوښتل له همدې لارو په استفاده وازیخوا ته اکمالات ورسوي .

د شورویانو خلاف د جهادپه مهال د نوموړي د کارنامو کیسې خورا ډیرې دي چې دلته به د بیلګې په توګه یوه کیسه راواخلو .

د نوموړي د ملګرو په استناد خنجري صاحب ویل چې د شوروي ضد جهادپه وخت مو یو وخت د وازیخوا ولسوالۍ لویدیځ لور ته د زنګلې په سیمه کې له شوروي عسکرو سره جنګ شو. د سخت جنګ په مهال موږ ددوی مورچو ته بیخي نږدې ورغلو،خو په همدې حال کې چې زه د شورویانو یوې مورچې ته بیخې په نږدې مسافه کې وم ماته د ټوپک مرمۍ راخلاصې شوې،مخامخ په مورچه کې مي روسی عسکر ولید نو د ډبرې ګوزار مې پرې وکړ،هغه له واره لاسي بم راوغورځاوو، بم ماته نږدې ولوید خو مخکې له دې چې انفجار وکړي ما پرې حمله کړه او بیرته مې د روسي

عسکر مورچې ته وروا‌ړوو، بم له غورځيدو سره سم منفجر شو او روسي عسکر په دې ډول په خپل لاسی بم له منځه لاړ،نوموړي ويل چې په دې جګړه کې موږ ديارلس روسي عسکر ووژل او د ټولو وژل شويو وسلې مو هم غنيمت کړې .

ملا رازمحمد خنجري د روس ضد جهادپه مهال په خپله سيمه کې يو فعال مجاهدمشر و،نوموړي دوازيخوا ولسوالۍ مرکز،د خټک کلا پوسته،د خوشامندو ولسوالۍ د فيضګي کلا پوسته، د خيرکوټ ولسوالۍ مرکز،د ناوې مربوط د زيان سيمې پوستې او په شاوخوا کې د ګڼو نورو سيمو په فتوحاتو کې مخکښ رول او ونډه درلوده. دغه راز کله چې د ډاکټر نجيب د حکومت په مهال د غزني د ناوې ولسوالۍ د سره کلي په سيمه کې ددښمن په ګڼو پوستو د غزني،زابل او پکتيکا مجاهدينو په ګډه بريالي عمليات وکړل نوموړي په کې مخکښ رول درلود .

## د طالبانو په اسلامي تحريک کې خدمت

د کمونيزم ضد جهاد له پای ته رسيدو وروسته ملا راز محمد خنجري ټوپک له اوږې کوز کړ او د خپلو ديني زده کړو تکميل ته يې ملا وترله نوموړی د تنظيمي شخړو په ټوله دوره کې په درسونو بوخت و. کله چې دطالبانواسلامي تحريک قيام وکړ، هغه مهال چې طالبان له کندهاره د غزني په خوا روان وو نوموړی د غزني د مقر په سيمه کې سره له خپلو ګڼ شميرو مجاهدينو له طالبانو سره يوځای شو.نوموړي خپلې ټولې وسلې ، مهمات او وسايط چې يو ټانګ او دوه موټر هم په کې شامل و د طالبانو اسلامي تحريک ته وسپارل او عملا له خپلو ملګرو سره داسلامي تحريک ملګری شو . د غزني له تصرف وروسته نوموړي ته په همدې ښار کې د يوه نظامي غونډ مسؤليت وسپارل شو خو زياتره وخت به له خپلو ملګرو سره د ميدان ښار په جنګي کرښه کې و.

د ميدان ښار او کابل ترمنځ چې د طالبانو جنګي کرښه وه، د شيرعلم پوستې په نامه ددښمن په يوه مرکز د جنګ په مهال نوموړی په پښه باندې ټپي شو، چې د ملګرو قومنده يې يوه بل ملګري ملا عبدالقهار په غاړه واخيسته،ملاعبدالقهار د کابل د





فتحې تروخته دغه مسؤليت ترسره کړ او کله چې د کابل له فتحې لږ وروسته د شمالي په جګړو کې ملا عبدالقهار شهيد شو ملا رازمحمد خنجري يوځل بيا جهادي مسؤليت په غاړه واخيست .

د طالبانو د اسلامي تحريک په دور کې نوموړي په ډيرو جهادي محاذونو کې خدمت ترسره کړ، نوموړی له خپلو ملګرو سره د طالبانو د هغه ستر کاروان ملګر ی و چې په ۱۹۹۷ م کال کې د سالنګ له تونل نه ووتل او دپلخمري له تصرف وروسته يې کندز ونيو په کندز کې له څه مهال مقاومت وروسته ملا رازمحمد خنجري ددښمن دطيارو د بمبار په يوه پښه کې په سر او لاس زخمي شو او د علاج لپاره کابل ښار ته ولېږدول شو.

له شفاء يابۍ وروسته ملا رازمحمد خنجري لومړی په خوست ولايت کې د يوې نظامې فرقې د مسؤل په حيث تعين شو او ورپسې يې په لغمان ولايت کې تر هغه وخته د يوې نظامي فرقې مسؤليت ترسره کړ چې امريکايانو په افغانستان برید وکړ .

## د امريکايانو په خلاف جهاد

کله چې امريکايانو په افغانستان حمله وکړه او داسلامي امارت قوتونو له ښارونو څخه اطرافو ته شول، ملا راز محمد خنجري هم له خپلو ملګرو سره خپلې اصلي سيمې ته راستون شو. له څو مياشتو تيريدو وروسته نوموړي په جهادي تحرکاتو پيل وکړ او په خپله سيمه کې يې د مجاهدينوپه تنظيم او د يرغلګرو خلاف د چريکي جهادپه ترتيباتو شروع وکړه.

دغه مهال نوموړي ته د ګوډاګيو چارواکو لخوا بيا بيا دعوت ورکړل شو چې له حکومت سره يوځای شي،حتی يوځل خو يو پخوانی جهادي قومندان چې اوس د حکومت تر څنګ ولاړ و، د ګوډاګي حکومت په نمايندګي ورته راغی او ورته ويې ويل چې اوس له امريکايانو سره مقابله ناشونې ده راځه په دې نوي رژيم کې به ګډ شو او د جهاد فرصت ته به انتظار وکړو .

خو خنجري صاحب ورته وويل چې زه د کفر په وړاندې ټوپک لـه اوړې نـه شـم کوزولی زه دا بهتره ګڼم چې له ټوپک او چانټې سره له دنیا رخصت شم .

د امریکا خلاف د جهاد په ابتدائي کلونو کې چې مولـوي عبـدالکبیر صـاحب د پکتیکا ولایت عمومي جهادي مسؤل و ملا رازمحمدخنجري په خپله سـیمه کـې د یـوه مطرح نظامي مسؤل په حیث دنده ترسره کوله،دغه مهـال نومـوړي او کـورنۍ یـې پـه لرې پرته غرنۍ سیمه کې په کیږدیو کې ژوند کـاوو او پـه پټـه یـې جهـادي عملیـات رهبري کول.

د نوموړي تر مشرتابه لاندې مجاهدینو د یرغل په لومړنیو کلونـو کـې د وازیخـوا ولسوالي فتحه کړه او لوی مقدار وسلې یې له دښمن څخه غنیمـت کـړې پـه وازیخـوا سربیره د د پکتیکا په ډیله ،تروو، خوشامند او جاني خیلو ولسوالۍ کې هم ګڼ شـمیر عملیات ترسره شول چې دښمن ته په کې تلفات ورسیدل او ورسره پـه دې ټولـه حـوزه کې جهادي عملیات راژوندي شول .

## د شهید خنجري شهادت او وروستۍ حماسه

دا چې شهید خنجري د روس ضد جهاد دمهال وتلی مجاهد و او د امریکایانو په خلاف یې هم د جهادتوغ پورته کړی و او د وازیخوا او شاوخوا ولسوالیو په ټولـه سـیمه کې یې ډیر شهرت او اعتبار درلود او دده په اقتفاء ډیر نوي ځوانان جهـادي صـف تـه داخلیدل امریکایانو دنوموړي همدا موقف پیژندلی و نو ځکه یې هڅه کوله چې په هر قیمت وي نوموړی له منځه یوسي .

بالاخره د ۲۰۰۵ میلادي کال د د مارچ د میاشتې پـه ۲۵ نیټـه امریکایـان پـه دې وتوانیدل چې دنوموړي موقعیت معلوم کړي نوځکـه پـه یـوه وحشـیانه چاپـه سره یـې نوموړی په شهادت ورساوو .

د شـهید خنجـري صـاحب ځایناسـتی حـاجي محمـدعمر حنفـي چـې د شـهید خنجري د شهادت د واقعې عیني شاهد دی وایـي چـې دغـه مهـال د شـهید خنجـري





کورنۍ د وازیخوا ولسوالۍ د مهربان نیکه په نامه غرنـۍ سـیمه کـې پـه کیږدیـو کـې اوسیدله. ماته یې ویلي وو چې د موتر سایکل تیل راوړه او کـوم جهـادي سـفر تـه یـې اراده وه، سهار وخت و خنجري صاحب په دې ورځ په سټلایټ ټیلفون کې لـه جهـادي ملګرو سره رابطه کړې وه او شاید له همـدې املـه امریکایـانو تـه دنومـوړي موقعیـت معلوم شوی و. زه دده له ځای څخه څو کیلومتره لـرې پـه یـوه لـوړه سـیمه وم چـې د خنجري صاحب د اوسیدو کیږدۍ رامعلومیدلې ما غوښتل په کوچنۍ مخـابره ورسره رابطه وکړم چې ناڅاپه جنګی الوتکې په فضـاء کـې راښـکاره شـوې ورپسـې امریکـایي چورلکې هم راغلې او د خنجري صاحب د ځای څلورو خواوو ته یې عسکر پیـاده کـړل. لږ شیبه وروسته چې امریکایي عسکر او داخلي ګوډاګیان یې د خنجري صاحب د کور خواته ورنږدې شول ناڅاپه ډزې پیل شوې، ډزې له دواړو خواوو او څو ساعته یـې دوام وکړ ،له څو ساعته جګړې وروسته ډزې ارامې شوې او امریکایي چورلکې بیرته والوتلې.

کله چې سیمې ته ورغلم نو کتل مې چې امریکایانو سخت وحشـت کـړی و، څـو کیږدۍ چې د خنجري صاحب لویه کورنۍ په کې اوسیدله نړیـدلې وې او د ښـځو او ماشومانو په شمول اوه کسه د کورنۍ غړي یې په شهادت رسیدلي وو.

د خنجري صاحب د کورنۍ غړو راته وویل چې خنجري صاحب پـه خپلـه خیمـه کـې خپـل کـوچنی زوی او لـور تـه د قرانکـریم درس وایـه ،چـې امریکـایي چـورلکې راغلې،نوموړي خپل راکټ ، کلاشینکوف او تفنګچـه ټـول راواخیسـتل او پـه یـوه لویـه کمپله کې یې ځان ونغښت چـې دښـمن ورسره وسـلې ونـه وینې،امریکایـان او داخـلي عسکر د کیږدیو په خوا راغلل،چې په دوی کې د عنایت کلیـوال پـه نامـه د اورګـون د کمپاین یو مشر هم و، نوموړي په لوډسـپیکر کـې پـه خنجـري صـاحب غـږ وکـړ چـې راووځه او او ایتلافي ځواکونو ته په ارامه ځان تسلیم کړه او خپلو ماشـومانو او کـورنۍ ته تاوان مه رسوه.

خنجري صاحب همداسې په کمپله کې نغښتی له خیمې ورووت په داسـې حـال کې چې راکټ ته یې مرمۍ ورتیره کړې وه، مخامخ یې په همدې کسـانو د راکـټ فیـر

وکړ او ټول يې په لومړني ګوزار له منځه يووړل ورپسې خنجري صاحب ځوان زوی يې بشيراحمد او وراره يي طاوس په يوه غونډۍ کې سنګر ونيو او له امريکايانو سره يې مقاومت پيل کړ .

د څو تنو سرتيرو مؤمنانو او د کفر د مجهز پوځ ترمنځه دا جګړه خورا حيرانوونکې وه په داسې ډول چې د خنجري صاحب په مشرۍ د کور نارينه جنګيدل او د کور ميرمنو او ماشومانو ورته مرمۍ رسولې ،جګړې دری ساعته دوام وکړ،د جګړې په ترڅ کې چې کله خنجري صاحب په شهادت ورسيد ميرمنې يې وسله واخيسته او له امريکايي عسکروسره يي تر هغو مقاومت وکړ تر څو يې اخري مرمۍ هم د کفارو په خوا وشړله.

د جګړې په ترڅ کې د خنجري صاحب په شمول ټول اته تنه شهيدان شول چې دری په کې د نوموړي دکورنۍ غړي وې او دوه تنه نور د کور غړي يې ټپيان شول،بايد وويل شي چې د نوموړي د کورنۍ ۷ غړي تر دې پخوا د روسانو خلاف په جهاد کې په شهادت رسيدلي وو.

امريکايان چې په دې جګړه کې يې ګڼ شمير عسکر وژل شوي وو دغه راز يې يو چورلکه هم زيانمنه شوې وه، له ډير وحشت وروسته يې د شهيد خنجري او څو تنو نورو شهيدانو اجساد له ځانه سره د اورګون امريکايي بيس ته يووړل او له هغه ځايه يې د پکتيکا مرکز غرنې ته انتقال کړل. امريکايانو ددوی اجساد کورنۍ ته نه سپارل خوتر ۹ ورځو تيريدو وروسته يې د قومي سپين ږيرو د ډيرو غوښتنو او اصرار په پايله کې ددوی اجساد خپلې کورنۍ ته وسپارل .

په دې ډول د پکتيکا په يوه لرې پرته سيمه کې هغه ګمنام مجاهد له متعهدانه ژوند تيرولو وروسته د رب تعالی لقاء ته ورغی چې خپل ټول ژوند يي د اسلام ددفاع او سرلوړی لپاره وقف کړی و، هغه مجاهد چې ژوند يې له علم،جهاد، ذکر او تقوی څخه جوړ و .





## د شهيد مولوي محمد ولي صاحب ژوند ته کتنه

ليکنه: قاري سعيد

د هر اسلامي نظام يوه له اساسي وظائفو څخه دا ده چې دالله تعالی مخلوق خير ته رهبري او له شر څخه يي راوګرځوي.له همدې امله خو الله تعالی د مسلمانانو په منځ کې د يوې داسې ډلې وجود ضروري بللی دی چې د امر بالمعروف و نهی عن المنکر مبارکه وظيفه ترسره کړي.

الله تعالی فرمايي: ولتکن منکم امة يدعون الی الخير و يأمرون بالمعروف و ينهون عن المنکر و اولئک هم المفلحون. ۱۰۴ آل عمران

او وي دې ستاسو څخه يوه داسې ډلې چې خير ته دعوت کوي او په نيکيو امر کوي او له بديو نه منع کوي او همدا خلک بريالي دي.

د همدې قرآني امر په اساس له کومې نيټې څخه چې د ملا محمد عمر مجاهد V په مشرۍ د اسلامي مارت قيام پيل شو له لومړيو شيبو څخه يې د سيار ګروپ په نوم ډله درلوده چې خلک يې له منکراتو منع کول،په نيکيو يي ورته امر کاوو او د ديني احکامو داحياء هڅه يې کوله.

د اسلامي امارت په هماغو لومړنيو شيبو کې د کندهار له فتحې څه موده وروسته د ۱۳۷۴ هـ ش کال د حمل په ۲۸ نيټه د اسلامي امارت د مشر ملا محمد عمر مجاهد په ځانګړي فرمان د سيار ګروپ د اداري په ځای د امربالمعروف و نهی عن المنکر په نوم ځانګړې اداره رامنځته شوه او د کندهار يو تن پرهيزګار، بااستعداده او د ښو صلاحيتونو خاوند عالم او مجاهد مولوي محمد ولي صاحب يي د مشر په حيث وټاکل شو.مولوي محمد ولي صاحب په دې ډول د اسلامي امارت په تشکيلاتو کې د

امربالمعروف ونهی عن المنکر د مهمې وظیفې مسؤلیت په غاړه واخیست تردې چې د کابل له فتحې وروسته په همدې نامه د نوي رامنځته شوي وزارت وزیر وټاکل شو او د امریکایي یرغل تر وخته یې په همدې بخش کې خدمت ته ادامه ورکړه. دلته په دې لیکنه کې د نوموړي په ژوند او کردار رڼا اچوو هیله ده چې د متدین ژوند له کارنامو څخه به یې مستفید شئ.

## د ژوند لومړني مراحل

مولوي محمد ولي حنیفي د ملا محمد عوض زوی او د ملا عبدالواحد لمسی په قوم پښتون/علیزی په ۱۳۴۶ هـ ش کال کې د کندهار ولایت په سیاچوی سیمه کې زیږیدلی دی. د یادونې وړ ده چې سیاچوی سیمه هغه مهال د پنجوایي ولسوالۍ مربوط ساحه وه مګر د نویو اداري تقسیماتو له مخې د ژړۍ ولسوالۍ مربوط بلل کیږي.د مولوي محمد ولي صاحب کورنۍ له پخوا څخه د علم او دیانت درلودونکې کورنۍ وه، پلار او وروڼو یې ددیني علم برخه درلوده له همدې امله له کوچنیوالي نوموړي ددیني علم په حاصلولو پیل وکړ.

## د تعلم سلسله

د مولوي محمد ولي صاحب پلار له علم سره خورا زیات شوق درلود له خپلو اولادونو سره یې د علم په حصول کې ډیر زیات کوښښ کاوو او له هر کار څخه یې علم ته فارغ کړي وو.د مولوي محمد ولي صاحب یو ورور وایي چې پلار مو راته ویلي و: که زما په بدن اور بل و هم ، تاسو به ځان له سبقه نه باسئ او نه به په بل کار مشغولیږئ.مولوي محمد ولي صاحب چې د خپلو وروڼو په منځ کې یې ځانګړی لیاقت او استعداد درلود د پلار یې ورباندې ځانګړی نظر و او کوښښ یې کاوو چې ښه عالم شي.

د مولوي محمد ولي صاحب مشر ورور قاري عبدالباري صاحب د پاکستان په مشهوره مدرسه دارالعلوم حقانیه کې په تعلم بوخت و. د ثور له انقلاب وروسته په





۱۳۵۸ هـ ش کال کې نوموړي خپل کشر ورور محمد ولي چې دغه مهال ۱۲ کلن و هم له ځان سره بوت او هلته یې په دې پیژندل شوي علمي مرکز کې ددیني علومو حصول ته دوام ورکړ.

مولوي محمد ولي صاحب په دارالعلوم حقانیه کې دوه کاله تیر کړل له هغه وروسته بلوچستان ته راغی او دلته یې په بیلابیلو مدارسو کې لکه د کویټې د شالدرې مدرسه، په کراس سیمه کې دارالعلوم العربیه، دغه راز د هغه وخت د مشهورو استادانو لکه شیخ نور محمد صاحب، شیخ عبدالحکیم صاحب او شیخ حبیب الله صاحب د تلمذ ویاړ یې ترلاسه او ددینی علومو له سعادت څخه برخمن شو.

مولوي عبدالغنی صاحب چې د طالبۍ په همدې دوران کې ډیر وخت له مولوي محمد ولي صاحب سره نږدې پاته شوی وایي: مولوي محمد ولي صاحب په ټوله معنی یو مخلص،متدین او د علم شوق لرونکی طالب و، په ښه استعداد سربیره یې پوره تقوا هم درلوده تردې چې د شریعت هیڅ مخالف کار یې نه شوای زغملی. د جهاد په وخت کې ما او مولوي محمد ولي صاحب د یوه تنظیم په مدرسه کې زده کړې کولې، یو وخت ددې تنظیم مشران د هیئتي په شکل په مدارسو ګرځیدل، چې زموږ مدرسې ته هم را روان وو. د هیئت مقصد دا و چې د مدرسې د لیلیه شاګردانو واقعي شمیر معلوم کړي ترڅو له هغه سره برابره اعاشه ورکړي.زموږ په مدرسه کې لیلیه شاګردان لږ و اما د مدرسې اراکینو ددې لپاره چې ډیره اعاشه ترلاسه کړي له شاوخوا مساجدو یې ډیر طالبان راوبلل ترڅو یي هیئت ته د مدرسې د لیلیه طالبانو په حیث وښیي. کله چې هیئت مدرسې ته راغی او مولوي محمد ولي صاحب د مدرسې د یوه طالب په حیث ورسره مخامخ شو، نو وضاحت یې ورته وکړ چې دا طالبان ټول د همدې مدرسې نه دی بلکې له بهره راوستل شوي دي، بیا مولوي محمد ولي صاحب له هیئت سره په ټولو اطاقو وګرځید او هر طالب یې ورته معرفي کړ چې د مدرسې دی او یا هسې په جعل راوستل شوی دی. د نوموړي دا کار که څه هم د مدرسې د اراکینو د غوسې او خپګان سبب شو مګر ځکه یې ترسره کړ چې د هغه طبیعت داسې جوړ و چې هیڅ غیرشرعي

کار يې نه شوی زغملی . ځکه غدر يو له غير شرعي کارونو او د نفاق له علاماتو څخه دی چې رسول الله H يې په اړه فرمايي: وعن أَبي سعيدٍ الخدريّ I أَنَّ النبي H قَالَ: لِكُلِّ غَادِرٍ لِوَاءٌ عِنْد أِسْتِه يوم القِيَامَةِ يُرْفَع لَه بِقَدْرِ غَدْرِهْ. رواه مسلم . رسول الله H فرمايي د هر غدر کوونکي په کونړو کې به د قيامت په ورځ د غدر بيرغ ولاړ وي چې دده د غدر په اندازه به لوړ رپيږي.

مولوي محمد ولي صاحب هغه مهال چې نور دکمونيستانو په خلاف جهاد د بريا منزل ته نږدې شوی و يو ځل بيا دارالعلوم حقانيه ته لاړ هلته يې ددوو کلونو په ترڅ کې وړه او لويه دوره وکړه او د وخت له ستر فقيه او عالم شيخ الحديث مولانا مفتي محمد فريد V څخه يې د نبوي احاديثو اجازت ترلاسه کړ.

## جهادي ژوند

د شوروي يرغلګرو په خلاف جهاد په مهال مولوي محمد ولي صاحب نوی ځوان و،چې د کال زياتره وخت به يې په ديني مدارسو کې ديني علوم لوستل اما د رخصتيو په وخت کې به کندهار ته تلو او هلته به يې د شوروي يرغلګرو خلاف په مسلح جهاد کې برخه اخيستله.

دنومړي مشر ورور قاري عبدالباري صاحب وايي چې مولوي محمد ولي صاحب د شوروي ضد جهاد په مهال ټول وخت د کندهار ولايت د ويالې مجاهد شهيد لالا ملنګ په جبهه کې جهادي خدمت ترسره کړ. دغه جبهه چې د ارغنداب، ژړی،پنجوايي او د کندهار د ښار په شاوخوا کې يې جهادي عمليات ترسره کول په کندهار کې يوه له هغو جبهو څخه وه چې د شوروي يرغلګرو خلاف جهاد کې يې کليدي ونډه درلوده او ستر افتخارات يې ګټلي دي.

د کمونيستي واکمنۍ په وروستي کال شهيد مولوي محمد ولي صاحب زابل ولايت ته هم د جهاد لپاره لاړ چې هلته يې د جبار مليشو تر نامه لاندې د کمونيستانو له ځواکونو سره په سختوجګړو کې برخه واخيسته او په دې جګړه کې ټپي هم شو.





د جهاد له بريا وروسته مولوي محمد ولي صاحب په پنجوايي ولسوالۍ کې د ديني علومو تدريس ته ملاوتړله چې د طالبانو د اسلامي تحريک د ظهور تر وخته د تدريس په سپيڅلې وظيفه بوخت و.

## په اسلامي امارت کې شموليت او خدمتونه

د نومړي وراره حافظ محمد صاحب وايي: د تحريک د لومړني پيل په شپو کې يو وخت چې مورږ د شهيد مولوي محمد ولي صاحب سره په مدرسه کې سبقونه ويل يو ورځ مو ډزې او د مرميو اوازونه واوريدل. خلکو ويل چې طالبانو په يوه ټوپکي قومندان صالح باندې جنګ شروع کړی دی،مولوي محمد ولی صاحب په هماغه ورځ خپل تدريس ته د پای ټکی کيښود خپل طالبان يې ورسره روان کړل او په دغه جنګ کې يې شرکت وکړ، دا د طالبانو د تحريک لومړنی جنګ و او مولوي محمد ولي صاحب له همدې ځايه د تحريک ملګری شو.

د کندهار له فتحې څه موده وروسته د اميرالمؤمنين ملا محمد عمر مجاهد V په فرمان د امر بالمعروف ځانګړې اداره جوړه شوه او مولوي محمد ولي صاحب يې د مشر په حيث وټاکل شو.نومړي په دې اداره کې ور سپارل شوی خدمت په ډير اخلاص او احسنه طريقه سره انجام کړ. د اسلامي امارت هغه لويه کارنامه چې وروسته له کلونو د ځمکې پر مخ د الهي نظام تنفيذ و تر ډيره د همدې اداري په توسط عملي کيدو. کله چې اسلامي امارت لخوا کابل فتحه شو، د افغانستان په تاريخ کې په لومړي ځل د امر بالمعروف و نهی عن المنکر په نوم ځانګړی وزارت رامنځ ته شو.

دغه وزارت چې په ټولو ولاياتو کې يې اړوند رياستونه درلودل له مهمو کارونو څخه يې د ديني شعائرو احياء، په لمونځ، روژه، زکات او ټولو حسنه اعمالو خلکو مأمورول، د ناروا کارونو، بدعتونو او غيرشرعي دودونو له منځه وړل،د ساز سرود، فحشاء او بې ديني د اسبابو ختمول، د شرعي حجاب او ستر رعايت ته د ښځو متوجه کول، د مسلمانانو سيرت او صورت په شرعي طريقه باندې برابرول،د نشه يي توکو،

شرابو او نورو مخدراتو د استعمال مخنيوی او دغسې نور شرعي وظائف يې له مهمو فعاليتونو څخه وو.

مولوي محمد ولي صاحب د ددې وزارت د وزير په حيث په خپل کار کې خورا جدي او پوره توجه يې ورته درلوده تر دې چې يو وخت يې کوم کس د څه نامشروع کار له امله بندي کړی و، خو دده په ناخبرۍ کې د نوموړي مشر ورور پرته له اجازې له توقيف څخه خوشی کړی و، خو چې کله مولوي محمد ولي صاحب خبر شو نو د خپل ورور د بندي کولو امر يې وکړ چې هغه د حبس له ويرې له ښاره وتښتېد.

## د امريکا په خلاف جهاد او شهادت

د امريکايي يرغل نه وروسته او کله چې د اسلامي امارت ځواکونه د هيواد له لويو ښارونو ووتل مولوي محمد ولي صاحب يو ځل بيا پاکستان ته مهاجر شو.له څه موده مخفي ژوند نه وروسته يې يو ځل بيا د جهادي چارو په سمبالولو پيل وکړ تر دې چې د جهاد عملي ډګر ته يې مخه کړه.

حافظ محمد صاحب و ايي د مولوي صاحب له جهاد سره فوق العاده مينه وه، په ۲۰۰٦ ميلادي کال کې کله چې لومړی ځل د جهاد سنګر ته تلو نو دومره خوشاله و او داسې شوق يې درلود چې له ډيره شوقه يې وويل چې د بيت الله شريف حج ته مې هم والله که داسې زړه کيږي لکه د پاشمول ( په کندهار کې يوه جهادي سيمه ده ) جهادي سنګر او د الله په لاره کې جهاد ته . مولوي محمد ولي صاحب جهادي خدمتونه پيل کړل چې په دې لاره کې يې شهادت يو له سترو ارمانونو څخه و.

له شهادت نه څه موده وړاندې نوموړی د ژړې ولسوالۍ په سياچوی سيمه کې د خپلو وريرونو کور ته ورغلی و، هغوی ورته ويلي و چې دلته حالات خراب دي امريکايان حملې کوي، نو زمونږ مشوره داده چې لاړ شه خپل کور ته. خو مولوي صاحب په ځواب کې ورته وويل زه د جهاد او شهادت لپاره راغلی يم او زړه مې غواړي چې د الله تعالی په لاره کې مې بدن ټکړه ټکړه شي.





عجيبه دا وه چې څو ورځې بعد الله تعالی د مولوي محمد ولي صاحب همدغه هيله ور پوره کړه، د ژړې ولسوالۍ د پاشمول سيمې د رازمحمد خان په کلي کې د مجاهدينو په مرکز امريکايي الوتکو درومند بمبار وکړ چې په نتيجه کې يې د ۲۵ نورو مجاهدينو تر څنګ د ۱۴۲۷ هـ ق کال د ذوالقعدة الحرام د مياشتې په ۲۴ مه نيټه د پنجشنبې په شپه مولوي محمد ولي صاحب په شهادت ورسيد. انا لله وانا اليه راجعون

په دې بمبار کې د ډيرې شهيدو مجاهدينو جسدونه روغ او سالم و اما د مولوي محمد ولي صاحب په جسد باندې بم لګيدلی و نو ځکه يې بدن ټوک ټوک شوی و او په دې ډول د شهادت هيله يې پوره شوې وه.

## د نوموړي د شخصيت په اړه

شهيد مولوي محمد ولي صاحب د خپلو ملګرو تر منځ په ډيره تقوا او ديانت شهرت درلود. د نوموړي ملګری مولوي احمد الله مطيع صاحب وايي : مولوي محمد ولي صاحب يو پرهيزګار او مخلص سړی و، د فقر ژوند يې درلود، د جهاد او اسلامي نظام په لاره کې يې ډير مخلصانه خدمتونه سر ته ورسول او په همدې لاره کې د شهادت مقام ته ورسيد.

د نوموړي ورور قاري عبدالباري صاحب وايي: مولوي صاحب له کوچنيوالي او ځوانۍ څخه د تقوی او ديانت نمونه و. حتی په ځوانۍ کې يې ما عيش پرستي،بې ځايه خندا، ټوکې،عبث ګويي او د وخت ضايعه کول ترې نه دي ليدلي. تقوی يې طبعي وه، ډير زيات اذکار به يې کول او د تصوف د نقشبنديه طريقې مريد و. د وزارت په وخت کې چې د امارت لخوا کوم معاش ورکول کيده هغه ټول يې په کور کې نه مصرفاوو بلکې نيم يې واپس کاوو او د کور نيم مصارف يې له کورنۍ شتمني څخه پوره کول. ده به ويل چې ما ټول وخت د امارت کار ته نه دی ورکړی، بلکې نيم وخت په کور کې يم نوځکه بايد ټول مصارف هم د امارت له معاش څخه ونه کړم.

حافظ محمد صاحب وايي: مولوي صاحب د فقر او غربت ژوند درلود، سره له دې چې وزير و مګر په ژوند کې يې د اسايش په لحاظ کوم تغير ونه ليدل شو، يو وخت يې ويل چې له وزارت وړاندې مې راسره سرمايه ۱۳زره کلدارې وې مګر کله چې امارت سقوط وکړ او هجرت مې کاوو نو ۷ زره کلدارې شخصي بوديجه مې درلوده او په دې يې شکر کاوو چې د بيت المال له پيسو څخه يې شخصي پانګه نه ده زياته کړې.

قاري عبدالباري صاحب وايي: مولوي صاحب زما ورور او تر ما کشر و ، داسلامي امارت په مهال ما د خوست په ولايت کې وظيفه درلوده کله به چې کندهار ته خپل کور ته راغلم،نو دلته به د رخصتۍ په مهال په ښکار پسې تلم، يو وخت مولوي محمد ولي صاحب راته وويل چې که په ښکار پسې ځې نو د امارت د موټر تيل به نه مصرفوې او که موټر خراب شو هم په خپله به يې جوړوې ځکه دا تاته د رسمي وظائفو لپاره درکړل شوی دی نه د ښکار لپاره. له دې څخه معلوميږي چې مولوي محمد ولي صاحب د بيت المال د مصرف په برخه کې خورا ډير محتاط و او په دې برخه کې يې هيڅ خپلوي نه پالله او نه يې د چا لحاظ کاوو.

د نوموړي نږدې ملګري وايي: يو وخت په کابل کې يو عادي موټر چلوونکي مولوي محمد ولي صاحب په موټر وواهه، کله چې دغه موټر چلوونکی خبر شو چې د طالبانود حکومت وزير يې په موټر وهلی دی نو ډير وارخطا شواو د امنيتي چارواکو لخوا توقيف شو. مګر کله چې مولوي صاحب روغتون ته يووړل شو او را په حال شو تر هرڅه مخکې يې دا وويل چې هغه ډريور مو که بندي کړی وي آزاد يې کړئ زما لخوا ورته عفو ده او ښلی مې دی.

دا خبره ځکه ډيره د تأمل وړ ده چې له طالبانو وروسته د کرزي او اشرف غني په حکومتونو کې روزانه د لوړپوړو چارواکو لخوا عادي موټر چلوونکي، ترافيک يا پوليس له دې امله وهل کيږي، ټپيان کيږي او حتی وژل کيږي چې ولې يې دوزير يا





پارلمان د وکيل موټر ته لاره نه ده ورکړې او په دې ډول کبر جن چارواکي په مظلومو او بې وسه کسانو خپل فرعونيت تجربه کوي.

خو د اسلامي واکمنانو مثال داسې وي لکه مولوي محمد ولي صاحب چې که بل څوک پرې ملامت هم شي ورته عفو کوي او حتی عادي دعوا وربانديې نه کوي.

الله تعالی دې په شهيد مولوي محمد ولي صاحب باندې ورحميږي او دده برکات دې ددې په ورثه وو باندې کيږدي آمين يا رب العلمين.

❊ ❊ ❊

# دشهيد مولوي اخترمحمدعثماني صاحب ژوند او کارنامو ته کتنه

ليکنه: قاري سعيد

## زوکړه يې :

شهيد مولوي اختر محمد عثماني د مولوي نورمحمد زوي د مولوي عبدالله لمسی په ۱۹٦۵ ميلادي کال کې دهلمند ولايت دسنګين ولسوالۍ دجوشالي سيمې په يوه ديندارہ او علمي کورنۍ کې دې فاني نړۍ ته سترګې وغړولې.

## لومړنۍ زده کړه يې :

شهيد مولوي اخترمحمد عثماني خپلې لومړۍ دينې زده کړې له خپل والد صيب او دخپل کلي په مسجد کې پيل کړې ، وروسته په خپله سيمه کې دسنګين مشهورې مرکزي مدرسې ته لاړ او دغه وخت چې نومورې نوی ځوان و، دروسي يرغلګرو په وړاندې يې جهادي مبارزه هم پيل کړه. شهيد عثماني صيب د جهادي مبارزې او زده کړو ترڅنګ په سنګين کې ديادې مدرسې دنظامت چارې هم سمبالولې ، چې تر څو کلونو په همدې دندو بوخت و.

## لوړشرعي تحصيلات يې :

له افغانستان څخه دشوروي يرغلګرو ترتيښتې وروسته شهيد عثماني دخپلوزده کړو دپوره کولو په غرض ګاونډي هيواد پاکستان ته ولاړ اوهالته يې ، دپښتونخوا صوبې په مشهورو مدارسو کې دخپلو دينې تعليماتو ترلاسه کولوته ادامه ورکړه ،ترڅويې په کال ۱۴۱۵ هجري قمري کې دپښتونخوا صوبې له ستړې او مشهورې مدرسې دارالعلوم حقانيه څخه د حديثو دلويې دورې ترپوره کولو وروسته دفراغت سند ترلاسه کړ.





## دطالبانو له اسلامي تحريک سره يوځای کيدل

شهيد عثماني صيب په داسې مهال له خپلو لوړوشرعي زده کړوڅخه فارغ شو چې په ګران هيواد افغانستان په تيره کندهار ولايت کې دتنظيمي انارشيزم او ټولنيز هرج ومرج په وړاندې دطالبانو اسلامي تحريک نوی تأسيس شوی و.

کله چې شهيد عثماني صاحب ترفراغت وروسته دعلم له سفر څخه دهلمند ولايت سنګين ولسوالۍ کې خپل کورته دراستنيدو په حال کې و په لاره کې دکندهار ولايت سپين بولدک ته په رسيدو له يوه نوي هيله بښونکي بهير سره مخامخ شو اوهغه داچې تصادفا په همدې ورځ دطالبانو دنوي پيل شوي تحريک لومړنيو ځواکونودکندهار سپين بولدک او ويش سرحدي سيمې تازه ترخپل کنټرول لاندې راوستې وې.

شهيد عثماني صيب خپل ديني مسؤليت ته په پام سره له همدې ځايه دطالبانو له اسلامي تحريک سره ملګری شو ، چې بيا دشهادت تر لحظې په همدې دريځ او لاره مستقيم پاته شو .

## دطالبانو په اسلامي تحريک کې دشهيد عثماني پوځي او اداري فعاليت اومسؤليتونه

شهيد عثماني صيب دعاليقدرامیرالمؤمنين مرحوم ملا محمد عمر مجاهد V ډيراعتمادي اونږدي کس ؤ. په يولړخصوصي کارونوسربيره يې داسلامي امارت دواکمنۍ په مهال او وروسته دامريکايانو په خلاف دجهاد په مهال بيلابيلې مهمې جهادي دندې ترسره کړې او داسلامي امارت په چوکاټ کې يې ستر او نه هيريدونکي خدمتونه وکړل .

نومورې په پيل کې دکندهار دامنيه قومندانۍ مرستيال او وروسته دڅه وخت لپاره دکندهار امنيه قومندان وټاکل شو. له دې وروسته په کندهار کې ددوهم نمبر

قـول اردو عمـومي قومنـدان وټاکـل شـو او دامريکايـانو ديرغـل تروختـه يـې ترځلوروکالوپوري همدې وظيفې ته دوام ورکړ .

په دې لړ کې په مهمو فتوحاتو او جهـادي تشـکيلاتو کـې شـهيد عـثماني صـيب برخه درلوده ، په کابل کې د رباني د واکمنۍ په خلاف دتعرضـونو پـه مهـال نومـوړی دچهاراسياب په خط کې ډير وخت په دنده بوخـت و. وروسـته کلـه چـې دهـرات لـه لوړې تورن اسمعيل خان په هلمند حمله وکړه ، شهيدعثماني صيب لـه کنـدهار څخـه دسلګونو ملګرو سره يوځای دګرشـک دفـاعي کړښې تـه لاړ . پـه دې جګـړه کـې چـې اسمعيل خان سخته ماته وخوړه ، عثماني صاحب هم دهغـه کـاروان برخـوال و، چـې د دوو ورځو په ترڅ کې يې نيمرزو ، فراه او هرات فتحه کړل ، اود اسمعيل خـان مـوازي او خودسره واکمنۍ ته يې دپای ټکی کيښود .

په دې سربيره عثماني صيب دشمال دتصفيې په مهال هم په مختلفو سـيمو کـې خپله جهادي دنده تعقيب کړه. دوه ځله يې دځوځومياشتولپاره دبلخ ولايت سرپرسـتي وکړه اوهم يې د دره صوف او سنګچارک په جبهو کې دمسؤل په صفت دنده درلودله ، دمزار له فتحې وروسته دايراني ديپلوماتانو د وژنې پـه عکـس العمـل کـې چـې ايـران دافغانستان سرحد ته ځيرمه د (ذوالفقار ) په نامه پوځي مانورې او قدرت نمـايي پيـل کړه او په افغانستان دبريد ګواښ يې رامنځته کړ، اسلامي امارت دافغانستان دحـريم ددفاع په خاطر په سلګونو ځواکونه چې په دافع هوا او درنـو وسـلو سـمبال وو همـدې سيمو ته وليږل، تر څو دايـران داحـتمالي بريـد پـه مهـال دافغانسـتان سـاتنه وکـړي، داسلامي امارت ددې احتياطي دفاعي ځواکونو مشري هم دعثماني صيب په غاړه وه .

په افغانستان له امريکايي يرغل څخه دوه کاله وړانـدې شـهيد عـثماني صـاحب دهيواد شمالي صفحاتو ته دعاليقدر اميرالمؤمنين لخوا ديوځانګړي هيئـت دمشر پـه توګه لاړ، چې ديوې مياشتې هيئتې په مهال يې تقريبا دشمال لـه ټولـو ولايـاتو ليدنـه وکړه، له ټولو اولسونو او قومي مخورو سره يې له نږدې ليـدنې او ناسـتې وکـړې او پـه دې توګه يې دعوامو په تنوير او اعتماد خپلولو کې ستر خدمت ترسره کـړ . دنومـوړي





يو نږدې ملګری چې شمالي ولاياتو ته دنوموړي دهيئتې په سفر کې ورسره ملګری وو، وايي چې ددې سفر په مهال عثماني صيب تقريبا دشمال په ټولو سيمو راوګرځيده، هر ولس او کلي ته ورغی، داسلامي امارت داعيه او پروګرامونه يې هغـو تـه تشـريح کـړل، دخلکو پوښتنې، انتقادونه او مشورې يې په پوره اخلاص او زغم سره واورېدې او په دې توګه يې په خورا ښه ډول خپله وظيفه انجام کړه .

## دامريکايي يرغلګرو په خلاف جهادکې دشهيد عثماني پوځي رول

شهيد اخترمحمد عثماني صيب له امريکايي يرغل وروسته هـم پـه پـوره متانـت خپل جهادي مسير تعقيب کړ. نوموړي له امريکـايي يرغـل وروسـته پـه خـورا سـختو شرائطو کې دمجاهدينو د رايوځای کولو او تنظيم دنده پرمخ بيوله او په دې لړکې يـې ډير تکليفونه په ځان ومنل ، دامريکايانو په خلاف دجهادي مبارزې دتنظيم لپاره چـې دعاليقدر امير المؤمنين لخوا څوکسيزه عالي شورا جوړه شوه، شهيد عثماني صيب هم ددې شورا غړيتوب درلود او ورسره يې دهلمنـد پـه ولايـت کـې دمجاهـدينو عمـومي مسؤليت په غاړه و. نوموړي په بيلابيلو ملکي او نظامي برخو کې خپلوجهـادي وظـائفو ته ادامه ورکوله ،چې د د ۱۴۲۷هق ،ددوالقعده پـر ۲۸مـه مطـابق د ۲۰۰٦ م \۱۲\۱۸مـه نيټه دهلمند ولايت دبرامچې په سيمه کې ددښمن دجاسوسي الوتکې دبمبار په پايلـه کې په شهادت ورسيد . V تعالی

## دشهيد عثماني صيب علمي او جهادي شخصيت

شهيد مولوي اختر محمد عثماني صيب چې الله تعالی دسـيرت او صـورت دواړو ښيګڼې او ښايست پرې لورولی وو ، خورا دښو اخلاقوځښتن و .

عثماني صيب ميانه ونه، ښايسته ځيـره او معتـدل جسـامت درلـود. څنګـه چـې نوموړی په يوه علمي او ديني کـورنۍ کـې زيږيـدلی و نـو ديانـت داري او تقـوی يـې خاصيت ګرځيدلی و. دطالب العلمۍ دمهال ملګري دنوموړی دبـې سـاري ذهانـت او ځيرکوالي کيسې کوي له تعليم اوتعلم سره يې دومـره مينـه لرلـه چـې کلـه دکنـدهار

دقول اردو قومندان و له خپل ټول مسؤليت او زيات مصروفيت سره سره به يې له رسمي مصروفياتو وروسته دکندهار ښار په لوی مسجدکې چې په (سره جامع) سره مشهوره و اودکندهار هرات په لويه لاره قول اردوته نږدي واقع و طالبانو ته ديني کتابونه ويل او تدريس يې جاري ساته. دعثماني صيب کشر ورور چې د تعليم او جهاد په ډيرو دورو کې له نوموړي سره يوځای اوسيدلی وايي ، چې عثماني صيب په شخصي ژوند کې خورا تقوا لرونکی او په لږ څه قناعت کوونکی و. دبيت المال له شتمنيو سره يې بې کچې احتياط کاوه او کله يې هم بې ځايه او په شخصي مصارفو کې له شرعي ضرورت پرته نه مصرفاوو .

دنوموړي ورور وايي چې عثماني صيب د جهادي دندو او مسؤليت په ټول وخت کې کله هم دښه موټر ، ښه خوراک يا ښه ژوند او عيش د درلودلو کوښښ نه دی کړی او خپل نږدې ملګري يې هم له داسې څه څخه منع کول ، نوموړي به تل ويل ( ترڅو پورې چې زموږ وروڼه مجاهدين په مختلفو سيمو کې په غرو ، دښتو ، ځنګلو او نورو سختو سيمو کې دمشکلاتو سره لاس او ګريوان وي او سختې تيروي بايد هيڅوک هم د دنياوي ښه ژوند او عيش تمه ونه کړي، ځکه په داسې سختو شرائطو کې په دنياوي عيش او هوسونو کې مشغوليدل ، يقينا دمجاهدينو ، يتيمانو ، کونډو او دردمنو مسلمانانو له هيلو سره جفاکاري او بې پروايي ده )

په دې سربيره شهيد عثماني صيب خورا دټينګ عزم او لوړ توکل څښتن وو او په هرډول حالاتو کې يې يوازې په الله تعالی تکيه کوله ، کله چې دهيواد په سترو ښارونو دامريکايي بمبار په نتيجه کې داسلامي امارت واکمني پای ته ورسيده، نو دکندهار ښار له سقوط وروسته اکثره مجاهدين له خورا سخت حالت سره مخامخ شول ، ځکه هيڅ داسې مصئون لوری نه و، چې مجاهدينو پنا ورونړې وای ، په دې سختو حالاتو کې امريکايانو ، او په کندهار کې دهغوئ سيميزو ملګرو ديوه پخواني قومندان عبدالواحد( رئيس دباغران ) په واسطه عثماني صيب ته احوال وليږه، چې که





تاسو له وسلوالې مبارزې لاس واخلئ اودامريکايانو واکمني ومنئ، نو په امن کې به پاته شئ، که نه له ډير سخت انجام سره به مخامخ شئ .

عثماني صيب ددښمن ددې غوښتنې په مقابل کې خورا له ايماني غيرت نه ډک ځواب ورکړ او دباغران رئيس ته يې وويل چې ( جهاد په موږ فرض او زمونږ ايماني مسؤليت دی، داچې حالات داسې سخت شول، موږ خو څه له خپل ايمان څخه نه شو تيريدلای، تاسو که هرڅه کوئ ويې کړئ ، ما خدای ته پريږدئ )

دعثماني صيب يو نږدې ملګری چې له ده سره ډير وخت يوځای پاته شوی وايي، چې نوموړي دجهادي مبارزې دتنظيم او مجاهدينو داکمال او انسجام لپاره ډيرې زياتې منډې تړې وکړې ، او مختلفو سيمو ته يې دمجاهدينو او خلکو دليدلو لپاره سفرونه وکړل. دسيمې په سطحه يې ډيرو ديني عالمانو، طالبانو او عامو مسلمانانو ته دجهاد داعيه ورسوله ، چې په دې لاره کې ستړيا به يې دځان لپاره افتخار بلله .

نوموړی وايي چې يوه ورځ شهيد عثماني صيب راته وويل ( مجاهد که دخپلې مبارزې په مهال په يوه کار کې دکيدلو پنځه فيصده امکان ووينې ۹۵ فيصده نور بايد دالله تعالی نصرت او پيروزينې ته وسپاري او سمدستی اقدام پرې وکړي، چې همدې ته توکل وايي ) همدارنګه داسلامي امارت يو مشر مسئول او دعثماني صاحب نږدې ملګری دنوموړي داطاعت اوله جاه طلبۍ نه دکرکې په هکله وايي : کله چې داسلامي امارت دمشرتابه له لوري د عثماني صاحب پرځای ملامحمد رحيم اخند دهلمند مسئول وټاکل شو نوزه څه وخت وروسته دعثماني صاحب پوښتنې ته ورغلم په خبروکې مي ورته وويل چې گوره داله دندې لرې کول دربانديې درانه نشي اوڅوک دې خطاء نه کړي چې صاحب ته خو غټ سړی وې دا ولې داسې وشول چې له دندې يې لرې کړې. عثماني صاحب راته وخندل چې هووالله ځيني خلک راته را غلل او راته ويې ويل چې ته اوس هم زموږ مشر يې موږ ستا خبره منو چې ته هر ډول قومانده راکوې موږ يوازې هغه منو،مګر ما ورته وويل چې زه څوک يم چې تاسو زما خبره منئ اوس خو موزه امير نه يم ورشئ دخپل نوي ټاکل شوي والي صاحب او عمومي مسؤل چې زما

په ځای ټاکل شوی خبره ومنئ او دهغه اطاعت وکړئ او س مو شرعا هغه امیر دی او ټول به یوازې دهغه امر ته غاړه ږدو. عثماني صاحب وویل چې کله مې دا حالت ولید نو یوه مسجد ته ننوتلم څورکعته نفل لمونځ مې وکړ بیا مې الله تعالی ته په ډیره عاجزي سره سوال وکړ چې یا الله ته خومې په دې امتحانو کې کامیاب کړي له هغه وروسته مې دنوي والي صاحب پوښتنه وکړه چې چیري دی ځای مې پې معلوم کړ او سیده ورغلم په څنګ کې ورسره کښینستم ترڅو ورځو پوري چې به والي صاحب چیري کار کاوو زه به ورسره ناست وم او ګډ کار به مو ورسره کاوو ترڅومو مجاهدین ووینې چې نه کوم اختلاف شته اونه هم دابدلون کومه مهمه خبره ده. والي صاحب دې خیر یوسي په هر څه کې به یې له ماسره مشوره کوله او ما هم پوره همکاري ر ورسره کوله مجاهدینو چې به زه دنوي والي په څنګ کې لیدلم چې هغه به زما احترام کاوه او مابه دهغه همکاري کوله ځینې به حیرا نیدل او ډیر به خو شحاله کیدل بیا نو دهمدې ګډ کار برکت وو چې الله تعالی دهلمند جهادي کارونه نور هم پرمخ بوتلل او دلویې کامیابۍ سبب شول .

دهلمندولایت تر مسئولیت وروسته بیا شهید عثماني صاحب داسلامي امارت داقتصادي کمیسیون درئیس په حیث وټاکل شو چې په دې کار کې یې هم په ښه اخلاص او امانت داري سره خدمت وکړ .

عثماني صاحب خورا لوړ او حسنه اخلاق لرل چې څوک به ورسره مخامخ شو نودده له ښه چلندنه به یې دا خیال کاوو چې زه به دعثماني صاحب په ډیرو نږدې ملګرو کې یم . نوموړي له خپلو استادانو،شاګردانو، ملګرو او ټولو شناخته ؤسره خورا ښه راشه درشه درلوده وخت په وخت به یې په ټولو پوښتنه کوله خصوصا دسختۍ په وخت کې به یې هغوی ته لاس ور کاوه ،چې څوک به سره خفه یا مخالف وو دهغوی دخوشحالي او نزدیکت کوښښ به یې کاوه او په دې کار کې خورا بر یالی هم و.

دشهیدعثماني صاحب وروراوالوفا چې ډیر وخت په علمي او جهادي ژوند کې له عثماني صاحب سره ملګری پاته شوی وایې: یو وخت عثماني صاحب ته یو تجار





راغی څلورلکه روپۍ یې ورکړې چې دا ستا شخصي د کوردي او دوه ویشت لکه یې نوري دمجاهدینو لپاره ورکړې ،بیا ده ما ته وویل چې دادرواخله زما زړه ډیر خوشاله سو ځکه چې په کورکي ډیره مجبوري وه. په داسبا یې بیا زنګ راته وواهه چې هغه څلورلکه ملا داروخان مشهورپه ملا شیرین ته ورکړه چې مجاهدینو ته کوټونه پرې واخلي،ماورته وویل چې تا دهغه سړي خبره نه واوریده چې دا ستاشخصي دکور لپاره دي. ده راته وویل چې ما او تا چې په پیښورکي سبقان ویل ولي چاپیسې نه راکولې؟ ګرچه زه ډیر ورسره تینګ شوم خوراسره یې نه منله، بیا مې هغه کس ته چې ده را ښو دلی و ورکړې.

یووخت ده دجهاد په سلسله کي یوخطرناک کارکاوه ماورته وویل چې په کوم ځای کي چې ته داکارکوې داخلک خو له دې کارسره مخالف دي او ته یې کوې نو څه اطمینان لرې که نه ؟ ده په جواب کي راته وویل وروره دین قرباني غواړي.

ده به ماته همیش دا خبره کوله چې په بیت المال کي احتیاط کوه.

یووخت مې په سفرکي داوبو بوتل راواخست ،کله چې هغه اوبه ختمې سوې،ماورته وویل چې یو بل داوبو بوتل به راواخلو ده راته وویل چې نه مخته به همدا بوتل له ساده اوبو راډک کړو بل په پیسو مه اخله.

دده کوشش داوو چې هرڅوک جهاد کوي باید دامارت په چوکاټ کي وي،او په یوه صف کی متحدانه جهادوکړي.

د شهید عثماني پلار مولوي نور محمد صاحب چې جید عالم و د جهاد په موضوع د تحفة المجاهدین په نوم کتاب لیکلی چې په یوه برخه کې یې د عثماني صاحب د شخصیت په اړه هم لیکنه کړې او نوموړی یې دحق د لارې واقعي مجاهد بللی دی.

## او بالآخره شهادت یې

وړاندې وویل شول ، چې دامریکا په مشرۍ دکفاروله لوري دافغانستان تراشغال وروسته عثماني صیب دهلمند ولایت لپاره عمومي جهادي مسؤل په توګه ټاکل شوی

و، نوموړي په هلمند کې دجهادي عملياتو د نظم او انکشاف لپاره خورا ډيرې سترې تبرې کړې ، چې په برکت يې هلمند دافغانستان په سطحه دمجاهدينو په يوه قوي مرکز او ديرغلګرو لپاره په هديره بدل شو، دغه راز په نورو ملکي او نظامي بخشونو کې هم عثماني صيب يو فعال او مؤثر شخص و، چې په کارونو کې دخوښت پيداکولو او ابتکار ښه مهارت يې درلود.

دشهيد عثماني صيب پرنفوذ او راښکونکي شخصيت دغه راز سياسي او جهادي مخورتوب او مؤثريت ته په پام سره نوموړی داسلام ددښمنانو له لوري تر ډير تعقيب لاندې و ، چې بالاخره دالله دلاري دا رښتينی خدمتګار د ۱۴۲۷هق ،ددوالقعده پر ۲۸مه چې د ۱۳۸٦ هـ ش د قوس له ۱۴ سره سمون خوري ، دهلمند ولايت د ديشو ولسوالۍ دبرامچې د ګوليګل په سيمه کې کله چې له خپلو پنځو تنو مجاهدو ملګرو سره دماسپښين دجماعت په لمانځه ولاړ وو، ددښمن دبې پلوټه جاسوسي الوتکې دتوغندي په ګوزار ولګېد اوله ملګرو سره په شهادت ورسيد ، چې وروسته يې جسد همدلته په برامچه کې د ډيرو نورو مسافرو او ګمنامو شهيدانو په يوه مبارکه هديره کې خاورو ته وسپارل شو . دشهيد عثماني صاحب ترشا دری زامن او دوه لونې پاته دي ، الله تعالی ته سوال کوو، چې دنوموړي برکت يې په زامنو باندې کيږدې، ترڅو ددين او اولس همداسې سپيڅلي او مخلص خادمان ترې جوړ شي .

رحمه الله تعالی

* * *





## د شهيد مولوي عبدالحنان جهادوال ژوند او کارنامو ته کتنه

ليکنه: قاري سعيد

هغه زلمی چې دکندهار دخاکريز په يوه ديندارە کورنۍ کې وزيږېد، مور او پلار يې ديني زده کړو ته وقف کړ خو ده په پنځلس کلنی خپل درسي کتاب ونغښت او په پټه جهاد ته لاړ ، په لومړۍ مرحله کې مجاهدينو دکم عمرۍ له وجې له جهادي صف څخه ستون کړ، خو وروسته يې کم عمر د جهادي جذبې په وړاندې خنډ نه شو او دکندهار په ارغنداب کې يې د شوروي لښکرو په وړاندې نه سترې کيدونکي مبارزه پيل کړه. مګر کله چې شورويان مات شول دنوموړي جهادي تنده لا هم نه وه خړوبه، نوځکه يې په کمونيستي کفر پسې پل واخيست ، جهادي روح يې لالهانده وجود په نوې لاره روان کړ ، دافغانستان له پولو واوښت او دماوراء النهر په تاجکستان کې يې د کمونيزم په خلاف جهاد پيل کړ، تر دوه کلن جهاد وروسته يې په افغانستان کې دفسادپه خلاف دپيل شوي جهاد ملګرتيا وکړه ، دشيشان ، ماوراء النهر ، عربي نړۍ ، افريقا او دنړۍ دهرې برخې له مهاجرو مجاهدينو سره ملګری پاته شو او کله چې امريکايان په دې هيواد راغلل، يوځل بيا يې په نوې روحيه جهاد ته کارووايه . دزابل ، کندهار او هلمند په اوارو او غرنيو سيمو وګرځيد،له دښمن سره په بيا بيا وجنګېد، ترڅو يې سترې وجود هغه وخت د نه سترې کيدونکي روح له بوجه سپک شو چې دهلمند په ګرشک کې يې له تهجدوروسته ددعاء په مهال داوسيدو په مېنه امريکايي بم ولګېد او دشهادت جام يې ګوټ کړ . شاعر رښتيا ويلي:

اذا کانت النفوس کبارا
تعبت في مرادها الاجسام

دمولوي عبدالحنان روح زموږ دنورو مجاهدينو غوندې له څو لسيزې سترياوو ، مزلونو ، شهادتونو او هجرتونو سره سره سترې نه شو او نه يې هم مقاومت او حوصله له لاسه ورکړه ، بلکې هغه وخت ارام شو کله يې چې غوښتن وجود د کروز په پرخچو ولګېد، ونړېد او دجهادي روح له ګرځولو بې سيکه شو. هوکې دسترو ارواحو وصف هم دادی ، چې تل وجود ته شکست ورکوي ، او تن يې په وړلو ستومانه کيږي او مقاومت بايلي .

## پيدايښت او دوژوند ابتدائي مراحل

عبدالحنان جهادوال په۱۳۸۴ هـ ق/ ۱۹۶۴ ميلادي کال د افغانستان دکندهار ولايت دخاکريز ولسوالۍ د (لام ) سيمې په اټلي کلي کې وزېږېد ، دپلار نوم يې محمدابراهيم و، دوی دپښتنو له ( توخي ) قوم سره تړاو لري ، او کورنۍ يې په سيمه کې په ديندارۍ او نيک کردار سره شهرت درلود.

عبدالحنان لا ماشوم و چې پلار يې ددينې زده کړو لپاره په يوه سيميزه مدرسه کې شامل کړ، نوموړي په خپل کلي او نږدې سيمو کې ديني کتابونه لوستل، چې تر پنځلس کلنۍ پورې يې په خپله سيمه کې ديني زده کړو ته دوام ورکړ، نوموړی دزدکړو خورا پوخ استعداد درلود او په لږه موده کې يې خورا ډير علم ترلاسه کړ .

په جهاد پسې له کوره وتل

هغه مهال چې عبدالحنان نوی دځوانۍ په پراو ورګډيده په افغانستان کې دکمونيزم او شوروي يرغل په خلاف مسلح جهاد پيل شوی و. نوموړی چې نه ماتيدونکې جهادي تنده يې درلوده ، يوازې دې ته انتظار و چې د عمر له لحاظه دجهاد وړ شي، خو نوموړی لاپوره دځوانۍ مرحلې ته نه و رسيدلی چې جهادي جذبه وربانديې غالبه شوه. نوموړی ۱۵ کلن و چې دجهاد په نيت له خپلې سيمې هلمند ولايت ته لاړ، په هلمند کې دمجاهدينو ډيرو جبهاتو ته ورغی خو مجاهدينو ځکه ورسره شامل نه کړ چې عمر يې کم و. نوموړی بيرته خپلې سيمې ته راستون شو، خو





وروسته بيا دکندهار ارغنداب ولسوالۍ ته لاړ او هلته يې دطالبانو په يوه مشهوره جبهه کې دملاشيرين اخند ترسرپرستۍ لاندې جهادي دنده پيل کړه .

مولوي عبدالحنان هغه مهال که څه هم دعمر په لحاظ کشر و، خو علمي او جهادي استعداد يې خورا لوړ و. نوموړي دجهاد په ټوله موده کې نه يوازې په خپله ديني زده کړې کولې بلکې نورو مجاهدينو او ملګرو ته يې هم کتابونه تدريسول او په دې توګه يې له جهاد سره سره علمي افاده او استفاده هم روانه وه .

## دکمونيزم په خلاف جهاد

مولوي عبدالحنان جهادوال په کندهار کې لومړی جهاد دملامحمدشيرين اخند په جبهه کې پيل کړ، وروسته يې په ځينو نورو جبهاتو کې هم جهادي خدمت وکړ او په پای کې يې خپله دمجاهدينو ديوه ګروپ سرپرستي په غاړه واخيسته .

په ارغنداب کې دجهادپه وروستيو مراحلو کې دنوموړي ملګري زياتره هغه عرب، شيشاني او ازبک مجاهدين وو چې د کمونيزم په خلاف دجهاد لپاره افغانستان ته راغلي وو، له همدې ځايه له مهاجرو مجاهدينو سره دمولوي عبدالحنان جهادوال انډيوالي پيل شوه ، تردې چې دعمر ترپايه يې له عربو او نورو مهاجرو مجاهدينو سره خورا نږدې ملګرتيا درلوده .

په ارغنداب کې دجهاد په مهال مولوي عبدالحنان جهادوال دوه ځله ټپي شو، يوځل چې نوموړی دشوروي عسکرو دهاوان دمرمۍ دلګيدو له امله په پرخچو باندې په نس کې ولګيد، ټپ يې خورا خطرناک و ددې ټپ له امله نوموړي ته ډاکټرانو پلاستيکي کولمې پيوند کړې خو دې ټپ هيڅکله هم دنوموړي جهادي عمل ضعيف نه کړ بلکې همېشه يې خورا درندې او سترې جهادي دندې سرته رسولې .

مولوي عبدالحنان جهادوال کلونه کلونه په کندهار کې خپله مقدسه جهادي وظيفه سرته ورسوله او کله چې شوروي يرغلګرو او ملګرو يې شکست وخوړ، نوموړی په منځنۍ اسيا کې په پيل شوي جهادي خوځښت کې دګډون لپاره منځنۍ اسيا ته

لاړ، نوموړي دوه کاله دماوراء النهر په سيمه کې په جهادي صفوفو کې تير کړل . دنوموړي ددې جهادي ژوند په اړه ډير معلومات نشته خوهغه څه چې دده ملګرو ته معلوم دي ، وايي چې مولوي عبدالحنان جهادوال صاحب ددې جهادي سفر په مهال په تاجکستان او آذر بايجان هيوادونو کې دکمونيستانو په خلاف په جهادي عملياتو کې برخه واخيسته، ددې جهادي سفر په مهال هم په تاجکستا ن کې شهيدجهادوال صاحب يوځل ټپي او يوځل دروسي عسکرو لخوا نيول شوی و، چې په زندان کې شوروي عسکرو سختې شکنجې هم ورکړې وې، خو الله تعالی په خپل فضل سره له دې ټولو امتحاناتو بريالی راويوست .

ددې جهادي سفر په مهال نوموړي نه يوازې ديوه مجاهد په حيث په جهادي عملياتو کې ونډه اخيسته بلکې دمجاهدينو ديوه تربيوي معسکر مشري يې هم په غاړه درلوده، شهيد جهادوال صاحب له دوه کلونو وروسته افغانستان ته راستون شو .

## په اسلامي امارت کې خدمت

کندهار ته له راستنيدو وروسته شهيد جهادوال صاحب لومړی دکندهار د دامان ولسوالۍ دخوشاب په سيمه کې ددييني زده کړو يوه مدرسه جوړه کړه او ددييني طالب العلمانو په روزنه يې لاس پورې کړ. وروسته نوموړي له همدې سيمې خپلې پلرنۍ منطقې د خاکريز لام سيمې ته لاړ او هلته يې ددييني زده کړو تدريس ته دوام ورکړ .

په دې مهال دهيواد زياتره سيمې داسلامي امارت دځواکونو لخوا فتحه شوې وې او ځرنګه چې داسلامي امارت دواکمنۍ او حکومت د چلښت لپاره استعدادونو ته ضرورت و، مولوي عبدالحنان جهادوال صاحب دامیرالمؤمنين ملامحمد عمر مجاهد لخوا وغوښتل شو او په اسلامي امارت کې په خدمت وګمارل شو. نوموړی په هرات کې دافغانستان دشمال لويديځو ولاياتو د تنظيمه رياست مرستيال او په همدې حوزه کې دمهاجرو مجاهدينو مشر وټاکل شو. په هرات کې دنوموړي دملګرو مرکزي قرارګاه په باغ اسلامي سيمه کې وه خو نوموړی به خپله زياتره وخت قول اردو ته نږدې





په يوه ودانۍ کې اوسيده دامهال دنوموړي ترسرپرستۍ لاندې ګڼ شمير مهاجرو مجاهدينو جهادي دنده اجراء کوله چې له جملې څو تنه پيژندل شوې څيرې لکه ابومصعب الزرقاوي او أبومحمد هم وو، دوی زياتره دافغانستان دشمال په مختلفو جهادي ليکو کې دنده اجراء کوله .

## امريکايي يرغل او په وړاندې يې جهاد

دامريکا تريرغل وروسته کله چې مجاهدين دافغانستان له ښارونو څخه ووتل مولوي عبدالحنان جهادوال صاحب هم دخپلې سيمې په خوا ستون شو. نوموړي خپل ټول جهادي امکانات چې مختلفې وسلې او وسائل په کې شامل وو، هم کندهار ته له ځانه سره راوړل او په دې سيمه کې يې دامريکايي يرغلګرو په خلاف دجهادي فعاليت په تنظيم لاس پورې کړ .

نوموړی تردې وړاندې يوه اندازه وسلې په ځينو مخلصو خلکو ددې لپاره ويشلې وې ترڅو دامريکايانو په خلاف جهاد ته ادامه ورکړي. کله چې خپله کندهار ته راغلی نو په کندهار او زابل کې يې له جهادي قومندانانو او بااحساسه خلکو سره ليدنې کتنې پيل کړې او ددې لپاره يې دهيوادنورو سيمو ته هم سفرونه وکړل، ترڅو دجهادي خوځښت په ګټه افکار او امکانات اماده کړي .

له څه مودې ګرځيدلو وروسته نوموړی دزابل دايچوپان ته لاړ او هلته يې دنورو مجاهدينو په مرسته يو مخفي جهادي مرکز جوړ کړ، خو دغه وخت څرنګه چې نوموړی امريکايانو ته ډير مطلوب و دوه ځله يې امريکايانو په کور چاپه ووهله ، خو نوموړي ته الله تعالی نجات ورکړ . تردې وروسته يې دده غوندې کور هم ناکراره شو، لومړی دکندهار ښار ته وکوچيدل خو کله چې هلته وربانديې ګوزاره سخته شوه نوبيا دزابل ولايت د مرکز مربوط دسينک په سيمه کې ميشت شول چې څوکلونو يې هلته تير کړل، خو په دې ټوله موده کې نوموړی په جهادي سفر و او ډير لږ به کورته راتلو، دنوموړی دکورنۍ يو غړی وايي دمولوي صاحب ټول ژوند که لس برخې کړو، نو شايد

يوازې يوه برخه يې په کور تيره کړې وي او نورې نهه برخې ژوند يې له کوره بهر په جهادي ستړيو کې تير شوی دی .

## په کندهار کې دجهادي مرکز تاسيس

په افغانستان دامريکايي يرغل دريم کال و چې مولوي عبدالحنان جهادوال صاحب دځو تنو نورو ملګرو په مرسته دکندهار دخاکريز ولسوالۍ دخنجکتو( Khanjakto ) په غرنۍ سيمه کې لومړنی مخفي جهادي مرکز جوړ کړ. دا جهادي مرکز دغرونو په يوه لرې پرته سلسله کې جوړ شوچې وروسته په بيا بيا تغير او پراخ شو او دجهادي عملياتو ديوې مهمې هستې رول يې ولوباوو. ددغه مرکز لومړنی دميشت ځای له بوټو او د ونو له ښاخونو جوړه شوې يوه خارګاه وه، چې مولوي جهادوال صاحب په خپله د يوه کمره له بيخ سره جوړه کړې وه. په پيل کې دخوراک هيڅ انتظام نه و او دخوراکي موادو دراوړلو لپاره به مجاهدينو په پټه ۳ ساعته مزل کاوو ترڅو هواړې ته لاړ شي، حتی ډير ځله به مجاهدينو دخوراک لپاره دغرنيو بوټو له پاڼو او بيخونو استفاده کوله .

دخاکريز په غرنيو سيمو کې همدا مخفي مرکز چې وروسته په کې مجاهدينو تربيوي او دسوق الجيش فعاليت هم پيل کړ، په کندهار کې دجهاد له مهمو مراکزو حسابيږي. له همدې مرکز څخه په پيل کې مجاهدينو په خاکريز سربيره دامان ، شاوليکوټ ، نښ او دروزګان دهراوو ولسوالۍ ته تشکيلات کول او دعملياتو لپاره يې کوچنۍ ډلې استولې. خو وروسته دغه عملياتي ساحه نوره هم پراخه او حتی تر هلمنده ورسيده، تردې چې دهمدې مرکز مجاهدين چې عمومي سرپرستې يې دمولوي جهادوال صاحب په غاړه وه، په ګرشک ، سنګين ، ژړۍ او ميوند کې هم جهادي عمليات سرته رسول. دافغانستان دجنوب له مختلفو سيمو څخه به مجاهدين همدې مرکز ته راتلل، چې ځينو به جهادي تربيه حاصلوله او يو شمير به يې دجهادي هدايتو لپاره راتلل .





دغه جهادي مرکز چې دخاکريز په غرونو کې يې موقعيت و او څو ځله يې ځای بدل شو، امريکايانو ورباندې دوه ځله سخت عمليات ترسره کړل، خو دواړه واري له سخت شکست سره مخامخ شول. لومړی ځل عمليات چې دوه تنه مجاهدين په کې شهيدان شول ، مرکز ته يې ډير تاوان ونه رساوه، خو دوهم ځل ستر عمليات چې دری ورځې يې دوام وکړ، د مجاهدينو د مقاومت له املې دواړو خواوو ته درانه تلفات واوښتل. په دې جګړه کې چې مولوي صاحب مجاهدين په دريو برخو تقسيم کړي وو او په مختلفو سيمو کې له دښمن سره وجنګيدل دمولوي صاحب دملګرو له جملې ۱۰ تنه شهيدان او ۲۲ کسه ټپيان شول او يو تن ملګری ژوندی امريکايانو ته په لاس ورغی ، په دې جګړه کې ۱۲ تنه خارجي عسکر هم له منځه لاړل .

په همدغو ابتدايي مراحلو کې که له يوې خوا مولوي عبدالحنان صاحب دهمدې جهادي مرکز په برکت دکندهار په ټولو سيمو کې جهادي خوځښت ته نوې روحيه ورکړه، له بلې خوايې خورا زيات لوی او واړه جهادي عمليات هم ترسره کړل. په ابتدايي شيبو کې په وړو روزمره عملياتو سربيره يوه کاميابه جګړه دنښ ولسوالۍ د دره نور په سيمه کې وشوه، چې مجاهدينو دکمين په ترڅ کې دامريکايي يرغلګرو دوه ټانګونه او يو دداخلي اردو رينجر مکمل له منځه يووړل او تر شلو تنو ډير خارجي او داخلي عسکر يې ووژل .

## په نورو سيمو کې جهادي فعاليت

د ۲۰۰۵ کال په ترڅ کې هغه مهال چې جهاد علني شوی و او دکندهار په شمالي او جنوبي سيمو کې مجاهدينو په عملياتو لاس پورې کړی و ، مولوي عبدالحنان صاحب دکندهار او هلمند په نورو سيمو کې جهادي عمليات پيل کړل. په دې مهال نوموړی داسلامي امارت دمشرتابه لخوا دعمومي نظامي کميسيون دمرستيال په حيث ټاکل شوی و، چې زياتره وخت به يې دکندهار او هلمند په جهادي مراکزو کې تيراوو. په دې مهال دنوموړي ډير ملګري دکندهار په ژړۍ ولسوالۍ کې په جهادي خدمت

بوخت وو، هغه وخت داسيمه دهيواد دجنوب په سطحه دجهاد له وتليو سيمو څخه وه دغه راز په ميوند ، غورک او گرشک کې يې هم جهادي وظايف سرته رسول .

په ژړې کې نوموړي له امريکايانو سره څوځله خورا سخت جنگونه وکړل او امريکايي ځواکونو ته يې خورا درانه تلفات واړول، له همدې امله امريکايي ځواکونو په نوموړي پسې شول او دده وژلو لپاره يې په سختوهڅو پيل وکړ .

د ۱۴۲۷ هـ ق کال دشعبان په ۱۸ نيټه امريکايي ځواکونو دخپلو هڅو له مخې دکندهار په پاشمول کې دمولوي عبدالحنان صاحب مخفي قرارگاه کشف کړه، چې وروسته يې دکروز توغندي بريد پرې وکړ، په دې بريد کې دمولوي عبدالحنان صاحب د وراره او نائب گل محمد په شمول دنوموړي ۱۹ تنه جهادي ملگري شهيدان او ۱۱ نور ټپيان شول ، خو داچې مولوي عبدالحنان صاحب دا مهال په خپل مرکز کې نه وو الله تعالى نجات ورکړ .

خوله دې بريد سره سره په نوموړي پسې امريکايي دښمنان سخت متوجه وو او هره شيبه يې هڅه کوله چې دنوموړي څرک ومومي او بريد ورباندې وکړي .

## دشهادت پينښه

وړاندې وويل شول چې دمولوي صاحب جهادي مصروفيت ترډيره دهلمند او کندهار په مختلفو سيمو کې و چې له دې جملې د هلمند په گرشک ولسوالۍ کې نوموړي ډير وخت جهادي دنده اجراء کوله . د ۲۰۰۷ م کال په لومړيو کې هغه وخت چې مولوي عبدالحنان صاحب دهلمند په گرشک ولسوالۍ کې په جهادي خدمت بوخت دامريکايانو لخوا يوځل بيا دنوموړي دهدف گرځولو هڅې پيل شوې ، لومړی ځل دگرشک په زمبيلي سيمه کې امريکايانو دمولوي صاحب داوسيدو په سيمه چاپه واچوله چې مولوي صاحب ورسره دنورو ملگرو په ملتيا مقاومت وکړ ، په دې جگړه کې نوموړي امريکايانو ته هم تلفات واړول، خو دامريکايانو په بريد کې دنوموړي ۹ تنه





ملگري مجاهدين شهيدان او ۳ ټپيان شول ، خو خپله مولوي صاحب ددښمن له محاصرې څخه روغ رمټ ووت .

په راتلونکې شپه ۲۷/۱/۱۴۲۸ هـ ق / ۱۵/۲/۲۰۰۷ م چې دچهارشنبې شپه وه ، په داسې حال کې چې مولوي صاحب په همدې سيمه يعني دهلمند دگرشک په زمبيلي کې په يوه اطاق کې و، دنوموړي ملگري وايي چې مولوي صاحب دتهجد لمانځه ته پورته شوی وو او له لمانځه وروسته په دعاء بوخت وو، چې ناڅاپه امريکايي الوتکو همدا اطاق په نښه کړ او په پرلپسې بم غورځولو يې مولوي صاحب له ۴ نورو کسانو سره يوځای په شهادت ورساوو .

انا لله وانا اليه راجعون

دمولوي عبدالحنان صاحب نږدې ملگری حافظ محمد چې ډيروخت يې له مولوي صاحب سره نږدې تير کړی وايي ، چې مولوي صاحب ترشهادت لږ وخت مخکې راته دخپل شهادت زيری راکړی و، چې دده له خبرې سره سم کټ مټ رښتيا وخوت .

ترشهادت وروسته دمولوي عبدالحنان صاحب جسد خپل کلي ته انتقال شو او دکندهار دخاکريز ولسوالۍ د اټلې په کلي کې خاورو ته وسپارل شو .

له مولوي صاحب څخه د محمد ناصر ، أنس او ضرار په نامه دری زامن او څلور لونې پاته دي ، دامريکا ضد جهاد کې دده د کورنۍ دوه نور غړي وريرونه ( گل محمد او عبيده ) هم په شهادت رسيدلي او کورنۍ يې له جهادي جذبې سرشاره کورنۍ ده .

دمولوي عبدالحنان جهادوال صاحب ژوند او خاطرې

دکندهار اوسيدونکی حافظ محمد چې دمولوي عبدالحنان صاحب له نږدې او رازدارو ملگرو څخه شميرل کيږي، کله مې چې دمولوي صاحب د ځاني صفاتو، اخلاقو اواستعداد په اړه تړې وپوښتل، نوموړي وويل مولوي صاحب يو جامع سړی و مطلب داچې دعلم، تقوی، ديانت، زغم، استقامت، شجاعت، صبر، توکل او هره اړخه مولوي

صاحب خورا ژور استعداد درلود، خو ترټولو ښکاره صفت يې استقامت وو چې په هيڅ حال کې يې حوصله له لاسه نه ورکوله .

حافظ محمد وايي په جهاد کې بيلابيل تکاليف راتلل ، اقتصادي ستونزې، دځای نشتوالی، دخوراک نشتوالی، ددښمن فشار او نور قسماقسم تکاليف خو الله تعالی ديوه رښتيني مجاهد په صفت مولوي صاحب ته داسې استقامت ورکړی و، چې هرډول امتحاني حالت کې به نورمال و او دوارخطايي او زغم بايللو نښې به په کې نه څرګندیدې .

د زابل ولايت لپاره داسلامي امارت جهادي مسؤل ملاشرف الدين تقي چې ډير وخت يې له مولوي جهاد وال صاحب سره نږدې تير کړی وايي: مولوي صاحب خورا ډيره استغناء درلوده او کوښښ يې کاوو چې مجاهدين متوکل ، مستغني او له مادياتو څخه بې پروا روږدي کړي. مولوي صاحب به هميشه ويل چې هيڅکله په جهادي کار کې په دنيا او دنيادارو پورې زړه مه تړئ، دهر کس او ناکس څخه دمرستې پيسې مه اخلئ ځکه په دې سره جهادي برکت له منځه ځي، يوازې له مخلصو او صالحو دنيادارانو څخه د جهاد لپاره کومک اخلئ .

حافظ محمد هم همدا خبره کوي نوموړی وايي: په خاکريز کې په غرني مرکز کې داوسيدو په مهال يو وخت مجاهدين له سختو اقتصادي مشکلاتو سره مخامخ وو، تردې چې دومره څه يې نلرل چې خوړلي يې وای او دخوراک لپاره يې د غره له بوټو لکه ښيزو او نورو استفاده کوله، خو په دې وخت کې يو سړی مرکز ته راغی او شل زره روپۍ يې مولوي صاحب ته دمرستې په حيث وړاندې کړې، مولوي صاحب چې داسړی پيژاند چې مخلص نه دی او له دې مرستې يې يو دنياوي غرض شته، نو دخپل هميشني عادت له مخې يې مخامخ ښه عزت ورکړاوښه ميلمه پالنه يې ورسره وکړه، خو په پای کې يې ورته وويل چې مورږ داوس لپاره دغو پيسو ته ډير ضرورت نلرو، بل ځای کيدای شي ترمورږ محتاج مجاهدين وي، نو ښه به دا وي چې دامرسته هغوی ته





وروړې، هغه سړی چې يوازې له مورږ څخه دغرض حاصلولو په حيث راغلی و، دمولوي صاحب په دې خبره حيران پاته شو او همداسې بينوا لاړ .

ملاشرف الدين تقي وايي مولوي صاحب به هر ډول شرايطو کې کوښښ کاوو چې دمجاهدينو حوصله لوړه وساتي، او د مادياتو په نسبت ورته معنوياتو ډير ارزښت درلود. نوموړی وايي : يوځل له عراق څخه دعراقي مقاومت وتلي مشر- شهيد أبومصعب الزرقاوي چې دمولوي عبدالحنان صاحب دشاګردی. شرف يې درلود د عراق د جهاد دمشری. په مهال يې له مولوي صاحب سره د ځانګړي قاصد په توسط مکاتبه درلوده او مولوي صاحب ته به يې په ليک کې د ( والدي الاستاذ ) خطاب کاوو، مولوي صاحب ته يې د ټيلفون له لارې وويل چې که ستاسو نقدي مرستې ته ضرورت وي، نو له ماسره څومیليونه ډالر شته کولای شم مرسته درسره وکړم، خو مولوي صاحب په داسې حال کې چې خپله له سختو اقتصادي مشکلاتو سره مخامخ و، ورته وويل چې نه الحمدلله مورږ هرڅه لرو هيڅ مرستې ته مو اړتيا نشته، مجاهدين مو له هره لحاظه پوره دي .

خو کله مې چې له مولوي صاحب څخه ددې خبرو وضاحت وغوښت ، هغه وويل چې دعراق مجاهدين اوس په مقاومت اخته دي او دافغانستان جهاد هم ددوی حوصله لوړه ساتي، که مورږ په هرحالت کې يو خو دوی زمورږ په مقاومت ډير مورال اخلي، که مورږ له دوی نه دمرستې تمه وکړو، نو کيدای شي دوی ووايي چې دلته مجاهدين په څومره ضعيف حالت کې دي چې له بل جهادي صف څخه مالي مرسته غواړي، نو ښه داده چې مورږ دوی ته داسې دضعف انځور ورنه کړو، بلکې ځانونه قوي وښيو ترڅو ددوی مورال نور هم قوي شي .

ښاغلی تقي وايي مولوي صاحب مجاهدين داقتصادي مشکلاتو په حالت کې هم په لوړه روحيه ساتل او له اقتصادي ستونزو يې نه خبرول او ددې لپاره يې بيلابيل چلندونه کارول، مثلا که کله به اقتصادي مشکلات وو او دڅه شي داخيستلو پيسې به نه وي، مولوی صاحب به چې په مرکز کې کوم ځای ډوډی، شريني يابل خوراکي شی

ولید چې مجاهدینو بې ځایه ایښی، یا ډوډۍ اضافه شوې، نو به یې ویل چې تاسو مصارف او بې پروایي زیاته کړې او دا مو جزا ده چې په تاسو شریني بنده ده او یا به یې ډوډۍ کمه کړه .

دنوموړي ملګري وایي مولوي صاحب په شخصي تقوی کې هم خورا غښتلی و، دده ملګرو او خپل اعتراف له مخې نوموړي له پنځلس کلنۍ نیولې بیا په ۴۵ کلنۍ کې تر شهادته د ۳۰ کاله په موده کې له اسثنایي حالاتو پرته تهجد نه و قضا کړی ، ملګري یې وایي حتی که به دشپې په وروستۍ برخه کې هم ویده شو تهجد ته پاځیده ، او خپل ملګري یې هم همیشه تهجد ته هڅول .

دمولوي صاحب بل خصوصیت له مطالعې سره شوق و، په سفر حضر او او هرډول جهادي حالاتو کې به له نوموړي سره ضرور څو کتابونه وو، چې مطالعه کول به یې. دنوموړي ډیر مینه داسلامي تاریخ، سیر او احادیثو له کتابونو سره وه ، سورت الانفال او سورت التوبه یې خپله هم یاد وو او په خپلو ملګرو یې هم ضرور یادول او همیشه به یې دهمدې سورتونو ترجمه او جهادي وعظ کاوو .

د سهار او ماښام مأثور اذکار دمولوي صاحب ورځني معمولات وو، چې په ملګرو یې هم یادول او ورته تشویقول یې. دمولوي صاحب ژوند ټول مقصودي ژوندو هیڅکله یې بې مورده وخت تیرول او دودیزه ګپه عادت نه وه، همیشه به یې له وخت نه استفاده کوله او ډیر ځله به یې مجاهدینو ته دجهادي ترغیب او فکري تربیې په اړه وعظ کاوو .

ملا شرف الدین تقي وایي مولوي صاحب له عامو خلکو سره خورا دنرمي او زغم رویه درلوده له همدې امله خو یې په خپله سیمه کې بې ساری عمومي محبوبیت درلود، نوموړي نه یوازې دمجاهدینو نظامي تربیې ته توجه درلوده بلکې فکرا یې هم مجاهدین داسې روزل چې بیا بې استقامتي، ضعف او سټړیا ونه پیژني بلکې جهاد ته د عمر کار ووایي .





شیخ نصرالله وایي: مولوي صاحب یو له زبده مجاهدینو څخه و، چې په جهادي چارو کې ډیر محتاط و او تقوی یې درلوده. نوموړي د امریکایانو خلاف د جهاد لومړیو کلونو کې د جهادي ضرورت په اساس او دا چې د هیواد مختلفو سیمو ته یې سفرونه کول نو خپله ډیره به یې لږ لنډوله، یو وخت چې یې د سفر اراده درلوده، ماته یې ویلي و چې ډیره به راته لنډوې،مازدیګر وخت و او ده سبا د تګ اراده درلوده، ما ورته وویل راځه مولوي صاحب اوس داسې شه فارغ وخت دی او رڼا هم ده، نو ډیره به دې درته لنډه کړم.

خو ده راته وویل زه سبا سهار د سفر اراده لرم او د سفر تر وخته د ډیرې لنډولو ته ضرورت نشته، احتمالا که په شپه کې مرګ راته حاضر شي او ما مخکې له ضرورت څخه ډیره لنډه کړې وې الله تعالی ته به څه ځواب وایم. نو شه داده چې د ضرورت د پیښیدو یعني سفر له پیل سره هم مهال یې لنډه کړم، ځکه الضرورات تقدر بقدرها.

حافظ محمد وایي مولوي صاحب به ویل چې په جهاد کې د کامیابۍ یوازینی عامل دمجاهدینو عجز، الله تعالی ته زاری او الهي نصرت دی او د ناکامۍ، شکست او تلفاتو عامل بیا فخر او په خپلو کامیابیو باندې غرور دی، چې دالله تعالی د نارضایت سبب ګرځي، نوځکه به یې مجاهدین همیشه دې ته متوجه کول چې په خپلو لاسته راوړنو فخر ونه کړي او نه دکبر احساس وکړي، ځکه دا په جهاد کې دناکامۍ سبب ګرځي .

دمولوي عبدالحنان جهادوال صاحب متعهد او متدین ژوند نورهم ډیر دیاد وړ اړخونه لرل چې دلته دټولو خاطراتو ذکر کول به شایدلیکنه ډیر اوږده کړي نوځکه په دې دعاء لیکنه رانغاړو چې الله تعالی دې دنوموړي برکات او استعداد په اوسنیو مجاهدینو کیږدي ترڅو دده غوندې با استقامته او نه ستړي کیدونکي مبارزین تړې جوړ شي ، آمین یا رب العلمین

## د شهيد ملا داد الله آخند ژوند او کارنامو ته کتنه

ليکنه: نور احمد سعيد

شهيد ملا داد الله «رهبر» V د حاجی عبد الله زوی په ۱۹٦۷ ميلادي کال کي د روزګان ولايت د دهراوود ولسوالۍ په يوه دين دوسته او مجاهده کورنۍ کې زيږيدلی دی .لومړنۍ زده کړي يې دخپلي سيمي په يوې درسي حجره کي ترسره کړې ، نوموړي لا خپل ديني تعليم نه و پوره کړی ،چې ګران هيواد افغانستان د پخواني شوروي اتحاد دسرو لښکرو تريرغل لاندي راغی .

### جهادي ژوند

دشهيدملا دادالله دجهادي ملګرو دمعلوماتو له مخې نوموړی په ۱۹۸۳ ميلادي کي په کندهار کي د نامتوجهادي قوماندان مولوي اختر محمدآغاترمشرۍ لاندي د شوروي سره پوځ پرضدوسلوال جهادپيل کړ ، نوموړي په لومړي ځل دکندهارولايت د ارغنداب ولسوالۍ د شاهين په کلي کي د شوروي عسکرو په مقابل کي په يوه سخت جنګ کي ګډون وکړ، که څه هم دا مهال نوموړی د عمر په لحاظ کشر و خو په همدغه لومړي جنګ کي دنوموړي ميړانه او جهادي مهارت ټولو مجاهدينو په سترګو وليداو نوموړی ديوه زړور او باعزمه مجاهد په توګه وپيژندل شو .

په ارغنداب ولسوالۍ کي د شوروي عسکرو له ماتي وروسته ملا داد الله آخند له مجاهدينو سره يو ځای د هلمند ولايت ته ولاړ او له اتل قومندان شهيد ملا محمد نسيم اخندزاده سره ملګری او د شوروی عسکرو په مقابل کي يې وسلوال جهاد ته دوام ورکړ. په هلمند کي له يوه کال تيرولو څخه وروسته نوموړی بيرته د کندهار ولايت ته راغی او د مولوي اختر محمد اغاتر قوماندې لاندې يې خپله اسلامي ، شرعي او جهادي دنده په پوره ميړانه او غيرت تر هغه وخته پوری پر مخ بوتله تر څو چې په





ګران هيواد افغانستان کي شوروي يرغلګرو قواوو او د هغوی کمونستو ګوډاګيانو ماتي و خوړه او په تور مخ له افغانستان څخه وتښتيدل .

د وروستني کمونيست واکمن ډاکټر نجيب دحکومت له سقوط وروسته کله چې د قدرت واګي د مجاهدينو لاس ته ورغلې ا ودیو شمير په واک مينو او تش په نامه جهادي رهبرانو لخوا د قدرت په سر داخلي جنګونه پيل شول، ملا داد الله آخند له داخلي جنګونو څخه د ځان ساتني په خاطر خپله اسلحه په مځکه کيښوده اوددينې زده کړو دحصول په مقصد يې دبلوچستان ايالت په مرکزکويټه کي د مولوي شفيع الله صاحب په مدرسه کي داخله واخيسته او وروسته بيادنامتوعلمي ،جهادي شخصيت شيخ الحديث مولوي عبد العلي ديوبندي V مدرسې ته ولاړاوهلته يې خپلو زده کړو ته دوام وکړ.

کله چې په کال ۱۴۱۵ هـ ق کي د هيواد په جنوبي ولايت کندهار کي د طالبانو اسلامي تحريک د مرحوم اميرالمؤمنين ملامحمدعمرمجاهد V په مشرتوب د ظلمونو، فسادونواو نارواوو په مقابل کي راپورته شو. شهيدملادادالله آخند له هماغې ابتداء څخه له تحريک سره ملګری شو. نوموړی دشلوتنواندېوالانوسره د عاليقدر امير المؤمنين په لارښوونه د کندهار ولايت د پنجوايي ولسوالۍ ته وليږل شو او د دې ولسوالۍ له نيول کيدو وروسته يې د سپين بولدک ولسوالي په نيولوکي هم ګډون وکړاو د نوروجهادي عملياتو په تعقيب يې دکندهار هوايي ميدان او د ولايت مرکز ښا راو نورو ټولو عملياتوکې پوره برخه واخيسته .

د طالبانو په لاس د کندهار ولايت له پوره نيولو څخه وروسته نوموړی دمشرتابه له لوري دروزګان ولايت ته وليږل شو اوهلته يې دخپلي سيمي خلګ له اسلامي تحريک سره يوځای کيدوته دعوت کړل .د روزګان ترتصفيه کيدو وروسته نوموړی دتحريك دقيادت په دستور هلمند ولايت ته وليږل شو او د سنګين ولسوالۍ له فتحي وروسته دفراه ولايت په لوروخوځيد تر هغو هلته و چې د دلارام ولسوالۍ هم طالبانوفتحه کړه .وروسته نوموړی زابل ولايت ته ولاړ د زابل، غزني او ميدان وردګو

ولايتونو له نيول کيدو وروسته نوموړي دلوګر ولايت او د چهار اسياب ولسوالۍ په فتوحاتوکي پوره ونډه درلوده ،دغه راز يې دپکتيا او خوست ولايتونو ته داسلامي تحريک په کاروان کې هم برخوال و.

کله چې د پلازميني کابل په شاوخوا کې د احمدشاه مسعود له ځواکونه سره جنګونه شروع شول شهيدملا دادالله اخند په کې برخوال او ډير وخت به د جګړې په لومړۍ کرښه کې اوسيدو.په چهاراسياب کي له سختو جنګونو څخه وروسته نوموړی دامير المؤمنين په لارښوونه د هلمند ولايت هغو سيمو ته چې لا هم نوې فتحه شوي وليږل شو، د هلمند ولايت له مکملي تصفيې څخه وروسته فراه ولايت ته ولاړو دجګړې په لومړيوکرښوکي يې خپل مسوليت ترسره کاوه ،په دغه وخت کي مفسدو مليشو د چهار اسياب په لومړی خط سخت تعرضي جنګونه پيل کړل دمشرتابه له خوايو وار بياملا دادالله د چهار اسياب لومړۍ کرښې ته واستول شو. ملا دادالله اخند د چهار اسياب په لومړی خط کي د يوه سخت جنګ په ترڅ کي ديو مځکني ښځ کړای شوي ماين ښکار شو چې د چاوديدو له امله يې يوه پښه له لاسه ورکړه.نوموړی له معالجې وروسته يو ځل بيا جهادي خدمت ته ستون شو.

کله چې د اسلامي تحريک مجاهدينو د کابل ولايت د نيولو پريکړه وکړه او د وريښمين تنګي له لارې يې په کابل ولايت لوی تعروضي عمليات پيل کړل، ملا داد الله د اتل قومندان شهيد ملا بورجان V تر څنګ په دغه جنګ کي د زرګونو مجاهدينو مشري کوله او له ډيرو سختو جنګونو څخه وروسته يې د هيواد پلازمېنه کابل دټوپکسالارانواوکمونستانوله وحشي منګولوڅخه خلاص کړ اود امن سپين بيرغ يې پکښې ورپاوه، نوموړی د کابل ولايت د فتحي په جنګ کي له هوائي ډګر(خواجه رواش) سره نژدې په ښي لاس کلک ټپي شو، خو په دغه زخمي حالت کي په دښمن پسې شو او د کابل ولايت په شمالي سيمو شکر دره، پل مټک او د کاپيسا په لور يې حرکت وکړ، په لوړو يادو شويو ټولو فتوحاتو کې سره له دې چې ملادادالله اخند





دجګړې عمومي قومندان نه وو ، خو په ټولو فتوحاتو کې يې ديوه فعال ډلګۍ مشر-رول ادا کاوو .

په ۱۹۹۷ ميلادي کال کې کله چې له جنرال مالک سره داسلامي امارت له لوړې موافقه وشوه شهيدملا داد الله له زرګونو طالبانو او داسلامي امارت له نورو مشرانو او قومندانانو سره يوځای دسالنګ تونل له لارې د هيواد شمالي ولايتونو ته ولاړ او چې د بغلان ولايت تر پلخمري پورې يې پرمختګ وکړ، د جنرال مالک د تاريخي غدر اونامردانه عمل نه وروسته چې په ترڅ کې يې زرګونه ددين او وطن په مينه مست سوله غوښتونکي مجاهدين شهيدان شول ،ملا داد الله له خپلوملګرو سره د بغلان ولايت په پلخمري کي محاصره شو،دا مهال چې داسلامي امارت زرګونه محاصره مجاهدين له سخت حالت او لوی خطر سره مخامخ وو د ملادادالله اخند او ملاامیرخان متقي په ګډون داسلامي امارت مشرانو خورا سترجهادي تاکتيک او بصيرت په کار واچاوو ترڅو يې په پايله کې له يوې خوا ټول محاصره مجاهدين ددښمن له ضرر څخه محفوظ وساتل شول او له بلې خوا دهيواد په شمال کې ډيرې سيمې د اسلامي امارت د مجاهدينو لاس ته ورغلې د احمد شاه مسعود ځواکونه په يوه بل جهاد کې په جګړو مصروف او ځواک يې تقسيم شو، داسلامي امارت مسؤلو مشرانو په دې سختو حالاتو کې دخپلو محاصره ملګرو مورال لوړ وساته ، دغه راز يې له ځايي قومندانانو او عامو خلکو سره ليدنې کتنې او تعلقات ګرم کړل. دسيميزو خلکو اعتماد يې ترلاسه کړ او وروسته يې دځايي جهادي قوماندانوپه بلنه اوملاتړ د کندز په ولايت حمله وکړه له نيکه مرغه چې په ډيري اسانۍ يې دغه ولايت ونيو اود خپل ځا ن او مجاهدينو لپاره يې ديوپو خ او قوي سنګر په توګه غوره کړ. ملادادالله اخند چې په کندز کي يې دمجاهدينو نظامي مشري په غاړه وه ددښمن له خوادپردغه ولايت د سختوتعرضي حملو سره سره يوکال سخت مقاومت وکړ په داسي حال کي چې ټول اکمالات يې د هوا له لاري دطياروپه واسطه کيدل .

له دې څخه وروسته ملا داد الله رهبرد بامیانو، تخار او د کابل ولایت په شمالي سیمو بګرام، تګاب او نجراب کي په مختلفو عملیاتو کې برخه واخیسته .

الحاج شهید ملا داد الله اخند د اسلامي امارت د قیام او حاکمیت په مرحله کې یو له ډیرو مهمو او تاثیر ګذارو پوځي مشرانو څخه و،چې ځواکمن او دښمن ماتوونکي جهادي ډلګی یې درلوده او تقریبا په ټولو فتوحاتو او مهمو جګړو کې نوموړی خپله او یا یې هم ملګري ګډونوال و. نوموړي چې ډیره موده د کابل د مرکزي قول اردو د قومندان په حیث دنده ترسره کړه د اسلامي امارت د دفاع او واکمنۍ د پراختیا په لاره کې ډیرې هڅې وکړې او له همدې امله نوموړی د اسلامي امارت یو له مهمو پوځي مشرانو شمیرل کیږي.

کله چې امریکا او متحدینو یې پرګران هیواد افغانستان وحشیانه اونارواحمله وکړه شهید ملا دادالله V د هیواد په شمالي ولایتونو کې د صلیبي ځواکونو او د هغوی دغلامانو په وړاندي کلک مقاومت وکړ. خوکله چې شمالي ولایات د امریکا یانواودهغوی دګوډاګیانوپه ولکه کي راغلل او مجاهدین تر ډیرې مودې په کندز کې محاصره شول ملا داد الله اخند او په کندز کې محصورو ټولو مجاهدینو تر ډیرې مودې د امریکایي وحشیانه بمبارد او د امریکا د ګوډاګیانو د حملو په مقابل کې مقاومت وکړ. وروسته ملا داد الله اخند له خپلوشپږوتنو ملګرو سره د بلخ ولایت په بلخ ولسوالۍ کي په یوه کور کي پناه واخیسته، د امریکایي او دوستمي ملیشو له سخت تفتیش سره سره یې بیا هم په دغه کور کي پوره یوه نیمه میاشت تیره کړه او وروسته یې د ستلایټ ټلیفون له لارې له بي بي سي رادیو سره مرکه وکړه او ویې ویل چې : الحمد لله زه نن ورځ مازیګر څلور بجې روغ سلامت د کندهار ولایت ته را ورسیدم. ددې مرکې له اوریدو سره سم د دین او وطن دښمنانانو هم ومنله چې نوموړي د دوی له محاصرې څخه روغ وتلی له مرکې کولو څه وخت وروسته ملا داد الله د یو شمیر بااحساسه خپلواکي غوښتونکو هیوادوالو په مرسته د سالنګ له لاري لومړی کابل ته او بیا له کابل څخه کندهار ته را ورسید.





اتل شهید ملا دادالله اخند خپلې سیمې ته له رسیدو او او په خپل کور کي له پنځلسو ورځو تیریدو وروسته یوځل بیا خپل ملګري سره راټول او منظم کړل، په صلیبي اشغالګروقواوو او د هغوی په غلامانو یې چریکي، کمیني او تعرضي حملې پیل کړې، چې په پایله کي یې دښمن ته زیات ځاني اومالي زیانونه واړول . کله چې امیر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهد د یو ځانګړي امر په توسط د ۲۰۰۲م کال د ۲ میاشتي په ۱۲مه نیټه د یرغلګروځواکونو په مقابل کي دجهادي عملیاتود ګړندیتوب اودمجاهدینو د ښه تنظم، تجهیز او اکمال لپاره یوه «لس کسیزه شوری » جوړه کړه ملا داد الله رهبریې د همدې شوری غړی وټاکه، نوموړي د امیر المؤمنین له امر سره سم په کندهار، هلمند، زابل، روزګان او یو شمیر نورو جنوبي ولایتونو کي په زرګونو مجاهدین ښه منظم او اکمال کړل او په صلیبي عسکرو او د هغوی په مزدورانو یې مرګوني ګوزارونه پیل کړل. دامهال شهیدملادادالله آخند دیرغلګرانو او د هغوی لاسپوڅو پر ضد د کندهار ولایت په شما ل د«دره نور»په سیمه کي دترسره کړوکامیابو عملیاتوپه اړه دمشهور ژورنالیست او د بي بي سي رادیوله همکار رحیم الله یوسفزي سره خورا مهمه مرکه وکړه چې بي بي سي هم نشر کړه. په دې مرکه کې ملا دالله اخند په سیمه کي دیوې پراخي جګړې یادونه وکړه او ویې ویل چې په دغه جنګ کي یې شپیته تنه یرغلګراوداخلي عسکروژلي دي اود«دره نور»دره یې چې دکندهار-ارزګان لویه لارپکښې تیریږي ترلې ده ، شهیدملادادالله ددې پوښتني په ځوا ب کي چې «امریکایان افغانستان ته په خورالوي قوت اوزورسره راغلي دي ښایې تاسي یې په وتلوونه توانیږئ ؟»وویل چې «روسانوهم نه غوښتل چې له افغانستانه ووځي خوچې مځکه ورته ګرمه شوه بیاځنګه وتښتیدل نوامریکایان به هم دنورویرغلګروپه څېرناکامه اوشرمیدلي زموږله غیرتي خاوري څخه وځي انشاءالله » داتل رهبردې مرکې دومره تاثیروکړچې دکابل دنانځکي اداري دمشرکرزي زړه اودماغ ته یې ټکان ورکړ،کرزي پربي بي سي خوله راخلاصه کړه او دملا دادالله آخند دمرکې خپریدل یې وغندل ،کرزي له رسینووغوښتل چې نورنوبایدپه اصطلاح دترهګرو(!!) دخبرونشرته

وخت ورنه کړي. دې مرکې په هغه سخت مهال کې په درست هیواد کې مجاهدینو ته خورا لوی مورال ورکړ او ډیر ښه اثر یې درلود .

## شخصیت او خاطرې

شهید ملادادالله اخند داسلامي امارت دهغو نظامي مشرانو او قومندانانو څخه و ، چې داسلامي امارت زعیم عالیقدر امیرالمؤمنین ورباندې ځانګړی اعتماد درلود ، نوموړی زړور ، باعزمه او دلویې ارادې او همت خاوند و، داسلامي تحریک په پخوانیو فتوحاتو او وروسته دامریکایانو په خلاف دجهاد په جاري ساتلو کې ملادادالله اخند مهم او اساسي رول درلود .

دنوموړي دهمت او جهادي خدمت دجذبې په اړه دده یوتن جهادي ملګری وایي چې دشوروي ضد جهاد په مهال یو ځل روسي قواوو د کندهار ولایت ارغنداب ولسوالي له هري خوا څخه سخته محاصره کړه او غوښتل یې چې په نوموړې ولسوالۍ کې د مجاهدینو مرکزونه له منځه یوسي او ولسوالي تر خپل واک لاند راولي، ملا داد الله رهبر چې د نوموړي ولسوالۍ د محاصره شوو مجاهدینو په ډله کې و یوه ورځ یې له سهاره تر ماښامه ټوله ورځ له شوروي عسکرو سره په جنګ کې تیره کړې وه او له ماخوستن څخه وروسته یې په یوازی ځان په داسي حال کې چې هیڅ څوک ورسره نه و تر سهاره پورې یې ۱۵۰ کیلو ګرامه« اوړه » لامده اوبیا پاخه کړل اولسګونو مجاهدینو ته یې ډوډۍ تیاره کړه.

هغه مهال چې ملادادالله اخند په کندز کې له څلورو خواوو محاصره و او په ډیر سخت حالت کې یې قرار درلود ، دنوموړي ملګري وایي چې په نوموړي کې یې هیڅکله د وارخطایي او دوه زړه توب اثار نه دي لیدلي ، په داسې حال کې چې په محاصره کندز باندې به دمسعود، دوستم او نورو مختلفو جنګیالیو لخوا له هرې خوا بریدونو روان و، ملادادالله اخند به په خورا متانت دخپلو ملګرو رهبري کوله ، دعادي حالاتو په شان به یې له ملګرو سره مجلس او ټوکې ټکالې کولې، چې دجګړې په توده ساعت کې به دنوموړي دې نورمال چلند ټولو مجاهدینو ته مورال ورکاوو.





دالجزیرې تیلویزیون یو خبریال چې په هلمند کې یې له ملادادالله اخند سره څه وخت یوځای تیر کړی وایي: چې ملادادالله اخند ډیر متوکل سړی و ، چې له امریکایي هوایي ځواک څخه هیڅ نه ویریده ، نوموړی ملادادالله اخند دامریکاضد جهاد په مهال په هلمند کې خورا ازاد ګرځیده ، نوموړی په داسې حال کې چې په یوه پښه معیوب و په هلمند کې اوږده مزلونه پیاده وهل او په غرونو کې به یې داسې حرکت کاوو چې هیڅ دمعیوب شک ورباندې نه راته ، دغه خبریال وایي چې یوځل مې پوښتنه ترې وکړه چې تاسو دامریکایانو لپاره ډیر مطلوب یاستئ ، مګر بیا هم دومره ښکاره ګرځئ ، آیا له امریکایي ځارونکو سپوږمکیو څخه ویره نه احساسوئ ؟

ملادادالله اخند راته وویل چې پوهیږم چې زموږ له پاسه دامریکایانو ځارونکي سپوږمکۍ شته ، خو باید ووایم چې ترهمدې سپوږمیکو لوړ زموږ قادر ، حافظ او ناصر رب B هم شته ، هغه رب B چې موږ پرې ایمان لرو او دهغه لپاره جهاد کوو، موږ دخپل بشري وس په اندازه به دځان ساتنه کوو ، خو زموږ اصلي ساتونکی الله تعالی دی او دهغه په لار کې شهادت ته همیشه حاضر یو .

## دملادادالله اخند شهادت

الحاج ملادادالله اخند له اوږده جهادي او متعهدانه ژوند نه وروسته د ۲۰۰۷ میلادي کال دمی دمیاشتي په ۱۴مه چې د۱۴۲۸ هق د ربیع الثاني له ۲۶ سره سمون خوري دهلمند ولایت دګرمسیر ولسوالۍ دلوی درویشان په کلي کې دامریکایي ځواکونو په چاپه کې په شهادت ورسید .

له ملادادالله اخند څخه ۴ اولادونه پاته دي، الله تعالی ته دعا کوو چې دنوموړي برکات یې په اولادونو کیږدي، تر څو همداسې دحق دلارې زړور مبارزین ترې جوړ شي.

انا لله وانا الیه راجعون

❊ ❊ ❊

# د شهيد مولوي محمود سيف الله ژوند او کارنامو ته کتنه

ليکنه: قاري سعيد

له نصوصو او تاريخي جريان څخه ثابته ده چې الله تعالى د خپل دين او خلقت د مقاصدو د ساتنې لپاره هميشه، په هرځاى، هر عصر او هر ډول حالاتو کې مجاهد او مبارز رجال پيدا کوي، تر څو د هغوى په واسطه د دين د ساتنې، دفاع او خپراوي فعاليتونه تجديد او ورته نوې ساه ورکړي.

د افغانستان په جنوب لويديځه څنډه کې، هغه ريګستان چې د کندهار له حدودو پيل بيا د هلمند جنوب او د نيمروز ولايت تر غربي او شمالي ساحاتو رسيدلى په دې ساحه کې د جهاد، ديني علم او دين ته د تعهد د نوي دوران لپاره الله تعالى د مولوي محمود V په نوم يو متدين، مجاهد او مبارز ځوان انتخاب کړ. هغه چې په خپل ويا‌ړمن کردار سره يې نه يوازې دا سيمه د امريکايي يرغل په وړاندې د جهاد په نه ماتيدونکي سنګر بدله کړه، بلکې د تعلم، تعليم او دين ته د التزام فرهنګ يې هم په سيمه کې په ميراث پرېښود، چې له برکته يې اوس دا سيمه نه يوازې په جهادي فکر سمباله ده، بلکې د ديني مدارسو ډيوې هم په کې بلې دي.

راځئ يوه شيبه د ريګستان په سوزنده صحراوو کې ددې راټوکيدلي غاټول د ژوند او کردار نندارې ته تم شو، تر څو يې د يوه مجاهد او مبارز شخص په حيث له ويا‌ړمن تاريخ څخه خوند او پند واخلو.

## زوکړه او نشأت

مولوي محمودد ملا عبدالحميد زوى چې د بلوڅ قوم له شاهوزى قبيلې سره يې تړاو درلود په۱۳۹۲ هـ ق کال کې چې له ۱۹۷۲ ميلادي سره سمون خوري د افغانستان





د نيمروز ولايت د چخانسور ولسوالۍ مربوط د تپه نادعلي په کلې کې دنيا ته سترګې وغړولې.

نوموړي خپلې ابتدائي زده کړې په خپل کور او د کلي په مسجد کې پيل کړې،د کمونيستانو د واکمني او شوروي يرغل په مهال ددوى کورنۍ ايران ته په هجرت اړ شوه، نوموړي څه موده د ايران په زاهدان کې سبقونه وويل او بيا پاکستان ته لاړ او د بلوچستان د مرکز کويټې په تجويدالقرآن مدرسه کې يې زده کړې پيل کړې.

مولوي محمود V په يوه کاملا علمي او جهادي چاپيريال او عصر کې رالوى شو،که له يوې خوا د ديارهجرت په بيلابيلو مدارسو کې په زده کړو بوخت و،له بلې خوا څرنګه چې همدا مهال په افغانستان کې د کمونيستي کفر به خلاف مسلح جهاد روان و، نو جهادي جذبه يي هم ويده نه وه پاتې بلکې د تاندۍ ځوانۍ په موسم کې هغه مهال چې د کمونيزم په آخري واکمنۍ وروستي ګوزارونه روان و نوموړى عملا د جهاد ډګر ته لاړ او د مسلح جهاد له خونده يي ځان خبر کړ.

مولوي محمود V په نوې ځوانۍ کې د ډاکټر نجيب د واکمنۍ له سقوط دوه کاله وړاندې په لومړي ځل کندهارولايت ته د جهاد لپاره لاړ، هلته يې د ارغسان په سيمه کې په يوه جهادي معسکر کې حربي روزنه ترلاسه کړه او بيا يې د دامان، تخته پل او د کندهار ښار په شاوخوا کې په نورو جهادي معرکو کې هم برخه واخيسته.

له جهاد څخه له راستنېدو وروسته نوموړى دبلوچستان مستونګ ته لاړ او هلته يې د ديني علومو تعلم ته دوام ورکړ،له دې وروسته مولوي محمود V د پاکستان او ايران په بيلابيلو مدارسو کې تر هغه وخته ديني زده کړو ته دوام ورکړ ترڅو په افغانستان کې د فساد او هرج ومرج په وړاندې د مبارزې جهادي صف يعني اسلامي امارت ظهور وکړ.

**په اسلامي امارت کې شرکت او خدمتونه:** د افغانستان د اسلامي امارت له تأسيس او پرمختګونو وروسته هغه مهال چې مجاهدينو د هرات ولايت مرکز فتحه

کړ، څه موده وروسته مولوي محمود صاحب سره له څو تنو ملګرو د اسلامي امارت په صف کې داخل شو، نوموړي څه موده په شيندنډ کې دنده ترسره کړه او وروسته د کندهار په هوايي ډګر برج راهدار کې مؤظف شو.

دغه مهال چې د کابل په شاخوا د طالبانو کلابندي راګرځيدلې او د چهار اسياب په سيمه کې تعرضي خطوط و،د جهادي ضرورت په اساس مولوي محمود صاحب له خپلو ملګرو سره چهاراسياب ته لاړ او هلته د وتلي مجاهد ملا دادالله اخند په ډلګۍ کې داخل شو.

مولوي محمود صاحب د شهيد ملا دادالله اخند تر قيادت لاندې په جهادي کړښو کې ستر او د قدر وړ خدمتونه ترسره کړل، په دې لړ کې چې کله د ټانک د مسلک ماهرينو ته ضرورت پيښ شو، مولوي محمود له ګڼو نورو مجاهدينو سره هرات ته لاړ او هلته يې په ځانګړي کورس کې د ټانګ او ګڼو نورو ثقيله اسلحو زده کړه او تخصص تر لاسه کړ. نوموړی وروسته بيرته کابل ته راغی او کله چې کابل د طالبانو په لاس فتحه کيدو نوموړی د هغو سوبمنو مجاهدينو له جملې څخه و چې د ريشخورو له استقامت څخه پلازمينې کابل ته داخل شول.

د کابل له فتحې وروسته مولوي محمو صاحب څه وخت د کابل د شمال په جنګي خطوطو کې پاتې شو او وروسته د خپلوديني زده کړو د تکميل لپاره مدارسو ته ستون شوچې په دې مرحله کې يې د ايران او پاکستان په بيلابيلو مدارسو کې ديني زده کړې تعقيب کړې، په ۱۴۱۸ هـ ق کال کې يې د ايران له مشهور سني عالم شيخ مولانا محمد عمر سربازي صاحب څخه علمي فيض ترلاس کړ او څو کاله وروسته يې د پاکستان په صادق اباد کوته سبزل سيمه کې په الجامعة السعديه کې ددديني علومو او احاديثو د زده کړې مروجه سلسله پای ته ورسوله او د فضيلت دستار يې وتاړه.

له ديني علومو له فراغت وروسته چې کله د جهادي خدمت لپاره ستون شو، نو د اميرالمؤمنين ملا محمد عمر مجاهد په هدايت او منظوری نوموړی د بلوڅو مجاهدينو د ډلګۍ مشر وټاکل شو،او په دې ډول يې د مستقلې ډلګۍ په چوکاټ کې





فعاليت پيل کړ،چې يوه اندازه ملګري يې په کابل او نور د شمال په تخار ولايت کې په خدمت لګيا و، په دې وخت کې مولوي محمود د څه وخت لپاره د کندهار ولايت د ميوند ولسوالۍ د ولسوال په حيث هم دنده اجراء کړه،خو د نوموړي جهادي ملګري په هغه ځانګړي قطعه کې بسيج شوي و چې د اميرالمؤمنين په فرمان له څلورو لويو ډلګيو څخه جوړه وه، مرکزيت يې د کابل به بالاحصار کې و او د هيواد په مختلفو جنګی محاذونو کې يې خدمت کاوو.

د امريکايي يرغل په تعقيب د شهيد مولوي محمود د ډلګۍ ۱۲۰ تنه مجاهدين چې مشري يې حافظ غلام الله صاحب په غاړه وه او د تخار په جبهاتو کې و د نورو زرګونو مجاهدينو سره يوځای بنديان شول چې له جملې يې ۴۰ تنه د دوستمي مليشو لخوا په کانتينرونو کې شهيدان او پاتې يې د مولوي محمود صاحب په ډيرو هڅو او د پيسو په توسط له زندان څخه ازاد شول.

## د يرغل په خلاف د جهاد پيل

د کابل له سقوط وروسته مولوي محمود له خپلو ملګرو او وسلو سره د هلمند د ديشو ولسوالۍ مربوط سرحدي سيمې برامچې ته لاړ چيرته چې نوموړي له پخوا څخه په يوه غرنۍ سيمه کې معسکر جوړ کړی و. د کندهار ښار له سقوط څو ورځې وړاندې د روژې په نيمايي کې امريکايانو او داخلي اجيرانو يې د برامچې په ملک غره کې په همدې معسکر برید وکړ،او په لومړي ځل په دې سيمه کې له يرغلګرو سره سخته جګړه وشوه،چې ددښمن يو ټانګ په کې وويشتل شو،وروسته امريکايانو دا سيمه سخته بمبار کړه چې په پايله کې يې ۳۲ تنه مجاهدين شهيدان شول، ددې معسکر له نړيدو وروسته مولوي محمود صاحب د مشکاني غره په سيمه کې جهادي مرکز جوړ کړ، خو دا ځل يې ځان چريکي جګړې ته اماده کړ نو ځکه يې وسلې خوندي او ملګري يې متفرق کړل تر څو ددښمن د بمبار هدف ونه ګرځي.

له څو مياشتې ځنډ وروسته مولوي محمود صاحب خپل پخواني جهادي ملګري او يو شمير علماء کرام رايوځای کړل تر څو د جهاد د پيل په اړه ورسره خبره شريکه

کړي،مولوي عبدالعزيز جهادیار وايي چې په دې مجلس کې مولوي صاحب وويل چې : مورږ يو اسلامي نظام درلود چې په ډيرو قربانيو مو تأسيس کړی و، صليبيان راغلل او زمورږ نظام يې ونړاوو،دښمن له هر لحاظه په ډير قوي حالت کې دی او مورږ تاسو هيڅ نلرو په داسې حال کې مورږ ته څه کول په کار دي؟ آيا په همدې تش لاس جهاد پيلوو او که آرام کينو؟

د مولوي صاحب ددې خبرې په ځواب کې ځينو کسانو وويل چې : مورږ له جهاد څخه منکر نه يو مګر دا هم وينو چې امريکايان ډير په قوت کې دي، په ځمکه او هوا برلاسي دي او که يې په مقابل کې څوک ادنی حرکت کوي هم نو له منځه يې وړي. . .

ددوی په ځواب کې مولوي صاحب وويل: چې داسې ده نو تاسو په قرآن او احاديثو کې يو داسې دليل او مبرر وپلټئ چې مورږ له جهاد څخه معذور وبولي تر څو ټول خپلو کورونو او مدارسو ته ستانه شو او د امريکايانو تر واک لاندې د آرام ژوند پيل کړو.

ددې خبرې په اوريدو د مجلس ټول ګډونوال خاموش شول. لږ وروسته مولوي محمود صاحب خاموشي ماته کړه او ويې ويل: زما يقين دی چې تاسو د دين له نظره مبرر نه شئ پيدا کولای،د کفر په خلاف جهاد فرض شوی دی او چې فرض دی،زه به که په تش لاس هم وي دغه فريضه پيلوم،خير دی که ددښمن په لاس مورږ ووژل شو، لاسونه او پښې مو غوخ شي او يا محبوس شو، نو به د الله تعالی په نزد واقعا معذور شو او الله تعالی ته به ووايو چې اې الله تعالی مورږ خو ستا د فريضې د ترسره کولو عزم درلود مګر د همدې فريضې په لاره کې قتل او معيوب شوو نو ځکه رانه په نيمه کې پاته شوه.

په دې مجلس کې ملګرو ته د قناعت ورکولو نه وروسته مولوي محمود صاحب عملا ددښمن په خلاف د تعرضي بريدونو لپاره په تياريو لاس پورې کړ،تر دې چې د ۱۴۲۴ هـ ق کال د ذوالحجة الحرام مياشتې په لومړيو کې يې لومړني عمليات د هلمند ولايت د ديشو ولسوالۍ په چوټو سيمه کې د ګوډاګيانو په يوه مهم مرکز ترسره کړل.





حاجي ضرار چې ددې عملياتو برخوال و، وايي: په چوټو کې د قومندان ايوب په مشرۍ ددښمن ډير عسکر اوسيدل چې څو پوستې او مراکز يې درلودل، مجاهدينو لومړی ددوی په يوه مرکز حمله وکړه، پيره دار يې د چاړې په ګوزار وواژه او بيا مرکز ته ننوتل خو ددښمن عسکر له دې مرکز څخه وتلي و، مجاهدينو څه شيان غنيمت کړل، ددې برید په تعقيب د چوټو بازار ته نږدې له دښمن سره مخامخ جګړه وشوه چې د قومندان ايوب ماما په شمول ۷ تنه عسکر په کې ووژل شواو مالونه يې مجاهدينو په غنيمت ونيول.

## د جهادي دعوت او عملياتو دوام

مولوي محمود صاحب دا مهال له جهادي عملياتو سره يوځای د دعوت پروګرام هم تعقيباوو، نوموړی د خپلې سيمې په اکثرو علماء کراموقبايلو او او قومي مشرانو وګرځېد او د جهاد دعوت يې ورکړ،چې له جملې يې ځيني ورسره په سر او مال ودرېدل او ځينو ورته د همکارۍ ډاډ ورکړ، له دې جملې د بلوځو دمحمدحسني قوم د يوه مشر حاجي غريب شاه دا تاريخي کارنامه د يادولو ده چې په ډير سخت او امتحاني حالت کې يې مولوي محمود صاحب ته وويل چې جهاد يوازې په تاسو نه دی فرض بلکې مورږ هم مسلمانان يو او په مورږ هم فرض دی، تاسو جهاد پيل کړئ مورږ په سر مال او حتی د ماشومانو او ښځو په قرباني کيدلو درسره ولاړ او هرې قربانۍ ته حاضر يو.

د مولوي محمود صاحب تر مشرۍ لاندې مجاهدينو د ۲۰۰۳ ميلادي کال له نيمايي څخه د هلمند په جنوب کې په دښمن د بريدونو لړۍ پيل کړه، چې په ۲۰۰۷ ميلادي کال د نوموړي د شهادت تر وخته يې خپله مولوي محمود صاحب مشري کوله، په دې اوږدو کې نوموړي د اسلامي امارت د نظامي کميسيون د عضو او د نيمروز ولايت د جهادي مسؤل په حيث هم دندې اجراء کړې.

په دې مرحله کې د شهيد مولوي محمود تر مشرۍ لاندې ګڼ شمير عمليات وشول لکه د ديشو ولسوالۍ په مرکز مکررې حملې،د مارجې او خانشين په مربوطاتو کې ددښمن په پوستو، مراکزو او کتارونو بريدونه،د ګرمسير په سفار سيمه کې ددښمن په

مرکز حملې،دغه راز د کندهار پنجوايي او د نيمروز ولايت بيلابيلو سيمو ته جهادي ملګري ليږل تر څو له نورو مجاهدينو سره په ګډه په جهادي عملياتو کې برخه واخلي.

په دې مرحله کې د مولوي محمود صاحب جهادي مرکز د برامچې مربوط د مشکاني غره په سيمه کې وه چې د هلمند، نيمروز، او کندهار په مربوطاتو کې يې له نورو مجاهدينو سره اوږه په اوږه په جهادي عملياتو کې ونده اخيسته، دغه راز په برامچه کې د نوموړي لخوا د مجاهدينو د تدريب لپاره يو معسکر هم تاسيس شوی و چې ګڼو مجاهدينو ته يې په جهادي اعداد سربيره د ريموټ جوړولو او نورو تخنيکونو زده کړې هم ورکولې دا معسکر اوس هم د موقعيت په تغير سره موجود دی او جهادي خدمتونه ترسره کوي.

په دې جهادي مرحله کې يويو ځل د مجاهدينو لخوا د ديشو او خانشين ولسوالیو مراکز هم فتحه شول، څرنګه چې د بهرامچې مهمه سيمه بشپړه د مجاهدينو په کنترول کې وه، نو په ۲۰۰٦ م کال کې د دښمن يوه لويه قوه د بهرامچې په خوا راووته، خو مجاهدينو ورته د ساسولي په سيمه کې کمين ونيو او ددښمن ګڼ شمير عسکر يې ووژل چې مړي يې په ميدان پاته شول.

ددغه شکست د جبيره کولو او خپلو عسکرو د اجسادو د وړو لپاره د هلمند امنيه قومندان عبدالرحمان جان په خپله له يوې قوې سره بهرامچې ته راغی،خو مولوي محمود صاحب د نوموړي د مخابرې نمبر پيدا کړ او اخطار يې ورکړ که تر سبا له سيمې ونه وځي نو مجاهدين به ورباندې داسې برید وکړي چې پخوانی شکست به يې هير شي،عبدالرحمن جان ددې اخطار په اوريدو په هماغه شپه کې خپل ټول عسکر او تشکيلات له بهرامچې وايستل او په دې ډول د ديشو ولسوالۍ مکمله د مجاهدينو په لاس کې شوه چې تراوسه ورباندې واکمن دي، له هغه وروسته امريکايانو دوه ځله د هوا له لارې د بهرامچې په بازار چاپې وهلې او بازار يې نړولی دی چې هر ځل ورته مجاهدينو درانه تلفات هم اړولي نور دښمن په دې نه دی توانيدلی چې په دې سيمه کې کومه ثابته قرارګاه جوړه کړي.





په هلمند کې په جهادي خدماتو سربيره څرنګه چې مولوي محمود صاحب د نيمروز ولايت جهادي مسؤليت درلود په نيمروز ولايت کې يې هم لوی جهادي خدمتونه وکړل، نوموړي لومړی ددې ولايت مختلفو سيمو ته دعوتي ملګري وليږل تر څو علماء کرامو، مخورو او په کور ناستو مجاهدينو ته د جهاد پيغام واستوي، وروسته يې بيلابيلو سيمو ته تشکيلات پيل کړل، او عملا يې په نيمروز کې په دښمن بريدونه شروع کړل چې له دې جملې د دلارام ولسوالۍ فتحه او د امنيه قومندان وژل کيدل، دغه راز په دې سيمه کې د هندوانو کمپ سوزول دیادولو وړ دي.

## شهادت

۲۰۰۷ ميلادي کال چې د جهادي عملياتو او فتوحاتو د پراختيا يو مهم کال بلل کيږي، مولوي محمود صاحب غوښتل له خپل مرکز بهرامچې څخه نيمروز ولايت ته جهادي تشکيلات پراخ کړي،په دې لړ کې د همدې کال د جون په اتمه نيته چې د ۱۴۲۸ هـ ق د جمادی الثاني له ۲۳ سره سمون خوري د جمعې په مبارکه ورځ د ديشو ولسوالۍ د جوکي په سيمه کې په داسې حال کې چې د ګڼو ونو منځ کې په جهادي ترتيب بوخت و امريکايانو ورباندې چاپه واچوله او وروسته يې د نوموړي په ملګرو سخت بمبار وکړ،چې په ترڅ کې يې خپله مولوي محمود سيف الله صاحب له ۹ تنو ملګرو سره په شهادت ورسيد چې د شهيدانو په جمله کې ورسره تکړه مجاهد ملګري مولوي محی الدين صاحب هم و.

شهيد مولوي محمود V او نور شهيدان ملګري يې د ديشو مربوط د بهرامچې د شهيدانو په مشهوره هديره کې خاورو ته وسپارل شول. رحمهم الله تعالی

## د شهيد مولوي محمود V د ژوند څو خاطرې

شهيد مولوي محمود صاحب د ګڼو امتيازي خويونو څښتن و، نوموړي ته الله تعالی په ښه علم،جهادي عزم، جرأت او شجاعت سربيره تقوی، ديانت او اخلاص هم ورنصيب کړی و، د نوموړي ځيني ملګري د ده د شخصيت په اړه داسې وايي:

مولوي عبدالعزيز انصاري صاحب وايي: مولوي صاحب له بيت المال سره خورا زيات احتياط کاوو، او د بيت المال پيسې يې له عامه جهادي ضرورت پرته کله هم په شخصي ډول او بلا ضرورته نه خرچ کولې، کله چې په کندهار کې يې وظيفه وه نو زه يې د مالي چارو مسؤل ټاکلی وم، نو چې به له نورو ملګرو سره بازار ته د سودا خيستلو لپاره لاړو ،ملګرو به د فاکهې او مشروباتو د اخيستلو غوښتنه درلوده، ما له مولوي صاحب څخه پوښتنه وکړه چې آيا د بيت المال له پيسو ملګرو دا شيان واخلم؟ مولوي صاحب راته وويل څرنګه چې دا مجاهدين دي او پيسې هم ورسره نشته نو که فتوی رانه غواړې اجازه درکوم چې ورته اخله يې مګر زما خپله تقوی داده چې په داسې ځای کې که څه هم لږ وي بايد د بيت المال پيسې مصرف نه شي.

حافظ غلام الله صاحب وايي: کله چې مولوي محمود صاحب په ميوند ولسوالۍ کې د ولسوال په حيث دنده درلوده، نو يوه ورځ په دې سيمه کې يوه ملګري قاري ايوب صاحب چې دهمدې علاقې اوسيدونکی و ميلمستيا وکړه،مولوي صاحب نورو مسافرو مجاهدينو ته چې جهادي خط ته روان وو وويل چې ميلمستيا ته تاسو ورشئ، ځکه تاسو سبا يا بله ورځ روان ياست، زه ددې سيمې حاکم يم او ميلمتستيا کوونکی هم ددې سيمې سړی دی،نو مناسبه نه بولم چې په ميلمستيا کې يې شرکت وکړم، تر څو که سبا يې له چا سره دعوه وي نو ماته دواړه جانبه علی السويه وي او د چا تر منت لاندې به نه يم.

حاجي ضرار وايي: د مولوي صاحب لوی خصوصيت دده اخلاص او له مجاهد سره محبت و، ده به له هر مجاهد او هرچا سره داسې وضعيت کاوو چې هغه به فکر کاوو چې تر ټولو له ماسره ډير محبت لري،ډير زيات عابد و،د بيت المال د پيسو له غلط استعمال څخه يې ډير لرې ځان ساته، د دنيا او متاع هيڅ شوق يې نه درلود،بله دا چې هر چا ليدلی و نو ډير به ورته محبوب و چې همدا عامه محبوبيت يې د قبوليت لويه نښه وه.





مولوي خالد صاحب وايي: شهيد مولوي محمود صاحب لکه څنګه چې په يوه وتلي او منلي مجاهد سره مشهور و، همداسې يې له علم ، علماء کرامو او مدارسو سره هم همېشنۍ رابطه وه،نوموړي ډير خلک علم او د مدارسو تأسيس ته تشويق کړل، د علماء کرامو او طالبانو يې ډير احترام کاوو.

په شرعي امورو او د طرفينو تر منځ په ثالثيت کې ډير محتاط او شريعت ته پايبند و، يوه ورځ د سيمې يو عالم ورسره مخامخ شو، مولوي محمود صاحب يې ډير احترام وکړ، وروسته دې عالم له جيب څخه يو موټی شنې را وايستې او مولوي صاحب ته يې ورکړې،مولوي صاحب يوه دانه خولې ته واچوله،خو دغه عالم سم دستي د خپلې دعوا بيان او سپارش شروع کړ،مولوي صاحب يې خبرې ته غوږ نيولی و خو چې کله دغه عارض رخصت شو، مولوي صاحب هغه د شنې يوه دانه چې خولې ته اچولې وه، په خوله کې يې ساتلې وه او بيرته يې وغورځوله، پاته شنې يې عامو مجاهدينو ته ورکړې او ويې ويل: ددې سړی څه عرض شته، نو زه چې مسؤل يم احيتاط دا دی چې دده له لاسه کوم شی ونه خورم، تاسو چې عام مجاهدين ياست او له داسې قضاياو سره مو کار نشته تاسو ته يې خوړل باک نلري.

قاري هارون الرشيد وايي: هغه وخت زه د بهرامچې د تيمورچاي په سيمه کې په بدرالعلوم مدرسه کې د شعبه حفظ استاد وم، مولوي صاحب چې په جهادي چارو بوخت و، کله به په خفيه شکل مدرسې ته راتلو او دلته د لنډ وخت لپاره اوسيده، ما چې مولوي صاحب له نږدې ليدلی و، د ډير معتدل مزاج، لوړو اخلاقو، تواضع او پرنفس د حاکميت څښتن و. مثلا زه به ددوه وړې خاطرې ذکر کړم چې ما په خپله ليدلي او ددوی د شخصيت کمال ترې معلومېږي.

موږ په مدرسه کې اوسيدلو نو دلته په يوه اطاق کې د بسترو له جملې د يوه بالښت پوښ يو څه خيرن و،بله ورځ مولوي صاحب همدې اطاق ته ورغلی و، نو يو ځل ګورم چې مولوي صاحب د همدې بالښت پوښ ايستلی، او بيا د اوبو ځای ته تللی دی، پوښ يې په صابون پاک مينځلی او په لاسونو يې لمر ته نيولی تر څو وچ شي، ما چې

کله ولید نو ورغلم او تري وامي خیست. نو مطلب دا چې د نوموړي مشرتوب او دا چې دلته د یوه معزز میلمه په حیث اوسیده ددې په وړاندې نه و مانع شوي چې د مدرسې خدمت وکړي.

یوه بله ورځ چې مولوي صاحب همدلته د میلمه په حیث اوسیدو، په مدرسه کې مو پسه حلال کړی و، موږ د پسه ینه کباب کړه او مولوي محمود صاحب ته مو وروړه، کله مو چې وروړه ده پوښتنه وکړه چې آیا دا یوازې زما لپاره ده که نورو طالبانو او استادانو ته هم دا خوراک رسیدلی؟ موږ ورته وویل چې دا مو یوازې تاسو لپاره تیار کړی.

مولوي صاحب وویل : دا طالبانو او نورو استادانو ته وروړه هغوی هم زما غوندې انسانان دي او دغسې زړه او خواهشات لري، زه پر دوی هیڅ برتري نلرم چې په دې خوراک سره خاص شم، ماته یوازې هغه خوراک راوړئ چې ټول طالبان او ملګري یې خوري .

له دې څخه معلومه شوه چې نوموړي په خپل ځان او نفس تر ډیره حده کنټرول درلود اوطبعي خواهشات یې تر پښو لاندې کولای شوای چې همدایي د بریا او د شخصیت دکمال لوی رمز و.

د مولوي محمود سیف الله V له شهادت وروسته د نوموړي نږدې ملګری مولوي عبدالرشید صاحب دده په ځای وټاکل شو تر څو جهادي مسؤلیتونه ترسره کړي.

* * *





# د شهید لیکوال او ادیب
# ملا محمد حسین مستسعد ژوند او کارنامو ته کتنه

لیکنه: قاري سعید

الله تعالی د خپل دین د دفاع،خپرولو او خدمت لپاره په هره زمانه کې د بیلابیلو صلاحیتونو او استعدادونو درلودونکي رجال پیدا کړي دي.که الله تعالی د تورې او جهاد د میدان د خدمت لپاره توریالي او حماسه ساز میړونه پیدا کوي نو د علم، ادب او فرهنګ د خدمت لپاره بیا د قلم او بیان په استعداد سمبال قلموال، شاعران او لیکوالان د خدمت میدان ته سوق کوي.

اما داسې به لږ لیدل شوي وي چې د حق د لارې په کوم مبارز کې د قلم او تورې استعداد هم مهال یو ځای شوی وي. راځئ دلته د همداسې یو مجاهد او د حق مسیر د لاروي داستان سره ولولو چې نه یوازې د علم، سیاست او جهاد د لارې مبارز و بلکې الله تعالی ورته د قلم او لیکوالۍ استعداد هم وربښلی و او په دې ټولو برخو کې یې ویاړمن خدمتونه سرته رسولي.

## ملا محمد حسین مستسعد

ملا محمد حسین مستسعد د مرحوم مولوي فیض الحق اخندزاده زوی او د مرحوم ملا محمد سرتور لمسی دی چې په ۱۳۹۳ هجري قمري کال چې له ۱۹۷۲ میلادي سره سمون خوري د افغانستان د زابل ولایت د شملزو ولسوالۍ په نسوزو کلي کې یې دې فاني دنیا ته سترګې غړولي دي.

د مستسعد صاحب کورنۍ له پخوا څخه د علم او فضل درلودونکي کورنۍ پاته شوې، د نوموړي د نیکه پلار مرحوم ملا عبدالرحمن یو صوفي او بزرګ عالم و او په اړه

يې مشهوره ده چې څو ځله د بيت الله شريف حج ته په پښو تللی و او وفات يې هم په همدې سفر کې شوی و.د مستسعد صاحب پلار د کابل د قلعه جواد د حضرت نورالمشائخ صاحب مريد او شاګرد و ،مستسعد صاحب په همدې علمي او متدينه کورنۍ کې وزيږېد او ستر شو نوځکه يې په د دين او علم مينې په رګونو کې ځای ومونډ او د شهادت تر نيټې يې د يوه رښتيني او جرأتمن مسلمان په حيث متعهدانه ژوند وکړ.

## د ديني او عصري زده کړو مرحله

شهيد مستسعد لومړنۍ ديني ضروري زده کړې په خپل کور کې له خپل عالم پلار څخه پيل کړې،نوموړی لا ماشوم و چې په افغانستان کې د ثور کودتا وشوه ورپسې شوروي تجاوزګرو په افغانستان برید وکړ او مسلح جهاد پيل شو، د شهيد مستسعد کورنۍ هم له خپل پلرني ټاټوبي د پاکستان بلوچستان ته هجرت وکړ او د مسلم باغ د مهاجرينو په کمپ کې ميشت شول.شهيد مستسعد همدلته خپلو ديني او ورسره هم مهاله عصري زده کړو ته دوام ورکړ. صرف، نحو، فقه، عقائد، منطق او د نورو ديني علومو کتابونه يې تر ډيره حده ولوستل. په ۱۹۸۸ميلادي کال کې د علم په تلاش د بلوچستان مرکز کوټې ښار ته لاړ او هلته يې په اسلاميه هايي سکول کې داخله واخيسته څلور کاله وروسته چې له دې ليسې فارغ شو نو يې د کوټې ښار په ختيځ کې د ګورنر موسی په نوم کالج کې د ادبياتو په پوهنځي کې داخله واخيسته او دوه کاله يې همدلته خپلو زده کړو ته دوام ورکړ.

شهيد مستسعد له عصري زده کړو سره هم مهال ديني زده کړې هم تعقيبولې او تر تکميل درجې پورې يې ديني زده کړې د کوټې په شالدره مدرسه، تجويدالقرآن مدرسه او نورو بيلابيلو مدرسو کې ترسره کړې.په رسمي تحصيلي بهير سربيره شهيد مستسعد دعلمي پلټنې او مطالعې ځانګړې قريحه درلوده.پرليسې يې ازادې مطالعې،ليکوالۍ او شاعرۍ ته ادامه ورکوله چې همدې هڅو د نوموړي پټ





استعدادونه راويښ کړل او هغه ته يې د علم او معلوماتو کم ساري برخه ورنصيب کړه.

د شهيد مستسعد لوړ استعداد او د علم په لاره کې محنت او همت له دې هم اټکلولای شو چې هغه په مورنۍ ژبه پښتو سربيره په فارسي، عربي، اردو او انګليسي- ژبو پوهيدو او حتې په ځينو يادو ژبو يې شعر او نثر هم ليکلی شوای.

## د طالبانو له اسلامي تحريک سره پيوستون

په ۱۹۹۴ ميلادي کال چې له ۱۳۷۳ هجري شمسي سره سمون خوري هغه مهال چې په افغانستان کې د شر او فساد او داخلي ګډوډۍ د ورکولو په مقصد د طالبانو اسلامي تحريک پاڅون کړی و ملا محمد حسين مستسعد خپلې ديني او عصري زده کړې پای ته نږدې کړې وې. خونوموړي خپل د تعلم سفر نيمګړی پريښود او د طالبانو له اسلامي تحريک سره وصل شو.

د اسلامي تحريک په ابتدائي وختونو کې نوموړي په نورو بيلابيلو جهادي او اداري خدمتونو سربيره د مطبوعاتو په برخه کې هم خدمت پيل کړ. د طلوع افغان ورځپاڼه چې له ډيرې مودې ځنډ وروسته د طالبانو د اسلامي تحريک له قيام سره هم مهال يو ځل بيا له چاپه راووته شهيد مستسعد پکې د نورو جهادي قلموالو تر څنګ خدمت کاوه او ددې وزينې او تاريخي ورځپاڼې له صفحو يې هيوادوالو ته اشعار او مقالې نشرولې.

د افغانستان د اسلامي امارت مؤسس مرحوم اميرالمؤمنين ملا محمد عمر مجاهد چې د ملا محمد حسين مستسعد عالي شخصيت او استعداد يې درک کړی و نوموړي ته يې د اسلامي امارت د تاريخ د ليکلو مسؤليت وسپاره. مرحوم اميرالمؤمنين شهيد مستسعد ته متحدالمال مکتوب ورکړ او د هغه له لارې يې د امارت ټول چارواکي او منسوبين په دې مأمور کړل چې له شهيد مستسعد صاحب

سره د تاريخي معلوماتوپه شريکولو کې همکاري وکړي ترڅو د اسلامي امارت يو بشپړ او معياري تاريخ وليکل شي.

شهيد مستسعد ددې کار په مقصد ډيرې هڅې او تلاشونه وکړل،ګڼ شمير مرکې يې وکړې او ډير معلومات يې راټول کړل، د ګڼ شمير کتابونو پاڼې يې واړولې تر څو ( له راشده خلافته تر اسلامي امارته) د اسلامي واکمنۍ يو معتبر تاريخ مرتب او په هغه کې د ديني علومو د طالبانو نقش او تاريخي خدمات برجسته او نړيوالو ته وښيي.نوموړي ددې کتاب يوه برخه چې اوس چاپ شوې هم ده د امام اعظم V د ژوندليک څيړنې ته ځانګړې کړه. د نورو بيلابيلو مراحلو په اړه يې هم ډير څه وليکل چې تراوسه يې نهايي ترتيب او چاپ ته تياري نه ده شوې.

## په اسلامي امارت کې بيلابيل وظائف

د اسلامي امارت د مجاهدينوپه لاس د کابل له فتحې وروسته د اسلامي امارت په لومړنۍ کابينه کې ملا محمد حسين مستسعد دعلومو د اکاډمۍ د رئيس په حيث وټاکل شو. دغه اداره چې د علمي او اکاډميکو څيړنو مرکز بلل کيږي د شهيد مستسعد له ذوق او استعداد سره جوړ منصب و چې نوموړي په کې په ډير اخلاص او عالي روحيه علمي او څيړنيز خدمات سرته ورسول.

د نوموړي د رياست په موده کې د علومو اکاډمۍ لخوا بيلابيل سمينارونه دائر شول چې شهيد مستسعد هم په کې خپل تحقيقي ارزښتمن مقالات وړاندې کول.د علومو په اکاډمۍ کې د دندې په مهال د پوهاند رشاد، وتلي مؤرخ محمد ابراهيم عطايي او د هيواد له نورو تجربه کارو څيړونکو سره تعارف او ګډ کار د شهيد مستسعد علمي ظرفيت ته نوره وده هم ورکړه او د نوموړي علمي او معلوماتي بوخته نوره هم غني شوه.

د علومو اکاډمۍ د رئيس په حيث له څه مودې دندې ترسره کولو وروسته شهيد مستسعد د اسلامي امارت په تشکيلاتو کې د چارو د اداري د لوی رياست لومړی





مرستيال وټاکل شوچې په همدې مهمه اداره کې يې هم د قدر وړ خدمتونه ترسره کړل. وروسته نوموړی د اسلامي امارت د مالیې وزارت مرستيال وټاکل شو چې په افغانستان د امريکاد يرغل او اسلامي امارت د واکمنۍ د سقوط تر وخته يې په همدې منصب دنده ترسره کړه.

خو په دې ټولو موده کې نوموړي د يوه فعال او نوښتګر قلموال او شاعر په حيث هميشه مطبوعاتي او فرهنګي فعاليت هم ترسره کاوو.د اسلامي امارت په مطبوعاتو لکه ورځپاڼو، مجلو او او جريدو کې هميشه د نوموړي ارزښتمنې مقالې او اشعار چاپيدل چې د ځانګړې ادبي سبک او غني محتوا له اړخه يې د امارت په مطبوعاتو کې خاص ځای درلود.

## د امريکايي يرغل په وړاندې قلمي او مسلحانه جهاد

په ګران افغانستان د امريکايي تجاوزګرو له يرغل وروسته ملا محمد حسين مستسعد د ګڼو نورو مجاهدينو تر څنګ مسلحانه او ورسره په څنګ کې قلمي جهاد پيل کړ.نوموړي په نورو جهادي هڅو سربيره د نورو ملګرو سره يوځای د امريکايانو په مراکزو د فدايي حملو ترتيبات پيل کړل چې په دې لړ کې يې په اشغالګر بيا بيا د فدايي حملو رهبري ترسره کړه چې په کې دښمن ته درانه تلفات ورسيدل. شهيد مستسعد د حالاتو له نامساعدتيا سره سره د هيواد مختلفو سيمو ته سفرونه کول،جهادي عمليات يې طراحي کول او خلک يې د امريکا په وړاندې قيام ته دعوت کول.د يرغل په هماغو لومړيو کلونوکې په داسې حال کې چې د امريکايي طاغوت په وړاندې د قلم او مطبوعاتو ژبې ګونګې وې او د هيواد زياتره قلموال د ډالرو او امريکا د مزدورۍ په مزو اوښتي وو شهيد مستسعد له څو تنو نورو قلموالو لکه ملا عبدالرحيم ثاقب، مرحوم انجنير عبدالله ګل ريان،ملا عبدالحی مطمئن، ملا سردار محمد شکيب او ځينو نورو با احساسه قلموالو سره په ګډه د عزم په نوم مجله را وايسته چې د هغې له لارې يې د امريکايي طاغوت په وړاندې د قيام او مسلح جهاد غږ پورته کړ.

وروسته چې دغه مجله د سختو شرايطو له امله وتړل شوه او ځينې مسؤلين يې ونيول شول. شهيد مستسعد د توکل په نوم يوه بله مجله را وايسته چې زياتره ليکنې يې خپله دده لخوا په بيلابيلو مستعارو نومونو ليکل کيدلې. شهيد مستسعد په دې ډول د مسلح جهاد تر څنګ قلمي جهاد ته هم تر هغه مهاله ادامه ورکړه ترڅو د جهادي وظايفو په لړ کې د۱۴۲۸هق ،د رجب پر۹مه نيټه چې د۲۰۰۷ ميلادي دجولايې له ۲۲ مې سره سمون خوري دزابل ولايت دشملزوولسوالۍ دابازوپه کلي کې دامريکايې يرغلګروسره دمخامخ پنځه ساعته نښتي په پايله کې له ۱۲ تنو نورو مجاهدينو سره يوځای دشهادت لوړمقام ته ورسيد.اناالله وانااليه راجعون

## د شهيد مستسعد اند او فن

شهيد ملا محمد حسين مستسعددعالي ارمان ،روڼ فکر،تينګ عزم ،غښتلي استعداد،پراخي مطالعې اوژوري پوهې څښتن مدبرشخصيت و. په پښتو،دري ،عربي ،اردو او انګريزي ژبو پوهيده.که له يوې خواد ديني اوعصري علومو عالم و،نو بل طرف ته بيا يو هڅاند مؤرخ، تکړه ليکوال، مصنف، څېړونکی اوښه شاعرهم و. په بيلابيلوفورمونوکي يې ازاد او قافيه وال شعرونه ليکلي دي.په ګڼ شمير سياسي ،تاريخي اواجتماعي مقالې،ادبي اوطنزي ليکني اولنډي کيسې يې ليکلي دي چې د کتابونوپه برخه کې يې په ځانګړې توګه لاندي چاپ اوناچاپ اثاريادولای شو.

## چاپ آثار :

- v دامام اعظم ابوحنيفه
- V دژوندانه بيلابېل اړخونه
- v دسنګرطالبه مبارکې ته به درځم
- v شپېلۍ مي مه ماتوئ (شعري ټولګه)
- v دعلامه رشادپر«دتودو وينو حمام افغانستان شو»(شعري غونډ) سريزه اوزياتونه





## ناچاپ آثار:

- ü طالبان په افغانستان کي له راشده خلافته تراسلامي امارته
- ü اسلامي خلافت
- ü اصحاب صفه
- ü ژوندۍ خاطرې
- ü اسلام اونوی ساينس
- ü متفرقي مقالې
- ü لنډي کيسې
- ü اويوه شعري مجموعه

شهيد ملا محمد حسين د شعر ځانګړی له سوز او ګداز ډک سبک درلود چې په هر مخاطب يې اغيز پرېباسه. د هغه له غريو نيولې زړه راپورته شوې چيغې زمور د جهادي شاعرۍ يو بې بيلګې برخه ده چې د امريکايي يرغل د لومړيو شپو ورځو ډېر ترخه يادونه په کې خوندي دي. دلته د نوموړي د سوزنده اشعارو له جملې درسره يو شعر شريکوو چې د امريکايي يرغل په عکس العمل کې يې ليکلی دی.

## دبلال کړيکه

اهريمن خوښ دی چې نن زما ښکلی جوهر رانه وړي
واک مي په زور، توره په فريب، دين په منتر رانه وړي

د سره ښامار له شرميدلې ماتې ونه شرمېد
کفر يوشوی دی اسلام مو په اشر رانه وړي

له واتيکان نه راستون شوي يو زاړه لاس پوڅي
چاته ويل : د حسين سر به نن شمر رانه وړي

منحوس صليب مو کور او کلی نن په سر اخيستی
زمورِ عقيده د مسيحا د ژوند نظر رانه وړي

د بدلمنو و سينګارته يی کورسونه جوړکړل
حياد پيغلو مو ځپي او شال د سر رانه وړي

څومره احمق دی زما له دينه ناخبره غليم
د دين په تور د پلار نيکه ښکلی هنر رانه وړي

غليم له وخته دې ته غلی دی چې لاس يی بر شي
په نوم د سولې راځي زما د لاس خنجر رانه وړي

د آزادۍ طلايي وړانګو ژرسئ وځليږئ !
د تورو شپو لښکر راغلی رون سحر رانه وړي

د بابا تورې وچليږه ايماني جګړه ده
د پت کيسه ده پخوانی نوم د ټبر رانه وړي

د بلال کړيکه د درد نه ده د ايمان نښه ده
احد احد يې عقيده اثر د شر رانه وړي

د احرار چيغې د هيواد په غرو کې و ازانګه
غليم و تيښتې ته چمتو دی اوس روغ سر رانه وړي

* * *





## د شهيد قاري فيض محمد سجاد V ژوند ته کتنه

ليکنه: قاري سعيد

### ښکلي ښکلي خلک

دنيا د ازمېښت ډګر دی، الله تعالی بې شميره مخلوقات پيدا کړي، چې ددې مخلوقاتو له جملې مهتم بالشأن يي مکلف مخلوق يا انسانان دي. دانسان مکلفيت دادی چې دالله تعالی له احکامو سره موافق ژوند وکړي، ترڅو دالله تعالی رضاء ترلاسه کړي او دالله تعالی محب او محبوب وګرځي .

د نبوي احاديثو له مخې د انسانانو ترمنځ غوره هغه څوک دی چې دالله تعالی له مخلوق سره ښه او له ديانته ډکه رويه ولري ،امام بيهقي V يو حديث روايت کړی چې رسول الله H فرمايي : الخلق عيال الله فاحب الخلق الی الله من احسن الی عياله .

خلک دالله تعالی داولاد په منزله دي، په خلکو کې الله تعالی ته محبوب هغه څوک دی چې د الله تعالی له عيال / خلکو سره ښه / نيکي کوونکی وي .

ددې حديث په استناد کوم څوک چې دعامو مسلمانانو په قضاوت کې ښه بلل کيږي، هرڅوک يي صفت کوی او دنيکۍ يادونه يي کوي ، څوک ترې شکايت او بده خاطره نلري، بلکې خپل او پردي ټول ترې خوشاله وي، دلوړ نبوي حديث په استناد دداسې کس په اړه ويلای شو، چې الله تعالی ته مقبول او قريب انسان دی، ځکه دالله تعالی مخلوق چې له چا څخه راضي شو، نوهمدا دالله تعالی دراضي کيدلو په معنی دی.

په راروانو کرښو کې چې موږ دکوم چا په اړه بحث کوو، دا هم دهغو بختورو انسانانو له جملې څخه دی، چې الله تعالی ورباندې لوړياد شوی صفت پيرزو کړی

دی، قاري فيض محمدسجاد دجهادي مخکښانو په ډله کې يو دهغو کسانو لـه جملې څخه دی، چې هيڅوک ترې بده خاطره نلري. دکـورنۍ غـړي يـې، دجهـاد او مدرسې ملګري يې، دزندان او سفر انډيوالان يې او حتی له فکري لحاظه مخالف کسان يې ټول په ښه خوله يادوي. ټول يې يوازې دحسـن خلـق يادونـه کـوي، هغـه حسـن خلـق چې داسلام له نظره د سړيتوب او مروت معيار بلل کيږي، د اسلام له نظره دانسان تول پـه همدې ترازو کيږي هغه چـې رسـول الله H يـې پـه اړه فرمـايي : ولا حسـب کحسن الخلق . .د نيکو اخلاقو پـه شـان بـل شرف يـا دافتخـار وړ شـی نشـته . . رواه البيهقي .

## قاري فيض محمد سجاد

قاري فـيض محمـد سـجاد د ايمانـداد زوی د مـلا عبـدالوهاب لمسـی پـه قـوم پښتون/ اخکزی په ۱۳۸۵ هـ ق کال چې له ۱۹۶۵ ميلادي سره سمون خـوري د کنـدهار ولايت د تخته پُل ولسوالی په ملايد کلي کې دنيا ته سترګې وغړولې .

په کوچنيوالي کې دمور او پلار په خدمت او د کښت او مالداری په چارو کې له خپل والد صاحب سره مصروف و، چې يو څه ستر شو، نودينې زده کړې يې پيـل کـړې، ابتدائي تعليم يې په خپل اصلي ټاټوبي کې ترسره کـړ او وروسـته يـې ددينـي علـم پـه حصول پسې د افغانستان او پاکستان مختلفو سيمو ته سفر وکړ .

ډيری ديني کتابونه يي دپاکستان په کوټه، پيښور او لاهور کې په مختلفـو دينـي مدارسو کې ولوستل، د قرآن کريم دقرأت او تجويد علم يې په لاهور کـې ترلاسـه کـړ، کله چې دکمونيزم په خلاف جهاد بريالی شو او هيواد لـه کمونيسـتانو ازاد شـو قـاري فيض محمد سجاد صاحب د کندهار په خـاکريز ولسـوالی کـې دينـي زده کـړې پيـل کړې، د علمي سفر په دې ټوله دوره کې نوموړي مروج فنون خـلاص کـړل خـو دنبـوي احاديثو دوره يې لا نه وه کړې چې په افغانستان کې دطالبانو اسلامي پاڅون پيـل شـو، چې په دې سره له نوموړي څخه خپلې دينې زده کړې په نيمايي کې پاته شوې .





## جهاد او په اسلامي امارت کې خدمتونه

هغه مهال چـې قـاري فـيض محمـد صـاحب نـوی ځـوان و پـه افغانسـتان کـې دکمونيزم په خلاف مسلح جهاد روان و ، نوموړي په تانده ځوانۍ کـې لـومړی ځـل پـه کندهار کې دکمونيستانو په خلاف په مختلفو جګړو کې شرکت وکړ، له دې جملې يوه مهمه جګړه د زابل او کندهار دلـويې لارې پـه اوږدو کـې د کمونيسـت رژيـم دجبـار مليشې سره تاريخي جګړه وه چې په نتيجه کې يې دغه مليشه په بشـپړ ډول لـه منځـه لاړه ، قاري صاحب په دې جګړه کې ديوه فعال مجاهد په حيث برخوال و .

د کمونيستي نظام له سقوط وروسته قاري صاحب وسـله پـه ځمکـه کيښـوده او دکندهار په خاکريز کې يي ديني زده کړې پيل کړې، مگر کله چـې پـه تنظيمـي دوره کې فساد او ګډوډي اوج ته ورسيده او واقعـي مجاهـدين يـې د ټـوپکي مفسـدينو پـه خلاف پاڅون ته اړ کړل ، قاري صاحب دهغو محدودو مجاهدينو له جملې څخه و، چې دکندهار په ميوند کې يې په لومړي ځل دملامحمـد عمـر مجاهـد تـر مشرۍ لانـدې پاڅون وکړ. دطالبانو داسلامي تحريک بنسټ يي کيښود او په تدريج سره يې کنـدهار ولايت اووروسته درست افغانستان د داړه مارانو او پاڅکيانو له منګولو خلاص کړ .

د کندهار په ژړۍ کې چې د صالح قومندان په نامه ديوه محلي مفسد په خـلاف طالبانو لومړنی جنګ وکړ قاري صاحب په کـې برخـوال و، چـې د قومنـدان صـالح لـه تيښتې وروسته په همدې سيمه کې د طالبانو د محلي مرکز مشرۍ قـاري صـاحب تـه وسپارل شوه، کله چې طالبانو دکندهار باغ پُل سيمه ونيوله، د باغ پُل په سـيمه کـې د جهادي طالبانو د مرکز مسؤليت ورته وسپارل شو .

د کندهار له فتحې وروسـته چـې طالبـانو زابـل او غـزني ولايـات هـم ونيـول او دميدان وردګو ولايت ته ورسيدل، دغه مهال قـاری فـيض محمـد سـجاد د ملامحمـد عمر مجاهد په امر د ۳۲ مجاهدينو په مشري ميدان وردګو ولايت تـه وليـږل شـو، پـه دې سيمه کې نوموړي نه يوازې د ميدان ښار او دکابل دچهاراسياب په جبهـاتوکې پـه

جګړو کې برخه اخيسته بلکې څه موده يې د ميدان وردګو ولايت د سيداباد ولسوالۍ د ولسوال په حيث هم خدمت ترسره کړ .

## د سيد اباد مثالي ولسوال

قاري فيض محمد صاحب په ۱۴۱۶ هـ ق کال کې د ۸ مياشتو لپاره د وردګو ولايت دسيداباد دولسوال په حيث پاته شو ، خو په دې ۸ مياشتو کې يې هلته داسې کردار ترسره کړ ، چې تراوسه يې نيک يادونه پاته دي .

دا هغه مرحله وه چې افغانستان له سختې ګډوډۍ او بې نظمۍ څخه د راوتلو په حالت کې و، دطالبانو تحريک چې نوی يې د سياست او حکومت داری په عرصه ګام ايښی و، د اوس غوندې منظم نه و او نه يې تشکيلات دومره چوکاټ ته لويدلي و، خو له ټولو مشکلاتو سره سره قاري صاحب په سيداباد کې دعدل او انصاف يوه مثالي اداره رامنځته کړه، د عام اولس داسې رضايت او اعتماد يې تر لاسه کړ، چې تراوسه پورې دهمدې سيمو اولس په خورا اخلاص او کلک اعتماد دخپلو طالبانو وروڼو ترڅنګ ولاړ دي .

مولوي حيات الله چې هغه مهال له قاري صاحب سره يوځای اوسيدو، وايي چې دقاري صاحب د ولسوالۍ په وخت کې د قومندان مسلم په نامه دحزب اسلامي يو قومندان چې پخوا دطالبانو مخالف پاته شوی و، دنوموړي دښې ګوزارې له املې په خپله سيمه کې ازاد اوسيدو، دغه راز يې نه په ياد کيږي چې قاري صاحب دې کوم څوک که څه هم مخالف به و وهلی، توهين کړی او يا هم بې آبه کړی وي او حتی خپلو هغه ملګرو ته يې عتاب ورکاوو چې له چا سره به يې بد چلند کړی و .

مولوي حيات الله وايي يو ورځ زه او ملا فضل باري د سيداباد يوه قومندان ته چې پخوا له موږ سره مخالف و ورغلو او ورته ومو ويل چې موږ ته راپور راغلی چې تا دمجاهدينو موټر او نور وسائل پټ کړي دي ، چې بايد موږ ته يې راوسپاړې .





کله چې موږ بيرته راتلو نو دغه قومندان قاري صاحب ته راغلی و او دغه کيسه يې ورته کړې وه ، کله چې موږ راغلو قاري صاحب ډير خپه و او موږ ته يې خوشکې وکړې ، چې تاسو ولې په خپل سر داسې غلط کارونه کوئ ، تاسو کشران پرون له مدرسو څخه راپورته شوئ، الله تعالی يو فرصت درکړ اوس نه مجاهد ګورئ نه مشر او په بې احترامۍ ورسره حسابونه کوئ، تاسو دغه پخواني مجاهدين او قومندانان بايد وپيژنئ ، دوی داسلام لپاره دومره ستر خدمت کړی چې مثال يې نشته، دوی د خپل همت او ايمان په زور د شوروي غوندې خدای دښمنه طاغوت ته شکست ورکړی، د دوی قدر او منزلت بايد وپيژنئ ، له دوی سره که موټر وي ، خو په خپل غيرت به يې په غنيمت کې ګټلی وي ، ستاسو څه مجبوريت دی چې په خپل سر له خلکو سره حسابونه کوئ .

مولوي حيات الله وايي د قومندان مسلم په نوم يو قومندان چې پخوا دطالبانو سخت مخالف وو او اوس بيا دکرزي په حکومت کې دسيداباد ولسوال دی هغه وخت دقاري صاحب دنيک چلند څخه دومره متاثره شوی و ، چې نور خلک به يې دطالبانو صف ته دعوتول او حتی د وردګو په جلګه ولسوالۍ کې يې په يوه غونډه کې خلکو ته دطالبانو په پلوۍ تقرير وکړ .

د قاري صاحب د ښې حکومت داری يو ښه مثال دافغانستان دوتلي ليکوال احسان الله آرينزي هغه ليکنه ده چې په ۱۳۷۴ هـ ش کال د حوت په ۲۱ مه د شريعت اونيزې په پرلپسې ۱۲ مه ګڼه کې چاپ شوې ، ددې ليکنې عنوان دی ( دسيداباد په شرعي محکمه کې ديوې حقوقي دعوی خلاصول ) د احسان الله آرينزي پلار په سيداباد کې له حاجي خليل نومي کس څخه يوچارک ځمکه پخوا اخيستي خو وروسته حاجي خليل دتنظيمي بالادستي له املې بيرته ترې ګرځولې او پوره لس کاله يې په ظلم کرلې ريبلې ده، کله چې په سيداباد کې قاري فيض محمد ولسوال شوی احسان الله آرينزي خپل شکايت قاري صاحب ته کړی او هغه داسنادو دليدلو ، پوښتنو او تصفيې څخه

وروسته دمحکمې له لارې په څو ورځو کې دعوه حل او فصل کړې او ځمکه يې له لس کلن غصب وروسته بيرته خپل اصلي مالک ته سپارلې .

دا پيښه وتلي ليکوال احسان الله آرينزي ډيره په دلچسپه بڼه بيان کړې، قاري صاحب يې يو آرام سړی بللی چې دعارضينو خبرې يې په ډير حوصله ترپايه اوريدې، نوموړی په پای کې وايي: دلته بايد دا په ډاګه کړم چې دسيداباد ولسوالي دطالبانو په وخت کې له څوکاله رکود وروسته بيا فعاله شوه، که څه هم په شعباتو کې قالينې ، ښکلي ميزونه ، موبل او فرنيچر موجود نه وو، خو ډيره تقوی موجوده وه، ما دخپلې دعوی په جريان کې په سلګونو کسان هلته وليدل چې دخپلو کارونو داجراء يا دخپلو حقوقي او جزائي دعواګانو د حل او فصل لپاره په شعباتو کې ګرځيدل که څه هم دکارونو اجراء وخت نيوه او زيات تګ راتګ خلک پريشانه کوي ، خو هيڅا د دوه افغانيو د رشوت خبره راته ونه کړه ، له مراجعينو سره دمامورينو پيش آمد ښه او دواسطې ، پيسو او زور قصه بيخي ختمه شوې وه .

**د جهادي مدرسې مهتمم**

د وردګو ولايت په سيدابادکې له ۸ مياشتې خدمت څخه وروسته د عاليقدرامیرالمؤمنين په امر قاري فيض محمد صاحب کندهار ته راوغوښتل شو، مولوي حيات الله چې دصحنې شاهد دی وايي په کومه ورځ چې قاري صاحب له سيداباد څخه روانيدو، نو د ددې سيمې سپين ږيرو او مشرانو د ډير محبت له املې ورپسې ژړل ، خو دمشرتابه امر و چې دغه پاک حاکم خپل رعيت د اخلاص له اوښکو سره پريښود او کندهار ته لاړ، قاري صاحب په کندهار کې څه موده د باغ پُل په سيمه کې د مظهرالعلوم مدرسې سرپرستي وکړه او کله چې د کندهار ستره جهادي مدرسه تاسيس شوه، قاري صاحب ددې مدرسې د مهتمم په حيث وټاکل شو، چې دامريکايي يرغل ترمهاله يې څلورکاله همدې دندې ته ادامه ورکړه .





د کندهار جهادي مدرسه يوه تعليمي /جهادي اداره وه په دې مدرسه کې هغه طالبان اوسيدل، چې په عادي حالاتو کې يې ديني درسونه ويل، خو دضرورت په وخت کې د جګړې لومړيو کرښو ته تلل .

قاري فيض محمد سجاد صاحب ددې مدرسې عمومي مشر او مهتمم و. نوموړی دمدرسې د چارو په سمبالښت سربيره دکال په اوږدو کې جهادي کرښو ته هم تلو، په دې لړ کې د کابل دشمال د جنګي کرښو سربيره په کندز ، تخار او سمنګانوکې نوموړي دخپلې مدرسې دطالبانو په مشرۍ جهادي وظيفه ترسره کړې ده.

په کندهار کې د جهادي مدرسې او نورو اړوند مدارسو دطالبانوجهادي مشرۍ يوه مهمه او سخته وظيفه وه چې قاري صاحب په ډير ښه ډول اجراء کړه، نوموړی د خپل سرشار اخلاص، تقوی او حسن تعامل په واسطه توانيدلی و، چې د څلورو کلونو په اوږدو کې دمدرسې د طالبانو چې شمير يې د ۱۷۰۰ او ۲۵۰۰ په منځ کې چليدو، ښه رهنمايي وکړي، ديني زده کړو ته يې متوجه کړي او د مدرسې نظم برقرار وساتي، هغه طالبان چې په دې موده کې په يادو مدارسو کې پاته شوي له قاري صاحب څخه يوازې ښې خاطرې لري .

د جهادي مدرسې د مشرتوب سربيره نوموړي له امیرالمؤمنين ملامحمد عمر مجاهد سره هم خورا نږدې تعلقات درلودل، امير المؤمين صاحب په نوموړي خورا زيات باور درلود او دده استعداد يې درک کړی و، ملاخليل احمد چې هغه مهال دقاري صاحب ملګری و، وايي چې اکثره وخت مازديګر يې ملامحمد عمر مجاهد ليد چې په موټر کې به راغی، قاري صاحب به يې له ځان سره واخيست او دماښام له لمانځه وروسته به يې واپس راوړ، چې همدا له امیرالمؤمنين سره دنوموړی په همیشني او نږدې مصاحبت دلالت کوي .

**د شمال محاصره او زنداني کيدل:** هغه مهال چې امريکايي يرغلګرو په افغانستان يرغل ترسره کاوو، قاري صاحب فيض محمد له خپلوجهادي ملګرو سره دخپل اسلامي هيواد ددفاع په خاطر دافغانستان شمال ته تللی و او په تخار ولايت کې

يې جهادي دنده ترسره کوله ، نوموړی له خپلو ملګرو سره په کندز کې محاصره پاته شو، چې وروسته له دوستم سره دموافقې په نتيجه کې د نورو طالبانو غوندې ورسره وعده وشوه چې کندهار ته درسيدلو لار به ورکول کيږي .

خو دوستم دخپل تاريخي غدر په لړ کې کله چې طالبان خلع سلاح کړل ، کانتينرو ته يې واچول او د شبرغان او بلخ په خوا يې انتقال کړل، قاري فيض محمد صاحب په دې مرحله کې دهغو کسانو له جملې څخه و چې شبرغان ته په لاره په کانتينر کې ژوندی پاته شوی و، چې وروسته دشبرغان زندان ته واچول شو، د شبرغان په زندان کې چې کله د دوستم کسانو او سي آی اې د مامورينو لخوا دطالبانو دمشرانو پلټنه پيل شوه، قاري صاحب هم دطالبانو دمشر په صفت وپيژندل شو چې امريکايانو لومړی دکندهار د هوايي ډګر کرغيړن زندان او ورپسې د کيوبا د ګوانتانامو زندان ته انتقال کړ .

په ګوانتانامو زندان کې له يو نيم کال تيرولو وروسته نوموړی دهغو لومړنيو بنديانو له جملې څخه و چې راخلاص شو، دکيوبا په زندان کې نوموړي ۲۰ سيپارې قرانکريم حفظ کړ چې پاتې لس سيپارې يې له خلاصون څخه وروسته پوره کړ او په دې توګه يې دقرانکريم د حفظ ويار ترلاسه کړ .

## دامريکا خلاف جهاد او شهادت يې

د ګوانتانامو له زندان څخه له راخلاصيدووروسته نوموړي يوځل بيا دامريکا په خلاف مسلح جهاد پيل کړ. دامريکايي يرغل په دريم کال دخپلو هغومجاهدينو په مشرۍ چې دجهادي مدرسې له وختو يې ملګري وو دکندهار په معروف ولسوالۍ کې يې جهادي فعاليت پيل کړ، وروسته يې په ارغسان ، شاولیکوټ او ميانشين ولسوالیو کې جهادي فعاليت ته ادامه ورکړه په دې مهال نوموړی ډيره موده د جنوب او جنوب غرب حوزو دعمومي نظامي کميسيون دمشر په حيث هم دنده اجراء کړه ، چې دجهادي کارونو په نظم او ترتيب کې يې مهم رول درلود .





دکندهار ولايت په لوړو يادو ولسوالیو کې نوموړي ديوه مشر- جهادي رهبر او لارښود په حيث خورا ډير خدمتونه ترسره کړل، دمجاهدينو جهادي صفوف يې منظم کړل او ګڼ شمير مجاهدين يې مؤثر فعاليت ته اماده کړل، په شاولیکوټ کې له ۲ کاله خدمت وروسته نوموړی داسلامي امارت دمشرتابه لخوا دروزګان ولايت دجهادي مسؤل په حيث وټاکل شو. نوموړي په روزګان کې هم ټولو جهادي سيمو ته سفرونه وکړل، جهادي تشکيلات يې منظم کړل ، خو دهمدې جهادي خدمت په ترڅ کې يې د ۱۴۲۸ هـ ق کال د رجب دمياشتې په ۱۱ مه نيټه د چهارشنبې په شپه د شهادت ارمان ترسره شو. په دې نيټه نوموړي د روزګان ولايت دخاص روزګان ولسوالۍ په شالۍ ناوه سيمه کې دماښام د لمانځه له جماعت وروسته خپلو ملګرو ته ديني وعظ کاوو، چې ددښمن په هوايي ناڅاپي برید کې په نښه شو او دشهادت لوړ مقام ته ورسيد. انا لله وانا اليه راجعون

قاري صاحب پنځه زامن تر شا پرې ايښي چې نومونه يې محمد ، احمد ، حسن ، عبدالرحمن او کوچنی سعد دي، سعد دنوموړي دشهادت نه څه موده مخکې پيدا شو، نوموړي د ټيلفون له لارې خپلې کورنۍ ته احوال ورکړ چې په نوي پيدا شوي زوی يې سعد نوم کيږدي ، خو قاري صاحب خپل دغه کشری زوی په دنيا کې ونه ليد ځکه نوموړی په همدې جهادي سفر کې شهيد شو ، الله تعالی دې وکړي چې په عقبی کې يې په جنت کې سترګې پرې يخې شي .

## د قاري فيض محمدسجاد صاحب د شخصيت په اړه

وړاندې وويل شول، چې قاري صاحب دخپلو ملګرو او متعلقينو ترمنځ يو غيرمتنازع شخص دی، شخصا ما يې تراوسه له کوم چا څخه بده خاطره نه ده اوريدلې ، ټول ملګري يې دښه شخصيت ، ښه اخلاقو او ديانت صفت کوي .

ددينې علومو استاد مولوي حيات الله له قاري صاحب سره ډير وخت نږدې پاته شوی، نوموړی وايي: قاري صاحب يو عجب دينداره سړی و، مجاهد هم و، دطريقت بيعت يې هم کړی و، تبليغ يې هم نه هيراوو په تبليغي دعوت کې به يې دری ورځې

ياځه زيات وخت لګاوو حتی کله ناکله تر څلورو مياشتو په تبليغ کې تلو، ديني علم يې هم نه هيراوو، حتی دسفر او جهاد په حالت کې به ورسره يو بکس و چې کتابونه به په کې و او له فرصت نه په استفاده يې مطالعه کوله، قاري صاحب به ويل چې داسلام په ټولو شعبو کې بايد عملا کار وکړو، اسلام بايد يوازې په جهاد يا علم کې منحصر نه کړو، بلکې ټولې شعبې په خپل ځای بايد مهمې وبولو او خدمت په کې وکړو .

مولوي حيات الله وايي د قاري صاحب يو بل بارز صفت زهد و، له دنيايي عيش و نوش سره يې نه لګيده، ډيرې زياتې نفلي روژې يې نيولې، کله به چې له جهادي مدرسې څخه جهادته تلو نو امارت ورته ګڼ شمير موټران ورکول ، چې ده به په جهاد کې تري استفاده کوله، مګر کله به چې بيرته راغی، ټول موټر به يې اړونده ادارو ته وسپارل او حتی ځانته يې يو موټر هم نه پريښود، په مدرسه کې يې دعادي طالب غوندې ساده ژوند کاوو .

د اسلامي امارت په تشکيلاتو کې دهرات پخوانی والي او دفوائد عامې پخوانی وزير مولوي احمدالله مطيع وايي : قاري صاحب له الله تعالی څخه ويريدونکی انسان و، ديانت يې ډير ښه و، په خپلو وظايفو کې زحمت کش او نه ستړی کيدونکی وو او که رښتيا ووايم بې جوړې سړی و .

ملاخليل احمد وايي : په يادېږي يې کله به مو چې په موټر کې سفر کاو، قاري صاحب به په ډير خواږه غږ تلاوت کاوو او دحضر په مهال هم دقرانکريم دتلاوت ډير پايبند و .

مولوي حيات الله چې دامريکا خلاف جهاد کې له قاري صاحب سره نږدې پاته شوی دی وايي : قاري صاحب د جهادي ژوند يو ځانګړی پروګرام درلود، ملګري يې عبث وخت تيرولو او بې حاصله ګپ شپ ته نه پريښودل ، دورځې به يې دری وخته ديني وعظ او بيان کاوو او دابه يې دملګرو ترمنځ د يوه ځانګړي ترتيب له مخې تقسيم کړی و، د سهار او ماښام مسنون اذکار( أذكار الصباح و المساء) يې په ملګرو زده کول او عملي کول، که به مجاهدين ملګري کومې خوا ته روان و، اوپه لوړځای به ختل نو





قاري صاحب به غږ کړ، هلئ دلوړ ختلو ذکر الله اکبر شروع کړئ او که به په کوم ځای ښکته کيدو نو غږ به يې کړ د ښکته کيدلو ذکر سبحان الله وياست .

دغه راز د ډوډۍ د پيل او پای، مجلس، خوب او هرډول حالاتو اذکار يې همیشنی معمول و، او په ملګرو يې هم زده کول، که په مجاهدينو کې د چا سم قرأت نه و زده ، نو مجبورول يې چې له نورو قاريانو ملګرو څخه قرانکريم سم زده کړی، لمونځ ورته تير کړي ترڅو يې عبادت سم شي .

خپلو مجاهدينو ملګرو ته يې په همیشنی مذاکره کې د ژوند د هر اړخ آداب ورښودل، دډوډۍ اداب ، دمجلس اداب ، له مشرانو او کشرانوسره دګوزارې آداب او داسې نور مسنون آداب يې ملګرو ته ورښودل اوعملي اړخ ته يې دومره متوجه و ، که به چا په چپ لاس ډوډۍ پورته کړه سمدستې يې ورباندې غږ کاوو چې د ډوډۍ خوړلو مسنونه طريقه په ښې لاس خوراک دی .

د قاري صاحب دغه اصلاحي پروګرام په ډيره مسلکي طريقه اود نيک اخلاقی په چوکاټ کې و چې په هيڅا نه بوج کيده ، بلکې اکثره داسې علماء او مدرسين چې له ده څخه په علم او عمر کې زيات و، له ده څخه يې زده کړه کوله ، دده په ملګرتيا يې فخر کاوو، ځکه دقاري صاحب جهادي ملګرتيا يوازې جهاد نه و، بلکې يو اصلاحي پروګرام و. که به چا وخت ورسره تير کړ نو له جهادنه سوا به يې د شخصيت داصلاح په برخه کې ډيره ګټه کړې وه .

د قاري صاحب دجهادي ملګرو شمير خورا زيات و، خو د هريوه يې نه يوازې نوم زده وو بلکې د کورنی د غړو ، والدينو او شخصي ژوند پوښتنه يې هم تري کوله که به کوم ملګری له کور څخه سنګر ته راستون شو، قاري صاحب به د يوه مشفق قريب غوندې د ټولو خپلوانو پوښتنې تري کولې ، چې دا ډول صميميت اوس په خورا لږو خلکو کې ليدل کيږي .

مولوي حيات الله صاحب دقاري صاحب د ژوند او شخصيت په اړه خورا جالبې خاطرې لري، د ليکنې داوړديدو له امله به په دې کفايت وکړو، چې قاري صاحب دنبي کريم H دطريقې مطابقت په جهاد کې په اعمالو او عباداتو سره جنګ کولو ته ډيره توجه درلوده، نوموړي به چې د وسلو اومهماتو د اخيستلو لپاره دامارت مشرتابه ته د پيسو پيشنهاد کاوو، نو د وسلو ترخنګ به په لست کې د مجاهدينو د مسواکونو مصرف هم ليکل شوی و، ځکه نوموړي به په جبهه کې خورا ډير مسواکونه له ځان سره ساتل ترڅو مجاهدين له دغه مسنون عمل څخه بې برخې نه شي .

باور وکړئ ما ( ليکوال) چې کله دشهيد قاري صاحب فيض محمد سجاد د شخصيت په اړه دده دملګرو څخه ځيني خاطرې واورېدې او بيامې دليکلو په مهال له ځانه سره لحاظ کړې، نو بې اختياره مې له سترګو اوښکې وبهېدې ،دا پيښه ماته دقاري صاحب د ديانت يوه ځانګړتياښکاره شوه، ځکه زه خپل دليکوالې په ژوند کې تراوسه له داسې پيښې سره نه وم مخ شوی ، سبحان الله ، د فتنوپه دې عصر کې دومره ديانت ساتل ، چې تش ياد يې په يوه سخت زړه باندې اثر کوي او اوښکې تري رابيلوي ، خو بيا مې له ځان سره وويل

**اين سعادت به زور بازو نيست**
**تانبخشد خدای بخشنده**

راځئ دعاء وکړو ، چې متعال رب تعالی دې د رحمت دخپلوبې پايه خزانو څخه په مور ټولو مجاهدينو باندې هم رحم وکړي ، اخلاص ، نيک اخلاق، ديانت او صبر مو دې الله تعالی نصيب کړي ، ترڅو د دنيا او اخرت فائزين شو .

رحمه الله تعالی

* * *





## د شهيد ملا عبدالمنان احمد ژوند او کارنامو ته کتنه

ليکنه: قاري سعيد

د اسلام تاريخ له زړه وړونکو صحنو مالامال دی. د تاريخ د جالبو صحنو له جملې يو هم د هغو تنکيو زلميانو او کم عمره قائدينو داستانونه دي چې په کم عمر يې داسلام لپاره ستر ستر خدمات کړي او تر خپل قامت لوړ د ميړانې او ويار داستانونه يې تر شا پرې ايښي.

که زمور پخوانی تاريخ په دې برخه کې د تنکيو اتلانو معاذ او معوذ L او د محمد بن قاسم V په شان د ځوانو قائدينو بيلګې لري نو معاصر او نوی تاريخ مو هم په دې برخه کې خوار نه دی.دا خبره د لمر غوندې روښانه ده چې د امريکايي جهاني طاغوت په خلاف زمور د سرلوړي جهاد ډېر بوج زمور د مسلمان ملت ځوانانو او تنکيو زلمکيانو په اوږه واخيست. همدوی وو چې خپلې ګلورينې ځوانۍ او ګلابي شبابونه يې د دين له شمعې ځار کړل.همدوی وو چې د امريکايي دجالي تخنيک په وړاندې په ټوله ميړانه ودريدل، د کفر په لښکرو يې فدايي بريدونه او مخامخ حملې وکړې تر دې چې بالاخره يې د الله تعالی په نصرت د نړيوال کفري يرغل زور اوبه او يرغلګر يې له هيواده تيښتې ته اړ کړل.

د شهيدو اتلانو د سوانحو په لړ کې دا ځل د هغه ځوان قائد ياد راتاندوو چې په نوې ځوانۍ کې يې د صليبي تاړاکګرو په خلاف مسلح جهاد پيل کړ او ډير زر په جهادي ميدان کې د يوه وتلي او مخکښ جهادي قائد په حيث وپيژندل شو. هو کې ، شهيد ملا عبدالمنان احمد يادوو. . . هغه ستوری چې لا پر جهادي افق بشپړ نه و ځليدلی چې د شهادت په ګلورينه غيږه کې دمه شو.

## شهيد ملا عبدالمنان أحمد

شهيد ملا عبدالمنان احمد د محمد واصل زوی د حاجي محمد دين لمسی په قوم حسين خېل په ۱۳٦۱ هـ ش کال کې پې چې له ۱۴۰۳ هـ ق سره سمون خوري د کابل ولايت په موسهي ولسوالۍ کې دنيا ته سترګې غړولي. ددوی پلرنی کلی دهمدې ولسوالۍ د حاجي خيلو کلی دی مګر فعلا په مياخيل کلي کې هستوګن دي.

د ملا عبدالمنان د پيدايښت کلونه په افغانستان کې د شورويانو په خلاف د جهاد له کلونو سره مصادف دی. نوموړی هغه مهال وزېرېد چې د کمونيزم په خلاف جهاد زور اخيستی و او د افغانستان هر کلی او صحرا د سختو معرکو شاهد و، نوموړی په همدې انقلابي ماحول کې راستر شو نو ځکه يې جهادي جذبې له کوچنيوالي په زړه او دماغ کې ځای ونيو.

## ديني زده کړې

نوموړي ابتدائي زده کړه له ښوونځي پيل کړه او د دريم ټولګي پورې يې ښوونځی واويه په شپږ کلنۍ کې يې د ديني زده کړو تعلم پيل کړ د فقهې او نورو ديني علومو لومړني کتابونو يې له خپل نيکه او د خپلې سيمې له مختلفو علماء کرامو څخه ولوستل.

د طالبانو د اسلامي تحريک په مهال يې په کابل کې د شهيد ملا معاذ الله او شهيد ملا بورجان رحمهمالله په مدرسو کې ديني زده کړو ته دوام ورکړ دغه راز يې څه مهال د ننګرهار ولايت په درونټه کې په جهادي مدرسه دارالعلوم صديقيه کې هم ديني تعلم وکړ.

ملا عبدالمنان د خوست ولايت په مظهر العلوم مدرسه،د پاکستان په ټل درسمند کمپ کې په دارالعلوم حنفيه او د پيښور په باغبانان کمپ کې په دارالنجاة مدرسه کې دينې زده کړې وکړې او د قران کريم تفسير او ترجمه يې د خيبر پښتونخوا په صوابۍ شامنصور کې له شيخ القرآن مولانا نورالهادي صاحب څخه وکړه.





## جهادي ژوند

ملا عبدالمنان لومړی ځل هغه په جهادي عملياتو کې اشتراک وکړ کله چې يې د ننګرهار ولايت په جهادي مدرسه کې دينې زده کړې کولې،د اسلامي امارت په جهادي مدارسو کې به هغو طالبانو سبقونه ويل چې د جهادي عملياتو په وخت به جهادي جبهو ته تلل،جهادي مدارس په ډيرو ولياتو کې وو او په زرګونو مجاهد طالبان په کې په زده کړو بوخت وو.دغه طالبان به چې جهادي جبهو ته تلل زياتره وخت به يې مشري د کندهار د جهادي مدرسې د مشر او نوموتي مجاهد شهيد قاري فيض محمد سجاد پر غاړه وه، ملا عبدالمنان احمد لومړی ځل داسلامي امارت د واکمنۍ په وروستي کال د عمر په ۱۹ کلنۍ کې د شهيد سجاد صاحب تر مشرۍ لاندې د تخار ولايت جهادي جبهاتو ته لاړ چې دا يې په جهادي عملياتو کې لومړنی ګډون و.

له دې څه موده وروسته چې امريکايي طاغوت په افغانستان يرغل وکړ ملا عبدالمنان احمد هم د ډيرو نورو مجاهدينو په شان له هيواد څخه قبايلي سيمو ته په هجرت مجبور شو او له دينی زده کړو تر څنګ يې جهاد هم پيل کړ.

نوموړي دا ځل خپل جهادي عمليات د خوست له ولايت څخه پيل کړل، لومړني بريدونه يې د نورو مجاهدينو په ملتيا د خوست ښار په توپچي پاټک او باک پر ولسوالۍ وو.نوموړی چې د طالبۍ په مهال په دې ولايت کې اوسيدلی او بلدتيا يې درلوده له لومړنيو کسانو څخه و چې په دې ولايت کې يې په چريکي او وروسته په تهاجمي بريدونه کې برخه واخيسته.

ملا عبدالمنان احمد د خپلې جهادي وړتيا له امله وروسته د جهادي ملګرو خپل تشکيل جوړ کړ چې په پيل کې دده تر قومنده لاندې د مجاهدينو شمير ۱۱ تنه وو او زياتره يې د خپلې سيمې طالبان ملګري وو مګر وروسته يې د ملګرو شمير تر لسګونو او سلګونو ورسيد چې د هيواد د وتلي جهادي سالار مولوي جلال الدين حقاني صاحب تر مشرۍ لاندې يې د اسلامي امارت په چوکاټ کې جهادي فعاليت کاوو.

د امریکایي یرغل په لومړیو کلونو کې د هیوادله جنوب ختیځ سره د وزیرستان په سرحدي قبایلي سیمو کې مجاهدینو خفیه جهادي مراکز جوړ کړل او له همدې ځایه یې په سرحدي علاقو کې د یرغلګرو په مراکزو او ګزمو تهاجمي بریدونه پیل کړل. ملا عبدالمنان احمد د جهادي بریدونو ددې لړۍ له لومړنیو ګډونوالو څخه و چې د بټۍ، منې کنډو، لواړه، منګړیتی، منې کنډو، ترخوبي او نورو سرحدي غرییزو علاقو کې بیا بیا په امریکایانو او د هغوی په ګوډاګیانو ځپونکي بریدونه وکړل.

ملا عبدالمنان احمد د خوست ولایت په ډیری عملیاتو کې له خپلو ملګرو سره برخوال و له دې جملې د خوست ولایت د قلندر او د پکتیا د جاني خېل ولسوالیو د مراکزو په فتحه کې یې مهم رول درلود. د خوست ولایت د علیشیرو ولسوالۍ فتحه چې د خوست ولایت ډیرو مجاهدینو په کې برخه درلوده د هغه وخت یوه ستره جهادي کارنامه وه، خو ملا عبدالمنان احمد ځکه ددې فتحې په خوند پوه نه شو چې له فتحې وروسته د امریکایي یرغلګرو لخوا په بمبار کې د خوست د لسو تنو نورو مجاهدین تر څنګ د ملا عبدالمنان یو تکړه مجاهد ملګری ملا مصطفی هم د شهادت لوړ مقام ته ورسید.

۲۰۰۷ میلادي کال چې له ۱۳۸٦ هـ ش کال سره سمون خوري د ملا عبدالمنان احمد په جهادي ژوند کې له حوادثو ډک کال و، ددې کال په لومړیو کې نومورې د خوست په ولایت کې د امریکایانو په یوه ناڅاپي حملې کې ددښمن په اسارت کې راغی او د بګرام زندان ته انتقال شو. نومورې ۸ شپې په دې زندان کې محبوس و او امریکایي پلټونکو تري تحقیقات کول. اما له ټولو تعذیبونو سره سره یې هم له نومورې دا اعتراف وانخیست چې زه عبدالمنان احمدیم. له ۸ ورځو وروسته نومورې د الله تعالی په نصرت سره له دې زندان څخه نجات وموند او یو ځل بیا په جهادي ډګر کې له خپلو ملګرو سره وصل شو.

له زندان څخه د راخلاصیدو وروسته نومورې دپکتیا ولایت د شواک او سټو کنډو په غرنیو سیمو کې د جهادي جبهې د فعالولو کار پیل کړ. دا سیمه چې د





شوروي ضد جهاد په مهال د هیواد د وتلي مجاهد مولوي جلال الدین حقاني صاحب جهادي سنګر و دا ځل د نوموړي تر سرپرستې لاندې ملا عبدالمنان احمد او ورسره سلګونو مجاهدینو په کې د غربي اشغالګرو په خلاف جهاد عملیات پیل کړ.

د ۱۳۸٦ هـ ش کال په پسرلي او اوړي کې ملا عبدالمنان احمد او ورسره ملګرو یې چې شمیر یې د ۴۰۰ تنو مجاهدینو په شاوخوا کې و د پکتیا ولایت په ستوکنډو او شاوخوا سیمو کې په امریکایي اشغالګرو په لسګونو مختلف النوع بریدونه لکه چاودنې،کمینونه، توغندیز بریدونه او استشهادي عملیات ترسره کړل چې دښمن ته یې د سراو مال درانه تلفات ورسول. ملا عبدالمنان احمد چې د خپلو دې فاتحانه معرکو ویډیویي صحنې یې هم ثبتولې او نشرولې په لومړي ځل یې په مستند شکل خلکو ته وښودل چې امریکایي ټانګونه ماتیدلای ، په تیښته اړ کیدلای او بالاخره د بارودو په لمبو کې لوخړه کیدلای شي. د ملا عبدالمنان احمد د جهادي عملیاتو مستندو ویډیوګانو نه یوازې د مجاهدینو روحیات پیاوړي او ددښمن تبلیغات دروغ ثابت کړل بلکې په عامه میډیا کې یې هم لویه هنګامه راویښه کړه تر دې چې تر الجزیرې او نورو نړیوالو شبکو پورې ټیلویزوني چینلونو په دې اصداراتو تبصرې وکړې چې دا د پوځي بریا تر څنګ په رواني او تبلیغاتي جنګ کې هم د مجاهدینو لپاره یوه مهمه بریا او ټاکونکی پړاو و.

## ځینې خاطرې یې

د ملا عبدالمنان احمد د مدرسې د مهال ملګري وایي چې نومورې له پیله یو مخلص او مؤدب انسان و په مدرسه کې یې له ملګرو سره نیکه رویه، د استادانو احترام او د وخت له ضیاع نه ځان ساتل له مهمو صفاتو څخه وو.

د نومورې جهادي ملګري وایي چې هغه د ایثار ، استقامت او تحمل صفات درلودل نو ځکه یې جهادي تکالیف برداشت کولای شول. یو ځل چې له خپلو ملګرو سره د لواړه سرحدي سیمې ته په غرنیو لارو د عملیاتو لپاره روان و په لاره کې یې

ولیدل چې د یوه مجاهد بوټونه شلیدلي دي او سم مزل نه شي کولی. نوموړي خپل بوټونه همدې مجاهد ته ورکړل او خپله یې په هغو شلیدلو بوټونو کې مزل شروع کړ.

د امریکایانو په خلاف د جهاد لومړني کلونه د تکالیفو او ازمویښتونو له اړخه ډیر سخت کلونه وو چې ددې تکالیفو له جملې یو هم د مجاهدینو مالي افلاس او فقر و. خو د ملا عبدالمنان اخند په شان د لوی عزم څښتنانو له دې حالاتو سره په ډیر همت ډغرې ووهلې. یو ملګری یې وایي یو وخت په قبایلي علاقه کې حالت خراب شو نوموړي د خپل مرکز مجاهدین ډیری د ترجمې لپاره مدرسې ته ولیږل او خپله په داسې حال کې چې یوازې څلور زره کلداري ورسره وې له شپږو مجاهدینو سره دلواړه جهادي سیمې ته لاړ هلته یې ډیر وخت په همدې کمه خرڅه ګوزاره وکړه چې د مجاهدینو د اعاشې اباتې تر څنګ یې نور جهادي ضروریات هم پرې رفع کول.

ملا عبدالمنان به همیشه ویل چې مجاهدین باید د وس مطابق اسبابو له تهیې وروسته په الله تعالی باندې توکل ولري. ده به ویل چې امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد محض په الله تعالی باندې توکل درلود نو ځکه الله تعالی بری ورپه نصیب کړ او چې ددې تحریک پیل په توکل شوی باید توکل هېر نه کړو.

نوموړي علماء کرامو او دیني پوهانو ته ژور احترام درلود په هر جهادي کار کې یې د هغوی مشوره اخیسته حتی ډیره ځله به یې مدرس عالمان خپل مراکز ته راوغوښتل تر څو مجاهدینو ته وعظ وکړي او د جهاد احکام او مسائل ورته بیان کړي.

څو تنه دیني علماء کرام چې په سرحدي سیمه لواړه کې یې د ملا عبدالمنان له مرکز څخه لیدنه کړې وایي چې مجاهدینو یې جلا خصوصیات درلودل ، د اصلاح، اخلاص او دیانت له اړخه ډیر ښه صفات په کې موجود و.

**شهادت یې:** ملا عبدالمنان احمد بالاخره د ۲۰۰۷ میلادي کال د اکتوبر د میاشتې په ۲۷ مه نیټه د یکشنبې په ورځ مازدیګر مهال هغه وخت د شهادت لوړ





مقام ته ورسیدکله چې د پکتیکا ولایت په سرحدي سیمه لواړه کې د امریکایانو له کمین سره مخامخ شو.

نوموړي په وروستۍ ورځ هم له امریکایانو اشغالګرو سره په میړانه مقاومت وکړ او د څو امریکایي ککرو له رغړولو وروسته بالاخره د شهادت لوړ مقام ته ورسید.انا لله و انا الیه راجعون

د یادونې وړ ده چې د شهید ملا عبدالمنان احمد کورنۍ یوه جهادي کورنۍ ده چې له ده وروسته یې دوه نورو وروڼه شهید امیرګل او شهید نور محمد هم د جهاد په لاره کې شهیدان شول.

د نوموړي جنازه په قبایلي سیمه میرانشاه کې د زرګونو مجاهدینو او مهاجرینو په ګډون سره اداء شوه د جنازې په مراسمو کې یې وتلي مجاهد او خطیب استاد محمد یاسر چې څه موده وړاندې له زندان څخه راخوشی شوی و زړه وړونکې وینا وکړه او وروسته د اسلامي مبارزې د لارې ددغه ځوان قائد ملا عبدالمنان احمد جسد د هجرت او جهاد په همدې قبایلي سیمه کې د ګنو نورو شهیدانو تر څنګ خاورو ته وسپارل شو.

روح یې شاد او یاد یې تلپاتې اوسه

❊ ❊ ❊

# د شهيد مولوي دستگير صاحب ژوند او کارنامو ته کتنه

**ليکنه: قاري سعيد**

دامريکايي يرغل په خلاف د جهاد يوه توده او دښمن ځپونکي سيمه د هيواد په شمال غرب کې دبادغيس ولايت و. دا ولايت که څه هم دجهادي خوځښت په وړاندې خورا ډير موانع او مشکلات په کې موجود و، چې له دې جملې په سيمه کې د امريکاپلوو ټوپکي قومندانانو او وسلوالو حاکميت،ددښمن فشار، دوسلو، جهادي امکاناتو نه موجوديت او دهيواد په جنوب کې له گرمو جهادي سيمو څخه لريوالی او دمجاهدينو محاصره حالت د يادولو وړ دي.

خو له دې ټولو موانعو او مشکلاتو سره سره ددې ولايت غيور اولس او ايثارگر مجاهدين وتوانيدل چې د يرغل له آزمون سره ډغرې ووهي،د موانعو او خنډونو حصار مات کړي اوددښمن په وړاندې دجهادي خوځښت يو پايدار سنگر رامنځته کړي.

بادغيس د جهاد په تيره لسيزه کې د هيواد په سطحه يو نوموتی او غليم ځپونکی سنگر و،چې بيا بيا په کې دښمن سخت تلفات وليدل،سره له دې چې دبادغيس د جهادي فتوحاتو په امتياز کې ټول هغه مجاهدين او مجاهد اولس شريک دی چې په تيرو څوکلونو کې يې قربانۍ ورکړې،خو يو کس چې په دې ولايت کې د جهادي خوځښت محرک او مبتکر بلل کيږي اود بادغيس ولس ورته د خپل جهادي لارښود په سترگه گوري شهيد مولوي دستگير صاحب و.هغه څوک چې په خپل جرأت، ايمانداری،اخلاص او قربانۍ سره يې په بادغيس کې نه يوازې دعلني جهاد بنسټ کيښود بلکې د الله تعالی په مرسته او مدد يې جهاد ددې ولايت گوټ گوټ ته وغځاوو او اولس يې دجهاد هراړخيز ملاتړ ته تيار کړ.

راځئ دلته څوشيبې ددې مخورمجاهد په ژوند پيښو وغږيږو .





## مولوي دستگير V

مولوي دستگير د حاجي اصل خان زوی د حاجي فيض محمدخان لمسی په قوم پښتون / نورزی په ۱۳۹۷ هـ ق کال کې د بادغيس ولايت د بالامرغاب ولسوالۍ د چلونک په کلي کې په يوه ديندارہ کورنۍ کې زيږيدلی .

نوموړي دماشومتوب په مهال لومړنۍ زده کړې په خپل کلي کې ترسره کړې،ورپسې يې د بالامرغاب د جهاندوستې په سيمه کې دمولوي محمدوزيرصاحب په نامه د سيمې له يوه مخور عالم څخه ديني تعليمات ترلاسه کړل. وروسته نوموړي د بادغيس ولايت په مختلفو سيمو کې دغه راز د هرات ، فراه،کندهار او هلمند په ولاياتو کې په مختلفو ديني مدارسو کې خپله ددديني زده کړو لړۍ تعقيب کړه، داسلامي امارت د واکمنۍ په مهال ډيره موده دهرات ښار چهار راهي مستوفيت ته نږدې د يوې مدرسې ناظم و او هم يې خپلې ديني زده کړې تعقيبولې .

په ۱۴۲۷ هـ ق کال کې نوموړي د ددديني علومو څخه د فراغت سند د پاکستان د بلوچستان ايالت په مرکز کويټه کې د شالدارې له مشهورې مدرسې څخه ترلاسه کړ، د همدې سيمې د مشهور عالم شيخ الحديث مولوي عبدالواحد صاحب څخه يې د احاديثو داجازې په اخيستلو سربيره د فضيلت سپين دستار هم په سر کړ .

## په بادغيس کې د علني جهاد پيل

مولوي دستگير صاحب د نوې ځوانۍ له مهاله جهادي جذبه درلوده،د نوموړي نږدې ملگری مولوي حيات الله اکبري وايي: دامريکايي يرغل په لومړنيو کلونو کې چې مولوي دستگير صاحب په هلمند ولايت کې درسونه ويل له هغه وخته يې په جهادي عملياتو کې شرکت کاوو،نوموړي خپل جهادي ژوند په هلمند او کندهار کې له جهادي فعاليت څخه پيل کړ.

په بادغيس کې سره له دې چې جهادي کارونه له وړاندې پيل شوي و او په دښمن خال خال بريدونه روان و، خو دې ولايت ته د مولوي دستگير صاحب له راتگ

مخکې جهادي کارونه ډير کم او په مخفي ډول و. مجاهدينو وسلې ،امکانات او منظم تشکيلات نلرل خو په ۲۰۰۷ م کال کله چې مولوي دستګير صاحب له ديني علومو فارغ او په لومړي ځل يې په خپله سيمه کې جهادي فعاليت پيل کړ په خپلو هڅو سره يې په دې ولايت کې يو بشپړ جهادي انقلاب راووست.

د نوموړی يو ملګری دبادغيس دمقر ولسوالۍ اوسيدونکی مولوي عبدالقدوس چې د جهادي خوځښت په پيل کې ورسره همسنګر و داسې کيسه کوي: مولوي دستګير صاحب خپل کار په ډيرو ابتدايي هڅو پيل کړ ، په لومړي ځل چې کله نوموړي دجهاد اقدام کاوو نو تش لاس و او يو ميل وسله يې هم په لاس کې نه درلوده ، له ده سره يوازې زما په شمول څو تنه نور ملګري وو. لومړی دوسلو دپيدا کولو لپاره د بالامرغاب دپنيرک په کلي کې يوه پخواني جهادي قومندان ملاګلاب الدين ته ورغلو چې دوسلو کومک راسره وکړي، هغه دې خير يوسي دوه ميله کلاشينکوف يې راپيدا کړل. بيا دهمدې ولسوالۍ دغورتو دسيمې مولوي بازمحمد صاحب يوميل راکټ راکړ ، په دې توګه موږ يوڅو نور ملګري هم دوخت په تيريدو سره پيدا کړل او په همدې دری ميله اسلحه باندې مو جهاد پيل کړ. يو وخت چې شمير مو ۱۲ کسانو ته رسيدلی وو ، لومړی مو په سيمه کې ددښمن ديوې NGO په ساتونکو بريد وکړ بله شپه مو دبالامرغاب په ولسوالۍ بريد وکړ او بيا مو په مختلفو پوستو بريدونو ته دوام ورکړ ،لومړی مو کارونه يوازې دشپې کول خو دوخت په تيريدو سره مو غنيمتونه ترلاسه کړل، ملګري مو نور هم زيات شول او دوسلوله اړخه بسيا شوو. دلته نوبالامرغاب ته نږدې يوغرنۍ سيمه ده په نامه د ( حوض کبود ) دلته موږ مرکزيت جوړ کړ او کله چې په بادغيس کې زموږ ددي جهادي قوي مرکزيت اوازه خپره شوه ، نو له مختلفو ولسواليو څخه خلکو له موږ سره روابط جوړ کړل . نو په دې توګه دمجاهدينو شمير هره ورځ په زياتيدو وو خپل علني عمليات مو نورو ولسواليو لکه مقر ، دره بوم او نورو سيمو ته هم وغځول او ډيرې پراخې سيمې مجاهدينو فتحه کړې.





مولوي حيات الله اکبري وايي: په پيل کې د بادغيس دمجاهدينو مشري دمولوي عبدالرحمن په غاړه وه او مولوي دستګير دنوموړي دمحاذد نظامي مسؤل په حيث دنده اجراء کوله،د نوموړي په راتګ سره په بادغيس کې علني جهادي کارونه پيل شول، مثلا نوموړي په لږه موده کې د بالامرغاب د سالوچار په سيمه کې په پوسته بريد وکړ،ورپسې يې دبالامرغاب په ولسوالۍ حمله وکړه د مقر ولسوالۍ په مرکز يې عمليات وکړل،د بالامرغاب د اخکزو په سيمه کې يې ددښمن په کمپاين بريد وکړ،چې دې عملياتو ددښمن سخت عکس العمل راوپاراوو او له هرات او بادغيس له مرکز څخه يې لويه قوه بالامرغاب ته راوسته، د مولوي دستګير صاحب په مشرۍ مجاهدينو د جوی کار د تنګي په سيمه کې له همدې قوې سره جنګ وکړ،ددښمن شکست وخوړ او بيرته د ولسوالي په خوا وتښتيدل او مجاهدينو په همدې سيمه کې ددښمن ته دفاعي کرښه جوړه کړه،ددښمن چې په همدې جنګ کې شکست وخوړ نو پخوانی رعب او هيبت يې له منځه لاړ له همدې سره په ولس کې عمومي دجهاد جذبه راپورته شوه او جهاد بشپړ علني شکل غوره کړ.

مولوي حيات الله صاحب وايي: مولوي دستګير صاحب د ګوتو په شمير څو تنو ملګرو سره جهادي فعاليت پيل کړی و، چې وسلې يې هم نه درلودې خو دوه کاله وروسته دنوموړي له شهادته بعد چې دمجاهدينو احصايه واخيستل شوه دنوموړي تر قومنده لاندې يوازې دمسلحو بالفعله مجاهدينو شمير ۳ زره تنو ته رسيده .

## مهمې جهادي کارنامې

د جهاد له علني کيدو وروسته د بادغيس ولايت په لراوبر کې دمولوي دستګير صاحب تر نظامي مشرۍ لاندې جهادی عملياتو زور واخيست يوازې د ۲۰۰۷ م کال په جريان کې په ددښمن ۵۲ اغيزمن عمليات ترسره شول دغه راز په ۲۰۰۸ م کال کې جهادي عمليات تردې هم زيات شول، په لاندې کرښو کې د مشت نمونه خروار په توګه څو هغو جهادي عملياتو ته اشاره کوو چې دمولوي دستګير صاحب ترمشرۍ لاندې يې صورت نيولی.

د جوی کار په سیمه کې له جنګ څخه وروسته د مرغاب د بوکن په سیمه کې د داخلي او خارجي عسکرو یوه قوه چې د غورماچ په خوا روانه وه، مجاهدینو وربانديې برید وکړ چې په نتیجه کې یي ددښمن ۱۸ مړي په میدان پاته شول،۵ رینجر موټر ترې مجاهدینو ونیول یو خارجي ټانګ او دوه رینجر چې د جګړې په سیمه پاته وه امریکایانو بمبار کړل،مجاهدینو یوشمیر داخلي عسکر ژوندي ونیول او ډیرې وسلې یي هم غنیمت کړې،په دې جګړه کې چې کوم عسکر ژوندي پاته شول امریکایانو دځرخکو په واسطه له سیمې پورته کړل او په دې توګه یي قوه له منځه لاړه، په دې جګړه کې ددښمن د بمبار له امله ۷ تنه مجاهدین هم شهیدان شول .

د مرغاب د منګان په سیمه کې چې دښمن غوښتل پوستې جوړې کړي،د مولوي صاحب په مشرۍ مجاهدینو ورباندې برید وکړ چې په نتیجه کي یي دښمن ته د سر دزیان په اړولو سربیره ۲ رینجر موتر او نور غنائم هم مجاهدینو ونیول ددښمن عسکر له سیمې وتښتیدل او پروګرام یي کاملا ناکام شو.

د بالامرغاب د مرکز په شاوخوا کې چې دښمن د محاصرې په حالت کې و، یو ځل یي غوښتل چې عملیات وکړي په همدې موخه د ولسوالۍ له مرکز څخه راووتل خو مجاهدینو یي په وړاندې مقاومت ته ادامه ورکړه دې جګړې نړدې یوه هفته دوام وکړ چې په پای کې دښمن غوخ شکست وخوړ او بیرته پر شا وتښتید .

مولوي دستګیر سره له دې چې د جهاد په پیل کې هم یوځل په کندهار کې ددښمن لخوا نیول شوی او لنډ توقیف یي تیر کړی و،د ۲۰۰۸م کال په لومړیو کې ددښمن لخوا په هرات کې ونیول شو او د کابل دپلچرخي زندان ته انتقال شو،نوموړي شاوخوا اوه میاشتې په زندان کې تیرې کړې، څرنګه چې مولوي صاحب د بادغیس په عام اولس کې فوق العاده محبوبیت درلود دبادغیس ولایت قومي مشرانو، مخورو او علماء کرامو دنوموړي دخلاصون لپاره هڅې پیل کړې، تردې چې د ۷۰ کسانو یوه لویه ډله کابل ته لاړه او له حکومته یي په کلکه غوښتنه وکړه چې مولوي صاحب راخلاص





کړي، څرنګه چې دبادغیس ټول اولس دنوموړي په ملاتړ ولاړ و، حکومت مجبورا نوموړی له زندان څخه خوشی کړ.

له راخلاصیدو وروسته چې مولوي صاحب خپلې سیمې ته ستون دعاموخلکو او مجاهدینو له خورا پراخ هرکلي سره مخامخ شو، دعیني شاهدانو په وینا د مولوي صاحب راخلاصیدل په سیمه کې دیوه ولسي جشن به حیث تجلیل شول حتی عامو خلکو ډیر دشکرانې خیراتونه وکړل،ځکه نوموړي د یوه مخلص مجاهد په حیث د ولسي خلکو په زړونو کې ژور ځای خپل کړی و. دسیمې دخلکو اومجاهدینو په غوښتنه نوموړی د اسلامي امارت د مشرتابه لخوا دبادغیس ولایت د عمومي جهادي مسؤل یا والي په حیث وټاکل شو، نوموړي دامارت دمشرتابه له لارښوونو سره په سیمه کې دولسوالیو نظامي او ملکی تشکیلات، کمیسیونونه ،محاکم اونور ادارات له سره منظم کړل او په بادغیس کې منظمه جهادي اداره رامنځته شوه .

د مقر ولسوالۍ اوسیدونکی مولوي صدیق الله وایي: په همدې مهال دښمن غوښتل چې د مقر ولسوالۍ په سنجیتک سیمه کې چې د بادغیس دمرکز قلعه نو په ۱۰ کیلومتری کې پرته ده،پوستې جوړې کړي.مجاهدینو ددښمن له دې پروګرام سره مخالفت وکړ او دښمن ته یي اجازه نه ورکوله چې دغلته پوستې جوړې کړي، په دې مهال دښمن د سیمه ایزو پخوانیو ملیشو او حکومت پلوه اولسي خلکو سره په ګډه په مجاهدینو هجوم وروړ نه یوازې یي سیمه ایز مجاهدین تر برید لاندې ونیول بلکې د مجاهدینو او دهغوی دملاتړو مالونه یي هم چور کړل،کورونه یي وسوزول او دمجاهدینو دسیمي عام خلک یي په هجرت کولو او غرونو ته په تیښتیدلو اړ کړل. په دې برید کې دحکومتي ملیشو په لاس ۲۰ تنه عام مؤمن هیوادوال شهیدان شول او بې اندازې مالونه یي لوټ شول،دغه مهال چې مولوي دستګیر صاحب په بالامرغاب کې و دهمدې جهاد پلوه اولسي وګړو د دفاع لپاره یي مجاهدین همدې سیمې ته راوستل اوددښمن له ملیشو سره یي جنګ پیل کړ. دې جګړې یوه هفته دوام وکړ، چې په نتیجه کي دحکومت پلوه ملیشو د مشر عثمان بیګ په شمول ګڼ لوټماران ووژل شول

او یاده سیمه بیرته مجاهدینو له ملیشو څخه تصفیه کړه، په دې توګه دسیمې بې ځایه شوي خلک بیرته ځای په ځای شول او حکومت پلوه ملیشو داسې شکست وخوړ چې بیا یې کله هم ددا‌سې هجوم فکر ونه کړ . په دې حادثه کې چې مولوي دستګیر صاحب دعام اولس د ملاتړي او مرستندوی په حیث راڅرګند شوی و او ولسي ـ خلکو ته یې نجات ورکړی و په سیمه کې دمجاهدینو په حق کې اولسي اخلاص نور هم زیات شو.

د مولوي دستګیر صاحب جهادي کارنامې خورا ډیرې دي خو هغه کارنامه یې چې ډیره خبرسازه شوه ،هغه په په ۲۷/۱۱/۲۰۰۸ میلادي نیټه په بالامرغاب ولسوالۍ کې پیښه شوه.

مولوي حیات الله وایي : له هرات څخه ددښمن یوه خورا ستره قوه چې ۱۰۰ پوځي موټر به په کې وو د بادغیس مرکز ته راغله او له هغه ځای څخه یې د عملیاتو په نیت دبالامرغاب په خوا حرکت وکړ،مجاهدینو ددې قوې د ماتولو لپاره په سیمه کې پوره امادګي نیولې وه، قوه چې د منګان سیمې ته راورسیده لومړی ورباندې هما‌لته برید وشو،خو له هغه ځای څخه چې راتیره شوه د اکازو د جوی نو په سیمه کې مجاهدینو ورته د سرک په دواړو خواوو کمینونه نیولې وو. کله چې دغه قوه پوره دمجاهدینو سیمې ته ننوته مجاهدینو ورباندې برید پیل کړ، دغه جنګ چې غرمه پیل شوه ترمازیګره په کې ددښمن قوه په بشپړه توګه تارومار شوه،، په دې عملیاتو کې ددښمن د لسګونو موټرو له جملې ګڼ دمجاهدینو په لاس تخریب شول او ۲۱ رینجر ٦ اکمالاتي موټر چې په وسلو بار وو روغ رمټ مجاهدینو ونیول. په دې عملیاتو کې ددښمن ۴۵ تنه عسکرووژل شول او تر ۲۰ ډیر ژوندي ونیول شول په دې جګړه کې مجاهدینو دومره وسلې او مهمات غنیمت کړل چې تر راتلونکو دوو کلونو پورې ورباندې مجاهدین چلیدل په دې عملیاتو کې مجاهدینو ته په لسګونو میله سپکې وسلې ، هاوان ، هشتادو دو ، دهشکې ، ثقیل ماشیندار او نور ډول ډول وسلې په لاس ورغلې.

دې عملیاتو نه یوازې په نړیوالو مطبوعاتو کې غوغا جوړه کړه بلکې په کابل کې یې په حکومتي کچه هم سخت مخالفتونه او اعتراضونه راوپارول، مطبوعاتو ولیکل





چې دا په تیرو څو کلونو کې حکومتي قواوو ته ترټولو درنه ضربه وه،له دې عملیاتو سره په نړیوالو مطبوعاتو کې دمولوي دستګیر صاحب نوم د دې برید د اصلي طراح په توګه یاد شو، نوځکه خارجي او داخلي دښمنان متوجه شول ترڅو دغه قهرمان غازي په شهادت ورسوي.

مولوي حیات الله اکبري وایي له دې عملیاتو وروسته د کرزي دحکومت د استخباراتو مرستیال ډاکټر عبدالله لغماني مولوي صاحب ته ټیلفون راوکړ او رسما یې دمرګ اخطار ورکړ، مولوي صاحب ورته وویل چې څه مو له وسه کیږي ویي کړئ ، زه داسې څوک نه یم چې له مرګه وډار شم .

## شهادت یې

مولوي دستګیر صاحب ددښمن تر سخت تعقیب لاندې و،تردې چې د ۲۰۰۹ کال د فبروري په ۱٦ مه چې د ۱۴۳۰ هـق د صفرالمظفر له ۲۱ سره سمون خوري ددښمن به بې رحمانه بمبار کې په شهادت ورسید.

مولوي حیات الله اکبري وایي: مولوي صاحب د ولسي ـ خلکو د مشکلاتو او عرایضو له اوریدلو او لازمو کارونو دترسره کولو نه وروسته ماښام زمونږ کور ته راغی او دڅو تنو نورو مجاهدینو سره یوځای یې همدلته په میلمه ځای کې شپه شوه، په دې شپه طیارې بیخي زیاتې ګرځیدلې څرنګه چې مولوي صاحب ستومانه و د ماخوستن دلمانځه له اداء کولو وروسته سمدستي ویده شو، زه هم کور ته لاړم خو د شپې لس نیمې بجې شاوخوا به وې چې ناڅاپه دروند بمبار وشو.

کله چې راووتو الوتکو دمیلمنوځای په نښه کړی و او دری بمونه یې پرې غورځولي و،چې یو په کوټه او دوه نورهم ورته نږدې لګیدلي وو، په بمبار کې یوازې یو تن په زخمي حالت کې ژوندی پاته و او دمولوي صاحب په ګډون اوه تنه مجاهدین په شهادت رسیدلي و.

په شهيدانو کې د بادغيس ولايت يو تکړه مجاهدمعاون بازمحمد هم و مولوي دستګير هم چې په ځيګر يې دامريکايي بم پرخچه خوړلې وه په شهادت رسيدلی و،نوموړی چې په جنازه کې يې ګڼ شمير خلکو او ملګرو ګډون کړی و، په خپل پلرني کلي کې خاورو ته وسپارل شو،د نوموړي يو زوی ترشا پاته شو چې دده دشهادت په مهال يې عمر ۸ ميا شتې و .

## خاطرې او يادونه

مولوي دستګير په دې سربيره چې يوه زړور ،مخلص او تکړه مجاهد و دسيمې په سطحه اود مجاهدينو په منځ کې يې د يوه مشر۔ په حيث غيرمعمولي محبوبيت درلودچې همدا يې دکاميابۍ راز و،ملايارمحمد اخند چې دنوموړي له نږدې ملګرو څخه دی وايي: مولوي دستګير صاحب په بادغيس کې خورا زيات محبوبيت او نفوذ درلود،دهغه دعامه محبوبيت وجه دا وه چې هيڅ تعصب يې نه درلود، قوم پالنه ،ډلګۍ پالنه او نور تمايلات په کې نه و، له هرچا سره يې د شريعت په رڼا کې چلند کاوو. خپل جهادي مسير ته خورا وفادار و او هميشه يې خوښوله چې د خپل اولس په منځ کې واوسي،له هغوی سره هميشه په رابطه کې و ځان يې تر عامو خلکو لوړ نه باله او همدا نږدې تعلقاتو په ده باندې داولس باور پوخ کړی و. کله چې نوموړی له زندانه راخلاص شو نو د بادغيس په عام اولس کې داسې خوشالي ګډه وه لکه د هرکور کوم غړی چې راخلاص شوی وي.

مولوي حيات الله اکبري صاحب هم همدې خبرې ته اشاره کوي او وايي: په هماغو شپو کې مې له يوه عام سړي څخه واوريدل چې په خپلو مرحومو قريبانو پسې مې دومره خيراتونه ندي کړي لکه دمولوی صاحب د راخلاصيدو په خاطر مې چې وکړل ،مولوي اکبري صاحب زياتوي: کله چې مولوي دستګير صاحب بندي و، زه او مولوي اسمعيل صاحب يوې لرې دښتي سيمې ته چې مالداران په کې اوسيږي لاړو او هلته د مالدارانو دکيږديو په منځ کې په يوه لوخ جومات کې چې يوې کيږدې ته نږدې و کيناستو او له عامو خلکو سره مو مجلس کاوو، په همدې کې يوې زړې ښځې





له کيږدې څخه راغږ کړ، او پوښتنه يې وکړه چې مولوي دستګير نه دی راخلاص شوی؟

موږ ځواب ورکړ چې تراوسه نه دی راخلاص . په دې سره هغه بوډۍ ښځه ژړا واخيسته او ورسره يې دمولوي صاحب د راخلاصيدو لپاره دعاګانې پيل کړې، موږ يې غږ اوريد او په داسې عجز يې دعاګانې کولې چې حتی موږ يې ورسره وژړولو .

مولوي حيات الله صاحب وايي:دمولوي دستګير کورنۍ جهادي کورنۍ ده، دنوموړي پلار چې دروسانو په مهال مجاهد و پخوا وفات شوی او دامهال يې يوازې مور ژوندی وه، دمولوي صاحب مور يوه خورا ديندارە او غيرتي ښځه ده چې خپل زامن يې په جهادي روحيه سمبال روزلي دي، دمولوي دستګير له شهادت وروسته دده يو بل ورور هم په جهاد کې شهيد شو او کله چې موږ دفاتحې لپاره ورغلو نو مور يې راغله مور يې موږ ته وويل چې دوه زامن مې په جهاد کې شهيدان شول خو تراوسه ما ورباندې ژړلي نه دي.

په دې مهال د مولوي دستګير صاحب زوی چې کوچنی ماشوم دی راغی،د هغه په سر يې لاس تيراوو او ويل يې چې زه خپل زامن او لمسيان د جهاد لپاره لويوم اوتربيه کوم، او دوی مې دالله تعالی لارې ته وقف کړي خو که دوی شهيدان شول په خپله هم حاضره يم چې دالله تعالی ددين لپاره وجنګيږم .

د نوموړي نور ملګری او هغه مجاهدين چې مولوي دستګير صاحب سره يې نږدې وخت تير کړی په دې خبره متفق دي چې نوموړی يو مخلص مجاهد او اغيزمن مشر و، چې ترپايه يې خپل جهادي کردار په ډير ښه ډول ترسره کړ.

رحمه الله تعالی

❊ ❊ ❊

# د شهید ملا عبدالسلام مجروح ژوند او کارنامو ته کتنه

لیکنه: قاري سعید

## پیدایښت او ابتدائي ژوند

ملا عبدالسلام د حاجي شکراکا زوی په قوم پښتون/نورزی په ۱۳۴۵ هـ ش کال کې د هلمند ولایت د نوازد ولسوالۍ د تیزني سیمې په ګلبینه کلي کې په یوه دینداره کورنۍ کې دنیا ته سترګې وغړولې.

نوموړي د لس کلنۍ په عمر په کلیوالو مدرسو کې دیني زده کړې پیل کړې، لومړی یې دنوزاد په ولسوالۍ کې څه موده زده کړې وکړې او بیا د موسی کلا ولسوالۍ ته لاړ،نوموړی لا د ژوند په لومړنیو مراحلو کې و چې په افغانستان کې کمونیستان واک ته ورسیدل، افغانانو جهادي پاڅون وکړ،کمونیستانو په کلیوالو سیمو بریدونه او بمبارونه پیل کړ او په دې توګه له هیواد څخه د هجرت لړۍ پیل شوه چې ملا عبدالسلام هم د هجرت ددې لړۍ یو لاروی و.

## هجرت او د کمونیزم په خلاف جهاد

ملا عبدالسلام اخند په تانده ځوانۍ کې د خپلې سیمې پریښودو ته اړ او په جهاد یې پیل وکړ. په جهاد کې لومړی شمولیت یې د کندهار په ارغنداب ولسوالۍ کې د ملا عبدالغني په جبهه کې و، له هغه وروسته یې پاکستان ته هجرت وکړ او د څو کلونو په اوږدو کې یې د کندهار او هلمند په بیلابیلو سیمو کې جهاد ته ادامه ورکړه، په دې مرحله کې یې د دیني علومو درسونه هم تعقیبول، د کندهار او هلمند په مختلفو سیمو سربیره یې د پاکستان په کویټه،چمن،ګردي ځنګل، پنج پای او ګنو نورو سیمو کې هم درسونه وویل او د تعلم سفر یې تر پنځمې درجې پورې ورساوو.





په دې مرحله کې ملا عبدالسلام ډیر ځله کندهار ولایت ته د جهادي فریضې د اداکولو لپاره تلو نوموړي د پنجوایي، ژړۍ، ډنډ او ارغنداب ولسوالیو په ډیرو جنګونو کې شرکت کړی دی دغه راز یې دکندهار ښار په داخل کې هم په ځینو چریکي عملیاتو کې شرکت کړی.

په کندهار سربیره نوموړی د لنډ وخت لپاره په روزګان،فراه او غور ولایاتو کې هم جهاد کړی دا چې نوموړي د جهادي اعداد او نظامي تربیې دوره ترسره کړې وه نو په ټولو خفیفه او ثقیله وسلو کې یې پوره مهارت درلود. دجهاد په وروستیو کلونو کې یې ډیر موده په هلمند ولایت کې جهاد ته ادامه ورکړه د سنګین په فتحه او د قلعه ګز او ګرشک په جنګونو کې یې شرکت درلود، په هلمند کې نوموړي په پیل کې د مولوي عطاء محمد په جبهه کې و خو وروسته ملا محمد نسیم اخندزاده ورته ځانګړی تشکیل ورکړ.

په هلمند کې یو تریخ حقیقت د جهاد په وروستیو کلونو کې د تنظیمي جګړو پیښیدل و. دغه جنګونو چې اصلي سیمه یې دهلمند شمالي ولسوالۍ وې د حزب ،حرکت او جمعیت د مختلفو قومندانانو ترمنځ وو چې د طالبانو د اسلامي تحریک د قیام تر وخت پورې یې دوام وکړ او زرګونو جنګیالي او عام بې طرفه خلک په کې له منځه لاړل.

کله چې دغه تنظیمي جنګونه پیل شول ملا عبدالسلام له دغې نزاع څخه د خلاصون په خاطر په خپله سیمه د نوزاد په تیزني کې یوه دیني مدرسه تاسیس کړه. دغه مدرسه څلور کاله فعاله وه چې سلګونه کشرانو او مشرانو طالبانو په کې دیني زده کړې حاصلې کړې خو وروسته د یوه ځایي ټوپکمار قومندان لخوا د نوموړي مدرسه وربنده کړای شوه په دې وخت کې د مجاهدینو د حکومت په لومړي کال نوموړی د حج د مبارکې فریضې د اداء کولو لپاره حرمینو ته لاړ او دغه ستره فریضه یې ترسره کړه له حج څخه له راګرځیدو وروسته نوموړي تر هغه وخته یوازې د ځان او خپلو

مجاهدو ملګرو د ساتلو هڅه وکړه او په کور کيناست ترڅو د طالبانو اسلامي تحريک راپورته شو.

## د طالبانو په تحريک کې شموليت

کله چې د کندهار په ميوند او ژړې ولسوالیو کې د طالبانو قيام پيل شو او وروسته يې د کندهار په ډنډ ولسوالۍ کې مرکز جوړ کړ دغه مهال د ملاعبدلکريم په نوم يو تن مجاهد چې د ملا عبدالسلام نړدې ملګری و دطالبانو له تحريک سره مل و. هغه ملا عبدالسلام ته خط وليږه چې راشه او د طالبانو له دې تحريک سره ملګری شه،نوموړی د طالبانو له تحريک سره په رابطه کې شو او کله چې د طالبانو قطعات د هلمند په خوا لاړل نوموړی له خپلو ملګرو سره د هلمند مرکز ته راغی او د تحريک له نظامي قومندان ملا محمد اخند سره يې له نړدې وليدل، له همدې ځايه يې د طالبانو له تحريک سره عملي خدمت شروع کړ.

ملا عبدالسلام د خپلو خاطراتو يو کوچنی کتاب ليکلی چې د اسلامي امارت دواکمنۍ په مهال ۱۳۷۸ لمريز کال کې په هرات کې چاپ شوی دی. نوموړي په دې کتاب د هلمند د نيولو په اړه ليکلي:د هلمند د مرکز او ګرشک مهمې سيمې د پخوانيو قومندانانو لکه ميرولي، عبدالرحمن جان او معلم يوسف په لاس کې وې دوی ته له پخوا څخه ډيرې جرګې ليږل شوي وې چې له پاټکمارۍ لاس واخلي،خو دوی هيڅ هم نه منل نو ځکه دلته په دوی باندې عمليات پيل شول،د لنډو عملياتو په ترڅ کې د هلمند ټولې مرکزي مهمې سيمې ونيولې او ټوپکيان زياتره ونيول شول چې ټول بيرته خوشي شول او مشران يې د شمالي سيمو غور يا د سرحدي ولسواليو په خوا وتښتيدل.

## د هلمند جنګونه او د هرات فتحه

د هلمند له تصفيې وروسته دوه لويې پيښې وشوې د يوسف په نوم تښتيدلي قومندان په نوزاد حمله وکړه او دا ولسوالي يې له طالبانو ونيوله چې بيا د ملا محمد





اخند او ملا عبدالسلام په ګډون طالبانو ورباندې ځوابي حمله وکړه او ولسوالي يې بيرته ونيوله. له دې وروسته د هلمند تښتيدلي قومندانان د ديشو ولسوالۍ په سرحدي غرنۍ سيمه چوټو کې رايوځای شول او لوی مرکز يې جوړ کړ چې هره شيبه يې طالبان تهديدول. د اسلامي تحريک د مشر په لارښوونه د ملا عبدالسلام او ګډو نورو تکړه قومندانانو په شمول د چوټو په خوا تشکيل وشو چې په نتيجه کې يې په دې سيمه کې د تښتيدليو ټوپکيانو مراکز له منځه يووړل شول او هلمند د تل لپاره ترې خلاص شو.

دغه مهال ملا عبدالسلام د نوزاد ولسوالۍ د ولسوال او د ګرشک د فرقې د قومندان په حيث بيلابيل مسؤليتونه ترسره کړل، نوموړی به ډير ځله د هيواد په لويديځ کې د فراه په ولايت او د هلمند په لويديځو سيمو کې و هلته چې د تورن اسمعيل خان او طالبانو ترمنځ پرلپسې جنګ روان و.

د ۱۳۷۴ هـ ش کال په اوړي کې چې د هيوادپه لويديځ کې لوی تحول راغی او د فراه، نيمروز ، هرات او بادغيس ولايتونه د طالبانو لخوا ونيول شول، ملا عبدالسلام په دې سترو فتوحاتو کې د نورو جهادي مشرانو ترڅنګ مخکښ رول درلود. نوموړي په خپل کتاب کې ددې پيښو تفصيلي جريان بيان کړی چې دلته يې تاريخي اهميت ته په پام سره خلاصه تقديموو.

د اسمعيل خان او غفار اخندزاده ځواکونو چې له کابل څخه احمدشاه مسعود هم ورته سلګونه جنګيالي رالیږلي وو په يوه پراخ تعرض سره يې د فراه په ګلستان کې د طالبانو په کرښو برید وکړ،ګلستان يې ونيو او وروسته يې د دلارام له ولسوالۍ هم طالبان راپه شا کړل. ملا عبدالسلام چې په ګرشک کې يې د فرقې مسؤليت و ليکي: زه د دلارام په خواروان شوم خو په لاره ملا فاضل اخند په مخه راغی ويل يې چې دجګړې عمومي قومندان ملا محمد اخند ورته امر کړی چې په شوراب باندې خط ټينګ کړئ، ځنځير واچوئ او طالبان مه پريږدئ چې په شا لاړ شي، وروسته موږ په شوراب کې په وضع الجيش اخته شوو، ملا محمد آخند هم راغی ماته يې وويل چې ته

ګرشک ته لاړ شه هلته احتياطي دفاعي تدابير برابر کړه او مازديګر بيرته شوراب ته راشه، زه ګرشګ ته راغلم او مازديګر له څو تنو ملګرو سره بيرته دشوراب په خوا روان شوم، خو په لاره د حوض خشک په سيمه کې ملا دادالله اخند او ګڼ نور طالبان په مخه راغلل، ډير غمجن وو ويل يي چې ملا محمد اخند په شوراب کې شهيد شو او طالبان پر شا را روان دي،په دې وخت طالبان سخت مايوسه وو او د مقاومت کوم حوصله نه وه ورپاته. دغه مهال له کندهار څخه د اميرالمؤمنين فرمان راورسيد چې ملا رحمت الله اخند يي د شهيد ملامحمد په ځای د جنګ مشر ټاکلی و،په همدې وخت کې د اسمعيل خان او مسعود خواکونو له يوه پراخ تهاجم او نه ماتيدونکي دريځ سره په مخ را روان وو او دګرشک ډيرې سيمې يي هم نيولې وې، د ملا رحمت الله اخند په مشرۍ د طالبانو مشرانو د ځوابي برید عاجل پروګرام جوړ کړ،د ۳۰۰ کسانو په تشکيل سره يې په دريو استقامتونو د ځوابي عملياتو نقشه داسې طرحه کړه چې ۱۰۰کسان به د ملا دادالله اخند،ملا سراج الدين او ملا خان محمد په ګډون د بغرا په استقامت ځوابي حمله کوي،د ملا رحمت الله په مشرۍ به سل کسان د نفرسنګي چهارراهي په استقامت د سرک ښي اړخ ته برید کوي او سل تنه به د ملا عبدالسلام تر مشرۍ لاندې مخامخ په ډامبر / سرک باندې متقابل برید کوي.

ملا عبدالسلام ليکلي: سهاروختي جنګ پيل شو،موږ اته تنه ملګري په يوه لنډ کروزر کې ددښمن د قواوو منځ ته ورداخل شوو، اکثرو خلکو فکر کړی و چې ملا عبدالسلام د غفاراخندزاده پخوانی ملګری دی او ورتسليم شو. خو موږ د سهار په تياره کې له ټولو جهتونو سره په توافق عمليات پيل کړل، زموږ په خوا کې د جنګ له پيل سره لومړی ټانګ د ملازړګي لخوا وويشتل شو او په ټولو خواوو کې جنګ زور واخيست،ددښمن سختې وسلې وکارولې خو د پرمختګ مخه يي ډب شوه او شاتګ ته اړ ايستل شول، تر مازديګر پورې سخت جنګ وشو او ددښمن لښکر بيرته دحوض خشک سيمې ته په شا ووهل شو، په جګړه کې طالبانو ته تر اندازې زيات وسايط، وسايل ، لوژيستيکي مواد او بنديان په لاس ورغلل. د اسمعيل خان له کسانو پنځلس





زغروال ټانګونه چالان د جګړې په ډګر پاته وو، د چهل ميلو او په لوژيستيکي موادو بار ټيلر په ګډون مو ډير مواد غنيمت کړل په همدې ورځ اميرالمؤمنين ملا محمد عمر مجاهد ګرشک ته تنها په موټر کې راغی د جګړې په لومړۍ کرښه کې يي له مشرانومجاهدينو سره وليدل خو مجاهدينو ورباندې تاکيد وکړ چې بيرته کندهار ته لاړ شي ځکه په ګرشک کې د بمبار خطر و، وروسته د ملا محمد رباني، ملا مشراخند، حاجي بشر صاحب او نورو مشرانو سره يوځای ګڼ شمير طالبان راغلل ددلارام له نيولو وروسته دلويې لارې په سر تر يوه پله لاندې د اميرالمؤمنين تر مشرۍ لاندې غونډه وشوه او د فراه او هرات د سرتاسری فتحې لپاره عاجل تشکيلات وشول چې بيلابيلو جهادي قومندانانوته بيلابيل استقامتونه وروسپارل شول تر دې چې الله تعالی ټول په خپلو مسؤليتونو کې بريالي کړل او له فراه وروسته د هرات تاريخي ښار هم د طالبانو لاس ته ورغی.

## د هرات د قول اردو د قومندان په حيث

دهرات له فتحې وروسته نومورې د هرات ولايت د څلورم نمبر قول اردو د قومندان په حيث وټاکل شو،خو د نومورې جهادي ملګري د بادغيس او هم د کابل په جنګي کرښو کې په دندو بوخت وو. دهرات له فتحې شپږ مياشتې وروسته نومورې د کابل جنګي خطوطو ته راغی، همدغه مهال چې د احمدشاه مسعود قواوو د عينک په سيمه کې د طالبانو په خط برید وکړ او ډيرې سيمې يي ونيولې د ځوابي عملياتو لپاره ملاعبدالسلام او زرګونه نور طالبان عينک ته لاړل، د ځوابي عملياتو په ترڅ کې يي ټولې سيمې له مسعود څخه بيرته ونيولې او آن د کابل ښار تر لمنو ورسيدل خو ځرنګه چې احمدشاه مسعود ټولې سيمې په ماينونو پوښلې وې ګڼ طالبان په ماينونو شهيدان او ژوبل شول په دې لړ کې د ملا عبدالسلام موټر هم په ماين منفجر شو چې په نتيجه کې يي دده ملا او دواړه پښې ماتې شوې.

پښې يي چې ټول هډوکي يي ريزمريز او له منځه تللي و دائما معيوبي شوې که څه هم د اسلامي امارت مشرتابه د نومورې په علاج ډير کوښښ وکړ پاکستان او

جرمني هيواد ته يې ولېږه خو له ټولو معالجو سره سره يې بيا هم پښې يو مخ روغې نه شوې بلکې مجبور وو چې په لکړو وګرځي.

د نوموړي له جراحت وروسته دده مسؤليت مؤقتا دده مرستيال ملا عبدالولي زړګي ته وسپارل شو چې د کابل په فتحه کې يې بارز رول درلود ملا زړګی وروسته د مزار په لومړنۍ فتحه کې د جنرال مالک له قواوو سره د سخت جنګ په ترڅ کې شهيد شو. ملا عبدالسلام چې له معالجې راستون شو له ټول معيوبيت سره سره يې خپلې دندې ته دوام ورکړ، په دې وخت کې د شمال ټول ولايتونه يو ځل بيا تصفيه او د اسلامي امارت تر واک لاندې راغلل چې د ملا برادر اخند،ملا فاضل اخند او نورو مشرانو سره يوځای ملا عبدالسلام هم په کې د هرات د قول اردو د قومندان په حيث نقش درلود،نوموړي تر هغه وخته خپلې وظيفې ته دوام ورکړ ترڅو د امريکايانو لخوا په افغانستان يرغل وشو او د اسلامي امارت مجاهدين د ټولو ښارونو غوندې له هرات ښار څخه هم ووتل.

## د امريکايي يرغل په وړاندې جهاد

د هرات له سقوط وروسته ملا عبدالسلام خپل اصلي وطن نوزاد ته راغی او څرنګه چې د امريکايانو لخوا ورته خطر متوجه و، نو له څه مودې ښکاره ژوند وروسته يې مخفي ژوند پيل کړ،نوموړي ۳ کاله او ۳ مياشتې په مخفي حالت کې ژوند وکړ چې يوازې ٦ تنه اعتمادي ملګرو يې ورسره رابطه او ليده کاته درلودل، په دې وخت ملا عبدالسلام خپلو ملګرو ته د جهاد ترغيب ورکاوو او د عملياتو لپاره يې بيلابيل هدايات ورکول.

وروسته نوموړی د علني جهادي ډګر ميدان ته راووت،د نوزاد، کجکي، موسی کلا او نورو سيمو تر منځ يې تګ راتګ پيل کړ. د اسلامي امارت له مشرانو سره په رابطه او مشوره يې د مجاهدينو د تنظيم چارې پيل کړې،په دې لړ کې نوموړي يوځل د هلمند، فراه او روزګان ۲۰۰ تنه مجاهدين د نوزاد په تيزني سيمه کې د شپې په مهال راټول کړل او وينا يې ورته وکړه، په همدې غونډه کې هدايت ورکړ چې علني جهاد پيل





کړئ او وطنو ته کوز شئ دغه راز ٦۰۰ صندوقه د ثقيل مرمۍ او نور هم لوی مقدار مهمات او وسلې يې ورباندې وويشلې او د جهادي عملياتو د پراختيا قومنده يې ورکړه.

## شهادت

د ۱۳۸۸ هـ ش کال د ثور د مياشتې په ۸ نيټه هغه مهال چې ملا عبدالسلام مجروح د نوزاد ولسوالۍ د تيزني علاقې د سرپلې په سيمه کې مخفي ژوند کاوو، ددښمن لخوا يې سټلائټ ټيلفون کشف شو او چاپه يې ورباندې ووهله، ملا عبدالسلام له امريکايانو سره چې د جټ طيارو او چورلکو ملاتړ هم ورسره و جنګ پيل کړ څو تنه امريکايان يې ووژل او وروسته ددښمن لخوا وويشتل شواو د شهادت لوړمقام ته ورسيد او په خپله پلرنۍ هديره کې خاورو ته وسپارل شو. اناالله و اناالیه راجعون

د شهيد ملاعبدالسلام مجروح ورور او ځاناستی مولوي محمود خان ثاقب د ملا عبدالسلام د شخصيت په اړه وايي، چې نوموړي په نظامي جهادي نبوغ سربيره د خيريه کارونو هم ښه ذوق درلود، په خپله سيمه کې يې يوه لويه مدرسه اباده کړه، دغه راز يې په مختلفو سيمو کې له ګڼ شمير مساجدو او مدارسو سره په ودانيزو چارو کې مرسته کړې، د نوزاد او غور ترمنځ د لارې په جوړولو کې يې هم ډيرې هڅې وکړې چې اوس د خلکو لپاره لويه هوسايي ده، نوموړی د منصب شوقي نه واو له انتقام څخه يې عفوې ته ترجيح ورکوله.

په خپله اصلي سيمه کې ځيني خلک چې دده په کور او قريبانو يې بيا بيا چاپې وهلې وې، ددوی کور يې د حکومتي عسکرو په توسط لوټ کړی و، او ورونه او قريبان يې بنديان کړي و، کله چې په سيمه کې بيرته د طالبانو حاکميت راغی، هغو خلکو له خپلې سيمې کډې کولې ځکه ويريدل چې ملا عبدالسلام به انتقام ترې واخلي مګر ملا عبدالسلام ورته احوال ولېږه چې د ده لخوا دې خاطرجمع اوسي، يوازې که اسلامي شريعت ورته کوم مجازات ورکول هغه به د محکمې کار وي مګر دی د شخصي انتقام نيت نلري.

ملا عبدالسلام شهيد شو مگر جبهه يي اوس هم فعاله ده او په زرګونو مجاهدين ددە د ورور تر مشرۍ لاندې په مختلفو سيمو کې د امريکايي طاغوت په خلاف جهادي عمليات مخ ته وړي.

رحمه الله تعالى

❊ ❊ ❊





# د شيخ الحديث مولوي عبد العلي ديوبندي
# ژوند او کارنامو ته کتنه

ليکنه: شاهد غزنيوال

## زوکړه يې:

شيخ الحديث والتفسير الحاج مولنا عبد العلي (ديوبندي) په کال ۱۳۱۷ هجري لمريزکال کې دکندهار ولايت د ژړۍ ولسوالۍ د سنګ حصار په لاکوخيلوکلي کې د دغې سيمې دمشهور عالم مولانا شيرمحمد مرحوم په علمي کورنۍ کې زيږيدلی.د نوموړي پلار مولوي شير محمد او نيکه يې مولوي محمد شريف د خپل وخت د تکړه عالمانو له جملې څخه وو.

## زده کړه او تحصيل يې:

ارواښاد مولنا عبدالعلي (ديوبندي) لومړنۍ ديني زده کړي له خپل والد صاحب څخه ترلاسه کړي،کله يې چې والد صاحب وفات شو نو د ښوونې او روزنې مسؤليت يې د مشر ورور مولوي عبد الله جان صاحب په غاړه شوه او څه موده يې له هغه درسونه ولوستل. نوموړي متوسطه زده کړې د کندهار ښار په محمديه مدرسه کې ترسره کړې وروسته د علم په حصول پسې د پاکستان د بلوچستان ايالت مرکزې کوټې ته لاړ او هلته يې د شالدړې په مدرسه مظهر العلوم کې څه موده ديني علوم ولوستل. شيخ صاحب خپلې لوړې شرعي زده کړې دخيبر پښتونخوا په مشهورې دينې مدرسې جامعه اسلاميه اکوړه خټک کې په ۱۳۸۳ هق کې سرته رسولې او له همدې مدرسې يې د فراغت سند تر لاسه کړ.

شيخ صاحب ديني زده کړې د خپل وخت له تکړه علماء کرامو ترلاسه کړې چې له دې جملې شيخ الحديث مولانا عبدالرحمن ميانوي،مولوي حمدالله جان داجوي، مولوي عبدالله اجميري او د چارباغ مولوي صاحب د يادولو وړ دي. څرنګه چې دده استادان اکثره له ديوبند څخه فارغ و او يا يې له دې مدرسې سره ژور علمي تعلقات درلودل د همدسې مناسبت له امله شيخ صاحب هم ځان ته ديوبندي تخلص غوره کړ.

نوموړي له ديني زدکړو ترفراغت وروسته په خپلې سيمې او دکندهارولايت په بيلا بيلو سيموکې دتدريس ،دعوت اوارشاد سلسله پيل کړه او ويې کړای شول له دغې لارې څخه يوزيات شمير داسلامي علومو طالبان دټولنې داسلامي خدمت لپاره وړاندې کړي.

## جهاد اومبارزه يې :

کله چې په کال ۱۳۵۷ کې په افغانستان کې کمونستانو واک ترلاسه کړ او افغانانو يې په خلاف جهاد پيل کړ اروابشاد ديوبندي صاحب هم دکندهار ولايت دهغو علماوو په جمله کې چې مسلمانان يې دکمونستانو په خلاف جهاد ته رابلل فعال رول درلود چې وروسته پاکستان ته مهاجر اوهالته يې ددعوت اوتدريس ترڅنګ دمجاهدينو په ديني اوفکري روزنه کې دپامونړ خدمتونه ترسره کړل .

## تدريس او اصلاحي فعاليتونه يې:

په افغانستان کې دکمونستي رژيم له ړنګيدو او دتنظيمي وسله والو ترمنځ دخپل منځي جګړو په پيليدو سره يې بيرته خپل تدريس ته مخه کړه او دخپلې سيمې په کچه يې دمتحاربو (جګړه مارو) ډلو ترمنځ دسولې ډيرکوښښونه وکړل.

دخپل منځي جګړو دله منځه وړلو لپاره دطالبانو داسلامي تحريک په رامنځته کيدو سره ديوبندي صاحب ته په خپلې سيمې کې لا د دعوت او تدريس زمينه مساعده شوه، هماغه و چې خپل هيواد ته راستون اودکندهار په مرکز ي مدرسه کې يې طالبانو ته دحديثو تدريس پيل کړل.





اروابشاد ديوبندي صاحب سره له دې چې دطالبانو دتحريک اکثره مسؤلين اوچارواکي دده شاګردان او زيات عقيدت مندان ول او خپله هم د اسلامي امارت له سترو حمايه کوونکو څخه و خو نوموړي د رسمي وظيفې سره علاقه نه درلوده نو ځکه يې کوم رسمي مسؤليت نه درلود.

نوموړي د اسلامي امارت د واکمنۍ په مهال د شريعت غږ راډيو له څپو څخه د هيوادوالو فقهي پوښتنو ته ځوابونه ويل چې (د خلاصون لاره)تر عنوان لاندې ديوې ځانګړې خپرونې له لارې به نشريدلې او په خپل وخت کې يې ډير زيات محبوبيت او شهرت موندلی و.

دنوموړي دغه فتواوې دژوند په بيلابيلو اړخونو عباداتو ،عقائدو ،معاملاتو ،سياست ، اسلامي اقتصاد او احوال شخصيه باندې مشتملې دي .

دغه علمي ذخيره چې شمير يې (۷۰۰) فتواووته رسيږي په سمعي اوبصري بڼه داروابشاد ديوبندي دزامنو اودهغه دعقيدت مندانو له لوري راټول شوي او د هيوادوالو استفادې ته عرضه شوي دي .

ددغې علمي ټولګې ځانګړتياداده چې هغه ډيرساده ،عام فهمه او دمرحوم ديوبندي صاحب په ډيره خوږه دعوتي لهجه وړاندي کيږي له همدې امله هرڅوک که نارينه وي که ښځينه ،که عالم وي که بی علمه ،که لوستوال وي اوکه نالوستی کولای شي له هغې څخه په اساني سره استفاده وکړي .

## شخصي ژوند يې :

سره له دې چې شيخ صاحب زمونږ دهيواد په کچه يومشهور علمي شخصيت وه خو ژوند يې ډير ساده اوله تکلفاتو ليري و، انتهايي ميلمه پال او ډير سخي سړی و، اخلاص ، محبت ، تواضع او دمريض عيادت يې ځانګړي صفتونه و، هرانسان اوپه مجموع کي انساني کرامت ته په ډير احترام قايل و، متواضع په دې اندازه و، چې

هرعالم به د ده مجلس ته راغی هغه که به دده شاگرد هم وه خوده به درناوی په غرض هغه په خپل ځای کیناوه او خپل ځای به یې ور ته پریښود .

او چې کله به یوځوک د دیني پوښتنې له پاره ورته راغی نو لومړی به یې دا ورته ویل چې په خپله علاقه او سیمه کي له علماء کرامو څخه په دې اړه پوښتنه کوه ، هغه تر ما ډیر اوچت خلګ دي .

**تألیفونه یې :**

سره له دې چې شیخ صاحب خپل عمر ټول په تد ریس ، دعوت اوجهاد کې تیرکړی خو دهغه ترڅنګ یې ددیني علومو په برخه کې لیکل اوتالیفات هم له پامه نه دې غورځولي .

نوموړي په شرعي علوموکې په پښتو، فارسي او عربي ژبو ښې لیکنې کړې چې هغه په لاندې توګه تشریح کیږي .

۱ـ نصرالاحباب علی رغم المرتاب / فارسي
۲ـ نصب الخیام فی رد الاوهام /فارسي
۳ـ نصیرالاسلام فی اخبار سیدالانام / پښتو
۴ـ بلوغ المرام فی تعلیم الاسلام/ پښتو
۵ـ نصرة الاسلام / پښتو
٦ـ ارشادالمسائل بین الحق والباطل / پښتو
۷ـ قرات خلف الامام /فارسي ناچاپ
۸ ـ دجلالین حاشیة ناچاپ
۹ ـ دخیالي اوشرح العقائدحاشیة ناچاپ

او الرعایة علی الهدایة /حاشیة د صلوة هدایه او نکاح هدایه . چې دادوې برخې یې چاپ شوي خو بیع او شفع هدایة د دې وروستنۍ ورپیښې ناروغۍ له امله نیمګړي ځینې پاته شوې.





**ټولنیز او علمي شخصیت یې :**

شیخ صاحب زمونږ دهیواد دعلمیت اوفقاهت د صحنې هغه ځلیدونکې ډیوه وه چې علمي رونایې دهیواد ګوټ ګوټ روښانه کړی ،او دافغانستان دمعاصروشرعی علماووپه منځ کې دیوه جامع اومنلي علمي شخصیت په توګه خپل ولس اوټولنې ته نه هیریدونکي علمي خدمتونه ترسره کړي دي.

نوموړي د افغانستان دعلمي قشرپه منځ کې دشیخ التفسیر والحدیث غوره لقب په لامنازعه توګه دځان کړی او دعلم التفسیر اوحدیث ترڅنګ دفقه، اصول الفقه، صرف، نحو، بدیع اوبیان دعلومو هم دیوه ماهر استاذ په حیث پیژندل شوی عالم وه.

دافغانستان علماوو اوددیني علوموطالبانوهغه ته دعلمي اسلافو اوروحاني اکابرینودوروستي یادګارپه سترګه کتل .مرحوم دیوبندي صاحب دخپلو دغو ټولو فضایلو تر څنګ دبي ساري تقوا اوفضیلت نمونه هم وه.له تکبر،تظاهر،حسد،اوبدبیني څخه یې ډیربد راتلل؛له هیچا سره یې دمقابلې اوسیالي خیال په سرکې نه درلود اوټولوته دیوه قدرمن اودرانه استاذ په توګه منل شوی محبوب شخصیت و.

ارواښاد دیوبندي صاحب د خو دخواهۍ ، خود پرستۍ اوځان ستایلو دبدمرغې ناروغې له اغیزوڅخه په بشپړه توګه ځان روغ ساتلی وه اوچاهم د ده په ټول علمي ژوند کې د دغې اخلاقي ناروغۍ آثارنه وه لیدلي.

مرحوم دیوبندي صاحب د دومره زیاتو فضایلوڅښتن و چې په دغې لنډې لیکنې کې دهغوئ راټولول له امکانه وتلې خبره ښکاري.

زه غواړم دمشت نمونه خروارپه توګه دلته یواځې دخدای ښلي دژوند یوې اهمې تاریخي کارنامې ته اشاره وکړم اوهغه داچې:

نوموړي په خپلو علمي فتواو کې چې دشریعت غږ راډیو له لارې به دخلاصون لارې ترعنوان لاندې دده په خوارۀ غږکې خپریدې دهرې استفتا اوپوښتنې ځواب دکتاب الله ،نبوي احادیثواوفقهي علمي دلایلوپه رڼاکې په ډیر صراحت ،فصاحت

اوبلاغت سره ورکاوه چې دعلامه ديوبندي صاحب V له دغې علمي سلسلې څخه زمونږدټولنې ډيرنارينه اوښځينه اوريدونکي په کافي اندازه مستفيدشوي دي.

نوموړی ددين په چاروکې ډيرصريح ،جرئ اوپه دې هکله يې دهيچا دملامتي پروانلرله ، اودغه صفت دالله تعالی له لوري دهغه په مخلصو بندګانو يوه الهي پيرزوينه ده.

مرحوم ديوبندي صاحب دعلميت ،اوفقاهت ترڅنګ داسلامي دعوت اوبلنې دميدان يوحکيم اوماهر داعي هم و .هغه به د دعوت په ډيروحکيمانه اسلوبواو خوږې ژبې سره خلګ داسلام دسپڅلي دين داحکاموتبليغ ته رابلل . هيڅکله يې دهيچا په اړه له تلخ زباني اوتسرع څخه کارنه اخيست اودفقهي مسايلوپه استحضارکې الله تعالی ورته ځانګړې ملکه ورکړې وه.

په اسلامي شريعت کې ديوه عالم مفتي لپاره د مسألې دحقيقت اوځانته دهغې دټولو ابعاد معلومول داسلامي فتوی له اصولو او اساساتوڅخه بلل کيږي اومرحوم ديوبندي صاحب د دغه ضروري اصل په نظرکې نيولوسره دټولو استفتاأتو د حل په اړه فتوا ورکوله .

خلاصه خبره داده چې دعلامه ديوبندي V د علمي، جهادي ،اخلاقي اواجتماعي شخصيت دټولوفضايلو اوځانګړيتوبونواحتوا اوپه هغوئ رڼا اچول ددې ليکنې ترحوصلې وتلې خبره ده .

**وفات يې :** بالاخره دلوي څښتن له قضا او تقدير سره سم دغه دعلم اوفضيلت لرونکی شخصيت د۱۴۳۰ هجري قمري کال د ذوالقعدې دمياشتې په ۱۴ ددوشنبې په ورځ له دغې فاني نړۍ څخه دتل لپاره سترګې پټې او خپله روح يې اصلي مالک ته وسپاره .

روح دي خوشاله ، اوعلمي لاره دې دده په روزل شويو علمي ځوانانو پاللې او سي.





## د شهيد قاري ضياء الدين فاروق ژوند او کارنامو ته کتنه

ليکنه: قاري سعيد

د ۲۰۱۰ ميلادي کال لومړی مياشتې وې،هغه وخت چې په افغانستان کې د غربي يرغلګرو په خلاف جهاد د ګرمښت او حماسه سازۍ وروستي ټاپې ته پورته شوی و. هغه کال چې د کفري يرغلګرو لپاره د اشغال په موده کې تر ټولو خونړی کال وبلل شو.

د خپلې ژورنالیستیکي دندې په مهال مې اراده کړې وه چې د فاريـاب ولايـت د جهادي چارو له مسؤل سره مرکه ترسره کړم،د هجرت په ديار کې مې د يـوه سـپيره او غريبانه کور دروازه وټکوله،شيبه وروسته کوربه راووت او له روغبړ وروسته يې د يوې خټينې او زړې کوټې پر خوا رهبري کړم.

په اطاق کې يو د منځني قد، خوشرويه ځوان ناست و، پـه ډيـره مينـه يـي راسره روغبړ وکړ، يو لاس يې ټرلی او داسې معلومېده لکه زخم يي چې پانسمان کړی وي. له موجودو ملګرو مې د فاريـاب ولايت د جهادي چارو د مسؤل قاري فاروق پوښتنه وکړه چې زه يي په لټه راغلی وم،هغوی راته همدا خوشرويه ځوان معرفي کړ چې همدا قاري صاحب دی.

له قاري صاحب ضياءالدين فاروق سره مې اوږد مجلس او مطبوعاتي مرکه وکړه، نوموړی له هغو کسانو و چې په يوه مجلس يي د هر چا په زړه کـې ځـای پيـدا کـولای شوای، ډير متواضع، خاضع ، مؤدب او ورسره يـو سـوچه او دسـنګر او د قربـانۍ ډګـر واقعي مجاهد و هغه چې سر، مال او ټوله هستي يي د الله تعالی د دين ګټلـو او د کفـر د شکست ارمان ته وقف کړې وي.

قاري ضياء الدين فاروق صاحب مې په همدې ليدو زړه ته ښکته شو خو وروسته مې چې وپيژاند رامعلومه شوه چې دغه ديرش کلن ځوان د خپل عمر په تناسب الله تعالی د لويو کارونو لپاره پيدا کړی. هوکې قاري ضياء الدين د هيواد په شمال خصوصا فارياب، سرپل او جوزجان کې د صليب ضد جهاد له بنسټ اينبودنکو څخه بلل کيږي. هغه چې په خپل مخلصانه،جهاد، همت او قربانۍ يې هلته د جهاد ډيوه بله کړه، اولس ته يې جهادي فکر او روحيه ورکړه،ځوانان يې وروزل او وروسته په همدې لاره کې د شهادت په مرتبه فائز شو.

راځئ دلته ددې ګمنام اتل د ژوند او کارنامو له ځينو نمونو خبر شو تر څو مو يې په تذکر د يوه حقيقي مجاهد د ياد ژوندي کولو تنده ماته شوي وي.

## قاري ضياء الدين فاروق

قاري ضياء الدين فاروق د حاجي عبدالباقي زوی په قوم ازبک په ۱۳۵۸ هـ ش کال کې د فارياب ولايت د دولت اباد ولسوالۍ د توپخانې په کلي کې د يوه سيمه ايز مشر / بای په کورنۍ کې دنيا ته راغی.

لومړنۍ زده کړې يې په همدې سيمه توپخانه کې د يوه سيميز عالم مولوي شمس الدين په مدرسه ترسره کړې او بيا د قرآن کريم د حفظ لپاره شيرين تګاب ولسوالۍ کې مدرسې ته لاړ،د قرانکريم حفظ يې په ډيره کمه موده کې پای ته ورساوو.

وروسته د ديني زده کړو لپاره پاکستان ته لاړ، د پاکستان د پيښور د پښو کمپ په يوه مدرسه کې يې څه موده ديني تعلم وکړ. وروسته د پاکستان به پنجاب کې رحيم يار خان سيمې ته لاړ او هلته يې د عبدالله ابن مسعود I په نوم مشهوره مدرسه کې ديني زده کړو ته دوام ورکړ.

دغه مهال چې په افغانستان د اسلامي امارت د واکمنۍ کلونه وو او د کابل په شمال کې جګړه روانه وه،قاري ضياء الدين که څه هم عمر يې کم و خو د جهاد شوق





دې ته اړ کړ چې کابل ته لاړ شي او جهاد ته په تلونکو طالبانو کې ځان داخل کړي، نوموړي ډير کوښښ وکړ چې جهاد ته لاړ شي خو د عمر د کموالي له امله ورته جهاد ته د تلو اجازه ورنکړل شوه.

قاري ضياء الدين وروسته هرات ته لاړ او هلته يې د فارياب ولايت د مشهور جهادي مشر او د اسلامي امارت د رهبري شوری عضو مولوي عبدالرحمن صاحب په واسطه هڅه کوله چې جهادي صف ته داخل شي.

مولوي عبدالرحمن صاحب وايي: نوموړي د جهاد ډير زيات شوق درلود،ما ورته وويل چې تاسو د امارت د اصولو له مخې تراوسه کشر ياست او انتظار وکړئ.

خو قاري صاحب به ويل چې د جهاد لپاره جرأت او د قربانۍ شوق ضرور دی چې زه دا دواړه لرم، خو بيا هم نوموړي تر هغه مهال په هرات ولايت کې ديني زده کړو ته دوام ورکړ تر څو د امريکايي يرغل په نتيجه کې د افغانستان لوی ښارونه د اسلامي امارت له لاسه ووتل او امريکايي نظام د افغانستان په پاکه خاوره حاکم شو.

## دامريکا ضد جهاد کې تأسيسي رول

د امريکايانو له يرغل وروسته قاري صاحب فاروق تر يوه کال پورې په خپله سيمه کې واوسېد او بيا د جهاد او جهادي تربيې په نيت له څو تنو نورو ملګرو سره له کوره مسافر شو، نوموړی د افغانستان او پاکستان تر منځ قبايلي سيمو ته لاړاو هلته يې په غرنيو سيمو کې د مجاهدينو په تدريبي مراکزو کې جهادي اعداد پيل کړ.

نوموړي په دې سيمه کې له بيلابيلو مجاهدينو سره شناخته شو چې له دې جملې يې له شهيد قاري محمد طاهر فاروق سره هم تعارف پيدا شو. قاري ضياء الدين صاحب د جهاد له تربيت حاصلولو وروسته د لومړني اقدام په حيث د جهاد دعوت پيل کړ تر څو د مدرسو طالبان، د کليو ځوانان اوعام اولس د جهاد په فرضيت او ضرورت خبر کړي.

د نوموړي یو ملګری وایي چې دغه مهال موږ پـه مدرسـه کـې درس وایـه، قـاري صاحب به هلته راتلو او د خپلې سیمې طالبان یي جهاد ته دعوتول، نوموړي په له ځـان سره یو کوچني ډي وي ډي پلئیر هم درلود. طالبانو او عامو خلکو ته به یي په خصوصي مجالسو کې جهادي ویډیوي اصدارات ښودل او په دې طریقه به یي جهاد ته دعوتول.

قاري صاحب وروسته په خپله ولسوالۍ دولت اباد کـې کلیوالـو ځوانـانو تـه هـم دغه دعوت ورساوو او په دې ډول ګڼ شمیر ځوان جهاد ته تیار کړل.

قاري صاحب په ۲۰۱۰ میلادي کال کې د یوې مصاحبې په مهال راته په دې ولایاتو کې د جهادي کار د ابتداء په اړه داسې وویل: مونږ لومړی هلته جهادله همدي دعوتي کارونو څخه پیل کړمونږ جومات په جومات او کورپه کور وګرځیدو او هرسـړی مولـه خپل هدف اوفرض شوي جهاد څخه خبرکړ حتی داسي شوي چي مجاهدین بـه دلاري په سرناست وو او هرپه لاره تیریدونکی به یي راګرځاوو او په دي اړه به یي خپل عرض ورته وړاندی کاوو. دي کار دخلکو اذهـان خـورا روښـانه کـړل مـونږ یـي وپیژنـدلو او اعتماد یي راباندی وکړ او په خپلو سترګو یي ولیدلو چي ددشـمن دتبلیغـاتو بـرخلاف ټول دهمدي کلیو اوسیدونکي او دهمدي ولس بچیان یو او بیګانه نه یو.

## جهادي عملیات

قاري صاحب او نورو جهادي ملګـرو یـي پـه خپلـه سـیمه کـې لـومړني جهـادي عملیات په چریکي بڼه پیل کړل،د فاریاب،جوزجان او سرپل ولایت مجاهدینو په پیـل کې په ګډه چریکي عملیات کول او همیشه بـه پـه سـیار حالـت کـې وو. څرنګـه چـې ددوی شمیر کم او د وسلو او امکاناتو له نګاه لـه تنګلاسـۍ سره مخـامخ و نـو بـه یـي ددښمن په ضعیف مرکز حمله وکړه او بیا به له هغې سیمې ډیر لري بل ولایت ته لاړل، په همدې ډول په یادو دری واړو ولایاتو کې په یوه وخت جهادي عملیات روان ول.

وروسته چې ددرست افغانسـتان غونـدې پـه فاریـاب ولایـت کـې هـم جهـادي عملیات علني او په لوړ کم او کیف سره پیل شول، قـاري ضـیاء الـدین صـاحب د یـوه





وتلي مجاهد په حیث په کې د پـام وړ نقـش درلـود نومـوړی ډیـره مـوده د فاریـاب د دولت اباد ولسوالۍ نظامي مسؤل و او وروسته ۲۰۰۹ میلادي کال کې د فاریاب د والي یا عمومي جهادي مسؤل په حیث وټاکل شو.

په دې مرحلو کې د فاریاب په بیلابیل سیمو کې پـه دښـمن ګـڼ شـمیر مرګـوني بریدونه او لوی عملیات ترسره شول،چې په ترڅ کې یي د انـدخوی دولسـوال او امنیـه قومندان دغه راز د شیرین تګاب امنیه قومندان او ددښمن ګڼ نور د سر چارواکي لـه منځه لاړل.

په ۲۰۱۰ میلادي کال کې جهادي ساحه دومره پراخه شوه چې مجاهدینو په دولت اباد، شرین تګاب، خواجه ناموسی، المار، قیصار، چلګزي ، ګورزوان ، بلچراغ او لـولاش ولسوالیو کې ډیرې سیمې تر خپل کنترول لاندې راوستلې. دغه راز د فاریاب په ډیری ولسوالیو کې د امـارت ملکـي تشـکیلات او محـاکم هـم فعـال شـول چـې پـه دې ډول فاریاب ولایت د جهاد په یوه ویاړمن او نه تسخیریدونکي سنګر واوښت .

## شهادت

قاري ضیاء الدین فاروق له اوږدې او مخلصانه جهادي مبـارزې وروسـته د ۲۰۱۰ میلادي کال د اکتوبر په اوومه هغه مهال ددښمن په برید کې په شهادت ورسید کلـه چې د نوموړي د ژوندي نیولو یا وژلو لپاره بهرنیو یرغلګرو او داخلي عسـکرو د دولـت اباد ولسوالي د قرغن قدق په سیمه لویه چاپه واچوله.

دغه کلی چـې د ولسـوالي مرکـز تـه څیرمـه پـروت دی،قـاري صـاحب لـه نـورو مجاهدینو سره یوځای په کې اوسیدو او له دې ځایه به یي په لویه لاره ددښـمن قـواوو ته کمین نیو. خو کله چې دښمن خبر شو په دې سیمه یي د هوا او ځمکې له لارې لوی چپاو راوړ، قاري صاحب د محلي خلکو د سلامتۍ په خاطر له کلي ووت او یوې دښتي سیمې ته لاړ، خو هلته ددښمن لخوا کشف شو، لومړی وربانـدې دښـمن هـوایي بریـد وکړ چې یو ملګری یي په کې شهید شو، اما وروسته نوموړی له دریـو نـورو مجاهـدینو

سره له دښمن سره په مخامخ جګړه کې د شهادت لوړ مقام ته ورسید. انا لله و انا الیه راجعون

د نوموړي جسد له خپل پلرني کلي لرې د بلچراغ ولسوالۍ ته نږدې میمنه قشلاق په سیمه کې خاورو ته وسپارل شو.

**د شهید قاري فاروق د شخصیت په اړه**

لکه وړاندې چې وویل شول شهید قاري ضیاء الدین فاروق له یوه ځمکه وال او ماړه خاندان سره تړاو درلود. پلار یې دخپلې سیمې خان یا بای و. ځمکې، باغونه، پیسې اوډیر امکانات یې درلودل، خو نوموړي کله هم ددې شیانو شوق ونکړ.

خپل دنیوي هوسونه اوعشرتونه یې هیر کړل،د آرام او راحت ژوند ته یې شا کړه او خپل ټول عمر یې د جهاد، هجرت او مبارزې ستومانیو ته وقف کړ.

د نوموړي نږدې ملګري وایي چې قاري صاحب یو پاک او تقوه دار انسان و. د بیت المال له پیسو سره یې خورا زیات احتیاط کاوو، که څه هم مشر و مګر خپله یې مالي چارې نه ترسره کولې، بلکې یو بل ملګری به یې د مالي په حیث مقرر کړی و او ټولې پیسې به له هغه سره وې.

د جهاد یې خورا زیات شوق درلود، له کشرتوبه یې د جهاد ارمان په زړه کې و، او د امریکایانو په راتګ سره یې تر هغو جهاد ته ادامه ورکړه ترڅو په همدې لاره کې دشهادت لوړ مقام ته ورسید.

رحمه الله تعالی

❊ ❊ ❊





## د مرحوم مولوي محمدرستم حنفي صاحب ژوند اوکارنامو ته کتنه

لیکنه: مجاهد

شهید مولوي محمد رستم حنفي د ملک حبیب الله خان زوی د ملک عبدالقادر خان لمسی په قوم نورستانی او القریشي د افغانستان د نورستان ولایت د دوآب ولسوالۍ د کلم د سیمې د شهیداء کلي اوسېدونکی په کال ۱۳۸۵ هـ ق کې یې په یوه دینداره او علم دوسته کورنۍ کې دې فاني دنیا ته سترګې وغړولې .

**تعلیم**

شهید مولوی صاحب محمد رستم حنفي ابتدایي دیني تعلیم د خپل کلي د یو سپیځلي عالم عبدالقادر څخه پیل کړچې تر دیارلس کلنی پورې یې دغه د تعلیم او تربیې سلسله جاري وه. وروسته دخپل مشفق او دین پرست والد صاحب په هدایت د نورو زدکړو لپاره مولوی صاحب عبدالرزاق ته ولیږل شو چې مولوی عبدالرزاق د ګزین په مولوی صاحب سره شهرت درلود.

د شهید مولوی صاحب محمد رستم حنفي والد محترم اګر که خپله عالم نه و خو د علم او د علماو سره یې زښته زیاته مینه درلوده له همدې کبله یې غوښتل او دا یې یو ارمان و چې خپل دغه لایق زوی په دیني علومو سمبال کړي او دجامعې لپاره یې مصدر د خدمت د وګرځوي.

شهید مولوی صاحب هم د خپل والد محترم په دغه ارمان پوه و او په ډیر شوق سره یې د مولوی عبدالرزاق سره دیني زدکړې ته دوام ورکړ.

**په جهادي بهیر کې ونډه:** کله چې یرغلګرو او وحشي- روسیانو د داخلي ګوډاګیانو او لاس پوڅو خلقیانو او پرچمیانو په مرسته په ګران هیواد افغانستان

باندې کرغيړن تجاوز وکړ او د افغانستان جهاد پروره علماوو د دوی پر ضد د جهاد فتوای ورکړه او د جهادي مبارزې اعلان يې وکړ په دغه وخت کې شهيد مولوی محمد رستم حنفی د اولسو (۱۷) کالو و. څرنګه چې د ګزين مولوي صاحب د خپلې سيمې يو مخور او مشر و نو د وخت د تقاضا مطابق د خلکو لخوا جهادي قيادت هم ده ته وسپارل شو. د ګزين مولوي صاحب عبدالرزاق خپله جهادي مبارزه پراخه کړه په همدغه اساس يې د مولوي رستم صاحب شهيد والد محترم ملک حبيب الله خان يې د جهاد عمومي قومندان وټاکه . ملک حبيب الله خان د غربي نورستان په سيمه کې په جهادي مبارزه پيل وکړ نو له هم هغه وخت څخه شهيد مولوي رستم حنفي د خپل پلار په قيادت کې په جهادي بهير کې شامل شو او په ډيره زړورتيا او ديانت سره يې دغه سپيڅلې مبارزه پرمخ بوتله.

پاتې دې نه وي چې د نوموړي شهيد والد محترم شخصيت او قامت ټول د جهادي مبارزې سره برابر و. قوي، زړور، او د جګ قامت انسان و له همدې کبله يې په خلکو کې د حبيب الله خان دراز په نوم سره شهرت درلود. د همدغه قوي جسامت او جهادي ذهنيت په اساس حبيب الله خان په ډير کم وخت کې وکولی شول چې جهادي مبارزه ګړندی کړي چې له کبله يې په ډير کم وخت کې د دوآب ولسوالی فتح او جهادي مبارزه يې د لغمان ولايت د علينګار ولسوالی ته وغځوله.

## هجرت

اګر چې د شهيد مولوي رستم صاحب کورنۍ هجرت نه دی کړی وجه يې داده چې غربي نورستان يوه غرنۍ او لرې پرته سيمه ده چې هيڅ کله هم د غاصب رژيم د ځواکونو تسلط ورباندې ندی راغلی حتی چې د لغمان بعضې مجاهدينو دغې سيمې ته هجرت کاوو.

اما خپله شهيد مولوی صاحب ګاونډي هيواد پاکستان ته د نورو ديني زدکړو لپاره هجرت وکړ. ديني تعلم يې د پاکستان د چارسدې د مشهورې مدرسې دارالعلوم اسلاميه چارسده څخه پيل کړ. د يوه کال د تيريدو څخه وروسته يې د مردان د





سعادت دارالعلوم طورو کې داخله واخيسته. تر څلورمې درجې پورې يې درسونه همدلته وويل او بيا کوهستان ته ولاړ او هلته يې د داسو په سيمه کې په دارالعلوم اسلامي امينيه کې خپلو درسونو ته ادامه ورکړه. بيا د مانسهرې بټګرام تاکوټ ته ولاړ او د سيمې د مشهور عالم مولانا شهزاده سره شاګرد شو چې د يو څه درسونو د لوستلو څخه وروسته يې د مردان سعادت دارالعلوم ته راوګرځيدو او د مشهوره عالم مولانا غلام محبوب سره يې پاتې فنون ولوستل. بيا د صوابۍ دارالعلوم تعليم القران شاه منصور ته د چيکسر۔ مشهور عالم ماهرالمعقولات مولانا عنايت الله چيکسری د معقولاتو د تدريس لپاره راوستلی شو نو مولوی صاحب محمد رستم حنفی هلته تکمله ولوستله. همدغه کال کې ورسره د امارت اسلامی ځنې مشران هم ورسره همدرسه و لکه شهيدملا اختر محمد عثماني وغيره. اومولوي رستم حنفي صاحب بيا ضلع سوات اجمير ته ولاړ او د مولانا محمد صديق سره يې وړه دوره وکړه. او د همدغه کال په رخصتيانو کې يې د افغانستان د علماو په قطار کې مشهوره څهره حضرت شيخ الحديث محمد نعيم (المعروف کونړ اخندزاده صاحب) V سره د پيښور د بورډ په سيمه کې د ضياء المدارس په مدرسه کې تکراراً وړه دوره وکړه.

شهيد مولوي رستم حنفي صاحب په کال ۱۹۹۵ ميلادي کې د سيمې د مشهورې ديني ادارې دارالعلوم حقانيه څخه د فراغت سند ترلاسه او د فضيلت دستار يې په سر کړ.

## د جهادي مبارزې دوهم پړاو

چې کله مولوی صاحب په دارالعلوم حقانيه کې دوره کوله نو په همدغه کال د مرحوم امير المومنين ملا محمد عمر مجاهد په مشرۍ د افغانستان د طالبانو اسلامي تحريک ظهور وکړ. مولوی صاحب چونکه د تحريک د شروع څخه د مخه د ختيځو ولايتونو د طالبانو د اهل سنت والجماعت د تنظيم د موسسينو څخه و او د نورستان او لغمان ولايتونو د اهل سنت والجماعت صدر هم و. نو د تحريک د شروع کيدو سره د شوری مجلس يې وغوښت او د يوه هيئت په صورت کې يې کندهار ته سفر وکړ.

هلته يې د امير المؤمنين ملا محمد عمر مجاهد V سره يې ملاقات وکړ او چې کله بيرته راغې نو شوری ته يې دقيق معلومات ورکړل نو شوری په متفقه توګه د اسلامي تحريک ملاتړ اعلان کړ.

د مدرسې د دستاربندی څخه سم دستي وروسته پر ځای د دې چې خپل کور ته ولاړ شي د کندهار په لور په تشکيل کې ولاړ. او په کندهار کې د ملا صاحب په هدايت په يوه تشکيل کې نيمروز ولايت ته ولاړ. هلته له څه وخت تېرېدو وروسته د دښمن له خوا تهاجمي عمليات وشول. چې د سحر د لمانځه په وخت جګړه پيل شوه چې له کبله يې د ننګرهار ولايت مشهور عالم مولوي عزت الله عارف او مولوي يحيی په شمول ډير ملګري شهيدان شول. او حنفي صاحب زخمي شو. چې د علاج لپاره د پاکستان د بلوچستان صوبې کوټې ښار ته منتقل کړی شواو د تداوی څخه وروسته تر دې وخته پورې جنوبي ولايتونه فتح شوي وو. نو له همدې کبله خوست ولايت ته راغی او بيا د هغه ځای څخه په بيلا بيلو وختونو کې د جګړې اول خط ته د ملګرو د تربيت او مورال لوړولو لپاره چهارآسياب او نورو خطوطو ته ته تلو. بيا له دې ځای څخه بيرته قندهار ته ولاړ. او هلته د کنړ او د لغمان او نورستان د نمايندګی مشرې يې کوله. او کله نا کله به مرحوم ملا صاحب د مشورې لپاره هم غوښت .

چې کله د مشرقي ولايتونو او د کابل د فتح هڅه پيل شوه نو شهيد مولوي صاحب رستم حنفي د شهيد ملا بورجان په مشرۍ د مجاهدينو په کاروان کې شامل شو او د کابل تر فتحې پورې د مجاهدينو سره اوږه په اوږه په جهادي مبارزه کې بوخت و.

## دندې او وظايف

چې کله د افغانستان اسلامي امارت مجاهدينو کابل د الله تعالی په فضل او مرستې سره فتح کړ شهيد مولوي صاحب رستم حنفي د شهر سازۍ او مسکن وزير وټاکل شو. او چې کله دغه وزارت د فوايد عامې په وزارت کې مدغم شو مولوي





صاحب رستم حنفي د فوايد عامې د وزارت دوهم معين مقرر شو او د اسلامي امارت د واکداری تر اخره پورې په هم دغه دنده کې پاتې شو.

د وزارت د مهمې دندې د سرته رسولو سره سره مولوي صاحب به کله کله د ملګرو د احوال پرسۍ او مرستې لپاره د جګړې اول خط ته هم ورتلو او ملګرو او مجاهدينو ته به يې د جهادي امور په رابطه عالمانه ويناوې او توصيې کولې. او د جهاد په فضايلو به يې تاثير لرونکې ويناوې ورته اورولې.

## د صليبيانو پر ضد جهادي مبارزه

د ميزان په ۱۵ مه کال ۱۳۸۰ لمريز کې کله چې يرغلګرو صليبيانو د وحشي امريکايانو په مشرۍ زمونږ په ګران هيواد افغانستان باندې ناوړه تجاوز وکړ . شهيد مولوي صاحب رستم حنفي د يوه تکړه مجاهد په څير د جهاد په رومبۍ ليکه کې ودريد او بيا د جهادي مبارزې د دوام لپاره خپل پلرني ټاټوبي نورستان ته ولاړ او له سره يې خپله جهادي مبارزه په ډير شجاعت او زړورتيا سره پيل کړه. خپل ملګري يې د جهاد لپاره منظم کړل او وخت په وخت يې پر دښمن تعرضي عمليات وکړل.

د شهيد مولوی صاحب او د هغه د ملګرو په شجاعت او د الله تعالی په مرستې په نورستان کې جهادي بهير ژوندی او ګړندی شو چې وارخطاء دښمن د مجاهدينو د ځپلو لپاره څو څو واړې پر مجاهدينو باندې وحشيانه بمبار وکړ. چې د نورستان د شوک کلي هغه بمبارچې په نتيجه کې يې د هغه سيمه ۳۰ تنه عام وګړي شهيدان او ګڼ شمير نور يې ټپيان کړل د يادولو وړ ده. خو الله تعالی هر ځل مولوی صاحب د دښمن له آذيت روغ او رمټ وساته.

په کال ۲۰۱۱ ميلادي کې مجاهدينو د دو آب په ولسولی کې د شهيد مولوی صاحب رستم حنفي په مشرۍ د يادې ولسوالی د نيولو لپاره قوي عمليات پيل کړل چې په نتيجه کې د دوآب ولسوالی د مجاهدينو لخوا فتح شوه وروسته بيا وارخطاء دښمن بمباري وکړه چې له کبله يې لسګونه ملکيان شهيدان او ټپيان شول او نوموړی

مولوي صاحب هم پکې په سر باندې زخمي شو. چونکې په سيمه کې د علاج او معالجې لپاره خاص تدابير نشته نو د مولوی صاحب د سر زخم په سرطان بدل شو. لکه څرنګه چې د نورستان د ولايت د جغرافيوي جوړښت له کبله د انتقال اسباب هم د نيست سره برابر دي د مولوی صاحب په ټپونو باندې څو مياشتې تيرې شوې. بلاخره دهمدې مرض له امله د فبروری په ٦ مه کال ۲۰۱۲ ميلادي کې د دوشنبې په ورځ د رب ذوالجلال سره د ملاقات په سفر روان شو او خپل روح يې خپل اصلي ځښتن ته وسپاره. انا لله و انا اليه راجعون

د مولوي صاحب د جنازې لمونځ د پاکستان په مردان بخشامي سيمه کې د نوموړي د ورور شيخ الحديث مولوي محمد خالد صاحب په امامت اداء او همالته د هجرت په دار کې خاورو ته وسپارل شو.

د نوموړي اړوند يوه کرامتي خبره دا وه چې په ياد تاريخ کله چې په دوه بجو مولوی محمد رستم حنفي له دې فاني دنيا څخه سترګې پټې کړې او په ۷ بجو ماښام يې د جنازې د مانځه د آداء کولو نيټه او وخت وټاکل شو نو په دومره کم وخت کې په دومره زياته اندازه علماو، طالبانو ، مجاهدينو او عامو خلکو ګډون وکړ چې تصور يې نه کېده.

## خصوصيات او خوږې خاطرې

الله تعالی مولوی صاحب ته ډير ښه صفات ورکړي وو چې يو څو يې په لاندې ټکو کې د يادولو وړ دي.

۱: صبر او استقامت

۲: تقوی او حلم

۳: سخاوت او ميلمه پالنه

۴: شجاعت او بهادري.

۵: د ملګرو سره په ورين تندي مخامخ کېدل.





٦: هميشه د ملګرو د انسجام او اتحاد په فکر کې کېدل.

۷: د اختلافاتو څخه ډډه کول او ملګرو ته په دې رابطه توصيه کول.

۸: هميشه په حق باندې ودرېدل.

۹: عاجزي او انکساري.

۱۰: په ملګرو کې محبوبيت او مقبوليت

د يادولو وړ ده چې شهيد مولوی صاحب محمد رستم حنفي دری وروڼه، يوه کوڼډه ، دوه زامن او دری لونې شاته پريښودې. خدای تعالی دې د شهيد جهادي او علمي خدمتونه په خپل دربار کې قبول کړي

روح دې شاد او ياد يې تل پاتې اوسه

❊ ❊ ❊

# د مرحوم شيخ الحديث مولوي غلام حيدر صاحب ژوند ته لنډه کتنه

ليکنه: قاري سعيد

اراده مې کړې وه چې د اسلامي امارت د يو لوړ رتبه چارواکي او مشر عالم شيخ الحديث مولوي غلام حيدر صاحب ژوندليک مرتب او له کورنۍ څخه يې معلومات را غونډ کړم.د هجرت په مينه کې د نوموړي د کور په تلاش ووتم. ما فکر کاوو چې مولوي غلام حيدر صاحب لکه څنګه چې له سترو علماء کرامو او د اسلامي امارت له لوړ رتبه اراکينو څخه و او د خپل عمر په اوږدو کې يې ددين ستر خدمتونه سرته رسولي. نو دنيايي ژوند به يې هم همداسې د ترفه او تنعم له سهولتونو ډک تير شوی وي.کور به يې د کلي او ګاونډ مشار اليه وي او د لږ تر لږه د خپلې علاقې او سيمې د معيار مناسب ميشت ځای به ترې په ميراث پاته وي.

خو زه خبر نه وم چې د الله تعالی ددين د خادمانو لکه څومره چې د آخرت برخه درنه او ودانه وي د دنيا برخه يې همدومره له التفاته غورځولې او بې اهميته بللې وي.د مرحوم مولوي غلام حيدر صاحب ميشت ځای مې له ډيرو پوښتنو وروسته وموند. دا هغه کور و چې نوموړي په کې د عمر وروستي ډير کلونه تير کړي و. د يوه جامع مسجد تر څنګ يوه د خټو کوټله چې د فقر او مسکنت علائم وربانديې نمايان ول.د شيخ صاحب مرحوم زوی مې په ډيره مينه استقبال وکړ او بيا يې د شيخ صاحب مرحوم د غريبانه مهمانخانې به خوا رهبري کړم.د شيخ صاحب مرحوم له ميشت ځای څخه د معنويت يو عجيب اغيز محسوسيده. د شيخ صاحب له زوی سره مې د نوموړي په ژوند اوږدې خبرې وکړې. هغه د شيخ صاحب مرحوم د علمي،جهادي او





تدريسي ژوند په باره کې مفصل معلومات راکړل. په پای کې يې وويل شيخ صاحب يو پرهيزګار او زهد پروره عالم و. له دنيا سره يې نه لګيده له نوموړي څخه يوازې دغه يوه الماری کتابونه په ميراث پاته دي چې مخامخ يې وينې.

ما چې د اسلامي امارت د نظامي محاکمو د عمومي رئيس شيخ الحديث مولوي غلام حيدر صاحب هغه ستر خدمات او او اخلاص او دا غريبانه ژوند سره پرتله کړل نو ذهن ته مې اوس هماغه د عبدالله ابن مسعود I تاريخي وصيتونه راځي چې خپلو ملګرو ته به يې ويل: کونوا ينابيع العلم مصابيح الهدى أحلاس البيوت سرج الليل جدد القلوب خلقان الثياب . تعرفون في أهل السماء، وتخفون في أهل الأرض". ژباړه : شئ او له ځانه جوړ کړئ د علم چينې، د هدايت څراغونه ، د خپل کورسره ملازمين(لکه هغه فرش چې هميشه په کورکې غوړيدلی وي) او شئ لکه د شپې مشالونه چې زړونه مو نوي( ژوندي وي ) او جامې مو زړې وي د اسمان د اهل تر منځ پيژندل شوي او د ځمکې د خلکو تر منځ پټ او ناپيژوندیه ياست.)

واقعا چې شيخ صاحب مرحوم هم همداسې ژوند تير کړ. هغه د علم چينه وه او هدايت څراغ و، نه خو يې له دنيا سره زړه وتاړه او نه يې هم د ځمکې په مخ د شهرت او عشرت تمنا وکړه. هغه د هغو کسانو له جملې وه چې يوازې د الله تعالی په نزد متعارف کيدل او مقبوليت د ځان لپاره کافي ګڼي.

## مرحوم شيخ الحديث مولوي غلام حيدر صاحب

شيخ مولوي غلام حيدر صاحب په ١٩٤٥ ميلادي مطابق ١٣٦٤ هجري قمري کال کې دکندهار ولايت دښوراوک ولسوالۍ د برېځو د عليزو په کلي کې دسيمې دمشهور عالم ملافقيرمحمد اخند په کور کې دنيا ته سترګې وغړولې. د نوموړي پلار يو عالم او ديندار شخص و چې د خپل زوی تربيې او تعليم ته يې ډيره توجه درلوده.

په هماغو کلونو کې چې په افغانستان تاريخي وچکالي راغلې او د ښوراوک په شمول د اکثره سيمو مالداران او نور اوسيدونکي د اوبو د نه شتون له امله کډوالۍ ته

مجبور شول. د مولوي غلام حيدر صاحب کورنۍ هم له ښوراوک څخه د کندهار د پنجوايي ولسوالۍ زنګاوات سيمې ته وکوچېده او دلته د شيخ صاحب پلار مولوي فقير محمد صاحب د ګرېندي په علاقه کې امامت ونيو. همدغه مهال مولوي غلام حيدر صاحب هم له خپل پلار څخه سبقونه ويل او هم يې د کندهار ولايت په بيلابيلو سيمو کې له نورو علماء کرامو او مدرسينو څخه د ديني زدکړو حصول ته ادامه ورکوله.

کله چې د مولوي غلام حيدر صاحب پلار وفات شو. نوموړي د علم په حصول پسې سفر پيل کړ او بيا يې د پاکستان د بلوچستان ايالت په مختلفو مدارسو کې د وخت له تکړه علماء کرامو څخه ديني علوم ولوستل. تردې چې په ۱۳۹۵ هجري قمري کال کې يې د شوال په ۲۵ مه د کوټې ښار د چمن پاټک په سيمه کې په دارالارشاد مدرسه کې له ديني علومو د فراغت سند ترلاسه او د فضيلت مبارک دستار يې پر سر کړ.

## تدريسي ژوند

له فراغت وروسته شيخ غلام حيدر صاحب لومړنی تدريس د بلوچستان د کوټې د شابو کلي په قاسم العلوم مدرسه کې پيل کړ. وروسته يې د شالدرې په مظهر العلوم مدرسه او د جهاد په کلونو کې يې پ کوټه کې د حرکت انقلابي اسلامي په مشهوره مدرسه کې د تدريس دنده ترسره کړه. نوموړي د جهاد په کلونو کې په کويټه، پښين،ګلستان او نورو سيمو کې د تدريس او امامت سپيڅلې وظيفه ترسره کړه تر دې چې وروسته د بلوچستان په مشهوره مدرسه دار العلوم هاشميه کې د شيخ الحديث په توګه وټاکل شو.

مرحوم شيخ صاحب د خپل ژوند تر پايه له تدريس او تعليم سره نږدې پاته شو. حتی تردې چې د طالبانو په اسلامي تحريک کې د وظيفې په مهال به يې هم د رسمي وخت نه مخکې او يا وروسته خصوصي شاګردانو ته ځينې کتابونه ويل او کله چې امريکايانو په افغانستان يرغل وکړ نوموړي د هجرت د ژوند په مهال يو ځل بيا ددينې علومو تدريس پيل کړ او د وفات تر وخته په دې مهمه او مقدسه ديني وظيفه باندې





مشغول پاته شو. مرحوم شيخ صاحب چې د خپل وخت يو ستر عالم او تجربه کار مدرس و د اسلامي امارت ډير مشران يې شاګردان پاته شوي وي نو ځکه يې د اسلامي امارت په نظامي او ملکي مسؤلينو کې ځانګړی محبوبيت او اعتبار درلود.

## جهاد او په اسلامي امارت کې خدمت

شيخ غلام حيدر صاحب د روس ضد جهاد په وخت کې د جهاد له مهموداعيانو او حتی بالفعله مجاهدينو څخه وه چې د مولوي محمد نبي محمدي صاحب د حرکت تنظيم په تشکيلاتوکې يې د کندهار په ښوراوک ولسوالۍ کې خپل مجاهدين درلودل او خپله يې له تدريس وروسته په مسلح جهاد کې برخه اخيستله.

د جهاد له بريا وروسته چې په افغانستان کې د ټوپکيانو لخوا د هرج و مرج دوره پيل شوه او بيا يې په مقابل کې د طالبانو اسلامي تحريک قيام وکړ.دغه وخت شيخ صاحب د بلوچستان کوټې ښار په موسی کالوني کې د وړې دورې په تدريس بوخت و چې يوه ورځ ورته د تحريک څو نفره پيژندل شوي کسان لکه شهيد ملا بورجان اخند،شهيد مولوي احسان الله احسان او مولوي وکيل احمد متوکل راغلل او له نوموړي يې غوښتنه وکړه چې د طالبانو په اسلامي تحريک کې شموليت وکړي او خدمت ترسره کړي.

شيخ صاحب له همدې ځايه خپل د تدريس له مسند ولاړ شو او د طالبانو د اسلامي تحريک چې دغه وخت يې ميوند،ډنډ او بولدک ولسوالۍ نيولې وې خو لا يې کندهار ښار نه و نيولی شيخ صاحب ورسره ملګری شو. شيخ صاحب په پيل کې د اسلامي تحريک د لومړني نظامي مشر شهيد ملا محمد اخند په قيادت کې نظامي کارونه کول او له خپلو ملګرو سره به جهادي کمربندونو ته تلو. مګر وروسته چې د امير المؤمنين ملا محمد عمر مجاهد په امر نظامي محاکم تأسيس شول شيخ مولوي غلام حيدر صاحب د نظامي محاکمو عمومي رئيس وټاکل شو.

د اسلامي امارت نظامي محاکم ددې لپاره جوړ شوي ول چې نظامي خلک له خودسريو او تجاوزونو را وګرځوي. که په کومه دعوه کې به نظامي شخص مدعي عليه و هغه به نظامي محکمې ته راجع کيدله. دنظامي محاکمو مرکز په کندهار کې و او په کابل،هرات، مزار شريف، کندز، ننګرهار او ګڼو نورو ولایاتو کې يې محلي محاکمو او څانګې درلودې.

شيخ صاحب چې په جديت او قاطعيت مشهور و د نظامي محاکمو د رئيس په حيث يې په خپل وخت لوی او دروند خدمت درسره کړ.نومورې ډير نظامي خلک له تجاوزاتو منع کړل او له اولس سره ښې ګوزارې ته يې واداره کړل.نظامي محکمې ته داسلامي امارت مؤسس مرحوم اميرالمؤمنين صاحب هم ډير متوجه و او تردې چې شيخ صاحب به کله ناکله دا د اميرالمؤمنين محکمه بلله ځکه ملا صاحب يې کارونه ډير تعقيبول تر څو خدای مکړه دنظامي مجاهدينو لخوا د خلکو حقوق تلف نه شي او يا د وسلې او قدرت په توسط خلک تهديد نه کړي.

نظامي محاکم که څه هم اوس د د اسلامي امارت د محاکمو د عمومي رياست تر امر لاندې فعاليت کوي مګر د امارت دواکمنۍ په وخت په بشپړه توګه مستقلې او دومره واک او ځواک يې درلود چې د قول اردو د قومندانانو، والیانو، امنيه قومندانان او د جهادي لومړۍ کرښې د مسؤلينو تر حده پورې نظامي مسؤلين يې د محاکمې ميز ته را احضارول او د اړونده موضوعاتو په رابطه يې تري پوښتنې کولې.

هغه وخت چې امريکايانو په افغانستان يرغل پيل کړ چې شيخ صاحب د هيواد په شمال کې و او هلته يې د نظامي محاکمو د اړوندو کارونو نګراني کوله. نومورې وروسته کندهار ته راغی او کله چې اسلامي امارت د هيواد له ښارونو شاتګ وکړ شيخ صاحب هم د هجرت لاره ونيوه او د تدريس او امامت وظيفې ته ستون شو.

خو په دې مرحله کې نومورې له تدريس او امامت سره سره د امريکا پر ضد جهاد يو ټينګ داعي او د اسلامي امارت يو مهم مسؤل و چې په هره برخه کې يې خدمت ترسره کاوو.





د امريکا ضد جهاد په لومړيو کلونو کې د اسلامي امارت مشرانو لکه شهيد ملا عبيد الله اخند، ملا برادر اخند، شهيد ملا داد الله اخند، شهيد ملا اختر محمد عثماني او نورو همیشه له شيخ صاحب سره ملاقاتونه او مشورې کولې او له ده به يې په ډيرو مسائلو کې هدايات اخيستل.وروسته شيخ صاحب د اسلامي امارت د عمومي محاکمو په عالي اداره کې کار پيل کړ او د څو نورو شيوخو سره په ګډه يې د محاکمو او تميز عالي اداره فعاله کړه چې تراوسه پورې په جهادي دوره کې د اسلامي امارت د قضايه قوې اساس بلل کيږي.

## وفات او يادونه

شيخ الحديث مولوي غلام حيدر صاحب د هجرت په ژوند کې هغه مهال چې په تدريس بوخت و ناڅاپه مريض شو او له څو ورځې مرض بعد يې د ٦٧ کلنۍ په عمر د ۱۴۳۳ هجري قمري کال د ربيع الاول د مياشتې په ٢٦ مه نيټه د دوشنبې په شپه خپل روح حقيقي بادار ته وسپاره او له فاني دنيا يې رحلت وکړ. انا لله و انا اليه راجعون.

د جنازې د لمانځه له اداء کيدو وروسته د نومورې جسد د کوټې ښار شيخ مانده ته نږدې د سيدانو په هديره کې خاورو ته وسپارل شوه.

د شيخ صاحب د شخصيت په باره کې د نومورې يوه د ډير وخت شاګرد ملا برات شاه اغا وويل: شيخ صاحب يو ډير متدين عالم او مهربان شخصيت و. په هر چا خصوصا طالبانو يې ډيره صله رحمي او مهرباني درلوده.له دنيا سره يې هيڅ تعلق او رغبت نه درلود. په داسې حال کې وفات شو چې کومه دنيا تري په ميراث پاته نه شوه.عبادت به يې په داسې عاجزي کاوو چې سړی به ورته حيرانيدو.د جهاد په لاره کې د خدمت ډير شوقي و او مسؤليت او څوکۍ يې نه خوښوله او همیشه به وربانديې په ډير تاکيد منل کيدله.مسؤلينو ته به يې همیشه سپيني خبرې کولې او خپلو وظائفو ته يې متوجه کول. الله تعالې دې په نومورې رحم وکړي او برکت دې يې په اولادونو باندې کيږدي.

## د شهيد حافظ بدرالدين حقاني ژوند او کارنامو ته لنډه کتنه

ليکنه: قاري سعيد

زموږ وياړلي تاريخ له پيړيو راهيسې په هرپراو کې هميشه خورا وياړلي شخصيتونه درلودلي. ددغو شخصيتونو او دتاريخ دتلپاتې ځيرو له جملې که ځينو په علم، تصوف، تصنيف، فرهنګ، اجتماعي خدمت يا نورو برخو کې ستر کردارونه ترشاه پرې ايښي، مګر ډير بيا داسې دي چې دجهاد دلارې سرسپارلي اتلان او دهمدې برحقې لارې ګلګون کفن شهيدان دي، چې تراوسه يې وروستي نسلونه په نوم او کردار افتخار کوي .

موږ لکه څرنګه چې په تير تاريخ کې د وياړلو شخصياتو غوندې ويارلې کورنۍ هم درلودې، اوسنۍ جهادي دوران مو هم له دې افتخاره بې برخې نه دی . زموږ دهيواد په لراوبر کې ډيرې داسې جهادي کورنۍ شته، چې ټول ځوانان يې دجهاد، دين ساتنې او شهادت پالنې په روحيه روزل شوي او خپل ټول ژوند يې دالهي دين خدمت ته وقف کړی وي .

دداسې سترو ويارمنو متدينو او جهادپالو کورنيو له جملې يوه هم دافغانستان د جنوب ختيځ زون په پکتيا ولايت کې دستر مجاهد او دوو امپراطوريو دماتوونکي مولوي جلال الدين حقاني کورنۍ ده .

موږ که ددې مجاهدې او شهادت پالې کورنۍ پرونی او ننني تاريخ راوسپړو، نو ددوی جهادي کارنامو او شهادتونو ته په پام سره دلوی شاعر خوشحال ختک ددې بيت نغد مصداق به راته ښکاره شي چې وايي :

لوی واړه مې شهـــيدان وګــور ته تللي
پُشت په پُشت مې دا هنر دی آل په آل

هوکې، حقاني کورنۍ دافغان ملت یوه له هغو کورنیو څخه ده، چې دشهادتونو او رشادتونو مینار یې خورا دنګ او اسمانځک دی، ددې کورنۍ په اعضاء وو لکه څرنګه چې دشرقي زبرځواک وسلو ججوري تش کړل، همداسې یې دغربي زبرځواک یرغل ته هم سینه سپروګرځوله او ګڼ شمیر شهیدان یې ورکړل . راځئ دلته دهمدې غازي او شهیدې کورنې دیو رژیدلي ګل ( حافظ بدرالدین حقاني ) دژوند او کارنامو ننداره وکړو، ترڅو مو یې دشهادت په روح پالو خاطرو خپل خواطر سیراب کړي وي .

## شهیدبدرالدین حقاني

هغه مهال چې افغانستان دروسي ښکیلاک تریرغل لاندې و او په وړاندې یې دافغان اولس ویاړمنه مبارزه روانه وه. هغه مهال چې دافغانستان دجنوب ختیځ غرونه او ځنګلونه دشوروي عسکرو په هدیرو بدلیدونکي وو. هغه مهال چې دپکتیا، پکتیکا او خوست په غرونو او درو کې دجلال الدین حقاني په نوم یوه غرني افغان دشوروي امپراطورۍ څلویښتم لښکر په لومړي ځل د شکست له ګواښ سره مخ کړی و او داسلامي نړۍ په سطحه یې د ( جلال الدین حقاني ، قائد المیداني ، امام شامل ثاني ) لقبونه ګټلي وو. دجهاد په همدې توده مرحله کې د ۱۴۰۶ هـ ق درمضان ا لمبارک دمیاشتې په لومړنۍ ورځ دجهاد دهمدې ستر قائد په کور کې چې دغه وخت یې دشمالي وزیرستان په میرانشاه کې دهجرت ژوند تیراوو یو هلک وزېږېد، چې نوم یې ورباندې ( بدرالدین ) کیښود .

بدرالدین دخپل مجاهد او مبارز پلار جلال الدین حقاني په غیږ کې رالوی شو، دژوند کولو لومړني اداب ، اخلاق او عقائد ورته خپل پلار وښودل. ډیر کوچنی و، چې په میرانشاه کې دحقاني صاحب دسترې مدرسې منبع العلوم دانجمن القرآن په څانګه کې داخل شو او ورسره یې د عصري علومو ښوونځی لوستل هم پیل کړل. نوموړي ښوونځی تر شپږم ټولګي ولوست ، چې ورسره یې دقرانکریم حفظ هم کاوو. دبدرالدین عمر یوازې لس کاله و، چې دقرانکریم حفظ یې سرته ورساوو او دکلام الله المجید دیادولو په ویاړ یې دفضیلت پګړۍ تر سر کړه .





## دیني زده کړې

بدرالدین حقاني دقرانکریم دحفظ له سرته رسولو وروسته ددیني علومو په حصول پیل وکړ ، چې په دې لړ کې یې دمیرانشا په جامعه منبع العلوم ، دپښتونخوا دصوابۍ په مدرسه تعلیم القرآن ، دچارسدې مدرسه تعلیم الاسلام او نورو مختلفو مدارسو کې ددیني علومو زده کړې ته دوام ورکړ . دغه راز یې داسلامي امارت دواکمنۍ په مهال په کابل کې په خصوصي ډول له خپل والد صاحب څخه ځیني کتابونه ولوستل تردې چې دعلم سفر یې د وړې دورې ( موقوف علیه ) درجې تربشپړلو ورساوو .

دبدرالدین حقاني په اړه ویل کیږي چې نوموړی دحقاني صاحب په کورنۍ کې دځانګړي علمي استعداد او قوې خاوند و، له همدې امله و، چې مشر حقاني صاحب همیشه کوښښ کاوو چې نوموړی ترپایه ديني علوم ولولي او دیوه ديني عالم په صفت د ټولنې خدمت وکړي .

حقاني صاحب لکه څنګه چې په حضر کې نوموړی علم ته تشویقاوو دسفر په مهال به یې هم په نوموړي تاکید کاوو چې په پوره مواظبت سره درسونه ووایي .

حقاني صاحب به ده ته همیشه ویل چې ( زما په کورنۍ کې به له ماڅخه وروسته ددیني علم ډیوه ته بله ساتې ، زما ستره کتابخانه به تاته پاته کیږي او ته بـه یې پالنه کوې ، زما مدرسه به ته فعاله ساتې او ته به یې خدمت کوې)

خو دا زمونږ په اسلامي هیواد افغانستان دامریکایي ښکیلاک یرغل و، چې د ډیرو نورو غوندې یې دبدرالدین حقاني علمي سفر هم ټکنی کړ ، جهادي ضرورت نوموړی له ديني زده کړو راوګرځاوو ، او دجهاد دعاجل ضرورت له املـه یې دینې زده کړې نیمګړې پاته شوې .

**دامریکا په خلاف جهاد:** هغه مهال چې امریکایي زبرځواک زمونږ په ګران هیواد افغانستان باندې یرغل وکړ، حافظ بدرالدین حقاني نوی دځوانۍ مرحلې ته رسیدلی

و. څرنګه چې نوموړي له يوه جهادي خاندان سره تړاو درلود او دخپل پلار لخوا په جهادي روحيه روزل شوی و، نوځکه يې دژوند نور مصروفيتونه پريښودل او د جهاد په سرشاره مينه يې دحق او حقانيت سنګر ته ودانګل .

حافظ بدرالدين په لومړيو کې ديوه عادي مجاهد په صفت دپکتيا، پکتيکا او خوست په جنګي محاذونو کې ددښمن په خلاف جهادي فعاليت ته دوام ورکړ. لکه څرنګه چې ستر مجاهد مولوي جلال الدين حقاني دتير جهاد دهغو قومندانانو او مشرانو له جملې ګڼل کيږي چې خپله يې دجګړې په ډګر کې ونډه درلوده، دبدرالدين په شمول دنوموړي زامن هم په خپله دنورو مجاهدينو سره يوځای دامريکايي يرغلګرو مقابلې ته وړاندې شول او په دښمن يې بريدونه پيل کړل .

د چريکي جګړې په ليکو کې له څه مهال خدمت وروسته بدرالدين حقاني ته داستشهادي عملياتو ديوه کنډک مشرۍ وسپارل شوه، چې د شهادت ترنيټې يې همدغه وظيفه په پوره امانت داری، بريالیتوب او استقامت سره سرته ورسوله. دځانګړو فدايي بريدونو په انسجام سربيره نوموړي د دجنوب ختيځ زون دتنظيمه رياست دمرستيال او دخوست ولايت دنظامي مرستيال په حيث هم دندې اجراء کړي دي دغه راز يې ګڼ نور جهادي خدمات او مسؤليتونه هم سرته رسولي دي .

## کفر لړزوونکي فدايي بريدونه

بدرالدين حقاني داسلامي امارت په ليکو کې يو له هغو مبتکرو، مدبرو او فعالو نظامي څيرو څخه ګڼل کيږي ، چې په تير دوولس کلن جهاد کې يې دخپلو دقيقو او رسا بريدونو په توسط دښمن ته بيا بيا درانه تلفات اړولي او دښمن يې مکررا په ځان پورې حيران کړی دی .

دبدرالدين حقاني په ابتکار په کابل ، بګرام ، پکتيا ، خوست ، پکتيکا ، ميدان وردګ او دهيواد په نورو مختلفو سيمو کې په امريکايي حساسو اهدافو ترسره شوي





بريدونه او په وړاندې يې ددښمن اعترافات او دشکست شواهد هغه څه دي چې زموږ لوړه ادعاء تائيدوي .

دشهيد بدرالدين لخوا طرح شوي او دسرسپارلو فدايانو په توسط ترسره شوي همدا هدفمند بريدونه وو، چې دښمن يې څو ځله له سختو تلفاتو سره مخامخ کړ او سخته رسوايي يې وروړوله. له همدې امله دښمن دحقاني صاحب دملګرو په خلاف ځانګړي تبليغات پيل کړل ،او هڅه يې وکړه چې دحقاني صاحب مجاهدين د (حقاني شبکې) په نوم له اسلامي امارت څخه يوه جلا ډله وښيي ، خو ددښمن دغه تبليغات هم داسلامي امارت لخوا په مستنده توګه رد کړای شول.

حافظ بدرالدين حقاني دخپل مسؤليت په مهال په دښمن ۷۵ مختلف النوع استشهادي بريدونه ترسره کړل، چې دبګرام ، کابل او خوست دعملياتو غوندې ځينې عمليات يې خورا ستر او خبر جوړوونکي وو .

په دې عملياتو کې په خوست کې دصحراباغ په امريکايي مرکز لوی عمليات ، دخوست ولايت په مقام عمليات ، ددومندو په ولسوالۍ برید، د صبريو په امريکايي اډه برید، دبګرام په هوايي ډګر لوی برید ، په انترکانتيننټل هوټل برید او په پلازمينې کابل کې په ځينو نورو اهدافو لوی عمليات هغه څه وو، چې دښمن ته په کې ملاماتوونکي ځاني او مالي زيانونه واوښتل .

## شهادت يې

بدرالدين حقاني چې يرغلګرو امريکايانو دخپل خطرناک دښمن په نامه پيژاند له ډيره وخته دامريکايي غاصبانو تر هدف لاندې او له همدې امله يې نوم ددوی په تورلست کې شامل کړای شوای و، ترڅو بالاخره ددښمن له مکررو هڅو وروسته د ۱۳۹۱ هجري شمسي کال د سنبلې مياشتې په اوائلو کې دبې پيلوټه طيارې په يوه برید کې له څو تنو فدايي مجاهدينو سره يوځای دشهادت لوړ مقام ته ورسيد .

انا لله وانا اليه راجعون

داسلامي امارت رهبري شورا د بدرالدين حقاني دشهادت په مناسبت په نشرکړې اعلامیه کې وویل (دافغانستان اسلامي امارت دحافظ القران بدرالدين حقاني دشهادت مبارکي دنوموړي محترم والد(نومیالي جهادي اوعلمي شخصیت مولوي جلال الدين حقاني صاحب حفظه الله ) ددوی کورنۍ ،ملګرواودوستانوته وړاندي کوي.

شهیدبدرالدین V دصلیبي یرغلګروپرضدروان جهادکي یونه هیریدونکی مبارز او اتل مجاهد و چې دحق ددفاع په سنګر کې یې تاریخي خدمتونه ترسره کړي الله رب العزت دي دنوموړي جهادي خدمتونه قبول کړي او الله تعالی دي ورته لوړي درجې اوپه جنت الفردوس کي عالي مقامات ورپه برخه کړي .

اسلامي امارت دشهید بدرالدین غوندي ځوانانوپه خدمت او ایثار ویاړي چې ځوانۍ یې دالله عزوجل ددین خدمت ته وقف کړې اوداسلام اوهیواد دغلیمانوپه وړاندي یې دجهاد ډګرغوره کړی وي. الله تعالی دي ددوی دخدمتونو او پاکو وینو په برکت مسلمانانو ته بری او کفارو ته ذلت او شکست ور په برخه کړي .امین یا رب العالمین)

## دبدرالدین حقاني دشخصیت ځانګړنې

په ډاډ سره ویلی شو چې حافظ بدرالدین حقاني د امریکا ضد جهاد یوه کمساري هستي وه، چې په شهادت سره یې دوستان غمجن او دښمنان د ځو شیبو لپاره خوښ شول، دنوموړي دشهادت په اړه بیلابیل غبرګونونه او نظرونه څرګند شول ، په لاندې ځو کرښو کې دنوموړي دشخصیت په اړه د ځو تنو نظریات ولولو .

خلیفه صاحب سراج الدین حقاني وایي : دشهادت په مهال دحافظ بدرالدین وجوددامریکایي توغندي دلګیدو له امله ذره ذره شوی و، خو یوازې سینه یې سالمه پاته وه ، چې مجاهدینو له سینې څخه وپیژاند ، چې دا دده دکرامت او دقران کریم داعجاز نښه وه ، ځکه دده په سینه کې قرانکریم محفوظ و چې الله تعالی یې له ټول وجود څخه له امله سینه سالمه پاته کړې وه .





دخوست ولایت نظامي مسؤل مولوي محمدجان دنوموړي په اړه وایي : حافظ بدرالدین په خبرو او تعبیر باندې حاکم سړی و، چې همیشه یې په مجالسو کې دګډونوالو توجه جلبوله، نوموړي صبر او حوصله درلوده او په سړه سینه یې دخلکو مشورې او وړاندیزونه اوریدل ، حافظ صاحب ته الله تعالی ډیر څه ورکړي و. ښه اخلاق ، خاکساري ، تواضع ، تقوا ، ایثار ، دملګرو سره ښه تعامل او خوشطبعي دحافظ صاحب امتیازي صفات وو .

نوموړي ددښمن په لیکو کې دنفوذ لوړ استعداد درلود او ددښمن په لیکو کې دننه یې خلکو ته جهادي روحیه ورکړه ، هغوی یې استخدام کړل او په دښمن یې له دننه څخه کاري بریدونه وکړل ، دحافظ بدرالدین په استعداد او جهادي فعالیت باندې حتی دښمن اعتراف لري او انکار ترې نه شي کولای .

په حافظ صاحب کې داطاعت ماده هم خورا قوي وه او په ډیر دقت یې داسلامي امارت درهبرۍ اوامر منل او تطبیقول . نوموړي خپل ملګري هم په داسې روحیه روزلي وو چې اسلامي امارت ته یې پوره وفاداري درلوده .

دپکتیکا ولایت پخوانی نظامي مسؤل مولوي محمدسنګین فاتح وایي : حافظ بدرالدین یوه تکړه جنګي ستراتیژیست و، ځکه په تیر څو کلن جهاد کې موږ ولید چې دټولې نړۍ پرمختللي پوځونه له باتجربه جنرالانو سره زموږ هیواد ته راغلل، دخپلې دفاع لپاره یې مصئون مراکز جوړ کړل، مګر حافظ بدرالدین په خپلو بریالیو تاکتیکونو سره وتوانید چې ددښمن دفاعي کمربندونه مات کړی او ددښمن په زړه باندې بریدونه ترسره کړي، نوموړي په داسې ځایونو بریدونه ترسره کړل چې تصور یې نه کیده .

داسلامي امارت درسمي ویب سایټ الاماره ویب پاڼې خبریال قاري حبیب دحافظ بدرالدین په اړه وایي : حافظ بدرالدین یوه ویښ، بادرکه او دجهادي بریاوو په مطبوعاتي اهمیت پوه شخصیت و. نوموړي لکه څومره چې نظامي عملیات په دقت تطبیقول همدومره له عملیاتو وروسته دهغه مطبوعاتي انعکاس ته هم متوجه و. نوموړي به دپیل شویو عملیاتو په اړه په ډیر دقت او سرعت سره داسلامي امارت ویندویانو او نشراتي

اداري ته معلومات ورکول او ددقيقو معلوماتو دراټولولو کار يې په ډير دقت ترسره کاوو. نوموړي دجهادي عملياتو ژوندۍ صحنې عکاسي کولې ترڅو په مستنده توګه ليدونکو ته وړاندې شي، دنوموړي همدا ځانګړنه وه چې په ترسره شويو جهادي عملياتو يې دنظامي ډګر غوندې په مطبوعاتي ډګر کې هم نتيجه ترلاسه کيدله .

دبدرالدين حقاني له شهادت وروسته امريکايي مطبوعاتو نوموړی دامريکا ديوه خطرناک دښمن په توګه ياد کړ په دې لړ کې د THE LONG WAR ژورنال په نامه يوې امريکايي نشريې وليکل (امريکايي ځارګرو طيارو دبدرالدين حقاني په نامه دطالبانو يو مهم قومندان وواژه. بدرالدين حقاني په افغانستان کې په امريکايانو ترټولو ستر او خونړي بريدونه ترسره کړی وو. دامريکا مهمې ورځپاڼې واشنګټن پوسټ دشهيدبدرالدين حقاني په شهادت دتبصرې په لړ کې وليکل چې نوموړی په افغانستان کې دامريکا دبريالیتوب په وړاندې يو لوی خنډ و ، چې په تيرو څو کلونو کې يې په امريکايانو پرلپسې خونړي بريدونه ترسره کړی وو)

عرب وايي (والفضل ما شهدت به الاعداء) داچې امريکايي فرعوني چارواکي دخپل کبر او غرور په اوج کې اعتراف کوي چې بدرالدين حقاني ددوی په وړاندې يو لوی ګواښ او خطرناک دښمن و، لدې ځخه دنوموړي جهادي حيثيت ښه معلوميدلای شي.

بدرالدين حقاني يو له هغه مجاهدينو ځخه وو چې له شهادت وروسته يې له امريکايي کفارو ځخه خپل انتقام واخيست، ځکه نوموړي تر شهادت وړاندې دکابل په اريانا هوټل کې د CIA په مرکزي دفتر دبريد لپاره تياري بشپړه کړې وه، چې دنوموړي له شهادت وروسته په ډيره کاميابي دغه د حمله ترسره شوه او ددښمن استخباراتي چارواکو ته په کې دروند زيان واوښت .

الله تعالی دې دحافظ بدرالدين حقاني شهادت قبول کړي او الله تعالی دې يې لاره ښيرازه ولري . آمين يارب العلمين





## دشهيد شيخ دوست محمدصاحب ژوند او کارنامو ته لنډه کتنه

ليکنه: قاري سعيد

که دشوروي يرغل په وړاندې دافغانانو کفر ماتوونکی جهاد دشلمې پيړۍ انساني حماسه وبلل شوه، نو دامريکايي طاغوت په وړاندې زموږ دمسلمان ملت جهاد چې په ډيرو کمو وسائلو خو لوړه اراده پيل شواو په درنو قربانيو دفتحې ترمنزله نږدې شو په ډاډ سره يې ديوويشتمې پيړۍ اعجوبه او حماسه بللی شو .

امريکايي يرغلګر چې ددرستي کفري نړۍ جابر ځواکونه ورسره اشربانې وو په ډير کبر او غرور يې زموږ په پاکه خاوره يرغل وکړ. زموږ مجاهد ولس ورسره په داسې حال کې مقابله شروع کړه ، چې ظاهرا يې هيڅ په واک کې نلرل او ټولو دوستانو او دښمنانو ترې مخ اړولی وو ، مګر داچې داولس نيت صفا ، ايمان محکم او عزم پوخ و له ټولو ظاهري ناشونتياوو سره سره وتوانيد چې امريکايي کفر په ګونډو کړي .

د يوويشتمې ميلادي پيړۍ په پيليزو کلونو کې چې دافغان وطن په غرونو او هوارو کې دکفر او اسلام کومه معرکه تېره شوه، شايد د تاريخ يوه بې جوړې حماسه وي. دلته دقربانيو ، شهادتونو ، فداکاريو او حماسو خورا نادرې بيلګې ندارې ته وړاندې شوې، ترڅو داسلام دتاريخ دا ويارلې معرکه وګټل شوه. ددې معرکې ګټل کوم ساده کار نه و، بلکې داسلامي امت بې شمير غيرتي زامنو په دې معرکه کې خپل ځانونه قربان کړل او په دې توګه يې خپل مسؤليت سرته ورساوو ددې معرکې غازيان که څه هم په پنځلسم قرن کې اوسيدل خو ددوی توکل ، عزم او ايماني قوت نړۍ ته دصدراسلام حالات وريادکړل. راځئ دلته دهمدې تاريخي معرکې ديوه وتلي او نوميالي غازي او شهيد په ژوند او کارنامو سره وغږيږو. دا غازي شهيد شيخ دوست محمد دی ، نوموړی دامريکا په وړاندې دجهاد دپيل له نيټې بيا په ۲۰۱۳ م کال کې

دشهادت ترنيټي پورې د نورستان ولايت عمومي جهادي مسؤل و او په دې جهادپال ولايت کې يې د ټولو مجاهدينو مشري په غاړه درلوده .

## شهيد شيخ دوست محمد V

شيخ دوست محمد دحاجي سفر محمد زوی د لعل محمد لمسی په ۱۳۷۷ هـ ق کال کې دافغانستان په ختيځ کې دنورستان ولايت دکانتوا په سيمه کې دنيا ته راغی .

شيخ دوست محمد چې په يوه ديندارہ کورنۍ کې زيږيدلی و د ۷ کلونو په عمر و، چې له خپل پلار څخه يې ديني زده کړې پيل کړې. څرنګه چې شهيدشيخ صاحب له کوچنيوالي ډېر ذکي او ذهين و، پلار يې غوښتل چې په خپل زوی باندې ديني علوم ووايي، نو ځکه يې د ( کانتوا ) سيمې له يوه عالم مولانا اختر محمد سره پاکستان ته واستاوو. شيخ صاحب له نوموړي عالم سره کابو څلور کاله په قبايلي سيمه باجوړ کې تېر کړل، هلته يې ورځخه د فقهې ابتدايي کتابونه او عصري علوم ولوستل، او پاتې لومړنی، منځنی، او لوړې زده کړې يې په نورو مختلفو مدرسو کې له جيدو ديني عالمانو څخه تر لاسه کړې، د احاديثو کتابونه( صحاح سته ) يې د ( ۱۴۰۱ هجري قمري) کال کې د پاکستان دخيبر پښتونخوا ايالت په مشهوره ديني اداره ( دار العلوم نعمانيه) چارسده کې د وخت د لوی محدث مولانا (سميع الحق ) V څخه ولوستل، په نهايي ازموينه کې يې بريالی او ممتاز سندتر لاسه کړ او د فضيلت دستار يې په نوموړې مدرسه کې ترسر کړ .

څرنګه چې شهيد شيخ صاحب دنبوي احاديثو سره بې کچه مينه درلوده، نوځکه يې د احاديثو کتابونه يو ځل بيا په ( دار القرآن صوابي ) کې د وخت له لوی عالم شيخ القرآن مولانا محمد طاهر V او شيخ الحديث مولانا محمد يار بادشاه V څخه ولوستل.





د احاديثو تر څنګه يې د قرآن کريم تفسير هم په صوابی سيمه کې د يادو شيخينو څخه اخذ کړ، دغه راز يې يوځل دقرانکريم تفسير له مولانا عبدالسلام صاحب څخه هم ولوست .

## علمي مقام او تدريسي ژوند

شهيد شيخ صاحب ته الله تعالی ستر علمي شان اومقام په برخه کړی و، چې د شاګردانو څخه پرته د هغه د سبق ملګري او د سيمې نور معاصر عالمان هم دهغوی په علمي نبوغ او تفوق باندې معترف وو.

شيخ صاحب د ټولو مروجه علومو څخه د اوو کالو په موده کې فراغت حاصل کړی و، د فراغت په کال شيخ صاحب د عمر له لحاظه ډېر خام او کم سنه و، چې پر مخ يې ږيره نه وه خو دښه لوړ استعداد له امله ورته دخپلو همدرسو ملګرو په منځ کې د بخاري شريف د قراءت ويار حاصل و.

شيخ V خورا ذکي او سريع الذهن و، کومه مسئله به يې چې يو ځل په کتاب کې مطالعه کړه، هغه به يې بيا تر کلونو کلونو د حافظې په ارشيف کې پرته وه، د شيخ صاحب مرحوم علمي قوت او متانت له دې څخه هم څرګندېږي، چې هغوی په خپل اوږد تدريسي ژوند کې کله هم په درس کې پر پوښتنه نه دي غوسه شوي، او نه يې له کومې پوښتنې ځان تېراوو له هغوی نه خصوصا دتفسيرشريف په درس کې مختلفې پوښتنې کيدلې او ده ورته ځواب وايه.

شيخ صاحب د کتابونو مطالعې سره بې حده شوق درلود. ناشنا کتابونه به يې په بيه اخستل او مطالعه کول يې همدغه وجه وه، چې شيخ صاحب ته د کتابونو ګن عبارتونه او مشکل لغتونه زده و. په مطالعه کې د شيخ V ډومبی انتخاب د احاديثو کتابونه وو او په دوهمه درجه کې ورته د ( تفسيرونو ) مطالعه په زړه پورې وه، په مطالعه کې به يې عجائب او غرائب هم زيات خوښېدل، اوږدې نادرې کيسې به

ورته يادې وې، کله به چې کومه تعجبي پېښه ولیده، نو ملګرو او شاګردانو ته به يې هغه په ډېره مینه اوروله.

له فراغت وروسته نوموړي ددیني علومو په تدریس پیل وکړ چې دقبایلي سیمې باجوړ ایجنسي په ( ترخو ) سیمه کې د مولانا عبدالجبار صاحب په مدرسه ( تعلیم القرآن ) کې يې کابو دوویشت (۲۲) کاله د نبوي احادیثواو نورو ديني علومو په خدمت کې بوخت و، دغه راز کله چې نوموړی له دې سیمې څخه دیر ته لاړ او هلته دشیرینګل سیمې په ګوریال کلي کې دیره شوه هلته يې هم علم او مطالعه مشغولا وه .

په دې موده کې نوموړي طالبانو ته د لوی دورې تر څنګ د فنونو هر ډول واړه او لوی کتابونه هم تدریسول او په رخصتیو کې به يې د موطأ امام مالک، موطأ امام محمد، معاني الاثار للطحاوي، سنن ابن ماجه، سنن نسائي رحمهم الله او داسې نور کتابونه چې عموما پوره نه لوستل کیږي بالاستیعاب يي تدریسول .

نوموړي يو شمیر کتابونه هم تصنیف کړي چې نومونه يې په لاندې ډول دي

۱ ـ العقد الفريد في اثبات الفرد الشرعي من التقليد

۲ ـ الدرر السنية

۳ ـ الترجمان لعقائد الشبان

۴ ـ البرهان الساطع على عدم اعتبار اختلاف المطالع

۵ ـ تنبيه الانام عن حقيقة الدين والاسلام

٦ ـ هدية الكتوري في مقدمة الترمذي

۷ ـ نداء البراءة والجهاد

۸ ـ المسدسات في مباحث الجهاد

۹ ـ خطبات مجاهد

۱۰ ـ نداء الفرسان لاهل البصيرة والايمان





۱۱ ـ دروس الجهاد

۱۲ ـ تحفة الاحرار

## ديني دعوت او دشريعت دنفاذ لپاره هڅې

شهید شیخ دوست محمد صاحب که څه هم دافغانستان دنورستان ولایت اوسیدونکی و، مګر د ډیورنډ کرښې دواړو خواووته يې په خلکو کې پراخ نفوذ ، اعتبار او شهرت درلود ، نوموړی په باجوړ ایجنسۍ او شاوخوا سیمو کې دیوه پیاوړي اومخکښ ديني مشر په حیث پیژندل کیدو .

جناب شیخ صاحب چې اصلي مشغولا يې ديني تدریس او امامت و، ورسره يې همیشه دټولنې اصلاح او شریعت دنفاذ لپاره هم هلې ځلې کولې .

نوموړي به همیشه ویل چې دمسلمانانو داوسنۍ بد وضعیت عامل په اسلامي نړۍ حاکم غیرشرعي مستبد او غرب ډول نظامونه دي، دمسلمانانو عزت او سرلوړي یوازې هغه وخت اعاده کیدلای شي چې په اسلامي هیوادونو کې اسلامي واکمني د صدراسلام په ډول راژوندۍ شي، په مسلمانانو باندې باید یوازې اسلامي قانون واکمني وکړي او شریعت چې ددنیوي ژوند هراړخیز او بشپړ نظام دی باید په عمل کې پیاده شي .

جناب شیخ صاحب له ډیر پخوا څخه داسلامي امارت یا خلافت ارمان درلود، کله چې په افغانستان کې دطالبانو اسلامي تحریک راپورته شو او دخلافت راشده په نهج برابر دیوه اسلامي نظام دجوړولو لپاره يې کار پیل کړ، شیخ دوست محمد صاحب ورسره هر اړخیزه همکاري پیل کړه، نوموړی له خپلو ټولو ملګرو سره داسلامي امارت په تشکیلاتو کې داخل شو له امیرالمؤمنین ملامحمدعمر مجاهد سره يې بیعت وکړ او دشهادت ترنیټې پورې په هماغه بیعت وفادار پاته شو. کله چې دطالبانو تحریک دافغانستان ختیځ ته ورسید شهید شیخ صاحب چې دا مهال يې ديني علوم تدریسول له خپل نفوذ نه په استفاده يې خورا سترجهادي او دعوتي خدمتونه سرته

ورسول په پيل کې دکونړ او نورستان په ځينو سيمو کې داسلامي امارت په اړه غلط تبليغات کيدل او ځينو خلکو غوښتل چې داسلامي امارت په خلاف خلک وپاروي ، مګر جناب شيخ صاحب ددې مناطقو خلکو ته د دعوت د لارې رهنمايي وکړه، داسلامي نظام ګټې او ضرورت يې ورته تشريح کړ، ترڅو عام اولس په پوره اخلاص داسلامي امارت سره ودريد. په دې لړ کې نوموړي دکونړ او نورستان ولايت بيلابيلو سيمو ته سفرونه وکړل او ډير مخالف مشران يې دخبرو دلارې داسلامي امارت منلو ته تيار کړل د نورستان ولايت کامديش ولسوالي دجناب شيخ صاحب دهڅوپه نتيجه کې داسلامي امارت ترولکه لاندې راغله او بشپړه اسلامي واکمني په کې ټينګه شوه .

## دامريکايرغل او په وړاندې يې جهاد

کله چې امريکايي اشغالګرو په افغانستان برید وکړ اوپه وړاندې مسلح جهاد پيل شو، شيخ دوست محمد صاحب يو له هغو کسانو څخه و چې په ډير جرأت او متانت سره يې په ژبه ، لاس او مال سره جهاد پيل کړ. نوموړي دامريکايي يرغل په مهال په باجوړ ايجنسۍ او دافغانستان په نورو سرحدي سيمو کې په سلهاوو ولسي خلک جهاد ته تيار کړل ، دغه راز يې خورا زياتې مالي مرستې هم د مجاهدينو دکومک لپاره راټولې کړې .

دامريکايي يرغل دپيل په مهال دباجوړ ، ملاکنډ او دکونړ او نورستان په ګاونډ کې له نورو سيمو څخه زرګونو ولسي مجاهدين دنفيرعام په شکل ددښمن مقابلې ته وړاندې شول او داسلام لپاره دهره نوع قربانۍ وعده يې ورکړه ، چې ځينې يې دجهاد ډګر ته هم لاړل ، په دې تاريخي ولسي جهادي پاڅون او نفيرعام کې دشيخ دوست محمد صاحب ستر رول و، وروسته چې کابل دامريکايانو ترتسلط لاندې راغی ، شيخ صاحب بيا هم کرار کښناست ، بلکې هره شيبه په جهادي هلوځلوبوخت و .

ديرغل په ابتدايي کلونو کې شيخ صاحب هميشه په دې هڅه کې و چې په اولس کې جهادي روحيه راژوندۍ کړي، دهمدې لپاره يې غړيږ تقريرونه ثبتول، ليکلي





پيغامونه او رسالې يې تياررولې او بيا به يې په اولس کې توزيع کولې ترڅو دجهاد له فرضيت څخه خلک خبر شي او دامريکايانو په خلاف قيام وکړي .

نوموړي دخپلو ملګرو يوه جهادي جبهه جوړه کړه او د نورستان په ولايت کې يې په جهادي عملياتو پيل وکړ .

نورستان ولايت چې دافغانستان په سطحه دامريکايانوپه خلاف يو قوي او تاريخ ساز مورچل بلل کيږي، دجهادي خوځښت مشري او ابتکار يې دشيخ دوست صاحب په واک کې و، شيخ دوست محمد صاحب چې داسلامي امارت په تشکيلاتو کې دنورستان ولايت د والي يا جهادي مسؤل په حيث يې دنده ترسره کوله دنورستان د ټولومجاهدينو د استاد او رهنما حيثيت هم درلود، ځکه ددې ولايت تقريبا ټول جهادي سرګروپان او ډلګۍ مشران دنوموړي شاګردان پاته شوي دي، چې جهاد يې هم دنوموړي په هدايت او ترمشرۍ لاندې پيل کړی و نوځکه دنورستان جهادي بریاوې د شهيد شيخ صاحب کارنامې بللی شو. داچې دشيخ صاحب په ابتکار په نورستان ولايت کې داسلامي امارت مجاهدينو کوم فتوحات ترلاسه کړل دلته ورته په لنډو اشاره کوو.

## د شهيد شيخ صاحب دمشرۍ په مهال په نورستان کې مهم فتوحات

ـــ په ۲۴/ ۷ / ۲۰۰۲ م نيټه کله چې امريکايان نورستان ته راغلل نو د کامديش دکوټيا دسيمې مجاهدينو په مارکونډه کې په يوامريکائي مرکز حمله ور وړه چې په نتيجه کې ۱۴ خارجيان ختم او ګڼ نور ټپيان شول او په پای کې له سيمې وتښتيدل .

ـــ په ۲/ ٦/ ۲۰۰۴ م نيټه دکامديش ولسوالۍ دکوټيا په سيمه کې مجاهدينو پر دښمن بريالي عمليات ترسره کړل چې دغه جګړه په نورستان کې دمجاهدينو لومړي تر ټولو مهم عمليات بلل کيږي ددې جګړې په ترڅ کې مجاهدينو د براون په نامه يو لوړ پوړی امريکائي پوځي منصبدار وواژه چې جسد او وسله يې هم دمجاهدينو لاس ته ورغلل.

ـــ دوانت وايګل ولسوالي يوه تکړه جهادي مشر مولوی حضرت عمر فاروقي د ۲۰۰۷م کال داګست په میاشت کې دنیږدې ۱۵۰ تکړه ملګرو په ملتیا دارنس نومې کلي دامریکایانو په ستر بیز دخاردارو ټولو کمربندونو څخه په تېریدلو او بیز ته په ورننوتلو وتوانید دامریکایانو او داخلي عسکرو په ضد بریالی برید وکړي ددوی جګړې ۲ ساعته دوام وکړ چې په نتیجه کې بیز دطالبانو په لاس فتح شو او دکلي دهغه کسانو په وینا چې په اردو کې یې کار کاوه په دې برید کې ۱۶ امریکایي او ۱۴ داردو عسکر ووژل شول. مولوی فاروقي اود هغه پنځه ۵ نور ملګري په همدې جنګ کې شهیدان شول خو په پایله کې یې امریکایان له سیمې وتښتیدل.

ـــ په ۵ رجب ۱۴۲۹ هـ ق کال دوانت وایګل ولسوالي دجمچګل په سیمه کې داشغالګرو عسکرو خورا ستر بیس چې دوی ته یې خورا ستراتیژیك اهمیت درلود دمجاهدینو دمسلسلو بریدونو له امله تخلیه کړ او ګڼ شمیر غنیمتونه دمجاهدینو لاس ته ورغلل .

ـــ د۲۰۰۸ م کال دجولائي په ۱۳ مه نیټه مجاهدینو دوانت په مرکزي بیز خورا بریالي عملیات ترسره کړل چې ترڅ کې یې لسګونه امریکایي عسکر له منځه لاړل .

ـــ په ۲۰۰۸ م کال دکامدیش ولسوالۍ دګوهردیش په ډبه بیس باندې مجاهدینو خورا بریالي عملیات ترسره کړل چې په نتیجه کې ۱۶ خارجي او داخلي عسکر له منځه لاړل او په پایله کې یرغلګرو دغه بیس تخلیه کړ.

ـــ د۱۴۳۰ هـ ق په ذوالقعدة میاشت کې ۵۰۰ تنه مجاهدینو دکامدیش پر دریو سترو بیسونو اورمړو،کمو ، اوشرپیټ باندې تهاجمي عملیات ترسره کړل چې په ترڅ کې ٦٧ خارجیان او ۹ تنه داخلي اجیران له منځه ولاړل او ۴۳ پولیس او اردو اسیران شول. په اخر کې ولسوالي ، قوماندانې ، مرکزي بیز او نورې ټولې دفاعي پوستې په بشپړه توګه د مجاهدینو لاس ته ورغلل. دغو بریالیو عملیاتو دافغانستان په عمومي وضعیت خورا ژور اغیز وکړ او دغربي رسنیو هغه دروغجن تبلیغات په اوبو لاهو شول کوم چې دامریکایانو دکامیابۍ او پر مختګ په اړه یې کول. ان تر دې چې په هغه





وخت کې دامریکایانو مشر جنرال مك کرستل وویل چې که ۴۰ زره اضافي عسکر زر ترزره افغانستان ته ونه لیږل شي زرده چې دافغانستان په نورو سیمو کې هم دنورستان تجربه تکرار شي.

ـــ په ۱۳/ ۱۱/ ۲۰۰۹ م نیټه دبرګمټال ولسوالۍ د بدین شاه په سیمه کې بهرنیو او کورنیو ځواکونو دشپې پرمهال یرغل وکړ چې دیرغل نه څه شیبې وروسته دمجاهدینو لخوا له کلك مقاومت سره مخ شول دغه مقاومت کابو ٦ ساعته دوام وکړ چې په ترڅ کې ۸۰ تنوپوري خارجي او دهغوئ داخلي ګوډاګیانو ته مرګ ژوبله واوښته.

ـــ په ۲۹/ ۵/ ۲۰۱۰ م نیټه مجاهدینو دبرګمتال په ولسوالۍ بریالي عملیات ترسره کړل او په نتیجه کې یې ولسوالي فتحه کړه

ـــ په ۲۰۰۸ م کال داپریل په شپږمه نیټه ددوآب ولسوالي دشوك په کلي باندې خارجیانو یرغل وکړ چې دسیمې مجاهدینو لخوا کلك مقامت سره مخامخ شول په نتیجه کې ددښمن دوه څرخي الوتکې وغورځیدلې او بالاخره یرغلګر پر شاتګ مجبورشول پدغه جګړه کې ددښمن خورازیات جنګي تجهیزات دمجاهدینو لاسونو ته ورغلل .

ـــ د ۲۰۱۱ م کال مجاهدینو ته د دوآب پر ولسوالي تهاجمي برید وکړ چې وروسته له ډیر ساعت جګړې نه یاده ولسوالي په بشپړ توګه فتحه شوه او ډېر زیات غنیمت مجاهدینو تر لاسه کړل.

ـــ په ۷/ ۱۱ / ۲۰۱۲ م نیټه د نورګرام ولسوالي دکله ګوش په سیمه کې اشغالګرو عسکرو خپله غټه پی آر تي چې دوی ته یې خورا ستراتیژیك اهمیت درلود دمجاهدینو دمسلسلو بریدونو له امله تخلیه کړه.

په د ۱۸/ ۷ / ۲۰۰۸ م نیټه دغازي اباد مجاهدینو د ډب بروړه په سیمه کې پر خارجي ځواکونو عملیات ترسره کړ چې په نتیجه کې له ۱۵ عدد ټانګونو څخه ۸

ټانګونه په بشپړه توګه له منځه یووړل چې پکې سپاره ټول سرتیري داور خوراک شول، په دغه کامیاب برید کې دوه لوړ پوړي امریکایان هم تلف شول.

ـــ په ۲۱ / مئ / ۲۰۰۹ م نیټه مجاهدینو دغازي اباد موجوده ولسوالي دنیشګام کلي سره جوړشوي دداخلي او خارجي ځواکونو په یو مهم مرکز او یو بله دپوسته باندې تهاجمي برید وکړ او ۱۲ تنه خارجیان او ۷ داخلي دملي اردو عسکر ووژل شول او دیو ترجمان په ګډون ۱۲ تنه دملي اردو سرتیري ژوندي ونیول شول، او یاد مرکز او پوسته په کامل ډول لمنځه یوړل شول.

دغه راز په ۲۰۱۱ م کال کې دکامدیش ولسوالي دګوهردیش دسیمې پر پنځو پوستو مجاهدینو تهاجمي برید وکړچې د ګهیځ نه تر ۱۱ یوولس بجو پورې یې دوام درلود په نتیجه کې یې ۳۷ سرحدي عسکر ختم او یو تعداد ژوندي دمجاهدینو لاسونو ته ورغلل، همداراز پنځه واړه پوستې فتحه شوې .

په لوړو یادو شویو عملیاتو کې چې دافغانستان په معاصرو جهادي عملیاتو کې مهم او ټاکونکي عملیات بلل کیږي ، شهید شیخ صاحب یا په کې مستقیم شرکت درلودلی او یا هم دنوموړي په ابتکار ، مشوره او قومنده ترسره شوي دي، چې دهمدې یادو شویو او ګڼو نورو تاریخ سازو عملیاتو په برکت په نورستان ولایت کې دیرغلګرو پوځي زور مات شو او نورستان هغه لومړنی ولایت وو چې یرغلګرو ترې تیښته او شاتګ پیل کړ .

## د شیخ دوست محمد صاحب شهادت

دشیخ دوست محمد صاحب دجهادي ژوند معمول دا و، چې زیاتره وخت به دخپل مسؤلیت په ساحه کې په جهادي سیمو ګرځیده. کلي په کلي او جبهه په جبهه به یې دمجاهدینو او عام اولس حال اخیست، هغوی ته یې دیني موعظې او هدایات اورول او کله ناکله خو به یې دقرانکریم ترجمه او تفسیرهم ورته کاوو، دغه راز به یې دخلکو دیني پوښتنې او استفتاء وې ځوابولې .





شیخ صاحب له شهادت څخه وړاندې یو داسې خوب لیدلی و چې نومورې دشهادت بشارت باله، چې بالاخره همداسې وشول او نومورې په څو ورځو کې ددښمن په برید کې شهید شو، دنومورې یو ملګری وایي چې شیخ صاحب له شهادت څو ورځې وړاندې راته وویل چې یو شهید ملګری او دده شاګرد مولوي سلیمان د واما د کلي اوسیدونکی کوم چې د شیخ V د شهادت څخه یو کال وړاندې شهید شوی و، هغه په آس باندې سپور دی او یو اس یې زما لپاره زین کړی له ځان سره راروان کړی دی او ماته وایي چې شیخ صیب، راځه چې ځو دا آس مې ستالپاره راوستلی دی، شیخ صاحب وویل، چې زه ورسره په آس باندې سپور شوم او ورسره روان شوم .

سره له دې چې شیخ صاحب په پرلپسې توګه ددښمن تر تعقیب لاندې و، څو ځلې یې چاپې وربانديې واچولې او د ۲۰۱۱ م کال په وروستیو کې یې دوه ځله د بې پیلوټه طیارې حملې وربانديې وکړې او څو ځله یې دنوموړي دشهادت دروغجنه ادعاء هم وکړه خو دې ټولو خطراتو نومورې له جهادي فعالیت څخه منع نه کړ او په پوره زړورتوب یې دپخوا غوندې په نورستان کې خپل جهادي فعالیت ژوندی ساته .

تردې چې په ۲/۸/۱۴۳۴ هـ ق نیټه باندې دنورستان ولایت په شملي ګل سیمه کې په داسې حال کې چې دیوه کور ترمخ ترڅېره لاندې له خپلو ملګرو سره ناست و او دیوې شرعي مسئلې دحل لپاره یې په خپل لیپ ټاپ کمپیوټر کې کتاب مطالعه کاوو ددښمن د بې پیلوټه طیارې دبرید هدف وګرځیده او ددوو تنو نورو مجاهدینو مولوي محمد طاهر او یوه بل زلمي مجاهد سره په شهادت ورسید .

انا لله وانا اليه راجعون

❊ ❊ ❊

# د شهيد مولوي سنگين فاتح ژوندليک

ليکنه: نصيب ځدران

پکتيکا ولايت د افغانستان په جنوب ختيځ کې واقع ده،دا ولايت چې زياتره سيمې يې غرنۍ دي د افغانستان د نورو سيمو په څير د يرغلګرو په خلاف د جهاد يو مهم سنګر بلل کيږي.

پکتيکا د کمونيزم ضد جهاد په مهال دا امتياز درلود چې د ثور د کمونيستي کودتا نه وروسته د عملي جهاد لومړی څپه په همدې ولايت کې راپورته شوه. د ثور د ۷ مې له انقلاب نه څو ورځې بعد د ثور د مياشتې په ۱۳ مه نيټه د پکتيکا به زيړوک ولسوالۍ کې اولسي مجاهدينو د کمونيستانو په مراکزو بريدونو پيل کړل چې ورسره د کمونيستي کفرپه وړاندې عملي جهاد شروع شوه.

د امريکايي يرغل په مهال هم د پکتيکا ولايت خصوصا جنوبي سيمې يې د جهاد له لومړنيو او کارنامه سازو مورچلونو څخه شميرل کيږي.د يرغل په لومړيو کلونو کې چې د يرغلګرو فشار زيات و زياتره مجاهدين د پکتيکا په ګاونډ کې د وزيرستان قبايلي سيمو ته لاړل خو ډير زر يې د يرغلګرو په خلاف ځوابي بريدونه پيل کړل. مجاهدينو د وزيرستان سره په پرتو سرحدي سيمو، لکه برمل، لواړه ، منې کنډو ، منګړيتۍ او نورو ساحاتوکې له امريکايي عسکرو سره سختې جګړې وکړې ، چې هرځل يې ورته خورا درانه تلفات اړول. دبرمل دمربوطاتو په شمول په دې سرحدي سيمو کې دحقاني صاحب دجبهاتو مختلفو مجاهدينو برخه درلوده، لکه شهيد مولوي کلام نافذ،شهيد مولوي سنګين، مولوي عبدالله حسيني، شهيد مولوي احمدجان ، شهيد عبدالمنان احمد اونور ډيرمجاهدين. په دې سيمو کې دامريکايانو په ګزمو او بيسونو بريدونه که له يوې خوا يې امريکايانو ته تلفات اړول له بلې خوا ايې په سخته مرحله کې





دجهاد دتربيو تنده خړوبوله او روحيه يې ورکوله. هغه مجاهد چې وروسته يې په دې سيمه کې ډيره موده جهادي خدمت وکړ او د شهادت تر وخته د پکتيکا ولايت د جهادي مسؤل په حيث يې دنده اجراء کولو مولوي سنګين فاتح و چې غواړو په مختصره توګه يې درته سوانح تقديم کړو.

## پيژندنه

شهيد مولوي سنګين فاتح د حاجي مرسلين زوی په قوم ځدران، د پکتيکا ولايت زيړوک ولسوالۍ د تنګي د کلي اوسيدونکی و چې په ۱۹۷۴ کال کې ی دې فاني دنيا ته سترګې وغړولې نوموړی په خپلو پنځو وروڼو کې تر ټولو مشر و .

## لومړنی ژوند او تعليم

ملا سنګين لومړنۍ زدکړې د شمالي وزيرستان همزوڼي کلي کې د مولوي حبيب الرحمن صاحب نه پيل کړې، د لوړو ديني زدکړو لپاره په شمالي وزيرستان کې د ستر مجاهد مولوی جلال الدين حقاني صاحب مدرسې منبع العلوم ته لاړ. نوموړی په دې وخت کې زلمی و، د جهاد او وطن سره يې ډيره مينه درلودله، د طالبانو د اسلامي امارت د واکمنۍ پر مهال به يې د درسونو د رخصتيو نه په استفاده د شراو فساد د عناصرو په ضد جهاد کې برخه اخيسته.

وړه او لويه دوره يې په مدرسه (جامعة العلوم السلاميه زرګرۍ) کې له شيخ الحديث مولوي عبدالستار جان V او شيخ مولوي سيف الله صاحب څخه ولوسته او په ۲۰۰۵ کې يې د فراغت پګړۍ وتړله.

## د صليبيانو په ضد جهاد

کله چې صليبي وحشي ځواکونو په ګران وطن افغانستان يرغل وکړ، د خلکو په ذهنونو کې د دوی د ټيکنالوژي، قوت او زندان رعب و؛ په هغه وخت کې شهيد مولوي سنګين فاتح د اسلامي امارت له طرفه د مولوي جلال الدين حقاني صاحب په جبهاتو کې په پکتيکا کې د يوه نظامي مسؤل په حيث وټاکل شو.

مولوي صيب د لومړنيو مجاهدينو څخه و چا چې په کمزورو وسايلو په خوست او پکتيکا ولايتونو کې د يرغلګرو په اکمالاتي کاروانونو او د دوی په پوځي مراکزو ځپونکي بريدونه پيل کړل .

## د دښمن په ضد کامياب عمليات

شهيد مولوي سنګين چې اوږده موده د پکتيکا ولايت جهادي مسؤل يا والي پاته شو په دې موده کې يي په دښمن بيا بيا کاري ګوزارونه ترسره کړل. د مولوی سنګين صاحب تر قوماندې لاندې په ۲۰۰٦ کال کې مجاهدينو د پکتيکا نکې په ولسوالۍ تعرض وکړ او په مکمله توګه يې فتحه کړه .

امريکايانو او اجيرانو يې څو وار کوشش وکړ چې په ولسوالۍ بريد وکړي او بيرته يې ونيسي خو د مولوي صاحب د ملګرو له طرفه د سخت غبرګون سره مخامخ شول او ماته به يې وخوړله، د نکې ولسوالۍ تر اوسه پورې د اسلامي امارت د مجاهدينو تر ولکې لاندې ده .

د مولوي سنګين تر قوماندې لاندې مجاهدينو د پکتيکا ولايت د ګيان ولسوالۍ ودانۍ او ورسره نږدې د امريکايانو او ځانګړو ځواکونو په ګډ کمپاين باندې تعرض وکړ او د سخت جنګ نه وروسته يې دواړه مرکزونه فتحه کړل چې د ګيان ولسوالۍ تر اوسه د مجاهدينو په لاس کې ده .

د ګيان ولسوالۍ پورې مربوط د لواړه په سيمه کې د امريکايانو په کمپاين يې مسلسل بريدونه وکړل په اکمالاتی کاروانونو يې دوامداره کمينونه ووهل چې بالاخره امريکايان مجبور شول د لواړه کمپاين پرېږدي .

د پکتيکا ولايت د چارباران په ولسوالۍ د مولوي سنګين تر قوماندې لاندې مجاهدينو تعرض وکړ او ولسوالۍ يې مکمله فتحه کړه چې لله الحمد تر نن ورځې پورې د اسلامي امارت سپين بيرغ ورباندې رپاند دی .





د منظم پلان له مخې د پکتيکا زيړوک ولسوالۍ په ودانۍ باندې اول د موټر بم برید او وروسته پراخ تعرض هم د مولوي صاحب له طرفه ترتيب شوی وو چې په نتيجه کې يې بې شمېره امريکايانو ژوند د لاسه ورکړ .

د شهيد مولوي سنګين تر مشرۍ لاندې مجاهدينو نور بې شمېره ځپونکي او بريالي عمليات د دښمن په وړاندې ترسره کړي دي چې په دې لنډه ليکنه کې د ټولو تفصيل راوړل شايد ځای نه شي.

## په جهادي مزل کې زخمي کيدل

مولوی صيب په جهادي مزل کې دوه واره ټپي هم شو ،يو وار د پکتيکا ولايت اورګون ولسوالۍ مربوط ګربګي کنډو سيمه(اوس د شهيدانو په کنډو يادېږي) کې امريکايانو بمبار ورباندې وکړ د مولوی صيب ځلويښت ملګری شهيدان شول او مولوی صيب سخت زخمی شو،سانحه لويه وه خو دومره نه چې د مولوی صيب حوصله يې ماته کړي وی،مولوی صيب بيا روغ شو او د يرغلګرو انګريزانو په ضد جهاد ته يې دوام ورکړ،کله يې چې په قبايلي سيمه ميرانشاه بازار کې په شرخوښو او غلو باندې عمليات پيل کړل نو مولوی صيب د هر وار غوندې تر ټولو مخکې جنګيدو او په همدغو عملياتو کې په مرمۍ ولګيدو خو الله تعالی د خپل دين د خدمت لپاره ژوندی وساته

## په لومړي ځل د امريکايي عسکر بندي کيدل

شهيد مولوي سنګين (فاتح) هغه بريالی قومندان و چې د پکتيکا ولايت د مسؤليت په مهال دده تر امر لاندې د قاري اسمعيل صاحب د ډلګۍ مجاهدينو په ۲۰۰۹ ميلادي کال کې د پکتيکا په ولايت کې امريکايي افسر بوبرګډال له وسلې سره د امريکايي اډې له څو مترۍ څخه ژوندی اسير کړ . د بوبرګډال نيول کيدل او بيا د هغه په محفوظ شکل ساتل چې په پای کې ورباندې د اسلامي امارت او امريکا تر منځ تاريخي تبادله وشوه په پکتيکا کې د شهيد مولوي سنګين د مسؤليت د مهال يوه

تاريخي پيښه وه .مشهور ليکوال او د سياسي چارو شنونکی وحيد مژده په خپلې يوې مقالې کې د مجاهدينو په لاس د دغه امريکايي افسر د اسارت قصه داسې ليکي:

کله چې برګډال د ۲۰۰۹ ميلادي کال د جون په دېرشمه د پکتيکا د يوسف خېلو په ولسوالۍ کې له خپل مرکز نه وتلی و طالبانو ونيو. د نيول کېدو پر مهال ورسره يو ۱٦M ټوپک و ( خو که يې له دغه ټوپک څخه کار اخيستی وای، حتماً به وژل شوی و )

د بريګډال د نيولو او موندلو لپاره، امريکايانو په پکتيا، پکتيکا او د غزني په اندړو او نورو ډيرو ولسوالیو کې پراخ عمليات ترسره کړل، همدا رنګه د ده د ساتنې د ځای په اړه يې د معلوماتو پيدا کولو له پاره د جائزې وعده هم وکړه، خو طالبانو دی د امريکايانو له لاس رسي څخه لرې ځای کې ساتلی و.

د طالبانو په روايت مولوي سنګين ځدران چې هغه وخت د پکتيکا نظامي مسؤل و- برګډال يې د يوه بوډا کور ته بوتە او هغه ته يې وويل :"کاکا ! پام پرې لره چې دا سړی درنه ونه تښتي. زه ډېری وخت بوخت يم نو تا ته يې درسپارم"

بوډا له ځان سره فکر وکړ چې دا سړی خو د تښتې لار نه لري. که له کوره ووځي، نو چېرته به لاړ شي؟ نو نه يې لاس ته زولنې ور اچولې او نه يې پښې ورټرلې، خو برګډال وېرېده. هغه په دې اندېښنه کې و چې طالبان به يې ژر تعذيب کړي، يا به يې سر پرې کړي او ويډيو به يې خپره کړي، په داسې حال کې چې طالبان د دغه اسير په ارزښت پوه ول او هېڅکله يې داسې اراده نه لرله. برګډال د تښتې لار لټوله، د همدې لپاره به چې کله بوډا ورته ډوډۍ راوړه، ده به لږه لږه پټه ساتله. تر دې چې يوه ورځ بوډا اودس ته د باندې ووت، برګډال هم له کوره نه راووت او ورک شو. برګډال چې خپل نظامي کالي بدل کړي و او ځايي کالي يې په تن و، پرته له دې چې څوک پرې پوه شي يا ورته ځير شي، ډېر ژر د کلي له بازاره ووت او د کلي نه لرې ځنګل او غره ته يې ځان ورساوه. بوډا چې کله د اسير له تښتې خبر شو، طالبان يې خبر کړل. طالبان درې ورځې ورپسې ګرځېدل، بالآخره کلي ته څېرمه سيمه کې يې يو وار بيا ونيو .





اوس بريګډال پوی شوی و چې د تښتې لار نه شته، نو بايد نوی حالت رامنځ ته کړي. همدغه امريکايي عسکر برګډال و چې وروسته يې په بدل کې د اسلامي امارت پنځه تنه مشران ملا خيرالله خيرخوا، ملا نور الله نوري، ملا عبدالحق، ملا محمد فاضل او مولوي محمد نبي عمري امريکايانو د ګوانتامو نه راخلاص کړل چې د اسلامي امارت لپاره يوه ستره بريا وه.

## د مولوي سنګين د شخصيت په اړه

تقوی، ديانت او په نبوي سنتو تمسک د مولوي سنګين فاتح طبيعي خاصه او له تظاهر او رياکاري څخه يې کرکه کېدله، د خپلو ملګرو تر څنګ د دښمن عسکرو هم مولوي صاحب ته لوړ احترام درلود. نوموړي د نظامي پوهې او مسلکي توب تر څنګ د ولسي قضاياوو او د هغوی د منازعاتو په حل او فصل کې خاص مهارت درلود .

مولوي سنګين (فاتح) سره له دې چې د جګړې په مورچل کې يو باتور قومندان و خو له ولسي خلکو او خپلو ملګرو سره يې د يوه صميمي دوست او خواخوږي ورور په حيث چلند درلود.

شهيد مولوي سنګين د مجاهدينو په پوځي او اخلاقي تربيه کې ډېر کوښښ کاوه او د نظامي عملياتو د تر سره کولو په مهال به يې د ولسي- خلکو د سر او مال خاصه پاملرنه کوله .

## شهادت:

امريکايان د مولوي سنګين فاتح د کاميابو عملياتو نه ډېر تنګ شوي وو همدا علت وو چې په ۲۰۱۱ ميلاديکال کې يې مولوي صاحب په تور ليست کې شامل کړ، دغه د خدای د لارې سرښندونکی مجاهد د ۲۰۱۳ميلادي کال د سيپتمبر د مياشتې په شپږمه نېټه د جمعې د مبارکې ورځې په سهار په شمالي وزيرستان کې امريکايي بې پيلوټه الوتکې د يوه ملګري په حجره کې په نښه کړ او په دې توګه د صليبيانو قاتل، د

مجاهدينو او عوامو محبوب مشر،مولوي سنګين فاتح په شهادت ورسيد او د تل لپاره د ابدي ژوند په لور رخصت شو.

انالله وانا اليه راجعون

مولوي صيب د خپل پلار اولنی او آخرنی شهيد زوی نه و بلکې د مولوی صاحب نه مخکې د مولوي صاحب ورور عبدالوارث 'حيدري' د پکتيکا ولايت په زيړوک ولسوالۍ کې د امريکايانو سره په مخامخ جنګ کې شهيد شوی و او د مولوي صيب د شهادت نه وروسته يې بل ورور محمد فاروق په جنوبي وزيرستان کې د پاکستاني پوځيانو په لاس په شهادت ورسيد. تقبلهم الله

روح دې شاد او ياد دې يي تل ژوندی وي

❊ ❊ ❊





## د شهيد ډاکتر نصيرالدين حقاني ژوند ته کتنه

ليکنه: قاري سعيد

**شهادت**

ژوند يو الهي امانت دی. دانسان خلقت هسې بې هوده او بې هدفه نه دی او نه ورته دژوند نعمت، عقل، حواس او دبدن اعضاء هسې بې هدفه عطاء شوي دي. بلکې دا ټول څه دالله تعالی له لوري امانات دي، ترڅو يې مکلف بنده يوازې په هغه څه کې مصرف کړي، چې الله تعالی يې ورته لارښوونه کړې ده .

انساني نفس ډيرلوړ قدر او منزلت لري ، چې بايد هسې مفت اود ټيټو اهدافو لپاره ضايع نه شي. دانسان ژوند له الهي رضاء پرته له بل هرڅه باارزښته ده، همدا وجه ده چې له الهي رضا پرته دبل هدف لپاره عمر تيرول يا ژوند له لاسه ورکول ، دالهي نعمت ناشکري بلل کيږي .

څرنګه چې دامانت رعايت او دنعمت شکرګذاري له لوړوحسنه صفاتو څخه ګڼل کيږي، همدا وجه ده چې دالله تعالی په لاره کې عمر تيرول او په پوره امانتداری سره همدا لوی الهي نعمت ( ژوند) خپل انعام کوونکي ( الله تعالی ) ته سپارل په ديني لحاظ له خورا محبوبو اعمالو څخه ګڼل کيږي .

دالله تعالی په لاره کې ژوند قربانولو ته شهادت وايي، هغه څه چې الله تعالی يې مرګ نه بولي، بلکې يوداسې عاليشانه ژوند يې بولي چې دانسانانو کمزوري عقول يې نه شي درک کولای .دا هماغه ژوند دی ، چې خيرولدآدم محمد مصطفی صلی الله عليه وآله وسلم يې بيا بيا تمنا کړې ده ( لوددت أن أغزو في سبيل الله ثم أقتل ثم أغزو ثم أقتل . . . الی اخره ) دا هماغه ژوند دی چې دالله تعالی ترټولو محبوب بندګان لکه

پيغمبران عليهم السلام، صحابه کرام، تابعين، صديقين، اولياء، مجتهدين، مجاهدين او علماء يې د برخمن کيدو ويار لري .

که دشهادت په فلسفه يا اخروي او دنيوي حيثيت باندې خبره کوو شايد دامبحث مو ډير اوږد شي . راځئ دهمدې ستر ويار ديوه ويارمن، دهمدې ستر نعمت ديوه برخمن او دهمدې سعادتمند سفر ديوه مسافر په ژوند او کارنامو سره وغږيږو .

دلته به هغه شهيد سره وپيژنو چې نه يوازې خپله دشهادت په لوړه درجه فائز شوی بلکې دکورنۍ لسګونه غړي يې په تيرو څو کلونو کې دشهادت له سعادته برخمن شوي دي. دشرقي او غربي فرعونيت دځغلوونکي مولوي جلال الدين حقاني دسترګو تور ډاکټر نصير الدين حقاني دريادوو چې څه موده وړاندې يې دشهادت جام غړپ کړ .

## شهيد ډاکټر نصيرالدين حقاني

ډاکټر نصيرالدين حقاني دستر مجاهد مولوي جلال الدين حقاني مشر- زوی و چې په ۱۳۵٦ هـ ش کال کې دپکتيا ولايت د وزي ځدرانو ولسوالۍ دکنډو په کلي کې دنيا ته راغی. نوموړي دپښتنو دځدرانو قوم دميزايي قبيلې له سلطان خيلو قوم سره تعلق درلود. نصير الدين حقاني دخپل پلار مشر زوی و، چې په يوه ديندار او علم دوسته کورنۍ کې يې نړۍ ته سترګې غړولې وې .

نصيرالدين حقاني ديوه کال په عمر و چې په افغانستان کې کمونيستانو کودتا وکړه او د قدرت په واګو يې قبضه ټينګه کړه. په دې مهال دنوموړي پلار مولوي جلال الدين حقاني چې له وړاندې يې دکمونيستي افکارو په خلاف مبارزه پيل کړې وه خپل جهادي خوځښت يې علني کړ او دپکتيا او پکتيکا په لړي پرتو سيمو کې يې دکمونيستي رژيم په خلاف نظامي عمليات پيل کړل .





دکمونيستي ستم او شوروي يرغل څخه دنجات په خاطر دافغان اولس د سرتاسري هجرت په مهال دحقاني صاحب کورنۍ هم له ډيورنډ پولې دپاکستان خواته واوښته او د شمالي وزيرستان په ميرانشا کې يې هستوګنه پيل کړه. نصيرالدين حقاني خپلې دېني لومړنۍ او ثانوي زده کړې په جامعه دارالعلوم منبع الجهاد کې ترسره کړې او دحديثو دوره يې هم همدلته ولوستله. عصري زده کړې يې تر دولسم ټولګي پورې په انجمن القرآن عالي ليسه کې ترسره کړې او بيا دکانکور له ازموينې وروسته په بريمنه توګه طب پوهنځۍ ته لاړ، خو دامريکايي يرغل له امله دطب په برخه کې زده کړې ترې نيمګړې پاته شوې .

نصيرالدين حقاني د ډير کم عمر و چې له خپل مجاهد پلار سره دکمونيستانو په خلاف دجهاد سنګرونوته تلو. نوموړی په جهادي چاپيريال کې رالوی شو، دخپل مجاهد پلار دلارښوونو او تربيې په سيوري کې يې وده وکړه . او همدا لامل و چې دژوند ترپايه دنه ماتيدونکي او سرلوړي مجاهد په موقف کې پاته شو.

ډاکټر نصيرالدين حقاني چې ديني او عصري علوم يې په موازي توګه تعقيب کړي او ترلاسه کړي وو، الله تعالی ورته ستر علمي استعداد ورکړی و، نوموړی له مورنۍ ژبې پښتو پرته په څلورو نورو ژبو (عربي ، فارسي ، اردو او انګليسي- ) باندې روان غږېده .

دامريکا په خلاف دافغان اولس دجهاد له پيل سره ډاکټر نصيرالدين حقاني ديوه فعال ، اغيزمن او متحرک جهادي مشر په صفت دامريکايي يرغلګرو په خلاف جهاد ته ادامه ورکړه. نوموړی چې په دې ټوله موده کې يې داسلامي امارت په رهبري شوراکې دمشرحقاني صاحب په نيابت غړيتوب درلود، دجهادي تشکيلاتو په بيلابيلو نظامي او ملکي برخو کې يې خپل خدمت ته ادامه ورکوله ، ترڅو په ۱۱/۱۱/۲۰۱۳ ميلادي نيټه د پاکستان په پلازمينه اسلام اباد کې د ډارن دښمن په يوه تروريستي برید کې دشهادت لوړ مقام ته ورسيد .

انا لله وانا اليه راجعون

## د ډاکټر نصير الدين په شهادت غبرګونونه

د ډاکټر نصيرالدين حقاني له شهادت وروسته دنوموړي دشهادت په اړه بيلابيل غبرګونونه څرګند شول. کـه لـه يـوې خـوا د خواخـوږۍ پيغـامونو دنومـوړي سره د مسلمانانو دمينې څرګندونه کوله، له بلې خوا ددښمن لخوا شـويو اظهـاراتو او تبصرـو څرګنده کړه، چې نوموړی ترکومه ددښمن دسترګو اغزی او دنړيوال کفـر پـه وړانـدې اغيزمن مجاهد و .

د ډاکټر نصير الدين حقاني دشهادت په اړه لـومړنی پيغـام داسـلامي امـارت د رهبري شورا و، درهبري شـورا پـه تسـليتي پيغـام کـې لولـو (پـه ډيـره خواشـينۍ سره خبرشولوچې داسلامي امارت درهبري شـوری غـړي وتـلي جهـادي اوعلمـي شخصـيت محترم مولوي جلال الدين حقاني صاحب حفظه الله مشرزوی )ډاکټرنصيرالدين حقاني تقبله الله)د دښمن په يوناځوانمردانه تروريسـتي بريـدکې پـه شـهادت ورسـيد. انـالله وانااليه راجعون

اسلامي امارت د ډاکټرنصيرالدين حقـاني V دشـهادت لـه املـه د نومـوړي والد(داسلامي امارت درهبري شوری غړي جهادي او علمي شخصـيت محـترم مولـوي جلال الدين حقاني حفظه الله ) ، وروښو، د نوموړي درنـې کـورنۍ او د اسـلامي امـارت ټولو مجاهدينوته د تعزيت او تسـليت مراتـب وړانـدې کـوي. څرنګـه چـې نومـوړي د جهاد په لاره کې خپل روح خپل خـالق او مالـک B تـه سـپارلی ، د الله تعـالی لـه دربار څخه ور ته د فردوس جنت غوښتنه کوي، دغه راز يـې قريبانوتـه هـم لـه الهـي دربار څخه جميل صبر او عظيم اجر غواړي.

د جهـاد پـه لاره کـې د نومـوړي هلـې ځلـې دزيـات قـدر وړ وي، شـهيد ډاکټـر نصيرالدين حقاني V دخپل ژوند تړپايه د اشغال په وړاندې د مبارزې پـه ميـدان کې پاتې شو، چې دښمن د ده ميړانه او د جهاد په لاره کـې فعاليـت نشـوای برداشـت کولای ، واقعا د نوموړي شهادت د اسلامي امارت او ټول افغانستان لپاره لويـه ضـايعه ده)





د ډاکټر نصير الدين حقاني له شهادت وروسته دښمن هم دې مسـئلې تـه پـراخ مطبوعاتي انعکـاس ورکـړ او دايـي سـتره بريـا وبللـه. دازادې اروپـا پـه نـوم دامريکـا ځانګړې يرغلګرې راډيو چـې پـه پښـتو ژبـه دازادی راډيـو پـه نامـه فعاليـت کـوي او دامريکا دحکومت رسمي نظر خپروي، وويل چې نصيرالدين حقـاني دحقـاني صـاحب دجهادي تشکيلاتو ستون فقرات (دملاتير) او مبتکـر مغـز و، چـې بيلابيلـې نظـامي او مالي چارې يې سمبالولې . دښمن دنومـوړي شـهادت لويـه لاسـته راوړنـه وبللـه ، خـو مجاهدينو په غبرګون کې وويل چې دنوموړي ځای تش نه دی بلکې لاره بـه يـې وپالـل شي.

په دې اړوند دشهيد ډاکټر صاحب پـلار نوميـالي مجاهـد مولـوي جـلال الـدين حقاني دمطبوعاتو له لارې يو داسې پيغام نشر کړ، چې ټـول دردمـن زړونـه يـې ټکـور کړل، دا اعلاميه چې له جملو او کلماتو يـې دايـمان او توکـل علـی الله بځـري اوري پـه لاندې توګه ده .

### دمشر زوی په شهادت دمولوي جلال الدين حقاني ځانګړی پيغام

مِنَ الْمُؤْمِنِينَ رِجَالٌ صَدَقُوا مَا عَاهَدُوا اللهَ عَلَيْهِ فَمِنْهُم مَن قَضَى نَحْبَهُ وَمِنْهُم مَّن يَنْتَظِرُ وَمَا بَدَّلُوا تَبْدِيلا – الاحزاب ۲۳-

د افغانسـتان مـؤمن او مجاهـد ولسـه او لـه صـليبي يرغلګـروسره جنګيـدونکو مجاهدينو!

السلام عليکم ورحمت الله وبرکاته!

تر هرڅه له مخه عاليقدر امير المؤمنين حفظـه الله ، سرښـندونکو مجاهـدينو او خپل ځان ته د جهاد او سرښندنې دلارې ديوه سرښندونکي مجاهد ، شهيد نصيرالدين (حقاني) د شهادت تبريکي وايم ، الله تعالی دې نوموړی په خپل دربـارکې د شـهيدانو، صديقينو او صالحينو په جمله کې قبول کړي.

ورونو !د الله تعالی په لارکې شهادت هغه لوړ افتخار دی چې رسول اکرم H له خپل ټول افضلیت او لوړمقام سره سره د هغه غوښتنه کړې او په مبارکو احادیثوکې دشهید ستر مقام ستایلی.

شهادت یو ځانګړی ویاړ او سعادت دی چې یواځې د الله تعالی مخلص بنده ګان وربانديې ویاړل کیږي ، شهادت فضیلت دی چې د جهاد د لارې د غوره مجاهدینوپه نصیب کیږي او بالاخره شهادت په معنوي لحاظ د مجاهد موفقیت دی چې د هغه په وسیله د څښتن تعالی د رضا مورد ګرځي او په بدل کې یې د جنت الفردوس په تلپاتي نعمتونو نازول کیږي.

مسلمان مجاهد ولسه ! نن چې زمونږ غیرتي مجاهدین له خپل هیواد څخه د دفاع په سنګروکې له یرغلګرو سره په مقابله لګیادي الله تعالی د هغوئ د شهادتونو او قربانیو له وجې په دغې تاریخې مقابلې کې ډیر ستر فتوحات ورپه برخه کړي، داسې فتوحات چې مغرور دښمن یې له خپل ټول پوځي او تخنیکي ځواک سره سره سخت وارخطاکړی ، د تیښتې لاره یې ترې ورکه کړې او نړیوال وجاهت یې تر پښو ورلاندې کړی.

ورونو! دجهاد لاره د قربانیو او سرښندنو لاره ده ، د جهادي قربانیو دغه لړۍ د احد په تاریخې غزاکې د حضرت حمزه I له شهادته پیل او د څوارلسوسووکلونو په تیریدو سره لا همداسې جاري ده ، شهید ډاکټر نصیر هم داسلامي نظام دحاکمیت اودخپل ګران هیواد دازادۍ په مبارزه کې د دغې ویاړمنې لارې یو لاروی و چې بالآخره خپل آرمان ته پکې ورسید، الله تعالی دي یې شهادت قبول کړي . شهید ډاکټر نصیر زمونږ د کورنۍ نه لومړنی شهید اونه به اخرنی شهید وي. بلکې د حقاني ټوله کورنۍ د جهاد او شهادت کورنۍ ده، د الله تعالی د نظام د تحکیم او د هیواد له حریم نه د دفاع په لاره کې یې شهادت ترټولو ستر آرمان دی، ماته خپله د هیواد د هرشهید په شهادت کیدو دا غبطه راځي چې کاشکي دغه د شهادت تاریخي ویاړ زما په برخه شوی وای ، ما د خپل فاني عمر ډیره برخه په دې آرمان کې تیره کړې





چې کله به مي دشهادت افتخار په برخه کیږي ، الحمد لله مونږ اوتاسو مسلمانان یو ، او مسلمانان د خدای په لارکې شهادت دومره خوښوي لکه کافران چې د دنیایي ژوند خوندونه او نعمتونه خوښوي.

مسلمانو افغانانو او ګرانو مجاهدینو ! زمونږ غیرتي ولس له تیرو دری نیمو لسیزو راهیسي په خپل هیواد کې د اسلامي نظام دتحکیم په غرض قرباني ورکوي، د هغوئ سرښندنې او د جهاد په لاره کې تویې شوې مبارکې وینې ډیرې قیمتي دي ، مونږ تاسو ټول باید د هغوئ د وینو درناوی وکړو او د هغوئ د وینو او شهادتونو درناوی په دې سره کیږي چې مونږ د الله تعالی د نظام د تنفیذ او اسلامي سپیڅلیو احکامو پیروي وکړو ، جهادي صف مو متحد وساتو ، دخپلو مشرانو اطاعت وکړو او دخپل ځوریدلي ولس د آرامۍ او سوکالۍ لپاره کار وکړو.

ورونو !له کافرانو سره دمقابلې په صف کې زمونږ د مجاهدینو شهادت زمونږ دکامیابي لامل دی نه زمونږ دناکامي لامل. زمونږ د ناکامي لامل به زمونږ انحراف او د شهیدانو له مبارکو وینو سره خیانت او تفرق وي چې الله تعالی دی مونږ او په مجموع کې ټول اسلامي امت له دغه مهلک خطر څخه وژغوري.

والسلام

مولوي جلال الدین حقاني

۱۰/۱/۱۴۳۵هـ ق

۲۲/۸/۱۳۹۲هـ ش ــ ۱۳/۱۱/۲۰۱۳م

## د شهید ډاکټر نصیر الدین دشخصیت په اړه

لکه عرب چې وایي (الولد سر أبیه ) نصیرالدین حقاني هم دظاهري جوړښت ، شخصیت ، فکر او کردار له اړخه دخپل مجاهد پلارمولوي جلال الدین حقاني صاحب ژوندی مثال وو، نوموړي ته الله تعالی خورا ښایسته ، جذابه او له شوکته ډکه قیافه

ورکړي وه ، د سيرت له اړخه خورا متواضع او خاکسار سړی و، چې هر چا يې په لومړني مجلس کې د تواضع صفت درک کولای شوای .

داسلامي امارت درهبري شورا يو تن غړي چې له شهيد ډاکټر صاحب سره نږدې وسيدلی دی ، دنوموړي دشخصيت په اړه راته وويل ( ډاکټر صاحب په مجالسو کې همیشه په ډيره حوصله او پاخه استدلال سره خپله خبره وړاندې کوله ، چې څوک به دعمر له لحاظه پرې مشر- و ډير ادب يې ورسره کاوو ، ډير مؤدب او محترم و ، دسيرت په ښکلاوو سربيره الله تعالی ښايسته صورت او ځواني هم وربښلې وه ، ژبه به يې همیشه دالله تعالی په ذکر لمده وه. له بې وزلو سره مرسته او سخاوت يې همیشنی عادت و له فرضي عباداتو نه علاوه يې همیشه نفلي عبادات هم کول، سره له دې چې خوشطبعي يې عادت وه، خو په مهمو مسئلو کې يې ښه جديت درلود او له مسائلو سره يې سطحي چلند نه کاوو .

## حقاني کورنۍ يوه دغبطې وړ مجاهده او شهادت پاله کورنۍ

ډاکټر نصير الدين حقاني دحقاني کورنۍ لومړی شخص نه دی، چې دنړيوال کفر دبريد هدف ګرځي او دشهادت لوړ مقام ته رسيږي. که څه هم دنوموړي شهادت دجهادي صف لپاره لويه ضايعه ده، خو ددوی دکورنۍ لپاره شايد دشهادت داپيښه کومه فوق العاده او غيرمترقبه پيښه ونه اوسي. ځکه دحقاني صاحب کورنۍ چې تراوسه کوم کردار ثابت کړی دی، نو دافغانستان او اسلامي نړۍ په سطحه د غازيانو او شهيدانو يو منحصر به فرد خاندان ورته ويلی شو، چې يوازې يې دامريکايي اشغال په تيرو ۱۲ کلونو کې دنارينه ، ښځينه ، ماشومو او مشرانو شهيدانو تعداد ۵۸ تنو ته رسيږي .

دشاعر خبره:

چې په برج يې بله خښته نه ځايږي
شهادت مو تر اسمانه پورې دنګ دی





دا يوازې امريکايي طاغوت نه دی چې مقابلې ته يې دې کورنۍ دشهيدانو لښکر وړاندې کړی، بلکې ترد ې پخوا د شوروي فرعونيت په وړاندې هم دجهاد په مهال دې کورنۍ ګڼ شمير شهيدان ورکړي دي .

دا کورنۍ له دې اړخه هم فوق العاده او دغبطې وړ مجاهده کورنۍ بلل کيدای شي، چې يوازې له يوه کوره دپنځو تنو نومونه يې د کفري ښکيلاک په تور ليست کې شتون لري .

مولوي جلال الدين حقاني چې د۲۰۰۱ لومړي کال د جنورۍ په ۳۱ مه يې اسلامي نظام ته دوفادارۍ او کفر ته دسر نه ټيټولو په جرم يې نوم دکفارو په تور ليست کې وليکل شو. سراج الدين حقاني چې د ۲۰۰۷ م کال دسبتمبر په ۱۳ يې نوم تور ليست ته داخل شو. ډاکټر نصير الدين حقاني چې د ۲۰۱۰ م کال د جون په ۲۰ يې نوم تور ليست ته داخل شو. دحقاني صاحب ورور حاجي خليل حقاني چې د ۲۰۱۱ م دفبروری په ۹ مه يې نوم تورليست ته داخل شو. شهيد بدرالدين حقاني چې د ۲۰۱۱ م کال دمی په ۱۱ مه يې نوم په تور ليست کې وليکل شو.

امريکايي زبرځواک نن سبا دبشرې نړۍ يوازينی زبرځواک بلل کيږي، چې دخپلې يکه تازۍ په اوج کې هيڅوک ددښمن په صفت نه شي زغملی او پرلپسې هڅه کوي چې دنړۍ په وچو او بحرونو باندې خپله ولکه ټينګه کړي. امريکايي زبرځواک دخپلې استدراجي ټيکنالوجۍ، نړيوال ملاتړ، تاثيرګذاري او اقتصادي قوت په مټ داسې مرحلې ته رسيدلی چې حتی پخواني نړيوال سيالان او اتومي ابرقدرتونه هم ورته دتسليم سرونه ټيټوي او برلاسي يې په رسميت پيژني، مګر داچې دهمدې زبرځواک په مقابل کې دافغان اولس دنورو مجاهدينو او پرګنو غوندې حقاني کورنۍ پرلپسې مقاومت ته دوام ورکوي ، ددښمن هيڅ پوځی فشار، تبليغات، رواني جنګ او بريدونه يې عزم نه شي متزلزل کولای، له دې څخه ښکاري چې دمشر- حقاني صاحب دپاک جهاد او مخلصانه موقف له برکته الله تعالی دوی ته خورا ستر استعداد، قوي ايمان او عزم ورنصيب کړی دی. ځکه تردې حده قرباني ورکول او استقامت دانساني قاصر

طاقت دتوان خبره نه شي بلل کيدای، ترڅوچې فوق العاده الهي نصرت او انعام ورسره مل نه وي .

**وروستۍ خبره**

په پای کې ديادونې وړ بولو چې د ډاکټر نصير الدين په شهادت سره دښمن بايد دافکر ونه کړي، چې کومه لويه بريا يې ترلاسه کړې ده او جهادي صف يې له تلپاتې زيان سره مخامخ کړ، دښمن بايد په ياد ولري، چې شهادت زموږ دلارې هغه منزل دی چې هر مجاهد يې تمنا لري. دشهيد وينه داسلام ډيوې ته د تيلو حيثيت لري. د شهيد زخم دمبارزې په تورو ترږميو کې درنا او ځليدونکي مشال رول لوبوي . په شهادت سره مجاهدين کميږي نه بلکې نور هم زياتيږي ځکه دالله تعالی په لاره کې دسر يا مال انفاق څو برابره زياته نتيجه لري .

نو انساني نفس او ځان خو تر مال ډير ارزښتمن دی، که څوک دالله تعالی په لاره کې نفس صدقه کړي موږ په دې ايمان لرو چې دده دوينو په برکت به دجهاد ميدان ته په سلګونو ځوانان حاضريږي او دده لاره به تعقيبوي. ځکه دالله تعالی عادت په همدې جاري دی، چې په انفاق في سبيل الله باندې څو چنده زياته نتيجه مرتبوي او که څوک په دې لاره کې يوه دانه ترخاوره لاندې کړي هغه به اوه سوه دانې رازرغونوي.

نو بناء موږ ايمان لرو چې د ډاکټر نصير الدين حقاني په شهادت سره به دجهاد صف کمزوری نه شي او نه به حقاني کورنۍ بې څوکه شي، بلکې الله تعالی به د نوموړي نعم البدل پيدا کوي، ترڅوپه ښه شان دنوموړي جهادي لاره وپالي .

(رحمه الله تعالی)

* * *





## د شهيد مولوي محمد جان صاحب ژوند او کارنامو ته کتنه

ليکنه : قاري سعيد

**پيدايښت او د ژوند ابتدائي حالات**

مولوي محمد جان ( مخلص ) چې په مولوي احمدجان يې هم شهرت درلود د حاجي عبدالرؤف زوی په ۱۳۹۲ هـ ق کال چې ۱۳۴۹ هجري شمسي سره سمون خوري ، په خپل اصلي ټاټوبي د غزني ولايت دقره باغ ولسوالۍ دبرلې په کلي کې په يوه ديندار او جهادپاله کورنۍ کې دنيا ته سترګې وغړولې.

نوموړی چې په يوه دين پالونکي خاندان کې زيږيدلی و، له ډير کوچنيوالي دخپلې کورنۍ له خوا ديني زده کړو ته سوق کړای شو او دخپل کلي دمسجد له ملاامام څخه يې ابتدائي ديني تعليمات پيل کړل .

نوموړي چې په خپله سيمه کې يې ابتدايي زده کړې له خپل استاذ مولوي عبدالحی يزداني صاحب څخه ترسره کړې د پنځلس کلنۍ عمر ته په رسيدو دعلم دترلاسه کولو په تکل دپاکستان قبايلي سيمې ته په سفر لاړ او دجنوبي وزيرستان د وانې د کړيکوټ په سيمه کې په تعليم القرآن مدرسه کې يې ديني زده کړې پيل کړې . په دې مدرسه کې له څه مهال درس ويلو وروسته دجنوبي وزيرستان په اعظم ورسک سيمه کې د شهيد قاري آقا محمد غزنوي مدرسې دارالعلوم المجاهد ته لاړ . په ۱۳٦٦ هـ ش کال کې د ډيره اسماعيل خان مظهرالعلوم مدرسې ته لاړ چې له هغه وروسته يې دهنګو ضلعې په توره وړۍ سيمه کې تعليم القران مدرسه کې څه مهال درس ووايه، په همدې مدرسه کې له څه مهال درس ويلو وروسته په ۱۳٦۷ هـ ش کال کې په شمالي وزيرستان ميرانشا کې دستر جهادي قائد مولوی جلال الدين حقاني صاحب

مدرسې جامعه منبع العلوم ته داخل شو او له همدې ځایه یې جهادي ژوند هم پیل شو.

## د کمونیزم په خلاف جهاد

د کمونیزم په خلاف دجهاد په مهال مولوي محمدجان چې دغه وخت نوی ځوان و، په لوموړي ځل دخوست په ولایت کې په جهادي تعرضونو کې برخه واخیسته. نوموړی به دحقاني صاحب له مدرسې څخه له نورو مجاهدو طالبانو سره یوځای دخوست ولایت مختلفو جبهاتو ته تلو او په جهادي عملیاتو کې یې برخه اخیسته، چې له عملیاتو وروسته به د خوست ولایت مربوط د بړي په سیمه کې دحقاني صاحب په مشهور جهادي غونډ کې میشت و .

دحقاني صاحب په مشرۍ دخوست ولایت د فتحې ۱۷ ورځنۍ معرکه چې دکمونیزم ضد جهاد دمهال مهمه کارنامه بلل کیږي، مولوي محمدجان صاحب په دې معرکه کې ګډون درلود او کله چې خوست ښار فتحه شو او حقاني صاحب د پکتیا په مرکز ګردیز باندې تعرضونه پیل کړل، مولوي محمدجان صاحب د ګردیز ښار ته ځیرمه دمیلن په سیمه کې دحقاني صاحب په جهادي قرارګاه کې میشت شو. نوموړي دحقاني صاحب په جهادي تشکیلاتو کې ترهغه مهاله جهاد ته ادامه ورکړه ، ترڅو په بشپړه توګه دکمونیزم کمپله ټوله شوه اوکمونیستي رژیم وپرځېد.

## تنظیمي دوره او له بیت المال څخه دفاع

د مولوي محمدجان صاحب یو نږدې ملګری قاري ضعیف وایي چې دګردیز له نیولو وروسته مولوي محمدجان صاحب سره له خپلو ملګرو دګردیز ښار دبریښنا په ریاست کې میشت شو دا مهال دخپلسرو وسله والو او تنظیمي تالانګرو لخوا په عامه تاسیساتو چور ګډ و چې ټول دولتي تاسیسات او امکانات یې له مخې چور کول او ولجه کول. په دې مهال دبې جلبه ټوپکوالو او مسلحو غلو وضعیت داسې و چې په اسانۍ یې هیڅوا مخ نه شوای نیولی، خو مولوي محمدجان صاحب دخپل جرأت او





میړانې په برکت وتوانید چې دخپلې ورسپارل شوې او شاوخوا ودانیو امنیت وساتي او له چورچپاول څخه یې بچ کړي .

قاري ضعیف وایي: د پکتیا ولایت په مرکز ګردیز ښار کې زموږ دریاست له څنګ سره د ګردیز دفوائد عامې ریاست و چې ګڼ شمیر حکومتي موټر او وسایط په کې ولاړ وو، چې تردې مهاله دچپاولګرو لاس نه و ورته رسیدلی. یوه ورځ څه ګورو چې د بې جلبه وسلوالو له ډلې څخه یو تن دې ودانۍ ته راغلی دی او غوښتل یې چې دغه ودانۍ قبضه او وسایط یې لوټ کړي ، کله چې مولوي محمدجان صاحب دغه ټوپکمار لیدلی، نو ورغلی دی او له ترټلو وروسته یې له دې ځایه پسې اخیستی دی .

لږ شیبه وروسته په ګڼ شمیر کې ټوپکماران چې په غلا او لوټ کې یې شهرت درلود زموږ دریاست مخې ته راغلل او غوښتل یې چې له موږ سره خبره سپینه کړي .

قاري ضعیف وایي زه داسې مهال له بریښنا ریاست نه وروتلم ، چې مولوي محمد جان په داسې حال کې چې راکټ ته یې مرمۍ ورتېره کړې ده، له یوه ډله ټوپکمارو سره په جنجال اخته دی او ورته وایي چې که بیرته لاړ نه شي نو له خطر سره به مخامخ شي، ددغو کسان مشر ویل چې موږ ته نورو خلکو وویل چې په دې ریاست کې طالبان اوسي طالبان ډیر ښه خلک دي او ورشئ په نرمه خبره ورسره خلاصه کړئ، خو مولوي محمدجان خبره ورغبرګه کړه او ورته ویي ویل چې هرچا درته ویلي چې طالبان ښه خلک دي بد یې کړي دي، موږ دبیت المال دساتنې په مسئله کې ډیر بې لحاظه خلک یو او هیڅا ته اجازه نه شو ورکولای چې عامه شتمنۍ لوټ کړي.

دغه کسان چې له شکل او کردار څخه غله او لوټماران ښکاریدل ویل یې چې دملي محاذ له تنظیم سره تعلق لرو او غواړو د فواید عامې په ریاست کې پوسته جوړه کړو، مولوي محمدجان ورته وویل چې په کومه لار راغلي یئ بیرته په هماغه لار لاړ شئ او اجازه نشته چې د نورو سیمو غوندې دغه محفوظ پاته ځای هم لوټ کړئ. کله چې دې شوکمارانو دمولوي محمدجان صاحب جدیت ولید، نو بیرته لاړل او په دې توګه مولوي صاحب په خپل جرأت سره دبیت المال له سرمایي څخه دفاع وکړه .

له خپل جهادي مقتدا او مشر حقاني صاحب حفظه الله سره يې دائمي مصاحبت

شهيد مولوي صاحب محمد جان ته الله تعالى په نورو سعادتونو سر بيره د ډيروخت لپاره د خپل جهادي مشر مولوي جلال الدين حقاني حفظه الله د مصاحبت او ملګر تيا ويار هم ورپه برخه کړی و.

نوموړی د خوست او گر ديز له فتحو وروسته له حقاني صاحب سره يو ځای او د هغه په ټولو مجالسوکې يې د امين السر په حيث گډون درلود.

په کابل کې د تنظيمي جگړو په مهال نوموړی له حقاني صاحب سره په ټولو هغو هلو ځلو کې مل پاتې شوی کومې چې جناب حقاني صاحب د تنظيمي جگړه مارانو(رباني، سياف، حکمتيار او مزاري ) تر منځ دسولې او يووالې په خاطر کولې.

همدا راز په هغو مجالسوکې هم له حقاني صاحب سره يوځای پاتې شوی چې حقاني صاحب د ځينو بهرنيو (عربي) هيوادونو له مشرانوسره تر سره کړي .

دا چې مولويصاحب محمد جان، جناب حقاني صاحب ته د ډير با اعتماده شخص حيث درلود، نو حقاني صاحب هم غوښتل چې په تربيوي شکل مولويصاحب په خپلو ټولو مجالسو کې له ځانه سره ملګري کړي، تر څو هغه هم په راتلونکي کې د هيواد د قضاياوو په اړه د حقاني صاحب له مصاحبت او ملتيا څخه په تأثر سره د يوه تجربه لرونکي، معلوماتي او مجرب شخصيت په توګه وروزل شي.

هماغه وه چې الله تعالى مولوي صاحب محمد جان ته د حقاني صاحب د همدې نيکې او صالحې تر بيې له برکته دمسلمانانو په خپل منځي اصلاح او جهادي ليکوته دهغوی په رابللوکې کې داسې استعداد ورپه برخه کړی و چې دهيواد دجنوبي زون د قومونو اکثره لاينحله شخړې به د ده د مصلحانه هلو ځلو په برکت حل کيدې او هغوی متنازعو خلګوبه د ورونو په څير يو له بل سره د اخوت ژوند غوره کاوه

مولويصاحب محمد جان له حقاني صاحب سره د خپل مصاحبت او له يوه عربي هيأت سره دحقاني صاحب د ځانګړي ملاقات يوه واقعه دا سې بيان کړې :





د ۲۰۰۱ کال په لومړيوکې د متحده عرب امارتو يو لوړ پوړی هيأت له حقاني صاحب سره د ملاقات لپاره راغلی و .

د دغه وفد مشري هم د متحده عرب اماراتو دحاکمې کورنۍ يوه لوړ رتبه چارواکې کوله .

ياد وفد ته د امريکايانو لخوا دستور ورکړل شوی و چې د هغوی په غير مستقيم استازيتوب دي د امريکايانو ځينې مطالبې له حقاني صاحب سره شريکې کړي او له نوموړي څخه يي هيله لرله چې دغه مطالبې يې د امارت مشرتابه ته ورسوي .

د وفد غوښتنه دا وه چې د ځينو پخوانيو عرب مجاهدينو په اړه دې امارت په خپل موقف تجديد نظر وکړي .

حقاني صاحب د عربي وفد د خبرو په اوريدو نهايت متأثره او هغوی ته يې په ځواب کې وويل:

د د غې موضوع په اړه د اسلامي امارت موقف په يوه شرعي اصل بناء دی او هغه د پيغمبر H هغه مبارک حديث دی چې جليل القدر صحابي حضرت ابن عمر I داسې روايت کړی:

عن ابن عمر – L - أن رسول الله H قال: " المسلم أخو المسلم، لا يظلمه ولا يسلمه من كان في حاجة أخيه: كان الله في حاجته، ومن فرج عن مسلم كربة فرج الله عنه بها كربة من كرب يوم القيامة، ومن ستر مسلماً ستره الله يوم القيامة" متفق عليه [۳۷۹].

نو د دغه مبارک حديث د مفهوم په مقابل کې د يوه مسلمان هيواد د غړيو په توګه تاسو څه نظر لرئ چې مونږ د هغه په وړاندې څه ډول موقف غوره کړو؟

هماغه وه چې راغلی وفد د حقاني صاحب د ځواب په مقابل کې لا ځوابه او نوريې خپل مجلس ته خاتمه ورکړه .

شهيد مولوي محمد جان صاحب نورهم د حقاني صاحب په نورو ګڼو مجالسو او هغو غونډو کې ګډون درلود چې نوموړي به دهيواد داړونده قضاياوو په اړه له سياسي او جهادي شخصيتونو او چارواکوسره لرل ، نوموړی به په ډير غور او دقت د هرمجلس پايلې څارلې او له هغو څخه به يې نوي معلومات او نويې تجربي حاصلولې.

## د طالبانوپه تحريک کې شموليت او خدمت

د کمونيزم په خلاف دجهاد له انتهاء وروسته مولوي صاحب يوځل بيا خپلو ديني زده کړو ته اوږه ورکړه او هغه مهال چې دطالبانو اسلامي تحريک دکابل څنډو ته رسيده نوموړی دخيبر پښتونخوا دهنګو ضلعې د زرګري په مدرسه جامعه اسلاميه کې دنبوي احاديثو په دوره بوخت و. نوموړي په همدې کال دهمدې مدرسې له شيخ الحديث د حسين احمدمدني صاحب شاګرد ( مرحوم شيخ بهره مند صاحب ) څخه داحاديثو اجازه ترلاسه کړه او هيواد ته په ستنيدو يې داسلامي تحريک په صفوفو کې خدمت پيل کړ .

مولوي محمدجان له فراغت وروسته څه موده دخوست ولايت په متاچينه سيمه کې دمشهورې ديني مدرسې دنظامت دنده ترسر کړه او بيا دطالبانو داسلامي تحريک جهادي صفوفو ته لاړ چې په دې جهادي ژوند کې دکابل او دشمال دفتوحاتو غوندې په سترو فتحو کې يې شرکت وکړ. دبلخ ولايت له فتحې وروسته يې څه موده دبلخ ولسوالۍ د ولسوال په حيث دنده اجراء کړه او وروسته يې دلغمان ولايت دکفيل په حيث دندې ته ادامه ورکړه ، چې په لغمان کې د وظيفې په مهال به ډيره موده د دولت شاه په ولسوالۍ کې په جهادي دنده بوخت و ، چې په دې سيمه کې يې خورا تاريخي استقامت وکړ او ددښمن ګڼې حملې يې په شا وتمبولې .

دکابل دشمال په جنګي خطوطو کې مولوي محمدجان صاحب ډيره موده دحقاني صاحب دملګرو مجاهدينو سرپرستې هم کوله او ترهغه مهاله يې په جهادي عملياتو کې برخه واخيسته ترڅو دامريکا په مشرۍ غربي کفارو دافغانستان په پاکه خاوره يرغل وکړ .





## دا مريکا په خلاف جهاد

دامريکايانو له يرغل وروسته کله چې په پلازمينه کابل دطالبانو واکمني پای ته ورسيد مولوي محمدجان صاحب هم دنورو طالبانو غوندې خپلې اصلي سيمې د غزني قره باغ ته لاړ. هغه مهال چې امريکايي يرغل تازه دمې وو ، نوموړي څو ځله پکتيا او کندهار ته سفرونه وکړل ، دغه مهال په مسلسله توګه له ستر جهادي قائد حقاني صاحب سره په رابطه کې و او هدايات يې ترې اخيستل دغه راز يې دحقاني صاحب يو مهم پيغام هم په کندهار کې دامارت نورو مشرانو ته ورساوو .

ديرغل په لومړي کال له سقوط نه څه موده وروسته چې د افغانستان دنورو سيمو غوندې دغزني قره باغ ولسوالي هم د ټوپکيانو تر واک لاندې راغلې وه، مولوي صاحب په لومړي ځل خپل نړدې ملګري راټول کړل او دجهادي عملياتو دپروګرام جوړولو په اړه يې ورسره مشوري پيل کړې. ددې غونډې په سبا دمولوي صاحب يو نړدې ملګری معاون حقمل صاحب دمحلي حکومتي ټوپکيانو لخوا ونيول شو، خو مولوي صاحب په ډير جرأت سره د ټوپکيانو قرارګاه ته ورغی او خپل ملګری يې ترې راخلاص کړ .

له دې وروسته مولوي صاحب له خپلې سيمې لاړ او دحقاني صاحب په جهادي تشکيلاتو کې يې خدمت پيل کړ ، نوموړي دامهال دپکتيا، پکتيکا او خوست په سرحدي سيمو کې په ډيرو هغو جهادي عملياتو کې برخه واخيسته ، چې دروان جهاد له لومړنيو تعرضي عملياتو نه شميرل کيږي، ددې عملياتو په مهال دامريکايانو سرحدي قرارګاوې بيا بيا دمجاهدينو تر درنو بريدونو لاندې راغلي او هميشه ورته درانه تلفات اوښتل .

مولوي طلحه او مولوي نويد چې له مولوی صاحب سره يې په همدې مرحله کې جهادي ملګرتيا کړې ده وايي ( دامريکايي يرغل په لومړيو کلونو کې موږ چې ۲۵ تنه ملګري وو دمولوي صاحب محمدجان په مشرۍ مو دخوست په سرحدي سيمه پين او بيا په ببره خوله سيمه کې خفيه مرکزونه درلودل او له همدې ځايه مو دخوست په

ولايت کې په مختلفو سيمو کې په امريکايي قرارګاوو باندې عمليات ترسره کول. له دې جملې هغه دسکربيست عمليات ديادولو وړ دي چې وخت په وخت دخوست دصحراباغ په هوايي مرکز ترسره کيدل، دغه راز دمولوي صاحب محمدجان په مشرۍ ملګرو له نورو مجاهدينو سره يوځای د ترخوبي، ژوره، کاريزګي، لواړه او په ځينو نورو امريکايي قرارګاوو هم بريدونه ترسره کول .

مولوي صاحب محمدجان له هغه مهاله بيا دشهادت ترنيټې پورې ديوه وفادار او نه ستړي کيدونکي مجاهد په حيث دجناب حقاني صاحب سره دهيواد په جنوب ختيځ زون کې جهادي خدمت ته ادامه ورکړه . نوموړی دحقاني صاحب له لوړرتبه او اعتمادی مشرانو ملګرو څخه و، چې نه يوازې يې نظامي کارونه سمبالول، بلکې ملکي، اداري، دعوت او ارشاد د اولسي مشکلاتو دحل او فصل په چارو کې يې هم فعاله ونډه اخيستله او حتی ډير ځله يې په غونډو او ليدنو کتنو کې دحقاني صاحب په نمايندګۍ برخه اخيسته ، په ۲۰۱۱ م کال کې نوموړي دحج مبارکه فريضه هم ترسره کړه .

شهيد مولوي صاحب محمدجان که له يوې خوا دحقاني صاحب په جهادي جبهاتو کې دنده ترسره کوله، بله خوا يي په خپله سيمه دغزني په قره باغ کې هم يوه فعاله جهادي دلګۍ درلوده ، چې اوس هم په پوره متانت خپل جهادي خدمت ته ادامه ورکوي .

مولوي محمدجان صاحب دخپل دې جهادي ژوندپه مهال دری ځله ددښمن لخوا ونيول شو، چې په لومړي ځل يې شپږ مياشتې، په دوهم ځل دوه مياشتې او په دريم ځل يې اتلس مياشتې بنديخانه تېره کړه .

مولوي محمد جان په دې وروستيو کې دخوست ولايت دجهادي مسؤل په حيث ټاکل شوی و، نوموړی د ۲۰۱۳ م کال د نومبرپه شلمه چې د ۱۴۳۵ هـ ق کال د محرم له ۱۷ مې سره سمون خوري ، هغه مهال په شهادت ورسيده ، کله چې قبايلي سيمې ته





ځيرمه د کورمې دسيند په غاړه د ټنډورو په نامه کلي کې په يوه مدرسه کې په ارام خوب ويده و ، او ددښمن دبې پيلوټه الوتکې دبريد ښکار شو .

د نوموړي جسد دشمالي وزيرستان په ميرانشاه دفدايي مجاهدينو په هديره کې خاورو ته وسپارل شو .

انا لله وانا اليه راجعون

څرنګه چې مولوي صاحب دخپلې سيمې په عامو خلکو کې ژور محبوبيت درلود دغزني په قره باغ کې ولسي خلکو دنوموړي روح ته د دعاء په مناسبت ستر مراسم جوړ کړل او دنوموړي ياد يې ولمانځه .

له شهيد مولوي محمدجان څخه د کشرورور اوخوړې مور په شمول يوه ميرمن او شپږ اولادونه پاته دي ، چې دزامنو نومونه يې محمد رفيق ، محمد ، احمد او محمد عمر دي.

## د مولوي محمدجان صاحب دشخصيت په اړه

مخکې له دې چې د شهيد مولوي محمدجان صاحب دشخصيت په اړه دنوموړي دنږدې ملګرو تأثرات درسره شريک کړم ددې ژوندليک مرتب غواړم دمولوي صاحب سره دخپلې لومړنۍ او وروستنۍ ليدنې خاطره درسره شريکه کړم .

څلور پنځه کاله وړاندې هغه مهال چې دامريکايانو په يوه ظالمانه بمبار کې د مولوي جلال الدين حقاني صاحب دکورنۍ ځيني کسان شهيدان شوي وو ، له څو تنو مجاهدينو سره قبايلي سيمې ميرانشا ته چې هغه وخت د مجاهدينو مرکز و دهمدې شهيدانو دفاتحه خوانۍ لپاره لاړم ، کله چې دحقاني صاحب د ملګرو ځای ته ورسيدم ، نو دفاتحې په مجلس کې خپله دحقاني صاحب دکورنۍ څوک نه وو، خو په مجلس کې يو دقوي متو خاوند ځوان ناست وو ، چې دميلمنو ميزباني يې کوله .

ملګرو رامعرفي کړ، چې همدا مولوي محمدجان صاحب دی، چې دحقاني صاحب له نږدې او مشرانو ملګرو څخه دی، دهمدې مجلس ملګري چې دحقاني

صاحب دکورنۍ په شهیدانو یې ډیر زړونه غمجن وو، لږ شیبه وروسته دمولوي صاحب محمدجان په احساس پاروونکو خبرو او وعظ باندې داسې مطمئن شول ، چې د ټولو له زړونو څخه غمونه وځنډل شول .

مولوي صاحب په خپلو لنډو خبرو کې چې دټول مجلس توجه یې جلب کړه، د شهادت فلسفه بیان کړه او ویې ویل بایدپه دې شهادتونو سره دالله تعالی شکر اداء کړو چې دالله ددین دساتنې لپاره دومره قربانۍ ته اماده مجاهدین لرو. ده وویل دامریکاخلاف دجهاد په لومړیو شپو کې مورِ دومره مجاهدین نلرل لکه اوس چې شهیدان لرو، معلومه خبره ده چې الله تعالی دشهیدانو وینه نه ده ضایعه کړې بلکې همیشه یې دهمدې وینو په برکت دجهاد صف قوي کړی او د مجاهدینو شمیر زیات شوی دی، په هماغه مجلس کې ما ولیدل چې مولوي صاحب یو له ایمانه ډک ، باعزمه او متوکل علی الله مجاهد دی، چې الله تعالی له امتحاني حالاتو سره دمقابلې لوی استعداد ورکړی وو .

هغه مجاهدین چې له مولوي صاحب سره یې نږدې وخت تیر کړی وایي ، چې مولوي صاحب ته الله تعالی په ښه علم سربیره تقوی، دیانت، زړه ورتیا او جرأت هم ورکړی و او په هیڅ حالاتو کې یې عزم نه ماتیده .

داسلامي امارت دفرهنګي چارو دکمیسیون مرستیال مولوي سید محمد حقاني صاحب وایي ( ما یوازې څو ځله مولوي صاحب محمدجان په ځینو غونډو او مجالسو کې لیدلی و، خو په نومورې کې مې دهوښیارۍ، تدبر، پاخه عزم او اخلاص خورا ډیر اثار لیدلي وو ، نومورې په جهادي صف کې خورا ستر کردار اداء کاوو الله تعالی دې دده شهادت قبول کړي .

داسلامي امارت وتلی ترانه خوان او مجاهد شخصیت ملافقیرمحمد درویش دمولوي صاحب محمدجان په اړه وایي: مولوي صاحب چې ما ورسره نږدې تعارف درلود خورا مخلص او مشفق جهادي مشر و، دخوشطبعۍ خورا ښه مزاج یي درلود، او که به یې نصیحت یا غوسه کوله هم دخوشطبعۍ رنګ به په کې ظاهر و، نومورې له





حقاني صاحب سره اوږده جهادي ملګرتیا درلود او د هغه دخورا نږدې او اعتمادي ملګرو څخه وو.

نومورې دژوند ترپایه دجهاد لاره په خورا لوړه حوصله وپالله، دده ملګري وایي چې مولوي صاحب دشهادت خورا ارمانجن و او تل یې دشهادت دعاګانې کولې، څه موده وړاندې چې دنومورې یو مشر- جهادي ملګری مولوي محمدسنګین فاتح په امریکایي برید کې په شهادت ورسید، مولوي صاحب محمد جان به ویل چې دشهادت وار زما وو ، خو مولوي سنګین راڅخه وار مخکې کړ ، چې له دې څخه شهادت ته دنومورې تلوسه معلومیدله .

مولوي صاحب دمجاهدینو په منځ کې په خیرخواهۍ مشهور و او له اختلاف او نزاع نه یې خورا کرکه کیدله، نومورې لکه څرنګه چې داولسي- شخړو او قومي جنجالونو په حل او فصل کې رول درلود دمجاهدینو نیکه تربیه او توجیه ته یې هم همیشه توجه کوله .

دشهید مولوي صاحب ورور حاجي محمد رحیم وایي : مولوي صاحب محمدجان په جهادي شوق سربیره له دیني علومو سره هم ژوره علاقه درلوده، نومورې په خپله سیمه دقره باغ په برله کې د نصرت العلوم په نامه ددیني علومو یوه مدرسه جوړه کړه چې همدا اوس په کې ۵۵ تنه لیلیه او سلګونه تنه نهاري طالب العلمان زده کړي کوي.

سره له دې چې مولوي صاحب په شهادت سره جسما زمونږ له منځه تللی دی، خو دنومورې خوږې خاطرې، کارنامې او یادونه به ترډیره دمجاهدینو په زړونو او دتاریخ په پاڼو کې خوندی وي، نومورې دصدقه جاریه په توګه دطالبانو او مجاهدینو یو داسې صف ترشا پرې ایښی چې دنومورې لاره تعقیبوي او په دې توګه دنومورې په شهادت سره په جهادی صف کې خلا نه محسوسیږي .

رحمه الله تعالی

## د شهيد شيخ الحديث مولوي عبدالسلام صاحب ژوند ته کتنه

ليکنه: قاري سعيد

د عالِم مرګ د عالَم مرګ دی

علم الهي صفت دی، او نبي کريم H علماء کرام خپل وارثان بللي دي. له همدې ځايه ديوه عالم وفات دامت لپاره ستر مصيبت بلل شوی دی، دلته که ددېني علم او علماء کرامو په ټولنيز او شرعي منزلت باندې تم کيږو شايد اصلي موخه رانه پاته شي، خو دومره ويلی شو چې ديوه ديني مقتدا او عالم وفات په دنيايي ممکنو تحولاتو او حوادثو کې لکه څنګه چې عادي شميرل کيږي په حقيقت کې کوم عادي يا معمول رويداد نه دی .

الله تعالى فرمايي ﴿أَفَلَا يَرَوْنَ أَنَّا نَأْتِي الْأَرْضَ نَنقُصُهَا مِنْ أَطْرَافِهَا أَفَهُمُ الْغَالِبُونَ﴾ ]الأنبياء۴۴ ترجمه : آيا دوی نه ويني چې مونږ له هرې خوا ځمکه راکموو؟ نو آيا دوی غالب کيدونکي دي ؟ . قال ابن عباس رضي الله عنه: خرابها بموت فقهاء وعلمائها وأهل الخير منها، وكذا قال مجاهد أيضاً: هو موت العلماء)رئيس المفسرين حضرت عبدالله ابن عباس I او لوی مفسر حضرت مجاهد V وايي چې دلته چې الله تعالى وايي ځمکه راکموو مراد يي د ځمکې خرابيدل دي په وفات د فقهاء او علماء سره، ځکه چې علماء له ځمکې وکوچيږي نو جهل او فساد خپريږي.

دغه راز نبي کريم H په يوه متفق عليه حديث کې د ديني علماء کرامو درحلت په اړه داسې فرمايي (إن الله لا يقبض العلم انتزاعا ينتزعه من صدور الناس، ولكن يقبض العلم بقبض العلماء، حتى إذا لم يترك عالماً اتخذ الناس رؤوساً جُهّالاً. فسئلوا فأفتوا بغير علم ؛ فضلوا وأضلوا." (متفق عليه) رسول الله H فرمايي چې بې له شکه الله تعالى علم په داسې ډول نه قبض کوي چې دخلکو له سينو





يي وباسي، بلکې علم قبض کوي په وفات او اخيستلو د علماء سره، تر دې چې الله تعالى يو عالم هم په ځمکه پرينږدي،نو خلک به جاهلان خپل مشران مقرر کړي،نو دوی به له هغو پوښتنې کوي او هغه به پرته له علم څخه فتواوې ورکوي نو هغه به هم په خپله ګمراه شي او هم به نور خلک ګمراه کړي.

په لوړ آيت کريمه کې ثابته شوه ، چې دعلماء کرامو او فقهاء و وفات په حقيقت کې دځمکې او نړۍ لپاره نقصان او نړېدل دي. دغه راز په نبوي حديث کې هم دامت دعلماء رحلت دعمومي ګمراهۍ او ضلالت مقدمه بلل شوې ده ، دامت دعلماء کرامو په رحلت چې وخت په وخت دامت لويانو کوم تأثرات څرګند کړي ، له هغه څخه هم په څرګنده فهمولی شو ، چې ديوه ديني مقتدا وفات په حقيقت کې څومره ستر ويړ دی ، چې زياتره انسانان ترې ناخبره دي .

حضرت امام حسن I فرمايي ( دعالم وفات په اسلام کې ديوه لوی شګاف ( چاود) مثال لري ، چې ترڅو ورځ او شپه راځي هيڅ شی به يې هم جبيره نه کړای شي) حضرت امام احمد بن حنبل V بيا دعلم دمنزلت په اړه فرمايي (الناس أحوج إلى العلم منهم إلى الطعام والشراب،لأن الطعام والشراب يحتاج إليه في اليوم مرتين أو ثلاثاً، والعلم يحتاج إليه في كل وقت ) خلک له ډوډۍ او څښاک څخه علم ته ډير محتاج دي ، ځکه ډوډۍ ته خوبه په ورځ کې دوه يا دری ځله ضرورت احساسوي خو علم ته دژوند په هره شيبه کې محتاج دي .

له لوړ وضاحت څخه څرګنده شوه ، چې ديوه رښتيني ديني عالم او فقهي رهنما رحلت داولس لپاره خورا دروند غم بلل کيږي ، خو دتأسف وړ داده چې نن سبا داخرالزمان په فتنو کې راګير مسلمانان ددا ډول درنو غمونو او ويرونو له درک او احساس څخه په بشپړ ډول عاجزه شوي دي .

په دې وروستيو کې د سترو مصائبو له جملې يو هم د مخورو علماء کرامو پرليسې شهادتونه وو، د شيخ الحديث مولانا عبدالغني صاحب ، شيخ الحديث مولوي عبدالغني مهاجر صاحب ، شيخ الحديث مفتي رحمت الله صاحب او نورو زبده علماء

کرامو له شهادتونو وروسته په وروستيوکي تازه پيښ شوي د شهادت وقائع د شيخ الحديث مولوي عبدالسلام صاحب او شيخ الحديث مولوي عبدالله ذاکري صاحب شهادتونه وو، چې د ايمان او علم د خاوندانو زړونه يي سخت ودردول، په دې ليکنه کې د علم او شهادت دهمدې منورې قافلې د يوې لاروی شيخ الحديث شهيد مولوي عبدالسلام صاحب د ژوند او کارنامو په اړه درسره لنډ معلومات شريکوو، هيله ده چې راسره ويي لولئ .

## شيخ الحديث مولوي عبدالسلام صاحب

شيخ عبدالسلام صاحب د حاجي خانګل زوی په قوم خروټی بانزی چې اصلي وطن يي د پکتيکا ولايت د ګومل سيمه وه،په ۱۹۴۷ ميلادي کال کې په يوه ديندار کورنۍ کې دنيا ته راغی،نوموړی د خپل ۴ وروڼو له جملې دريم و، چې پلار يي په ۴ کلنۍ کې د ديني علومو زدکړې ته رهنمايي کړ.

هغه مهال چې شيخ صاحب ماشوم و ددوی کورنۍ به په اوړي دافغانستان دزابل ولايت د دايچوپان سيمې ته تلله او د ګرمۍ موسم به يي د بلوچستان په سيوۍ/سبي او شاوخوا سيمو کې تيراوو، د شيخ صاحب ورور وايي چې نوموړی څلورکلن ماشوم و چې د خپل پلار لخوا ديني علم ته وقف شو، د دايچوپان په خاکران سيمه کې يو مشهور ديني عالم او مدرس و، شيخ صاحب په څلورکلنۍ کې د هغه په درس کې شامل شو او چې کله به ددوی کډې د يخ په موسم کې سيوۍ ته تلې هم نوموړی به همالته په خاکران کې په کليواله مدرسه کې پاته و او ديني زده کړو ته به يي دوام ورکاوو.

د شيخ صاحب د قريبانو په وينا دده يو خصوصيت داو چې له ديني تعلم او تعليم پرته يي بل هيڅ دنيوي مصروفيت نه دی درلودلی.ځکه نوموړی په څلور کلنۍ ديني زدکړو ته شامل شو، تر ۱۳ کلنۍ پورې يې په خاکران کې ديني زده کړې کولې،په همدې عمر له دې سيمې لاړ او د زابل په نورو سيمو کې يي په مشهورو علماء کرامو لکه د زابل د شاجوی ولسوالۍ مشهور عالم مولوي سردار صاحب چې د پاسنو په





اخندزاده صاحب مشهور و، د قلات ستر عالم مولوي عنايت الله اخندزاده صاحب چې د غبرګي په اخندزاده صاحب يي شهرت درلود.په دې سربيره يي په کندهار،ميدان وردګو،غزني او دهيواد په نورو مختلفو سيمو کې يي له مشهورو علماء کرامو څخه ديني کتابونه ولوستل ، تردې چې ديني فنون يې په مکمل ډول پای ته ورسول .

شيخ صاحب د طالب العلمۍ په دوران کې دکابل د قلعه جواد له حضرت ضياء المشائخ محمدابراهيم مجددي صاحب سره د تصوف بيعت وکړ او تر پايه يي د نقشبنديه مجدديه طريقې د يو سالک په حيث د تصوف او تزکيې لاره پاللـه.دا چې شيخ عبدالسلام صاحب په ډير کشرتوب کې ديني زده کړه پيل کړې وه نو په ځوانۍ کې يي ټول ديني کتابونه پای ته ورسول او د احاديثو د لوړې دورې لپاره د پاکستان او سيمې مشهورې مدرسې درالعلوم حقانيه اکوړه خټک ته لاړ .

شيخ عبدالسلام صاحب په درالعلوم حقانيه مدرسه کې د ستر ديني عالم او شيخ الحديث مولانا عبدالحق صاحب سره د احاديثو دوره ترسره او د عمر په ۲۵ کلنۍ کې يي ددديني علومو د فراغت سند ترلاسه کړ.

## تدريسي ژوند

شيخ الحديث مولوي عبدالسلام صاحب له فراغت وروسته ددديني علومو په تدريس پيل وکړ، نوموړي دتدريسي ژوند په لومړيو دريو کلونو کې عام ديني کتابونه تدريس کړل او له هغه وروسته يي داحاديثو د کتابونو تدريس پيل کړ چې د وفات تر نيټې پورې يي د يوه پيژندل شوي شيخ الحديث په حيث د صحاح سته تدريس ته دوام ورکړ .

شيخ صاحب لومړی تدريس د پاکستان دبلوچستان د سيوۍ/سبي په سيمه کې په مفتاح العلوم مدرسه کې پيل کړ. له هغه وروسته د کوټې په بروري روډ باندې په بحرالعلوم مدرسه کې مدرس شو، دلته له څه وخت تيرولو وروسته د کوټې په شابوکلي کې دارالعلوم قاسميه ته لاړ او له هغه وروسته يي د کويټې په حاجي

محمدايوب کلي کې واقع په خيرالمدارس مدرسه کې تر ۱۹۹۴ ميلادي کال پورې تدريس ته ادامه ورکړه .

په ۱۹۹۴م کال کې د پاکستان د پښتونخوا ايالت ډيره اسمعيل خان ته لاړ او هلته يې په پهاړپور سيمه کې دمولوي عبدالجبار صاحب په مدرسه کې د احاديثو تدريس پيل کړ. په همدې مدرسه کې يې ۳ کاله تير کړل او بيا د جنوبي وزيرستان په مرکز وانه کې مشهورې مدرسې دارالعلوم جنوبي وزيرستان کې د شيخ الحديث په حيث مقرر شو چې شپږ کاله يې په همدې مدرسه کې نبوي احاديث تدريس کړل او ګڼو طالب العلمانو ترې علمي فيض او د فراغت اسناد ترلاسه کړل .

په جنوبي وزيرستان کې له شپږ کاله تدريس وروسته ديوه کال لپاره بيا په ډيره اسمعيل خان کې دمولوي عبدالجبار صاحب مدرسې ته لاړ او له هغه وروسته په ۲۰۰۶ م کال کې يوځال بيا د بلوچستان مرکز کويټې ته لاړ او د حاجي محمدايوب کلي سيمه کې په خيرالمدارس مدرسه کې يې داحاديثو دوره پيل کړه. همدلته يې د شهادت تر نيټې ۲۰۱۴ م کال پورې د صحاح سته تدريس ته ادامه ورکړه چې هرکال به ورسره سلګونه داحاديثوطالب العلمانو درسونه ويل او په سلهاوو فاضلان به يې له مدرسې فارغيدل .

شيخ صاحب په خپل ژوند کې دری ځله په ۱۹۹۹ م - ۲۰۰۵ م - او ۲۰۰۹ م کلونو کې د حج د مبارکې فريضې داداء کولو لپاره حرمينو ته هم تللی و.

## شهادت يې

شيخ الحديث مولوي عبدالسلام صاحب په خپله مدرسه خيرالمدارس کې د نبوي احاديثو تدريس ته ادامه ورکوله دتدريس ترڅنګ د خير او صلاح په چارو او داولسي مشکلاتو د حل په چارو هم بوخت و، نوموړي چې په عامو مسلمانانو کې يې پراخ محبوبيت درلود، هرچا يې خبرې ته غوږ نيو او دده په منځګړيتوب لو يې لانجې په ډيره اسانۍ هواريدلې .





د ۱۴۳۵ هـ ق کال د محرم مياشتې د ۲۷ په شپه چې کله شيخ صاحب له خپل يوه بل ملګري سره له يوه دعوت څخه بيرته د کور په خوا روان و، د شپې ۹ بجې ددوو تنو موټرسايکل سپرو کسانو لخوا په تفنګچه دوه مرمۍ وويشتل شو او سخت ټپي شو.

شيخ صاحب چې سخت ټپي شوی و، روغتون نه نقل شو،خو دری ورځې بعد د محرم د مياشتې په ۳۰ مه د شپې په ۱۱ بجې يې د سختو ټپونو له امله خپل روح خپل مالک ته وسپاره او دشهادت جام يې نوش کړ . انا لله وانا اليه راجعون

د شيخ صاحب د شهادت خبر د يوې غمونکي حادثې په حيث د علم او عمل د خاوندانو په منځ کې خپور شو. عام مسلمانان، طالبان او علماء کرام يې وژړول ، داحاديثو نيمه خوا شاګردانو يې په هجران اوښکې تويې کړې، دافغانستان داسلامي امارت رهبري شورا يې په اړه د غمرازۍ اعلاميه صادره کړه او ټول مؤمنانو ددې ستر عالم د شهادت له امله دده په نامرده قاتلانو نفرين ووايه .

د شيخ صاحب د جنازې لمونځ د محرم په ديرشمه نيټه د نومورۍ دنږدې ملګري او دهيواد دتکړه عالم شيخ الحديث هبة الله اخندزاده صاحب په امامت اداء او له هغه وروسته په کويټه کې خاورو ته وسپارل شو.

د شيخ صاحب دری زامن پاته شول چې دوه يې فارغ علماء او دريم يې په دينې زده کړو بوخت دی .

## د شيخ صاحب د شهادت په اړه د اسلامي امارت د رهبري شورى د تسليت پيغام

اعوذ بالله من الشيطن الرجيم بسم الله الرحمن الرحيم

مِنَ الْمُؤْمِنِينَ رِجَال صَدَقُوا مَا عَاهَدُ اللَّهَ عَلَيْه فَمِنْهُم مَّن قَضى نَحْبَه وَمِنْهُم مَّن يَنتَظِر وَمَا بَدَّلُوا تَبْدِيلا (الاحزاب ۲۳)

په ډيره خواشينۍ سره مو خبر تر لاسه کړ چې دهيواد وتلی او منلی عالم جهادي شخصيت شيخ الحديث والتفسير مولوي عبدالسلام صاحب چې درې ورځې

وړاندې داسلام اودين ددښمنانو له لوري پرې ناځوانمردانه حمله ترسره شوه او شديد ټپي شو، تير ماخستن ناوخته يې دهجرت په ديار دپاکستان هيواد دکوټې ښار په يوه روغتون کې داخيستوزخمونو له امله ساه ورکړه او د٦٧کالو په عمر په شهادت ورسيد ، انالله وانا اليه راجعون.

څرنګه چې مرحوم شيخ صاحب دافغانستان په سطحه يووتلي عالم او داسلامي امارت له پياوړو علمي او جهادي شخصيتونو څخه وو،داستاد کل حيثيت يې درلود،زرګونو طالبانو تړې ددييني زده کړو او پوهې علمي فيض ترلاسه کاوه ، شهادت يې دافغانستان او سيمې دعلمي او جهادي خوځښتونو لپاره يوه ستره او نه جبرانېدونکې ضائعه ده.

مرحوم شيخ صاحب V دحاجي خان ګل زوي دپکتيکاولايت اوسېدونکي وودنوموړي خپل ټول عمر ددين په خدمت کې صرف شوي ،نوموړی په ۲۵ کلنۍ کې له ديني علومو فارغ شوی،له فراغت دوه کاله وروسته يې دنبوي احاديثو(لوې دورې) ددرس په ورکولو پيل کړی له تيرو ۳۴ کلونو راهيسي په مختلفو مدرسو کې دلوې دورې په درس ورکولو بوخت وو. په جنوبی وزيرستان دارالعلوم وانه ،دډيره اسماعيل خان په لويه مدرسه او دبلوچستان دکوټې ښار دشيخ مانده په جامعه خيرالمدارس او داسي نورو مدرسو کې دحديثو د شيخ او استاد په توګه پاته شوي .

شهيدشيخ صاحب يو ستر ديني عالم وو،دخپلې پوهې،تقوی او له خپلو عقيدتمندانو سره دزياتې مينې او محبت کولو له امله يې دعامو خلګو په زړونو کې ځان ته ځاي پيدا کړي و. نوموړی په سيمه کې ديوه وتلي شيخ الحديث په توګه دشهرت ترڅنګ د ستر مبلغ او جهادي بلونکي په حيث پېژندل شوی شخصيت و.همېشه به يې په سترو ناستو او جهاد ي غونډو کې په خپلو جراتمندانه وينا وو کې دمجاهدينو حمايت کاوو او دمجاهدينو د ذهن سازی او اصلاح ترڅنګ به يې عام خلګ داشغالګرو په خلاف ځاني او مالي جهاد ته هڅول.





شهيد شيخ صاحب له کلنو راهيسي داحاديثو لويه دوره او دقران کريم تفسير کاوو، هرکال تر يو نيم سلو زياتو طالب العلمانو له نوموړي څخه علمی فيض حاصلاوو او دفضيلت ددستار تړلو ويارړ يې ترلاسه کاوو.

دا چې دشهيد شيخ صاحب ژوند او موجوديت ددين ښمنانو ونه زغملای شو او ديوې بزدلانه حملې په ترڅ کې يې نوموړی په شهادت ورساوه ،ددښمن دا کرغيړن عمل د شيخ صاحب د دارينود سرلوړي او دقاتلينو لپاره ددنيا او اخرت دمختوری سبب شو.

.دافغانستان اسلامي امارت ددې ستر ويرله املهدشهيدشيخ صاحب کورنۍ،شاګردانو او دحق دلارې مبارزو مجاهدينو او ټولو هيوادوالو ته دغمرازی او تسليت مراتب وړاندي کوي،څښتن تعالی دي دمرحوم شيخ صاحب شهادت قبول او لوي خدای ج دي دنومورې کورنۍ،زامنو،قريبانو او شاګردانو ته ددې ستر ويرله دزغملو توان او دصبر جميل توفيق ورنصيب کړي.

دافغانستان اسلامي امارت رهبری شوری

## د شيخ عبدالسلام صاحب د شخصيت په اړه

شهيد شيخ الحديث مولوي عبدالسلام صاحب په دې سربيره چې متبحر عالم ، د احاديثو استاد او دقرآن دتفسير، احاديثو او حنفي فقهې يو منل شوی پوه و، د روس ضد جهادپه مهال او اوس د امريکا ضد جهاد په مهال دجهاد کلک ملاتړی او دمجاهدينو لپاره يې د يو لارښود حيثيت درلود، نوموړي هميشه له مجاهدينو سره ليدل، هغوی ته يې توصيې کولې او دخپل توان په اندازه يې ورسره دخير په چارو کې همکاري کوله ،

شيخ صاحب په خپل ژوند کې د تدريس ترڅنګ د عامو مسلمانانو په ژوندچارو کې هم دخيل شخص و، دخلکو جنجالونه او تنازعات يې هوارول او حتی د قومونه په سطحه د لويو لانجو مخنيوی يې کاوو، شيخ صاحب لکه څنګه يو دقيق عالم و په عامه

عرف هم پوره خبر و. نوموړي د مسلمانانو ترمنځ د بديو په شان لويې لانجې هوارولې مسلمانان يې سره پخلا کول او د مرګونو او جنجالونو مخنيوی يې کاوو، نوموړی د مسلمانانو په غم غمشريک شخص و او ډير کوښښ يې کاوو چې مسلمانان له جنجاله خلاص او زړونه يې خوشاله شي .

د نوموړي نړۍ ملګری جيدعالم شيخ الحديث هبة الله اخندزاده صاحب وايي: دحضرت شيخ صاحب سره زما ډيره علاقه اوملګرتيا وه اوډير ليري اونړۍ سفرونه موسره وکړه ،په مختلفومجلسونو اوجلسوکې به موشرکت کاوو، دحضرت شيخ صاحب امتيازي خصوصيت داو چې ده به ډيرکوښښ کاوو چې ديوه مؤمن مسلمان زړه خوشحاله وساتي اودمسلمانانوترمنځ به يې خصوصا دعلماءکرامواتفاق او اتحاد کوښښ يې ډيرکاوو، لهذاچې کله به مورِ يوجلسې يايوفاتحې يادمسلمانانويوبل اجتماعي أمرته ورغلو،د بيرته راتلو به شيخ صاحب ويل: څه ښه کاروسوچې دغه مسلمانان خوشحاله سوه په تقرير کښې به يې علماء ته ويل چې تاسو ولې اختلاف کوئ له اختلافه ځان وساتئ .

د افغانستان وتلی جهادي شخصيت او ديني عالم مولوي فريدصاحب چې شهيد شيخ صاحب يې له نړۍ پيژاند د نوموړي په اړه وايي :د شهيد علامه شيخ عبدالسلام رحمة الله عليه ژوند واقعا په دې پُرفتن دور کې د فخر او تقليد وړ و، داسلافو يوه نمونه وه ،صورت او سيرت يې په شريعت برابر و، باطن يې تر ظاهر ماته غوره ښکاريده ، بې ريا او مخلص انسان و، دشپې په آخر کې به راجګ شو د تهجد لمونځ به يې په پټه طريقه اداء کړ، بيرته به آرام پرې ووت ، خلکو ته به يې دا په خيال کې ورکوله،چې ګويا زه بالکل د شپې تهجد ته پورته شوی نه يم، ماله ده سره دملګرتياپه وخت کې دده د احالت په خپله ليدلی دی.

ډير باجرأته جيد عالم ،خوش اخلاقه د شاګردانو محبوب او جذاب شخصيت و، د مسلمه امت په موجوده دربدره حالت او د کفري نړۍ په دسيسو خبر سړی و، همدا





وجه وه چې ددين او وطن دښمنانو ته دده مبارک وجود د زغم وړ نه و، نو دسيسه په کار شول او مسلمانان يې د غم په ټغر کينول .

که خپلې خاطرې په لنډو ټکوکې راخلاصه کړم،نو بايد ووايم چې که د شهيد شيخ صاحب رحمة الله عليه په شان ډير خلک مورِ درلودلای ،نو دنيا ته مو د صحابه کرامو ا م په شان به زغرده دا اعلان کولای شوای چې : کونوا مثلنا .. يعنی لکه دا مورِ داسې شئ ، چې دا قول به صحابه کرامو دنياوالو ته کاوو.

د هيواد نوميالی عالم شيخ الحديث و التفسير مولوي عبدالحکيم صاحب د شهيد شيخ عبدالسلام صاحب په اړه وايي : حضرت شيخ الحديث شهيد عبدالسلام صاحب مرحوم ډير عابد او متقي شخص و،زمورِ سره په ډيرو سفرونو کې ملګری شوی و، دنوموړي يوه خاصه دا وه چې هرځومره سترې يا به وه دتهجد لمونځ يې نه پريښود.

علمی استعداد يې دومره قوي و، چې کله به د يوې مسئلې ذکر وشو يا به د کوم حديث شريف پوښتنه وشوه،نو ده به د کتاب له ذکر سره د هغه حواله ورکړه،په فقهي مسائلو کې ډير محتاط و همیشه يې په معتبرو کتابونو حواله ورکوله،د اخلاقو او تواضع يې دا حال و چې يو وخت په سفر کې سره ملګري و، ملګرو خوراک تياراوو، نو شيخ صاحب په خپله د اور په بلولو او خدمت باندې اخته و.

د نوموړي اخلاق د اسلامي اخلاقو يوه نمونه وه، د خوشطبعۍ يو ځانګړی مزاج يې درلود چې هيڅوک نه ورسره تنګيدل، دملګرو د طبيعت د راستګي لپاره به يې ډير خوږ مجلس کاوو، له کشر او مشر سره به يې د هغوی د مرتبې په مناسب انداز خبرې کولې.

شيخ صاحب يو دلاوره او جرأتمند سړی وه ، ما هيڅکله د وهم او ويرې خبره نه ده ځينې اوريدلې.د مجاهدينو سره يې ځانګړی محبت درلود،همیشه يې له مجاهدينو سره ليدل کتل، شپې شپې توصيې يې ورته کولې او دهغوی پوښتنې يې په ډير ښه انداز په سړه سينه ځوابولې .

د شهید شیخ صاحب په اړه د څو تنو علماء کرامو تأثرات مو د نمونې په حیث راواخیستل، د شیخ صاحب په اړه هرچا چې لیدلی همداسې نیک تأثرات لري، نوموړي ته الله تعالی خورا ښه اخلاق او ستر علمي استعداد ورکړی و، الله تعالی ته خواست کوو چې دده برکات یې په زامنو او شاګردانو کیږدي او دعلم خیر دي یې الله تعالی همداسې جاري ولري . آمین یارب العلمین

❊ ❊ ❊





## د شهید مولوي نورقاسم حیدري ژوند او کارنامو ته کتنه

لیکنه: قاري سعید

د ۱۳۹۳ هـ ش کال د حمل میاشتې په ۱۸ نیټه رسنیو خبر ورکړ، چې دکونړ ولایت په شیګل ولسوالۍ کې دهمدې ولایت لپاره د طالبانو نظامي مسؤل /والي د امریکایي بې پیلوټه طیارې په برید کې په شهادت رسیدلی.

له معمول سره سم د مولوي نورقاسم حیدري صاحب د شهادت خبر د ورځنیو عادي خبرونو په حیث په مطبوعاتو کې بدرګه شو،خو ددې نومیالي مجاهد دشهادت خبر کوم عادي خبر نه و، په هماغه ورځ په حقیقت کې افغان مؤمن اولس خپل یو کمساری باتور بچی له کفر سره دمقابلې په جګړه کې له لاسه ورکړی و.

هو کې، مولوي نور قاسم هغه مجاهد و چې د رجالو دقحطۍ په دې زمانه کې یې نه یوازې په جهادي ډګر کې دیوه نه ماتیدونکي، زړور، مخلص او لارښود مجاهد په حیث دنده اجراء کوله بلکې د خپلو ملګرو مجاهدینو ترمنځ په محلي کچه د یوه رهنما په موقف کې و، چې په شهادت یې ډیر زړونه ودردیدل .

راځئ یوه شیبه ددې نومیالي مجاهد په ژوندپیښو، کارنامو او شخصیتي ځانګړنو سره وغږیږو او د یاد په تازه کولو یې دهجران تنده ماته کړو .

### پیدایښت او زدکړې

نورقاسم حیدري د حاجي محسن زوی په ۱۳۵۲ هـجري شمسي کال د افغانستان د خوست ولایت دصبریو ولسوالۍ په نیکنام کلي کې په یوه دینداره کورنۍ کې دنیا ته سترګې وغړولې .

نوموړي خپلې لومړنۍ زده کړې د ماشومتوب په مهال په خپله سيمه کې د مسجد له ملاامام څخه ترسره کړې، د کمونيستي کودتا وروسته يې د هجرت په مهال د پاکستان په خيبر پښتونخوا کې په مختلفو مدارسو کې د ديني علم حصول تـه دوام ورکړ.

په دې لړکي نوموړي خپلې زده کړې په کوهاټ کي پيل کړې ورپسې يي د هنګـو ولسوالۍ مربوط د درسمند سيمې رحمانيه مدرسـه، پـه ميرانشـاه کـي منبـع العلـوم مدرسه،د خوست منبع الجهـاد مدرسـه، د وزيرسـتان دشـوې سـيمې ريـاض العلـوم مدرسه، د هنګو دکاهي سيمې سراج الاسلام مدرسه او دافغانستان او پاکستان په ګڼو نورو مدارسو کي يي ديني زده کړو ته دوام ورکړ تردې چې له ديني علومـو د فراغـت سند يي په ۱۳۷٦ هـ ش کال د هنګو مربوط زرګري سيمه کې واقـع پـه جامعـة العلـوم الاسلاميه مدرسه کې له مشهور استاد شيخ الحديث بهرمند صاحب څخه ترلاسه کړ.

مولوي نورقاسم حيدري صاحب خپلـو دينـي زدکـړو تـه پـه داسـې مهـال ادامـه ورکوله چې ورسره يي جهادي فعاليت هم نه هيراوو نوموړی به دکال په اوږدو کې څه موده په سنګر کې او څه موده په مدارسو کې و، له ديني علومو له فراغت وروسته يـي څه موده دخوست ولايـت د صـبريو ولسـوالۍ پـه مچـۍ سـيمه کـې دشـمس العلـوم مدرسې دمهتمم او مدرس پـه حيـث دنـده اجـراء کـړه ددې مدرسـې دبنسـټ ډبـره نوموړي په ۱۳۷۱ هـ ش کال کـې ايښـي وه چـې تراوسـه فعالـه ده او دشـهيد حيـدري صاحب دخيرجاري په حيث په کې طالب العلمان ددديني علومو زده کړې کوي .

## د کمونيزم په خلاف جهاد

مولوي نورقاسم حيدري د صورت او سيرت په لحاظ د جهاد او مبارزاتي ژوند يو مجسم تصوير و. په نوموړي کې د اسلام د لارې د يوه سرسپارلي مجاهـد ټـول صـفات موجود و. تا به ويل دغه انسان الله تعالی يوازې د خپل دين ددفاع او دکفـر پـه مقابـل کې دجنګيدلو لپاره خلق کړی دی، ځکه نوموړي خپل ټول ژوند جهاد ته وقف کړی و. خبرې، فکر او ټول کړه وړه يي د جهاد پـه اړه و، نومـوړی پـه کشرتـوب لا لـه شـوروي





يرغلګرو او دهغوی له کمونيستي ګوډاګيانو سره وجنګېد، په تانده ځـوانۍ کـې يـې د شر او فتنو په مقابل کې د جهاد سنګر وپاله او په نسبتا پاخه عمر کې يـي دامريکـايي طاغوت په مقابل کې د مسلح جهاد سنګر تر هغو تود وساته چې په همدې لاره کي يي د شهادت جام غړپ کړ .

د شهيد حيدري د جهادي ژوند، اتلوليو او کارنـامو داسـتان خـورا اوږد دی چـې دلته يي موږ په لنډو جهادي خدماتو ته اشاره کوو.

هغه مهال چي د شوروي اتحاد سرو لښکرو په افغانستان هجـوم راوړی وو او پـه زرګونو مسلح ځواکونه يي په خوست ولايت کې ځای په ځای کړي وو، هغه مهـال چـې خوست ولايت د اسلام او کمونيستي کفر ترمنځ د تودې معرکې په ډګـر اوښـتی وو او د شوروي عسکرو د ډيرښت له امله يي د دوهم مسکو لقب ګټلی و، په همدغه وخـت کې نورقاسم حيدري چې لا بيخي کم عمـره وو دخوسـت ولايـت پـه بـاک، عليشـيرو، ځائي ميدان، يعقوبي، ژوره او توره غاړه سيمو کې يي د کمونيزم په خلاف په جهـادي تعرضونو کې برخه واخيسته. نوموړی له کوچنيوالي د مرميو له باران، د سکډ توغنديو له چاودنو او د روسي مېګ او برګيـو لـه بمبـارونو سره بلـد شـو. دجګـړو پـه لمبـو او ماينونو په چاودنو کې رالوی شو، دخوست د ښې په ساحه کې زخمي شواو دالله تعالی په لاره کې د وينو دصدقې خوند يي وکوت، له کفري لښکرو سره دمخامخ جنګيدلو او د کمونيزم په پوستو د ورختلو هنر يـي عمـلا تجربـه کـړ، د سـتر اتـل جنـاب حقـاني صاحب تر مشرۍ لاندې د خوست په عظيمه فتحه کې يي د يوه تاند مجاهدپـه حيـث رول ولوباوو، دخوست له فتحې وروسته د کمـونيزم د ټغـر ټولولـو پـه نيـت لـه نـورو مجاهدينو سره يوځای د پکتيا د مرکز ګرديز په خوا لاړ. پـه سـټو کنـډو، مچلغـو او د ګرديز ښار په شاوخوا نورو سـيمو کـې يـي د کمونيسـتانو خـلاف پـه سـختو جګـړو او تعرضونو کې برخه واخيسته او ترهغه يـي جهـاد تـه ادامـه ورکـړه تـر څـو کمونيسـتي حکومت ونړيد .

د تنظيمي دورې په وروستيو کې چې د مولوي عبدالحکيم شرعي صاحب په مشرۍ په خوست ولايت کې دنظم راوستلو او فساد دمخنيوي لپاره کوم تشکيلات جوړ شول مولوي حيدري هم په کې ګډون وال و چې د خلکو دسر او مال د خوندي کولو لپاره يې ستر خدمتونه ترسره کړل.

## د طالبانوپه اسلامي تحريک کې خدمت

په ۱۳۷۳ هـ ل کال کې چې دطالبانو اسلامي تحريک په کندهار کې ظهور وکړ ، مولوي نورقاسم حيدري چې دغه مهال يې په پاکستان کې دينې زده کړې کولې د خوست ولايت د يوشمير طالبانو سره يوځای د بلوچستان له لارې کندهار ته لاړ او په هماغو ابتدائي شيبو کې له اسلامي تحريک سره ملګری شو، نوموړي د شهيد ملا بورجان اخند، شهيد ملا مشر او داسلامي تحريک د نورو مشرانو په ملګرتيا د غزني او ميدان وردګو ولايت په تصفيه کې برخوال و، تر څو چې دطالبانو اسلامي تحريک تر خوست پورې ورسيد. دغه وخت چې د طالبانو جنګي کرښه د کابل په چهار اسياب کې وه مولوي نورقاسم د خوست ولايت د ۷۰ تنو طالبانو سره يوځای چهاراسياب ته لاړ. دوی داسې مهال چهار اسياب ته ورسيدل چې په همدې ورځو کې طالبانو د دهمزنګ او کارته سه په سيمو کې د حزب وحدت لخوا تخليه کيدونکي سيمې نيولې،مولوي نورقاسم صاحب هم له خپلو ملګرو سره دکابل ښار په جنوب لويديځ کې همدې سيمو ته داخل شو، وروسته چې په همدې سيمه کې مسعود ناڅاپه په طالبانو برید وکړ، د سختې جګړې په پايله کې مولوي نورقاسم صاحب هم زخمي شو.

د نوموړي دهمدې صحنې يو ملګری وايي: طالبانو او دمسعود کسانو چې تردې وړاندې يې جګړه نه وه سره کړې په ډيره نږدې فاصله کې اوسيدل، ماسپښين مهال مسعود ناڅاپه په طالبانو برید وکړ، همدلته جنګ ونښت، موږ د سرک په يوه غاړه وو او بلې غاړې ته په پنځه يا شپږ مترۍ کې دمسعود وسلوال و، زه له لږ جګړې وروسته ټپي شوم اومولوي حيدري ته مې وويل چې له دې ځايه بايد ووځو، ده په اطمينان راته وويل ته يو پټ ځای کينه زه په دښمن ګوزارونه کوم تر څو د وتلو لار پيدا شي، له





نوموړی سره راکټ لانچر و په دښمن يې پرلپسې څو ګوزارونه وکړل، چې ددښمن ګڼ کسان په کې له منځه لاړل، دهمدې جګړې په مهال يوه ملګری په مولوي حيدري باندې غږ وکړ چې په نږدې ودانۍ کې ددښمن کسان دي چې هشتادودو ورسره دی، تاسو سر مه پورته کوئ هسې نه زيان درته ورسيږي، مولوي حيدري راکټ ته مرمۍ واچوله او ويل يې چې وار به پرې مخکې کړم، خو چې کله يې د فير لپاره سر ورهسک کړ مخکې له دی چې دراکټ فير پرې وکړي له مقابل جانب څخه د هشتادو فير وشو، چې ددرانه انفجار په نتيجه کې مولوي حيدري په سر باندې په پرخچو ولګيد او ځای په ځای بې هوشه شو.

کله چې راپه هوښ شو نو سره له دې چې سخت زخمي و بيا يې هم له موږ سره دچهاراسياب په خوا تګ ته ادامه ورکړه همدغه مهال طالبان د کابل له غرب څخه بيرته د وتلو په حال کې وو، موږ چهاراسياب ته راغلو او څرنګه چې مولوي صاحب سخت زخمي و د شپې مو خوست ته ورساوو، د خوست په روغتون کې ډاکټرانو چې ايکسري واخيستي او دده د سر ټپ يې وليد نو حيران شول چې څرنګه ژوندی پاته دی ځکه دده د سرهډوکي مات وو او پرخچې يې په دماغو کې ښخې وې، ډاکټرانو وويل چې ددې علاج زموږ د وس کار نه دی او دژوند يې هم لږ احتمال شته، د ډاکټرانو د جواب نه وروسته موږ پيښور ته ورسولو، خو هلته هم چې ډاکټران ددماغو ټپ وليد نو له عملياتو يې انکار وکړ، ډاکټرانو وويل چې دده ټپ ډيرحساس دی کې عمليات يې وشي ژوند به له لاسه ورکړي ښه داده چې کور ته يې ورسوئ ترڅو له خپلو خپلوانو سره وروستۍ دژوند شپې تيرې کړي، ډاکټرانو ويل چې ددې سخت ټپ سره سره موږ حيران يو چې څرنګه ژوندی پاته دی او په خپلو پښو ګرځي، دوی ويل چې دا يوازې ددې مجاهد کرامت کيدلای شي او بس .

کله چې مولوي حيدري ته د ډاکټرانو د ځواب خبره ورسيده ده دا آيت ووايه : اذا جاء اجلهم لايستأخرون ساعة ولا يستقدمون . يعني مرګ په خپل وخت دی او هيڅکله مخکې يا وروسته کيدلای نه شي.

په پيښور کې د ډاکټرانو له ځواب وروسته نوموړی ملګرو بيرته خوست ته راوستلو خو خپل کور ته تر رسولو وړاندې يې په خوست کې د بادشاه زار په نوم ډاکټر ته وروستلو ترڅو يې دخپل وس مطابق علاج وکړي، دې ډاکټر وويل چې د مولوي صاحب زخم ډير ژور او حساس دی عمليات يې خطرناک دي چې په عملياتو کې يې يوازې لس فيصده د ژوندي پاته کيدلو احتمال شته، زه يې په دې شرط عمليات کوم چې له کورنۍ او ملګرو څخه يې داجازې لاسليک راته راوړئ. د ملګرو له مشورې وروسته نوموړي ته همدا لاسليکونه راوړل شول او نوموړي دمولوي صاحب د سر زخم عمليات کړ، د ډاکټر دعملياتو له پيل سره يوځای دمولوي صاحب ملګرو د سورة يس ختم او مأثورې دعاګانې پيل کړې، لږ شيبه وروسته ډاکټر زيری راووړ چې دمولوي صاحب عمليات کامياب شول او له اعصابو څخه يې هډوکي راوايستل شول .

دهمدې عملياتو په نتيجه کې دمولوي صاحب د سرزخم يو مخ ښه شو، خوډاکټر ورته سپارښتنه کړې وه چې تر ډير وخت پورې به په جنګ کې شرکت نه کوې او نه به په راکټ لانچر باندې فير کوې ، خو دمولوي صاحب د جهاد جذبه خورا غالبه وه تردې چې له صحت يابۍ وروسته بيا داسلامي امارت جهادي ليکو ته لاړ او دامريکايي يرغل ترمهاله يې بيا بيا په جهادي تعرضونو کې شرکت وکړ نوموړی د چاريکارو په جنګ کې يوځل بيا زخمي شو او تر هغه وخته يې د شراو فساد په مقابل کې جهاد ته ادامه ورکړه چې امريکايانو په افغانستان يرغل وکړ .

## دامريکايانوپه خلاف جهاد

په افغانستان د امريکايانوله يرغل وروسته مولوي صاحب نورقاسم له مقدمو مجاهدينو څخه و چې دخوست په ولايت کې يې دامريکايانو په خلاف مسلح جهاد پيل کړ،د نوموړي دمدبرانه مشرۍ له برکته د خوست ولايت د صبريو ولسوالي په همدې سيمه کې دجهاد په يوه نه ماتيدونکي سنګر واوښتله او امريکايانو په کې سخت تلفات وليدل، سره له دې چې امريکايانو په دې سيمه کې خورا سخت ظلمونه





او وحشتونه ترسره کړل، د صبريو او خوست د نورو سيمو په زرګونو خلک يې بنديان او شهيدان کړل خو بيا يې هم په اولس کې دجهاد جذبه ونه وژله .

مولوي نورقاسم صاحب چې څه موده د خوست په صبريو ولسوالۍ کې د جهادي چارو مشر او ورپسې ډيره موده د خوست ولايت عمومي جهادي مسؤل/ والي و په دې ولايت کې ستر جهادي خدمتونه سرته ورسول.

نوموړي چې خپله يې په جهادي عملياتوکې شرکت کاوو او دعملياتو قومنده به يې په غاړه وه د خوست څلور ولسوالۍ باک، عليشير، صبري او قلندر ولسوالۍ دغه راز دپکتيا مربوط جاني خيل ولسوالي يې په مکرر ډول فتحه کړې، دخوست په لراوبر کې ددښمن ډيرې پوستې يې هم بيا بيا فتحه کړې چې ددې عملياتو په ترڅ کې يې نه يوازې دښمن ته درانه تلفات واړول بلکې بيا بيا يې لوی مقدار غنايم هم ونيول.

په خوست کې يوه سخته جګړه چې نوموړی په کې زخمي شو، دخوست په عليشيرو ولسوالۍ عمليات وو،ددې عملياتو په نتيجه کې نوموړي ددښمن ګنې دفاعي پوستې فتحه کړې او دولسوالۍ مرکز ته ورسيدل، خو کله يې چې د ولسوالۍ په مرکز برید وکړ د مجاهدينو مهمات کم شول ، همدغه مهال دنوموړي همسنګر او تکړه مجاهد دکابل اوسيدونکی ملا مصطفی په شهادت ورسيد، مولوي حيدري ملګرو ته وويل چې د مهماتو دنشتوالي له امله بايد عقب نشيني وکړي او شهيد له ځان سره واخلي د عقب نشينۍ په مهال په مجاهدينو امريکايي الوتکو بمبار وکړ چې د مولوي حيدري ګڼ تکړه مجاهد ملګري په کي شهيدان شول او خپله هم سخت ټپي شو. دا ځل هم د نوموړي ټپونه خورا سخت و او ډاکټرانو ويل چې ښايي د نوموړي بدن فلج شي، خوالله تعالی د ډاکټرانو د باور خلاف نوموړي ته يوځل بيا صحت ورکړ. له همدې زخمونو څخه له جوړيدلو وروسته مولوي صاحب له خپلو ملګرو سره يوځل بيا ددښمن په محاصره کې واقع شو، چې ټوله شپه له دښمن سره وجنګيد، په دې جګړه کې نوموړی يوځل بيا په سربانديې دوه مرمۍ ولګيد، خو دا چې الله تعالی د خپل دين دخدمت لپاره وربانديې ژوند لوروليو و له سختو ټپونو سره سره بيا هم ژوندی پاته شو.

په خوست ولايت کې د نوموړي وروستي دوه ستر عمليات چې خپله يې مشري او ترتيب په غاړه و يوځل د خوست په خلبيسات سيمه کې دامريکايانو په ستره قرارگاه باندې لومړني فدايي عمليات و، چې پلان او نقشه يې مولوي صاحب جوړه کړې وه په دې عملياتو کې فدايان په لومړي ځل دامريکايانو په اډه ورننوتل، امريکايان يې سخت وځپل او د باوري سرچينو په استناد په دې عملياتو کې تر سلو ډير امريکايي عسکر مړه او ټپيان شول .

له همدې عملياتو وروسته په ۲۰۰۶ م کال کې د مولوي صاحب په مشرۍ دخوست ولايت په دريو ولسوالیو صبريو، باک او عليشيرو باندې په هم مهاله توګه ستر عمليات پيل شول چې دښمن ته په کې درانه تلفات واوښتل، ددې عملياتو په مهال مولوي حيدري صاحب چې دخلبيسات په سيمه کې ددښمن په پوستو په عملياتو کې برخوال و، يوځل بيا ټپي شو چې دا په جهادي ژوند کې دنوموړي شپږم ځل ټپي کيدل و، خو په دې ځل هم الله تعالی دتيرو ځلونو غوندې کامله شفاء ورته نصيب کړه.

## د کونړ ولايت د مسؤل په حيث

د ۲۰۱۲ ميلادي کال په لومړيو کې شهيد مولوي نورقاسم د اسلامي امارت د مشرتابه په فرمان د کونړ ولايت د جهادي مسؤل په حيث وټاکل شو، نوموړی له ټاکل کيدو وروسته له خوست څخه کونړ ته لاړ او په جهادي صحنه کې يې عملا د جهادي صفوفو په تنظيم او ابتکاري برنامو په تعميل پيل وکړ، په کونړ کې دغه مهال يو ستر شکايت ددښمن له جاسوسانو څخه موجود و. مولوي صاحب په ټولو ولسوالیو کې د ځانګړو خفيه ګروپونو په ګمارلو سره وتوانيد چې ددشمن ډير جاسوسان تشخيص او بيايي له مينځه يوسي، په دې سربيره نوموړي د جهادي تهاجمي عملياتو لپاره نوې طرحې وړاندې کړي چې په ډيرې سيمو کې يې ښې نتيجې درلودې. په دې لړ کې د کونړ په مروره، دانګام، اسمار، غازي اباد، مانوګي او نارۍ ولسوالیو کې ددښمن ۱۴





پوستې دمجاهدينو په عملياتو کې فتحه شوې دښمن ته په کې درانه تلفات ورسيدل او مجاهدينو ډيرې وسلې او مهمات غنيمت کړل .

د مولوي صاحب د جهادي پلانونو په نتيجه کې په ناړۍ کې دانچه ګل په نامه ددشمن مهم مرکز چې تر ۴۰ پورې ددښمن ځواکونه په کې موجود وو فتحه شو. د کونړ په دانګام کې دښمن نيت درلود ترڅو دلته يو قوي مرکزي بيس جوړ کړي، خو کله چې مولوي صاحب ددښمن له دې پلان څخه خبر شو په متقابلو عملياتو او بريدونو سره يې ددښمن د دپلان د عملي کيدو مخه ونيوله او دښمن ونه توانيد چې دلته خپل اهداف ترلاسه کړي .

په کونړ کې دمولوي حيدري صاحب د مسؤليت په مهال يوه بله مهمه بريا د ۱۳۹۲ هـ ش کال د کب مياشتې په څلورمه د غازي اباد په ولسوالۍ کې ترلاسه شوه په همدې نيټه مجاهدينو ديوه دقيق پلان له مخې د مزدورې اردو په يوه قرارګاه برید وکړ چې په نتيجه کې يې ددښمن شاوخوا ۲۵ تنه عسکر ووژل شول او ٦ تنه نور مجاهدينو ژوندي ونيول بايد وويل شي چې په دې فتحه کې اساسي کردار د هغو نفوذي مجاهدينو و چې له مجاهدينو سره يې تماس درلود او مجاهدينو ته يې د دې بيس په اړه پوره معلومات ورکړي وو .

په کونړ ولايت کې دمولوي نورقاسم بله کارنامه د خپلسرو له منځه وړل او په جهادي صفوفو کې هماهنګي رامنځته کول و نوموړي په دې لاره کې خورا ستر خدمات سرته ورسول او د ډيرو ناخوالو مخه يې ونيوله.

هغه غوليدلي افغانان چې ددښمن په ملکي او نظامي اداراتو کې يې وظايف اجراء کول مولوي صاحب ټولو ته دعوت ورکړ او حتی خطونه يې ورته واستول ترڅو له دې کار څخه لاس واخلي په دې لړ کې په سلګونو کسان د ډاډ له حاصلولو وروسته ددښمن له ليکو راووتل او خپل عادي ژوند ته ستانه شول. دمولوي نورقاسم صاحب د مسؤليت په مهال په کونړ ولايت کې د دعوت والارشاد / جلب او جذب پروسه په خورا بريالیتوب سره روانه وه ، په دې لړ کې يوازې دکونړ په شيګل ولسوالۍ کې ۱۲٦

تنه هغه کسان چې پخوا يې ددښمن په صف کې دنده اجراء کوله مجاهدينو ته تسليم شول او له دښمنۍ څخه يې لاس واخيست .

د ولسمشرۍ د دريم ځلي انتخاباتو په لومړي پړاو کې مولوي صاحب نورقاسم د لومړني مسؤل په حيث خپله په صحنه کې و نوموړي له انتخاباتو لس ورځې وړاندې د کونړ ولايت مختليفوسيموته سفر وکړ ترڅو ددښمن دغه پروسه شنډه کړي نوموړي په درست کونړ کې د انتخاباتو د شنډولو لپاره يو مؤثر پروګرام جوړ کړ، ټولو مجاهدينو ته يې قومنده ورکړه چې دانتخاباتو په ورځ د سهار له پنځو بجو څخه ددښمن په مراکزو، پوستو، د ولسوالیو په مراکزو او نورو دولتي اماکنو باندې بريدونه پيل کړي. ددې عملياتو په لړ کې د ورځې په اوږدو کې په کونړ ولايت کې مجاهدينو ۷۰ لوی او واړه بريدونه په دښمن ترسره کړل، چې په نتيجه کې يې ددښمن ۸۸ تنه عسکر، اربکيان او منسوبين له منځه لاړل او ګڼ نور ټپيان شول او په دې توګه په دې ولايت کې دانتخاباتو غربي منحوسه پروسه په بشپړه توګه شنډه شوه .

## د مولوي نورقاسم شهادت

د ۱۳۹۳ هـ ش کال د دحمل د مياشتې په اتلسمه نيټه مولوي نورقاسم حيدري چې له خپلو څو تنو ملګرو سره د کونړ د شيګل ولسوالۍ په مربوطاتو کې روان و او نيت يې و چې دکونړ ولايت له نورو جبهاتو څخه ليدنه کتنه وکړي، ناڅاپه دامريکايي بي پيلوټه الوتکې تربريدلاندې راغی چې په نتيجه کې يې مولوي نورقاسم حيدري له خپلو دريو تنو مجاهدو ملګرو مولوي عبدالکريم جانباز ، منصور او حميدالله سره يوځای د شهادت لوړ مقام ته ورسيد .

انا لله وانا اليه راجعون

مولوي صاحب نورقاسم خپل همیشني ارمان ته وصل شو او د شهادت په ابدي سفر لاړ او ترشا يې شپږ اولادونه ۳ زامن او ۳ لونې پريښول . رحمه الله تعالی





## خاطرې او د شخصيت ځانګړتيا

د شهيد مولوي نورقاسم يو ملګری مولوي احرار وايي : له امريکايانو څخه د هجرت د ژوند په مهال زه او مولوي صاحب حيدري په يو کور کې اوسيدلو، چې هغه کور په دوو برخو مشتمل و، په يو حصه کې يې زه اوسيدم او په بله کې يې حيدري صاحب اوسيدلو، يوه ورځ حيدري صاحب په جهادي سفر ولاړ، دراستنيدو پرمهال په لاره کې دمنافقانوتر برید لاندې راغی چې حيدري صاحب په سر دسترګو د کونجو په هډوکو ټپونه وخوړل، خو الله B يې سترګې له ړندیدو وساتلې، او په همدې سفر کې يې چيرته په يوه روغتون کې ديوڅه مودې درملنې لاندې وو، کله چې کور ته راستون شو، زه له دې ناخبره وم چې حيدري صاحب ته مشکل پيښ شوي دي،هسې د پوښتنې په نيت مي د کور دروازه وروټکوله مولوي حيدري صاحب په دروازه کې سر رابهر کړ ګورم چې ډير سخت ټپي ده، ما ورته وويل چې دا ولې؟ ده کيسه راته وکړله، چې په لار کې دمنافقينو لخوا ټپي شوم، اوس دمجلس طاقت نلرم، ما ورته وويل چې ځه ولاړ شه آرام وکړه، ځکه ډير زيات په تکليف و، په لمانځه کې يې دسجدې داداء کولو توان او طاقت نلرلو، کله چې راتلونکي شپه تيره شوه، نو سهار مې پوښتنه پرې وکړه، چې اوس به څنګه وي دروازه مې ووهله چې کله بيرون راووتلو ما ترې وپوښتل چې څنګه يې؟ ده په ځواب کې راته وويل: چې نن جوړ يم، او راته ويې ويل چې بيګا شپه مې خوب وليدلو چې مفتي محمد فريد V ( د دارالعلوم حقانيه مفتي او شيخ الحديث )په خوب کې راغلو او راته ويې ويل: چې صبا به جوړ يې، دحيدري صاحب په وينا چې سهار له خوبه راپاڅيدم چې کله په لمانځه ودريدلم بس جوړ تيار وم سجده مې هم وکړله او پخوا مې سجده نشوای کولای، هيره دې نه وي، چې حيدري صاحب دمفتي محمد فريد V مريد او مسترشد وو، او دطريقت تر شپږم سبق پورې وظائف يې سرته رسولي وو.

د اسلامي امارت د واکمنۍ په مهال د رياست الوزراء مرستيال او ختيځ زون تنظيمه رئيس مولوي عبدالکبير صاحب وايي :

مولوي نورقاسم زړور او متواضع شخص و، د خوست په سطحه له مقدمو مجاهدينو څخه حسابېږي چې نه يوازې په خپله سيمه صبريو کې ستر جهادي خدمتونه وکړل بلکې په درست خوست ولايت کي يي د جهاد په پراختيا کې ستر رول درلود، په کونړ ولايت کې دمسؤليت په مهال هم مجاهدين ترېنه خوشاله و، نوموړی د کافر په مقابل کې سخت او نه ماتيدونکی او دمسلمان په مقابل کې متواضع و، دمشر لپاره مناسبه وي چې په سخته مرحله کې خپله ځان مقاومت ته وړاندې کړي، لکه رسول الله H چې د حنين په غزا کې په سخته مرحله کې مستقيم پاته شو، ټول صحابه په شا لاړل خو رسول الله H ځان قربانۍ ته وړاندې او ثابت پاته شو، په مولوي نور قاسم صاحب کې همدا دايثار او فداکارۍ صفت موجود و.

د خوست ولايت اوسيدونکی شيخ الحديث مولوي افضل حسين صاحب د مولوي صاحب په اړه دوه ليدلي خوبونه داسې بيانوي : يوځل مي ليدل چې له مولويصاحب نه شاوخوا ډير زمريان تاو وي ټول دده پيره کوي مولوي صاحب له يوه زمري سره پنجه اچولي وي خو دزمري پنجه تري لاندې وي او داسې ښکاري چې زمری ورته تسليم وي.

دوهم دا چې په خوب کې گورم چې يو صندوق وي دمولوي صاحب يو مخالف دښمن يې دخلاصولو هڅه کوي نو څوک په خوب کې ورته ووايې چې دا دنبي کريم صلی الله عليه وسلم له طرفه محترم مولوي صاحب ته تحفه ده بل چا ته يې دخلاصولو اجازه نشته.

يو بل ملگری چې بيخي يې مولويصاحب ليدلی نه و، کله يي چې دکونړ ولايت په وروستۍ نشر شوې ويډيو کي مولوی صاحب وليدلو نو له يوه بل ملگري څخه يې وپوښتل چې دا څوک ده چې غږيږي هغه ورته وويل چې دا مولوي نورقاسم نومیږي په قوم صبری د خوست اوسيدونکی دی او اوس دکونړ ولايت جهادي مسؤول دی. هغه ورته وويل: چې قسم بالله څه وخت مخکې مې همدغه سړی له رسول الله صلی الله عليه وسلم سره په خوب کې څنگ په څنگ ليدلی وو.





د مولوي صاحب اقتصادي ژوند درست عمر د فقر او غربت ژوند و، دبيت المال له پيسو سره يي سخت احتياط کاوو، مولوي احرار وايي کله چې دامريکايانود يرغل په اوائلو کې مولوي صاحب هجرت ته اړ شو نو د هجرت په ژوند کي يي په يوه داسې خونه کې اړولي وو چې بيخي داوسيدو قابله نه وه، په همدې وخت کې به يي د ډوډۍ پخولو لپاره په خپله شا له غره څخه د مزرو او کيکرو گيډۍ راوړلې او کله به چې ځينې مجاهدين ملگري ورسره ميلمانه شول، نو په کور کې يي يوازې يو چاينک وو چې په هغه کې به يې چای جوشاوو هم او ميلمنو ته به يې هم پکې راووړ، نو کله به چې چای ختم شو چينک به يې کور ته يووړ بيا به يې چای جوشولو او ميلمنو ته به يې راوړلو، هغه مهال چې مولويصاحب دخوست ولايت جهادي مسؤليت په غاړه درلود بيا يې هم په خپله له غره څخه خس راوړل.

مولوي صاحب ظاهرا غريبانه او فقيرانه ژوند درلود خو نوموړي دايمان په پانگه غني او الله تعالی ورته لوی جرأت او اخلاص ورکړی و. مولوي احرار وايي : يو ځل ديو موټر بم جوړولو لپاره د څلور ټنه باروتو جوړولو او انتقالولو کار و ملگري ډير وو خو شهيد مولويصاحب په خپله په کار مصروف و، ملگرو ډير اصرار پرې وکړ چې ته کار مه کوه مورِ ډير يو، يوه سرگروپ ورته وويل چې هرڅومره ملگري دې پکار وي دکار لپاره له ما يې واخله خو ته کار مه کوه، شهيد حيدري صاحب ورته په ځواب کې وويل: چې زه هم دثواب دحصول لپاره راغلی يم، آخر هغه دلگی مشر هم له محترم مولويصاحب سره په کارپيل وکړ.

مولوي احرار د شهيد حيدري صاحب د جهادي تاکتيکي بريدونو په اړه وايي : دمحترم مولوي صاحب په قيادت کې يو ځل مجاهدينو دخوست ولايت صبريو ولسوالی کې يو کور څو ورځې موقتا داسې معرفي کړ لکه د مجاهدينو مرکز چې وي، يو موټر بم يې جوړ کړ، او دهمدې کور په منځ کې يې ودرولو، او اطاقونو ته يې گڼ شمير بوټونو چپلکې او څپلۍ کيښودلې او يو فدايې ملگری دننه په اطاق کې ناست و، چې د موټر بم شارټي مزی ورسره و ، دشپې چې کله په دوو درو چورلکو کې امريکايان

د چاپې لپاره راغلل اوټول کور ته داخل شول چیغې یې وهلې چې تسلیم شئ وسله پرزمکه کیږدئ، په دغه وخت کې استشهادي مجاهد موټر بم ته انفجار ورکړ، چې په لسهاوو امریکایې عسکر پکې مړه او ټپیان شول وروسته نور امریکایان ددغو مړو او ټپیانو دانتقالولو لپاره راغلل ملګرو له وړاندې له کور نه دماینونو حلقه تاو کړي او ټول یې په داسې ترتیب برابر کړي وو چې یوځای انفجار وکړي، کله چې امریکایان دمړو او ټپیانو په پورته کولو بوخت شول دملګرو له لوري ماینونو ته انفجار ورکړل شو چې په دې کې هم ښه پریمانه امریکایان مردار شول، دعیني شاهدانو په وینا په دغو کامیابو عملیاتو کې دامریکایانو مړه او زخمیان له سلو اوښتي وو.

د مولوي نور قاسم صاحب د جهادي ژوند خاطرې او کارنامي خورا ډیري دي ، چې د ټولو یادول ددې لیکنې د توان خبره نه ده ، الله تعالی ته سوال کوو چې ددې رښتیني مجاهد او دحق سنګر د رښتیني ساتونکي قرباني او خدمات په خپل دربار کې قبول کړي او برکات یې په کورنۍ او ملګرو جاري ولري .

آمین یا رب العلمین

❊ ❊ ❊





## د شهید ډاکټر عبدالواسع عزام جهادي ژوند ته لنډه کتنه

لیکنه:قاري محمد یونس راشد

هوکې : شهید الحاج ډاکټرعبد الواسع عزام V شهید شو. شهید حاجي ډاکټر صاحب تقبله الله دابدي ژوندپه لور یون پیل کړ، هغه به دشهادت دنبټې څخه دابد لپاره دهر راز ستونزو څخه بیغمه وي نور به هغه ستوماني نه لري نور به دښمن ونه توانیږي چې هغه دوحشتونو په زندان کي زنداني کړي نور به شهید ډاکټر عبدالواسع عزام V دخپلو زندانې وروڼو او خویندو په کړیکو ونه ځوریږی ځکه هغه اوس داسي دار ته ولاړ چې هلته نور ځورول نشته هلته غم نشته هلته د رښتینو مؤمنانو لپاره ټوله دنیاوي غمونه دردونه په بې پایانه رحمت ، جنتونو او خوښیوبدلیږي.

شهید حاجي ډاکټرصاحب دشهیدانو دسپیڅلي کاروان ملګری شو هغه اوس د نورانیت دقافلې لاروی شو ، امید مودی انشا ءالله چې هغه به اوس دالهي خطاب دا شرف ترلاسه کړی وي چې : یا ایتها النفس المطمئنة ارجعي الی ربک راضیة مرضیة ، فادخلي في عبادي وادخلي جنتي .

قهرمان شهید الحاج ډاکټر عبدالواسع عزام V د اسلامي امارت یو له هغو پیاوړو قوماندانانو څخه و چې له تنکۍ ځوانۍ څخه بیا تر شهادته پوري یې د اسلام له مقدس دین او مظلومو مسلمانانو څخه دفاع وکړه او په جهادي ژوند کي یې هر ډول ستړیاوو او تکالیفو ته سینه سپر کړه.

شهید حاجي ډاکټرصاحب په سپیڅلي جهادي روحیه، پوره اخلاص او مدبرانه مشرتوب د مجاهدینو د ښه نظم او نسق او نظامي تربیې په برخه کي پراخي هلي ځلي

وکړي او په ډېرو سختو حالاتو کي يې په ټينګ عزم او پوره استقامت جهادي خدمتونه ترسره کړل.

**پېژندنه :**

اتل شهيد ډاکټرعبدالواسع عزام د١٣٨٦ هجري قمري کال د جمادي الثاني د مياشتي په ١٥ نېټه د کندهار ولايت د پنجوايي ولسوالۍ د سپېروان د سيمي د حاجي عبدالباقي صاحب په ديندارە کورنۍ کي وزېږيد.

**زده کړه :**

شهيد حاجي ډاکټر صاحب د خپل عمر په اووه کلنۍ کي ديني زده کړي په پنجوايي کې دخپل کلي په مسجد کې پيل کړې. نوموړی لا تنکی ځوان و چې د وحشي روسانو سرو لښکرو پر گران هيواد يرغل وکړ او د نورو مظلومو افغانانو په شان د ډاکټر صاحب کورنۍ هم هجرت وکړ. ډاکټرصاحب په دارالهجره کي خپلو د يني زده کړو ته دوام ورکړ، دغه مهال نوموړي دبلوچستان په پنجپای کمپ کې په مدرسه افضليه کې تر څه موده ديني زده کړې ترسره کړې مگر د نوموړي په زړه کي د جهادي ولولو غورځنګ او پاک احساس دې ته اړ کړ تر څو خپلې زده کړي همداسي نيمګړي پرېږدي او د نورو مجاهدينو وروڼو سره يو ځای د سپېځلي جهاد گرمو سنګرونو ته ولاړ شي .

ځرنګه چې هغه مهال په جهادي ليکو کي زيات شمېر مجاهدين زخميان کېدل او د نورو اسبابو تر څنګ يوه داسي کس ته هم اړتياوه چې د جګړې د ډګر زخمي مجاهدين معالجه او تداوي کړي نو مجاهدينو د شهيد حاجي ډاکټر صاحب د هغه ځانګړي استعداد او ذکاوت له مخې چې لوي الله B دی پرې نازولی و دغه خدمت ته انتخاب او طبي زده کړو ته وهڅاوه، همدا و چې حاجي ډاکټر صاحب د همغه مهال ضروروي طبي زده کړي بشپړي کړې او ديوه ابتدايي معالج ډاکټر په





حيث يې دسنګرونو د زخمي مجاهدينو په خدمت پيل وکړ او دا دنده يې په پوره اخلاص او ديانت ترسره کړله .

**جهاد او مبارزه يې :**

شهيد ډاکټر عبدالواسع عزام لا نوی ځوان و چې د سرو لښکرو سره يې د مقابلې ډګر ته ور ودانګل او د کندهار په سنګحصار کي يې د مرحوم فيض الله اخندزاده صاحب په جبهه کي په جهاد پيل وکړ، دده جهادي تربيه او روزنه پداسي يوه جهادي جبهه کي وسوه چې د اسلامي امت نامتو غازيان او د سپېځلي جهاد مشران يي غړي و لکه د اسلامي امارت زعيم عاليقدر اميرالمومنين ملا محمد عمر مجاهد V ، الحاج ملابرادراخند حفظه الله او يو شمېر نور مشران .

په جهادي صفوفو کي له څه مودې نظامي خدمتونو وروسته د جبهې د مشرتابه لخوا د جګړې په ډګر کي د زخمي مجاهدينو د علاج او تداوي لپاره د مجاهدينو د طبي زده کړو و مرکز ته ور وپېژندل شو، نوموړی د طبي زده کړو له فراغته وروسته خپل جهادي سنګر ته ستون شو او سمدلاسه يې په عملي توګه د زخمي مجاهدينو په خدمت پيل وکړ ددې تر څنګ يې په فارغه وخت کي د سيمې د عامو مسلمانانو سره په پراخه او نه ستړي کيدونکي ډول روغتيايي مرستي کولې او دغي سپېځلي دندي ته يې تر هغو پوري دوام ورکړ تر څو د شر او فساد، نا امنيو او ناوړه حالاتو څخه د مسلمان ملت د نجات او خلاصون په موخه د طالبانو اسلامي تحريک ظهور وکړ .

**د طالبانو د اسلامي تحريک سره يې يو ځای کېدل:**

شهيد حاجي ډاکټر صاحب په هماغه اوائلو کي د طالبانو د اسلامي تحريک سره ملګری شو او دطالبانو داسلامي تحريک دعمومي نظامي قومندان قهرمان شهيد ملامحمد اخند په مشرۍ يې سپېځلي جهاد ته ادامه ورکړه، دغه مهال نوموړي يو سيار کلنيک جوړ کړی و چې د جګړې د ټپيانو معالجه يي کوله د هرات ولايت د فتح په درشل کي ېې د زخمي طالبانو د تداوۍ او معالجې په برخه کي نه ستړي کېدونکي

او مخلصانه خدمتونه ترسره کړه اوبيا د همدې ولايت د روغتيا رئيس او ورپسې د انحصاراتو د رئيس په توګه وټاکل شو.

د کابل ولايت له فتحي وروسته د افغانستان دسرې مياشتي د عمومي رياست د معين په توګه وټاکل شو او په دغه مهمه اداره کي يې د يو لړ مهمو اصلاحاتو او مثبتو بدلونونو په راوستلو سره خپل استعداد او قوي مديريت څرګند کړ.

شهيد حاجي ډاکټر صاحب پر دغه دنده پر افغانستان د صليبي يرغلګرو تر بريده پوري پاته و او د يرغل په جريان کي يې د امريکايي وحشيانو په بمبارد کي دزخمي سوو مظلومو افغانانو سره په خورا مېړانه او سرښندنه عاجلي مرستي وکړي .

په بمبار د کي له زخمي سوو مجاهدينو او اولسي خلکو سره يې د خپلو سيارو کلينکونو په مټ داسي چټکي او مؤثري روغتيايي مرستي کولي چي تر هر زخمي پوري به يې طبي ډله رسوله او هلته به يي تداوي کاوه. د يرغل په بهير کي يې بل لوي خدمت د هغو عربو مجاهدينو د کورنيو او ماشومانو ساتنه او بيا محفوظو ځايونو ته انتقال و چي د کور سرپرستان يې يا شهيدان او يا د جګړې په ليکه کي بند پاتي وو .

## له امريکايي يرغل وروسته يې جهادي خدمات :

له امريکايي يرغل وروسته شهيد حاجي ډاکټر صاحب په مسلحانه جهاد پيل وکړ او لومړی يې د کندهار په مختلفو ولسوالیو کي په محاربوي عملياتو او د مجاهدينو په اکمال کي برخه واخيسته چي پدې لړ کي يو ځل په ارغستان ولسوالي کي د لنډ مهال لپاره بندي هم شو.د صليبي يرغلګرو په مقابل کي په هيواد کي د جهادي عملياتو په طوفاني لړ کي شهيد حاجي ډاکټر صاحب هم په کابل، کندهار، هرات او بلخ ولايتونو کي يو شمېر لوي استشهادي عمليات پلان او ترسره کړل چي دغو ښارونو ته ده پخپله فدايان او د فدايي عملياتو لوازم رسول او تر خپل نظارت لاندي يې عمليات ترسره کول .





بايد وويل سي چي شهيد حاجي ډاکټرصاحب يو ځل د همداسي عملياتو د پلان په درشل کي په مزارشريف کي ونيول شو چي ژر تر ژره د الله B په نصرت را خلاص شو مګر د يوه بل مهم پلان د عملي کولو په لړ کي دی کابل ته رسيدلی و چي د صليبي جاسوسانو له خوا کشف او ونيول شو او بيا د اوږدې مودې لپاره بندي کړاي شو.

## شهيد حاجي ډاکټر صاحب او زندانونه :

په کابل کي له نيول کېدو وروسته لومړی د کابل د خاد رياست ته انتقال شو او تر پېژندني وروسته رياست هفده ته ولېږل شو، په رياست هفده کي د دغه رياست د رئيس ګلالي لخوا دومره تعذيبونه او شکنجې ورکول شوې چي ددغه رياست د مرستيال په خبره تراوسه هيچاته هم دومره وهل او شکنجې ندي ورکړل شوي خو د الله B په فضل ددومره فشارونو سره سره بياهم هيڅ ډول اقرار او خبره دده له خولې نه ده وتلي .

سره لدې چي حاجي ډاکټر صاحب هيڅ ډول اقرار ونکړ مګر غلامو قاضيانو بيا هم په لومړی او دوهمه محکمه کي په لس لس کاله بند محکوم کړ او په رياست هفده کي له اتو مياشتو تېرولو ورسته د پلچرخي د مرکزي زندان څلورم بلاک ته انتقال کړل شو.

د پلچرخي په څلورم بلاک کي د اسيرو مجاهدينو مشري ورترغاړي شوه او دغه بلاک يې د خپلو تکړه ملګرو په ملګرتيا په مدرسه بدل کړ او بنديانو ته يې نه هېرېدونکي خدمتونه ترسره کړل.

په پلچرخي زندان کي د شهيد حاجي ډاکټر صاحب د فعاليتونو او نفوذ له ويري د زندان چارواکو دی څو ځلي نورو زندانونو ته هم انتقال کړ چي پدې لړ کي يې د کندهار محبس، د پلچرخي نظامي يا ګوانتنامو بلاک او بيايي بګرام زندان ته يووړ.

**له زندانه خلاصون او وروستني جهادي خدمتونه :**

شهید حاجي ډاکټر صاحب په زندانونو کي مجموعاً پنځه کاله او اته میاشتي تیري کړې او د اسلامي امارت د مشرتابه په خاصه توجه له زندان څخه راخلاص شو، له زندانه تر خلاصېدو وروسته سمدستي د اسلامي امارت د مشرتابه له لوري د کندهار ولایت د ولایتي کمېسیون مسئول وټاکل شو او په دغه اداره کي یې ډېر اصلاحات او خدمات ترسره کړل چي د اسلامي امارت دمسئولینو له لوري تقدیر شول، د ولایتي کمیسیون د ریاست وروسته د مشرتابه لخواد کندهارولایت د عمومي مسئول په توګه وټاکل شو او دلته یې هم ولایتي اداره منظمه او نور ډېر خدمتونه ترسره کړل .

د کندهار د والي په حیث له ټاکل کیدو وروسته نوموړي دمجاهدینو لپاره معسکر جوړ کړ چې درې ځله له ٦٠ تر ٨٠ پورې په حربي فن سمبال مجاهدین ترې فارغ شول ، دغه راز یي په ولایتي اداره کې نور هم مثبت نوښتونه رامنځته کړل، د ملکي او نظامي ادارو جلاجلا میاشتنی مجالس او بیاپه دوو میاشتوکې مشترک مجلسونه یي پیل کړل، دکندهار د ټولو ادارو لپاره عمومي طرز العمل، دولایتي کمیسیون لپاره طرزالعمل دغه راز دمعسکر لپاره طرز العمل یي ترتیب کړل او هره میاشت یي د ټولو ادارو راپور ورکول د یوه مکلفیت په حیث عملي کړ، دغه راز یي دولایتي دندې په مهال دعمومي هیئتونو څخه پرته دولایتي اداري لخوا دکندهار مختلفو سیمو ته هیئتونه لیږل ترڅو جهادي چارې له نږدې ووینې، دولس شکایتونه واوري او دمجاهدینو مشکلات رفعه کړي .

**شهادت یې :**

د ۱۳۹۳ کال د جهادي عملیاتو له پیل مخکې د کندهارولایت د مجاهدینو دجهادي تعلیماتو پنځه ورځنی مجلس له پاي ته رسېدو سره سم شهید ډاکټر صاحب سمدستي د جهادي عملیاتو په منظمولو پیل وکړ. دغه مهال سره له دې چې نوموړی په کندهار کې دلومړني مشرمجاهد په حیث ددښمن لخوا ترسخت تعقیب لاندې و، دښمن یي حتی عکسونه ځوړند کړي و او له خلکو یي غوښتنه کوله چې دانعام په





مقابل کې دده په اړه معلومات ورکړي خو بیا هم شهید ډاکټر صاحب ددښمن دداسې تعقیب او هڅو پروا نه کوله نوموړي په پوره زړورتیادکندهار بیلابیلو ولسوالیو ته سفرونه وکړل او ترهغه وخته په جهادي سنګرونو کې پاته شوترڅو یي د شهادت غمجنه پېښه رامنځته شوه .

حاجي ډاکټر صاحب چې دجهادي دندې په مهال د یوه کرایي ډاټسن موټر د موټروان په ملګرتیا د هلمند ولایت د ګرمسېر ولسوالۍ د صفار له سیمي څخه تېرېده د همدې سیمي پولیسو لخوا د درېدلو امر ورته وشو، ځرنګه چي حاجي ډاکټر صاحب له ځان سره خپل کیوبایي توپک هم درلود دا یي هیڅکله ضمیر نه قبلوله چي له وسلې سره دي ژوندی ونیول شي ، سمدستي یې موټروان ته امر وکړ چي موټر مه ورته دروه چي پدې سره پولیسو په خپل رېنجر موټر کي دوي تعقیب کړل او رېنجر یې ددوي د موټر سره پر بغل کړ، کله چي د پولیسو رېنجر ددوي د موټر برابرۍ ته راورسېد پولیسو په خپلو توپکانو حاجي ډاکټر صاحب تهدید کړ او ورته ویې ویل چي موټر ودروئ ! حاجي ډاکټر صاحب ددوي د خبرو په جواب کي پر دوي د خپل کیوبایي توپک خوله راواړوله او په سیټ کي سپاره پولیس یې وویشتل مګر د رېنجر په باډۍ کي دوه پولیس پاته شوه، هغوي پر دوی ټکان شروع کړل، ددوي په ټکانو کي حاجي ډاکټر صاحب په پښه، لاس او نس کي زخمي شو او موټر هم له کاره ولوېد،خودښمن یې هم له پښو وغورځاوه چي دوی یې نورتعقیب نکړای شوای له څه تګ وروسته موټر ودرېد موټروان او حاجي ډاکټر صاحب په پښو یو څه تګ وکړ. وروسته حاجي ډاکټر صاحب له تګه ولوېد او موټروان ته یې وویل چي ته ولاړ شه زه نور نسم تللای ،دغه مهال چې موټروان د بل موټر د پیدا کولو او د ډاکټر صاحب دانتقال په هڅه روان شو د موټروان له تګ وروسته حاجي ډاکټرصاحب د سختو ټپونو له امله شهید شو او خپل وروستي ارمان ته ورسېد . انالله وانااليه راجعون.

د شهید حاجي ډاکټر صاحب تقبله الله له شهادت وروسته د پنجوایي ولسوالۍ د سفیدروان سیمي خلکو دده جسد را انتقال او په خپله پلرنۍ هدیره کي یې په ډېر عزت او درناوي سره خاورو ته وسپاره ، روح دي یې شاد وي.

عجیب اتفاق : دالله B شان دی چي د شهید حاجي ډاکټر صاحب مرحوم د زېږېدني او شهادت ورځي سره یو دي، حاجي ډاکټرصاحب د جمادی الثاني پر ۱۵ زېږېدلی او پر همدې تاریخ د شهادت لوړ مقام ته ورسېد ، تقبله الله

باید ووایو چې شهادت د ډاکټر صاحب ډیر پخوانی ارمان و، شیخ مولوي حبیب الله صاحب وایي چې ډاکټر صاحب یو وخت په داسې حال کې چې یوازې زه او دی په اطاق کې ناست و راته ویي ویل چې شهادت مې ډیر لوی ارمان دی باور وکړه لکه خلک چې د واده شپې ته څومره خوشالېږي زه تر هغه زیات شهادت ته هوسېږم.

د ملګرو یو څو خاطرې :

د شهید حاجي ډاکټر صاحب تقبله الله جهادي ژوند د جالبو خاطرو یوه مجموعه ده چې دهر ملګري سره یې په زړه کي خوږې خاطرې نقش دي، د ټولو خاطرو ذکر کول یوه لوي کتاب ته ضرورت لري مګر د لتـه یې د ځینو ملګرو بعضې خاطرې د نمونې په ډول وړاندي کوو :

د شهید حاجي ډاکټر صاحب خاص ملګری الحاج حافظ بسم الله صاحب چې په زندان کي یې هم په کلونو ملګرتیا ورسره کړې د زندان څو خاطرې داسي راته وایي :

مدرسه : د شهید حاجي ډاکټر صاحب له خوږو خاطرو څخه زما دا یوه خاطره ډېره په زړه کي ده چې کله دی د پلچرخی زندان څلورم بلاک ته راوستل شو په دغه بلاک کي یې بندیانو ته د نورو خدمتونو تر څنګ یوه منظمه مدرسه هم جوړه کړه او دزندان دغه بلاک یې کاملا د مدرسې په شکل واړاوه، دلتـه لـه لسو زیاتو استاذانو درس کاوه او د سلګونو ډول ډول کتابونو تر څنګ یې د دغه مدرسې ټول ضروري لوازم ورته مهیا کړل. باید ووایم چې ددغه مدرسې څخه په لسګونو حافظان او قاریان





فارغ شوي او ګڼونورو طالب العلمانو پرې خپله علمي تنده ماته کړېده، د نورو طالبانو تر څنګ خپله حاجي ډاکټر صاحب هم له دغي مدرسې څخه عظیمه استفاده وکړه، قرانکریم یې ټول په قرائت او تجوید زده کړ او د ازادي مطالعې تر څنګ یې یو شمېر نور درسي کتابونه هم ولوستل، دغه مدرسه اوسه هم فعاله ده او له کتابو څخه یې ددغه بلاک تر څنګ د نورو بلاکونو بندیان هم استفاده کوي .

**تقوی :** حاجي ډاکټرصاحب شهید ډېر متقي او همېشنی عابد و، زما په زندان کي نه یادېږي چي ده دي د تهجد لمونځ قضاء کړئ وي ، هره هفته به یې صلاة تسبیح لمونځ اداء کاوه حتی ځیني وختونه به یې هره ورځ هم کاوه، د قرانکریم تلاوت یې خپل عادت جوړکړئ و، په ملګرو کي مشهوره وه چي کوم ملګری به په عبادت کي کمزوری و؛ ویل به یې څم د حاجي ډاکټر صاحب سره په اطاق کي ملګری کېږم تر څو د عبادت رنګ ورځخه واخلم .

**ایثاراو سخاوت :** شهید حاجي ډاکټر صاحب ډېر سخي و،څرنګه چي ده ته ډېر پایوازان راتلل او ډېر شیان یې ورته راوړل ده به ټول تقسیمول. حتی پداسي وخت کي هم چي ده به ډېر ضرورت ورته درلود. کله چي یې موږ د بګرام زندان څخه بیرته پلچرخي زندان ته راوړو نو له دغو ملګرو سره نه پیسې وې او نه کوم بل د ضرورت شی، بندیان حیران وو چي خپل ضرورتونه څنګه پوره کړي، حاجي ډاکټر صاحب د بلاک کانتین والا را وغوښتی او ورته ویې ویل چي ورسه د بګرام څخه د را وستل سوو ټولو بندیانو پراطاقو وګرځه او ورته ووایه چي هر شي ته مو ضروروت وي راته ووایاست زه یې درته راوړم او ټولي پیسي حاجي ډاکټر صاحب راکوي، کانتین والا همداسي وکړل او په پای کي ټولي پیسې حاجي ډاکټر صاحب ورکړې .

سرشاري اوجرئت : د حاجي ډاکټر صاحب له خوږو خاطرو څخه یوه مي دا ډېره یادېږي چي ده به د زندان او د حکومت له لوړپوړو چارواکو سره هر وخت د بندیانو دحقوقو د دفاع په خاطر په ډېر جرئت سره خبري کولي او په خبرو کي یې هیڅ ډول تنزل نه ښکاره کاوو، همدا علت و چي هر وخت به دی مرحوم جزایي او کوټه قلف و.

**خاصه خاطره :** يو ځل مي له حاجي ډاکټر صاحب شهيد څخه وغوښتل تر څو زما د ملګرو د يادګارونو په کتابچه کي خپل يو يادګار راته وليکي ده د يادګار په پيل کي خپل ادرس داسي ليکلی وو : اوسنی ادرس : پلچرخی زندان څلورم بلاک ، دايمي ادرس : جنت الفردوس لوړ منزلونه ...

په اسلامي امارت کې دهرات پخوانی والي او بيا دفوايد عامي وزير مولوي احمدالله مطيع وايي:

شهيد ډاکټر صاحب زه له ډيرکشرتوبه پيژنم په يوه مدرسه کې مو درسونه سره ويلي دي له هغه وخته ډاکټر صاحب ډير لوړ اخلاق درلودل اوډيرخواريکښ سړی و له جهاد سره يې ډيره زياته مينه وه دتعلقاتو په ټينګولو اوپاللو کې يي خورا ښه مهارت درلوددااسلامي امارت په استازيتوب به يې له ډيرو خطرناکوجهتونوسره تماسونه ټينګول او بيا به يې دملاقاتونو لپاره زمينه سازي کوله او له خطره ډک سفرونه يي کول ،ډيرزړور انسان وحتی په دا اوسني جهاد کې به هغو کسانو چي دډاکټر صاحب له جهادي فعاليتونونه به خبر وو له ده سره به يې په يوه موټر کې سفر کولو ته زړه نه ښه کاوو ځکه چي شهيد ډاکټر صاحب به په خپل موټر کې نظامي مواد لکه منفجره توکي او وړه وسله يوه اوبله خوا انتقالوله او دمجاهدينو مراکزو ته به يې رسول زه چي يې په شهادت خبر شوم نوډير زيات غمګين شوم الله تعالي دي جنتونه ور په برخه کړي .

دشهيدډاکټرصاحب يو جهادي ملګری اغاجان وايې :

شهيد ډاکټر صاحب به په جهادي کارونو کې خورا ښه تکتيکونه کارول يوځل يې ماته داستشهادي بريد لپاره يو جوړ شوی اوله منفجره موادو ډک شوی ټونس موټرپه لاس را کړ چي دکندهار په ښار کې يې خوندي کړم ما هم دسيمټي خښتو دجوړولو په يوه کار خانه کې ودراوو هلته کارګرو او ځوانانو به زياتره وخت پتي ( قطعې ) سره کولي ډا کټرصاحب ماته وويل ته يې هم ور سره کوه او ټوکي ټکالي هم ور سره کوه، چي شک وانخلي. که څه هم زما زده نه وې ،خو پري ور ګډ شوم او دري ورځې مې هلته تيري کړې خو دغه خلک راباندې پوه نه شول همدا رنګه موږ ښه ډير وخت





دکندهار په ښار کې تير کړ په هغه وخت کې به دګوډاګی اداري چارواکو اکثره سرف موټر کارول شهيد ډاکټر صاحب هم سرف موټرددې لپاره واخست، چي هرځای يې پوليس ونه دروي اودچا توجه جلب نه کړي او موږ ته به يې ويل چي ښه لوکس او جديد لباس اغوندئ، تر څو څوک پوه نشي چي موږ مجاهدين يو همداسي موکول ډاکټر صاحب به را سره و او ښه ډير وخت موپه ښار کې دننه جهادي فعاليت وکړ.

حاجي خليل د ډاکټر صاحب دجرئت او تدبير په اړه وايي :

شهيد حاجي ډاکټر صاحب له مهماتو ډک مازدا موټر په لاس راکړ او دی خپله تر مخه په ټونس کي روان و، کله چي دکندهار ښکارپور بازار ته ورسېدو هلته عسکرو سخته تلاشي کوله، زما مخکي يوه کرولا وه او د هغه مخته د ډاکټر صاحب ټونس روان و، عسکرو د حاجي ډاکټرصاحب موټر له تلاښې وروسته ايله کړ او روان سو کله چي کرولا تلاښي ته ودرېدل ما فکر وکړ چي تلاښي هم سخته ده او حاجي ډاکټر صاحب هم ولاړ، دده د خبرولو لپاره مي د مازدا غټ هارن وواهه ، عسکر راغی او خوشکه يي راته وکړه چي ته په هارن له تلاشی څخه ځان خلاصوې ؟ ده لا خوشکه نه وه خلاصه کړې چي حاجي ډاکټر صاحب راغی او له عسکر څخه يې پوښتنه وکړه چي څه کيسه ده ؟ عسکر ورته وويل چي دا موټروالا په هارن ځان له تلاښی څخه خلاصوي. حاجي ډاکټر صاحب وويل هو دا خلکو لوی لوی موټران را رهي کړي وي او لوی لوی هارنونه هم وهي ، ددوي د لاسه خلک په کورو کي خوب نسي. کولای، ډاکټر صاحب ماته سخت بدرد وويل او تر ګريوان يې ونيولم له موټر څخه يې راشوه کړم او څو چپلاخي يې ووهلم او بيا يې موټر ته ور پوري وهلم او راته ويې ويل چي زه حرکت وکړه. عسکر هک حيران پاته دی او ماحرکت وکړ اوپه دي ډول مو موټر له تلاشي خلاص اوتير کړ، لږ چي ولاړو حاجي ډاکټر صاحب شهيد په هنداره کي راته وکتل او خندل يې . . .الله تعالی دي ورځخه راضي سي ډېرجرئتمند او دلاوره مشر وو

قاري محمد يونس راشد وايي :

اخلاص : زه د حاجي ډاکټر صاحب لـه اخـلاص څخـه ډېـر متـأثر وم، چـي کـوم جهادي خدمت به يې کاوه په مخ کي د پرتو ستونزو، خطرونو او سترياوو هيڅ پروا يې نه کول. يو ځل يې څوتنه علماء د يوه طرزالعمل د تسليمولولپاره دعـوت کړيـوه، دغـه طرزالعمل بايد د اسلامي امارت د يو شمېر لوړپوړو مسئولينو په حضـور کـي دوي تـه سپارل سوی واي مگر تصـادف داپـښې سـو چـي پـه کومـه ورځ دا طرزالعمـل علـماوو تسليماوه په هماغه ورځ حاجي ډاکټرصاحب بل مهم مجلس هـم درلـود، نولـه همـدې امله دواړه مجالس کول ناممکن و . حاجي ډاکټر صاحب علماوو ته وويل چـي د شـپې پر درو بجو سفر لرو، د سهار لمونځ هلته کوو او لمانځه وروسته ستاسـو مجلـس کـوو چي مجلس خلاص سي زه خپل بل مجلس دائروم ( بايد ووايو چـي ددواړو مجلسـونو د موقعيتونو تر منځ نژدې سل کېلومتره لار وه چي ډېره برخه يې خامه او خرابه هـم وه ) کله چي داخبره علماوو واورېده سخت حيران سوه چي والي وگوره او دشـپې پـر دريـو بجو دومره ليري ځاي ته تگ ؟ لکه چي حاجي ډاکټر صاحب ويلي و همـداسي د شـپې پر دريو بجو راغلی، يو ملگری ورسره و هغه موټر چلاوه موټر هم بې اسناده و، ما ورتـه وويل چي حاجي ډاکټر صاحب دا وخت خطرناکه دی او موټر دي هم بې اسـناده دی، سهار وختي ولاړ سه، ده وخندل او په پوره جرئت يې وويل چي ان شاء الله شـی نسـته، پداسي حال کي يې خداي په امانی واخيست چي پر څېره يـې موسـکا او اطمينـان لـه ورايه ښکارېدل، همداسي يـې دواړه مجلسـونه وکـړل، اوس مـي هـم دده دهغـه شـپې خندانه څېره ترسترگو گرځـي، الله دي ورځخـه راضي سي او جنـت الفـردوس دي يـې ځاي سي آمين.

قاري سعيد وايي ډاکټر صاحب خپل دبندي کيدو او په زندان کې دگـوزارې پـه اړه خپل نظر داسې راسره شريک کړ:

ما به له ډير وخته دا ارمان کاوو چې الله تعالی ددينې علومو دزده کړې، يا د دين دخدمت لپاره الله تعالی يو ښه ارام ماحول راته برابر کړی وای، ترڅو مې دښـو ملگـرو په ملگرتيا کې ديني علوم لوستي وای .





کله چې په پل چرخي کې بندي شوم نو سره له دې چې ظـاهرا مـوږ بنـديان بلـل کيدلو خو هلته ملگرو په خپل همت او کوښښونو سره دزندان فضاء داسې جـوړه کـړې وه، چې موږ تر يې مثاله فايده واخيستله .يقينا که څوک وغواړي، لـه هـرډول حالـت څخه دخپل دين او دنيا دخير لپاره گټه اخيستلای شي، زندان که څه هم نوم يې ډيـر بد دی، خو که مؤمن او مجاهد بنديان کوښښ وکړي له همدې زندان څخه هم ددينې خدمت ډگر جوړولای شي .

موږ په پل چرخي کې دملگرو دهمت، اتفاق او تفاهم په برکت دخپلو اوسيدو په ځای (څلورم بلاک) کې يوه منظمه مدرسه جوړه کړې وه ، دامدرسه چې پـه پيـل کـې دبغلان ولايت داوسيدونکي ملاجنت گل اخند په کوښښ بانـدې پيـل شـوه، وروسـته ملگرو په خپلو هڅو سره ټول فرش او ظرف، لکه دکتابونو ميزونه، الماری، پردې د ۱۵ استادانو لپاره تدريسي او دمطالعې کتابونه، دغه راز د ۱۲۰ طالبانو او تر ديـرش ډيـرو حافظانو لپاره کتابونه او قرانکريمونه برابر کړل، مدرسې دنورو مدارسـو غونـدې سـم منظم فعاليت کاوو، لومړی يې دجلال اباد مولوي محب الله مهتمم وو، له هغه وروسه دغزني مولوي محمدعثمان او وروسته بيـا دننگرهـار مولـوي روح الامـين يـې مهـتمم وټاکل شو .

دغه راز موږ يو لوی کتابتون هم جوړ کړی و چې تقريبا ددری لکو روپو کتـابونو مو راغونډ کړي و او ملگرو به مطالعه کول دځلورم بلاک سربيره دوهم ، دريم او اووم بلاک سره مو هم دکتابونو مرسته کوله .

دپل چرخي زندان په څلورم بلاک کـې يـوه انـدازه بهـرني غيرمسـلم کسـان هـم بنديان وو چې په دوی کې زياتره افريقايان وو، يو تن دانگلسـتان اوسـيدونکی هـم پـه کې و دوی اکثره نصرانيان يا يهود وو، ددې لپاره چې مـوږ دخپلـو ملگـرو سربيـره دې غيرمسلمو کسانو ته فايده رسولي وه نو دهغوی دعوت او اسلام ته رابللو ته مـو خـاص توجه وکړه، دوی ته مو داسلامي معلوماتو انگريزي کتابونه او ثبـت شـوي فيتـې پيـدا کړې، چې په نتيجه کې يې په دوی کې څو تنه داسلام په مقـدس ديـن مشرف شـول،

چې دا زمونږ لپاره يوه بله لويه لاسته راوړنه وه، د دوی داسلام راوړلو په مناسبت مو په زندان کې مراسم جوړ کړل، چې ټولو ملګرو ورته مبارکي وويله دغه راز يې څه نقدي پيسې او نور تشويقي شيان هم ورته اهداء کړل .

نو پل چرخي سره له دې چې زندان و خو زما په شمول ډير وملګرو ترې ديوې مدرسې کار واخيست، ماخپله دنحو، اصولو،ادب او نورو ديني علومو ګڼ کتابونه په پل چرخي کې ولوستل .

د يادونې وړ ده چې د شهيد ډاکټر عبدالواسع صاحب لخوا ليکل شوي د زندان خاطرت په کتابي بڼه هم چاپ شوي چې عنوان يې دی( د زندان خاطرې او تجربې) چې په کې يې د زندان خاطري او ګټورې تجربې خوندي کړي دي.

الله تعالی دې په شهيد ډاکټر صاحب ورحميږي او کورنۍ ته دې يې صبرجميل، اجر عظيم او نعم البدل ورنصيب کړي .

رحمه الله تعالی

❊ ❊ ❊





## د شهيد ملا عبدالرحمن آخند ژوند ته کتنه

ليکنه: قاري سعيد

د ۱۴۳۵ هـ ق کال د ذوالقعدة الحرام مياشتې په ۲۸ مه نيټه د فراه ولايت په بکوا ولسوالۍ کې د دښمن په يوه هوايي برید کې د هرات ولايت لپاره داسلامي امارت عمومي جهادي مسؤل ملا عبدالرحمن آخند له خپلو شپږو تنو نورو ملګرو سره په شهادت ورسيد.

دا په همدې کال کې داسلامي امارت دريم ولايتي مسؤل/ والي و چې دجهاد په تاوده ډګر کې د شهادت لوړ مقام ته ورسيد، تردې وړاندې د کونړ ولايت والي مولوي نورقاسم حيدري او دکندهار ولايت والي ډاکټر عبدالواسع عزام هم په جهادي ډګر کې په شهادت رسيدلي و،په دې ليکنه کې مو د شهيد ملا عبدالرحمن آخند ژوند ته ځغلنده کتنه کړې هيله ده چې راسره ويې لولئ .

### شهيد ملا عبدالرحمن آخند

الحاج شهيد ملا عبدالرحمن آخند چې په (نيکه) سره يې شهرت درلود د ملامحمد هاشم زوی د ملامحمد رسول آخند لمسی په قوم پښتون /نورزی په ۱۳۹۷هـ ق کال د فراه ولايت د بکوا ولسوالۍ په چيچه سيمه کې په يوه ديندارە او علم دوسته کورنۍ کې زيږيدلی .

د نومورې پلار ديني عالم و، چې له خورا کشرتوب څخه يې په نومورې ديني درسونه پيل کړل.ابتدائي ديني زده کړې يې په خپل کور کې له خپل والد صاحب څخه ترسره کړې او بيا د بکوا ولسوالۍ د غازي اباد په سيمه کې د مشهور عالم شيخ الحديث مولوي محمد حسين صاحب مدرسې ته لاړ. په دې مدرسه کې له ډيره موده درس لوستلو وروسته د هلمند ولايت ته لاړ ، د هلمند په نوزاد ولسوالۍ او دپاکستان

دبلوچستان ایالت په پنجپای سیمه کې یې په مختلفو مدارسو کې دیني زدکړو ته دوام ورکړو. نوموړي خپله ددیني زده کړو لړی پنځمې درجې ته رسولې وه، چې په افغانستان کې دشراو فساد په خلاف دطالبانو اسلامي تحریک پیل شو، هغه مهال چې طالبانو کندهار ښار نیولی و، خو دهیواد نورو سیمو ته لا نه و داخل شوي ملا عبدالرحمن آخند د فراه ولایت د تکړه جهادي مشر ـ شهید ملامحمدصادق اغا تر مشرۍ لاندې دطالبانو په اسلامي تحریک کې شامل شو.

## په اسلامي تحریک کې خدمتونه

د کندهار له نیولو وروسته د طالبانو داسلامي تحریک عمده جنګي جبهات د کابل او دهرات په استقامتونو جنګي خطوط و، چې همیشه په کې سختې جګړې روانې وې. ملا عبدالرحمن آخند دغه مهال څه وخت د میدان ښار په جنګي کرښه کې خدمت ترسره کړ او وروسته دهرات په استقامت د ګرشک او فراه جنګي کرښو ته لاړ، نوموړي دګرشک او هرات ترمنځ په سختوجګړو کې چې څو ځله د اسلامي تحریک مجاهدین پرمخ لاړل او بیا راپه شا شول په دې ټولو جګړوکې یې شرکت درلود، تردې چې د هرات ولایت په تاریخي فتحه کې هم ګډونوال و .

د هرات له فتحې وروسته چې د بادغیس او فاریاب په حدودو کې دطالبانو دفاعي کرښه وه، شهید محمدصادق اغا همدلته د نظامي قطعې مشر ـ و چې ملا عبدالرحمن اخند هم ورسره د مشر انډیوال په حیث وظیفه اجراء کوله. د فاریاب ، مزار اودشمال دنورو ولایاتو ترفتحي وروسته چې شهید ملامحمدصادق اغا د فاریاب دوالي په حیث وټاکل شو، د نوموړي د شهادت ترنیټې پورې ملا عبدالرحمن اخند په فاریاب کې دنوموړي دنظامی ملګرولە جملې د یو مشر ملګري په حیث په خدمت بوخت و چې دملامحمدصادق اغا ترشهادت وروسته څه موده د فاریاب ولایت د سرپرست والي په حیث هم پاتې شوی دی په دې موده کې نوموړی د شمال په مختلفو سیمو کې جهادي کرښو ته هم تلو چې په دې لړ کې د تخار، دره صوف او غور په سیمو کې جهادي خدمت یي دیادونې وړ دی .





په افغانستان د امریکایانو تر یرغل وړاندې نوموړي د هرات ولایت په غوریان ولسوالۍ کې دولسوال په حیث دنده اجراء کوله،کله چې امریکایانو په افغانستان یرغل وکړ نوموړی خپلې سیمې ته راغی او د امریکایي یرغل په خلاف یې په جهادي ترتیباتو لاس پورې کړ .

## د امریکا په خلاف جهاد

د امریکایي یرغل نه وروسته چې داسلامي امارت مجاهدینو د هیواد له ځینو سیمو عقب نشیني وکړه ملا عبدالرحمن اخند هم خپلې سیمې ته راغی.څه موده وروسته یي په جهادی ترتیباتو لاس پورې کړ،څرنګه چې هغه مهال دجبهه یي عملیاتو امکان لړ و اوترټولو مؤثره وسیله د انفجاراتو په توسط ددښمن له منځه وړل و، ملا عبدالرحمن تر هرڅه وړاندې له نوروماهرو مجاهدینو څخه د ریموټي بم د جوړولو او استعمال تخنیک زده کړ،وروسته یي په خپله سیمه کې دامریکایي یرغل په دوهم کال عملا په خارجي یرغلګرو بریدونه پیل کړل. دا په فراه ولایت کې لومړني جهادي تحرکات و د ملاعبدالرحمن اخند ورور وایي : نوموړي دامریکایي یرغل په دوهم کال په لومړي ځل دبکوا ولسوالۍ په مربوطاتو کې دکندهار – هرات په لویه لاره دخارجیانو یو کروزین موټر په ریموټي بم والوزاوو ، له دې وروسته یې په همدې سرک دداخلي عسکرو یو دوه موټر په یوه کمین کې له منځه یووړل او ورپسې یي د ایتالوي یرغلګرو یو موټر په ریموټ کنټرول بم والوزاوو، په دې چاودونو سره په فراه کې په یرغلګرو د بریدونو لړی پیل شو ه چې وروسته دا ولایت په یوه ګرم جهادي ډګر واوښت .

د یرغل په همدې لومړنیو کلونو کې چې داسلامي امارت د مشرتابه لخوا د ټولو ولایاتو جهادي تشکیلات جوړ شول، په فراه ولایت کې هم پنځه جهادي محاذونه تشکیل شول چې د بکوا دجهادي محاذ مسؤلیت ملا عبدالرحمن ته وسپارل شو. وروسته چې دمحاذونو تشکیلات د ولسوالیو په تشکیلاتو واوښتل او په هره ولسوالۍ کې دمجاهدینو ځانګړی جوړښت رامنځته شو، ملا عبدالرحمن دفراه ولایت د بکوا

ولسوالۍ جهادي مسؤل وټاکل شو چې شپږ کاله يې هم همدا دنده په خورا ښه ډول ترسره کړه .

نوموړي شپږ کاله د بکوا ولسوالۍ د مسؤل په حيث دنده ترسره کړه بيا يو کال دفراه ولايت د بالابلوک ولسوالۍ دمسؤل په حيث پاته شو،له هغه وروسته يې يوکال بيا د بکوا ولسوالۍ دمسؤل په حيث وظيفه ترسره کړه ،چې ورپسې د نيمروز ولايت د جهادي مسؤل په حيث وټاکل شو په نيمروز کې يې ۸ مياشتې جهادي خدمت ترسره کړ او بيا د هرات ولايت د جهادي مسؤل په حيث وټاکل شو،په هرات ولايت کې يې ۱۹ مياشتې وظيفه ترسره کړه تردې چې د همدې وظيفې په مهال په شهادت ورسيد.

د يادو وظائفو سره هم مهال نوموړی ډيره موده د فراه دولايتي کميسيون دمشر- په حيث هم دنده ترسره کړې دغه راز يې ترڅه وخته داسلامي امارت د مرکزي نظامی کميسيون غړيتوب هم درلود .

ملا عبدالرحمن اخند چې په فراه ولايت کې يې خورا فعاله ډلګۍ درلوده دده د ډلګۍ ځينو مجاهدينو په نيمروز او هرات کې هم د محلي مسؤلينو په حيث جهادي وظايف سرته رسول ، دنوموړي ترمشرۍ لاندې مجاهدينو په فراه کې خورا زيات عمليات ترسره کړي چې څو بيلګو ته يې په لاندې توګه اشاره کوو.

ــ ، د ۲۰۰۴ م کال په اوړي کې د بکوا ولسوالۍ د بالبالک کاريز په سيمه کې مجاهدينو ددښمن په يوه لوی کتار برید وکړ چې په نتيجه کې يې ددښمن ۱۸ تنه عسکر ځای په ځای ووژل شول ، شپږ موټر مجاهدينو په غنيمت ونيول او خورا زياتې وسلې او مهمات هم مجاهدينو ته په لاس ورغلل.

ــ دالفتح عملياتو په کال د بکوا ولسوالۍ د اسحاقزو په سيمه کې ددښمن په کاروان په حمله کې ددښمن ۱۴ موټر له منځه لاړل او ګڼ شمير عسکر يې هم ووژل شول .





ــ دالفتح عملياتو په اوږدو کې د نوموړي تر مشرۍ لاندې مجاهدينو يوازې د فراه په بکوا ولسوالۍ کې ددښمن ۱۸۰ ټانګونه په انفجاراتو کې له منځه يووړل چې ددښمن سلګونه عسکر هم په کې ووژل شول .

ــ دالبدر عملياتو په لومړيو کې د بکوا ولسوالۍ د سياواغا په سيمه کې مجاهدينو د امريکايي سيکورټيانو په کاروان برید وکړ چې په نتيجه کې يې ۵ موټر او ۱۵ عسکر ختم شول. دسيکورټيانو مشر ژوندی ونيول شو او دجنګ په مهال ددښمن يوه طياره هم راوغورځيده. دالبدر عملياتو په لړ کې يوه بله کارنامه د ګلستان ولسوالۍ د پيتاوک په سيمه کې ددښمن داکمالاتي کتار له منځه وړل و چې په ترڅ کې يې ددښمن ۲ سرف موټر او ۲۲ اکمالاتي کانتينر له منځه لاړل. په همدې کال د ګلستان ولسوالۍ دچهارراه په سيمه کې ددښمن داکمالاتي کتار په موټرو چې په يوځای ولاړ و ۱۲ يوځايي انفجارات ترسره شول چې ددښمن کتار يې له منځه يووړ .

ــ د البدر عملياتو په وروستيو کې چې دژمي موسم و،په امريکايي ساتونکو په برید کې ددښمن ۱۲ موټر او ۱۸ عسکر له منځه لاړل مجاهدينو ۱۲ ماشيندار ۴ ثقيلان او نور ډير وسائل او مهمات غنيمت کړل .

ــ دالفاروق عملياتو په لړ کې د ملاعبدالرحمن تر مشرۍ لاندې مجاهدينو د ګلستان ولسوالۍ د توت او چهارراه ترمنځ سيمه کې دداخلي ګوډاګيانو په يوه لوی کتار برید وکړ چې په نتيجه کې يې ددښمن تر شپيتو زيات عسکر مړه او ټپيان شول مجاهدينو ګڼ غنائم هم ونيول او ددښمن قوه يې له منځه يووړه خو له جګړې نه دستنيدو په مهال ددښمن الوتکو بمبار وکړ چې په نتيجه کې يې د دملا عبدالرحمن اخند ۲۲ تنه جهادي ملګري په يوه ځای شهيدان شول .

## شهادت يې

د شهيد ملاعبدالرحمن اخند کورنۍ يوه جهادي او شهيدپاله کورنۍ ده. دامريکا ضد جهاد کې د نوموړي د دوو وروڼو شهيد عبدالسلام او شهيد عبدالغفار په

شمول ددوی د کورنۍ ۱۱ کسان په شهادت رسیدلي دي. نوموړی په خپل جهادي ژوند کې دوه ځله ټپي شوی و. په دې وروستیو کې دښمن ډیر کوښښ کاوو چې نوموړی په برید کې له منځه یوسي. دهمدې لپاره یې پخوا هم څو ځله وربانديې چاپې اچولې وې، دغه راز په وروستي ځل چې نوموړی د هرات ولایت څخه په لیدنه کتنه بوخت و، لومړی ځل په شیندې او بیا د هرات په غوریان ولسوالۍ کې وربانديې امریکایانو چاپه واچوله. دغوریانو په چاپه کې دری تنه مجاهدین شهیدان شول خو ده ته الله تعالی نجات ورکړ . له هغه وروسته چې کله خپلې سیمې بکوا ته راغې ، دهمدې ولسوالۍ د دوشنبې په سیمه کې ددښمن د بې پیلوته طیارې تر برید لاندې راغې چې له شپږو تنو نورو مجاهدینو سره یوځای د شهادت لوړ مقام ته ورسید. انالله وانااليه راجعون

د نوموړي دشهادت پېښه د مجاهدینو لپاره یوه دردوونکي پېښه وه ، دنوموړي دشهادت په اړه داسلامي امارت ویاند ښاغلي قاري محمدیوسف احمدي په خپل بیان کې وویل : په ډیره خواشینۍ سره مو خبر ترلاسه کړ چې داسلامي امارت یو وتلی او نومیالی قومندان دهرات ولایت دجهادي چارو مسؤل الحاج ملا عبدالرحمن اخندچې په نیکه سره یې شهرت درلود د اشغالګرو له لوري د الوتکې په هوایي برید کې دځو نورو ملګرو سره یوځاي په شهادت رسیدلی. شهید ملا عبدالرحمن په فراه او هرات ولایتونو کې داشغالګرو ځواکونو او دهغوی دګوډاګیانو په خلاف له څو کلونو را هیسې په وسلوال جهاد او مبارزه بوخت و. نوموړي دخپلو ګړندیو جهادي فعالیتونو او عملیاتو په توسط په سیمه کې د اشغالګرو عسکرو او هغوی دمزدورانو ژوند نا ارامه کړی و،همدا لامل و چې نوموړی ډیر وخت دډارن دښمن تر څار او تعقیب لاندي و.

اتل شهید الحاج ملا عبدالرحمن چې دجهاد په لار کې یو نه ستړی کیدونکي مبارز، قهرمان مجاهد او په خپله سیمه کې یو پیژندل شوی او بانفوذه جهادي شخصیت و، دجهاد په لار کې يي ډیر ستر خدمتونه ترسره کړي او په دې لار کې یې بې ساري قرباني ورکړې.





شهید الحاج ملا عبدالرحمن اخند د اسلامي امارت دحکومت په مهال او همدا راز داشغالګرو ځواکونو په خلاف په اوسني جهاد کې په ډیرو سختو او نامساعدو شرایطو کې د هیواد په مختلفو ولایتونوکې دپام وړ جهادي فعالیتونه او خدمتونه ترسره کړي .

د قهرمان قومندان الحاج ملا عبدالرحمن اخند شهادت که څه هم یوه دردمنه پېښه او ستره ضایعه ده ، خو دښمن دي په دې نه خوشحاله کیږي چې دنوموړي شهادت به په سیمه کې دنورو مجاهدینوپه مورال او جهادي فعالیتونو منفي اغیزه وکړي، د اسلامي امارت مجاهدین له شهادتونو سره اشنا دي، ان شاءالله ډیر ژر به رامنځ ته شوې تشه دنوموړي دسنګر ملګري ډکه کړي.

لکه څنګه چې داسلامي امارت د ویاند په څرګندونو کې ورته اشاره شوې، شهید ملاعبدالرحمن واقعا د هیواد په لویدیځ کې له مطرحو جهادي شخصیتونو څخه و چې په خپلو نه ستړي کیدونکو هڅو يي په همدې حوزه کې یو قوي جهادي صف رامنځته کړ. نوموړي یوه قوي جهادي ډلګۍ درلوده چې دبالفعله مجاهدینو شمیر یې تر ۹۰۰ تنو زیات دی.

نوموړي نه یوازې په فراه ولایت کې دسلګونو مجاهدینو مشري په غاړه درلوده بلکې کله چې په هرات کې مسؤل وټاکل شو هلته يي هم خورا ستړي جهادي کارنامې ترسره کړې نوموړی به اکثره وخت په جهادي جبهاتو کې و او په خپله يي په جګړو کې برخه اخیسته .

د نوموړي دنږدې ملګرو په استناد شهید ملاعبدالرحمن په خپلو جهادي چارو کې همیشه له علماء کرامو سره مشوره کوله او جهادي چارې يي په ډیر تدبر او جرأت سره پر مخ وړې ، همدا لامل و چې نوموړي په خورا پیچلو شرایطو کې خورا بریالۍ مبارزه وکړه او په پای کې خپل وروستي هدف شهادت ته ورسید. روح دې يي ښار اویاد دې يي تل وي.

## د مرحوم مولوي عبد الهادي اخندزاده ژوند او خدمتونوته کتنه

لیکنه: بشیر همدرد

مرحوم مولوي عبدالهادي اخندزاده په ۱۳۳۷ هجري شمسي کال کې دپروان ولایت کوه صافي ولسوالۍ اړوند په سیاه سنګ کلي کې(چې په علاقه کې دملایانو په کلي سره شهرت لري) دسیمې د مشهور روحاني او بزرګوار شخصیت اړواښاد ملا حبیب الرحمن اخندزاده په علمي او روحاني کور کې نړۍ ته سترګې غړولې وې.

ملا حبیب الرحمن اخندزاده چې په ټوله سیمه کې یې په مشر اخندزاده صاحب شهرت لاره، نه یواځې دکوه صافي دننه ورته خلکو د روحاني مرشد په سترګه کتل بلکې دکوه صافي نه بهر په شمالي ،کوهدامن او ده سبز کې یې هم په لوی شمېر خلک عقیدتمن او ارادتمن ول.

### زده کړې یې

مولوي عبدالهادي اخندزاده صاحب په کور دننه دعلمي او ديني ماحول په وجه په ډېر کوچنیوالي کې زده کړو ته کینول شوی و، البته له کوره بهرپه علم پسې هغه مهال ووت چې د ځوانۍ مرحلې ته نژدې و. لومړي دیني کتابونه یې په کورکې له بزرګوار پلار،مشر ورور او ترونو څخه ولوستل، بیا دنورو سبقونو لپاره په شمالي کې د باغ عالم مولوي صاحب په درس کې شامل شو، هلته له څه موده سبق ویلو وروسته له مولوي نصر الله او مولوي اسد الله سره دیره شوله هغوی دواړو څخه داستفادې وروسته دکابل په شیوه کیو کې د مشهورمدرس عالم مولوی محمود(چې په صوفي مولوي صاحب مشهورو) درس گاه ته ورغی، له هغه څخه دکافیې په ګډون کتابونو ویلو وروسته دنورو زده کړو لپاره پاکستان ته لاړ، هلته دخیبر پښتونخوا مردان په قیامه مدرسه کې شامل شو، بیا له هغه ځایه روستم ته لاړ چیرته یې چې دوه کاله پرلپسي د





فنونونو کتابونه له مشهورو استادانو هریو علامه سید قریش بابا V ) او شیخ الحدیث مولانا قاضي محمد امین V نه وویل، بیا د فنونودوروستیو کتابونو دتکمیل لپاره دمردان طورو کې مشهور مدرس مولانا غلام محبوب صاحب ته ورغی او دهغه څخه یې دفنونو کتابونه مکمل کړل، وړه دوره یې دکوهاټ په قاضی حسام الدین مدرسه کې له مفتي محمدنعیم V څخه وکړه او دلویې دورې لپاره یې دپیښور جامعه امداد العلوم غوره کړه، چیرته یې چې د لویې دورې څو کتابونه له نومیالي شیخ الحدیث شهید مولانا محمد حسن جان مدني V او له شیخ الحدیث مولانا امان الله [مروت] څخه وویل او په۱۳٦٦ لمریز کال کې یې له جامعه امداد العلوم څخه دفراغت سند ترلاسه کړ.

### دشوروي یرغل په وړاندې جهادي مبارزې ته یې کتنه

کله چې مولوي صاحب په سبقونو پسي له افغانستانه پاکستان ته سفر کاوه، دغه مهال افغانستان کې دکرغېړنې کمونستي کودتاه پرضد د جهاد د پیل ورځې شپې وې، جهادي فعالیتونه خال، خال ترسترګو کېدل، لږ وروسته په ټول هېواد کې جهادي فعالیتونه منظم شول، له دیني مدرسونه په لوی شمېر کې طالبان جهادته لاړل، مولوي صاحب هم جهاد ته دتلونکو طالبانو له ډلې څخه و، ددې لپاره یې لومړی په میرانشاه کې نظامې زده کړې وکړې او بیا دجهاد په نیت دخپلې سیمې له طالبانو سره یوځای کوه صافي ته ستون شو او د جهادي امورو په منظمولو کې یې کاري رول ترسره کړ. دیاونې وړه چې په کوه صافي کې دجهاد په پیلولو کې د اړواښاد مولوي صاحب سربیره،دهغه مشر وروړشهید مولوي عبدالصبور اخنذاده بنسټېز او قائدانه رول اداء کړی دی، څوک چې په۱۳٦۵ لمریز کال کې کوه صافي کې دشورویانولخواد ګډو الوتکود ناڅاپه یرغل په ترڅ کې له یوشمیر مجاهدینو سره یوځای شهید شو. دشهید مولوي عبد الصبور اخنذاده V له شهادت وروسته د هغه جهادي ملګرو او قومندانانو څوځله کوښښ وکړ چې مولوي عبدالهادي صاحب د شهید مولوي صاحب عبد الصبور په شهادت سره د رامنځته شوې تشې په ډکولو قانع کړي او دهغه ځای

ناستی شي، خوداچې نوموړي ددرس او تدریس په لور زیات میلان او رجحان لاره ، له هغوی څخه په مننه کولو یې ور ته عذر وړاندې کړ،او په جهاد کې دخپلې کورنۍ دوندې لرلو لپاره یې خپل ترټولو مشر ورور ملاعبد الغفار اخندزاده غوره کړ چې د اسلامي انقلاب د بري تر وخته یې جهادي وظائف په ډیره ښه توګه انجام کړل.

دمولوي صاحب دوی کورنۍ چې په۱۳٦۱ لمریز کې یې له افغانستانه پاکستان ته هجرت کړی و، اول د کرمې ایجنسۍ په خواجه علي پنډغالي کې میشت شول او بیا له هغه ځایه د صوابۍ پنډ غالي ته لاړل، هلته دکا ل یونیم له تیرولو وروسته دکوهاټ غلام باندې صافیانو کیمپ ته لاړل چېرته چې تردي مهاله میشت دي.

**تدریس یې:**

په ۱۳٦٦ ل کال کې دپیښور له امداد العلوم نه د فراغت وروسته دخیبر پښتونخوا کوهاټ کې دانصارو په یومسجد کې یې تدریس پیل کړ، چې د شلو په شاوخوا کې طالبان ورسره وو ، په بل کال د کوهاټ بلي ټنګ شمس العلوم مدرسې ته دمدرس په حیث لاړ، هلته دیو کال تدریس وروسته دکوهاټ غلام باندې دمهاجرینو په پنډ غالي کې د منبع العلوم مدرسې ته وغوښتل شو،دلته له نوموړي سره په هر کتاب کې درونډ شمېر طالبان وو، او طالبانوته یې د درس طرز اوطریقه ډېره په زړپورې وه .مولوي مطیع الله شاکر چې دمولوي صاحب پخوانی شاګرد او دتره ځوی یې دی دمولوي صاحب د تدریسي اوعلمي صلاحیتونو په اړه داسې رڼا اچوي:

زما او د شهیدمولوي صاحب روح الله روحاني ابتدایي تربیت اوپالنه مولوي صاحب کړې له نوموړي څخه مې ډیر کتابونه درسا ویلي دي،دمولوي صاحب د درس طریقه ډېره عام فهمه وه، اول به یې دسبق اجمال یا لنډیز ووایه بیا به یې تفصیل او دکتاب عبارت حل کاوه، په دې توګه یې په سبق کې فیض او برکت هم زیات و، کوښښ به یې کاوچې طالبان په اسانه او روانه توګه پوی کړي هیڅکله یې مغلق او پیچلې تعبیرات نه کول سبق یې ډېر روان اوسلیس و په دې علاوه دهرې روژ ې په میاشت کې به یې دعظیم الشان قرآن ترجمه ( دوره یې تفسیر) هم کوله ددې ترڅنګ





مولوي صاحب ښه کامیاب واعظ او مبلغ هم و،چې په خلکو یې وعظ زیات تاثیر درلود په دې وجه دخواصو ترڅنګ دعوامو په منځ کې هم منلی او مقبول شخص و.

په ورته توګه د خدای ښلي مولوي صاحب یوبل خاص شاګرد مولوي محمد علي خان زاهد چې ډېره موده دمولوي صاحب سره نیږدې پاته شوی دی او داسلامي امارت په دوره کې د کونړ دبانک رئیس هم و دمولوي صاحب د درسي خصوصیاتو په اړه وایي: مولوي صاحب ښه کامیاب مدرس و، هیڅ داسې نه احساسیده به چې هغه یوکتاب درس کاو او هغه دي ورباندې بوج وي نوموړي شاګردانوته ددینې تربیې ترڅنګ اخلاقي اوسیاسي تربیه هم ورکوله، طالبان یې دوخت او حالاتو نزاکتونو ته ځېر کول پخپله یې هم ځان د درس او تدریس ترڅنګ دافغانستان له حالاتو او جریاناتو خبرساته، وخت په وخت یې د خپلو ملګرو سره نوي معلومات او حالات شریکول، خو دطالبانو اخلاقي تربیې ته ډېر متوجه و

دنوموړي په وینا: مولوي صاحب په درس او تدریس دومره حریص و چې دحکومتي منصب ترڅنګ یې تل ارزو دا وه چې خلکوته علمي ګټه ورسوي نو ځکه یې د څو کتابونو تدریس همیشه جاري ساته.

**دپروان او کاپیساه دطالبانو دمشر په حیث یې رول او کردار ته کتنه:**

هغه مهال چې افغانستان کې دشوروي او کمونستي رژیم په ضد جهاد روان و ، دپاکستان په دیني مدرسو کې کومو افغاني طالبانو سبقونه ویل، هغوی دولایتونو په سطحه ددې لپاره چې پخپل منځ کې له یوبل سره وپیژني، دیو بل له غم او درد نه خبر اووسي،یا داچې افغاني طالبان دنویو مذهبي اندونو په لومو کې ونه نښلي ترمنځو یې نوې تفرقې او ډلې ټپلې پیدانشي داهلسنت والجماعت په نوم جلا، جلا منظمې او اتحادیې جوړې شوې وې، دهر ولایت طالبانو ځانته یوه شوری درلوده، هغې شوری دټول ولایت اړوند طالبانو چارې بررسي کولې اودخپل ولایت دټولو طالبانو یولست به ورسره پروت و، دطالبانو کوایف به یې معلومول، بیا به یې دهر تعلیمي کال په پای کې دافغانانو په کیمپونو کې غونډې جوړولې د اړوند ولایت طالبانو به په هغو غونډو کې

ګډون کاو، په دې تو ګه به يې ديوبل سره پيژندل او اړيکې به يې غځيدل، ښه ښه استعدونه او فکرونه په يوځای راټوليدل ديوبل له معلوماتو او وړتياوو به خبريدل ، مولوي صاحب د پروان او کاپيساه په سطحه داهلسنت والجماعت دمنظمې او اتحاديې بنسټ ايښودونکی و، کله چې دپروان او کاپيساه داهلسنت اتحاديه تشکيل شوه، مولوي صاحب د اتحاديې دمرستيال په صفت غوره شو او يوکال وروسته دملګرو په ټينګار او غوښتنه دعمومي مشر (صدر)په حيث تعين شو، ترهغه وخته په دغه موقف او دنده پاته وځو په کندهار کې دطالبانو داسلامي تحريک په نوم دافغاني طالبانو يو منظم جهادي او سياسي تحريک راپورته شو، چې په دې سره دولايتونو په سطحه جوړې منظمې او اتحاديې منحل شوې او دهېواد ټول طالبان او علماء دطالبانو داسلامي تحريک په ليکو اوصفوفوکې منظم او منسجم شول مولوي صاحب هم له خپلو ټولو ملګرو سره يوځای په دغه تحريک کې ګډون وکړ، چې دژوند ترپايه له هم دغه کاروان ملګری و او په ډېر اخلاص او للهيت اوصداقت سره يې پکې ښه ښه خدمتونه تر سره کړل

## دطالبانو داسلامي تحريک په ليکو کې ګډون او خدمتونه:

کله چې دشر او فساد پرضد دهېواد په جنوب کندهار کې دامير المومنين ملا محمد عمر (مجاهد) په مشری طالبانو شرعي پاڅون وکړ، دهېواد دنورو جيدو علماوو ترڅنګ مولوي صاحب عبد الهادي اخنذاده هم ديوتګړه جيد عالم او مدرس په حيث او دپروان اوکاپيساه دعلماوو او طالبانو له منځه ديو قوي او بانفوذه سياسي او اجتماعي شخص په توګه ددغه پاڅون څخه په کلکه ملاتړ اعلان کړ، ددې لپاره يې دخيبر پښتونخوا ايالت په جنوبي سيمو کې سترې غونډې جوړې کړې اوپکې يې ددغه پاڅون په ضرورت او اهميت ګډونوالوته ويناوې وکړې اوبيا دپروان او کاپيساه دعلماوو او طالبانو سره يوځای يې لومړی دخوست دلارې نه لوګر او بيا دهغه ځايه کندهار ته سفر وکړ، ددغه سفر نه په بيرته راستنيدو دپروان او کاپيساه دنورو دوه سوه طالبانو سره يوځای دخوست دلارې نه چهار اسياب او بيا د کارته سه لومړی





کرښې ته لاړ، هلته په لومړی کرښه کې دشهيد ملا بورجان اخند او ملايار محمد اخند سره يوځای شو،چيرته چې دمسعود په چل ول او دوکه طالبان دکارته سه سيمې څخه شاتګ ته اړشول او له امله يې لوی شمېر طالبان شهيدان، ټپيان او بنديان شول دپروان او کاپيساه له ملګرو څخه هم زيات شمېر بنديان او ټپيان شول، چې ځينې ټپيان هم دښمن په لاس ورغلل ، چې وروسته هغوی ټول دهرات په عمومي تبادله کې راخلاص شول

دهغه مهال را په ديخوا مولوي صاحب او ملګري يې داسلامي امارت په ليکو کې دسترو فداکاريو او قربانيو په بدرګه په مهمو خدمتونو بوخت و چې دهغوی په شاندارو خدمتونو داسلامي امارت مشران ويارې

هم دا راز کله چې په کند هار کې دهېواد ۱۵۰۰ جيدو علماوو دطالبانو داسلامي تحريک له مشر ملامحمد عمر مجاهد سره دامير المومنين په حيث بيعت وکړ، په هغه غونډه کې مولوي صاحب دپروان ا و کاپيساه ديوشمېر جيدو علماوو سره يوځای ګډون وکړ اودامير المؤمنين(حفظه الله) سره يې دهېواد دزعيم په حيث بيعت وکړ.

کله چې دهېواد ختيځ ولايتونه نيول کيدل ، په فتحه اونيولو کې يې دمولوي صاحب دقاري احسان الله بريال ( دکاپيساه ولايت لپاره داسلامي امارت موجوده والي) په مشری نه سترې کيدونکې قربانی ورکړې او ددغو قربانيو په وجه يې دجهادي مشرانو په زړونو کې دقدر ځای پيدا کړی و، کله چې کونړ ولايت فتحه شو دشهيد ملا بورجان او حاجي ملا محمد رباني په وړانديز عاليقدر امير المؤمنين دکونړ ولايت چارې دپروان او کاپيسا طالبانوته په وسپارلې او د۱۳۷۵ ل کال د ميزان په ۴مه نيټه مولوي عبد الهادي صاحب دکونړلپاره دوالي او قاري احسان الله بريال د امنيه قومندان په توګه تعين شول. کله چې شهيد ملا بورجان اخند دکونړ دفتحې بشپړولو وروسته بيرته د ننګرهار په لور روانيدو مولوي صاحب ته يې د کونړ د ټولو ملکي او نظامي ارګانونو لپاره دمسولينو دمعرفي کولو حکم پرېښود، چې دهغه دحکم سره سم مولوي صاحب دکونړ د ملکي او نظامي ارګانونو لپاره مسؤلين معرفي کړل او په په

لنډه موده کې يې دولايت درياستونو په ګډون ټولې ۱۸ ولسوالۍ فعاله کړې دبازار او ښاروالۍ چاري يې ورغولې ښوونځي، ليسې او مدارس يې پرانستل دترانسپورت چاري يې تنظيم کړې ددولتي عوايدو راټولولو طرز العمل يې نافذ کړ ، د ځنګلونو وهلو پرضد يې ګامونه پورته کړل پاکستان ته د نا قانونه لاروځخه د لرګېو په انتقال يې بنديز پلي کړ،په لويو لارو او درو کې امنيت قايم شو،دخلکو دسر او مال خوندي کولو په غرض شپه ورځ مجاهدينو ګزمې پيل کړې زورواکان له سيمې څخه وشړل شول اجتماعي عدالت پلي شو، ټولو سوداګروته بهرته دبولدک دلارې دچارتراشو وړلو قناعت ورکړای شو، په دې اړه هغوی ته دافغانستان او خلکو ملي مصالح ورپه ګوته کړای شول چې ټولو سوداګرو په يو اتفاق دبولدک دلارې دچارتراشو دليږد نظر تائيد کړ.

## په کونړ کې يې سياسي او جهادي بريادونه:

د اسلامي امارت لپاره کونړ ولايت کنترولول اوپکې حکومت جوړول يو چيلنج و ځکه ددې ولايت اراضي ډيره خطرناکه او له غرونو او ځنګونو تشکيل شوی دی، له نيکه مرغه مولوي صاحب ته الله پاک دستونزو دحلولود اوحکومتي چارو درهبري کولو او له خلکو سره دافهام او تفهيم يوه بيمثاله اومؤثره ملکه ورکړې وه، چې دهغې په وجه يې په لنډ وخت کې دکونړ اونورستانونو [دمرکزي او شرقي] په ګډون په ۱۸ولسوالیو کې داسلامي امارت واکمنې قايمه کړه او داسې چې ترپايه پاته شوه، له شک پرته چې دجنګ دلارې ديوشمېر ولسوالیو نيول طالبانو ته آسان نه و. خو هغه ټولې له جنګ پرته د کامياب حکمت عملي په جوړولو دخبرو او ولس ته دقناعت ورکولو دلارې فتحه شوې او پکې داسلامي امارت واکمنې ټينګه شوه.تردې پورې چې دمرکزي نورستان دلارې ترپنجشير پورې دامارت واک وغځيد او دشرقي نورستان په خوا دبدخشان ولايت ترحدودو پورې سيمې بې له جنګه يوازې له خلکو سره دمفاهمې او خبرو دلارې ونيولې.





دافغانستان داسلامي امارت دواکمنۍ په مهال داطلاعاتو او کلتور او بيا دپوهنې وزير الحاج مولوي اميرخان متقي وايي :مولوي صاحب عبدالهادي په عملي ډګر کې يو موفق اوکامياب مسئول و ددې خبري دثبوت لپاره دا دري دلايل کافي دي چې يو خو يې دوفات تروخته دپروان او کا پيسادمجاهدينو او طالبانو په منځ کې خپل محبوبيت او دمشرتابه مقام په داسي ډول وساته چې که يې رسمي دنده وه که نه وه خو دا تير شل کلونه ټولو ورته دمشر په نظر کتل.

بل دا چې پنځه کاله يې داسلامي امارت په وا کمنۍ کې دکونړ غونډي غرني،سرحدي او له نظامي اړخه نهايت مهم ولايت خورا ښه رهبري وکړه په داسي ډول چې هم يې ميشت ولسونه لکه دورو ټو غونډې سره لنډ کړل او هم يې په داسي حال کې ولايت دمخالفينو له حملو وساته چې په غرنيو سيمو کې مخا لفينو فعال حضور در لود او لوی لوی مخالف قومندانان له يوي او بلي خواورته اکماليدل خو د مولوي صاحب د مدبرانه مشرتوب له امله دښمن ونه توانيد چې په خپلو شومو اغراضو کې بريالی شي او په دې سيمه کې اسلامي امارت ته کومه جدي ستونزه ايجاد کړي ځکه مولوي صاحب عام اولس په اعتمادکې اخيستی و او اولس د اسلامي امارت په ملاتړ دفاع ته چمتو وو

دمولوي صاحب بله ځانګړ تيا داوه چې سره له دي چې داسلامي امارت مشر تابه ته يې ډير ځان نه ور ښکاره کاوه او ځان ځلونه يې نه خو ښيده خو دعاليقدر اميرالمؤمنين اعتماد دومره ور باندې زيات و چې ډيره کمه به پېښه شوي وي چې مشر ملاصاحب دي دده خبره پر ځمکه غورځولي وي چې همدا په نوموړي داسلامي امارت د زعيم د بشپړ باور نښه بلل کيدای شي.

مسعود په ځلونو کوښښ وکړ چې طالبان په کونړ کې په جنګ کې مصروف وساتي، څو دبدخشان دلارې هغه ته مشکلات پيدانکړي، ددې لپاره يې په لومړي ګام کې له پنجشير څخه دمشرقي پخواني شړل شوي قومندانان چې پنجشيرته يې پناه وروړي وه لکه حضرت علي ، حاجي قدير اوکشميرخان له پريمانه پيسو او اکمالاتو سره

هغه راشي او زه ويده يم بيرته به مايوس لاړشي! هم دا وجه وه چې درسمي وخت نه پس به يې هم دخلکو په عريضو احکام ليکل او هيڅ يو عارض يې په دې وجه بيرته ندی ليږلی چې اوس رسمي وخت ختم شوی دی، هم دا سبب و چې دعوامو په زړو کې ورسره زيات محبت واو هر سړي ته گران و.

هغه وايي: دمولوي صاحب مزاج دتعصب او کينې څخه هم ډېر پاک و، کونړ يو داسي ولايت و چې دنورو ولايتونو په پرتله پکې مذهبي اختلافات ډېر وو، مولوي سره ددې چې پخپل مسلک باندې ټينګ ولاړو، خو دنورو علماوو يې نهايتي احترام او قدر کاوو، دهغوی سره تعصب او کينه يې نه درلوده، دهغوی سره راشه درشه او تعلقات يې يومخ عادي ووچې په دې اړه ترپايه دهيڅا لخوا کوم شکايت ندی اوريدل شوی.

هم داشان نرمه رويه يې دومره زياته مؤثره او راښکونکې وه، چې مخالفينو هم وربانديې اعتراف کاو،حتی يوځل يو مخالف قومندان چې دباجوړ نه کونړ ته دطالبانو خلاف جنګ ته راتلو او دمرورې په سرحدي ولسوالۍ کې په يو کورکې ځان پټ کړی و ، دهغه کور څښتن يې چې نژدي ملګری و ورته مشوره ورکړه چې جنګ ته دتلو نه وړاندې يو ځل والي صاحب سره وګوره او بيا لاړشه،هغه ويل: څنګه به ورسره ووينم؟ کوربه ورته و ويل: ستا دهر څه ضامن زه يم راځه چې والي صاحب ته دې اوس بوځم، قومندان دهغه سړي سره نيغ دمولوي صاحب ليدو ته راغی کله چې هغه دمولوي صاحب خبرې واريدې او دهغه نرمه رويه او اخلاق يې وليدل له هم هغه ځايه دمخالفينو سره جنګ ته روان شو او ترپايه دامارت سره ملګری پاته و څو چې امريکا په افغانستان يرغل وکړ او طالبان له کونړاو نور هېواد نه وتلو ته اړشول بيا هم هغه دامارت نه خپله لاره بدله نکړه.

## دستونزو اومشکلاتو پرمهال يې د بيمثاله استقامت اوجرئت بېلګې:

يوځل مخالفينو په داسې وخت کې د کونړ د ننګلام په ولسوالۍ حمله وکړه چې داختر شپه وه، زياتره طالبان داختر رخصتيو لپاره کورونوته تللي وو، له دې وجې دطالبانو شمېر کم وو، مخالفينو ولسوالۍ ونيوله،تردې چې دولايت لورته يې پرمخ





کونړته راولېږل ځودپيسو ورکولو دلارې خلک دمجاهدينو پرضد پورته کړي دپاکستان دلارې نه حاجي زرين او حاجي روح الله په دې هڅه کې وو چې هغوي دواړه هم په کونړ کې دطالبانو پرضد جنګونه پيل کړي ملک زرين څو ځله داسمار ولسوالۍ دنيولو کوښښ وکړ خو هر ځل دشکست سره مخ کېده، په ورته توګه کشمير خان د شيګل ولسوالۍ دنيولو هڅه وکړه، خو بريالی نشو، هم دا راز دپيچ درې له لارې ځينو قومندا نانو څو ځله کوښښونه وکړل چې ځيني ولسوالۍ ونيسي۔ خو دجزئي پرمختګ پرته هغوی کوم پراخ پرمختګ ونشو کړای، ځکه چې مولوي صاحب دقومونو سره له ډېر نږدې په تماس او ارتباط کې و، او دولس دملاتړ په بدرګه د مخالفينو په ځپلو کې برلاسی و، تردې پورې چې کله هغوی ټول په کونړ کې ناکام شول مسعود ټول لرې کړل دټولو لپاره دمشرپه توګه يې سياف ته وظيفه ورکړه او له پنجشيرنه يې هغه نورستان اوکونړ ته راولېږه، هغه (سياف) پخپل ټول توان هڅه وکړه، چې دمخالفينو متلاشي ځواکونه سره يوځای کړي او په کونړ کې دامارت پرضد قوي محاذ پرانيزي د اوريدو له قراره سياف به په خبرو کې دکونړ خلکو ته ويلي: چې زما پلرونه اونيکونه دکونړ نورګل ولسوالۍ له مزار درې نه پغمان ته تللي دي، زه هم په اصل کې کونړی يم! ماسره ودريږئ او په ما ننګ وکړئ! خو هيڅا يې فرياد نه اوريده او ورسره ملګري نشول. بالاخره سياف هم ناکام او نامراد پنجشيرته ستون شو، په دې توګه دمسعود دا ارمان پوره نشو چې په کونړ کې دجنګ پراخولو له لارې امارت ته ستونزې ايجاد کړې، ددې ټولو دسيسو شنډولو او پلانونو په خنثا کولو کې مؤثر اوفعال رول دوالي په حيث دمولوي صاحب دعلمي او سياسي بصيرت و، چې د الله تعالی په مدد يې دکونړ خلک او علماء په ځان رامات کړي وو او د اولس اعتماد يې د امارت په ګټه خپل کړی و.

مولوي محمد علي خان چې په دغه ټوله دوره کې دمولوي صاحب له باوري او راز دارو ملګرو څخه و، وايي: دمولوي صاحب دبري راز په دې کې و، چې نهايتي مهربان او زړه سواند مشر و، او ددې لپاره الله تعالی ورته عجيبه لويه حوصله ورکړي وه دشپې ترناوخته به ددې لپاره ناست و، چې کيدای شي دچا کار ترما پورې بند وي هسي۔ نه

هم وکړ، مولوي علی خان زاهد وايي: دغه مهال دوه شپې مولوي صاحب خوب ونکړ او خپله ټوله شپه بېلابېلو پوستو ته ورته او طالبانوته بـه يـې روحيـه ورکولـه چـې گـورئ حوصله دلاسه ورنکړئ اوپخپلو مورچلو کې بيدار اوسئ هغـه وايـي: دغـه مهـال ورسره خپل ساتونکي هم نه وو ځکه هغو يې ټول لومړی کرښې ته ليږلي وو، يواځي دغه مهال ز ما نه علاوه ورسره مولوي نورجلال( دکورنيوچارو وزارت معين)او اينجنير گـل آغـا ( دمولوي نجيب الله ورور) ملگري ول چې دولايت دفاعي پوستې مو کتلي او مجاهـدين مو بيدارول چې غفلت ونکړي، په دوهمه ورځ زه ورسره تر دوه بجو تـم شـوم خـو نـور خپل صبر ځواب راکړ خوب راغی ويده شـوم، خـو هغـوی ټولـه شـپه بيـدار ول او پـه مجاهدينو گرځيدل، په سبا ته طالبانو مخالفين دولايت له حدودو بيرته په شا وتمبول او ننگلام ولسوالۍ يې بيرته ونيوه

په ورته توگه يوځـل مخـالفينو دشـيگل ولسـوالۍ لـه اسـتقامت نـه دمجاهـدينو دفاعي پوستو په نيولو اول خط دشينکوړک سيمې ته را نژدې کړ، چې ولايت تـه لنـډه پرته ده، دغه مهال له ځينو نورو ولايتونو څخه دملاتړ لپاره يو شمېر مجاهـدين راغـلي وو، هغوی په دې شکست سره دومره ورخطاء شول چـې ټولـو ځانونـه دولايـت مرکـز( اسعد آباد) ته ورسول او مشران يې نيغ مولوي صاحب ته راغلل چې پنځې دقيقي وخت دی که ولايت خالي کوي مونږ درته پنځه دقيقې تم کيدای شو چې کوم ضروري شيان وي هغه راوخلئ مخالفين مرکزته را لنډ دي، اومونږ خامخا دروموـ دلتـه جنـگ گـران دی او ولايت دسقوط په حال کې دی بيځايه ملگري مه خرابوئ! مولوي صـاحب ورتـه وويل: که تاسو خامخا ځئ تاسو نه راگرځوم په مخ موښه شه دا خو اوس هم مخـالفين لري دې مونږ دلته دولايت دچغسراى( اسعد اباد) بازار له دروازو نـه مخـالفين بيرتـه په شاتمبولي او دولايت دپريښودو خو سوال نه پيدا کېږي اونه دومره بې همته يم، پـه دې سره هغوی ټول موټروته پورته شول او دننگرهار په لور روان شول او مولوي صاحب خپل موټرته پورته شو دخپلو ملگرو سره شينکوړک ته ورغی هلته يواځي کـونړ کـې پـه خدمت مامور طالبان پاته وو کومکي کسان تللي وو، هلته يې مخالفينوته خط واچوه او





بيا څو ورځې وروسته دشهيد ملا داد الله اخند په راتلو په مخالفينو تعرض وشـو او پـه لږ وخت کې هغوی په شاه شول او ولسوالي بيرته ونيول شوه.

مولوي علي خان وايي: کله چې دکومک په هدف راغلي کسان بيرته لاړل دې کـار دشته مجاهدينو په مورال منفي تاثير وکړ، خو شينکوړک ته دمولوي صاحب په ورتـگ او هلته دخط اچولو حکم مجاهدينو ته مورال او حوصله ورکړه بيا مولوي صـاحب ماتـه دنورو ملگرو نه جلا وويل:دوی ماته وايي ولايت تخليه کړه، ايا‌ولايت داسې تخليه کړم چې زه تري ژوندی ووزم؟ زه به ترهغه ولايت مخالفينوته پرنږدم چې څو زما مړی لـه دې ځايه تللی نه وي، ځکه په شريعت کې له جگړې تيښته او په شـا تـگ جـوازنلري... خو ان شاء الله مونږ به بری ترلاسه کوو کوم لوی تشويش نشته.

## داطاعت کولو جذبه يې:

مولوي صاحب چې دشريعـت ښـه خبيـر عـالم و، همـيش بـه يـې دشريعـت پـه حکمونو خپله هم دعمل کوښښ کاو اونورو ملگروته به يې پـه شرعـي حکمونـو دعمـل کلکه توصيه کوله دځان په باب به يې ويلي: زه دلته دخـدمت او داعـلاء کلمـة الله پـه سپيڅلې جذبه او اراده راغلی يم، له دې پرته بله هيڅ اراده نلرم، اونه راته پـه خـدمت کې دولايت څوکۍ کوم ستر اهميت لري که ما امير المومنين صاحب دو لايت څخـه لرې کوي او په ځای يې راته بل ددينه وړوکی مسولـيت راکوي نوزه يې پـه قبلولـو کـې تردد نلرم زکه چې ماته دولايت څوکۍ مهمه نده بلکې دامارت شرعي واکمنـي مهمـه ده او په امارت کې خدمت مهم دی که هغه په لوړه څوکۍ وي او يا په ټيټه رتبه.

## ناروغي:

مولوي عبدالهادي اخندزاده صاحب ته د عمر پـه ورسـتيو کـې دشـکر او وينـې دفشار ناروغې پيدا شوې وه، دهغې په وجه يې روغتيايې حالت ښه نه و، خوپه ژبه يـې له ناروغۍ څخه شکايت نه کا و، بيا يې څه موده پس دسترگو ليد هـم کمـزوری شـو، کرار کرار يې نوربدن هم متاثر شو له وفات کيدو وړاندې يې روغتيايي حالت ترډېـره

شه و، دسترګونظر يې هم يوځه بيرته ځای ته راغلی و، خو داچې دمرګ ټاکلې نيټه نه بدليږې،هلته ټول تدبيرونه ناکام او هيڅ دي بالاخره ۲۰۱۴د ميلادي کال د لسمې مياشتې په ۳۰ مه نيټه دپنجشنبې په ورځ دسهار داشراق لمانځه کولو وروسته يې روح والوت او دتل لپاره يې سترګې له فاني نړۍ څخه پټې شوې. داولادونو سربيره يې په سوونو شاګردان( چې زياتره يې ديني علماء مدرسين اومجاهدين دي) مجاهدين او ملګري صدقه جاريه پريښودل په جنازه کې يې په لنډوخت کې لوی شمېر عوامو او خواصو او دامارت مسولينو اومجاهدينو ګډون وکړ،دجنازې وروسته يې جسد د پښتونخوا د کوهاټ غلام باندې د مهاجرينو په هديره کې خاوروته وسپار ل شو انا لله وانا اليه راجعون،ان لله ما أخذ وله ماأعطى وكل شئ عنده بأجل مسمى.الله تعالى دي مولوي صاحب ته مغفرت نصيب کړي او دنومورې ټولې ستړياوې، جهادونه ، درسونه او تکليفونه دي قبول کړي.

❊ ❊ ❊





## د شهيد مولوي مير احمدګل صاحب ژوند ته کتنه

ليکنه: ملا خبيراحمد مجاهد

شهيد مولوي ميراحمدګل هاشمي V داسلام، جهاد اوغيرتمن ټاټوبي افغانستان، ددفاع هغه فولادي سپراوتيره توره وه، چې زه هيڅ داسې عبارات اوټکي په ذهن کې نه لرم اونه يې تمثيلولی شم، ترڅو دهغه دپرافتخاره ژوند، سرشاره ديني اوجهادي خدمتونو اوځلانده قربانيوکماحقه حق پرې اداکړل شي .

ځکه دشهيد مولوي ميراحمدګل هاشمي ژوند،جهادونه، طالبي ، پوهه اوتدبير اوبالاخره شهادت، که هره برخه يې راوسپړل شي ، دوفا، ديانت ، اطاعت ، متانت اواسلامي تشخص منارونه پکې دنګ اوله ورايه ځليږي .

زه پورته دعوه له دې امله په جرأت کوم، چې ماته دشهيد ميرصاحب دژوند قيمتي شيبې اوکارنامې يوه يوه مخې ته ولاړې اوترډيره ځايه ترې اګاهي لرم، ځکه ځوکاله سره يوځای په طالبي اوکتابونوکې شريک اوهمدوره وو،بيا الله تعالى هغه ته دخاص جهادي اوسياسي فراست له مخې چې پرې لورولی يې و، هغه مو دجهاد او مبارزې مشرهم پاتې شو .

دغيرتمن ميرصاحب ، سياسي اوجهادي ژوند ټول له غيرت اوميړاني ، اطاعت او زغم څخه ډک و. دافغانستان اسلامي امارت څخه وړاندې چې کله دافغانستان دهرولايت لپاره داهل سنت والجماعت اتحاديې تاسيس شوي وې، ميرصاحب دلوګر ولايت په منظمه کې دخدمت ممتاز حيثيت درلود، داسلامي امارت د طلوع، حاکميت اودامريکايانو داشغال په اوږدو کې بيا دشهادت تر نيټې پورې، مجاهد ميرصاحب په داسې حال کې چې بيلابيلی دندې اومهم مسؤليتونه يې ترسره کړي

اویاورله غاړي وو اوهم یې په دغه مقدسه لارکې دتکالیفو، زخمونه ، زندانونو ډول ډول مرحلې تیرې کړي وي ، متعال رب B ، په ټولو دورو اوپراوونو کې سرفرازه راویوست.

## میراحمدګل هاشمي څوک وو :

شهید مولوي میراحمدګل هاشمي، دمرحوم میرعبدالله ځوی، په ختې ( سید ) په د(۱۳۵۲ ) لمریز کال کې دلوګر ولایت دمرکز اړوند( دپادخواب شانه ) کلي کې دې فاني دنیاته سترګې وغړولې. والد محترم او نیکونه یې روحاني هستۍ تیرې شوي ،چې په عام ولس اوخواصوکې یې ځانګړی ځای اومقام درلود.

## درس اوطالبي :

دطالبی دوراوبیافراغت یې ټول له خاکساری،ادب اوالفت څخه ډک و، په داسې حال کې چې په خپل وخت کې له ممتازو اوذهینوطالبانو څخه ګڼل کیده اوچې کوم کتابونه به یې له استادانو ویل، الله تعالی دهغودبالفعله تدریس قوه اوپوهه هم ورکړې وه.

شهید میرصاحب په خپل قلم لیکل شوو سوانحواوخاطروکې راوړي، چې ړومبنی زدکړې یې له خپل مشر ورور څخه ترلاسه کړي، منځنی زدکړي یې دپاکستان په بیلابیلو دیني مدارسو کې حاصلې کړي اودفضیلت اوفراغت دستار یې د پښتونخوا د اکوړه خټک په حقانیه دارالعلوم کې په سرکړ .

دالله ددین دغه نومیالی مجاهد، چې له یوې بزرګوارې روحاني کورنۍ سره یې تعلق درلود، خو دخپل ټول عمر په اوږدو کې شاید چا نه وي ترې اوریدلي اویایې نه وي ترینه محسوس کړي ، چې (زه سید، هاشمي اودلوړې علمي اوروحاني مرتبې څښتن یم ، یعني زما درناوی اواحترام دې وشي)





دهراستاد لاس به یې ښکلاوه، سره لدې چې استادانوبه ورته ویل چې ګوره ، ته سید یې زمونږ لاس مه ښکلوه. خو دمیراحمد هاشمي خپل شرافت اوکمال و چې دژوندترپایه الله تعالی په همدغه ادب او عقیدت سیرابه وساته اودوام یې ورکړ.

دشهید میرصاحب یوتن مشفق استاد شیخ القران والحدیث مولانامحمد اسماعیل رحماني وایي: مولوي میراحمدګل هاشمي چې ګڼ کتابونه یې له هغه لوستي،په دې سربیره چې دښه ذهانت څښتن و، کلکه مطالعه به یې کوله، وخت یې هیڅکله نه ضایع کاوو ، له کتاب، مدرسي اواستادانوسره به یې انتهایي مینه اومحبت درلود او دهغوی احترام به یې کاوو.

کله ناکله به ملګرو ورته ویل چې میرصاحب ته خو( سید ) هم یې یوتعویذ راته وکړه اویامو سر دم کړه ، هغه به تبسم وکړ چې هرسه مې زده اوپخې اجازي لرم اوالله تعالی په فضل اثر هم کوي، ولې په دې میدان کې ډیر خلک شته، هغوی بس دي ، ځکه داکارلویه جانداري غواړي اوتقاضاوي ورسره زیاتیږي ، مثلا له خلکو به توقع کوي چې ستااحترام دي وکړي اولاسونه دې چپ کړي اوماته لدغه کاره سخته حیا راځي !! .

## دمیرصاحب جهادي اوسیاسي اړخ :

مرحوم میرصاحب دطالبۍ په مهال چې په درس ویلوسربیره یې له جهاد اوعملي مبارزي سره خاصه علاقه درلوده، ددرسونو دکلنیو رخصتیودری میاشتې به یې له نورو ملګروسره دروسانواودهغوی دګوډاګیانوپه خلاف په جهادکې تیرولي، داهل سنت والجماعت په ولایتي اتحادیه کې یې مهم غړیتوب درلود، دنوموړې منظمې له لارې به دمسلمانانوترمنځ داصلاح، وحدت اودمنکراتو دمخنیوي لپاره چټکي هلې ځلې کولې.

کله چې په ۱۹۹۴ م کال کې دافغانستان دنجات په هیله اوپه هیوادکې دیوه اسلامي نظام دنفاذ په خاطر دعالیقدرامیرالمؤمنین ملامحمدعمر مجاهد ترمشرۍ

لاندې دطالبانواسلامي تحريک پيل شو، جناب ميرصاحب ديوه مخلص سپاهي اوغړي په توګه د جهاد ډګر ته راودانګل .

دشهيد ميرصاحب دسنګر يو نيږدې ملګری، مولوي نذيراحمد اخندزاده، دطالبانو دتحريک دپيل شيبي اودميرصاحب اخلاص داسې په ګوته کوي : غالبا ً پنجشنبې ورځ دتحريک دطلوع تازه شپې ورځي وي، مازديګرمهال ميرصاحب زموږمدرسي ته راغی دغه وخت موږد پيښور ورسک روډشيردادګړی په دارالعلوم ضياالاسلام کی ديره وو.

دمدرسی انګړته له ننوتوسره سم يې ماته وويل دمدرسې ټول مشران طالبان جومات ته راغونډکړه، ډيرمهم اوپه زړه پورې خبرمې راوړي پخپله يې په اوداسه شروع وکړه کله چې طالبان جومات ته راغونډشول هغوی ته دميرصاحب دخبرومهم ټکی دری ؤ

اول : دميډياتبصرواودخبريالانوپه راپورنوپسي سرمه ګرځوی ننني ميډيا دغرب دلوډ سپکرحيثيت لري، زماخبره واوری په يقين درته ويلای سم چې په کندهار کې دطالبانو کوم حرکت پيل شوی،داخلک په رښتياواقعي طالبان دي، موږپې په هکله مکمل معلومات وکړل داددينې مدرسوشاګردان دي، هيواد له تجزيې ژغوري ،دافغانستان حال ډيرخراب دی خپل منځي جګړو افغانستان نور لولپه کړ، اسلامي شرائع اواحکام د توهين لاندې دي دخلکوسراومال په خطرکی دی، نولازمه ده چه څومره ژروي ملاوې وترې جهادته ولاړسئ.

دوهم : دهرولايت طالبان دې د ځان لپاره يونظامي مسؤل وټاکي اوسرله سبادې ددغه مسؤل ترمشری لاندي افغانستان ته حرکت وکړی.

دريم: له کوموملګروسره چې دکرايې پيسې نه وي هغوی دې يوځه معطلي وکړي له يوشميرخواخوږومسلمانانوځخه دی دجهادپه نوم چنده وکړي بيادې ولاړسي.





داسلام اوجهاد دلارې دغه اتل،دهيواد په بيلابيلو جبهواوږومبيو جهادي کړښو کې دخپلولسګونو فداکارو ملګروسره مخامخ دمعرکي ميدان ته دانګل اوپه اکثروږومبی مهمو کړښوکې چې دښمن به ورته ډير تدابير نيولی وو، ميرصاحب به يې په ساتنه او په دښمن په فاتحانه بريدونو کې کليدي رول لوباوو .

دبيلګې په توګه دکابل دفتحې تاريخي جګړه يادوو چې دشهيد ملابورجان رح ترمشری لاندې يې دپکتيا دځينوسيمو له تصفيې څخه پيل، دمشرقي ترفتحې اوبيادکابل ترځنډو پورې وغځيده، په دغو ټولوفتوحاتوکې ميرصاحب لويي ستړياوي ګاللې اودميړانې حيرانونکي داستانونه لري، تردې چې دملابورجان دشهادت په ورځ، ميرصاحب هم په مخامخ توده جګړه کې کلک زخمي شو.

دغه ډول ميرصاحب دتخاردبنګي په ږومبی کړښه کې، دلغمان په دولت شاه، دلوګر په پل قندهاري،دکاپيسا په تګاب، نجراب اواله سای ولسوالیو کې، دشمالي په ګلدره، شکردره، چاريکارو، پل متک اودبګرام دوه لاري په ږومبيو جګړييزو کړښوکې ،دغه راز د بامیانوپه حاجي ګګ اوددننګرهار اوکونړ په بيلابيلو برخوکې داسلامي امارت ديوزړور جهادي مشرپه توګه حاضر و او جهادي حماسې يې د تاريخ يادګار کړې.

## د امريکايي يرغل په مهال

شهيدمولوي ميراحمدګل هاشمي، په خپله يوه مرکه کې دصليبي يرغل په وړاندې دخپل جهاد، مبارزي پيل اوځرنګوالي په دې الفاظو روښانوي : کله چې اسلامي امارت په کال ۱۳۸۰ لمريزکې دصليبي يرغل له امله له ښارونو څخه دهيواد لري پرتو اوقبايلي سيموته عقب نشيني وکړه، نوملګري سره تيت اوپراګنده شول، ترهغو چې ملګري بيرته سره منظم کيدل اورابطه ټينګيده،نو يو څو مياشتي يې واخيستي، له لنډي وقفي ورسته موږه عملي جهاد پيل وکړ اودلوګر ولايت په ټولوساحو کې سره لدې چې حالات زيات پيچلي او حساس وو خو دملګرو همت اودعام ولس اخلاص وو په يرغلګرو خال خال بريدونه پيل شول.

مجاهدينوپه لوګر کې په داسې شرايطو کې په مکار نړيوال دښمن بريدونه پيل کړل، چې دهغوی شيطاني ميډيابه مسلسل ډول داتبليغات کول چې په امريکايي اوخارجي وسايطو اوټانګونو يو شی هم کار نکوي، بلکې خنثی کوي يي. همدارنګه داتبليغات هم په درز روان وو چې څوک امريکايي اډو ته ورنيږدي شي اودبريد هڅه وکړي، هغوی يې په څو کلومتري کې ويني اوهم له هواڅخه ۵۲ Bامريکايي الوتکي دځمکې په سر يو يادوه اينچه څيز تشخيصولی او ترهدف لاندې نيولی شي،خو باور وکړي چې مونږ ته دغه غليمانه تبليغات يو يو دروغ ثابت شول .

د لوګر ولايت يو تن پيژندل شوی مجاهد چې اوس د اسلامي امارت په تشکيلاتو کې د غزني ولايت جهادي مسؤل دی مولوي محمد قاسم صميم وايي:په کال ۱۳۸۰ هـ ش کې چې د صليبيانو د يرغل شپږ مياشتې وتلې وې،ميرصاحب په لوګر کې زمونږ کور ته راغی چې د څرخ ولسوالۍ احمدي صاحب هم ورسره و،ميرصاحب راته وويل چې بايد د صليبي يرغلګرو په خلاف جهاد پيل کړو،ما ورته وويل چې لږ انتظار به وکړو تر څو وضعيت روښانه شي. خو ميرصاحب وويل چې انتظار کول ګناه ده،جهاد فرض عين دی او بايد د خپل وس مطابق جهادي ترتيب جوړ کړو.هماغه و چې د احمدي صاحب او د څرخ ولسوالۍ د شهيد مولوي محمد صاحب په همکارۍ مو يو ميل راکټ او دوه کلاشينکوف پيدا کړل،په لومړي ځل مو د څرخ ولسوالۍ په عمومي سرک د شپې په يوه بجه ددښمن ګزمې ته کمين ونيو،کله چې د دښمن د ګزمې موټر راغلل،ميرصاحب د تکبير له غږ سره د راکټ فير ورباندې وکړ چې د يرغلګرو و جيپ موټر مکمل تخريب شو. له دې وروسته مو په برکي برک او د مرکز پل عالم په مربوطاتو کې هم د انفجاراتو او هاوان بريدونو عمليات ترسره کړل چې په دې توګه دميرصاحب په هڅو په لوګر ولايت کې جهادي بهير راژوندی شو .

د جهاد دپيل د لومړنيو ځينو عملياتو په اړه ميرصاحب په خپلې يوې مرکې کې ويلي : د۱۳۸۱کال دثور په مياشت کې مو دلوګر دتنګي واغجان په سيمه کې په ړومبي ځل دخارجيانو په کتار يوه کارنده بمي چاودنه ترسره کړه چې څو عرادي موټريې له





منځه ولاړل اوګڼ اشغالګر پکې مړه اوټپيان شول. هغه بم مجاهدينوپه خپله جوړ اوريموټ يې ما د( کارتلس ) ټليفون نه برابرکړ . ماهلته ملګرو ته وويل چې ومولیدل دامريکا شاخ لرونکي درواغ، څنګه دطالب بم اوريموټ پرې خوله خښه کړه اودهغوی ټول تدابير يې بې معنا وګرځول. دغه راز يوه شپه زه سره له څوتنو ملګرو د لوګر دپادخواب شانه اوآبچکان په دښته کې دامريکايانوقوي کمپاين ته نيږدي دتوغندي توغولو لپاره ورغلو. دشپې يوه بجه وه، مونږ په توغندي لګياوو چې امريکايي څرخکه زمونږ په سر تيره شوه په کمپاين يې دوري وکړي . ماته شهيدخان محمد اوشهيد طالب وويل چې ميرصاحب څرخکي وليدلواوبيرته راباندي راګرځي. ماورته وويل چې څرخکه په کمپاين ګرځي اوخپله ګزمه کوي ورخطاکيږئ مه ، هماغسي وشول څرخکي څو دوري په کمپاين وکړي اوبيا دګردیزپه طرف ولاړه، بيا موخوتوغندي په کمپاين ور وتوغول اودروند زيان يې وروړاوه .

ميرصاحب و يلي: په همغه ساعت کې مې ملګرو ته وويل، چې دالله تعالی په فضل سره دامريکايانو بل دروغ هم راته ثابت شو اوومولیدل چې دکمپاين په څو سوه متري کې يې هم مونږ تشخيص نشو کړ لای.

ميرصاحب ليکلي: بيا مونږ اومجاهدين ټول له يوې نه بلې ورځي ته ډاډه کيدلو اومورال مو اوچتيده، ترڅو په هرځای کې پريکنده عمليات او ګوزارونو په دښمن شروع شول .

**مسؤليتونه :**

په دې سربيره چې شهيد ميرصاحب دلوګر دطالبانو اومجاهدينو يونوميالی مشر اوسوونه سربکف مجاهدين يی لرل، دامارت په ليکو کې يې ددې پروا نه ساتله چې لوړ ه څوکۍ ورته ورکړل شوي، که ټيټه. داطاعت اوخدمت جذبه يې په رګونو کې هميشه په غورځنګووه، کله چې دطالبانو اسلامي تحريک لويی پکتيا ته ورسيد، دسيدکرم ولسوالی چې يوه ناامنه سيمه وه اوان دپکتيا مرکز ګرديز ته به تړې امنيتي ګواښونه متوجه کيدل، نوميرصاحب سره له ملګرو هلته وليږل شو اودمشرانو له لوري

په دې نيت چې ميرصاحب ګڼ اووفاداره ملګري لري اوخپله هغه نظامي تجربه اوزړورتيا لري نو دسيدکرم ولسوالی دامنيه قومندان په توګه وټاکل شو. يوه ملګري ترينه پوښتنه وکړه چې ميرصاحب په لسګونو تکړه مجاهدين اوملګري لري اولوړ نوم اوحيثيت دې دی، ته ايله دسيدکرم ولسوالی امنيه قومنداني قبلوي، بايد مشرانودرته دپکتيا ولايت درکړي وای. ميرصاحب ورته په خندا کې وويل چې مشرانو به لازمه بللي وي اوهمدومره استعداداو وس به زمونږ ورته ښکاره شوي وي، بله خبره داچې تحريک زمونږ خپل کور دی او داټول منصبونه کـه لـوي دي او کـه واړه ټول زمـونږ دي!! پـه همدې ډول داسلامي امارت دواکمني په مهال چې اتل شهيد مولوی خوشحال ملنګ دکاپيساوالي اوشهيدمولوي محمدشريف سعيددولايت مرستيال و، ميرصاحب په نظامي دندې سربيره دولايت مستوفيت دنده هم پـه مـخ وړلـه ،داراز دغـزني دفرقي معاونيت اودننګرهار منتظره قطعي کې دځو سوو ملګرو پـه مشری سربيره دچپرهارولسوال په توګه هم په خورا صداقت خدمتونونه اوجهادونه ترسره کړي .

له صليبی يرغل ورسته مرحوم ميرصاحب، دپنځو کلونو لپاره دلوګر دوالي پـه توګه دنده اوجهادي مسؤليت لاره اوپه ډيره ځيرکتيا او زړورتيا يې په دغـه مـوده کې هلته دجهاد رهبري ترسره کړه . دهغه ترڅنګ يې دنظامي عمومي کميسون غړيتوب هم درلود. يوځه موده دموسساتواو شرکتونو د چارو دعمومي کميسون مشرهم پـاتي شو . له هغه وروسته يې دوه ځله دننګرهار ولايت دوالي په توګه يې په خورا متانـت او اخلاص سره دنده ترسره کړه. د ننګرهار د والي په حيث د لومړي ځل وظيفې په مهـال ميرصاحب ونيول شو او څو کاله يـي سـخت زنـدان تيـر کـړ لـه راخلاصـيدو وروسـته ددوهم ځل لپاره دننګرهار والي شو چې دشهادت مرتبه هم پـه داسې حـال کـې چـې دننګرهار والي و ورته ورسيده.

## د ميرصاحب د ميړانې په زړه پورې واقعه

مولوي محمد قاسم صاحب چې د ميرصاحب د طالبۍ او د جهاددوخـت نـږدې ملګری پاته شوی دی وايي،چې د طالب العلمۍ په وخـت کـې مـا لـه ميرصـاحب سره





يوځای د پيښور په بورډ سيمه کې په ضياء المـدارس مدرسـه کـې لـه شـيخ الحـديث محمدنعيم اخندزاده صاحب سره درسونه ويل،د مدرسې له څنګ سره يو هوار ميـدان و، په دې سيمه کې دننګرهارولايت يو ملک يا قومي مشر هم اوسـيده يـوه شـپه يـي د زوی واده و او د سرود محفل ته يـي سـازنده او رقاصـې راوسـتې وې، طالبـانو د شـپې کتابونه کتل خو د ساز اواز دومره جګ و چې مورږ ترينه کتاب نه شوای لوستلای .

په دې وخت ميرصاحب راغی ما او نورو طالبـانو تـه يـي ووېـل چـې دا بـه ډيـره کمزوري وي چې زمورږ په څنګ کې دلته د ساز او ناروا اعمالو مجلس جوړ وي او مـورږ ورته هيڅ نه وايو ، راځئ چې په دې محفـل بريـد وکـړو او دغـه بـدکاره خلـک لـه دې سيمې وشړو .

ماورته ووېل چې دا به څنګه امکان ولري ځکه دې خلکو د خپـل سرود د مجلـس امنيت نيولی او مورږ تش لاس يو، ميرصاحب ووېل چـې دمدرسـې پـه انګړ کـې پخـې خښتې پرتې دي دا به راسره واخلو او حمله به پرې وکړو .

وروسته ميرصاحب ګڼ شمير طالبان رايوځای کړل ،د حملې ترتيب يي جوړ کـړ او دشپې په يوه بجه يي د ساز په هغه محفل حمله وکړه چې امنيت يي مسلحو کسـانو ساتلی و،دالله تعالی په نصرت ميرصاحب په خپل مخلصانه کار کې کامياب شو او هغه د ناروا اعمالو مجلس يي تارومار او عاملين يي له سيمې تيښتې ته مجبور کړ ل چـې د دنومورې د ميړانې او جرآتمندانه کردار يوه جالبه خاطره وه .

## دميرصاحب زغم اواستقامت :

ميرصاحب يواځې په عادي حالاتوکې دلوړې حوصلې ، تدبير اوزغم کـمال اولـوړ نوم نه درلود، بلکې له هرې سختۍ اومشکل حالت سره به هم چې مـخ شـو، الله تعـالی يې حوصله، صبر اواستقامت پرځای ساته اوپه دريځ اوموقف کـې بـه يـې تزلـزل اوبـې ځايه تغير نه محسوسيده، هميشه به يي ملګـرو تـه دلـوړ مـورال خـبري کـولې ، دډار اووهم کيسي يې هيڅکله په خوله نه راتلې .

دامریکایانودیرغل ړومبی شپي ورځي وي ، یعني تقریبادری که څلور میاشتي به تیرې شوي وي ، اکثره ملګري سره نادرکه اویوپه بل خبرنه وو، دغلیم تبلیغات هم اوج ته رسیدلي وو ، زه ( قلموال ) هم په کور کې غلی اوسیدم اوډیر نه ښکاره کیدلم اوباور وکړی یو ډول ذهني تکلیف راته لویدلی و چې دابه څه کیږي. یومازدیګر یوتن مجاهد زمونږ کورته راغی چې میرصاحب راغلی اوماښام دلته راځي، مونږ ددې انتظار کاوه چې میرصاحب به په کومه لار راځي داسې نه چې څوک یې و ویني. ماښام چې کله تیاره شوه میرصاحب زمونږ دکور مخامخ دغونډې په سر راواوښت، اوپیاده راروان وو، په لیدویې که له یوې خوا له خوشالۍ نه په جامو کې نه ځایدم، خو له بلې خوا سخت تشویش راسره وو، چې تعقیب شوی نه وي،ځکه امریکایي چورلکې هم مسلسلې ګرځیدي. ماورته وویل دغونډې شاته خو په یوکلومتري کې دامریکایانو کمپاین پروت دی، څنګه راتیرشوې؟ په خنداشو چې همداسې په څنګ یې راغلو، مطلب مو داو چې لږ یې اندازه هم راته معلومه شي ، ترڅو دشپې له پلوه پرې کله ناکله توغندي وتوغوو. بیا میرصاحب دسقوط دستومانه شپو ورځولوی داستان بیان کړ، ورسره یې دمشرانو ځینو ملګرو دارتباط ذکروکړ، همدغه ډول یې دعملي جهاد عزم ښکاره کړ اودخپل راتګ موخه یې همدغه وبلله، بیا ترینه ما څو پوښتني وکړې چې میرصاحب څنګه ممکنه ده چې په دغسي حالاتوکې چې څوک هغه دچا خبره ، (پر ) نشې وهلی وطن ټول امریکایانو او دهغوی جاسوسانو نیولی،دامریکایانو امکانات وګوره اوتش لاسي مجاهدین!!!؟

پیاوړي اوجوهرشناس میرصاحب زمادمزاج برابرډاډ داسې یوڅو کیسې راته وکړي چې زما په رګونو کې نوې وینه پیداکړه اوزما ذهن یې دیته اماده کړ چې بیرته په عملي مبازره پیل وکړو، دمیرصاحب دهغه مجلس خلاصه ټکي داوو ( زمونږ اوستاسي داسې یوه داعیه ده، چې ملت یې راسره تسلیموي، ولس اوامت ته مودغیرت امتحان ورکړ، صرف یو وهم او رعب ددښمن پروت دی اوهغه په دې لیري کیږي چې





مجاهدین یوڅو عملیات ترسره کړي اودامریکایانو پلیدي ویني تویی شي، بیا الله تعالی مهربان دی ، کارونه سمیږي )

زما په فکر له همدې شپې وروسته، میرصاحب سره له نورو ملګرو په لوګر کې دامریکایانو په لوی کمپاین ( خدر ) باندي بریدونه پیل کړل هره شپه به یې پرې دتوغندیووارونه کول ،همدې پیل دمجاهدینو اوعام مخلص ولس په ذهن کې داخبره اوروحیه واچوله ، چې دامریکایانو مقابله کیدلای شي .

داچې میرصاحب دوه ځله زنداني شوی وو، یوځل په خوست کې دامریکایانو په لاس ، بل ځل په پاکستان کې ، په پاکستان کې یې چې نیږدي دوه کاله دزندان سخت تکلیفونه تیرکړل. دمیرصاحب د زندان یوملګري ،( موسی فرهاد ) وایی ( میرصاب هلته ډېر ځوریدلی وو کله چې اول ځل نیول شوی وو بیا یی ډېر سخت ځای ته اچولی وو ، ده په هغه ځای کې هم له کړاوه ډکه څه موده تیره کړی وه ، چې وزن یی تقریباً له شاوخوا ۱۰۰ کیلو څخه ٦۰ کیلوته را ټیټ شوی و، بیا یی کله چې له هغه سخته ځایه مورِ ته راووست، د وجود لخوا ډېر سخت ناتوانه سوی و، کومو ملګرو چې هغه پخوا لیدلی و او اوس یی ولیدی هیڅ یی نه پیژانده او تصور یی نه کاوو چې دا هغه میرصاب دی، خو په خبرو ، ټوکو او حوصله کې همغه سړی و، هیڅ ډول تکلیف یې نه محسوساوه . هر یوه ته به یی ډېره تسلی ورکوله ، چې کله به دزندان یو مشر اویابل افسرراغی ، نو ده به هغوته ډېرسپین حقایق ویل ، خو بی نزاکتي او یا په بد اخلاقه لهجه خبرو کولو نه به یې هم خپله ځان ساته او هم به یی ملګرو ته ویل چې داسې حرکت به نه کوو ، چې دوی ته مورِ سپک خلک ښکاره شو او یا وارخطا ورته ښکاره شو، دوی ته به خبره په نزاکت او درنه لهجه کوو او څرګند حقایق به ورته وایو ، ترڅو چې دوی بی نزاکتي کړي نه وي.

دفرهاد په وینا، خلاصه داچې شهید میرصاحب V معقول ،هوښیار او ښه تقوا داره سړی و . عبادت به یی ډېر زیات کاوه . په ډېر لږ وخت کې یی تر شل، پنځه

ويشت پارو پورې قرانکريم چې له زندان څخه ووت حفظ کړی و، الله تعالی دي ټول تکليفونه او قربانی ورته قبولي وگرځوي .

**شهادت :**

داسلام دلارې دلوی مجاهد اوداسلامي امارت دنومیالی مشر، شهید مولوي میراحمدگل هاشمي جهادي کارنامواوراتلونکو اتلولیزو پلانونو چې داسلام اوافغانستان ددښمنانو په سترگوکې اغزي جوړ کړي وو اوتحمل یې نشو کولای ،دهغوی په کرغیړنو لاسونود ۱۴۳٦ هجري قمري کال دشعبان المعظم میاشتي په ۲۴ نیټه دجمعي په مبارکه ورځ دهجرت په دیارکې په یوه بزدلانه حمله کې دشهادت لوړي اوسترې درجي ته ورسید. اناالله وانااليه راجعون

دشهید میرصاحب جنازه په خپل ابايي ټاټوبي لوگر کې په داسې حال کې چې په زرگونو مسلمانانوپکې په ډیراخلاص اوعقیدت برخه اخیستي وه ادا اوبیا دپادخواب شانه دکلي دجامع جومات ( مزار ) په انگړ کې دنوموړې سیمي دلوي ولی الله (میرسیدمحمد ولي ) رحمه الله خواته دفن کړل شو.

سپیڅلي اروا دې ښاده ، جهادي کارنامي دي ځلانده اودلاري مشعلونه وي ، امین.

❊ ❊ ❊





## د مرحوم مولوي سید محمد حقاني ژوند ته کتنه

**لیکنه: قاري سعید**

د ۱۴۳۷ هجري قمري کال د دریمې میاشتې په ۲۲ نیټه چې د ۲۰۱٦ میلادي کال د جنورۍ له دوهمې سره برابره وه د اسلامي امارت یو وتلی او منلی شخص مولوي سید محمد حقاني د اجل داعي ته لبیک ووایه. مولوي سید محمد حقاني د حاجي ملا لعل محمد اخند زوی په قوم پښتون /اځکزی په ۱۹۷۲ میلادي کال د کندهار ولایت د ډنډ ولسوالۍ مربوط ښار ته نږدې سیمه محله جات کې د اځکزو په کلاچه کې په یوه متدین او علمي خاندان کې دنیا ته سترگې وغړولې.

نوموړی چې د خپل عالم پلار مشر زوی و له کوچنیوالي یې په دیني زده کړو پیل وکړ. په کور کې له ابتدایي تعلیماتو وروسته یې په ډیر کشر عمر د سیمې له یوه تکړه عالم مولوي لال محمد اخند څخه چې د مور لخوا دده نیکه هم کیده زده کړه پیل کړه،او لومړني کتابو نه یې ولوستل.

د کمونیستانو له انقلاب وروسته نوموړي په علم پسې له سفر وړاندې په کندهار ښار کې په بیلابیلو مساجدو کې له علماء کرامو څخه دیني زده کړې وکړې لکه د کندهار ښار د لرگو د گنج په سیمه کې احمدیه مدرسه،د شرکت میوې په سیمه کې حمیدالله جان اخندازده، ثاني مولوي عبید الله جان صاحب او مولوي عبدالعلي صاحب څخه یې څه موده ديني زده کړې حاصلې کړې او بیا دعلم په تلاش له هیواده ووت او دپاکستان په ستر ښار کراچي کې یې د ددیني علومو تحصیل پیل کړ.

**له علم سره کمساري مینه**

د حقاني صاحب د خپلې ژبې اقرار دی چې د تعلم او طالبۍ په مهال مې له کتاب او سبق پرته په بل هیڅ شي ځان نه دی مصروف کړی. د نوموړي نږدې قریبان

او د طالبی ملګري هم همدا خبره کوي چې نوموړی د تعلم په مهال یو جدي او خواریکښ طالب و چې حتی د مازدیګر او ماښام تر منځ یي هم ډیر ځله مطالعه کوله.

حقاني صاحب په کراچۍ کې له څه مهال درس ویلو وروسته د بلوچستان کویټې ښار ته لاړ اود شالدړې په مشهوره مدرسه مظهرالعلوم کې یي داخله واخیسته په دې مدرسه کې له دوه کاله تعلم وروسته یي د کویټې په یوه بله مشهوره مدرسه الجامعة الاسلامية الاشرفية کې زده کړې پیل کړې چې د فراغت تر مهاله یي ۷ کاله پرلپسې په دې مدرسه کې زده کړو ته دوام ورکړ.

د مرحوم حقاني صاحب ماما ملا محمد حسین آخند وایي چې حقانی صاحب له سبق سره نادره مینه درلوده، کور یي په کندهار کې وه چې کویټې ته نږدې دی، خو ده په علم پسې له کال زیاته مسافري کوله . ۱۳ میاشتې بعد به کور ته ستنېده، او چې کله به کورته لاړ نو هلته یي هم ټوله مشغولا له تعلم او تعلیم سره وه.

د ۱۹۹۴ میلادي کال په اکتوبر کې هغه مهال چې د حقاني صاحب په اصلي ټاټوبي کندهار کې د طالبانو د تحریک په نوم یوه نوي خوځښت سر راپورته کړی و.حقاني صاحب د کویټې په اشرفیه مدرسه کې د صحاح سته وو د وروستیو احادیثو سمع کوله او د تعلم له پړاوه فراغت ته یي ځان جوړاوو.

د ۱۹۹۴ میلادي کال د نومبر په دریمه نیټه چې د ۱۳۷۳ لمریز د عقرب له دیارلسمې سره سمون خوري، هغه ورځ چې حقانی صاحب له دیني علومو د فراغت دستار په سر کاوو او په دې ویاړ لوی مراسم رابلل شوي و، په کندهار کې طالبانو د پنجوایي،ډنډ او بولدک له نیولو وروسته د کندهار ښار په خوا سوقیات پیل کړي و چې دوه ورځې وروسته دنومبرپه پنځمه یي دغه ښار له جګړه ماروقومندانانو څخه ونیو.

مولوي سید محمد حقانی صاحب د احادیثو اجازت نامه له وتلي او مشر عالم شیخ ابوعبدالله نورحبیب سواتي صاحب څخه ترلاسه کړه او د لوی عالم شیخ الحدیث عبدالبصیر صاحب په ګډون مشهورو علماء کرامو یي په سر د فضیلت پګړی وترله.





## دری ورځې دمه

د حقاني صاحب ماما ملا محمد حسین وایي: د حقاني صاحب له فراغت وروسته چې کله مو غوښتل کندهار ښار ته ستانه شو نو چې بولدک ته راغلو لار بنده وه ځکه په کندهار ښار طالبانو جنګ شروع کړی و،څه ځنډ وروسته چې طالبانو ښار ونیو کور ته ستانه شوو، حقاني صاحب دری ورځې په کور وکړې او په څلورمه ورځ بیا له کوره لاړ. دا ځل یي د طالبانو په تحریک کې خدمت پیل کړ چې بیا تر هغه وخته چې په همدې اسلامي خوځښت کې د خدمت په مهال یي خپل روح باري تعالی ته وسپاره نوموړی د اسلامي امارت په چوکاټ کې په خدمت بوخت پاته شو.

ملا محمد حسین اخند وایي:د حقانی صاحب د والدې شریفې همیشنی ارمان همدا و چې له خپل مشر، صالح او شریف زوی حقاني صاحب سره په ګډ ژوند مې تنده نه شوه ماته، له ډیر کوچنیوالي راڅخه په علم پسې مسافر شو او چې له علم نه فارغ شو نو دری ورځې بعد یي د طالبانو په تحریک کې خدمت او جهاد پیل کړ ډیر وخت به له کوره بهر و تر څو په همدې لاره کې حق ته وصل شو.

## په اسلامي امارت کې خدمتونه او مسؤلیتونه

لکه وړاندې چې وویل شول مولوي سید محمد حقاني صاحب د طالبانو په لاس د کندهار ښار له نیولو وروسته له مقدمو کسانو څخه و چې د طالبانو په اسلامي تحریک کې یي خدمت پیل کړ،نوموړي خپله وظیفه د کندهار د اطلاعاتو او کلتور له ریاست څخه پیل کړه،د کندهار د اطلاعات و کلتور ریاست چې په تنظیمي دوران کې د جګړه مارو مرکز او فرهنګي محیط یي د چرسو بوی او د سګریټو پاتې شونو په سر اخیستی و، د سید محمد حقاني صاحب په شمول د تحریک د فرهنګي ځوانانو په مټ یو ځل بیا د علم او فرهنګ په مرکز بدل شو.

طالبانو چې د عقرب میاشتې په نیمایي کې کندهار ښار ته داخل شوي و لږ وخت وروسته یعني د همدې کال په جدي میاشت کې یي نه یوازې د کندهار مشهوره

ورځپاڼه طلوع افغان له چاپه را وایسته بلکې راډیو یې هم فعاله او ورپسې یې د خلافت او کندهار مجلو د چاپ لړۍ هم پیل کړه.د طلوع افغان ورځپاڼې د هماغه کال په لومړنیو ګڼو کې د مرحوم حقاني صاحب څو لیکنې هم خوندي دي .

مرحوم حقاني صاحب وروسته د کندهار ولایت د اطلاعاتو او کلتور ریاست مرستیال او څه موده بعد ددې ریاست رئیس وټاکل شو. چې د خپل مسؤلیت په وخت کې یې د پام وړ فرهنګي خدمات انجام کړل.

د طالبانو په لاس د کابل له فتحې وروسته نوموړی د بهرنیو چارو د وزارت اداري مرستیال تعین شو، خو لږ موده بعد د اسلامي امارت د چارو د اداري د لوی ریاست د رئیس په حیث وټاکل شو.

ځرنګه چې له طالبانو وړاندې په پلازمینه کابل او ولایاتو کې حکومتي اداري سیستم بشپړ فلج و د طالبانو له سترو کارنامو یوه هم د اداراتو له سره فعالول و، چې په دې برخه کې د جناب حقاني صاحب خدمتونه د یادونې وړ دي .

مرحوم حقاني صاحب په دې اړه په خپل یوه یاداشت کې لیکلي : کله چې د مشرقي ولایاتو د فتحو لړۍ پیل شوه، دملا نورالدین ترابي په مشرۍ ځانګړی کمیسیون وټاکل شو ترڅو د مفتوحه سیمو ادارات فعال کړي دوی هر ولایت ته په ورتګ سره د هغه ولایت اداري تشکیل ټاکه او اداري نظام یې فعالاوو، دبیلګې په توګه ننګرهار ته په ورتګ سره شهید مولوي احسان الله احسان د والي په حیث وټاکل شو، دغسې نور رئیسان هم وټاکل شول، څو ورځې وروسته چې کله مجاهدینو کابل ونیو، نوپه کابل کې دچارو د کنترول لپاره لومړی د عالیقدر امیرالمؤمنین لخوا شپږ کسیزه عالی رتبه شوری وټاکل شوه ، ورپسې یې په کابل کې دحکومتي اداراتو د عاجلانه فعالیت لپاره د کندهار ولایت ټول رئیسان په کابل کې دخپلو اړوندو وزارتونو د سرپرستو وزیرانو په حیث وټاکل، په دې توګه د کابل له فتحې سره هم مهال حکومتي ادارات بې له کوم ځنډ او خنډ څخه فعال شول او خپل اصلاحي او انکشافي چارو ته یې دوام ورکړ .





نوموړی د چارو د اداري د لوی ریاست د کار په اړه لیکي: د حکومتي دود سره سم د اسلامي امارت په واکمنۍ کې هم د چارو دادارې ریاست د حکومتي چارود کنترول او بررسۍ د مرکز په حیث فعالیت کاوو.د ټولو وزارتونو، ریاستونو او ولایاتو عرایض،پیشنهادات او راپورونه له همدې لارې ریاست الوزراء او دامیرالمؤمنین دفتر ته رسیدل. دغه راز د مشرتابه فرامین، هدایات او احکام هم د چارو دادارې د ریاست لخوا ټولو وزارتونو او اړوندو مراجعو ته رسول کیدل.

ځرنګه چې د چارو دادارې رئیس د کابینې غړیتوب درلود او دوزیرانو د شورۍ د منشي مسؤلیت یې هم درلود، همدا کار د حکومتي چارو په هماهنګۍ او شفافیت کې نور هم مرستندوی واقع شوی و، داسلامي امارت د وزیرانو شورا هره چهارشنبه غونډه درلوده، تر غونډې وړاندې د ځانګړي پلاوي لخوا د غونډې اجنډا ترتیب کیدله، چې مجلس به وربانديې ترسره کیده،د غونډې فیصلې چې کله په پښتو او کله په دري لیکل کیدلې،د چارو دادارې د ریاست لخوا ټولو اړوندو مراجعو ته د اجراء لپاره استول کیدلې.

حقاني صاحب دچارو د اداري د ریاست له دندې وروسته په اسلام ابادکې د افغانستان د سفیر په حیث تعین شو خو څه کم یو کال وروسته بیرته د چارو د اداري د رئیس په حیث وټاکل شو، نوموړی چې په اداري امورو کې یې د پاموړ استعداد درلود په افغانستان د امریکایانو د یرغل تر مهاله په همدې مهمه دنده پاته شو، چې ورسره یې د اسلامي امارت د وزیرانو د شورۍ د منشي په حیث هم دنده اجراء کوله.

په افغانستان له یرغل نه وروسته چې کله پلازمینه او د هیواد لوی ښارونه د یرغلګرو لخوا اشغال شول او مجاهدینو اطرافي سیمو ته خپل تشکیلات نقل او په مسلح جهاد یې لاس پورې کړ، مرحوم حقاني صاحب هم دنورو مجاهدینو په څنګ کې دجهادي بهیر په ښلا ښلو شعبوکې له هیڅ راز خدمت نه مخ نه اړاوه چې بلاخره په ۲۰۰۷ م کال یې د اسلامي امارت د فرهنګي کمیسیون د مرستیال په حیث دنده پیل کړه.

په دې مرحله کې نوموړي په پوره اخلاص،جديت او تدبر سره د کفري يرغل په وړاندې فرهنګي او نشراتي جهاد ته خپل ژوند وقف کړ او د فرهنګي کميسيون د مشر جناب متقي صاحب تر څنګ يي د يوه مخلص، فداکار او پُرکاره ملګري په حيث د غرب د تبليغاتي توپان د دفع کولو او په وړاندې يي د اغيزناکې جهادي نشراتي مبارزې د سنګرونوپه ودانولو پيل وکړ.

په افغانستان امريکايي يرغل لکه څنګه چې په پوځي لحاظ يو پراخ ايتلاف تر شا درلود، تبليغاتي بُعد يي هم همدومره پراخ او په مقابل کې يي د مجاهدينو نشراتي فعاليت هم د حجم او مؤثريت له اړخه دومره دقيق او اغيزناک و چې حتی دښمن يې په ځواکمنۍ اعتراف وکړ او د مجاهدينو رسنيز فعاليت يي سريع او مؤثر وباله. چې د نورو ګڼو قلمي مجاهدينو ترڅنګ ددې ويارمن مطبوعاتي سنګر يو تکړه او نه ستړی کيدونکی غازي مرحوم حقاني صاحب و چې له الله تعالی څخه ورته د ټولو خدمتونو د قبوليت خواست کوو.

## مرحوم حقاني صاحب د ملګرو په خاطرو کې

د حقاني صاحب د ډير وخت ملګری مولوي امير خان متقي صاحب وايي: حقاني صاحب يوښه ځيرک ديني عالم وو ، جهاد او اسلامي امارت سره يې دزړه له تله مينه اوخلوص درلود. دادارې کار په زړه پوري وړتيا يې لرله، له ملګرو سره يې وفا اومينه ريښتيني وه، په عملي کارونو کې يې ښه ابتکار درلود اودعام ولس په درد به دردمن اوپه خوښيو به يې خوشحاله وو.

د اسلامي امارت ويانډ ذبيح الله مجاهد: حقاني صاحب دحق ويلو، حق ديد، حق اوريدلو، حق منلو او حق اوسيدلو يو دنګ منار وو، کله به يې چې يقين وو چې دا لاره حقه ده، د هيڅ شي په بدل کې يې هم هغه مسير نه پريښود، د منازعاتو او مشاجرو په اړه د فيصلې پرمهال به يې حق ته کتل، دغوصې او خفګان له املې له حق څخه نشو تيريدای، د عمر تر پايه په حق پاتې شو او له حق سره ملګری دحق په لاره له حق سره وصل شو.





د اسلامي امارت ويانډ قاري محمد يوسف احمدي: مرحوم حقاني صاحب به باربار راته ويل چې دکار له ملګرو سره چې مو څومره کوښښ کيږي نور هم په صميميت کې پاتې شئ ځکه ليري والی هغه څه دي چې ستاسو پر کارونو مستقيماً بد تأثير پرې باسي او دی به دملګرو تر منځ په دوستانه فضا ډير زيات خوشحاليده ډير له شهرت او خودنمايي نه لرې خدای ته نيژدې يو مخلص انسان و.

ليکوال او شنونکی مولوي عبدالرحيم ثاقب: مرحوم حقاني صاحب سره له دې چې ټول وخت يې د يوه ښه اداري کار پوه او تجربه لرونکي ديپلومات په توګه په مسؤليت کې تير شوی و خو بيايي هم هيڅ کله خپل ځان پرخپلو ملګرو باندې لوړ نه ګانه ؛ بلکې کوښښ يې کاوه چې د خپلو کاري ملګرو له تجربو او کاري پوهې څخه استفاده وکړي.

دهيواد نامتوليکوال ملا عتيق الله عزيزي: هرځل چې زه ورسره مخ شوی يم داخلاقو اوديانت د دغه هسک منار له خولي اوژبي څخه به داسې توصيې او مجرب نکات لورول کيدل چې باور وکړئ زما لپاره به هغه ډير قيمتي ثابتيدل اودخدمت دسرعت باعث به ګرځيدل ، هيڅکله ما نه وو ترې اوريدلي چې داکار اوکارنامه ما کړي بلکې هرڅه به يې دملګرو دخدمت اوهڅو محصول ګڼل .

د مرحوم حقاني صاحب وروڼه دده د کورني ژوند په اړه وايي: مرحوم حقاني صاحب په شخصي ژوند کې هم عجيب عادات درلودل،له چا سره يي په خپګان او حسد کې هيڅکله سيالي نه کوله، ډير ځله داسې شوي چې يو څوک به ترې خپه و او حسد به يي ورسره کاوو مګر دی به خپله کور ته ورغی، که به هغه ځان ترې پټ کړ نو د کور غړو ته به يي وويل چې ورشئ پلانی راولئ له هغه سره مې کار دی په دې طريقه يي هرڅوک دې ته مجبورول چې ښه دوستي ورسره وپالي.

خپلو وروڼو ته يي هميشه دا توصيه وه چې صله رحمي او خپلوي به له هيچا سره نه قطع کوئ، که څوک هرڅه درسره کوي خو تاسو به يوازې د يوه ديني اصل په حيث

صله رحمي او خپلوي ورسره پالئ.د شهيدانود کورنيو او يتيمانو يي ډير خيال ساته، تر خپله وسه يي کومک ورسره کاوو.

ما (ددې کرښو ليکوال) هم له حقاني صاحب سره اوه کاله نږدې ملګرتيا درلودلې ده چې نوموړی مې همیشه د شخصيت په لحاظ د يوه مستعد انسان په حيث درک کړی دی. د حقاني صاحب يو ستر خوی شرافت او لوړه اخلاقي رويه وه،نوموړی اداري سلسله مراتب له اړخه زموږ مشر و، مګرد څو کلنې ملګرتيا په ترڅ کې مې له نوموړي هيڅکله داسې قول،فعل يا چلند حس نه کړ چې ځان د نوموړي په نسبت حقير يا تر امر لاندې حس کړم.

نوموړي په اداري ماحول کې له کارکوونکو سره په افقي تعامل باور درلود، تجربو ثابته کړې چې په اداري ماحول کې د عمودي تعامل په نسبت افقي چلند په مراتبو سره اثر لري،په افقي چلند کې آمر خپلو ترلاس لاندې کسانو ته د مأمورينو نه بلکې د ملګرو په نظر ګوري، فرمان يي د أمر نه بلکې د التماس په لهجه وي او د ملګرتيا يو ماحول يي جوړ کړی وي، په اصل کې دا چلند د رسول الله H طريقه ده،چې خپل تر لاس لاندې کسان يي اصحاب يعني ملګري بلل،له هغوی سره تعامل يي بشپړ طبعي او د لوړو ديني انساني اخلاقو او صميميت څخه مالامال و.

د مرحوم حقاني صاحب بل صفت چې له املې يي نوموړی په هر چا خوږ لګېده،خوشرويي،همیشنی موسکا او مينه ناک چلند و،هيڅکله يي غوسه او سخت ګيري نه کوله، د ترخو تجربو د زغم ، له پامه غورځولو او هيرولو چل يي زده و.

نوموړي د شرافت او اخلاقو کرښو ته همیشنی تعهد درلود، هيڅکله په ټيټو او کم ارزښته موضوعاتو نه غږېده، هيڅکله مې د ضدبازی،سيالی،انتقام،قومپالنې، منطقه پرستی، تاوبلي ماوبلي او دغسې نور مبتذل او بي ارزښته بحثونه حتی په ډيرو خصوصي مجالسو کې هم ترې وانه وريدل.د ګيلې، شکايت او غيبت عادت يي نه درلود او تر ډيره حده يي په اشخاصو بحث نه کاوو بلکې په موضوعاتو به غږېده.





## وفات

حقاني صاحب چې د خپلو جهادي وظايفو په مهال په سفر بوخت و د ۱۴۳۷ هـ ق کال د ربيع الاول په ۲۲ مه نيټه د شنبې په ورځ يي د ورپيښې نارونی له املې خپل روح حقيقي بادار او ملک الارواح ته وسپاره. انا لله و انا اليه راجعون

د مرحوم مولوي سيد محمد حقاني صاحب تر شا پنځه کشران ورونه او اته زامن پاته شول، چې لله الحمد په ټولو کې دده اثار نښکاره او زامن يي په ديني زده کړو بوخت دي.

د حقاني صاحب د وفات خبر په رسنيو او ټولنيزو شبکو کې په کمساري بڼه بدرګه او ډيرو خلکو ورباندې د حسرت او تسليت ليکنې وکړې، د اسلامي امارت د مشرتابه لخوا هم د نوموړي په وفات رسمي تعزيتي بيان نشر شو چې په يوه برخه کې يي راغلي: د افغانستان د اسلامي امارت مشرتابه، د اسلامي امارت رهبري شوری او فرهنګي کميسيون د اسلامي امارت د ټولو منسوبينو په نمايندګی د نوموړي د وفات له املې د مرحوم کورنی ته د تعزيت او تسليت مراتب وړاندي کوي.

متعال څښتن دې د جناب حقاني صاحب خدمتونه په خپل دربار کې قبول کړي، الله تعالی دې ورته په دنيوي عباداتو او د اسلامي نظام لپاره په زغملو ستړياوو کامل کامل اجرونه ورکړي او الله تعالی دې يي کورنی ته صبرجميل او نعم البدل ورنصيب کړي. آمين

❊ ❊ ❊

# د شهيد مولوي محمد عالم کليم ژوند او کارنامو ته کتنه

ليکنه: قاري سعيد

د ۲۰۱٦ ميلادي کال د جنورۍ په شپږمه نيټه د افغانستان اسلامي امارت د خپلو نظامي جهادي کدرونو له منځه يو خورا غښتلی او کارنامه ساز مجاهد له لاسه ورکړ.

هو کې، مولوي محمد عالم کليم هغه مجاهد و چې لکه څرنګه يې چې د مجاهدينو تر منځ د يوه وياړلي او مخلص مجاهد په حيث شهرت درلود همداسې يې په کفارو او د حق په دښمنانو کې هم زړونه خوږين کړي و، دا چې مولوي محمد عالم څوک و؟ څرنګه ژوند يې وکړ؟ او د اسلامي نظام په لاره کې يې کوم جهادي خدمتونه وکړل ؟ په راتلونکو کرښو کې يې لوستلی شئ.

## شهيد مولوي محمد عالم کليم

مولوي محمد عالم کليم د ۱۳۴۳ هـ ش کال په پسرلي کې د زابل ولايت د ميزاني ولسوالۍ په لنډۍ نومې سيمه کې د کوچيانو په يوه کاله کې دنيا ته راغی. د پلار نوم يې محمد اصغر او د پښتنو د اندړو له قبيلې سره يې تعلق درلود.

محمد عالم کليم په کم عمر کې ددينې زده کړو حصول ته ملا وتړله. لومړۍ زده کړې يې په تانده ځوانۍ کې د پاکستان د بلوچستان په پښين سيمه کې ترسره کړې،وروسته د ديني تعليماتو لپاره قبايلي سيمو ته لاړ هلته په شمالي وزيرستان ميرانشاه کې د وتلي جهادي مشر مولوي جلال الدين حقاني صاحب په مدرسه منبع العلوم کې شامل او ديني زده کړو ته يې ادامه ورکړه.

څرنګه چې د مولوي جلال الدين حقاني مدرسه په تعليمي خدمت سربيره د جهادي فکر مدرسه هم وه، مولوي محمد عالم کليم په همدې مدرسه کې په جهادي





فکر وروزل شو او وروسته يې د مولوي جلال الدين حقاني تر مشرۍ لاندې دافغانستان په جنوب ختيځ خوست اوپکتيا کې عملا په جهاد کې برخه واخيسته او لومړنی جهادي سفر يې له همدې ځايه پيل کړ.

نوموړی په خوست کې له څه مودې جهاد وروسته زابل ته راغی او په خپله سيمه کې يې د زابل د ميزان په ولسوالۍ کې د آمر ملا ظريف تر قوماندې لاندې د سرو لښکرو او کمونيستي رژيم پر ضد جهاد ته ادامه ورکړه.

مولوي محمد عالم کليم له جهاد سره سره خپل ددينې زده کړو سلسله هم تعقيبوله،د بلوچستان په لورلايې، کويټه اونورو مختلفو سيمو کې يې له ديني مدارسو ديني تعليم ترلاسه کړ. نوموړي د کمونيستي نظام د سقوط تر وخته هميشه جهاد ته هم تلو، خو دکورنۍ جګړې او تنظيم شاهۍ په دوران کې يې ټولې توجه يوازې دينې زده کړو ته راوګرځوله.

نوموړي خپله ددينې زده کړو سلسله د اسلامي امارت دواکمنۍ په مهال پای ته ورسوله او د پاکستان په مردان کې يې له مشهور عالم شيخ الحديث مولوي حمدالله جان داجوی صاحب څخه د احاديثو او فراغت سند ترلاسه کړ.

## د طالبانو په اسلامي تحريک کې شموليت او خدمتونه

مولوي محمد عالم کليم هغه وخت د طالبانو له تحريک سره ملګری شو،چې دې تحريک په کندهار کې نوی ظهور کړی و او لا د کندهار ښار واک يې نه و ترلاسه کړی. نوموړي د زابل ولايت د دايچوپان ولسوالۍ د يوه ډلګۍ مشر مولوي عبدالخالق تر مشرۍ لاندې په دې اسلامي تحريک کې خدمت پيل کړ، په ګڼو جګړو کې يې برخه واخيسته، د کابل له فتحې وړاندې د وردګو ولايت په ميدان سيمه کې زخمی شو خو الله تعالی ورته شفاء ورکړه. د کابل له فتحې وروسته يې هم په پروان، کاپيسا او د افغانستان په شمالي ولاياتو کې په ډيری جنګونو کې د يوه مخلص او مطيع مجاهد په حيث برخه واخيسته.

په ۱۹۹۷ میلادي کال کې چې کله د طالبانو یو لوی لښکر د سالنګ تونل له لارې د افغانستان شمال ته واوښت دغه مهال مولوي محمد عالم د جبل السراج په سیمه کې د شورای نظار لخوا ونیول شو او څو میاشتې ورسره بندي پاته شو.

مولوي محمد عالم چې د شورای نظار له کوم قومندان سره بندي و د هغه ورور له اسلامي امارت سره بندي و. دغه قومندان مولوي محمد عالم ته وویل چې که ته زما ورور راخلاص کړې نو زه به هم تا ازاد کړم،مولوي محمد عالم له یوه دریمګړي سره یوځای کابل ته راځي او د جهادي خط قومندان ته وایي چې دی په مشروط ډول له دښمن څخه راغلی دی او وعده یي ورسره کړې چې د پلاني قومندان ورور به د ځان په مقابل کې خلاصوي،نو که ستاسو خوښه وي هغه د قومندان ورور ازاد کړی او که مو خوښه نه وي نو زه به بیرته دښمن ته ورشم.

دغه مهال په لومړیو کې دقومندان دورور په خلاصولو موافقه ونه شوه نو ځکه مولوي محمد عالم بیرته دښمن ته د ورتلو اراده وکړه، خو له روانیدو وروسته یي د مجاهدینو مشرانو پریکړه وکړه،د شورای نظار دقومندان ورور یي ازاد کړ او مولوي محمد عالم له نیمې لارې بیرته راستون شو. چې دغه دښمن ته بیرته د ورستنیدلو او حتی له دښمن سره وعده پالل د نوموړي یوه کمساري کارنامه وه او ددې قرآني أمر نغد امتثال و چې الله تعالی په وعده د وفا په اړه فرمایي: و أوفوا بالعهد ان العهد کان مسؤلا.۳۴ سورة الاسراء . ترجمه: او په عهد وفا وکړئ د عهد په اړه په یقین سره پوښتنه کیدونکې ده.

## د امریکا په خلاف جهاد

له کابل څخه د طالبانو له وتلو او امریکا له حاکمیت وروسته مولوی محمد عالم له هغو لومړنیو مجاهدینو څخه و چې له څو تنو نورو مجاهدینو سره په ګډه یي په زابل ولایت کې جهاد پیل کړ.د زابل ولایت په شاجوی ولسوالۍ کې نوموړی له مقدمو مجاهدینو شمیرل کیږي.





د مولوي محمد عالم نړدې ملګری مولوي محمد انور وایي: هغه د پیل وخت ډیر د غربت او تش لاسۍ وخت و. د مولوي صاحب او نورو طالبانوکورونه حکومت تلاشي کړل او وسلې یي ترې یووړې. حتی یو میل سلاح هم نه پیدا کیدله. مولوي محمد عالم زه د سیمې یوه قومندان ته ورولیږلم چې یوه میل سلاح راکړي،هغه راته وویل چې ټول امارت رنګ شو اوس په یوه کلاشینکوف نه راټینګیږي. ما دا خبره مولوي محمد عالم ته وکړه هغه قسم یاد کړ چې ټول مجاهدین تسلیم شي هم ارام به نه کینم او که په تش لاس هم وي جهاد ته به ادامه ورکړم.

مولوي عبدالحلیم منصور چې هغه مهال لومړنی ډلګۍ مشر و وایي: په پیل کې د مولوي صاحب د ملګرو له جملې موږ دری کسان یعني مولوي محمد عالم،شهیداسدالله جمشید او زه و چې مخفي جهادي کارونه مو پیل کړل. لومړی مو یوازې په شاجوی کې فعالیت کاوو وروسته دایچوپان،خاکران او ارغنداب ته مو هم فعالیت پراخ کړ.نوموړی وایي له مولوي محمد عالم صاحب سره په ګډه مو ۵۴ میله وسله توزیع کړه او ځوانان مو جهاد ته تیار کړل چې وروسته ددې ټولې ډلګۍ مشر- مولوي محمد عالم وټاکل شو او تشکیلات یي خورا پراخ شول.

عبدالحلیم منصور د هماغو لومړیو سختو شپو انځور داسې راته وړاندې کړ: هغه سخت وخت و چا له ډاره مجاهد ته شپه نه شوی ورکولی،موږ به د بازار له نانوایي ډیرې ډوډۍ واخیستې، له ځان سره به مو غرو ته یووړې هلته به مو یوه هفته ورباندې ګوزاره کوله. د یخ او ګرمۍ ټولې شپې به مو په تورو غرو کې تر آسمان لاندې کولې،حتی کله به چې ډیر یخ و نو په ریګونو کې به مو د قبر غوندې ځایونه راته ژور کړل او ریګ به موپه ځان واړاوو تر څو د شپې له سخت یخ نه ورباندې ځان وساتو،له ډیر یخ څخه دځینو ملګرو رنګونو داسې تور اوښتي وو چې شناخته خلکو نه پیژندل حتی له لورې او تندې ځیني ملګري بې حسه کیدل.

له همداسې امتحاني شیبو څخه مولوي محمد عالم صاحب د یرغلګر کفر په خلاف جهاد پیل کړ،خو له نوموړي سره د ټولو مجاهدینو په خیر الهي نصرت ملګری

و. ډير زر يي ملګري اضافه شول، الله تعالی غنائم په لاس ورکړل،د کار ساحه يي پراخه شوه، دزابل په مختلفو ولسوالیو سربیره يي په غزني او کندهار ولایاتو کې هم جهادي خدمت پیل کړ، تردې چې په وروستیو کې يې د خپلې مربوط ډلګۍ د مجاهدینو شمیر تر زرو مسلحو مجاهدینو ورسید.

د جهاد په لومړیو کلونو کې د مولوي محمد عالم لـه مشهورو جهادي بریدونو څخه یو د هغه ایټالوي چارواکي وژل و چې غوښتل يي له کندهاره کابل تـه پـه موټر سایکل لاړ شي چې د شاجوی ولسوالۍ د بازرګان په سیمه کې دنومـوړي پـه مشرۍ مجاهدینو له منځه یووړ،چې دې بریـد هغه وخت په رسنیو کې یو ځل بیا د مجاهدینو د موجودیت خبرونه تاوده کړل.

ورپسې د نومـوړي په مشرۍ مجاهدینو د ارغنداب امنیه قومنـدان عبدالمحمـد سره له ملګرو د سیاګز بند په سیمه کې په یوه کمین کې له منځه یووړل او ورپسې په لویه لاره د تازي په سیمه کې له دښمن سره ټوله ورځ سخته جګړه وشوه او په دې ډول جهادي عملیاتو علني شکل غوره کړ.

د جهاد له علني کیدو وروسته د لومړنیو کلونو هغـه لـوی عملیـات چې مولـوي محمدعالم صاحب له نورو مجاهدینو سره په کې برخوال و، د ارغنداب د بـاغ پوسـته له منځه وړل،د خاکران ولسوالي د مرکز نیـول،د ارغنـداب د ولسـوالۍ مقـام او ګڼې پوستې نیول،له امریکایانو سره په ارغنداب کـې سـخت جنـګ چـې پـه لـومړي ځـل د امریکایانو تر لسو پورې مړي پاته او ځلور ټانګونه لـه منځـه لاړل او لـه غـزني څخـه د راغلې قوې په شا تمبول چې د جاوید په نوم هزاره قومندان يي د خرني په سیمه کې د مولوي محمدعالم لخوا په موټر کې سپور په راکټ وویشتل شو اووژل شو.

په یادو عملیاتو سربیره مولـوي محمـد عـالم نـور هـم ګـڼ عملیـات او جهـادي کارنامې سرته رسولې چې د ټولو یادول ددې لیکنې تـر حوصـلې لـوی کـار دی،خـو پـه مجموع کې ویلی شو چې نومـوړی د زابـل ولایـت پـه سـطحه یـو لـه سـترو او پُرکـاره مجاهدینو څخه و چې ډیر وخت يي په سنګرو کې تیریدو. په تیرو څوارلسو کلونو کې





دنومـوړي د زر کسیزې ډلګۍ ۲۰۳ تنه مجاهدین له یرغلګرو سره په سختو جګـړو کـې شهیدان شوي،مولوي محمد عالم صاحب په امریکا ضد جهادکې دری ځله ټپـي شـوی دی،نومـوړي د امارت په تشکیلاتو کـې د زابـل د ارغنـداب، شهرصفا،شـلمزو، نوبهـار، شینکۍ،میزاني او چوپان ولسوالیو نظامي مسؤلیتونه کړي همدارنګه د زابـل د ولایتـي کمیسیون غړی او څه موده يي رئیس هم پاته شوی دی.

## د شهیدمولوي محمد عالم کلیم د شخصیت په اړه

مولوي محمد عالم کلیم په ټوله معنی یو رښتینی،فداکار او سرسپارلی مجاهـد او د الله تعالی ددین خادم و. نومـوړی یو ورزیده او مدرس عالم هم و د خپـل کـور لـه خوا سره يـي دوه مدرسـې یـوه د هلکـانو او بلـه د نجونـو تاسـیس کـړې، چـې سـلګونه ماشومان او لویان په کې زده کړې کوي،په دې سربیره د نومـوړي اصلي مشغله د الله په لاره کې مسلح جهاد و.

نومـوړی لکه څرنګه چې د بهرنیـو کـافرو یرغلګـرو سرسـخته دښـمن و د هغـوی دداخلي ګوډاګیانواو جاسوسانو په خلاف يي هـم جـدي موقـف درلـود. مـلا احمـدالله وثیـق وایـي: مولـوي صـاحب بـه پـه دې آیـت ډیـر اسـتدلال کـاوو چـې د رسـول الله H د اصحابو صفت دا و چې اشداء علی الکفار رحماء بینهم. له همدې امله خو نومـوړي د کفارو او د هغوی د ملګرو په خلاف له ډیر جدیت څخه کار اخیسـت او د نومـوړی د جدیت له امله د زابل به ډیرو سیمو کې ددښمن پلویان خصوصا جاسوسان له منځه لاړل اوځیني يي له سیمې تیښتې ته اړل شول.

وثیق صاحب وایي چې د بګرام په زندان کې د تحقیق په وخت يي یـوه ورځ ټـول تحقیق د مولوي محمد عالم صاحب پـه اړه راځخـه کـاوو، چـې دا څرنګـه سـړی دی؟ چیرې اوسي؟ څه ډول ملګري او امکانات ورسره دي او څرنګه عملیات کوي؟

د شهید مولوي صاحب یو نړۍ ملګری یحیی وایي چې د مولوي صاحب همیشنی معمول د قرانکریم تلاوت و چې که به یي لس دقیقې فرصت پیدا کړ هم قرانکریم به یي راواخیست او تلاوت به یي کاوو.

د جنید په نوم مجاهد وایي چې د ډیر تلاوت له امله به ډیرځله په خوب کې هم د نوموړي په ژبه د قرانکریم آیتونه تلاوت کیدل چې په خپله یي تړي اوریدلي دي،په تلاوت سربیره دتهجد لمونځ هم دده داسې معمول چې په هرځومره سخت حالت کې یي هم نه قضاء کاوو.

د شهید مولوي محمد عالم صاحب مرستیال او د ډیر وخت ملګری نقیب الله مقیم د نوموړي د شخصیت په اړه وایي: په مولوي صاحب کې د یوه ښه مؤمن او معیاري مجاهد ټول صفات موجود و خو ځلور صفات یي داسې تر نورو ښکاره او تر لمر روښانه و چې حتی دښمن یي هم شاید سترګې ورباندې پټې نه کړي.

مولوي صاحب انتهایي غیرتي و او الله تعالی ورته لوی زړه او د جګړې په ډګر کې د ثبات توفیق ورنصیب کړی و.بله داچې ښه تقوا یي درلوده زما ورسره د ملګرتیا دوولس کاله وشول ډیرې شپې مو یوځای کړې خو زما نه یادیږي چې کومه شپه یي تهجد پرې ایښی وي.دریم داچې د خپلو امیرانو په اطاعت کې خورا جدي و،په هیڅ وجه یي دشرعي امیر له اطاعت څخه غاړه نه غړوله او ځلورم داچې تواضع یي درلوده، له کبر او شهرت څخه یي نفرت کیده دا یي زړه غوښتل چې د خدای ددین خدمت وکړي اونوم یې پټ پاته شي. نمایش او ځان مطرح کول یي خوښ نه و.

د فاروق په نوم مجاهد وایي چې د زخمیتوب په شپو کې مولوي صاحب له ماسره یوځای په موټرسایکل ګرځیده، یوه شپه چې د پسرلي لومړۍ باراني شپې وې او سخت یخ و د شاجوی د کرتو په سیمه کې زما او مولوي صاحب په غرو کې شپه وه، نیمه شپه مې کړپ کړوپ تر غوږ شو زه وارخطا شوم چې هسې نه امریکایان راغلي وي. خو چې کتل مې مولوي صاحب چې زخمي هم و په باران او یخه هوا کې پاڅیدلی د غره په سړو اوبو یي اودس کړی او د تهجد په لمانځه ولاړ دی.





د نوموړي د ملګرو په وینا د مولوي صاحب بل صفت دا و چې د جماعت لمونځ یي هیڅکله نه پریښود،حتی که دوه کسان به هم و، نوموړي به ملګرو ته ویل چې یو طالب او یو امي مجاهد په موټرسایکل سره ملګري کیږئ او د جماعت لمونځ هیڅکله مه پریږدئ.

## شهادت

مولوي محمد عالم کلیم V چې بیابیا ددښمن له چاپو او بریدونو څخه الله تعالی ورته نجات ورکړ په پای کې داجیر دښمن په یوه ناڅوانمردانه او بزدلانه برید کې د ۲۰۱۶ میلادي کال د جنورۍ میاشتې په شپږمه نیټه د پاکستان د بلوچستان ایالت په کچلاغ سیمه کې د شهادت لوړ مقام ته ورسید.

چې په جناره کې یي لسګونه زره مهاجرینو، مجاهدینو او عامو مؤمنانو ګډون درلود.

روح دي یي ښاد او یاد دیي یې تل وي.

رحمه الله تعالی

❊ ❊ ❊

# د شهید ملا عبدالسلام بریالي ژوند او کارنامو ته کتنه

لیکنه : قاري سعید

د ۱۳۹۵ هجري شمسي کال د حوت د میاشتې په اتمه نیټه داسلامي امارت یو لوړ رتبه او مهم جهادي مشر او د کندز ولایت والي ملا عبدالسلام بریالی د امریکایي بې پیلوټه الوتکې په برید کې د شهادت لوړ مقام ته ورسېد.

ملا عبدالسلام ددې زمانې یو له سترو جهادي شخصیتونو څخه و چې د خپل عمر ډیره برخه یې لومړی د فساد پر خلاف او وروسته د امریکایي یرغل په خلاف په جهاد کې صرف کړې وه. د نوموړي شهادت په پراخه کچه غبرګونونه درلودل، په دې سربیره چې اسلامي امارت یې د شهادت په مناسبت ځانګړې اعلامیه صادره کړه، په ټولنیزو رسنیو کې ډیرې مقالې او تعزیتي لیکنې یې په اړه نشر شوې او په ټول کندز سربیره یې په مختلفو سیمو کې فاتحې واخیستل شوې. دښمن د نوموړي د شهادت په اړه په لوړه کچه اظهارات وکړل،چې په دې لړ کې اشرف غني د حوت په نهمه د سرتیرو د ورځې نمانځنغونډې ته په وینا کې د نوموړي یادونه وکړه او هغه یې د طالبانو یو مهم مشر- وباله او ورپسې د امریکایي یرغلګرو مشر جنرال نیکولسن هم په دې اړه اظهارات وکړل او د ملا عبدالسلام شهادت یې خپله یوه لویه لاسته راوړنه وبلله.

په راتلونکو کرښو کې د جهاد او مبارزې د لارې د دې نه ستړي کیدونکي او اتل غازي په کارنامو باندې رڼا اچوو او د شهید ملا عبدالسلام اخند د شخصیت په اړه ناویلې خاطرې درته وړاندې کوو.

**شهید ملا عبدالسلام بریالی:** ملا عبدالسلام د محمد سرور زوی په ۱۳۵۵ هجري شمسي کال کې د کندز ولایت د دشت ارچي ولسوالۍ په سرفراز تپه کلي کې په یوه غریبه او متدینه کورنۍ کې دنیا ته راغی.نوموړی لا د عمر په لومړیو کلونو کې





و چې په افغانستان د شوروي ښکیلاک لخوا یرغل وشو او په هیواد کې د جنګ اور ولګېد. د ملا عبدالسلام اخند کورنۍ هم د نورو ملیونونو افغانانو په شان د هجرت لار ونیوله،د هیواد له شمال کندز څخه بیا په جنوب کې د پاکستان تر سرحد پورې د هجرت د سختو پراوونو له وهلو وروسته د دوی کورنۍ د بلوچستان د ځنګل پیرعلیزي په سیمه کې د مهاجرینو په یوه میشت غالي کې ځای پر ځای شوه.

ملا عبدالسلام اخند همدلته د هجرت په ماحول کې را ستر شو، ابتدایي عصري او ورپسې دیني زده کړې یې وکړې او د یوه ممتاز طالب په حیث یې د علم سفر ته ملا وترله. خو لا یې د علم په حصول ارمان نه و ختلی چې په افغانستان کې د فساد او ګډوډۍ پر ضد د طالبانو اسلامي تحریک پاڅون وکړ. ملا عبدالسلام اخند خپلې زده کړې په نیمایي پرېښودې او په تانده ځواني کې چې ایله یې پر مخ د ډیرې آثار ښکاره شوي و د طالبانو له اسلامي تحریک سره وصل شو.

## د طالبانوپه اسلامي تحریک کې د فرد په حیث

مولوي محمد رحیم وایي: هغه وخت چې طالبانو کندهار او د هلمند مرکز لښکرګاه نیولې وه خو د هلمند د شمالي ولسوالیو موسی کلا او کجکې لپاره یې تشکیلات کول.په هماغه وخت کې مې په لومړي ځل ملا عبدالسلام ولید چې په کندهار کې له طالبانو سره په تشکیل کې و او بیا د هلمند موسی کلا ته لاړل.ملا عبدالسلام چې دا یې د ځواني لومړي کلونه وو د جهاد ډیر مینه وال و. نوموړي داسلامي تحریک په جهادي تشکیلاتو کې د مولوي عبدالعلي صاحب په ډلګۍ کې و چې د هلمند له تصفیې وروسته میدان ښار، له هغه ځایه، دلوګر عینک ته لاړ، ورپسې یې څه موده د کابل جنوب ته د ریشخورو په سیمه کې په جهادي لیکو کې وظیفه اجراء کړه او بیا د میدان ښار د کوه قرغ په علاقه کې تر هغه وخته په جهادي خدمت بوخت و چې کابل د اسلامي امارت د مجاهدینو په لاس فتحه شو.

د کابل له فتحې وروسته د دوی ډلګۍ لومړۍ د خیرخانې کوتل ته نږدې په شپاړسمه فرقه کې ځای پر ځای وه وروسته د د شمالي خطونو ته لاړل چې ملا

عبدالسلام هم ورسره همیشه د قره باغ او کلکان په دفاعي خطونو کې و. د شمالي د دوهم ځلي فتحې وروسته چې کله جبل السراج او ګلبهار ونیول شول او د طالبانو خط د پنجشیر په خوله دالان سنګ سیمه کې و، ملا عبدالسلام اخند هم همدلته جهادي وظیفه سرته رسوله چې همدلته په یوه سخته غرنۍ سیمه کې د جګړې په مهال ټپي او د علاج لپاره له سیمې انتقال شو.

له صحت یابي وروسته نوموړی یو ځل بیا د شمالي خط ته راغی او بیا چې کله د شمالي صفحاتو د عمومي فتحې په لړ کې د سمنګانو ولایت ونیول شو نوموړی له خپلو ملګرو سره سمنګان ته لاړ، د امریکا تر یرغل اته میاشتې وړاندې له سمنګان څخه دوی پلخمري ته تبدیل شول او بیا تر پایه همدلته و چې د جهادي نوبت تیرولو لپاره به د تخار جنګي خطونو ته هم تلو.په پلخمري کې د وظیفې په مهال یې څه وخت د آمر کشف په حیث هم وظیفه ترسره کړه. ملا عبدالسلام اخند بیا تر هغه وخته په شمال کې و چې امریکایانو په افغانستان یرغل وکړ.

## د کندز محاصره او د شبرغان زندان

ملا عبدالسلام اخند هم د زرګونو نورو مجاهدینو سره د امریکایي یرغل په مهال په کندز کې محاصره شو، هغه وخت چې دوی له هرې خوا کلابند و او له پاسه وربانديې ظالمانه بمبار شروع و سخته امتحاني مرحله وه، د نوموړي ځینو ملګرو د شخصي رابطو له لارې له محاصرې د ځان ایستلو کوښښ وکړ او ده ته هم همداسې وویل شول. مګر ده به ویل زه څرنګه دا دومره د ډیر وخت ملګري او نابلده مهاجر مجاهدین همداسې یوازې پریږدم او د خپل ژوند بچ کولو هڅه وکړم. سره له دې چې کندز دده اصلي وطن و او په ډیره اسانۍ یې کولای شوای خپل ځان ددوستم له کانټینرو او زندان څخه بچ کړي، مګر ملا عبدالسلام په هماغو امتحاني شیبو کې د خپلو ملګرو سره وفا وپالله او یوازې یې هماغه لاره غوره کړه چې مجاهدینو وربانديې عمومي سلا او توافق کړی و.





ملا عبدالسلام د زرګونو مجاهدینو سره یوځای د یوه توافق له مخې د مزار په خوا روان شو، مګر غدار دوستم له دوی سره غدر وکړ، هغوی ته د لارې ورکولو په ځای یې دوی په کانټینرونو کې واچول چې په دې کې زرګونو مجاهدین شهیدان او ملا عبدالسلام په داسې حال کې چې د کانټینر ډیری ملګري یې شهیدان شوي و په بې هوښه حالت کې له کانټینر څخه ژوندی را وایستل شو.

وروسته نوموړي اته میاشتې په شبرغان کې ددوستم په هغه زندان کې تېرې کړې چې د وحشت او ظلم له اړخه یو مثالي محبس بلل کیده،ملا محمد رحیم اخند چې دغه وخت یې د نوموړي په راخلاصولو کې ډیرې هڅې کړي دي، وایې چې بالاخره مو ملا عبدالسلام اخند دپیسو په مقابل کې ددوستم له زندان څخه راخوشی کړو مګر کله چې له زندان څخه راووت ماته یې لومړۍ خبره دا وه چې ته خو دلته یو څه بلد شوی یې او د بندیانو د راخلاصولو درک در معلومیږي، دلته ډیر بیچاره مجاهدین بندیان دي زما مشوره دا ده چې ته همدلته پاته شه، زه ځم اوپه هره طریقه چې وي پیسې درته پیدا کوم او رالیږم تر څو دا نور مجاهدین هم راخلاص شي.

## د امریکایانو په خلاف د جهاد بیا پیل

د شبرغان له محبس څخه له راخلاصیدو وروسته نوموړی د افغانستان جنوب ته لاړ،هلته یې څه موده په خپله پخوانۍ ډلګۍ کې فعالیت وکړ او وروسته د اسلامي امارت په تشکیل کې مستقله ډلګۍ ورته منظوره کړای شوه او خپله ملا عبدالسلام یې دمشر په حیث وټاکل شو.

په دې مرحله کې چې دکندهار په سپین بولدک، معروف او نورو سیمو کې د شهید حافظ عبدالرحیم صاحب لخوا جهادي عملیات پیل شوي وو، ملا عبدالسلام هم ورسره جهادي عملیاتو ته تلو، نوموړي په معروف، ارغسان او زابل سیمو کې په لومړنیو جهادي عملیاتو کې شرکت وکړ او کله چې مجاهدینو د کندهارپه پنجوایي او ژرۍ کې عملیات پیل کړل هم نوموړی څو ځله پاشمول ته لاړ او په جهادي بریدونو کې یې برخه واخیسته.ملا عبدالسلام اخند چې د جهاد سخت شوق او جذبه یې درلوده او د

کفري يرغل په مقابل کې مسلح جهاد يې خپله فريضه بللـه،چې هـر ځـای بـه جهـادي عمليات گرم و ځان به يې ور رساوه په دې لړ کې نوموړي د شهيد قاري فيض محمـد سجاد، شهيد ملا شهزاده اخند او ګڼو نورو جهادي قومندانانو سره د هيواد په جنـوبي ولاياتو کې په عملياتو کې شرکت وکړ.

د ۲۰۰۴ ميلادي کال په وروستيو کې مـلا عبدالسـلام آخنـد د اسـلامي امـارت د مشرتابه لخوا د کندز ولايت د مرستيال په حيث وټاکل شو،نوموړی له يوه بـل ملګـري شهيد ملاجانان اخند سره کندزته لاړ، دا وخت پـه کنـدز کـې د جهـادي عمليـاتوکوم څرک نه و.دوی په علي اباد کې د ملاغازي کور ته ورغلل هغه ورسره ملګری شـو او پـه پيل کې يې په کندز کې د مساجدو له امامانو سره ليدل کتـل پيـل کـړل او خلـک يـې جهاد ته دعوت کړل. لږ موده وروسته ملا عبدالسلام د کندز ولايت د جهادي مسـؤل په حيث تعين شو.

د ملا عبدالسلام ترمشری لاندې په کندز کې لومړی خفيه جهادي کارونـه پيـل شول،وروسته کرار کرار جهادي کارونه علني شول او د۲۰۰٦ ميلادي کال تر پايه پـورې د کندز ټولو ولسوالیو ته جهادي عمليات پراخ شوي وو،له دې وروسته پـه کنـدز کـې پرلپسې جهادي وضعيت په کمي او کيف لحاظ دښه کيدو په حال کې و، اګر که ۲۰۰۷ م او ۲۰۰۸ م کلونه هم په کندز کې دجهادي بريادو له اړخه بې ساري وو ، خو په ۲۰۰۹ کال کې جهاد دورځنيو عملياتو له اړخه خورا مهـم پيشرفت وکـړ ، پـه دې کـال کـې يوازې دهغو راپورونو له مخې چې رسما نشر شـوي دي مجاهـدينو پـه کنـدز کـې ۱۹٦ بيلابيل عمليات سرته ورسـول ، چـې پـه کورنيـو سرتيـرو سربيـره يـې بهرنيـو جرمنـي عسکرو ته هم درنه مرګ ژوبله له ځان سره درلوده. په دې کال له مهمو بريدونو څخـه دالمان په چانسلره ( انګيلا مرکل ) او دفاع وزير بانـدې دمجاهـدينو بريـد و کلـه چـې هغوی کندز ته دخپلو سرتيرو دليدو لپاره راغلي وو په دې برید کـې دغـه دوه المـاني مشران بچ شول خو الماني سرتيرو ته يې په ځاني زيان سربيره دښـمن تـه منفـي رواني پايلې هم درلودلې .





د ۲۰۰۹ م کال په پسرلي کې هغه مهال چې جرمني يرغلګرو عسکرو په چهـاردره کې عمليات پيل کړي وو او ملا عبدالسلام اخند د مجاهدينو مشري په غاړه درلوده له الاماره ويب پاڼې سره په يوه مرکه کې يې د هغه مهال جهادي وضـعيت داسـې انځـور کړی((په چاردره کې ۱۱ ګروپونه لرو چې په هرګروپ کې له ۱۵بيا تر۲۰مجاهدين شته، دټولومجاهدينوشمېر لـه ۲۰۰ اوړي . داخـو زمـونږ هغـه مجاهـدين دي چـې هروخـت ددښمن مقابلې ته آماده وي نور دعام اولس په منځ کې مونږ بيخي ډېر ملاتړي لروچې دضرورت په وخت کې ورباندې غږکولای شـو. څـوورځې وړانـدې جرمنـي ځواکونـه د لاسپوڅو پوليسو او اردو په ګډون چې نږدې ۱۰۰ ټانګونـه اوپـوځي وسـايط ورسره وو،د عملياتوپه موخه دچاردرې ولسوالۍ ته راغلل. دلته يوه لويه دښـته ده پـه دې کـې يـې واړول مجاهدينوددې لپاره چې کليوته ېې ددداخلېدومخه يـې ونيسي۔ لـه وړانـدې يـې ورته کمينونه اوريموت کنترول ماينونه اماده کړي وو. جرمني يرغلګـر لـومړی دعـين المجر سيمې ته راداخل شول چې مجاهدينو ورباندې برید وکړ په څوساعته جګړه کې ۳جرمني ټانګونه په راکټو ولګېدل اواوريې واخيست اوزيات شمېر سپاره سرتيري يـې ووژل شول. په همدغه ورځ دوی دباسوسوپه خوا هم پياده سرتيري رامارش کـړل چـې کلي ته ددداخلېدو په وخت په نږدې باغچوکې دمجاهدينوپه کمين کې ولوېدل. زمـونږ ملګـري کيسـه کـوي چـې ۸ تنـه جرمنيـان يـې وليـدل چـې پـه لـومړي برېـد کـې دمرميوخوراک شول. ددې ورځې په پای کې ددوی ټانګونودسـجانيوپه خوامخـه وکـړه هلته هم مجاهدين ورته اماده وو دلتـه پـه جګـړه او د ماينونوپـه انفجـارونوکې ددوی ۴ټانګونه له منځه لاړل اودسر دروندزيان هم ورواوښت.

د عملياتوپه دوهمه ورځ د چاردرې د سرک بالا پـه خـوا دوی حرکـت وکـړ دلتـه دميرشيخ په سيمه کې ددوی يوټانګ په ماين وخـوت چـې سـپاره سرتيـري يـې ووژل شول. له دې پېښې شېبه وروسته دقريه فتاح په سيمه کې دوی دمجاهدينولـه کمـين سر ه مخامخ شول چې پـه سـخته جګـړه کـې ددښـمن ۲ټانګونـه وويشـتل شـول بياپـه ميرشيخ کې ددوی بل ټانګ هم له منځه لاړ لنډه داچې په دې ۲ورځوکې دوی پـه پلـه

پسې توګه دمجاهدينوترېريدونولاندې وو چې په يادو ټولوپېښو کې ورته دسر درونـد زيان واوښت د دوی د مړو او ټپيانو د انتقال لپاره په بيابياخرخکې راغلې په پـای کـې دوی اړشول چې دعملياتوپای اعلان کړي اوبهرته دکندز دښارپه خوادخپلوقرارګاووپـه خواوتښتېدل )

د همدې کال په وروستيو کې ملا عبدالسلام اخند پاکستان ته د سـفر پـه مهـال پـه اکـوړه خټـک کـې د پاکسـتان د اسـتخباراتي اداري لخـوا ونيـول شـول او بيـا پـه پېښور،کراچي او اسلام اباد کې څه کم څلورکاله بندي و. د زندان دا مرحله د نومـوړي لپاره د صبر، مصيبت ګاللو او رياضت يـو طلايـي مرحلـه وه، نومـوړي بـه ويـل چـې د پاکستان په زندان کې يې صحيح البخاري،صحيح المسلم، سـنن ترمـذی، تفسـير ابـن کثير او د البداية و النهايه په شمول ګڼ نور کتابونه ټکي په ټکي مطالعه کړي دي. ملا عبدالسلام اخند که څه هم دينـي سـبقونه يـې لـږ ويـلي و مګـر د پراخـې مطـالعې او ذهانت له امله د ډير ښه علم څښتن و.

## په کندزکې د مسؤليت دوهمه مرحله

ملا عبدالسلام اخند چې کله له زندان څخه را خلاص شو لومړی لنډه موده د بلخ ولايت والي او د يوه معسکر د مسؤل په حيث مقرر شو مګر وروسته يو ځل بيا د کندز ولايت د والي په حيث وټاکل شو.

کندز دا مهال د حکومتي عسکرو او په خاص ډول اربکيـانو تـر تسـلط لانـدې و. مجاهدينو په اکثرو سيمو کې مخفي شتون درلود، په کليو او ټولو اطـرافي سـيمو کـې اربکيانو او ځايي ټوپکي مليشو پوستې جوړې کړې وې. ملا عبدالسلام اخند پـه کنـدز ولايت کې ددوهم مسؤليت له پيل سره سم د اربکيانو د ټغر ټولول دخپل مهـم هـدف په حيث وټاکل، نوموړي يو ځل بيا اولس په اعتماد کې واخيسـت،اولس چـې اربکيـانو وربانديې ډير ظلمونه کړي وو يو ځل بيا يي مجاهدينو تـه غيـږ خلاصـه کـړه او پـه دې توګه له کندز څخه د اربکيانو د جارو کولو لړی پيل شوه. په چهـاردره، دشـت ارچـي، ګورتيپه، امام صاحب او نورو سيمو کې مجاهدينو په مسلسلو عمليـاتو کـې داربکيـانو





سلګونه پوستې له منځه يووړې او ددښمن ددغې شيطاني طرحې ټغر يې ټول کړ، د يوه کال په موده کې د کندز نظامي وضعيت يو ځـل بيـا هغـه حـال تـه راغـی چـې د مـلا عبدالسلام اخند د نيـول کيـدو پـه وخـت کـې و، اطـرافي کـلي او د ښـار مضـافات د اربکيانو له شتون څخه تصفيه شول.

په دې مرحله کې د دښمن مليشې نه يوازې د وسلې په زور له سيمې وشړل شوې بلکې ډيری يې د دعوت له لارې تسليم هم شوې.له مليشو د سيمو له ازادولو وروسـته د ملا عبدالسلام اخند په ابتکار په ټولو تر لاس لاندې سيمو کـې يـوه معيـاري امـارتي اداره رامنځته شوه، د ديني او عصري زدکړو مراکـز فعـال شـول، محـاکم او حکـومتي مراجع د اولس د ستونزو په حلولو بوخت شـول،د مجاهـدينو د تربيـې لپـاره ځـانګړي معسکرات پرانيستل شول تر دې چې د بيارغونې اود هيواد د ابـادی کارونـه هـم پيـل شول. کنـدز چـې د قـومي تنـوع لـه املـه ورتـه کـوچنی افغانسـتان ويـل کيـږي مـلا عبدالسلام اخند په کې داسې په درايـت سره خپـل مسـؤليت تـرسره کـړ چـې د ټولـو قومونو او قشرونو په منځ کې يې زيات محبوبيت وموند او نوموړي ته يې د يوه عـادل حاکم په حيث ډير احترام درلود.

په کندز ولايت کې د ملا عبدالسلام اخند د مسؤليت په دوهمه مرحله کـې ډيـر فتوحات هم وشول چې په دې لړ کې دوه ځلې د چهاردرې مرکز،دوه ځلـه د قعلـه زال ولسوالی مرکز،يو يو ځل خان اباد، دشت ارچي او د امام ولسوالی مراکز او دوه ځله د کندز مرکزي ښار دمجاهدينو په لاس فتحه شو.

## دکندز فاتح

د ۲۰۱۵ ميلادي کال د سبتمبر د مياشـتې پـه وروسـتيو کـې هغـه مهـال چـې د اسلامي امارت د مؤسس اميرالمؤمنين ملا محمد عمر مجاهد V د وفات د خـبر له اعلان او د نوي امير شهيد ملا اخترمحمد منصور د ټاکل کيـدو لـږ وخـت وتلـی و. مجاهدين په غيرنورمال حالت کې و. له يوې خوا د مرحوم ملاصاحب د وفات غم او له بلې خوا د ځينو اختلافاتو او نارضايتونو راپورتـه کيـدلو د مجاهـدينو اذهـان مغشـوش

کړي وو. په همدې مهال ملا عبدالسلام اخند د کندز د مرکزي ښار د نيولو لپاره عزم وکړ.

د نوموړي يو نږدې ملګری ملا حمزه وايي: ملا عبدالسلام آخنـد پـه هغـه خـاص وخت کې د کندز ښار له نيولو څخه خاص اغراض درلودل، هغه دا چې مجاهدين به له مايوسۍ را ووځي او د فتحې په خوښيو به يې روحيات لوړ شي، د اختلافاتو خبرې بـه پربږدي او د فتحې بحثونه به پيل شي،ددښمن تبليغاتي رُخ بـه بـدل شي،د کنـدز پـه محبس کې پراته زنـدانيان بـه را ازاد شي، دښـمن تـه بـه دا وښـودل شي چـې ولايتـي مرکزونه هم د ولسوالیو د مراکزو په شان نيول کيدای شي او دا به ددښمن د عسـکرو مورال وځپي، دښمن به مجبور شي چې له اطرافو خپل عسکر ټول او توجـه پـه ولايتـي مراکزو را ټوله کړي.

نوموړي څو ځله نظامي کميسـيون تـه خپـل پـلان وړانـدې کـړ، چـې وروسـته د اسلامي امارت د زعيم ملا اختر محمد منصور صاحب په تأييد دکنـدز د فتحـې پـلان نهايي شو. خبره يې په ډيره رازداری وساتله تردې چې په ټاکلې نيټـه يـې د کنـدز پـه مرکز له څو خواوو بريد وکړ.

ملا همايون وايي چې ملا عبدالسلام اخند د عملياتو د پيل په شپه تـر سـهاره پـه نوافلو او دعاء ګانو بوخت و، کله چې عمليات پيل شوه نوموړي له خپل ځانګړي مرکـز څخه د دوو تيلفونونو او يوې لويې مخابرې له لارې مجاهـدينو تـه د قومنـدې ورکولـو کار پيل کړ، چې د عملياتو د پيل لـه وختـه بيـا د فتحـې تـر شـيبې مسلسـل لـه ټولـو مجاهدينو سره په تماس کې و شيبه په شيبه يې قومنده ورکوله چې د نوموړې همـدې ژوندۍ قومندې مجاهدينو ته خورا ډيره روحيه ورکوله او ټول کارونه له پلان سره سـم مخته تلل.

کله چې د مخابرې له لارې خبر راغی چې مجاهدين د ښار زړه ته ورسـيدل او د کندز محبس يې مات کړ، ملا عبدالسلام اخند بـې اختيـاره الله تعـالی تـه پـه سـجده پريوت چې تر ۷ يا ۸ دقيقو د شکر په سجده پروت و . وروسته يې بيـا لـه مجاهـدينو





سره د مخابرې او ټيلفونونو له لارې رابطې ته دوام ورکړ، نوموړي وروسـته د مخـابرې کار بل ملګري ته پريښود او خپله د کندز ښار داخل تـه لاړ چـې بيـاتر پـنځلس ورځـو پورې چې مجاهدين په کندز ښار کې و او په جګړه بوخت و نوموړی له مجاهدينو سره په ښار او يا هم اطرافو کې و.

ملا عبدالسلام اخند او ملګري يې تر هغه وخته دکنـدز پـه ښـار کـې ميشـت او واکمن پاته شول تر څو چې د اسلامي امارت د مشرتابه لخوا د کندز د تخليې اعلاميـه صادره شوه تر څو عامه وګړي له بمباريو خوندي شي.

د کندز په فتحه کې مجاهدينو تـه بـې شـميره غنـائم پـه لاس ورغلـل،ډول ډول وسلې او مختلف النوع لوکس اونوي موټرونـه. سره لـه دې چـې عـادي مجاهـدين لا د لوکسو موټرونو خاوندان شول خو ملا عبدالسلام اخند دهيڅ ښه موټر هوس ونکړ، مـلا همايون وايي ملا عبدالسلام آخند له فتحې وروسته هـم پـه خپـل هماغـه زاړه ډاتسـن موټر کې ګرځيده چې ډير زوړ و او د مخې ښيښه يې هم ماته وه.

د کندز لومړۍ فتحې پـه نړيوالـه کچـه پـه رسـنيو کـې پـراخ انعکـاس ومونـد. مجاهدينو ته يې نوې روحيه ورکړه او ددښمن روحيه او اعتبار يې تر وروسـتۍ کچـې وځاپه. دښمن چې د کندز دې فتحې سخت سراسيمه کړی و په راتلونکې کال يـې پـه کندز کې د پراخو عملياتو اعلان وکړ، ددښمن سلګونه ټانګونه د دشت ارچي ولسوالۍ ته لاړل تر څو دا ولسوالي له مجاهدينو ونيسي.

خو د ملا عبدالسلام اخند په مشرۍ د کندز مجاهـدينو دا ځـل لـه دښـمن سره داسې تاکتيک وکړ چې دښمن هم ورته حيران شـو، هغـه دا چـې کلـه چـې دښـمن پـه دشت ارچي کې په پراخـو عمليـاتو بوخـت او ټـول قـوت يـې هلتـه نقـل کـړی و، مـلا عبدالسلام اخند په ډيره بيړه څوارلس سوه مجاهدين برابر اود کندز په ښار يې حملـه وکړه، د کندز د ښار دوهم ځل فتحې نه يوازې په دشت ارچـي کـې ددښـمن عمليـات ناکام کړل بلکې په ټول ولايت کې يې ددښـمن تهـاجمي روحيـه وځپلـه او بيـا دښـمن دعملياتو جرأت ونکړای شو.

## شهادت

دښمن ډير کوښښ کاوو چې د اسلام دغه ویاړلی غازي له منځه یوسي له همدې امله یې څو ځله د ملا عبدالسلام اخند د وژلو هڅه وکړه او هم یې څو ځله په دروغو د هغه د شهادت اوازه ګډه کړه.په نوموړي یوځل په ګورتیپه سیمه کې د امریکایي ډرون الوتکې لخوا دوه بریدونه وشول خو الله تعالی نجات ورکړ. نوموړي به همیشه د شهادت سوال کوو او حتی په مطبوعاتي مرکو کې به یې هم ویل چې شهادت یې له ارمانونو څخه دی او دده په شهادت به اسلام او جهاد ته هیڅ نقصان ونه رسیږي.

د نوموړي یو ملګری موسی فرهاد وایي: په ۲۰۱۲م کې مو یو وخت له راډیو نه په ګډه خبرونه اوریدل وروسته یو راډیویي بحث پر دې خبره پیل شو چې امریکایان له افغانستانه وځي ، له څه اوریدلو وروسته ملاسلام اخند راډیو بنده کړه ماته یې وویل : الله تعالی دې د دې کافرانو ظالمانو مخ پرته کړي ، خدای دي پخپل طاقت سره ټوټه ټوټه او زموږ وطن دي الله ج ځنې خلاص کړي . او بل دې الله تعالی ماته د دوي په لاس شهادت نصیب کړي. دا زما یو خاص ارمان دی.

د ملا عبدالسلام اخند ددې خاص ارمان د پوره کیدو لپاره الله تعالی د ۱۳۹۵ هجري شمسي کال د حوت د میاشتې اتمه نیټه ټاکلې وه. نوموړی ددې ورځې په سهار په چهاردره کې و،وروسته دشت ارچي ته لاړ تر څو د خپلې مور ملاقات وکړي، غرمه یې له خپلې مور سره مجلس وکړ او بیا خپل کلي ته نږدې د امیرملوک په کلي کې د یوه مجاهد کور ته لاړ ، نوموړي په دې ورځ له مجاهدینو سره مشورتي مجلس هم درلود، په همدې کور کې ماسپښین څه باندې درې بجې وروسته د ډرون الوتکې دری میزایل وتوغول شول چې یو په موټر او دوه په کور ولګیدل،او ملا عبدالسلام اخند ځای په ځای د خپلو دریو نورو ملګرو سره د شهادت لوړ مقام ته ورسید.

انا لله و انا الیه راجعون.





د نوموړي جنازه په همدې ماښام خاورو ته وسپارل شوه. او فاتحې یې څو ورځې وروسته په ټول کندز او ګڼو نورو سیمو کې واخیستل شوه.ملا عبدالسلام شهید شو او دوه ماشومانې د یتیمو اولادونو په حیث تر ې پاته شوې.

د اسلامي امارت لخوا د نوموړي د شهادت په اړه په خپره شوې اعلامیه کې راغلي: دکندز فاتح شهید ملا عبدالسلام اخند شهادت خپل تر ټولو لوی آرمان باله، د ده په شهادت سره به نه تنها داچې د اسلامي امارت صف کمزوری نشي، بلکې سلګونه نور ځوانان به د قربانۍ او په اسلام د سرښندنې میدان ته را ودانګي، الحاج ملا عبدالسلام اخند په خپله مدبرانه مشرۍ کې زرګونه داسې مجاهدین روزلي وو چې ان شاءالله هریو به د ده لاره تعقیبوي او د دښمن په وړاندې به لکه هغه د یوه قوي سپر په توګه له خپل دین، هیواد او آزادۍ څخه دفاع کوي.

## خاطرې او یادونه

د ملا عبدالسلام اخند نږدې ملګري دده د خاصیتونو او اخلاقو په اړه داسې وایي:

ملا عبدالسلام په دې سربیره چې له تصوف سره یې تعلق درلود او د پیرسباق صاحب مرید و تلاوت او اذکار یې همیشه کول، اذکار الصباح و المساء او مسنونې دعاګانې یې یاد وې او همیشه یې په خوله وې، بریتونه به یې په مسنونه طریقه همیشه کوچني کول، یو ملګری یې وایي: ما ورته وویل چې د مجاهدبریتونه باید غټ وي. ده ځواب راکړ چې رسول الله H بریتونه کوچني کول او له هغه لوی مجاهد نه و او نه به پیدا شي.

همدغه ملګری کیسه کوي چې ملا عبدالسلام اخند به په هر څه کې تیامن کاوو او زه به ډیر ورته متوجه وم، حتی تردې چې ساعت یې هم په ښي لاس په لاس کاوو، ما ورته وویل چې د ساعت قانون دادی چې باید په چپ لاس وي. ده وویل دا په کوم کتاب کې راغلي ته یې راوښیه. ما ورته وویل چې په ښي لاس کارول یې نو په کوم

کتاب کې راغلي؟ ملا عبدالسلام راته دغه وخت هغه حديث ذکر کړ چې الله تعالى نبي والى يا تيامن خوښوي حتى په څپلۍ پښو کولو او سر ړمنځولو کې.

نظم او نظافت ملا عبدالسلام اخند ته ډير خوند ورکاوه، په کندز کې د معسکر مسؤل وايي چې کله به معسکر ته راغى نو چې په کوم اطاق کې به يې شپه وه نيمه شپه به چې تهجد ته پورته شوى و له هغه وروسته به يې د اطاق په نظم او جارو کولو شروع کړې وه،دغه راز به چې د مجاهدينو هر مرکز ته ورغى نو به يې مجاهدينو ته وويل راځئ نن د نظافت اشر دى او بيا به په خپله لګيا و جارو کول، کاسې او لوښې مينځل او نور د صفايي کارونه به يې په خورا شوق کول.

د ولس په خلګو يې خورا ډيره مهرباني درلوده حتى داسې شوي چې يوه ولسي کس يې موټر ور وهلى او ډير پرې ګرم شوى مګر ده ورته تشه ګيله او خبره هم نه وي کړې، يو ځل د مجاهدينو يوه ولسوال، معاون يې او د ولسوالۍ دکميسيون مشر يو ولسي سپين ږيرى وهلى و، ملا عبدالسلام چې کله خبر شو، دغه دريواړه مسؤلين يې بنديان کړل، او بيا چې کله دپوښتنو په مهال هغوى ورته اقرار وکړ چې مور دا سپين ږيرى وهلى، ملا عبدالسلام بي اختياره په ژړا شو، تردې چې لويې لويې چيغې يې وهلې او په ژړا کې يې همدا ويل چې :اې الله تعالى که څوک زما دمسؤليت په ساحه کې داسې کارونه کوي، زه ترې بيزاره يم، زه يې دغه کارونه نه تائيدوم، زه دغسې ظلم نه خوښوم. اې الله تعالى ما د دوى په ګناه مه ور شريکوې.

يو وخت ددشت ارچي په ولسوالۍ کې اربکيانو د سيمې د تخريب لپاره د نهرکهنې اوبه را خوشي کړې خو دغه اوبه د ترکمنو په يوه کلي ورغلې او تر ۷۰ پورې کورونه يې ونړول او ډير خلک د کورونو پريښودلو ته اړ شول.دغه خلک لاړل په کندز او کابل کې يې حکومت ته ډير خواستونه وکړل چې اوبه ترې واړوي مګر هيڅا يې غږ وانه ورید وروسته دوى ملا عبدالسلام اخند ته راغلل. هغه په مليونونو افغانۍ مصرف کړې دوه لوى اسکواټورونو يې راوستل او پنځه کيلومتره اوږد نوى نهر يې ويوست تر څو اوبه له دې اولسي سيمې په بله خوا لاړې شي.





د جګړې په ميدان کې خورا غيرتي او د مطمئن مزاج څښتن و. په هيڅ وخت کې نه دي ليدل شوي چې چا يې وارخطايي يا د جنګ په وخت په غږ کې بدلون حس کړى و، حتى که کله به مجاهدينو شکست خوړلى و او پر شا به روان و هم د ده وضعيت به عادي و. په جنګ کې به يې په خپله شرکت کاوه او جهادي مينه يې په مزاج کې ګډه وه هيڅکله يې د بهانې له امله له جنګ څخه ځان نه څنګ ته کاوو بلکې تعرض ته به يې اولويت ورکاوو.

له بيت المال سره ډير محتاط و او د دنيا شوق يې نه درلود سره له دې چې ډير وخت يې د کندز ولايت د مسؤل په حيث وظيفه اجراء کړه اما په دې موده کې يې نه کوم مال او جايداد پيدا کړ او نه يې هم اقتصادي وضعه بدله شوه. يو طالب وايي چې تير کال په لوى اختر کې يو چا ملا عبدالسلام اخند ته د قربانۍ لپاره پسه ورکړى و چې په کور کې يې حلال کړي، دى وايي زه د ملا عبدالسلام اخند له ورور سره د پسه په حلالولو بوخت وم خو ورور يې راته وويل چې زما په ټول عمر نه ياديږي چې په مورِ دې قرباني فرض شوي وي، ځکه هستي مو دومره نه ده چې د اختر قرباني راباندې فرض شي.

ملا عبدالسلام اخند اسلامي امارت ته سخت وفادار و او اسلامي امارت يې په اوس وخت کې د ترټولو معتبر حقاني صف په حيث پيژاند.کله چې ملا شهيد ملا اختر محمد منصور V د اسلامي امارت د زعيم په حيث وټاکل شو نوموړى له لومړنيو کسانو و چې په ډيره عجله يې له اسلامي امارت سره بيعت وکړ.بيا چې کله ځينې خلکو له اسلامي امارت څخه بغاوت وکړ. نو ده به خپلو ملګرو ته همیشه دا توصيه کوله. چې انسان له خپل انجام اوعاقبت څخه خبر نه وي کله چا ته انحراف مقدر وي، خو که خداى مکړه زه کوم وخت هم له اسلامي امارت څخه منحرف کيدلم ګورئ چې تاسو مې اتباع ونکړئ،که زه له امارت سره وم او که نه وم خو له اوسه لا وايم چې همدا حقاني صف دى او هيڅکله له دې کاروان څخه ځان مه جلا کوئ.

(رحمهم الله تعالى و رضي عنهم)